یاهو

# د میر اکبر خیبر
# د قتل پلټنه


## صبورالله سیاسنگ


پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۳ اکتوبر

د کتاب پېژندنه

- فهرست: د میر اکبر خیبر: د قتل پلټنه
- د معلوماتو راټولونکی: صبورالله سیاسنگ
- برېښنا لیک پته: siasang@yahoo.com
- د کتاب چاپي ډیزاین: منیژه نادري
- چاپ شمېر: ۲۵۰ ټوک
- لومړی چاپ: د شاهمامې خپرندویه ټولنه، هالند/ اپریل ۲۰۲۳ ز
- دوهم چاپ: د شاهمامې خپرندویه ټولنه، هالند/ مې ۲۰۲۳ ز
- برېښنالیک پته: info@shahmama.com

پښتو ژباړه: رحمت آریا - اکتوبر ۲۰۲۳

د برېښنا لیک پته : RahmatArya@Rogers.com

هم مې ووژني په خپله، هم پر ما باندې ژړا کا



Photo credit: Night Letters, C.Sands & F.Qazizai

فهرست پاڼې


● **سریزه:** برېښنا خیبر

**۱. د ویر دوه لیکونه:** ۱

ببرک کارمل ۰۱،

اناهیتا راتب زاد ۰۵

**۲. خیبر په ژباړو کې**

په کابل کې د امریکا د سفارت څلور پیامونه ۰۷،

میر اکبر خیبر او محمد داؤود

د دوه وو کودتاګانو په منځ کې ۱۵،

میر اکبر خیبر په پېښور کې ۲۷

**۳. خیبر او د اردو انقلابي سازمانونه** ۳۰

عبدالقادر ۳۰

ولادیمیر سنیګریف ۳۲

الکساندر لیاخوفسکی ۳۳

صمد ازهر ۳۳

حمید محتاط ۳۵

عبدالوکیل ۴۴

ذبیح‌الله زیارمل ۴۵

نبي عظیمي ۵۲

**۴. خیبر په واټونو کې** ۵۳

بارق شفیعي ۵۳

غرزی لایق ۵۸

غني عمرزی ۶۷

وحید مژده ۶۹

محمود تورکي ۷۱

کریم میثاق ۷۳

عبدالوکیل ۹۱

فقیر ودان ۹۴

یاسین ببدار ۱۰۴

سرور یورش ۱۰۷

کبیر امیر ۱۱۱

زلمی رزمي ۱۱۵
صمد ازهر ۱۲۲
صالح محمد زیری ۱۲۵
اقبال وزیري ۱۲۶
دستگیر پنجشیري ۱۲۷
**۵. خیبر په خاصو او ځانګړو خبرو اترو کې** ۱۳۱
دستگیر پنجشیری ۱۳۱
سلیمان لایق ۱۴۰
داکتر ضمیر میهن پور ۱۴۳
ذبیح‌الله زیارمل ۱۴۷
داکتر حسن شرق ۲۳۶
داکتر اکرم عثمان ۲۴۶
محمدخان جلالر ۲۵۶
عبدالقادر ۲۸۶
غرزی لایق او سلیمان لایق ۲۹۳
نوراحمد نور او عبدالقدیر فضلي ۳۰۰
لومړی غبرګون: بربښنا خیبر ۳۱۰
دوهم غبرګون: عتیق عالم یار ۳۱۱
**۶. علي‌احمد خرم: د خیبر له قتل مخکې یو قرباني؟** ۳۱۴
د انیس ورځپاڼه ۳۱۴
خوشال پیروز صافي ۳۱۴
احسان عثمان ۳۱۹
غني عمرزی ۳۲۰
**۷. ضمایم:** ۳۲۱
د خیبر لیکونه ۳۲۱
د پرچم جریده ۳۲۷
پیامونه او یادداشتونه: ۳۳۲

**سریزه**

دا کتاب، په دري ژبې لیکل سوي د «پروندۀ ناپدید» د کتاب پښتو ژباړه ده چې د افغانستان د نومیالي لیکوال ډاکټر صبورالله سیاسنگ په زیار او د څو کالو هڅو او پلټنو په ترڅ کې تألیف سوی دی. دا کتاب د افغانستان د خلق ډیموکراتیک گوند د مشهور غړي میر اکبر خیبر د وژل کېدلو د څرنگوالي او د خیبر د ناپېژندل سوېو قاتلینو د پښو د پلونو د څرک د موندلو په موخه لیکل سوی دی. د میر اکبر خیبر وژل کېدل په حقیقت کې په افغانستان کې هغه سیاسي زلزله وه چې پایله ئې د دودیز سیاسي- ټولنیز نظام په بدلون او د افغانستان د خلکو په ژوند کې په سترو او ناپایو ناورینونو واوښتله.

د میر اکبر خیبر د مرموز قتل دوسیه هېڅکله نۀ ده پرانیستل سوې. د نور محمد تره کي او د حفیظ الله امین د ۱۸ میاشتنۍ له وحشته ډکې خونړۍ واکمنۍ په لړ کې هېڅ چا جرئت ونۀ کړ چې د دغۀ مرموز قتل دوسیه دې په دقیق ډول پرانیزي.

کله چې د روسانو پر ټانکونو او شوبلو سپور ببرک کارمل «چې اصلي نوم ئې سلطان حسین دی» د خپلو تواریشانو په مټ د واکمنۍ پر گدۍ کښېنول سو گومان کېدۀ چې دی به د خپل تر ټولو نېږدې ترین یار، دوست او گوندي ملگري میر اکبر خیبر د قتل دوسیه پرانیزي چې په ژوندون ئې ورته د ورور خطاب کاوۀ او د قاتلینو څرک به ئې له څون او څار پرته ولگوي. خاورو ته د خیبر د جسد د سپارلو په ورځ کارمل له طمطراقه ډکې وینا وکړه خو له هغۀ وروسته ئې د خپل مرگ تر شېبې پورې هېڅکله د هغۀ نوم یاد نۀ کړ. د خیبر پر تراژیدۍ باندې دا تراژیدي هم ورزیاتېږي چې له وژل کیدلو وروسته ئې نېږدې ترینو ملگرو ئې د خپل یار او ملگري پر کورنۍ هم هېڅ ډول ترحم ونۀ کړ. دا هغه یاران او ملگري ول چې ځانونه ئې تش په نامۀ مترقي افکارو سمبال بلل. هېڅ څوک ونۀ موندل سول چې د خیبر د ناروغې مېرمن خبر واخلي او یا ئې د درملنې لپاره کوم اقدام وکړي او یا ئې د یتیمو ماشومانو پر سر د استراحام لاس کش کړي. ښایي د خیبر د یتیمو ماشومانو د کړاوونو حال د ټول هېواد د ټولو وگړو لپاره د کړاوونوهاغه لومړنۍ سریزه وي چې د هغۀ گوندي ملگرو د دې گوند د څوارلس کلنې غم زېږونکې واکمنۍ په ترڅ کې په میلیونونو افغان ماشومان یتیمان کړل او په میلیونونو ئې له هېواده دباندې کډوالۍ ته اړ ایستل او هره کورنۍ ئې د سرۀ اور په تبۍ کښېنوله. د هېواد هرگوټ، هر لور او گودر او هر کور او جومات لوټه لوټه سو. د خیبر یتیم بچیان د هېواد میلیونونو یتیمانو د اوږد کاروان په سر کې دي.

خیبر ولې ووژل سو؟ د خیبر مړینه د افغانستان په معاصر تأریخ کې کومه ساده پېښه نهٔ وه؛ دا پېښه تر نن پورې د تأریخي ارزوني مخې ته د ناځوابه سوې پوښتنې په توګه د شک او ګومانونو د تورو وریځو تر شا ورکه پرته ده. دا کتاب همدې پوښتنې ته د ځواب موندلو د څرک په لټه کې دی.

دا کتاب په خپله تومنه او ماهیت کې د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند د سیاسي بیرو او د مرکزي کمیټې د څو تنو غړو او هم ددې ګوند له څو تنو لوړ پوړو کسانو سره د ډاکټر صبورالله سیاسنګ د ځانګړو مرکو پر بنسټ چمتو سوی دی. په دې کتاب کې د نوموړي ګوند د دواړو سیاسي بیرو او مرکزي کمیټو د هغو غړو د لیکل سویو چاپي آثارو له مخې مأخذ اخیستل سوي چې د پېښې د روایت لومړنۍ سرچینې بلل کېږي. په دغو مرکو کې د دغهٔ ګوند د غړي ذبیح الله زیارمل اوږده مرکه چې د میر اکبر خیبر یو له نېږدې ترینو یارانو او دوستانو څخه وو ډېره په زړهٔ پورې او هم ډېره د پاملرنې وړ ده. که لوستونکی د زیارمل د مرکې جزئیات یو په یو په ځیر په پام کې ونیسي په څرګنده د څېړنې د ډګر لوستونکو ته د قاتلینو د پښو خاپونه ورښیي.

د ډاکټر سیاسنګ درې نورې مرکې هم خپل ځانګړی اهمیت لري چې له ډاکټر محمد حسن شرق، اکاډیمیسن محمد اکرم عثمان او محمد خان جلالر سره ئې کړې دي. ددغو مرکو تومنه هم د خیبر د پېژندنې او د هغهٔ د قتل پر چورلیځ یا محور راڅرخي. په دغو مرکو کې هم داسې ټکي راغلي دي چې ښایي ډېر لږو کسانو اورېدلي وي.

ددغو مرکو یو بل اړین او په زړهٔ پورې اړخ د خیبر د شخصیت او د افکارو د پېژندلو اړخ دی چې دلته او هلته د مرکو په ترڅ کې ترسیم سوی دی. دوی په ډاګه وایي چې خیبر که د پرچم د جناح متفکر او د رسوخ وړ غړی وو خو تر څنګ ئې د ملي تفکر او ملي غرور خاوند هم وو. خیبر پوهېدهٔ چې د خلق او پرچم دواړه فرکسیونونه د افغانستان په ټولنه کې دومره پیاوړي نهٔ دي چې د نظام د اوښتلو په صورت کې دې د نظام د ادارې وړتیا ولري؛ خیبر د وسله وال پاڅون نسخه هغه جنایت نومولی وو چې پایله ئې د هېواد په بربادۍ اوړي. که د خیبر دغه پوهه او وړاندوېینه په ځیر وڅېړو نو هرومرو د هر ډول لوستونکي په مافی الضمیر کې خیبر ته د درناوي احساس راپاروي.

د قدرت په نشو کې ډوب نهٔ سلطان حسین ببرک او نهٔ هم نجیب د خپل څه دباندې دولس کلنۍ واکمنۍ په لړ کې نهٔ یوازې دا چې د میر اکبر خیبر د قتل ددوسیې د پرانیستلو اجازه ورنهٔ کړه بلکه د میر اکبر خیبر د نوم اخیستل، یا د هغهٔ د وژل کیدلو د کلیزې درناوی، د هغهٔ د افکارو او خاطراتو یاد او نور د جرم ترکچې ممنوع وګرځول.

د ګوند هېڅ غړي د میر اکبر خیبر د عکس د ګرځولو او یا د نوم د اخیستلو حق نهٔ درلود.

په کتاب کې د قاتل یا د قاتلینو د څرک د موندلو عقربه تر ډېره د کارمل، نور احمد نور او په خپله په کابل کې د شوروي سفارت او د KGB د دستګاه خوا ته تاوېږي. او همدا لامل دی چې دا پېښه ئې لا پیچلې او مرموزه کړې ده.

لږ شمېر کسان د خیبر د قتل پړه د ګلب الدین حکمتیار پر حزب اسلامي ورغورځوي خو ګڼ شمېر کسان په څرګنده وايي چې خیبر د خپلو ګوندي ملګرو په وسیلې د ګوندي مقام د هژمونۍ په کړس کې وژل سوی دی؛ بله ډله ئې له شهید سردار محمد داؤود خان سره د خیبر نېږدې کېدل ګڼي او وايي چې خیبر غوښتل د پرچم جناح د ملي غورځنګ په حاکم ګوند کې مدغمه کړي. دا ټولې هغه فرضیې دي چې لوستونکی قریب په یقین واقعیت ته نېږدې کوي.

دا کتاب ښايي دوهم ټوک هم ولري او مؤلف ژمنه کړې چې ددې معمی یو شمېر اړینې برخې به په دوهم ټوک کې راوسپړل سي.

دا څېړنیز کتاب د افغانستان د تأریخ د څېړونکو، د پوهنتونونو د اساتیدو او محصلینو، د افغانستان د خلق ډیموکراټیک ګوند د ټولو پخوانیو غړو او د عادي لوستونکو لپاره یو له هغو کتابونو څخه دی چې باید او هرو مرو ولوستل سي.

زه ډاکټر صبورالله سیاسنګ ته د هغهٔ ددغهٔ کم ساري څېړنیز اثر د لومړي ټوک د بشپړلو په هکله مبارکي وایم او بشپړ ډاډ لرم چې دا کتاب به د تأریخ د څېړونکو لپاره یوه متعبره سرچینه وي.

رحمت آریا

**د افغانستان د خلق ډیموکراتیک گوند راډیو گرافي**

هغه قاتلین چې په څلور څلویښت کلونو کې ناپېژندل سوي پاتې سوي دي، په پینځه څلویښتم کال کې به هم ونهٔ پېژندل سي؛ خو د هغو بنسټونو پېژندل کومه سختي نهٔ لري چې د «میراکبر خیبر ژوند پای ته ورسوئ» فرمان ئې صادر کړی دی. د نوموړي د «قتل پلټنه» په همدې لارې کې یوه هڅه ده.

په اوسني کتاب کې یو شمېر لیکنې په لوی لاس یا قصداً نهٔ دي راوړل سوي: دلیل ئې دا دی چې دا لیکنې له خپلې گېډې د جوړو سویو گنگوسو تومنه لري او یا د هماغو زړو قالبي غبرگونونو ټولگې دي چې په هغهٔ کې «موخه» سیاسي سیالانو ته سپکې سپورې ویل دي او د خیبر د قتل موضوع گوښې گوټ ته بیول دي. په ژباړل سویو موضوعاتو کې هم د بې بنسټو خبرو له راوړلو څخه ډډه سوې ده. د پلویانو، مخالفانو، له مسایلو څخه د خبرو کسانو، لیدونکو او..... خبرې باید څنگ پر څنگ کښېښودل سي.

ددې کتاب منځپانگه ۹۰ په سلو کې د خلق او د پرچم د دوه وو فرکسیونونو د مشرانو، استازو او سرلارو له خبرو یا قلم څخه څڅېدلي موضوعات دي. که دا خبرې ټولې یا لږ تر لږه نیمایي ئې رښتیا وي نو کولای سو ووایو چې: د هغهٔ گوند پر حال دې افسوس وي چې د کرملین د چل او دوکو قرباني گرځېدلی دی؛ او که غلطې وي نو آیا کولای سو ووایو چې: د هغهٔ گوند پر حال دې افسوس وي چې د گوند د بنسټ ایښودنې له پیل څخه بیا د گوند تر بشپړ تس نس کېدلو پورې د خپلو رهبرانو د خونړیو کارنامو قرباني گرځېدلی دی؟

زه له کبیر امیر څخه نهٔ یوازې د کتاب د ایدیټ په برخه کې بلکه په نورو برخو کې د هغهٔ له بې دریغو مرستو څخه منندوی یم. که د نوموړي مرستې او لارښوونې راسره نهٔ وای دا کتاب به په اوسنۍ بڼې نهٔ وای جوړ سوی.

او

• د «میر اکبرخیبر د قتل پلټنه» ددې هیلې په پام کې لرلو سره چمتو سوې چې لوستونکی د افغانستان او د گاونډیو هېوادونو د تېرو پینځوسو کلونو له پېښو څخه تر یوې کچې خبرتیا لري؛ پرته له هغې که موږ په هره پاڼه کې جزئیات تشریح کړي وای نو ددې کتاب حجم به ډېر پرېړ سوی وای.

• د تکرار د مخنیوی لپاره موږ په ټولو لیکنو او خبرو اترو کې تر هغې کچې له لنډیز څخه کار اخیستی دی چې د موضوع منځپانګه په کې اغېزمنه نهٔ سي. موږ له هغو کسانو څخه یو ځل بیا بخښنه غواړو چې غوښتل ئې خبرې او یادداشتونه ئې په دې کتاب کې ددوی په نوم رانهٔ سي او یا دې په مستعار نوم راسي. پټ ساتل د ویرې او ډار استعاره ده.

• پر هغو نومونو سربیره چې په دې کتاب کې راغلي دي زه له مېرمن منیژه نادري، ښاغلي عبدالقدیر فضلي او نصرالله کویر څخه ډېره ډېره مننه کوم.

• له لوستونکو څخه زما غوښتنه: په «۳۸۴» پاڼې کې د میر اکبر خیبر په هکله وروستۍ پوښتنه راغلې ده، له لوستونکو څخه زما غوښتنه دا ده چې دې پوښتنې ته په هماغې بڼې ځواب ووايي چې ورباندې پوهېږي او پرې خبر دي. زه د جدي او سخت غبرګون غوښتونکی یم ترڅو د همدغو غبرګونونو په رڼا کې د «میر اکبر خیبر د قتل د پلټنې» دوهم چاپ ښه بڼه غوره کړي. راځي چې پرېنږدو د تأریخ پر تندي باندې د ابهام وریځه کښېني.

• په ژباړو او لیکنو کې د هر ډول ناخبره تقصیر او د کسر د پیټي د دروندوالي مسؤولیت زما پر غاړه دی.

سیاسنګ
کاناډا، ۲۰۲۳ز کال د اپریل اوولسمه

## زما پلار او د هغهٔ د دوستانو چوپتیا....

د هغهٔ چا په هکله لیکنه آسانه نهٔ ده چې زموږ هستي د هغهٔ له دروند نوم سره غوټه سوې ده. هرکله چې غواړم یو څهٔ ولیکم نو له دوه وو پوښتنو سره لاس او ګریوان سم: له کوم ځایه ئې راپېل کړم او ژر تر ژره څه ووایم؟

هغهٔ آرام او متواضع وو. هېڅکله ئې له موږ سره په لوړ غږ، چیغو او شور خبرې نهٔ کولې. کله چې په کور کې وو نو په ورځو ورځو به ئې زموږ له مور سره د کور په چارو کې او د شپې له پلوه به ئې زموږ د ښوونځي په کورنیو کارونو کې مرسته کوله. زموږ ټولو کړو وړو او چارچلند ته ئې پاملرنه کوله او په خپل ټول توان او امکان ئې د خپلو بچیانو په روزنه کې هڅه کوله. سره له دې چې زموږ کورنۍ متوسط الحاله اقتصادي ژوند درلود خو موږ ته ئې د قناعت سبق راښودولې وو او داسې ئې پاللي وو چې د امکان له حده پورته مو کومه غوښتنه او توقع نهٔ درلودله.

د کالهٔ د دروازې له خلاصېدلو سره سم به زموږ کور ته د خوښیو څپې ورسره بدرګه راغلې. زموږ له مور سره د هغهٔ چارچلند دومره له صمیمیت او دوستۍ ډک وو چې زموږ یو شمېر دوستانو او آشنایانو به ویل: تاسو څومره نېکمرغه یاست چې دومره پاملرنه او مینه ستاسو په نصیب سوې ده.

هغهٔ زړهٔ سواندی او مېلمه پال وو. کله به چې زموږ لېرې او نېږدې خپلوان کابل ته د درملنې لپاره راتلل نو زموږ په کور کې پاتې کېدل. دوی به ئې هغو ډاکټرانو ته بیول چې دهٔ ورسره پېژندګلوي درلودله او د کورنۍ د غړو په خبره د هغوی د درملو پیسې به ئې هم ورکولې. له دوستانو او ګاونډیانو سره ئې چار چلند له عطوفت او ملایمت ډک وو همدا لامل دی چې د هغوی په اذهانو کې ئې ښې خاطرې پرې ایښې دي.

په ماشومتوب کې ئې سختې شپې ورځې تېرې کړې وې نو له همدې کبله به ئې زما مور ته ویل: «ما او تا ماشومتوب نهٔ درلود. له همدې امله تر څو چې ژوندي یو خپلو

بچیانو ته باید دومره خوښي او مینه ورکړو چې د خپل ماشومتوب په مفهوم پوه سي»، خو په دریغ او افسوس چې دا هیلې ئې هم له ځان سره تورو خاورو ته یوړې.

پوهېږم چې د هر ژوند پای مرګ دی، خو زما د پلار د روح آرامي زما تر ژوندون هم لا لوړ ارزښت لري. که زه پر حقیقت خبره وای نو د شک او تردید له ځوروونکي دوزخ څخه به راوتلې وای او سا ایستل به را ته راحت او آرامه وای.

د هغهٔ د شهادت پر مهال زه د اووم ټولګي زده کوونکې وم. د هرې بلې نجلۍ په شان چې له خپل پلار سره ژور تعلق لري، د شهادت د خبر په اورېدلو ئې ناروغه سوم. سټرې او لالهانده وم، د سټریا او ستومانۍ دغهٔ ناپایه سمندر راته د فکر کولو موقع نهٔ راکوله. زموږ د کورنۍ له برخلیک سره آګاهانه او په لوی لاس لوبې کېدلې.

مور ته مې چې په دوه دېرش کلنۍ کې ئې خپل خاوند له لاسه ورکړی وو د زړهٔ ناروغي وریپېښ سوه. د هغې د درملنې لپاره مو پیسې نهٔ درلودلې. اکا مې بسم الله غوښتنه وکړه چې زما مور دې یوهٔ بل هېواد ته چې ښهٔ صحي امکانات ولري واستول سي، زما د اکا دغه غوښتنه رد سوه. زما د کونډې ویر ژړلې او غمځپلې مور ژوند په یو څلوېښت کلنۍ کې د زړهٔ د حملې له کبله پای ته ورسېد او موږ د خپلې کورنۍ دوهم ځلانده لمر هم له لاسه ورکړ.

څوک به دې ته حاضر سي چې دا ترخه حقایق تر پایه پورې واوري؟ څوک به په دې خبرو باور وکړي چې ددهٔ د خپل ګوند یو شمېر غړو د خپلو موخو د ترلاسه کولو په لاره کې زما پلار له منځه یووړ او کومې جفاګانې او کوم خیانتونه نهٔ ول چې دوی د خیبر له کورنۍ سره ونهٔ کړل. پلار مې ولاړ او دوستان ئې هم یو په بل پسې تري تم سول. زموږ سترګو به له سهاره تر ماښامه لارې څارلې چې که کوم خپلوان ووینو او ددې پېچلې معما غوټه راته خلاصه کړي.

دري څلوېښت کاله کېږي چې زموږ پرګنې او ولسونه د افغانستان د خلق ډیموکراټیک ګوند د داخلي پېښو او د ګوند د رهبرۍ په هکله د سلهاوو پوښتنو او زرګونو شکونو په لرلو سره د قناعت وړ ځوابونو ته سترګې پر لاره دي. دري څلوېښت کلنه چوپتیا او د حقایقو په بیان کې تعلل او اوږه سپکول، دري څلوېښت کاله د اتهاماتو دروند پېټی په اوږه ګرځول، دري څلوېښت کاله د ژوندون نېږدې ترینه دوست ته د خیانت کولو د راز د افشاء کېدلو ویره ټول ډېر سخت کارونه دي.

په خواشینۍ چې د افغانستان د خلق ډیموکراټیک ګوند رهبران او مشران یو په بل پسې مړهٔ او ډېری پوښتنې ئې بې ځوابه پرېښودلې: د سیاست د ډګر له مخې د خیبر لېرې کول د چا په ګټه ول؟ ولې د ګوند غړو – ددوی د واکمنۍ د ورځې له پېل څخه بیا د نظام د نسکورېدلو تر شېبې او ان له هغهٔ راوروسته پورې – خیبر یاد نهٔ کړ، هغه

خیبر چې دوی به د خپل استاد په نوم یاداوهٔ؟ ولې د ګوند هېڅ یوهٔ غړي د ګوندي - واکمنۍ پر مهال ددغهٔ مرموز قتل په هکله د پلټنو وړاندیز وړاندې نهٔ کړ؟ کومو کسانو د خیبر آثار او یادداشتونه له منځه یوړل او ولې ئې له منځه یوړل؟ که دا آثار تر اوسه شتون ولري چېرې دي او څنګه زموږ لاس ته راتلای سي؟ آیا د ګوند د رهبرۍ ټول غړي د خپلو مقامونو او څوکیو د ساتلو لپاره د حقایقو په پټ ساتلو کې له یو بل سره لاس په لاس ول؟ آیا د پخواني ډیموکراتیک ګوند په غړو کې به څوک په خپل ژوند کې یوازې د یوهٔ ځل لپاره د خلکو مخې ته حاضر سي او حقایق ووایي؟

د غمونو او ټولو نهیلیو د دې لالهاندې وچې دښتې د لرلو ترڅنګ مې په یاد راځي چې پلار مې د خبرونو او موسیقۍ د اورېدنګ لپاره یوه کوچنۍ راډیوګۍ درلوده. کله به چې د اورېدلو په نړۍ کې ډوب سو نو فکر به ئې په یوهٔ ځانګړي ټکي باندې نښ سو، د پلار مې ددغهٔ حالت ځانګړې څېره چې ماته ئې سکون او آرامي راپه برخه کوله زما په ذهن او ضمیر کې لا تر اوسه هماغسې روښانه او ژوندۍ پاتې ده او ترڅو چې ژوندۍ یم زما په سترګو کې به زما د سترګو د تور په شان ژوندۍ پاتې وي.

د پلار له وژل کېدلو وروسته مو بیا هېڅکله هاغه راډیو روښانه نهٔ کړه؛ په دې ببرېدلو چې که دا راډیو روښانه کړو آیا موږ به دا سیک او زور ولرو چې په «فوتي اعلاناتو» کې د «مرحوم خیبر» نوم بیا واورو؟

برېښنا خیبر

ډنمارک، ۲۰۲۱ز کال، د اپریل اوولسمه

## سوگند پر تا! سوگند پر تا!

د خیبر د جنازې په مراسمو کې

د ببرک کارمل وینا

ملگرو! د وطن د شهیدانو د اکبر، د شهید میر اکبر خیبر نوم به په همدې عنوان، چې د افغانستان د کارگرې طبقې د مخکښ، د افغانستان د خلق ډیموکراټیک گوند له سرسپارلو بنسټ ایښودونکو څخه وو، تل پاتې وي. د افغانستان د خلکو د سرهٔ ببرغ په شان په وینو کې لیت پیت زموږ خیبر به تل خپلو هملارو او هم سنگرو ملگرو ته په خلقي تواضع ویل: ملگرو! ستاسو تر ټولو ستر شرف، ستاسو تر ټولو ستر ویاړ د افغانستان د خلق په ډیموکراټیک گوند کې ستاسو مخکښ غړیتوب دی. تاسو باید د گوند غړیتوب وړتیا تر لاسه کړئ، د گوند ببرغ رپانده، سرلوړی او پاک وساتئ او خپل منځي وحدت د خپل عقل، شرف او وجدان په شان ټینگ وساتئ.

ملگرو! دوستانو!، هیوادوالو! خیبر زموږ خوږ ملگري چې خپل گران ځان ئې د خلق او د وطن د سوکالۍ او سرلوړی په لاره کې قرباني کړ زموږ د مبارزې په ډېرو سختو شرایطو کې به ئې په زړورتیا او متانت ټینگار کاوهٔ چې ملگرو! د افغانستان د خلکو پر غدارو دښمنانو یعنې پر تورې ارتجاع باندې د بریالي کېدلو لاره چې د امریکا د امپریالیزم په مشرۍ ئې خونړی نړۍ وال امپریالیزم ملاتړ کوي، د افغانستان د خلق ډیموکراټیکه لاره ده، دا لاره زموږ د عصر مخکښو ایډیالوژیو ته د وفا لاره ده، دا لاره زموږ د خلکو او هېواد لپاره له سر او ماله تېره د خدمت لاره ده.

خیبر به خپلو همسنگرو ملگرو ته ویل: د حاکمې ستمگرې پاړکې / طبقې پر ضد مبارزه، د ارتجاعي قدرتونو پر ضد مبارزه، د درواغجنو او مستبدو دولتونو او حکومتو پر ضد مبارزه، د امپریالیزم پر ضد مبارزه، ډېره اوږده، گرانه او سرسخته مبارزه ده چې کار ته اړتیا لري. زموږ مخې ته شدیدې او خونړۍ طبقاتې مبارزې پرتې دي چې ډډه ورڅخه نهٔ سو کولای. زموږ شهید ملگري به ویل: د سولې، ملي استقلال، د خلق د آزادۍ، ډیموکراسۍ، پرمختگ او علمي سوسیالیزم په لاره کې هرو مرو بریا د افغانستان د خلق ډیموکراټیک گوند په مخکښ توب د انقلابي او هېوادپالو قوتونو په نصیب کې ده.

میر اکبر خیبر، د افغانستان د خلکو اصیل بچي د هستۍ تر ټولو ستر جوهر یعنې خپل ژوند او ځان د کارگر د طبقې د سترو آرمانونونو په لاره کې له لاسه ورکړ. خپلو همسنگرو ملگرو ته د خیبر معنوي میراث علمي سوسیالیزم ته د هغهٔ خلل نه منونکی ټینگ ایمان، د کارگر د طبقې په مشرۍ له زبېښاک/استثمار او ملي او ټولنیز ستم

ځخه فارغ د نوي ټولني په جوړولو کي نۀ ماتېدونکي مبارزه ده. اروابناد خيبر د خپل وياړلي ژوند په اوږدو کي د ستم او د استبداد د خښم د سختو شرايطو په چاپيريال کي د خلق د ګټو د دفاع په لاره کي هېڅ ويره او تزلزل نۀ درلود. د جبارو حاکمو قوتونو پر ضد د خيبر نۀ پخلا کېدونکي مبارزه، د افغانستان د زيارګالو او د خلق د ډيموکراټيکو آزاديو د دفاع په لاره کي مبارزه وه؛ دا مبارزه د ارتجاع او امپرياليزم پر ضد، د ديموکراسۍ ضد ديکتاتورۍ او د خلقي ضد ديکتاتورۍ پر وړاندې مبارزه وه او د همدې مبارزې په پار د خيبر نوم د خلق د مبارزې د سرۀ بېرغ پر مخ باندې تلپاتې نقش سوی دی.

د خيبر نوم له پاکۍ، راستۍ، درستۍ، زړورتيا او مېړاني سره يو ځای ملګری دی. خيبر يو متواضع استاد، يو پوه او د خلق خدمتګار انسان وو. خيبر د افغانستان د زيارګالو/ زحمت کشانو بچی وو، خيبر د درد او کړاو او د افغانستان د خلق د مبارزې بچی وو. خيبر د هېواد د زيارګالو مخکښانو د غورځنګ، د افغانستان د خلق ډيموکراتيک وحدت او د ټولو هېواد پالو انقلابي قوتونو د لارې فداکاره مبارز وو. خيبر له شور او زوږ ډک هېواد پال او صديق انترناسيوناليست وو. خيبر زموږ د واحد هېواد د ټولو استوګنو پرګنو د حقوقو په برابرۍ او د هغوی د برابرۍ پر اصل خلل نۀ منونکی باور درلود او هر ډول توپيرپالنه يا تبعيض او ملي او ټولنيز ستم ئې په شديد ترينه طبقاتي خښم محکوم کاوۀ.

خيبر د پښتونستان او د بلوڅستان د خلکو د ملي آزادۍ او د هغوی د برخليک د ټاکنې د لارې يو مبارز وو. خيبر د پاکستان د ارتجاع او د سيمې د ژاندارم، يعنې زموږ په ګاونډ کي د ايران د پوځي او فاشسيت ډوله رژيم يو نۀ پخلا کېدونکی دښمن وو. خيبر د کارګرانو د پاړکي او د بزګرانو د يووالي د لارې يو مبارز وو، خيبر د ملي متحد ډيموکراټيک مورچل د رامنځته کولو غوښتونکی وو، داسې مورچل چې فئوډالي ضد مورچل وي، د امپرياليزم ضد مورچل وي، داسې مورچل چې پر شپول ئې ټول ترقي غوښتونکي او هېواد پال قوتونو راټول سي؛ خيبر د کيڼ او د ښي لاس د ټولو انحرافاتو پر وړاندې، د کيڼ او د ښي لاس د اپورتينيزم پروړاندې او د شؤونيزم او قهري ناسيوناليزم پروړاندې يو زړور او بې ډاره مبارز وو.

خيبر د کارګر د پاړکي واکمنۍ ته، د خلق واکمنۍ ته، علمي سوسياليزم، پرولتري انترناسيوناليزم او خپل خلق او ګران هېواد افغانستان ته وفا داره وو. زموږ شهيد او اتل ملګري خيبر به ملګرو ته په ټينګار ويل چې اوسنۍ موجوده مرګوني سياسي چوپتيا نوره بايد ماته سي. خيبر شخصاً په خپل شهادت سره دغه مرګوني چوپتيا ماته کړله.

زموږ اکبر خيبر د ډيموکراسۍ د بيا راژوندي کولو په لاره کي د مبارزې «پرچم» / بيرغ، د سياسي آزاديو د ترلاسه کولو او د افغانستان د خلق د ډيموکراتيکو حقونو او آزاديو د

تر لاسه کولو لپاره راپورته کړ. دغه انقلابي شخصیت په همدې لاره کې پر مخ لاړ او د پرګنو سیاسي او اقتصادي غوښتنو ته ئې مثبت ځواب ورکړ.  خیبر د هېواد د انقلابي مبارزینو په سنګر کې په زړورتیا او میړانې ودرېد، او د جبارو حاکمو پاړکو پر ضد چې له ځمکوالو/ فئوډالانو، ملاکینو، سترو سوداګرو، فاسدې بیروکراتیکې دستګاه او له ښي لاسو مرتجعو واکمنو څخه جوړې سوي دي، د ملي متحدې جبهې پر بنسټ ولاړ د ملي او ډیموکراټیک جمهوریت د رامنځته کولو په لاره کې د جمهوري رژیم د سوقولو لپاره بې دریغه مبارزه کوله.

خیبر به تل ملګرو ته ویل: باید د ولسونو او پرګنو منځ ته لاړ سو، باید له خلکو سره نېږدې اړیکي ټینګ کړو، د هېواد د خلکو د راټولولو او د هغوی تر منځ د اتحاد د رامنځته کولو لپاره باید مشخص انقلابي شعارونه جوړ کړو او په دې لاره کې مبارزې سمبال کړو او د ارتجاع، استبداد او امپر یالیزم پر ضد ولسونه راټول کړو.

ملګرو، دوستانو، هېوادوالو! دا ول د شهید خیبر د لوړو خصایلو او آرمانونو د فهرست لنډیز، دا زموږ خیبر دی چې د هېواد د میلونونو کړېدلو انسانانو د آزادۍ د لارۍ شهید دی. له دغو خبرو څخه په څرګند روښانه کېږي چې ولې خیبر د افغانستان د خلق د کورنیو او باندنیو دښمنانو د وحشیانو او رزیلانه خشم په محراق کې راګیر سو. خیبر زموږ د عالیقدر مشرتابهٔ د غړي په توګه او د افغانستان د خلق د انقلابي ژوند د یوهٔ برجسته شخصیت په توګه په اتلولۍ مبارزه وکړه او په پای کې په شهادت ورسېد او ځان، خپلو بچیانو، خپلو ملګرو او د هېواد د خلکو لپاره ئې تلپاتې ویاړ تر لاسه کړ.

ملګرو، دوستانو، هېوادوالو! شهید خیبر ته د درناوي او د هغهٔ د مراسمو د لمانځنې په دې ورستۍ شېبه کې اعلان کوو چې د هېواد ددغهٔ اصیل بچي او  زموږ د ګران ملګري قاتلین دغه دي: ښۍ لاسې افراطي ارتجاع؛ د ښي لاس د فاسدو محافلو په مشرۍ د کورنۍ ارتجاع ځواکونه، د امریکا د امپریالیزم په مشرۍ امپریالیزم، د امریکا د CIA، د ایران د ساواک او د پاکستان د CID او نورو په ګډون د داخلي جاسوسي شبکو په وجود کې د سیمې ارتجاع، دوی ټولو د افغانستان د خلق د کورنیو او باندنیو دښمنانو په توګه عملاً په یوې نامقدسې جبهې کې «تړون کړی دی – ژ».

له دې کبله موږ د خپل شهید ملګري له همدې آرام ځای څخه د ارتجاع او امپریالیزم پر ضد د ژوند او د مرګ د مبارزې سوګند یو ځل بیا تازه کوو او په لوړ غږ اعلان کوو چې: ملګریه خیبره ! د افغانستان خلق به ستا او ستا د نورو هم سنګرو شهیدو ملګرو لکه د عبدالرحمانانو، قادرانو، نیازمحمدانو [1] و او نور غچ واخلي.

[1]- د جمهوریت او سلطنت پر مهال په لغمان، هرات او پکتیا کې د ګوند شهیدان

ویاړ دې وي د افغانستان د خلق په مخکښو ډیموکراټیکو شهیدانو ! ویاړ او درناوی دې وي زموږ پر شهید ملګري میر اکبر خیبر! ملګریه خیبره! تاودۀ او انقلابي درودونه دې پر تاو وي.

ملګرو! په پښو ودرېږئ او ټول په یوۀ غږ ووایاست: سوګند پر تا....! سوګند پر تا خیبر چې موږ روڼ اندي ستا د سترو آرمانونو په لاره کې، د کارګر د پاړکې د نجیبانه آرمانونو په لاره کې، د ملي ډیموکراټیک او سوسیالیستي انقلاب په رامنځته کولو او بریالیتوب کې په شرافت او له ویرې پرته پر مخ ځو او د افغانستان د خلق برمیاله طبقاتي پرچم چې ستا په پاکو وینو او زموږ د نورو شهیدانو په وینو رنګین سوی دی همداسې رپانده ساتو!

(۱۹/۰۴/۱۹۷۸)

د کست له مخې د پورتنیو خبرو لیکنه او په کمپیوتري بڼې لیکل: ع. ق. فضلي. (۲۰۰۹ز کال د اپریل د میاشتې ۲۱ نېټه) له نومو ړي متن څخه ګټه اخېستل یوازې د منبع او د «اصالت» د سایت د نوم په یادولو سره مجاز ده.

www.esalat.org

## یوه دقیقه چوپتیا

اناهیتا راتب زاد

حفیظ الله امین دغۀ وینه بهوونکي میرغضب او سړي وژونکي جنایت کار چې د خپل مخالف د هر ډول ځواک ترهول، اختناق او ځپل ئې د خپلې حکومتولۍ بنه او تګلاره ګرځولې وه هره ورځ به ئې یو نوی فسق او جنایت رامنځته کړ او د خپل رژیم مخالفین به ئې ډله ډله شکنجه ځایونو، زندانونو او پولیګونونو ته لیږل.

ویني څښونکي امین او انسان ځپونکي رژیم ئې په لس هاوو زره انسانان چې زموږ د ګوند د بچیانو بهترین انقلابیون، د کارګرانو او بزګرانو د خوارۍ او زیار بچیان، روڼ اندي او شریف روحانیون په کې ول په شهادت ورسول.  دغې شیطاني او مکارې روح او خونړي رژیم ئې له مکررو انکارونو سره سره  په زرهاوو بې ګناه کسان په فاشیستي ډول او د وحشیانه وسایلو په وسیلې په وینو لیت پیت، اعدام، ګور کې ښخ او له منځه یوړل.

وحشي او ورانکار امین – دغه بې شرمه حیوان صفته- د امریکا د امپریالیزم پېژندل سوي جاسوس چې اوس جیمي کارتر ورځخه دفاع کوي، خپل خونړي لاسونه زموږ د ګوند د بنسټ ایښودونکي، د ګوند د مرکزي کمیټې د لومړي منشي، د انقلابي شورا د رئیس او د افغانستان د ډیموکراټیک جمهوریت د صدر اعظم  د هېواد د شهید بچي اروابناد نورمحمد تره کي په پاکو وینو رنګ کړل.[1]

---

[1] - د ژباړونکي یادونه: تاسو د دري متن دې جملې ته پام وکړئ: « به خون پاک **فرزندان** شهید کشور شادروان نورمحمد تره کی بنیادګذار حزب ما و نخستین منشی عمومی کمیتۀ مرکزی حزب، رئیس شورای انقلابی و صدراعظم جمهوری دموکراتیک افغانستان **آلوده ساخت**.» آلوده ساخت یعنی ککړ کړل. او هم د «فرزند» او «فرزندان توپیر». لوستونکی دې د ویناوالې د سواد کچه په پام کې ولري.

همدې ته ورته مور داسې شواهد په لاس کې لرو چې زمونږ د گوند د مرکزي کمیټې غړی اروانباد میر اکبر خیبر هم د امین او د هغهٔ د وحشي تروریستانو د سرې وژونکي باند له پلوه چې ارتجاع سره ئې لاس یو کړی وو په شهادت ورسېد.

لنډه دا چې د (سیا) (د امریکا د سي آی اې - ژ) دغهٔ وفاداره بچي چې د فاشیستي ترور لاره او روده، سرې وژنه، تعقیب، ورانکاری، لوټ او تالان او د افغانستان د کړېدلو او نجیبو ولسونو پر مال، ځان، ناموس او شرف باندې وحشي تېري ئې د خپل ستم گر تخت د ساتلو لپاره اړین بلل، زمونږ د یووالي/ **اتحاد** د څواک او ددې هېواد د زړورو بچیانو د انقلابي تکل په مټ چې زمونږ د ویاړلي گوند په لمن کې روزل سوي دي، د خپلو کړو وړو په سزا ورساوهٔ.

هو! نور نو د ظلم، لوټ او تالان ماڼۍ نسکوره او هغه دوران تېر سو.

ملگرو!

د شهیدانو د یاد او د هغوی د نومونو د درنښت او زمونږ د گوند د ژور تأثر د احساس د څرگندولو لپاره یوه دقیقه چوپتیا اعلانېږي او بیا به د هغوی ارواحو ته درود ولېږو.

(د چهلستون د ودانۍ تالار، ۱۳۵۸ ل کال د مرغومي یولسمه- د "حقیقت انقلاب ثور" ورځپاڼه.)

(لومړی کال، دوهمه گڼه، چهارشنبې – ۱۳۵۸ل کال د مرغومي دولسمه/ د ۱۹۸۰ز کال د جنوری د میاشتې دوهمه)

# میر اکبر خیبر په ژباړو کې

**۱. محرم سند**: 03019D7045/ 19 اپریل ۱۹۷۸
ثیودور ایلیوت [1]: په افغانستان کې د امریکا د متحده ایالاتو سفیر

د اپریل په نولسمې د ورځې په دولسو بجو د ځوانانو یوه سازمان سوې، تقریباً پینځلس زره کسیزه، ډله چې له ځانونو سره ئې سرۀ بېرغونه او د سرۀ ټوکر پر مخ لیکل سوي شعارونه لېږدول او د نړۍ وال کمونیستي دود په شان ئې خپل لاسونه موټي کړي ول په کابل کې د امریکا د سفارت له مخې تېره سوه. دغه لاریون چې د "CIA، CIA مرګ، مرګ، مرګ پر CIA" د شعارونو له شور او غاو سره بدرګه وو د امریکايي ضد شدیدې دښمنۍ څرګندویه وو.

مارش ظاهراً د [حاکمیت] له مقاماتو څخه اجازه درلوده ځکه چې له محافظ قوت پرته بل هېڅ پولیس نۀ لیدل کېدۀ. دغه پېښه چې په بې ساري سیاسي لاریون واوښتله د افغان د نامتو کمونیست مشر میر اکبر خیبر له وژل کېدلو وروسته د پېښو دوام دی. د ګڼو خلکو یوې ډلې د نوموړي جسد، د جنازې د مراسمو لپاره د پل خشتي جومات او خاورو ته د سپارلو لپاره لېږداوۀ.

پښتون خیبر چې د کمونیست پلوي ګوند د "پرچم د څانګې" بنسټ ایښودونکی او «پلار» بلل کېدۀ په ۱۹۶۵ز کال کې د پکتیا د ولایت امنیه قوماندان وو. ګڼ شمېر خلک په دې باور دي چې د "پرچم" د جریدې دغه مسؤول مدیر یو رښتونی روڼ اندی او د افغانستان د کمونیستي غورځنګ تر شا فلسفي ځواک وو. تر هغۀ مهاله چې په ۱۹۷۷ز کال کې د مسکو تر اغېز لاندې د خلق او پرچم دوه وو فرکسیونونو له یو بل سره وحدت وکړ خیبر له رسمي اړخه د پرچم د مرکزي کمیټې دوهم سړی او وروسته د "خلق" په نوې مرکزي کمیټې کې دریم سړی وو. شورویانو ښايي د ولسمشر محمد

---

[1] - Theodore Eliot

داؤود حساسیت ته په درناوي هېڅکله دا خبره په څرگنده په خولهٔ نهٔ ده یاده کړې. خلق یو [آزاد] قانوني گوند نهٔ دی خو اعمال او کړهٔ وړهٔ ئې واضحاً د رژیم له پلوه زغمل کېږي.

خیبر د اپریل د میاشتې په اووهٔ لسمې د شپې په نهو ۰۰: ۰۹ بجو ووژل سو. په سبا ورځ ئې د ماسپښین له پلوه یو ډېر منسجمه لاریون جوړ سو. د مظاهرې یا لاریون گډونوال تقریباً ټول ئې د ښوونځیو زده کوونکي او د پوهنتون محصلین ول او اکثریت ئې ښځې وې او په لوېدیځو جامو کې ښکارېدلې (نهٔ دا چې دودیزې کمیس او پرتوگ جامې وې)

د اپریل د میاشتې په اتلسمې د خلق د گوند دوهم مشر- ببرک کارمل- اجازه تر لاسه کړه چې د وژل سوي کمونیست مشر فوتي اعلان د راډیو له لارې خپور کړي.

ښايي د جمهوریت رژیم، د دوه وو دلایلو پر بنسټ د راډیو له څېو څخه د استفادې اجازت ورکړی وي: لومړی دا چې رژیم ځان د قتل د پېښې له اصل څخه واټن ونیسي او دوهم د اوضاع د کړکیچنوالي مخه ډب کړي. درېیمه انگیرنه هم لرو: حکومت خلکو ته د خپل مټ زور ښکاره کړ. (زموږ د تازه استخباراتي گزارش پر بنسټ، د "ملي انقلاب گوند/ ملي غورځنگ - ژ" تر اوسه دوه پینځوس غړي لري.)

سره له دې چې دغهٔ لاریون د سفارت ودانۍ ته تاوان ونهٔ رساوهٔ خو باید په پام کې ولرو چې د فاتحې له مراسمو وروسته ښايي امریکايي ضد احساسات په تاوتریخوالي بدل سي. سفارت چې د فلسطین د آزادۍ بخښونکي سازمان د پلویانو د تروریستي گواښونو تر سیوري لاندې دی اړ دی چې مناسبو اهتماماتو او امنیتي تدابیرو ته لاس واچوي.

یو شمېر کتونکي/ ناظرین فکر کوي چې د خیبر وژنه ښايي د ښي اړخو اخوان المسلین کار وي. دوی په تېرو شپږو میاشتو کې درې څلور نور قتلونه هم تر سره کړي دي. ښايي د افغانستان دولت دې ته لېوال وي چې د همدې قتل دوسیه هم په همدې سازمان پورې منسوبه او سنجاق کړي. د داؤود رژیم چې تر ډېره د خپلو ښي لاسو مخالفینو له لاسه شکایت کوي د پلان د وزیر علي احمد خُرَم د قتل مسؤولین ئې اخوان المسلمین قلمداد کړي ول.

په دې لړ کې تر ټولو برجسته پېښه د کیڼ لاسي منظم لوی ځواک راڅرگندېدل ول. موږ اورېدلي ول چې د خلق د فرکسیون غړي په ډېر انضباط سره منظم سوي خو د هغوی له پلوه په دې اندازې دداسې یوهٔ لاریون د سمبالولو هیله مو هېڅکله نهٔ درلوده. د کمونیستي دسپلین تر سیوري لاندې په داسې انسجام سره د زرهاوو ځوانانو مارش چې د جشن په ورځو کې د افغانستان د اردو د سرتېرو له رسم گذشت څخه ډېر ښهٔ ول یوه خطرناکه منظره وښودله.

مورږ تر اوسه داسې شواهد نهٔ دي ليدلي چې د جمهوريت رژيم دې د خيبر په قتل کې څوک تورن کړي وي.

**۲. محرم سند:** 03142D7046/ 24 اپريل ۱۹۷۸

ثيودور ايلوت [1]: په افغانستان کې د امريکا د متحده ايالاتو سفير

ښايي د اپريل د نولسمې امريکايي ضد لاريونونه قسماً د داؤود د رژيم په استشارې تر سره سوي وي چې د امريکا د متحده ايالاتو او د ايران د حکومت پاملرنه د شوروي پلوو چپيانو پر وړاندې د خپل کورني سياست د ننگونو درک کولو ته را واړوي. دغې پېښې وښودله چې د خلق کمونيستي گوند ددې هېواد په جوړښت کې تر ټولو لوی او تر ټولو نورو، ښهٔ سمبال سوی منظم گوند دی. له دغو خبره سره سره کابل لا تر اوسه آرامه ښکاري او داؤود پر اوضاع باندې برلاسی او مسلط دی.

د خيبر له وژل کېدلو اووهٔ ورځې تېرې سوي دي. افغان باخبره سرچېنې او په کابل کې مېشتې ديپلوماتيکې کړۍ ددې پېښې د اغېزو په څېړلو باندې بوختې دي او د چنگاښ د ۲۶ نېټې له پېښې راوروسته دا پېښه تر ټولو برجسته پېښه گڼي.

نا څواب سوي پوښتنې؟ خيبر ولې ووژل سو؟ چا وواژهٔ؟ ولی د داؤود رژيم د خيبر د جنازې د مراسمو په ورځ د خلق کمونيست غير قانوني گوند ته د څرگند او برالا لاريون اجازه ورکړه؟ آيا رژيم په دې پوهېدهٔ چې د خلقيانو د گوند مارش يو امريکايي ضد لاريون، د CIA ضد او د «امريکا د امپرياليزم» ضد لاريون وو؟ که څواب هو وي، ولې رژيم پرېکړه وکړه چې داسې پېښه دې رامنځته سي؟ چا تر ټولو لويه سياسي گټه ترلاسه کړه؟ د خلق گوند يا حکومت؟

د خيبر قاتل څوک دی؟ دا پوښتنه د دوه وو نورو مهمو سياسي قتلونو په هکله هم تازه ده: د آريانا پيلوټ انعام الحق گران او د پلان وزير علي احمد خرَم. گنگوسې پرېمانه دي، که حقيقت ته د رسېدلو لپاره لاسوند او اسنادونه وجود هم ولري بيا هم لرې دي.

[1] - Theodore Eliot

د امریکا سفارت ددغو جنایاتو د عاملینو او د هغوی د انګیزو په اړوند د یادو سویو ګنګوسو له منځه څو دانې ئې په دې ډول په نښه کوي:

• خیبر د اخوان المسلین په شان د ښي لاسو سخت دریځو له پلوه ووژل سو. هغوی په تېرو دولسو میاشتو کې درې څلور تنه افغان کیڼ لاسي هم وژلي دي. ددې نظرېې څوتنو پلویانو، سفارت ته ویلي دي چې ښايي «ګران» د ښي لاسو توپکوالو له پلوه په غلطۍ او تېروتنې وژل سوی وي. د نوموړي څېره کټ مټ د ببرک کارمل څېرې ته ورته وه او په همدې بلاک کې ئې ژوند کاوۀ. (له دې پېښې وروسته کارمل بل ځای ته کډه سو.) ددغو ګنګوسو تأيید کوونکي په دې باور دي چې د داؤود د رژیم د کیڼ لاسو او ښي لاسو ځای ناستو تر منځ جګړه پېل سوې ده.

• خیبر چې مخکښ تیوریسن او ښايي د خلق د ګوند په مرکزي کمیټې کې تر ټولو اصیل/ معتقد ترین کمونیست وو د خپل ګوند د ملګرو له پلوه له منځه تللی دی ځکه چې نوموړي د خلق او پرچم د فرکسیونونو د وحدت له انتقادونو څخه لاس نۀ اخیست. نوموړي د وحدت د پروسې دغه لړۍ نامطلوبه ګڼله او د خلق د فرکسیون د یو شمېر رهبرانو علمي دریځ او موقف ته ئې د شک په سترګو کتل: د بېلګې په توګه په کابل کې عمده باور دا وو چې ببرک کارمل د ظاهراً رښتوني کمونیست په جامو کې داؤود - پلوی ایجنټ دی. د خیبر په قتل کې د خلق د ګوند د لاس لرلو نظریه په دې وروستیو کې د افغانستان د حکومت له پلوه د یوۀ نوي جوړ سوي ګوند «ملي غورځنګ» د غونډې له پلوه خپره سوې ده. د حکومت یوۀ لوړ پوړي مقام د امریکا سفیر ته وویل: خیبر د خلق ډیموکراتیک ګوند سوسلوف Suslov وو چې اوس ښايي د هغۀ ګوند تروتسکي Trotsky سوی وي.

• خیبر د ځمکې د تـرَکي او د ویش پر سر د یوې کورنۍ شخړې له کبله وژل سوی دی. دغه تیوري چې د خیبر د کورنۍ د یوۀ غړي له پلوه ویل سوې د افغانستان فئوډالي تاوتریخوالي ته په کتنې مؤجه ښکاري.

• خیبر د داؤود د رژیم له لوري ځکه اعدم سو چې د خلق ګوند ناتوانه کړي او له بل لوري په ښي لاسو مخالفینو باندې ددې ډلې د بدګومانیو ګراف لا لوړ کړي.

د امریکايي ضد لاریون اهمیت: سفارت په دې باور دی چې د خیبر له وژل کېدلو وروسته د داؤود رژیم دغۀ لاریون ته ځکه اجازه ورکړه چې د قهر او غم په راوتلو سره د سیاسي شور او زوږ د اور د لمبو غرغرې کښېنوي، د واټونو پر مخ د نښتو مخه ونیسي او د عامه روحیې د فشار دروندوالی را لږ کړي. په دې توګه دا امکان سته چې دولت په دې قضیې کې د ملامتۍ د احتمالاتو د راټیټولو لپاره دا کار کړی وي. (خیبر له کمونیستي کړیو دباندې د یوۀ محترم او دروند شخصیت په نقش کې پېژندل کېدۀ.)

یوۀ غیر قانوني ګوند ته د آزاد لاریون په ورکړه کې د افغانستان حکومت، خلکو ته وښودله چې بشري حقونو ته درناوی لري. دغۀ کار یوه ضمني ګټه هم درلوده: یعنې د استخباراتو د ادارې د کارمندانو له پلوه د ګوند د مشرانو عکس اخېستل.

موږ باور لرو چې له دغۀ ستر لاریون مخکې د ګوند او د حکومت د امنیتي مقاماتو تر منځ یو ډول توافق سوی وو ترڅو دا لاریون په قانون منده او منظم ډول سره تر سره سي.

شک نۀ سته چې د « ملي مصؤونیت » د ادارې مشران پوهېدل چې د خلق د ګوند لاریون، امریکایي ضد خوند او رنګ لري په ځانګړې توګه د سفارت له مخې د لاریون د تېرېدلو د لوري تأیید، حال دا چې د خیبر له کور څخه د جنازې د لمانځۀ تر مسجد پورې بله لنډه لاره هم وه. له دې کبله د داؤود رژیم دغه لاریون له سیاسي اړخه د نۀ منلو وړ نۀ ګاڼۀ؛ ځکه رژیم ډاډ تر لاسه کړی وو چې د خلق د ګوند موخه تشدد او ورانکاري نۀ ده او د اوضاع د غیر عادي کېدلو په صورت کې پولیس د عامه نظم د ټینګولو توان درلود.

په افغانستان کې د ایران سفیر حسین داؤودي د [محمد داؤود امریکایي ضد] انګیزې ته په نغوتې سره (د اپریل په ۲۲) زموږ یوۀ کارمند ته وویل: نوموړي غوښتل چې زموږ او ستاسو آمر ته یو پیام ولېږي.

سره له دې چې د افغانستان د مشرتابۀ په ذهنیت کې ددوی په باور «د افغانستان په هکله د امریکا د بې طرفۍ د پالیسي د ځپو» خبره راګرځي، په ځانګړې توګه د امریکا متحده ایالاتو ته د محمد داؤود د سفر ځنډېدل او د USAID د مرستو لږکېدل، بیا هم ښایي دوی غوښتل موږ ته د بېدارۍ یو ټکان راپه زړۀ کړي چې دوی ته راپېښېدونکی امنیتي ګواښ درک کړو، دا هماغه ګواښ دی چې مرستې ته ئې اړتیا لري.

موږ نۀ وایو چې دا لاریون د داؤود په دستور یا د هغۀ په هڅونې تنظیم سوی وو، خو ښایي داؤود دا احساس کړی وي چې پرېږده د امریکا متحده ایالات او د ایران سفارت د کین غورځنګ منظم طبیعت په خپله ښۀ درک کړي.

څوک ګټونکی سو؟ داؤود وکولای سول د امریکا او د ایران رهبرۍ ته پټ پیام ورسوي او په افغانستان کې د کیڼ لاسي غورځنګ د رهبرۍ ظرفیت وروښیي. د خلق ګوند وکولای سول د Loch Ness – د هیولا [1] په نقش کې له خپلو ټولو پراخو ابعادو سره یو ځای یو ناڅاپه د ځمکې له تل څخه راووځي او په دې کار سره د شوروي د ملاتړ نښې ننداری ته کښېږدي.

[1] Loch Ness- : چې د Nessie په نوم یادیږي د سکاتلند په فورلکوریکو قصو کې یوه هیولا ته وایي چې اوږده غاړې او یو یا څو شاکړوپې/ کوهانونه لري او له ژورو اوبو سر راته پورته کوي. - ژباړونکی

اوس موږ نوي پوهېږو چې شوروي پلوو ځواکونو د دې هېواد راتلونکي ته په لستوڼي کې کومې پټې ننګوڼې ساتلې دي. د اپریل د میاشتې په نولسمې د امریکا د سفارت د دروازې مخې ته پینځلس زره تنه ځوانان، د خپلو کمونیستي سوکانو او امریکايي ضد خښم په ښودلو سره د افغانستان د راتلونکو غوره سویو کسانو جګه فیصدي ننداره ته وړاندې کوي. (غالباً د ګډونوالو ډېري کسان د مخفي پولیسو ایجنټان ول)

د ګنګوسو، نظریاتو او وړاند وینو بازار ورځ تر بلې لا تودېږي.

**۳. محرم سند:** 03227D7047/ 27 اپریل ۱۹۷۸

ثیودور ایلوت [1]: په افغانستان کې د امریکا د متحده ایالاتو سفیر

د اپریل د میاشتې په ۲۵ نېټې د مسکو پلوي خلق کمونیست ګوند د مرکزي کمیټې ۷ تنه مشران ونیول سول. د همدې ورځې په سبا شپه ئې د نور محمد تره کي، ببرک کارمل، ډاکټر شاه ولي، دستګیر پنجشیري، عبدالحکیم شرعي جوزجاني، بارق شفیعي او ډاکټر حسن ضمیر صافي د نیول کېدلو ګزارش له کابل راډیو څخه خپور سو.

د نیول کېدلو په دې خبر کې د خلق یا کیڼ لاسي/ کمونیست ګوند له غړیتوب څخه یادونه ونۀ سوه. دوی د اساسي قانون ضد اعمالو، د کورنې امنیت په ګډوډولو، د شعارونو او ویناوو په خپرولو، د عامه نظم په ګډوډولو او د اساسي قانون د څو د «مجازاتو وړ» اعمالو په تر سره کولو تورن سوي ول.

د راپورونو پربنسټ، کارمل یوه اوریکې وینا وکړه او تره کي وویل: " زموږ موخه هېواد ته د رښتوني انقلاب راوړل او دښمنانو ته سبق په لاس ورکول دي. د خیبر د وینو له غچ اخېستلو څخه کوم ډار نۀ لرو." نوموړي له هغو ښې لاسو مرتجعینو څخه هم یادونه وکړه چې ځانونه " رښتوني هېواد پال" بولي.

یو بل ګزارش وايي: یوۀ خلقي مشر، حکومت په دې تورن کړ چې هېوادوالو ته د امنیت په ټینګښت کې پاتې راغلی او زیاته ئې کړه چې د خیبر د مړینې پایله موږ ته وايي چې موږ به په خپله امنیتي اقداماتو ته لاس واچوو.

د اپریل د میاشتې په ۲۵ نېټې یوه "شب نامه" په کابل کې په دې پیام خپره سوه: " موږ د حکومت د ظلم او ستم پای غواړو." دا تیوري هغه مهال سمه ښکاري کله چې موږ د

[1] - Theodore Eliot

رژیم د ماهیت په اړه فکر وکړو. د خلق گوند ته د لاریون اجازه ورکول داسې ول لکه یو ښکاري چې د مرغانو ښکار کولو ته تله او دانه کښېږدي.

د وسله وال ځواک د یوۀ جنرال له خولې ئې راوړي دي چې: د افغانستان حکومت تکل درلود چې عملاً وښيي «پرېږده چې سل گلان وغوړيږي» (دغه شاعرانه جمله چې په "سلو گلونو" شهرت لري په ۱۹۵۶ز کال کې د مائو تسه تونگ د کمپاین د شعار یوه یادونه وه چې د خپلو مخالفینو د پېژندلو لپاره له دولسو میاشتو «انتقادي بیاناتو» وروسته سرکوب، زنداني او یا ووژل سول. لوېدیځو رسنیو د «سلو گلونو گلانو د غوړېدلو» غورځنگ، د مارانو د غولولو لپاره یوه لومه نوموړې چې په دې باندې ماران له خپلو " سوريو" څخه راووځي.)

داؤود په دې باور وو چې ددغو مشرانو په سرکوبۍ سره کولای سي د هر ډول مخالف جړرې له بیخه راوباسي خو د خلق جدي او منظم گوند، غواړي وجنگيږي.

**۴. محرم سند**: 03808D7072/ ۲۱ جنوري ۱۹۷۸

سپایک دابس [1]: په افغانستان کې د امریکا د متحده ایالاتو سفیر

په وارسا [پولند] کې د افغانستان د ډیموکراټیک جمهوریت د سفیر په توگه د ډگروال غلام نبي وستلي موافقت لیک ورسېد. بهر ته د وستلي ټاکل کېدل، کېدای سي ډېر مهم وي ځکه د ډېریو په باور نوموړی د حفیظ الله امین له وفادارو پیروانو څخه دی.

د سفارت په آرشیف کې له انقلاب مخکې دوران څخه د وستلي د وظیفوي سوابقو په هکله لږ معلومات لرو: دغه پوځي افسر په ۱۹۳۵ز کال کې د کونړ په ولایت کې زیږېدلی دی. په ۱۹۵۵ز کال کې د افغانستان د حربي پوهنتون د «پیاده» له څانگې څخه فارغ سوی او اوسني مقام ته تر رسېدلو پورې ئې په شوروي اتحاد کې، د پیاده یا د پلي ځواک د مسلک او د غرنۍ محاربې او هم د «تکتیک» په برخه کې تحصیلات کړي دي. په ۱۹۷۳ز کال کې د افغانستان د خلق ډیموکراتیک گوند غړیتوب ئې تر لاسه کړی دی. له انقلاب مخکې د حربي پوهنتون استاد او د پکتیا د گارنیزیون بولندوی وو. د غوايي له انقلاب وروسته ئې څو لوړ دریځونه درلودل:.د ننگرهار والي، د جلال آباد د یولسمې فرقې بولندوی، د هرات والي، د «هرات» د اولسمې فرقې بولندوی، د دفاع د وزارت لوی درستیز، او د پکتیا د دریم ځواک بولندوی. نوموړی په روسي، پښتو، دري او گوډې - ماتې انگلیسي خبرې کولای سي. متأهل دی او درې بچیان لري.

د هند د سفارت د شارژ دافیر [جسومت دولت سنگهـ] په وینا: وستلي د افغانستان د باندنیو چارو د وزیر – امین فرمان ته ډېر نېږدې غاړه ایښودونکی دی چې د امین په

1 - Spike Dubs

دستور ئې – د پرچم د تیوریسن د خیبر د قتل په ګډون – ډېر جنایات تر سره کړي دي. د خیبر د وژنې سپرغۍ د غوایي د انقلاب اور بل کړ. سنګه په هرات او ننګرهار کې د وستلي د اداري بڼه «ځناور خویه» ونوموله.

که نومورې په رښتیا د امین د لاس مرۍ او د هغو اعمالو ترسره کوونکی وي چې د ارتکابي اعمالو د اثبات لپاره ئې کوم لاسوند نۀ لرو، نو له هېواده دباندې د هغۀ ټاکنه کېدای سي تر یوې کچې خپل مفهوم ولري. مورږ د کافي معلوماتو له لرلو پرته نۀ غواړو انګیرنه وکړو. خو آیا د وستلي دا تازه مأموریت، د افغانستان د خلق ډیموکراټیک جمهوریت له پلوه . "د سفارت د مقام لپاره د افرادو د ټاکنې" د مقرراتو په عمومي اډانه کې- سوی دی؟ پوهېدل ئې ګران دي.

د حکومت د شا و خوا شلو تنو غوره سویو سفیرانو (د شپږو پرچمي تبعیدي سفیرانو په ګډون) له منځه ښایي دوه یا درې تنه ئې د سفارت د مقام لپاره لازم صلاحیتونه ولري. پاتې نور ئې په کورنیو چارو کې بې کاره صدرنشینان او یا له امتیاز سره بدرګه په تبعید محکوم رټل سوي مخالفین دي. څرګنده ده چې د ګوتو په شمېر یو شمېر کسانو د [څرګندو خدماتو په بدل کې] سفارت، د حکومت له پلوه د انعام په توګه اخیستی دی.

له سترو کورنیو ننګونو سره لاس او ګرېوان د نوې واکمنۍ لپاره دا ډول مقررۍ ښایي در درک وړ وي خو په زړۀ پورې دا ده چې: د نور محمد تره کي رژیم مخکې له دې چې د خپلې باندنۍ پالیسۍ ارکانو ته تاوان ورسوي تر کله به له لوړو ډیپلوماټیکو بستونو څخه د «کثافاتو د صندوق په توګه» کار اخلي؟



## خیبر او داؤود
## د دوه وو کودتاګانو تر منځ

Selig Seidenman Harrison

محمد داؤود د سیاسي قدرت له نیولو یو کال وروسته  په حکومت کې یو شمېر بدلونونه رامنځته کړل: د ۱۹۷۴ز کال د جولای په میاشت کې ئې په شوروي کې روزل سوي دوه سوه تنه افسران کورناستي کړل. د سپتمبر په میاشت کې ئې په کابینه کې یو کلیدي کمونیست د مقام په تنزیل سره د سفارت په مأموریت وټاکهٔ. د ۱۹۷۵ز کال په دوبي کې ئې د کورنیو چارو د کمونیست وزیر پر ځای قدیر نورستاني وټاکهٔ. د ۱۹۷۵ز کال د اکتوبر په میاشت کې ئې په شوروي کې روزل سوي څلویښت تنه افسران له وسلوالو ځواکونو په دې دلیل وشړل ترڅو د افغانستان د راتلونکې ډډه، په شمالي ګاونډي کې له پوځي روزل سویو کسانو څخه سپکه کړي.

د داؤود په افکارو کې د بدلون څرګنده نښه دا وه چې نوموړي دوه وو موضوعاتو ته لاس واچاوهٔ: په ۱۹۷۵ز کال کې د هلمند اوبهٔ او د «پښتونستان» قضیه. د لومړني غیر عادلانه تړون منل او د افغانستان په خاوره کې د پښتنو او بلوڅو بلواګرو نهٔ منل چې – د ذوالفقار علي بوتو د رژیم پر وړاندې جنګ وکړي -  دا دواړه ددې لامل سول چې د ملي پالو عناصرو قهر او خښم راوپاروي.

داؤود د خپل ژوندون د وروستیو دولسو میاشتو په ترڅ پراخې او ګڼ شمېر لارې ولټولې چې د شوروي له پوځي او اقتصادي علایقو څخه پریکون وکړي او د هغو افسرانو په شمېر کې ئې ډېر والی راوست چې هند، مصر، د امریکا متحده ایالاتو او ترکیې ته د پوځي تحصیلاتو لپاره لېږل کېدل. له ایران څخه د تدریجي مرستو د رسولو تر څنګ د اوبو او برېښنا د پروژو د پراختیا لپاره له سعودي عربستان څخه د پینځه سوه میلیون ډالري مرستو تړون، له چین، د کویټ له وجهي صندوق، د تیلو د صادرووںکو هېوادونو له خاص صندوق او له اسلامي بانک سره تړونونه لاسلیک سول. داؤود د هاوانا پر دریځ ټینګه نیوکه وکړه او د کیوبا په مشرۍ د ناپېلتوب د غورځنګ له رادیکالې جناح څخه ئې واټن ونیوۀ او د هند او یوګوسلاویا په مشرۍ د همدې غورځنګ له منځلارې جناح سره ودرېد او اعلان ئې وکړ چې افغانستان د "رښتوني ناپییلتوب" رعایت کوي.

په ۱۹۷۷ز کال کې له کابل او تهران څخه زما د لیدنو پر مهال، ما د ایران او شوري د تفاهم او تصادم ډېرې نښې ولیدلې. د ایران د باندنیو چارو د وزارت دریم مقام جعفر نادم د خپلو محرمانه خبرو اترو په ترڅ کې د داؤود پر رژیم باندې د ساواک د فشار له اهرم څخه یادونه وکړه: زموږ د هېواد مرستې د خلق او پرچم په سرکوبۍ، له پاکستان سره د افغانستان د سولې د تړون د لاسلیک ژمنه او د ګاونډي هېواد د پښتنو او بلوڅو په قبائیلي سیمو کې د شورشي ډلو د ملاتړ په پای ته رسولو پورې مشروطې دي. (له لیکوال سره خبرې اترې: تهران / د ۱۹۷۷ز کال د جنورۍ د میاشتې ۲۵)

ولسمشر داؤود راته وویل: د ایران اوسنی اقتصادي توان د سیمې د جیوپولیټیکس [1] معادله بدله کړې او په مسکو پورې د (افغانستان) د پراخ تعلق پر ځای ئې نوی بدیل رامنځته کړی دی. له ایران سره زموږ تأریخي اړیکې حسنه نۀ وې خو موږ باید له نویو واقعیتونو سره ځانونه برابر کړو. (کابل/ د ۱۹۷۷ز کال د فبرورۍ د میاشتې لسمه)

په کابل کې د برتانیې سفیر او د افغانستان د چارو متخصص رای کروک[2] د داؤود خبرو ته په نغوتې دا وړاند وینه وکړه: که (د ایران پالیسي) ډېره تونده او چټکه پر مخ لاړه سي نو د تهران ډیپلوماسي به روسان خوابدي کړي او روسان به غبرګون وښيي. شورویانو له افغان کمونیستانو سره ډېرې مرستې کړې دي ترڅو داؤود تر ځار لاندې ولري او د مبادا د ورځې لپاره چمتووالی ولري. روسان په ټوله کې د (داؤود پر جمهوریت) باندې د خپلو اغېزو له اندازې په دې شرط خوښ دي چې ښې لاس ته لېوالتیا زښته ډېره نۀ سي. (له لیکوال سره خبرې اترې: کابل/ د ۱۹۷۷ز کال د فبرورۍ نهمه)

[1] - geopolitics

[2] - Roy Crook

له پورتنۍ دقیقې وړاندوینې یو کال وروسته داؤود هم په کورنیو چارو او هم په باندنۍ ډگر کې په ډېرې چټکۍ سره، شپې لاس ته تاو سو. د ۱۹۷۷ز کال د فبرورۍ په میاشت کې یو گوندي اساسي قانون د کورنیو چارو وزیر قدیر نورستاني ته صلاحیت ورکړ چې د کمونیستانو او د واکمنۍ د نورو مخالفانو ځپل لا شدید کړي.

تورکیې،عربستان او کویټ کې په دریو ځایونو کې تم کېدلو سره، مصر ته د داؤود سفر د شورویانو په دماغونو کې نامطبوع او کرکجن وبرېښېدل. قاهرې ته د نوموړي دوهم سفر، بلافاصله، اسرائیلو څخه د انور سادات له راستنېدلو وروسته تر سره سو. سادات د شوروي د سفیر په حضور کې داؤود ته وویل: هغه ملي - پاله معقوله پالیسي چې د استقلال او د ملت په ارادې د اطاعت او د انسلاک په تحریم سره مو په لارې اچولې ده زموږ له نظره د ډېرې ستاینې وړ پالیسي ده. (د قاهرې د راډیو عربي سرویس: د ۱۹۷۸ز کال د اپریل شپږمه)

د (۱۹۷۸ز کال د مې په میاشت کې) د ناپیلو هېوادونو د باندنیو چارو د وزیرانو غونډې ته د کابل د کوربه توب غوره کېدل، کابل ته د ایران د شاه د سفر پلان (د ۱۹۷۸ز کال د جون په میاشت کې) او د امریکا د اقتصادي مرستو د ترلاسه کولو لپاره - د (۱۹۷۸ز کال د سپتمبر په میاشت کې) له سپینې ماڼۍ څخه د داؤود د لیدنې تصمیم – دا ټول په پلان کې ثبت سول. افغانانو چې لیدل چې د ۱۹۷۷ او ۱۹۷۸ز کلونو د هېواد د بودیجې ۶۰ په سلو کې لگښت په باندنیو مرستو باندې ولاړ دی په اوږد مهال کې ددغسې مرستو څو ځله ډېرېدو ته سترگې په لارې ول.

گڼ شمېر روڼ اندو به ویل چې له همداسې مرستو پرته بیا رغاونه نۀ سي پیل کېدای او بله چاره هم نۀ سته؛ خو د کمونیستو خلقیانو په گډون پښتنانۀ ملي پال په دې باور ول چې داؤود د واشنگټن او تهران په فرمان غواړي په ټیټ سر پاکستان ته تسلیم سي ترڅو مرستې تر لاسه کړي.

جنرال ضیاء الحق د امریکا او د ایران د ډیپلوماتیک ملاتړ تر سیوري لاندې د دوه وو شرطونو په وړاندې کولو سره له کابل سره د پخلاینې غوښتونکی سو: د ډیورنډ د کرښې په رسمیت پېژندل او خاورو ته د پښتونستان د موضوع سپارل.

داؤود په لومړیو کې خپله پښه شا ته ایستله خو له ضیاء الحق سره د دوهمې کتنې– اسلام آباد د ۱۹۷۸ز کال د مارچ د میاشت – په لړ کې د جوړ جاړي لاره هموراه سوه. د ولسمشر بېرته راستنېدل او د آگست په میاشت کې کابل ته د ضیاء د سفر اعلان، د منتقدینو غوږ بوڅی راوپاراوۀ: د دیورند کرښه به ومني او په دې سره به د «لوی افغانستان» خوب درې وړې کړي.

کله چې داؤود په کابل کې د یوې بلې ناستې په ترڅ کې، پښتنو او بلوڅو مشرانو ته وویل چې: د ۱۹۷۸ ز کال د اپریل د میاشتې تر ۳۰ نېټې پورې دې افغانستان کې پناه اخیستې اتهٔ زره پاکستاني فعالان او جنګیالي له دې هېواده ووځي، د ملي پالانو د بدګومانیو ګراف لا نور هم پورته لاړ.

ما ته اجمل خټک په کابل کې داسې وویل: د ذوالفقار علي بوتو په دستور د بلوڅو او پښتنو زندانیانو خوشې کېدلو ته په نغوتې داؤود له خپل نوي تصمیم څخه دفاع وکړه او موږ ته ئې په خطاب کې وویل:« د ضیاء د واکمنۍ تر سیوري لاندې ستاسو حقوق خوندي دي. لاړ سئ تشویش مهٔ کوئ.» موږ داؤود ته وویل: «یا دا ده چې تاسو نادانه یاست او یافریب کار. موږ له دې ځایه نهٔ ځو.» (۱۹۸۴ ز کال د اپریل د میاشتې لومړۍ

د خټک په وینا: د داؤود د خیانت خبر په چټکۍ سره د پښتنو د پوځي مقاماتو په منځ کې خپور سو. دغې خبرې حفیظ الله امین او ددهٔ د کړۍ ملګري وهڅول چې د خپلې شبکې د کړۍ ټینګولو ته لاس واچوي. د داؤود د قدیمي رازونو محرم او د باندنیو چارو د وزارت مرستیال – عبدالصمد غوث – د «ولسمشر له پلوه پاکستان ته د ګاونډیو جنګیالیو د اخراج او لېږلو» موضوع نهٔ مني او لیکي: داؤود او ضیاء دواړه د دیورند او پښتونستان د دوه وو موضوع ګانو حل ته نېږدې سوي ول:[1]

د شوروي پخواني سفیر الکسندر پوزانوف[2] له دیوید ګې[3] سره د مرکې په ترڅ کې وویل: امین د همداسې ستم پاله چلند په لیدلو ډېر قهرېدلی وو او غوښتل ئې د هماغهٔ ۱۹۷۷ ز کال په پېل کې داؤود نسکور کړي خو مسکو ئې مخه ونیوله[4].

سره له دې چې د افغان – شوروي مناسبات ظاهراً عادي او آرام ښکاري خو (په مسکو کې/ د ۱۹۷۷ ز کال د اپریل د میاشتې په دولسمې نېټې) د داؤود او برژنیف مخامخ کېدل او ټکر د اړیکو فضا خړه پړه او د راتلونکو ناوړو پېښو لپاره ئې لاره پرانیستله. غوث وایي چې –شوروي مشر "په افغانستان کې د ناتو د هېوادونو د متخصصانو د ډېر والي" په اړه اعتراض وکړ او وئې ویل: پخوا به د ناتو د هېوادونو مختصصینو ته اجازه نهٔ ورکول کېدله چې د افغانستان په شمالي ولایتونو کې ځای پر ځای سي. اوس هغه پخواني اصول نه مراعات کېږي. شوروي اتحاد د افغانستان له حکومت څخه غواړي چې خپل ځان ددغو متخصصینو له شر څخه وژغوري، چې له جواسیسو پرته بل څه نهٔ دي. داؤود په سوړوالي او ناخوښۍ برژنیف ته وویل: هر هغهٔ څه چې وویل سول د

[1] - (Ghaus, Abdul Samad: The Fall of Afghanistan, Washinton 1988, p. 148)

[2] - Alexander Puzanov

[3] - David Gai

[4] -(Afghanistan: Kak Eto Bylo - Voina Glazami Ee-Uchastnikov", Vecherniaia Moskva, July 26, 1989, p. 4.)

افغانستان په کورنیو چارو کې بربنډه لاسوهنه پېژندل کېږي او د افغانانو لپاره د منلو وړ نهٔ ده.

ما ته د داؤود خبرې ټکي په ټکي په یاد دي چې وئې ویل: هېڅکله به تاسو ته اجازه در نهٔ کړو چې موږ ته دستور راکړئ چې خپل هېواد څرنګه اداره کړو او کوم کسان استخدام کړو. که لازمه سي زموږ هېواد به له اقتصادي اړخه نیستمن پاتې سي خو په خپلو کړووړو او پریکړو کې خپلواک او مستقل پاتې کېږي.[1]

په دې توګه د داؤود دا خوځښت له پرچمیانو سره رسمي پریکون وو: " د ملي غورځنګ د ګوند بنسټ ایښودل کېږي. پاتې نور سیاسي فعالیتونه دې د یو ګوندي نظام تر سیوري لاندې راسي، خلق او پرچم ړنګ یا منحل کېږي."

د هماغهٔ کال د دسمبر د میاشتې په لومړۍ اونۍ کې کله چې داؤود د جمهوریت نوې کابینه جوړه کړه نیکلای پودګورني [2] د شوروي د عالي شورى د رئیسه هیأت صدر په چټکۍ او بیړې کابل ته راغۍ ترڅو د کرملین د مشرانو اندېښنې ورته څرګندې کړي.

له پرچمیانو څخه پرېکون او تهران ته لېوالتیا، د داؤود تصمیم، د افغانستان د کمونیستي غورځنګ په اړوند د شوروي په سیاست کې د ستر بدلون لامل سو. دغهٔ هېواد له ۱۹۷۶ز کال مخکې د خلق او پرچم تر منځ ورانوونکې چاودې ته چندان پاملرنه نهٔ درلوده. هغه مهال چې کابل د باندني سیاست په ډګر کې د مسکو لور ته لېوالتیا درلوده نو خلق او پرچم ته به ئې هدایت ورکاوهٔ چې د داؤود په ښې لاسو دریځونو دې غرض نهٔ لري.

سره له دې چې خلق او پرچم د شوروي شدید پلویان ول، خو د افغانستان په کورنیو قضایاوو کې – خلقیانو د پرچمیانو په پرتلې - له ولسي ضوابطو او دودونو سره موافق لا اصولي مارکسیست لیننستي لېر لید درلود. پر دې سربېره د خلق او پرچم تر منځ ایدیالوژیک اختلافات په ټولنیزې سرچینې کې هم پراتهٔ ول، ځکه اکثریتو پرچمیانو په ښارونو کې ژوند کاوهٔ چې ژبه ئې پارسي وه او د حاکمو طبقاتو په منځ کې ئې جرړه درلودله. له دې چې ډېریو پرچمیانو ددولت له نخبګانو سره کورني پیوندونه درلودل نو د "سلطنتي کمونیستانو" په نوم پېژندل کېدل. ان دا چې په اکثریت پښتنو پورې اړوند پرچمیانو به هم پارسي ویله او له فرهنګي اړخه ئې د قبیلوي ژوند له بېخ څخه واټن نیولی وو. دوی نهٔ یوازې دا چې په هېواد کې دننه د پښتنو د نفوذ او تسلط غوښتونکي ول بلکه د ]دیورند له کرښې[ هاخوا د له لاسه تللو ځمکو د بیا لاس ته راوړلو غوښتونکي هم ول.

---

1 -(The Fall of Afghanistan, Washinton 1988, pp. 174-179)

2 - Nicolai Podgorny

د افغانستان د کمونیستانو په داخلي تضادونو کې، سره له دې چې د خلق فرکسیون ډېر منظم او ښه سازمان سوی فرکسیون وو او ددولت په دستگاه او وسلوال ځواک کې ئې پیاوړي کدرونه درلودل، مسکو د چنگاښ د ۲۶ له کودتا وروسته د پرچم، داؤود پلوي فرکسیون ته په ښه سترگه کتل. د «ختیځ د مطالعاتو په بنسټ کې» د افغانستان د چارو نامتو متخصص یوري گنگوفسکي [1] وایي: KGB موندلي ول چې پرچمیان «ډېر منطقي او خبرو ته غوږ نیونکي خلک» دي. خلقیان ډېر افراطي او خپل سري خلک دي او هم د پیش بینۍ وړ خلک نهٔ دي.

د ۱۹۷۸ز کال له انقلاب مخکې او له هغهٔ وروسته د خلق او پرچم له تضادونو سره موازي د شوروي د دوه وو استخباراتي بنسټونو KGB او GRU تر منځ اختلافاتو د هغو پېښو جهت ورکولو کې مهمه ونډه ولوبوله چې پایله ئې د افغانستان په اشغال واوښتله.

KGB د کاغذ پر مخ د وسلوال ځواک په ټولو څانگو کې د کورني امنیت مسؤولیت پر غاړه درلود او د شوروي د حاکمیت په جوړښت کې ئې د مراتبو د سلسلې له اړخه د GRU په پرتلې ښهٔ دریځ درلود خو GRU عملاً د خپل بنسټ کورنی امنیت په خپله کنترول کاوهٔ او استازو ئې یوازې مرکزي کمیټې او د همدې بنسټ مشرانو ته مسؤولیت درلود.

GRU په افغانستان کې حق درلود چې د افغانستان د وسله وال ځواک په منځ کې د خپلو جاسوسانو پټه شبکه جوړه کړي حال دا چې KGB په عمده ډول د افغانستان د خلق ډیموکراتیک گوند له غیر نظامي مشرانو سره د اړیکو د ټینگولو مسؤولیت پر مخ بیوهٔ.

د عراق د کمونیست گوند ورځپاڼه "طریق الشعب" چې د افغانستان په چارو کې د مسکو ډېره واضح او څرگنده ویانده ژبه ده د ۱۹۷۶ز کال د جون د میاشتې په ۲۳ گڼې کې د «څانگړې بلنې» تر سرلیک لاندې د خلق او د پرچم د وحدت غوښتونکې سوه او داسې لیکي: "که نور محمد تره کی د پرچم له مشرانو سره د دوستۍ له لارې پرمخ لاړ سي نو نوموړی  به د واحد گوند مشر سي." دا د ۱۹۷۷ز کال د مې په میاشت کې د دوه وو فرکسیونونو د وحدت په لاره کې د شوروي د هیلو د ترسره کېدلو نښه وه.

د ۱۹۷۷ز کال د دوه وو فرکسیونونو د ادغام د پردې تر شا، د افغانستان کمونیستي غورځنگ په دریو ډلو وویشل سو: پرچم او له KGB سره ئې اړیکې، د GRU تر سیوري لاندې د "اردو انقلابي سازمان" او د امین پښتني – خلقي شکبې چې د «دوري او دوستي» د لارې په غوره کولو سره د شوروي له دواړو یادو سویو استخباراتي شبکو سره ئې اړیکې په سمه ساتلې.

[1] - Yuri Gankovsky

دري ژبې کارمل په کابل کې زېږېدلی دی او پلار ئې هغه پښتون پوځي جنرال وو چې په پښتو ئې خبرې نۀ کولې. ملي پاله پښتانۀ ادعا لري چې د کارمل مور په قوم تاجیکه وه. په کلي کې زیږېدلي امین په پښتو خبرې کولې او د پښتنو د ټولنې سیاسي او فرهنګي آرمانونو ته ئې ژور درناوی درلود. نوموړي د خپل دریځ د ټینګښت د بنسټ لپاره – په ځانګړې توګه په ۱۹۷۰ز لسیزه کې په وسلوال ځواک کې دننه – په فعاله توګه هڅه کوله. له همدې کبله، د وخت په تېرېدلو سره، د خلق فرکسیون د پرچم په پرتلې پیاوړې څېره درلودله.

کارمل تر ډېره پورې د ښې او خوږې وینا یو ویاند وو، امین په خپل جذاب او فعال شخصیت سره وکولای سول د وسلوال ځواک په منځ کې داسې لارویان او پلویان ځانته جذب کړي چې پوه او ځوانان ول. د امین د ټینګار پر بنسټ په یوۀ ګوند کې د دواړو فرکسیونونو د ادغام په توافق کې په وسلوال ځواک کې د هغوی پټ فعالیتونه ورګډ نۀ سول. سره له دې چې د واحد ګوند د مرکزي کمیټې په جوړښت کې خلق او پرچم پینځلس غړي درلودل، خو امین خپله وسلواله څانګه افشاء نۀ کړه.

د امین بې باکانه کړۀ وړۀ او دا حقیقت چې د متحده ایالاتو په مالي مرستو دوه ځله امریکا ته د لوړو تحصیلاتو لپاره تللی وو نوموړی ئې د GRU او KGB په سترګو کې مظنون ګرځولی وو. امین د کولمبیا په پوهنتون کې د څلور کلن تحصیل په لړ کې په ۱۹۶۳ز کال کې د افغانستان د محصلینو د اتحادیې رئیس سو. د رمپارتس [1] خپرونې ولیکل: «نوموړې اتحادیه د CIA تر پناه لاندنې له ۱۹۶۱ز کال را وروسته د «منځنځي ختیځ امریکایي دوستانو» [2] د بنسټ له خوا تمویلېږي» همدا دلیل وو چې امین له CIA سره د اړیکو په لرلو تورن سو. [3]

افغانستان ته له راستنېدلو وروسته امین د دارالمعلمینو رئیس سو. د زده کړو دغه بنسټ هم خپله اصلي پانګه په تیچرز کالج [4] پورې اړوند له یوې امریکایي پروژې څخه ترلاسه کوله.

امریکایي څېړونکي لویي دوپرې[5] چې په کابل کې ئې کار کاوۀ وایي چې د کولمبیا د مرستو پروژه په حقیقت کې د CIA د څو تنو کارمندانو د هویت پوښښ وو. نوموړی وایي چې: «امین هغوی ښۀ پېژندل. امریکایي پېسې به ئې خپل ښوونځي ته اخېستلې او د استعداد

1 - Ramparts

2 - American Friends of the Middle East

3 -"How the CIA Turns Foreign Students into Traitors," Ramparts 5, no. 10. (April 1967), p. 22. Sol Stern, "A Short Account of International Student Politics and The Cold War," Ramparts 7, no. 10 (Jan. 25, 1969), pp. 87-97

4 - Teachers College

5 - Louis Dupree

خاوند استادان به ئې د ]خلق[ کمونیست گوند ته په پټه جذبول. روسان به دغه کار څرنگه وارزوي؟» )له لیکوال سره خبرې اترې: واشنګټن/ د ۱۹۸۰ز کال د اپریل لسمه.(

له بلې خوا د پرچم د فرکسیون د پوځي برخې مسؤول میر اکبر خیبر په شوروي کې روزل سویو افسرانو ته په کتنې خپلې تشکیلاتي هڅې د "سازمان انقلابي اردو" تر نامهٔ لاندې چې د داؤود په کودتا کې ئې ونډه درلودله، پر مخ بیولې. د افغانستان د ډیموکراتیک گوند د بنسټ له ایښودلو وروسته دغه پټه ډله ظاهراً منحله سوې وه.

شوروي اهل خِبره کسانو – یوري گنکوفسکي، ولادیمیر باندیروفسکي، الکسندر موروزوف [1] راته وویل: "GRU د گوند د مرکزي کمیټې د دساتیرو په نهٔ پام کې نیولو سره له خیبر او نورو مسؤولینو څخه وغوښتل چې "سازمان انقلابي اردو" دې همداسې پټ او سرپوښلی وساتي. البته ددغې ډلې یو شمېر مخکښ غړي چې غیر پښتانهٔ افسران ول لکه د هوایي ځواک آمر ډگروال عبدالقادر د امین د اوامرو له منلو ډډه کوله.

د افغانستان د کمونیستانو د کنترول لپاره د GRU او KGB دوه دستګاوې له یوبل سره په سیالۍ کې وې، خو له هغو کارونو خبر نهٔ ول چې امین تر سره کول. ایگور موروزوف [2] چې له ۱۹۷۵ تر ۱۹۷۹ز کال پورې د KGB مرستیال وو د خبرو اترو په ترځ کې وویل: موږ نهٔ غوښتل په هغهٔ څهٔ چې موږ خبر یو، د GRU کارمندان دې خبر سي. هغوی خپل ایجنټان درلودل او موږ خپل جواسیس. )له لیکوال سره خبرې اترې: مسکو/ د ۱۹۹۳ز کال د مارچ څلورمه(

داؤود د بل هر دیکتاتور په شان ورځ تر بلې د انزوا په کړۍ کې کنگل کېدهٔ. د چارو په جزئیاتو کې، تر خپل لاس لاندې کسانو باندې له څون او څار پرته وفادارۍ باندې ټینگار، ډېري لوړ پوړي سلاکاران ئې له حکومت څخه بې زاره او تیښتې ته اړ کړي ول. سره له دې چې داؤود ساده ژوند درلود خو ددهٔ پر نیږدې ترینو همکارانو باندې د مالي او اداري تورونو لړۍ د رژیم پت او آبرو پر ځمکه غورځوله. سره له دې چې پربېمانه باندنۍ مرستې رارواني وې خو بیا هم د اقتصادي پراختیا لړۍ گوډه او ماته روانه وه، له ۲۰ ٪ پورته پولي پاړسوب د کارگرانو او بزگرانو پر اوږو یو بل دروند اقتصادي پیټی او فشار وو. د پوځي کارکوونکو د معاشاتو زیاتوالي او ملکي کارمندانو ته د سبسایډۍ [3] ورکړنگ په بازار کې د اجناسو د قیمت ثبات، مختل کاوهٔ. منځمهالو یا متوسط الحالو سوداگرو ]ملي متشبثینو[ پر حکومت باندې خپل اعتماد له لاسه ورکاوهٔ. د خصوصي پانگه اچونې جرړې مخ په وچېدو وې.

1 - Yuri Gankovsky, Vladimir Bondarevsky, Alexander Morozov-

2 - Igor Morozov

3 - Subsidy

د انتقادونو او نیووکو ددغو څپو په منځ کې د داؤود د قدرت ستنې د زړو پخوانیو محافظه کارانو په محدودې کړې او – د کورنیو او دفاع په وزارتونو کې – د افسرانو او پولیسو په کوچنۍ ډلې پورې چې په زړونو کې ئې له کمونیستانو او نورو منتدینو څخه د غچ اور بل وو رالنډې سوې وې. د کورنیو چارو وزیر قدیر نورستاني، د دفاع وزیر حیدر رسولي، مرستیال صدراعظم عبد الله د قدرت له بیلابیلو برخو څخه د ټولو کینې لاسو د بشپړو حذفولو په هڅه کې ول. (په کابل کې کودتا: په ربښتیا څه پېښ سول ؟) (د ایندیَن اکسپرس [1] ورځپاڼه، ډهلی/ د ۱۹۷۸ز کال د مې د میاشتې پینځلسمه)

دیپلوماتانو د ساواک، رابطة (العالم الاسلامي) او اخوان المسلمین د پرله پسې او ژور نفوذ په هکله برالا خبرې کولې. حزب اسلامي او نورو ځېل سویو بنسټ پالو تنظیمونو د ضیاء الحق د اسلام خپرونې د پالیسۍ تر سیوري لاندې یو ځل بیا په افغانستان کې سرونه پورته کړل.

د همداسې ګډوډۍ او بې نظمۍ په اړودوړ کې د پرچمیانو د [پوځي ځانګې] مسؤول خیبر خپل کور ته نېږدې ووژل سو او د کمونیستانو او د داؤود د نښتلو وروستنۍ صحنه ئې په نښه کړه.

قاتل ناپېژندل سوی پاتې سو. د داؤود یوهٔ تن ویاند رسماً حزب اسلامي تورن کړ. لوېي دوېرې په کابل کې وویل: قدیر نورستاني د خیبر حذفول په مستقیم یا غیر مستقیم ډول سره تنظیم کړي ول. هغهٔ په خپله خپلو دوستانو ته ویلي ول:« د کمونیستانو د محوه کولو وخت رارسېدلی دی، که ځنډ وکړو ډېر به پیاوړي سي.» قدیر یو «وفاداره میرغضب» وو او فکر ئې کاوهٔ چې دی په خپله د داؤود، په پرتلې د نورو په خیر او صلاح ښهٔ پوهیږي. هغهٔ اړینه نهٔ لیدله چې هر کار دې "رهبر" ته ووایي.[2]

غوث ټوله ګناه د امین پر غاړه وغورځوله او وېي ویل: «همدی وو چې د خیبر د قتل او د ببرک کارمل د ناکامه سؤ قصد د دواړو نقشو عمده سازمان ورکوونکی وو. خلقیانو د قدرت له غضبولو مخکې خپل راتلونکي سیالان تصفیه کول؛ کارمل هم [د ۱۹۷۹ز کال د دسمبر له میاشتې وروسته] امین د همدغهٔ جرم په تر سره کولو تورن کړ تر څو د خپل سیال مخ لا نور هم تور کړي.» [3]

خیبر چې د پرچم د نظامي برخې اصلي منتظم او مسؤول وو، له امین سره په سیالۍ کې وو. غالباً دواړو کوښښ کاوهٔ چې هماغه یو یا عین افسر ځانته جذب کړي او همدا خبره د دواړو تر منځ د شدیدو ټکرونو سرچینه ګرځېدلې وه، دا ټکرونه په ځانګړې توګه د خلق

[1] - Indian Express

[2] -(American Universities Field Staff Reports, 1979, Chapter II, p. 5)

[3] - (Ghaus A.Samad, The Fall of Afghanistan, pp. 194-195)

او پرچم د وحدت پر مهال د ګوند د نظامي برخې د رهبرۍ په ځرنګوالي باندې شدید کېدل. د افغانستان د بیلابیلو کمونیستي سرچینو پر بنسټ خیبر د زړهٔ له تله هڅه وکړه چې د خلق او پرچم نظامي برخې له یو بل سره یو ځای کړي. دغسې یوهٔ ګام په نظامي ډګر کې د امین ځرګند ګوندي دریځ راپیاوهٔ.

یو شمېر کسان په دې باور دي چې KGB د افغانستان د سیاسي چاپیریال د ګډوډولو لپاره د خیبر په وژلو کې لاس درلود. ددې نظرېي پلویان یو ډېر مهم واقعیت هېروي: د پرچم رهبران له ډېرو پخوا وختونو راهیسې په کابل کې د KGB اساسي غمي ول او دي. [1]

د خیبر د شهادت پایله د خلکو په بې ساري پاڅون واوښتله. د نوموړي له مړینې دوه ورځې وروسته پینځلس زره تنه غم ځپلي راووتل او د شعارونو په ورکولو سره ئې یو بې ساری ریکارډ ټینګ کړ. له امین پرته - تره کي او د ګوند نورو عمده مشرانو – د خیبر د جنازې د ګډونوالو په غونډې کې ویناوې وکړې. دداسې غبرګون د خطر د زنګ شور او زوږ داؤود اړ ایست چې د ګوند مشران ونیسي.

د اپریل د میاشتې د ۲۵ په شپې، تره کي، کارمل او د ګوند د سیاسي بیرو نور پینځهٔ تنه غړي چې د لاریون په ورځې ئې ویناوې کړې وې په دې تور زندانیان سول چې د اسلام د بدنامولو او د عامه نظم د اخلال او د تاوتریخوالي د پارولو هڅې ئې کړې وې.

د امین په نیول کېدلو کې تعلل او تقصیر د حکومت تأریخي تېروتنه وه. امین د ګوند د خلقي فرکسیون د نظامي څانګې د مسؤول په توګه د کمونیستي کودتا د طراح او څارونکي په توګه راڅرګند سو. هغه پلان چې څو اونۍ مخکې چمتو او د تره کي له پلوه تصویب سوی وو د وسلوالو او هوایي ځواکونو د عمدتاً ۲۲ تنو خلقي افسرانو وظایف په ډاګه کړي ول. د کودتا لپاره ټاکل سوې نېټه د ۱۹۷۸ز د آګست میاشت وه. خو د تره کي زنداني کېدل ددې لامل سول چې امین خپل اقدام له ټاکلې نېټې مخکې کړي. (تره کی او امین د کابل ټایمز د ورځپاڼې د ۱۹۷۸ز کال د مې د میاشتې په دریمې ګڼې کې او کارمل د کابل ټایمز د ورځپاڼې د ۱۹۸۰ز کال د جون د میاشتې د اتمې په ګڼې کې همغږي دي.)

ګنګوسې خپرې سوې وې چې د ګوند زنداني رهبران په راتلونکو اتهٔ څلویښت ساعتونو کې اعدامېږي. امین چې تر نیول کېدلو پورې ئې ۱۲ ساعته وخت درلود وکولی سول د کودتا د پلې کولو دستور له خپل کورڅخه په محرم ډول دباندې صادر کړي. ("د ثور انقلاب" رساله، د افغانستان د وسلوال ځواک سیاسي دفتر: ۱۹۷۹ز کال د مې د میاشتې ۲۲)

[1] - Alvin Rubinstein: Soviet Policy toward Turkey, Iran and Afghanistan/ New York: Praeger, 1982, p. 151

د KGB مرستیال موروزوف [1] وايي: ]په افغانستان کې[ د GRU یوۀ جاسوس شورویانو ته د کودتا د پلان راپور ورکړی وو. په دې توګه، مسکو پوهېدۀ او په ټینګه ئې مخالفت شودۀ چې داسې کار دې ونۀ سي، خو KGB ونۀ سوای کولی دا خبره کشف کړي چې امین د اپریل د میاشتې د ۲۵ نېټې د شپې په نهو یا لسو بجو د کودتا د ترسره کولو دستور ورکړی وو. " ورپسې خبر سول چې امین د یوۀ دستور په لړ کې خپلو افرادو ته ویلي ول: روسان نۀ باید زموږ له پاخون څخه خبر سي." آیا امین له دې ډارېدۀ چې موږ به مداخله وکړو؟ )له لیکوال سره خبرې اترې: د ۱۹۹۳ز کال د اپریل څلورمه(

موروزوف زیاته کړه: له نیمې شپې وروسته د شوروي د باندنیو چارو له وزارت او د KGB له مرکزي دفتر څخه پیامونه راورسېدل. په دغو پیامونو کې ان په یوۀ پیام کې موږ ته نۀ ویل سوي چې د "امین ماجرا" متوقفه کړو.

د کودتاچیانو له منځه یوۀ تن چې د امین په پرتلې د شوروي کمونیست ګوند ته ډېر وفادار وو دغه راز زموږ غوږونو ته راورساوۀ. موږ کولای سول داؤود ته د کودتا پلان افشاء کړو خو نۀ مسکو او نۀ د شوري سفارت غوښتل چې د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند ته خیانت وکړي.[2]

د هوايي ځواکونو رئیس پارسي ژبی ډګروال قادر چې له پرچمیانو سره ئې ټینګې اړیکې نۀ درلودل په شوروي کې روزل سوی او د GRU د مرستې تر سیوري لاندې د نظامي سازمان له مشرانو څخه وو. نوموړي د ۱۹۷۳ز کال د جولای د میاشتې د کودتا په بریالیتوب کې له مرستې کولو وروسته د داؤود پر ضد دریځ ونیوۀ.

امین په قادر اعتماد نۀ درلود، خو د غوايي د کودتا د بریالیتوب لپاره اړ سوی وو چې نوموړي ته د اساسي ونډې د لوبولو دنده وسپاري ترڅو په کودتا کې د هوايي ځواک له ګډون څخه ډاډه اوسي. نقشه داسې وه: قادر دې د سهار په نهو بجو د بګرام د هوايي ډګر د مرکزي مقر بولندويي یوۀ خلقي افسر ته وسپاري او په خپله دې د هلیکوپټر الوتکې په وسیلې د کابل هوايي ډګر ته راسي او پر ارګ دې هوايي برید وکړي. قادر دا دستور قبول نۀ کړ او ځان ئې د دفتر په منځ کې قید کړ. د قادر مخالف خلقیان وايي چې قادر په تردید او په دوه وو کې بند وو او له دې چې نۀ ئې غوښتل له کودتا څخه ملاتړ وکړي د خپل دفتر دروازه ئې له دننه بنده کړې وه. د قادر موافقین بیا وايي چې: د داؤود پلویانو نوموړی په خپلې کوټې کې زنداني کړی وو.

[1] - Morozov

[2] -(Our Man in Kabul," September 24, 1991, p. 38)

د هند د سفارت نظامي اتشه مدهو سمیران [1] چې د افغانستان له هوايي ځواک سره ئې پراخې اړیکې درلودلې بل نظر لري: د هوايي ځواک لوړ پوړي افسران په دې باور دي چې قادر د امین نقشه په پټه GRU ته سپارلې وه. قادر ته د GRU له پلوه په ځواب کې دستور ورکړل سو چې په کودتا کې دې ونډه نهٔ اخلي. (له لیکوال سره خبرې اترې: د ۱۹۷۸ز کال آګست، کابل) سمیران زیاته کړه: د ۱۹۷۸ز کال په لومړیو کې د شوروي ۳۵۰ تنو سلاکارانو او تکنیشنانو په کابل کې کار کاوهٔ. ددغو سلاکارانو ډېریو ئې د کابل او بګرام په دوه وو هوايي ډګرونو کې د ځمکنیو عملیاتو او هوايي "انداختونو" په کنترول کې همکاري کوله. د اپریل د میاشتې د ۲۷ نېټې د هوايي عملیاتو تر سره کول د هوايي ځواک لپاره د شوروي تکنیشنانو له مرستې پرته ډېرګران کار وو. قادر د شوروي سلاکارانو د رسمي اجازې تر لاسته راوړلو پورې له کودتاچیانو سره د یو ځای کېدلو په لاره کې وخت تلفي کوله. په پای کې د مسکو له پلوه شین چراغ ورته روښانه سو. د امریکا د سفارت مقامات وايي چې د ماسپین په هماغو لومړیو ساعتونو کې شوروي کارمندانو د کابل د هوايي ډګر د نظامي برخې کنترول په لاس کې واخیست او په بګرام کې ئې د ځمکنیو عملیاتو له لرې سره هم همکاري وکړله.

د پوځي انقلابي شورى د رهبرۍ له خوا د کودتا په بریالیتوب کې لوړ پوړی افسر قادر او محمد اسلم چې له خلقیانو سره ئې خفیفې اړیکې درلودلې د هغهٔ په ملاتړ مطرح سو. دوی دواړه چې د ۱۹۷۳ز کال د جولای د میاشتې د کودتا اتلان ول دا دی اوس ځانونه د ملت د ژغورونکو په هینداره کې ویني او د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند د موازینو د منلو هوا ئې په سر کې نهٔ ګرځي او نهٔ غواړي د امین تر لاس لاندې واوسېږي.

د اپریل د میاشتې د ۲۷ نېټې په بیانیې کې د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند له نوم څخه یادونه ونهٔ سوه. د تاس Tass خبري آژانس تر دریو ورځو پورې د نوموړي ګوند یادونه ونهٔ کړه او د رژیم بدلون ئې د «پوځي کودتا» پایله وبالهٔ.

شوروي مشران نهٔ پوهېدل څه وکړي. د هغو لاسوندونو له مخې چې د شوروي څو سرچینو زما مخې ته کښېښودل په ډاګه کېږي چې GRU په هماغو لومړیو کې قادر هڅولی وو چې خپله «نظامي شورا» جوړه کړي خو د شوروي د کمونیست ګوند د مرکزي کمیټې دستور چې د KGB دستور ئې څرګنداوهٔ د پراخ بنسټه رژیم له رامنځته کېدلو څخه ئې ملاتړ اعلان کړ. (په شوروي سرچینو کې مهمترینه سرې وادیم زګلادین [2] وو چې د شوروي د کمونیست ګوند په مرکزي کمیټې کې د نړۍ والې پراختیا د دیپارتمنت د مشر مرستیال وو.)

---

[1] - Madhu Sameyran

[2] - Vadim Zagladin

شلندرا کمار سینګه [1] د کارمل له خولې لیکي: په KBG کې د کارمل د اړیکو تر ټولو لوړ مقام ویلیوز اوسادچي [2] ورځخه غوښتي ول چې د غیر کمونیستو افرادو په مشرۍ دې د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند په ګډونوالۍ د یوۀ ائتلافي حکومت د جوړولو لپاره کار وکړي. اوسادچي د اخطار په ورکولو سره ویلي ول چې کمونیست رژیم د محافظه کارانو شدید مخالفت راپاروي او دا ګوند د مستقلانه حاکمیت د پر مخ بیولو توان نۀ لري. (له لیکوال سره خبرې اترې: کابل: د ۱۹۷۸ز کال د اګست د میاشتې څوارلسمه.)

د KGB د ادارې لوړ پوړی مقام ولادیمیر خرچکوف [3] کابل ته راغی او د حکومت په جوړښت کې ئې د خلق او پرچم د استازو د انډول په برابرۍ ټینګار وکړ. د اپریل د میاشتې په ۳۰ نېټې انقلابي نظامي شوری خپل ځای د افغانستان د ډیموکراتیک جمهوریت انقلابي نظامي شوری ته وسپارۀ. شوروي رسنیو له دوه وو اونیو وروسته د «نظامي کودتا» پر ځای د " د ۱۹۷۸ز کال د ثور/ اپریل انقلاب" یاداوۀ. [4]

## زه په پاکستان کې د خیبر کوربه وم

جمعه خان صوفي

**پېښور/** پاکستان: په بچلر هاستل [5] (د محصلینو په لیلې) کې وم. د پاکستان د کمونیست ګوند منشي امام علي نازش راغی. هغۀ غوښتل چې موږ د پرچم له فرکسیون سره اړیکې ټینګې کړو. هغه مهال د مزدور کِسان پارټۍ [د پاکستان / د کارګرانو او بزګرانو ګوند] د خلق له فرکسیون سره اړیکې لرل. هغوی د عوامي/ ملي جمهوریت پلویان ول او موږ د قومي جمهورۍ پلویان وو. له دې مخکې ما او اجمل له پرچم سره چې په افغانستان کې ئې له باچاخان (عبدالغفار خان) او په پاکستان کې ئې له نشنل عوامي پارټي [6] ځخه ملاتړ کاوۀ، اړیکې لرل.

ما ته ګوند دنده وسپارله چې کابل ته لاړ سم او د پرچم له مشرانو سره وګورم او هغوی ته د اجمل خټک لیک وسپارم. هوا ډېره سړه وه. د کمیس او پرتوګ په ساده جامو کې چې خولۍ مې پر سر او پټو مې پر اوږو وو د ملک نادر خان د اکا له زوی دوست محمد سره د کابل پر لور وخوځېدلم. په قبائيلي جامو کې چې پیښورۍ څپلۍ مې په پښو وې

[1] - Shilendra Kumar Singh

[2] - Vilioz Osadchy

[3] - Vladimir Khrychkov

[4] - Out of Afghanistan: The Inside Story of the Soviet Withdrawal (pp. 17-29) Diego Cordovez and Selig S. Harrison: Oxford University Press, 1995

[5] - Bachelor Hostel

[6] - National Awami Party (NAP)

لاره ووهله او په «کارتۀ سه» کې د نادر خان کورته ورغلم. ملک نادر خان د ژمي د ساړۀ فصل د تېرولو لپاره جلال آباد ته تللی وو. له دوست محمد څخه په یوې پلمې جلا سوم او د «کارتۀ پروان» په سیمې کې د نجیب الله کور ته ورغلم. په خواشینۍ چې نجیب الله مې هم ونۀ موند. نوموړی په مکروریانو کې د پرچم دفتر ته تللی وو. د پرچم د دفتر پته مې نۀ درلوده. د تقدیر د توکل په ویلو سره مې د مکروریانو لاره ونیوله.

څېلۍ مې په پښو وې او لالهانده ګرځېدم. میر اکبر خیبر مې مخې ته راغی. له هغۀ سره د پرچم دفتر ته لاړم. ببرک کارمل، اناهیتا راتب زاد او ښاغي نور احمد نور دلته حضور درلود. د اجمل ختک لیک مې وروسپارۀ. لیک ئې ولوست او زښت ډېر خوښ سول. له ما سره ئې له مهربانۍ ډک چلند درلود. له دې لیدنې وروسته بېرته د نادر خان کور ته ستون سوم او د پلمې په راوړلو مې وویل: له هغۀ چا سره مې چې باید لیدلي وای، ونۀ سول، بېرته پاکستان ته ځم.

په هماغه ورځ د جلال آباد پر لور وخوځېدم. شپه مې د نادر خان په کور کې تېره کړه. په سبا ئې له تورخمه واوښتم. دوست محمد خپل کور ته لاړ اوزه د یونیورسیټي ټاون [1] پر لور وخوځېدم.

له دغۀ مهم سفر دوه میاشتې وروسته خیبر او د میراجان سیال کوداخیل دوه وریرونه چې سلیم او سرفراز نومېدل او پرچیمان ول، د مومندو له لارې په پېښور کې زما کور ته راغلل. د خیبر راتګ زما پر اوږو ستر مسؤولیت کښېښود. د هغۀ مخفي ساتل ګران کار وو. د هغۀ افشاء کېدل زموږ د ګوند لپاره د شرم او زما لپاره د پښېمانۍ لامل کېدای سوای.

زما خونې (بیټک) ته زموږ د خپل کلي بیلابیل کسان، زموږ دوستان، کیڼ اړخي او نابلل سوي میلمانۀ راتلل. بل خوندي او مصؤون ځای نۀ وو. ما نۀ سوای کولای په ډاکټر نذیر چې هغۀ مهال زموږ مالي مسؤول وو اعتماد وکړم. مجبور وم چې د مشرانو تر خبریدلو او د حل د لارې تر موندلو پورې دی له ځان سره په قید کې وساتم او پرېږدم چې خپله پښه دباندې کښېږدي.

که College ته یا د کوم ضرور کار لپاره دباندې تلم نو خیبر به مې په خونه کې پرېښود او دروازه به مې له دباندې «تاله» یعنی قفل کړه. که موږ دواړه په خونې کې وو بیا به مې هم دروازه له دباندې قفل کړه چې څوک پوه نۀ سي چې موږ دلته یو. څو ورځې مو همداسې په احتیاط تېرې کړې، خیبر صاحب ته به مې کتابونه او ورځپاڼې

[1] - Univertisy Town

راوړلې. هغهٔ، راډیو هم اورېدله. دوه ځله د هوا په تیارهٔ کښې ‌دلو سره د پلې تګ لپاره تر اسلامیه کالج [1] او تر یونیورسټي ټاون پورې پلې لاړو.

هغه مهال پاکستان په دوه وو برخو ویشل سوی وو او بوټو واک په لاس کې اخیستی وو او په «صوبه سرحد» کې ښايي د نشنل عوامي پارټۍ NAP او جمعیت ګډ حکومت نهٔ وو ټینګ سوی. [د ۱۹۷۲ز کال د فبرورۍ یا مارچ میاشت]

یوه ورځ امام علي نازش زما لیدلو ته راغی. د هغهٔ له راتګ مخکې، خیبر د ډاکټر نذیر کور ته لېږدول سوی وو. هلته اجمل خټک، خیبر او نورو کسانو مهمې غونډې درلودلې. له دې چې زه د یونیورسټي «پوهنتون» کارمند وم نو خیبر مې «سید مختار پاچه» ته وسپارهٔ او اوړې مې د مسؤولیت له دروند پیټي څخه سپکې سوې. نوموړي څو ورځې په پېښور کې د سلیم او سرفراز د خپلوانو په کور کې تېرې کړلې. «مختار پاچه» خیبر سوات کې د فتح محمد کور ته بوت. خیبر له څو ورځو تفریح او له کمونیستو ملګرو سره له کتنو وروسته د مهمندو ایجنسۍ د کودا خیلو له لارې بېرته افغانستان ته د ستنېدلو لاره ونیوله.

اوس په دې فکر کې یم چې په دولسم آپارتمان کې د خیبر د استوګن کېدلو په پار باید هماغه لیلیه د خیبر د نوم په درناوي، د خیبر په نوم ونومول سي. زه هیله مند یم چې د پوهنتون اداره له ما سره همغږې سي چې د هغهٔ په یاد یوهٔ لوحه نصب سي.

د خیبر له وژل کېدلو وروسته، لومړی په افغانستان او بیا په پاکستان کې وینه بهېدنه او ورانکارۍ پیل سوې او دا دی د دریو لسیزو په تېرېدلو سره سره بیا هم بس کېدل نهٔ لري. خیبر یو دانشمند، پوه او بې ساری سیاستوال وو. خیبر فکر کاوهٔ چې په هره بیعه چې وي باید د داؤود ملاتړ دې وسي. د هغهٔ په خبره د داؤود پر وړاندې د پاڅون دسیسه ستر خیانت او لویه جفا ګڼل کېږي.

خیبر د ګوند په پوځي برخې کې یو برجسته مسؤول وو. د خیبر دا خبره چې په ۱۹۷۳ز کال کې ئې زما د یوې پوښتنې په ځواب کې وکړه لا تر اوسه زما په یاد ده: د داؤود (د رژیم – ژ) نسکورول موږ ته د څو ساعتو خبره ده خو د همداسې یوهٔ ګام اوچتول به د افغانستان د ولسونو په حق کې ستر خیانت وي ځکه چې عام افغان وګړي له موږ سره نهٔ دي.) د هغهٔ وړاندې ویینه څومره سمه ثابته سوه. ("ناپایه دوکه"، لاهور / پاکستان، ۲۰۱۵ز کال، له ۹۵ تر ۹۶ پاڼو پورې.)[2]

---

[1] - Islamia College

[2] - دغه کتاب د ۲۰۱۰ز کال د مارچ په میاشت کې په پښتو لیکل سوی وو چې د ۲۰۱۳ز کال د اکتوبر په میاشت کې له نورو ضمایمو سره د ډاکټر تاج الدین عصمت له پلوه اردو ته وژباړل سو. سیاسنګ

**"د اردو انقلابي سازمان"**

(په افغانستان کې په څو نومونو د GRU پټه څانګه؟)

۱. جنرال عبدالقادر: (خاطرات سیاسي: له ډاکټر پرویز آرزو سره مرکه: ۲۰۱۴ز کال)

هغه مهال (۱۹۵۹ یا ۱۹۶۰) ما خپل سیاسي فعالیتونه پیل کړي ول. له هماغه مې ځایه له زغره والو ځواکونو سره سیاسي کار پیل سو. /.../ مور په هوايي ځواکونو کې څلور پينځۀ تنه وو او نظریات مو یو بل ته نېږدې ول. مور به ناستې درلودلې او خبرې اترې به مو کولې. ددغو خبرو اترو پایله په هوايي ځواکونو کې د یوې هستې په تشکل او د " سازمان جوانان انقلابي اردو" په رامنځته کېدلو واوښتله. ما د هغوی مشري کوله. کله نا کله به مو د څلورم زغره وال ځواک له صاحب منصبانو سره خبرې کولې. په لومړیو کې زمور د ناستو موخه د افغانستان په هکله عمومي خبرې وې. له پنجشیر څخه اکبر، له جنوبي څخه خان محمد، له جبل السراج څخه یعقوب او له فراه څخه اکرم لومړني کسان ول چې له یو بل سره به مو ناسته پاڅه او خبرې اترې کولې. /..../ زمور شمېر کرار کرار اویا اتیا تنو ته لوړ سو. زمور فعالیتونو جدي بڼه غوره کړې وه. مور د خپل د سازمان نوم "سازمان جوانان انقلابي اردو" کښېښود. هڅه مو پیل کړه چې ځانته یو پېژندل سوی او سیاسي مشر ومومو. (۵۶ او ۵۷ پاڼې.)

دغوایي له اومې لړ موده مخکې عبدالحمید محتاط زموږ په منځ کې چاوده جوړله کړله. هغهٔ غوښتل د بگرام د ډلي مشرتوب په غاړه واخلي. اکبر او یعقوب له محتاط سره لاړل. د غوایي له اوومې وروسته، اکبر راته راغی. هغهٔ ته مې وویل چې: تا خپل ځان ته خیانت وکړ. اکبر وویل: اوس څه وکړم. ما ورته وویل: اوس لاړ سه او په خپل کور کې پاتې سه. تر هغو مې چې تا ته خبر نهٔ وي درکړی له کالهٔ دباندې مهٔ وځه. اکبر له یعقوب او نورو پینځو تنو سره د کندز او بدخشان پر لور لاړل. د حفیظ الله امین ورور په هغه سمت کې د امین استازی او د کندز والي سوی وو. نوموړي هاغه اووهٔ تنه ووژل. (۵۹ پاڼه)

د سیاسي مشر په لټه کې وو. ما د «سازمان جوانان انقلابي اردو» مشري کوله. زموږ شمېر لږ وو. دا راز زموږ په منځ کې پټ وو. زموږ پلان دا وو چې هرهغه څوک که جذب کوو نو هماغه سړی باید د خپلو هم مسلکانو په منځ کې کار وکړي. د بېلگې په توگه که کوم انجنیر له موږ سره یو ځای کېدهٔ زموږ هیله دا وه چې همدا انجنیر دې د نورو هغو انجنیرانو په منځ کې کار وکړي چې نوي له شوروي څخه راستانهٔ سوي او وگوري چې هغوی په کومې عقیدې دي. شپیته تنه انجنیران له شوروي څخه راستانهٔ سوي ول او موږ په دې باور وو چې شپیته واړه به له موږ سره یو ځای سي. یوازیني کس ته چې موږ خپل رازونه ویل عبدالحمید محتاط وو. محتاط او پاچاگل وفادار د هوایي ځواکونو افسران ول. محتاط د پاچاگل وفادار له لارې له داؤود سره اړیکه درلودله. (۶۶ پاڼه)

په لومړۍ غونډه کې مخکې له دې چې دسترخوان وغوړېږي او موږ ته ډوډۍ راوړل سي ما خبرې پیل کړې او ومې ویل: ښاغلی کارمل: موږ پوځیان په سیاست کې وارد نهٔ یو او نهٔ پوهېږو. تاسو د گوند د بنسټ ایښودلو له هماغو لومړیو څخه چې په خپلو ویناوو کې ئې د «خلق» په نوم یادوئ له بلې څانگې سره متحد واست. اوس خپل ځان جلا او هغه جلا بولئ. ظاهراً داسې ښکاري چې ستاسو آرمانونه یو دي. هم تاسو په شوروي او سوسیالیستي نظام باور لرئ او هم هغوی شوروي خپله بېلگه بولي. کوم هغه علت دی چې تاسو ئې له یو بل څخه جلا کړي یاست؟ موږ پوځیان نهٔ پوهېږو چې تاسو ښهٔ یاست که هغوی. موږ باید له تاسو سره مخامخ او مستقیمې خبرې وکړو او له تاسو باید واورو. کارمل وویل: " ښاغلی افسر! زموږ په منځ کې د تخنیکي مسایلو په اړوند یو کوچنی اختلاف سته. زموږ عقیده یوه او لوری مو یو دی." (۱۳۵ پاڼه)

د کارمل په هکله زما جاج له هماغه لومړۍ ورځې تر نن پورې کوم بدلون ونهٔ کړ. کارمل یوازې د شعار سړی وو. کارمل شورویان هم وغولول. عملاً هېڅ کار ئې نهٔ کاوهٔ. کله چې یو څوک په یوې خبرې اعتقاد ولري او شعار ورکوي نو د خپلو نظریاتو او شعارونو د پلي کولو لپاره باید هڅه وکړي. کارمل دغه وړتیا نهٔ درلوده او یوازې خپل نقش ئې لوباوهٔ./.../ کارمل په بشپړ ډول له ټولني بې خبره وو. نوموړي د افغانستان ټولنه یوازې د کابل په محدوده کې لیدله. که د ټولنیز تأریخ په هکله ئې کومه مطالعه

درلودله یوازې د تیوري په کچه وه. د عملي تطبیق ورتیا ئې نهٔ درلودله. ځان خوښی او ځوکۍ پال وو. هغه سمپاتیاني چې ورسره موجودې وې ټول ئې تصنعي وې. هغو کسانو چې له کارمل سره ئې سمپاتي درلودله یا دا ده چې کارمل ئې نهٔ پېژاندهٔ او یا په خپله د کارمل په شان ول. کارمل داسې سیاسي کړنلاره او سیاست نهٔ درلود چې وکولای سي ګوند رهبري کړي. ښایي کوم شی به ئې د زړهٔ له تله درلودل خو په عمل کې ئې څه نهٔ درلودل. بیا ئې تکراروم چې: هرڅوک باید د خپل فکر د پلي کولو لپاره هڅه وکړي. کارمل غوښتل ددهٔ تیوري د نورو له پلوه پلي سي خو ویاړ ئې دهٔ ته ورسېږي. هڅه ئې کوله هر هغه څه چې دی وایي یا ئې هیله لري باید د نورو په وسیلې په عمل کې پلي سي خو ددهٔ په نوم دې تر سره سي. (له ۱۳۷ تر ۱۳۹ پاڼو پورې)

له تره کي مې وپوښتل: کوم هغه شي دي چې تاسو ئې له یو بله جلا کړي یاست؟ مسکو خو ستاسو دواړو رهبر دی او تاسو دواړه په مارکسیزم او لیننیزم اعتقاد لرئ. په لومړیو کې یو واحد ګوند واست، اوس ولې له یو بله جلا یاست؟ تره کي هم کټ مټ د کارمل خبره وکړه. «موږ هم- عقیده وو او یو، خو یو شمېر مسایلو موږ له یو بله جلا کړي یو.» (۱۴۳ پاڼه)

زموږ او د تره کي، امین او کارمل تر منځ توپیر په شرایطو کې زموږ د نظر پراختیا وه. زموږ د روښ اندی عقربه کله لوېدیځ کله ختیځ لور ته تلله. له همدې کبله ول چې موږ ښایي د ټولو شوروي ځواکونو تر پاملرنې لاندې وو. خو موږ تر ډېره د دفاع له وزارت سره اړیکي لرل. ځکه چې زموږ سلاکاران یا مشاورین له هماغهٔ وزارت څخه ول.

هماغسې چې څو ځله مې ویلي دي په شوروي کې د ځواک دوه وو څانګو د افغانستان له مسایلو سره سرو کار درلود. د شوروي د کمونیست ګوند مرکزي کمیټې او KGB له پرچمیانو سره اړیکه لرله او د کورنیو چارو وزارت له خلقیانو سره اړیکه لرله. KGB د کورنیو چارو په وزارت کې د لاسوهنې صلاحیت نهٔ درلود. او زه، **که کومه مسئله به وه**، د دفاع د وزارت تر کنترول لاندې وم.» (۲۰۸ پاڼه)

## ۲. ولادیمیر سنیګرییف او والري سامونی [1]

قادر یو آرماني جنګیالی نهٔ وو. قادر، له تره کي او کارمل څخه چې خپل ژوند ئې له ځوانۍ څخه سیاست ته وقف کړی وو توپیر درلود او په بلې لارې روان وو. نوموړی په شوروي اتحاد کې له یو شمېر نورو افغان افسرانو سره د پیلوټۍ د زده کړو لپاره منل سوی وو. هېواد ته د راستنېدلو پر مهال په وسلوال ځواک کې د هم – فکرو افسرانو په منځ کې د «سازمان جوانان انقلابي اردو» جوړ سوی وو: دغهٔ سازمان په ۱۹۶۳ز کال کې د جوړېدلو له هماغې لومړۍ شیبې څخه د ۷ تنو هم- سطحو غړو په لرلو سره

---

[1] - Vladimir Snegirev & Valery Samunian

– رهبر نهٔ درلود. دې ډلې کومه کړنلاره، مرام لیک او غړیتوب نهٔ درلود. د سازمان غړو د ټولنیز ښهٔ والي د لارو چارو او عصري کولو په هکله اوږدې خبرې او بحثونه درلودل او له وروسته پاتې والي څخه د افغانستان د راایستلو په هکله ئې فکر کاوهٔ.

دغهٔ سازمان د خپل بنسټ له ایښودلو څو کاله وروسته د خلق او پرچم له فرکسیونونو څخه خبر سو خو په دې پوه نهٔ سول: هغه کوم شیان دي چې دوی له یو بل څخه لیرې ساتي. د افغانستان د خلق ډیموکراتیک گوند پاکیزه او مترقي موخو، د «سازمان انقلابي جوانان اردو» له موخو سره سمون درلود؛ خو خلقیان او پرچمیان د یو بل نهٔ پخلا کیدونکي دښمنان ول.

د قادر ملگرو، قادر ولیږهٔ چې پوه سي د «خلقیانو او پرچمیانو تر منځ» د شخړې او مخالفت جرړه چیرې ده.  د پرچم غړو لویه میلمستیا جوړه کړله. په ورین تندي ئې ورته شراب او کباب راوړل او وئې غوښتل چې افسران باید د گوند له مقاماتو سره یو ځای سي. قادر وپوښتل: ولې له یوبل سره جگړه کوئ؟ کارمل په ځواب کې وویل: دا یوه تخنیکي مسئله ده او د وخت په تیریدلو سره به دا وریځې کښیني. قادر وویل:نو چې داسې ده موږ به سترگې پر لار کښیږنو ترڅو تاسو له یو بل سره یو ځای سئ

قادر چې خاصتاً ښهٔ تعلیمات ئې نهٔ ول لیدلي، طبیعتاً یو ځیرک محرک، پوه او له سیاسي اړخه محتاط وو. قادر به معمولاً خپلې موخې په صبر او حوصلې تر لاسه کولې.  هغه مهال چې «سازمان جوانان انقلابي اردو» له ۱۰۰ تنو څخه زیات غړي درلودل د داؤود یو وفادار استازی قادر ته راغی او ورته ئې وویل چې داؤود غواړي له تاسو سره وویني. هغه مهال په افغانستان کې د مطلقه سلطنت د پرځولو فکر پوخوالي ته رسیدلی وو خو یوه زښته ډیره مهمه نیمگړتیا ئې درلودله: د وسله وال ځواک ملاتړ.  د قادر نظامي وجهه هغه عامل وو چې قادر او سازمان ئې د عمل ډگر ته را وایستل. دغهٔ پیلوټ په لومړیو کې د داؤود د ملاتړ په لارو چارو کې احتیاط کاوهٔ. کله چې قادر ته قناعت ورکړ سو چې د سلطنت پرځول به د سوسیالیزم راتگ ته لاره پرانیزي قادر ډیر ژر هیله مند سو او خپلو ملگرو ته ئې د داؤود د پلان په ارزښت قناعت ورکړ. [1]

## ۳. الکسندر لیاخوفسکي [2]

د افغانستان د خلق له ډیموکراتیک گوند سره اوږه په اوږه د ډگروال عبدالقادر په مشرۍ د «جبههٔ کمونیست های افغانستان» په نوم یو پټ او مستقل سازمان جوړ سو. دغهٔ سازمان د وسله وال ځواک له افسرانو سره د کار وبار په هکله بنسټیزه ونډه

[1] - Virus A, New York Press, October 2012, pp. 36- 38

[2] - Alexander Lyakhovsky

درلودله او د همدغهٔ سازمان غړو د افغانستان د پادشاه په پرځولو کې مهمه ونډه ولوبوله. («طوفان در افغانستان/ په افغانستان کې توفان»[1] لومړی ټوک: ۴۴ پاڼه/ دري ژباړه: عزیز آریان فر/ ۱۹۹۸)

**۴. عبدالصمد ازهر:** د ۱۳۴۳ز کال د وږي د میاشتې په ۲۶ نېټې [د ۱۹۶۴ز کال د سپټمبر په اتلسمې] د یوې بدلون / تحول غوښتونکې کړۍ له پلوه چې له ډېرو وختونو را په دېخوا له بد او نامناسب حالت څخه د هېواد او د ولس د را ایستلو په لټه کې وه د «سازمان دیموکراتیک انقلابي اردو» په نوم یو پټ سازمان جوړ کړ. دغه کړۍ له دغو کسانو څخه جوړه وه: د هوايي ځواک یو افسر (محمد عالم وصال)، د ځمکنیو ځواکونو درې تنه افسران (ذبیح الله زیارمل، عبداللطیف انصاف او عزیزالرحمن) د پولیسو دوه تنه افسران (مهرالحق قطره او عبدالصمد ازهر). په هماغه غونډه کې په عمومي اهدافو او تشکیلاتي اصولو باندې موافقه وسوه او د رأیو په اتفاق سره ازهر او زیارمل د رئیس او مرستیال په توګه وټاکل سول او د مشرتابهٔ له خطره ډک مسؤولیت ئې په اوږو کښېښودل سو.

نوموړو کسانو په شوروي اتحاد کې تحصیل نهٔ وو کړی او د KGB او GRU او دغو ته ورته د نورو له نفوذ او اغېزو څخه پاک ول. درې کاله وروسته انصاف او عزیز له دې کړۍ څخه د اسرارو د ساتلو په هوډ ځکه واتېن ونیوهٔ چې په پوځي ډګر کې ئې دنده پرېښوده او ملکي ژوند ئې غوره کړ. وصال په ۱۹۷۸ز کال کې چې په هوايي او مدافعهٔ هوايي ځواک کې ئې ستر او له ثمره ډک کارونه تر سره کړي ول د جګړنۍ په رتبې، او قطره چې په ژوند کې ئې په ویاړ سره مبارزه کړې وه په ۱۹۹۳ز کال کې د زړهٔ د ناروغۍ له کبله وفات سول. عبدالقادر ددغهٔ سازمان غړی نهٔ وو او هېڅکله ئې کومه اړیکه ورسره نهٔ درلوده.

له څو مودې وروسته د «ډیموکراتیک» کلمه په دې دلیل حذف سوه چې په پوځي مخفي سازمان کې نامناسبه کلمه وه او هم ددې لپاره چې له نورو سازمانونو څخه د «اسمي تشابهٔ» په پار له «سؤ تفاهماتو» څخه ډډه سوې وي د «سازمان انقلابي اردو» نوم ورته غوره سو.

د سازمان د مخفي خصلت پر بنسټ نهٔ صفوفو یو بل سره پېژندل او نهٔ ټولنه د هغوی له شتون او مبارزې څخه خبره وه. د هر ډول استخباراتي «سؤ ظن» پایله د غړو د ځان په قیمت او یا د سازمان په نابودۍ اوښتله. کېدای سوای فردي قسمي او یا کلي نابودي په دې ډول رامنځته سي چې نابود کېدونکي، نوم ورکي پاتې سي او په ټولنې او تأریخ کې د فردي یا جمعي ویاړ له ګټلو پرته سرونه بایلوي. هغوی نهٔ په لاریونونو کې

---

[1] - Storm in Afghanistan, Alexander Lyakhovskiy

ګډون کولی سوای او نهٔ په ټاکنو او نهٔ د جمعي ارتباط په وسایلو کې ئې برخه اخیستلی سوای. له همدې کبله د «به پیش در راه مبارزهٔ گمنام و قهرمانانه/ مخ پر ړواندې د نوم ورکې او اتلوالې مبارزې پر لور» مشهور شعار د سازمان کاري سمبول او د سازمان د غړو یار وو.

«سازمان انقلابي اردو» وروسته د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند د جوړښت ځنګیز جوړښت ومانهٔ. د مخفي پاټي کېدلو د جدیت له کبله د ګوند له ټول مشرتابه سره اړیکه نامعقوله او له ګواښونو ډکه وه. ازهر چې د سازمان د مشرتابهٔ په سر کې وو، د پخوانیو پېژندګلویو او پیاوړو اعتمادونو پر بنسټ له دوه وو ملګرو – کارمل او خیبر سره اړیکه درلودله. په راوروسته کلونو کې چې د ملګري کارمل د مسؤولیتونو پیټی درووند او مصروفیتونه ئې ډېر سول نو ازهر یوازې په مهمو غونډو کې ګډون کاوهٔ او په نورو مواردو کې ملګري خیبر وو چې دغه اړیکه ئې له ملګري کارمل او سازمان سره ټینګوله. د ملګري خیبر تماسونه معمولاً د سازمان د رهبرۍ له دوه وو لومړنیو کسانو سره ټینګ کېدل.

سره له دې چې «سازمان انقلابي اردو» یو کال مخکې د کودتا لپاره د محمد داؤود له جلب او جذب او تدارکاتو څخه خبر وو او ګڼ شمېر غړي ئې کودتا ته د مرستې کولو لپاره بلل سوي ول خو نهٔ ئې کودتا له لاسه ورکړه او نهٔ ئې خپلو غړو ته په کودتا کې دونډې اخېستلو اجازه ورکړه. په دوه وو دلیلونو: لومړی دا چې: محمد داؤود یو هېواد پال، بدلون او پرمختګ غوښتونکی انسان وو. له دې کبله د هغهٔ په لاره کې نهٔ باید خنډ رامنځته سي او یا دې راز افشاء سي. دوهم – ددې ټکي په پام کې لرلو سره چې محمد داؤود د سلطنتي کورنۍ غړی او ګټې ئې په سلطنت کې نغښتې وې نو دا پوښتنه رامنځته کېدله چې: «سازمان انقلابي اردو» څنګه، داستخباراتي وسایلو او امکاناتو په نهٔ لرلو سره د کودتا له تدارکاتو خبرېږي، خو ددولت استخباراتي ادارات لکه ضبط احوالات، د کورنیو چارو د وزارت استخبارات، د دفاع د وزارت استخبارات، د سردار عبدالولي خاص استخبارات او دې ته نور ورته بنسټونه به څنګه له دغو فعالیتونو څخه بې خبره پاتې سوي وي؟

کله چې ددغهٔ سازمان غړي په کودتا کې د ګډون لپاره بلل کېدل د داؤود شخصیت او د هغهٔ هېواد پالنې ته په درناوۍ سره، او له کودتا سره د عدم مخالفت په ښودلو، د شخصي معاذیرو په راوړلو ئې خپله پښه کاږله. د همدغهٔ سازمان یوازینی غړی – فیض محمد - چې د یوهٔ انقلابي دوست تر اغېزې لاندې راغلی وو ونهٔ سوای کولای ځان ګوښې کړي او مجبور سوی وو چې په کودتا کې ونډه واخلي. «سازمان- ژ» وروسته فیض محمد مواخذه کړ؛ فیض محمد اعتراف وکړ او بخښنې غوښتنې ته اړ سو.

د داؤود د کودتا له بریالیتوب وروسته ددغهٔ سازمان غړو دنده درلوده چې له داؤود سره همکاري وکړي. په کودتا کې ګڼ شمېر فعالو افسرانو، د خپل انقلابي خصلت پر بنسټ- د سازمان صفوفو ته لاره وموندله. ښايي دوه عامله ددې انګېرنې لامل سوي وي چې ګڼې «سازمان انقلابي اردو» په کودتا کې ونډه درلوده: له کودتا وروسته له داؤود سره همکاري او په کودتا کې د فعالو افسرانو جلب او جذب.

که د «جبههٔ کمونیست های افغانستان» په نوم کوم سازمان شتون لرلی وي نو د بنسټ ایښودلو نېټه ئې د ۱۹۶۴ز کال سپتمبر ته نهٔ ورګرځي کېدای سي څو کاله وروسته ئې بنسټ ایښودل سوی وي. (۲۰۰۸ز کال، د نوامبر پينځمه)

### ۵. عبدالحمید محتاط

سیاسنګ: د ۱۹۷۳ز کال د جولای د میاشتې د جمهوریت د تفکر جرړه او انګېزه له کومه ځایه سرچینه اخلي؟

محتاط: د جمهوریت د انګیزې تحول د سردار محمد داؤود له شخصي مفکورې څخه سرچینه اخلي. نوموړي د جمهوري نظام جوړېدل د وخت او عصر یوه غوښتنه بلله. هغهٔ دغه مفکوره د خپلو دوستانو په اذهانو کې القاح کړه او په ۱۹۷۲ز کال کې ئې د سلطنتي نظام د ړنګولو لپاره د هغوی هڅې جلب کړې.

موږ د وسله وال ځواک ځوانو افسرانو د جمهوري نظام جوړېدل لېږې موخې ته د رسېدلو لپاره د یوې وسیلې په توګه منلی وو خو د همداسې ستراتیژیکې موخې د پلې کولو لپاره مو مستقلانه چمتووالی نهٔ درلود. په وسله وال ځواک او ټولنې کې زموږ چمتووالي او سیاسي کار اوږد وخت ته اړتیا لرله. د پينځوسمې لسیزې د پیل په کلونو کې ډېرې سیاسي ډلې ټپلې او افراد ول چې له هغوی څخه د سلطنت د ړنګولو انګازې تر غوږو کېدلې. له هغې ډلې څخه، محمد هاشم میوندوال هم له یو شمېر اسلامپالو افراطي ډلو سره د فرصت په لټه کې وو او د سلطنت د ړنګولو پلان ئې په سر کې درلود.

په ۱۹۴۲ز کال کې داؤود هغه مهال چې د «قوای مرکز» بولنه یا قومانده په غاړه درلودله، له خپل ورور سردار محمد نعیم سره یو ځای هڅه کړې وه چې له هیتلر او موسولیني سره د پټ سازښت پر بنسټ، سلطنتي نظام ړنګ کړي. که د آلمان او ایټالیا حکومتونو موافقه کړې وای نو داؤود غوښتل چې د آریایي لوړتیا غوښتنې یا تفوق طلبۍ د مفکورې پر بنسټ یو نظام رامنځته کړي. دغه کودتايي پلان افشاء سو او له سلو ډېرو افسرانو ته سزا ورکړل سوه. محمد داؤود له دې پېښې روغ رمټ راووت. ما د «سقوط دوم، جمهوریت اول» په کتاب کې ډېر توضحیات ورکړي دي.

په دې وروستیو وختونو کې څو تنو روسي سلاکانو ویلي دي چې ګڼې هغوی ددې کودتا پلان چمتو او د افغانستان د وسله وال ځواک افسرانو ته ئې د تطبیق لپاره

ورکړی وو. زه دغه ټکی نهٔ تأییدوم او دا خبرې د چنګاښ د ۲۶ د جمهوریت تحول غوښتونکو افسرانو ته سپکاوی او لوی تور یا بربنډ تهمت ګڼم.

د شوروي اتحاد رسمي سیاست د خلق ډیموکراتیک ګوند له دواړو فرکسیونونو څخه بې دریغه ملاتړ وو. له دې سیاسي کړۍ دباندې، په زرهاوو بڼو او لارو چارو ئې د نورو کسانو هویت – وژنه کوله. د چنګاښ د ۲۶ په بدلون کې د خلق ډیموکراتیک ګوند هېڅ یوهٔ غړي کلیدي ونډه نهٔ درلوده او د جمهوري نظام د لومړۍ کابینې غړي هم نهٔ ول. شورویانو د افغانستان له پېښو او بدلونونو سره ډېر احتیاط کاوهٔ او له شاهي نظام څخه ئې په کلکه دفاع کوله. داؤود هم د افغانستان په سیاسي مسائلو کې د شوروي د لاسوهنو مخالف وو.

سیاسنګ: آیا GRU د افغانستان په وسله وال ځواک کې دننه مخفي سازمان جوړ کړی وو؟

محتاط: د «سازمانِ نظامیان آزادي بخش مردم افغانستان» هسته چې د هېواد دننه تحولاتو په ځانګړې توګه د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند له جوړېدو څخه ئې سرچینه اخیسته د ۱۹۶۶ز کال د فبرورۍ د میاشتې په دیارلسمې نېټې د روسیې د کیف په ښار کې د نظامي اکاډیمۍ د څلورو محصلینو په ګډون رامنځته سوه. موږ له ملکي محصلینو سره پېلنیزه یا مقدماتي جلسه د کیف د تعلیم او تربیې په انستیټوټ کې جوړه کړه خو د نظریاتي اختلافاتو، دریځونو او مسؤولیتونو د ټکر له کبله موږ د نظامي اکاډیمۍ محصلینو خپله لاره جلا کړه. باید اعتراف وکړم چې هماغه جلسه زموږ ستره تېروتنه وه او نهٔ باید جوړه سوې وای. موږ د هغې تاوان په هېواد کې دننه د مبارزاتو په لړ کې ورکړ، دا ځکه چې هغه مهال بشپړه تجربه او سیاسي پوخوالی موجود نهٔ وو. د ملکي مؤسساتو محصلینو خلقي او شعله یي لېوالتیاوې وموندلې او د محصلینو په غورځنګ کې ډېرې جنګ جګړې او شخړې رامنځته سوې. له هماغې لومړنۍ هستې څخه ډېر لږ کسان ژوندي پاتې دي. اکثریت ئې یا وژل سوي او یا په خپل مرګ مړهٔ سوي دي.

د زده کړو په پای کې زموږ نظامي کړۍ چې شمېر مو د روښ اندۍ په مفکورې سمبال ۳۴ افسرانو ته رسېد هېواد ته راستنه سوه او په کابل، بګرام، شینډنډ او مزار شریف کې توظیف سوه. د ۱۹۶۹ز کال د جولای له میاشتې نیولې بیا د ۱۹۷۳ز کال د جولای تر میاشتې پورې د مرکزي سازمان د هستې په کړۍ پورې د بدلون غوښتونکو افسرانو شمېر سلو تنو ته رسېدهٔ. زموږ د فعالیتونو لمنه د هوایي او مدافعهٔ هوایي له ځواک څخه نیولې بیا د حربي ښوونځي، حربي پوهنتون تر استادانو او د اردو تر نورو قطعاتو پورې وغځېدله. ددولت د استخباراتو له ویرې مو محتاطانه ګامونه اوچتول، خو د انجنیر یعقوب د ټینګار پر بنسټ د «سازمانِ نظامیان آزادي بخش مردم افغانستان» د

کړنلارې د طرحې اړتیا رامنځته سوه. په پای کې مو له انجنیر یعقوب او د قرغې د راکټ په لیوا کې محمد اصغر پېژند سره دغه کار پیل کړ. زه د همداسې لاسوند د جوړېدلو مخالف وم او ویل مې چې دغهٔ لاسوند ته به د استخباراتو اداره لاسرسی ومومي او نهٔ باید له ځانه داسې کتبې لاسوند پرېږدو؛ خو د انجنیر یعقوب د ټینګار له کبله د سازمان تګلاره یا اساسنامه په څو نسخو کې ولیکل سوه. نوموړي استدلال کاوهٔ چې د تګلارې له خپرېدلو څخه ډډه کوو، یوازې دومره چې د یوهٔ تأریخي لاسوند په توګه دې پاتې سي.

په حقیقت کې همدا تګلاره د هویت د افشاء کېدلو لامل سوه او په نظامي ډګر کې ئې زموږ حضور تثبیت کړ، دا کارځکه افشاء سو چې یعقوب په داؤود پورې د یوهٔ اړوند کدر د جذبولو پر مهال تېروتنه وکړه. نهٔ یوازې دا چې نوموړی تن جذب نهٔ سو بلکه موږ ئې د ژمنو افسرانو په توګه افشاء کړو. هغه افسران چې ددغهٔ سازمان په مرکزي هستې کې ول یوازې جنرال ګل محمد چې په حربي ښوونځي کې استاد وو او نوي کاله عمر لري ژوندی دی.

دغهٔ سازمان هېڅکله له GRU سره اړیکي نهٔ لرل او له ځانه ئې بشپړ ملي خصلت څرګند کړی وو. له دې کبله ان ګومان کول هم یوه تېروتنه ده او د هغو افسرانو د هېواد پالنې روحیه تر پوښتنې لاندې راولي چې په سرښندنې ئې د جمهوري نظام د جوړېدلو په لاره کې ګامونه اوچت کړل. زه شخصاً د ځان او د مبارزې دډګر د هغو هملارو ملګرو چې په رهبرۍ کې ول، تاسو ته ډاډ درکوم چې موږ له GRU سره اړیکي نهٔ لرل.

هغو افسرانو چې د «سازمانِ نظامیان آزادي بخش مردم افغانستان» هسته ئې جوړوله دغه کسان ول:

ګل محمد خان، چې د چنګاښ د ۲۶ له بدلون مخکې په حربي لیسې کې د جګتورن په رتبې د یوې ترافیکي پېښې له کبله د فعالې مبارزې له صف څخه ووت او تر ډېرې اوږدې مودې پورې تر درملنې لاندې وو.

انجنیر یعقوب جبل السراجي چې سرغاړې یا سرکښه روحیه ئې درلوده او د پارتیزاني مبارزاتو لېوالتیا په کې غورځنګونه وهل. د ۱۹۷۳ز کال د فبرورۍ په میاشت کې له نورو ملګرو سره له مسلک څخه طرد او په کور کې تر نظارت لاندې ونیول سو او مخفي مبارزه ئې پیل کړه. د جمهوریت په وروستیو کلونو کې ئې له مخفي مبارزې څخه لاس واخیست او له حیدر رسولي سره د سازښت په پایله کې ئې علني ژوند ته مخه کړه. وروسته له دې چې امین واک ته ورسېد یوځل بیا ئې مخه پارتیزاني مبارزاتو ته واړوله او له عبدالمجید کلکاني سره ئې ګډ فعالیت پیل کړ. هغه یو ناکراره مبارز وو او کله نا

کله کړۀ وړۀ ئې په ماجرا غوښتنې اوښتل. نوموړی د امین د واکمنۍ پر مهال په پلخمري کې له دولتي ځواکونو سره د یوې مخامخ جګړې په ترځ کې ووژل سو.

انجنیر محمد اکبر مقصودي چې د بګرام په هوايي ځواک کې ئې خدمت کاوۀ، د مطالعې اهل سړی وو. د یوۀ منظم پلان پر بنسټ لومړنۍ ضربه د هوايي ځواک د افسرانو له اخراج او نیولو څخه پیل سوه. له مرکزي کمیټې او کابینې څخه زما له ایستلو دوه میاشتې مخکې نوموړی ئې له ګڼ شمېر نورو بدلون غوښتونکو افسرانو سره د ۱۳۵۲ل کال د کب د میاشتې په دوهمې نېټې [۱۹۷۴ز کال فبروري] په کور کې زنداني کړ. د محکمې له پریکړې پرته درې نیم کاله کورناستی بندي پاتې سو او له دباندې سره ئې هر ډول اړیکه پریک سوه. نوموړی او نور هملاري ملګري ئې د امین د حکومت پر مهال په وحشتناک ډول شکنجه او اعدام سول. له دومره شکنجو سره سره یوازینی افسر چې ژوندی پاتې سوی دی، د هوايي پوهنتون استاد انجنیر عبدالعزیز دی. انجنیر مقصودي او هملاري ئې چې د داؤود له پلوه زنداني سوي ول وروسته د امین له پلوه له محکمې پرته اعدام سول.

محمد معروف چې په " پېژند" مشهور وو د دفاع د وزارت د تعمیراتو په ریاست کې دنده درلوده او له غوث الدین فایق سره ئې یو ځای په یوې قطعې کې کار کاوۀ. یو هڅاند او هېواد ته صادق انسان وو.

د هوايي ځواک د افسرانو له منځه د مرکزې هستې یو فعال غړی، عبدالقادر وو. نوموړی د بګرام په قطعې کې د یوې «ماجرا پالنې» له کبله له الوتلو څخه محروم او د شینډنډ د قطعې د حرکاتو د مدیر په توګه شینډنډ ته تبدیل سو. کله چې د چنګاښ د ۲۶ نېټې عملیاتي برخه په بریالیتوب پای ته ورسېده نوموړی مې د چنګاښ په ۲۷ نېټې د یوې مخصوصې الوتکې په وسیلې کابل ته احضار کړ چې د هوايي ځواک د سوق او ادارې مسؤولیت په غاړه واخلي. نوموړی فوق العاده احساساتي وو. د میوند وال او د هغۀ د هملارو ملګر له نیول کېدلو وروسته په هغې غونډې کې چې عسکري کلوپ کې جوړه سوې وه عبدالقادر په څرګنده اعلان کړه چې: «موږ یوه سوسیالیستي ټولنه جوړوو او که سردار داؤود خیانت وکړي او له موږ سره همګام نۀ سي نو په ټولو توپ - ټانکونو ئې ولو.» یقیناً چې داؤود له دې غونډې خبر سوی وو خو په خولۀ ئې څۀ نۀ ویل. یوه ورځ ئې ماته په تلویحي ډول وویل: وزیر صاحبه! ښۀ دا ده چې خپلو کارونو ته پام وکړئ، ملګري مو ځوانان دي او احساسات ئې کله کله له حده وځي.»

همدغه احساساتي خبرې وې چې په پای کې ئې د داؤود د خشم پټ اور بل کړ. قادر له خپلې دندې وشړل سو او له ما سره ئې اړیکه پریک سوه.

نوموړی مې په مسکو کې په ۲۰۰۱ز کال کې له ۲۲ کالو وروسته ولید. ما ته له کیف څخه مسکو ته بلنه راکړل سوې وه چې د روسي مقاماتو په ملاتړ هغې غونډې کې

ګډون وکړم چې په مسکو کې استوګن سوداګر کمال الدین نبي زاده د خپل د استازي په توګه معرفي او د افغانستان د راتلونکي صدر اعظم په توګه ئې وړاندیز وکړم. په دې کتنه کې قادر راته ډېر ستړی او ستومانه ښکاره سو. د زندان او جلا وطنۍ دوران ئې تېر کړی وو او افکار ئې پاشلي ول.

د څلورو کالو او پینځو ورځو په مودې کې یا د ۱۳۵۳ل کال د غوایي له دوهمې بیا د ۱۳۵۷ل کال د غوایي د میاشتې تر اوومې نېټې پورې چې ما په کورني حبس کې تېره کړې وه ما د نورالله تالقاني په مرستې له قادر سره پټې اړیکې درلودلې، له پخوانیو همسنګرو ملګرو افسرانو سره اړیکه موجوده نهٔ وه، خو ما نهٔ یوازې له قادر سره پخوانۍ اړیکه ټینګه ساتلې وه بلکه هغې ته مې لا پراختیا هم ورکړه. نوموړي د ځوانو افسرانو مشرتوب پر غاړه درلود او تل به ئې ویل: محتاط! سردار داؤود له تاسره نهٔ پخلا کېږي او تاسو د ځان او د خپلې کورنۍ اصلي دښمن ګڼي خو زه د یوې رخنې د لارې د موندلو په لټه کې یم او تا ته به خبر درکړم.

ما د ۱۳۵۷ز کال د غوایي د میاشتې په اتمې او نهمې نېټې له قادر او اسلم وطنجار سره خبرې اترې درلودې؛ ما دوی ته وویل چې قدرت نهٔ باید د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند ته وسپارئ، ځکه چې زموږ ټولنه هېڅکله د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند مشرتوب نهٔ مني. زما نظر دا وو چې د ټولو سیاسي جریاناتو او ګوندونو په ګډون دې داسې یوه انتقالي دوره رامنځته سي چې نظامي شورى ولري او هېڅ ځواک، که لوی وي که کوچنی، ځان په ټولنه کې پردی احساس نهٔ کړي او د اساسي قانون له تسوید او تصویب وروسته دې د خلکو د هیلو او آرمانونو پر بنسټ یو جمهوري دولت جوړ سي. قادر زما د نظریاتو ملاتړ وکړ خو وطنجار وویل: زه اوس د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند غړی یم. تره کي صاحب زموږ رهبر دی. هر څه چې ګوند او رهبر پرېکړه وکړي زه به هماغسې اجراات وکړم.

له هغهٔ وروسته د وسلوال ځواک د افسرانو په منځ کې ډلې ډلې رامنځته سوې او شورویانو مداخله وکړه. په هغو خبرو کې چې موږ د شوروي د سفارت له مسؤولو کارمندانو سره درلودلې شورویانو ټینګار کاوهٔ چې اوسني شرایط دا غواړي ترڅو ټول د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند په ځانګړې توګه د ملګري امین په شاو خوا راټول سئ. ما غوښتل د شوروي له سفیر پوزانوف سره ووینم (نوموړی مې د مخابراتو د وزارت له دورې څخه پېژندهٔ) ما غوښتل هغه پوه کړم چې شورویان دې د دیموکراتیک ګوند د قدرت د انحصار پلوي توب نهٔ کوي. پوزانوف له ما سره له لیدنې بخښنه وغوښته او دا پیام ئې راولېږهٔ: «ستالین هم په خپل وخت کې مثبته ونډه لوبولې ده. په اوسنۍ اوضاع کې امین د افغانستان لپاره د ستالین نقش لري. د هغهٔ ملاتړ وکړئ.»

له دې وروسته د شورويانو تر مستقيم نظر لاندې د ديموکراتيک ګوند انحصاري کابينه اعلان سوه، د وسله وال ځواک افسرانو مخالفت وښود او د ټانکيستانو يو ۱۱ کسيز ډلګی، ګوند ته د قدرت له لېږد سره موافق نهٔ وو او غوښتل ئې په ډېرې چټکۍ سره يو ځل بيا کودتا وکړي. خو هېڅ چا دغه مسؤوليت ځکه پر غاړه نهٔ اخيست چې شورويان په قضاياوو کې ښکيل سوي ول.

شک نهٔ سته چې د قادر دريځ تضعيف سو او د ۱۳۵۷ل کال د زمري په مياشت کې د کشتمند په ګډون له ګڼ شمېر نورو سره زندان ته ولوېد. زه د ۱۳۵۷ل کال د غبرګولي په مياشت کې جاپان ته لاړم او ۹ کاله هلته پاتې سوم. يو ځل هم بېرته هېواد ته راستون نهٔ سوم او له وسلوال ځواک سره زما اړيکه پريک سوه.

د ۱۳۵۷ل کال د غوايي له اوومې وروسته مې خپلو سازماني ملګرو او پلويانو ته دا خبره اعلان کړه چې شرايطو په ټولنې کې بدلون موندلی دی او نور په وسله وال ځواک کې د مخفي مبارزې شونتيا نهٔ سته. تاسو په خپله پرېکړه وکړئ چې سياست کوئ که ئې نهٔ کوئ، په خپله دې په هېواد کې دننه ګوندونه او سياسي سازمانونه خوښ کړي او په هغو کې دې فعاليت وکړي. په دې توګه په وسله وال او هوايي ځواک کې مو د افسرانو کوم تشکيلات چې درلودل عملاً منحل سول.

اکثريت هغه مطالب چې د جنرال قادر په کتاب کې ليکل سوي دي د حقايقو تحريف دی ځکه هغه خبرې چې د هغهٔ له خولې څخه نقل قول سوي دي د ناروغۍ په هغهٔ حالت کې ددهٔ خبرې تأريخي ارزښت لرلی نهٔ سي. په داسې حالاتو کې د اپلاتو ويل يوه عامه رواني ناروغي ده.

د همدغهٔ سازمان په مرکزي هستې کې يوه بله ځلانده څېره د هوايي ځواک د قوماندانۍ انجنير، ډاکټر احمد فهيم وو. د نوموړي د لېږد الوتکه د ۱۳۶۶ل کال د غوايي په مياشت کې په غزني کې د ستېنګر د توغندي تر بريد لاندې راغله او له ۵۴ تنو پوځي افسرانو سره يو ځای په دې پېښې کې شهيد سو. په دې پېښې کې د هوايي قواوو د کدرونو اتهٔ تنه نور انجنيران هم شامل ول. ما او ډاکټر فهيم، ګډ سياسي کار پېل او لومړنۍ پوځي کړۍ مو رامنځته کړې وه. ما د «سقوط سلطنت» په کتاب کې د هغو افسرانو د نومونو جدول وړاندې کړی چې د «سازمان نظاميان آزادي بخش افغانستان» غړيتوب ئې درلود او قسماً ئې د چنګاښ د ۲۶ په کودتا کې ونډه درلوده.

سياسنګ: جنرال قادر وايي چې: «محتاط د هېواد د شمال له خلقيانو سره اړيکه درلوده او له ما سره د سيالۍ په ترڅ کې ئې غوښتل هوايي قوا رهبري کړي. دا خبره سمه ده که ناسمه؟

محتاط: د ۱۳۵۲ل کال د چنګاښ تر ۲۶ نېټې پورې د هوايي او مدافعهٔ هوايي قوا د افسرانو د رهبرۍ مسؤولیت زما پر غاړه وو. د جمهوریت له اعلان وروسته، ما ته د مخابراتو د وزارت مسؤولیت راوسپارل سو، قادر د هوايي قواوو قوماندان سو او ما د اردو له افسرانو سره کومه اړیکه نهٔ درلوده.

له دې کبله له هوايي ځواک سره زما د اړیکې خبره اصلاً مطرح کېدای نهٔ سي.

سیاسنګ: آیا د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند غړی واست؟ یو شمېر کسان تاسو په افغانستان کې د GRU له لومړنیو لارروبانو څخه بولي. آیا تاسو له GRU سره همکاري لرله؟

محتاط: زه هېڅکله د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند غړی نهٔ وم، خو له ټولو دیموکراتیکو ځواکونو سره مې پراخې اړیکې درلودلې. په ۱۹۸۹ز کال کې کله چې په هېواد کې له مخالفو وسلوالو ځواکونو سره د خبرو اترو موضوع مطرح سوه او وروسته له دې چې ملي مصالحه اعلان او د دیموکراتیک ګوند نوم د «وطن ګوند» ته بدل سو، نو مصلحت ولیدل سو چې ددغهٔ ګوند غړیتوب ولرم او وکولای سم دا خبرې اترې له ګوندي دریځ څخه پرمخ یوسم. په «حزب ـ وطن» کې مې غړیتوب په ۱۹۸۹ز کال کې تر لاسه کړ. په ګوند کې زما غړیتوب یو شمېر دوستان خوشحاله کړل او یو شمېر نور ئې شکمن کړل. پر ما باندې د GRU د لارروبتوب تور له بنسټه سم نهٔ دی. زه هېڅکله د GRU غړی یا همکار نهٔ وم او نهٔ یم.

سیاسنګ: که د شیراحمد نصري حق شناس – دا خبره سمه وي – نو جرړه ئې چېرې پرته ده؟ «محتاط له مرکزي کمیټې څخه له وتلو وروسته ویلي دي چې: موږ ته په مسکو کې دستور راکړل سوی وو چې له داؤود سره همکاري وکړو. موږ نهٔ پوهېدلو چې د هغهٔ د سردارۍ خصلت نهٔ دی بدل سوی.»

محتاط: زه له جناب حق شناس سره هېڅ ډول پېژندګلوي نهٔ لرم او نهٔ مې درلودله. یوازې دومره مې اورېدلي دي چې د یوهٔ متحجر جمعیتي په توګه شهرت لري او د ټولنې له واقعیتونو سره پردی دی. هغه اثر چې نوموړي لیکلی دی لهٔ یوهٔ ښکنځل لیک «دشنام نامه» پورته بل څه نهٔ دی. زما په هکله د هغهٔ خبرې تحریف سوي او غلطې دي. ټول دوستان پوهېږي چې ما له شورویانو سره ستونزې درلودلې. هغوی د غوړه مالۍ لپاره زه شاهي دولت ته د یوهٔ «خطرناکه افسر» په توګه معرفي کړی وم. له شوروي سلاکارانو سره ټکر ددې لامل سو چې ما د هوايي پوهنځي له استادۍ څخه اخراج او د افغانستان تر ټولو لېرې ټکي یعنی شینډنډ ته مې تبدیل کړي.

د شورویانو د غلطو ګزارشونو په اسیّت / سبب د هوايي او هوايي مدافعې د ځواک بولندوی ډګر جنرال عبدالرزاق او د هوايي او هوايي مدافعې د ځواک مرستیال

بولندوی تورن جنرال موسی خان زه په یوګړي توګه د هوایي او هوایي مدافعې د ځواک د مخابرې د آمر ډګروال امان الله ازبیک په حضور کې احضار او اخطار ئې راکړ چې: « ان که ستاسو له خولي اور هم باد سي بیا هم شاهي اردو تاسو ته اړتیا نۀ لري. موږ هغو افسرانو ته اړتیا لرو چې شاهي دولت ته له ځون او ځار پرته اطاعت ولري. تۀ ځوان ئې، یونیفورم دې له ځانه نۀ باسو. هدایت ورکوم چې تاسو دې د زده کړو له چاپیریال دباندې د هېواد تر ټولو لېرې ټکي ته تبدیل کړي، ترڅو خپل ژوند ته پام وکړئ. که بل ځل اشتباه / تېروتنه تکرار سوه نو له تر ټولو بدترینو او شدیدو مجازاتو سره به مخامخ سئ.»

په پای کې له ډګروال امان الله سره چې زموږ مستقیم آمر وو زما جوړ جاړی وسو. نوموړی شینډنډ ته زما له تبدیلۍ منصرف سو او زه ئې د هوایي او هوایي مدافعې د ځواک په «محل ِ قوماندهٔ» کې توظیف کړم او همدا ځای وروسته د چنګاښ د ۲۶ د «کودتا – ژ» د سوق او ادارې په اصلي ټکي بدل سو.

ما د پیلوټانو او کشافانو یوۀ ۲۷ کسیز ټولګي ته درس ورکاوۀ چې له هوایي پوهنځي څخه زما له وتلو وروسته نوموړی ټولګی بې استاده پاتې سوی وو. د هوایي ځواک د پوهنځي بولندوی ډګروال عبدالحق قندهاري ددې ټولګي مسؤولیت واخیست او زه ئې د اجیر استاد په توګه استخدام کړم. ما د ورځې یو ساعت تدریس کاوۀ او ډېر اجرت مې تر لاسه کاوۀ؛ له کار څخه زما د لېرې کېدلو ماجرا، د شوروي سلاکارانو توطئه وه. حق شناس غیر مسؤولانه تورونه راباندي تپي. داسې بې سنده تورونه د هغۀ د کتاب ارزښت راټیټوي.

سیاسنګ: ولې د محمد داؤود له سترګو وغورځېدئ؟

محتاط: ما د «سقوط دوم، جمهوریت اول» په کتاب کې په دې هکله ډېرې خبرې کړې دي چې په خواشینۍ سره نیمګړی یا ناقص چاپ ئې په ۲۰۱۳ز کال کې د میوند د خېروندېي ټولني له پلوه خپور او د پېښور په قصه خواني بازار کې له سره چاپ سو. اوس د هغۀ کتاب بل چاپ زما د زوی فرید جان تر نظر لاندې په پام کې دی او هڅه کېږي چې د یوې ښې نسخې په ترڅ کې به د تېروتنو له رفع کولو وروسته چمتو سي.

د ۱۳۵۳ز کال د غوایي د میاشتي د څلورمې نېټې په هغې اعلامیې کې چې د دولتي رسنیو له لارې خپره سوه له کاره زما د لېرې کېدلو علت ئې «د مرکزي کمیټې له دساتیرو څخه زما عدم اطاعت» ویلی وو. له داؤود سره زما اړیکه له هماغو لومړیو له تاوتریخوالي او سؤ تفاهم ډکه وه. د مرکزي کمیټې په لومړۍ غونډه کې چې د زعامت موضوع مطرح سوه وړاندیز وسو چې داؤود دې له بشپړ واک سره مل د دولت رئیس وي. دا خبره ما ته د خطر زنګ وو او موږ په حقیقت کې یو زورواکی / مطلق العنان پادشاه ټاکۀ. هغوی ته مې وویل: د مرکزي کمیټې طرزالعمل دې چمتو او د دولت د

رئیس او صدراعظم صلاحیتونه دې مشخص سي. داؤود چوپتیا غوره کړه خو نورو زما له طرحي سره مخالفت وښود. ډاکټر شرق راته وویل: اوسمهال شرایط حساس دي او یوازیني څوک چي په تدبیر او پخوانۍ تجربې کولای سي ددولت چارې پر مخ یوسي، محمد داؤود دی. موږ به وروسته دغه صلاحیت ولس ته ولېږدوو. نوموړي په خپل کتاب «کرباس پوش های پرهنه پا» کې هم په دې خبرې اعتراف کړی دی چې د «محتاط وړاندیز معقول وو، خو له وخت مخکې وو.»

محمد داؤود له ما سره تل په ظواهرو کې له درناوي ډک چلند کاوۀ خو په باطن کې ئې عقده درلوده او زما له دوستانو څخه ئې غوښتل چي ډېر معلومات ورڅخه ترلاسه کړي. د بېلګې په توګه له پاچاګل څخه به ئې پوښتل: ستا په نظر محتاط څرنګه سړی دی؟ هغه به ویل: زما صمیمي دوست دی، هېواد پال دی، کمونیست وو خو اوس نۀ دی، نظامي سازمان ئې درلود خو اوس ئې نۀ لري او تاسو ته زښت ډېر درناوی لري. کله چي پاچاګل ما ته د داؤود ددغو پوښتنو ګړویږنو وویل نو سخت ټکان مې وخوړ او تشویش راته پیدا سو. هماغلته هماغه تګلاره په یاد راغله چي انجنیر یعقوب پاچاګل ته ئې ورکړې وه. پاچاګل ته مې وویل: تاسو نۀ باید په خپلو خبرو کې دومره مخ ته تللي واست. هغۀ زموږ له اعتماد څخه ناوړه ګټه اخیستې ده. پاچاګل به تل ما ته په ځواب کې ویل چي: تاسو صدراعظم صاحب باندې د هغۀ له اولادو ډېر ګران یاست او وايي چي «دا تاسو واست چي زه مو یو ځل بیا ځوان کړم.» تشویش مۀ کوئ، پرېږدۍ چي صدراعظم صاحب له هرڅه خبر وي.

داؤود یو ځانګړی طبقاتي دریځ او له دربار سره ئې ژور پیوند درلود؛ هغۀ نۀ سوای کولی له پوځي روڼ اندو او له شور او زوږ ډکو ځوانانو سره سازښت وکړي؛ دا ئې هېڅکله نۀ خوښېدل چي په وسله وال ځواک کې دې کیڼ لاسی پیاوړی نظامي تشکل شتون ولري او زه ئې د ځان لپاره تر ټولو ستر ګواښ ګڼلم. د همدغۀ دلیل پر بنسټ ول چي له قدرت څخه زما د حذفولو او د هغو افسرانو د شړلو په هڅه کې وو چي له ماسره ئې اړیکي لرل.

داؤود خپلو خصوصي جاسوسانو ته سخت ارزښت ورکاوۀ. ددوی په منځ کې یو تن ئې غوث الدین فایق وو چي زموږ ددوستانو په منځ کې شریف خو ډېر ساده، خوش باوره او پروپاګند خپروونکی وو. د فایق دا کار خوښ وو چي حق او نا حق ځان د رهبر په سترګو کې ووهي او ددۀ او د هغۀ خبرې ورته ورسوي. د فایق د خبرو تر ټولو لویه او توده سوژه «زه» وم.

شک نۀ سته چي زما سیمه ییزو او قومي تعلقاتو هم څرګنده ونډه درلوده. دستګیر پنجشیری په خپل کتاب «ظهور و زوال حزب دیموکراتیک خلق افغانستان» له دندې څخه زما په لېرې کېدلو کې په هوايي ډګر کې سلطنتي کورنۍ ته سپکې او سپورې ویل،

اغېزمن گڼي خو په هغې پېښې کې ښکنځل او سپکې سپورې هېڅ مطرح نهٔ وې. ما هلته په هوايي ډگر کې د مؤظفو افسرانو د قهرجن چلند مخه ونیوله که نهٔ هغوی به په ډېرې توندۍ او تاوتریخوالي چلند کړی وای. کېدای سي د مخلوع شاه د کورنۍ غړو داؤود ته زما شکایت کړی وي او دې خبرې له کار څخه زما د لېرې کولو لړۍ چټکه کړې وي.

### ۶. عبدالوکیل

د چنگاښ د ۲۶ له کودتا وروسته د کارمل په مشرۍ د گوند اووهٔ کسیزه مرکزي کمیټه تر پایه د وسلوال ځواک د منسوبینو په منځ کې د کار او د یوې واحدې رهبرۍ د جوړولو په هکله یوې پریکنده پایلې ته ونهٔ رسېدله. له دې کبله د جمهوریت د رژیم په لومړیو دوه وو کلنو کې په دې هکله د مرکزي کمیټې د غړو په منځ کې دو متضاد چلندونه موجود ول. له یوې خوا د مرکزي کمیټې ټولو غړو د «سازمان انقلابي اردو» تر څنگ، د وسلوال ځواک د منسوبینو په منځ کې زما د او د «نور» د فعالیت په هکله خپل غیر رسمي موافقت ښودهٔ او له بل لوري، خیبر په وسله وال ځواک کې زما او د «نور» او د نورو ملکي غړو له فعالیتونو څخه راضي نهٔ وو. په همدې علت کله ناکله د نور «احمد نور» او خیبر تر منځ جدي شخړې رامنځته کېدلې.

خیبر به ویل: «گوند نه باید په وسلوال ځواک کې په خپلو بیړنیو اقداماتو سره، داؤود د ځان پر ضد راوپاروي. هغهٔ په وسلوال ځواک کې د ملکي پرچمي ملگرو له کار سره موافقت نهٔ درلود. د هغهٔ په نظر، یوازې د «سازمانِ انقلابي اردو» مسؤولینو چې وظیفوي تجارب ئې درلودل کولی سول د پخوا په شان دننه په وسلوال ځواک کې په احتیاط سره کار وکړي. خیبر به ویل: خلقیان په وسله وال ځواک کې خپل کار په شورماشور پرمخ بیايي خو موږ نه باید د هغوی په شان شور بگت او غوغا جوړه کړو. خلقیان په وسلوال ځواک کې په خپلو دغسې اقداماتو سره ډېر ژر وهل او ټکول کېږي؛ ځکه چې داؤود په وسلوال ځواک کې ددغهٔ اقداماتو زغم نهٔ لري.

د داؤود له کودتا او د رژیم له ټینگښت دوه میاشتې وروسته، د هغې پخوانۍ پېژندگلوۍ پر بنسټ چې ما د انظباطو د قطعې له بولندوی نبي عظیمي سره درلوده نوموړي ته مې خپل کورته بلنه ورکړه چې گوند ته د هغهٔ د یوځای کېدلو په باب خبرې وکړم. خیبر له دې بلنې څخه خبر سوی وو، زه ئې وغوښتلم او د انتقادونو تر څنگ ئې راته وویل: تهٔ ولې له نظامي قوماندانانو سره لیدنې کتنې کوې؟ غواړې کودتا وکړې؟ څه مقصد لرې؟ له نظامیانو سره اړیکه مهٔ نیسه، که نه له گوند څخه شړل کېږې.

د خیبر له داسې چلند څخه هک حیران سوم خو بیا مې هم له نظامیانو سره خپل کار ته ځکه دوام ورکړ چې د خیبر دستور، د مرکزي کمیټې دستور او جمعي پرېکړه نهٔ وه.

له څو مودې وروسته د جمهوریت په هکله د خیبر په ګډون د ګوندي رهبرانو خوشیبنۍ ضعیفه کېدلې. هغوی ددولت له دریځ څخه نهیلي کېدل. له دې وروسته ګوندي مشرانو نهٔ یوازې د نور «احمد نور» او زما د کار مخه نهٔ نیوله بلکه لېوالتیا ئې ښودله چې پوځي ډګر ته دې ډېره پاملرنه وسي. د کارونو په پراختیا سره دا اړتیا احساس سوه چې څو تنه نور کدرونه دې له ما او نور «احمد نور» سره همکار اوسي. البته د یادونې وړ ده چې د مشرتابهٔ له پلوه په وسلوال ځواک کې د ملکي کار کمیټه نهٔ وه ټاکل سوې او نهٔ ئې زما او نهٔ ئې د نور «احمد نور»  له پلوه شکل وموند. علت ئې د افشاء ګرېو مخنیوی وو. څو تنه ګوندي کدرونه په انفرادي ډول په دې ډګر کې بوخت سول او له ما او نور «احمد نور» سره ئې انفرادي اړیکي لرلې.» («از پادشاهي مطلقه تا سقوط جمهوري دیموکراټیک افغانستان»، لومړی ټوک: له ۱۵۲ تر ۱۵۴ پاڼو پورې.)

**۷. ذبیح الله زیارمل**

د سیاسي تشکیلاتو په موخې د یوهٔ جلا پوځي سازمان د جوړېدو طرحه د ۱۳۴۱ل کال په ژمي کې [د ۱۹۶۳ز کال د جنوری یا فبروری په میاشت کې] په «دِه بوري» کې د ببرک کارمل په کرایي کور کې چې تر دغهٔ مهاله یوازې ببرک جان وو، د ببرک کارمل، میر اکبر، د پولیسو د اکاډیمۍ استاد او د اکاډیمۍ د تدریساتو مرستیال عبدالصمد ازهر چې میر اکبر ئې مدیر وو او زما «زیارمل» تر منځ چې د قرغې د  اتمې فرقې بریدمن وم رامنځته سوه. له ازهر سره هغه مهال آشنا سوم چې نوی له مصر څخه راستون سوی وو. زموږ آشنایي په متداومو اړیکو بدله سوه چې پایله ئې د اردو د انقلابي سازمان په رامنځته کېدلو واوښتله.

ددې غونډې د دوه وو تنو نوښتګرو یعنی زما او د ازهر د ګډې پرېکړې پر بنسټ دا خبره خیبر سره شریکه سوه، چې د هغهٔ د وړاندیز پر بنسټ مو دا خبره د ببرک مخې ته کښېښودله. د روژې د میاشتې لومړۍ نېټه وه، د ببرک په کور کې زموږ دریو تنو ترځنګ به محمود بریالی هم کله ناکله کښېناستهٔ او له دې چې د عمر له اړخه د کورنۍ کوچنی غړی وو نو په عامې اصطلاح «چای راوړه/ چلم راوړه» وو. دغه نېټه ځکه زما په یاد ده چې ببرک غوښتل د دروازې مخې ته سګرت روښانه کړي خو ما منع کړ. ورته مې وویل: پرون شپه د روژې اعلان وسو.

سیاسنګ: د «سازمان ِ انقلابي اردو» موخه څه وه؟

زیارمل: په هماغه غونډه کې اصلي ایډیه / نظریه د یوهٔ سیاسي ګوند د جوړولو د کار پېل وو. د هغهٔ پر اړتیاوو باندې بحث وسو او عمومي موافقه وسوه. هغه څه چې عجیب ښکارېدل دا ول چې پر دې ټکي ټینګار وسو چې پوځیان باید په کې غړیتوب ونهٔ لري حال دا چې د څلورو تنو په منځ کې درې تنه ئې پوځیان ول (میر اکبر، ازهر او زه) او

همدغو پوځیانو دداسې ګوند د بنسټ ایښودلو پر اصل ټینګار او اعتقاد درلود چې وروسته دې د قانوني کېدلو لپاره هڅه وسي.

په دې غونډه کې چې بنسټ ئې په چپي نظریاتو منل سوی وو وړاندیز وسو چې دا نظر دې له ټولو ډلو او مستقلو سیاسي شخصیتونو سره شریک سي او عملي هڅې دې پېل سي. ددغو کسانو په هکله بحث وسو: غلام محمد غبار، عبدالرحمن محمودي، علي محمد زهما، صدیق فرهنګ، عبدالرؤوف بینوا، نورمحمد تره کي او.... (سره له دې چې محمودي وفات سوی وو خو وروڼه ئې فعال ول) کارمل د زهما په هکله ډېر تفصیل ورکړ. د هغهٔ په وینا: زهما ادعا درلوده چې د کپیتل Capital کتاب ئې د مارکس د قبر پر سر «پا ته رسولی» دی. آیا داسې یو څوک به چې داسې ادعا ولري حاضر سي او له تاسو سره به کښېني؟

ما د محمودي د «محفل» په هکله مسؤولیت پر غاړه واخیست، ځکه ما عبدالله محمودی او امان الله محمودي – د محمودي مشر زوی او د محمودي له کشري ورور- سره پېژندګلوي درلوده. د تره کي د پېژندګلوۍ په هکله نهٔ چا کومه ادعا درلود او نهٔ کومه ځانګړې تبصره – مثبته یا منفي- هم ونهٔ سوه.

په دې غونډه کې پرته له دې چې د کوم ځانګړي سازمان په باب خبرې وسي د پوځیانو هغې ونډې ته نغوته وسوه چې غورځنګ دې په پټه تر سترګو لاندې ځاري او هغهٔ دې له انحراف او خطرونو څخه خبروي. خو ددغسې یوهٔ سازمان اصلي آیډیا زموږ په کور کې زما او د ازهر تر منځ رامنځته سوه. هغهٔ د لومړي ځل لپاره له ګوند څخه د جلا پوځي سازمان په هکله خبرې وکړې. له خبرو اترو او د ځانګړتیاوو په هکله له توافق وروسته موږ پر جزئیاتو توافق وکړ او د منل سوي میتود پر بنسټ مو له ډېرو نېږدې پوځي ملګرو سره په انفرادي توګه په کار پېل وکړ. زموږ ددغهٔ اقدام پایله د ۱۳۴۳ل کال د وږي د میاشتې په ۲۶ نېټې د سازمان په جوړېدلو واوښتله. د همدغهٔ کال د مرغومې د میاشتې په یولسمې، مؤسسه کنګره جوړه سوه. د وږي د میاشتې د ۲۶ نېټې په غونډه کې د عمومي اصولو پر سر د توافق تر څنګ له ګوند سره اړیکه هم مطرحه سوه. د موافقې پر بنسټ ما او ازهر یعنی لومړي او دوهم تن ته صلاحیت ورکړل سو چې دغه خبره د ګوند له دوه وو تنو – اصلي او احتیاطي- غړو سره چې د ګوند د جوړېدو لپاره هڅې ئې وروستي پړاو ته رسېدلې وې مطرحه کړو او یو «امن ارتباط» ورسره رامنځته کړو.

سیاسنګ: آیا د «سازمان ِ انقلابي اردو» بنسټ میر اکبر خیبر نهٔ وو ایښی؟

زیارمل: دغه سازمان نهٔ میر اکبر خیبر جوړ کړی وو او نهٔ هم خیبر د سازمان په رهبرۍ کې وو. د اصلي رابطې په هکله تصمیم، ګوند نهٔ، بلکه په خپله موږ دوه وو تنو د هغهٔ اعتماد پر بنسټ ونیوهٔ چې پر دوه وو تنو باندې مو درلود او مطمئن وو چې د راتلونکې

گوند په رهبرۍ کې به راځي. پاتې نورې خبرې آوازې او ګنګوسې او د کذب اطلاعات دي چې وروسته د خیبر د شخصیت د تخریب لپاره د تبلیغاتو په شکل کې جعل او خپاره شول.

دا موضوع په لومړیو کې د همغږۍ د رامنځته کولو لپاره له دواړو سره شریکه سوه خود ۱۳۴۴ز کال د لړم د میاشتې ددریمې نېټې له پېښې وروسته هغه مهال چې میر اکبر پکتیا ته تبعید سو زموږ خبرې یوازې له کارمل سره کېدلې. ان هغه مهال چې د افغانستان د خلق په ډیموکراتیک ګوند کې د انشعاب خبره خپل جدي پړاو ته ورسېدله ما او ازهر پکتیا ته مخفي سفر وکړ او په ګوند کې د انشعاب د مخنیوۍ او د انشعاب د تحقق موندلو په صورت کې مو اړینې مشورې وکړې او دلته مو د پوځي سازمان پر هغۀ دریځ چې په اړوند مو پرېکړه کړې وه غور او مشورې وکړې چې د خیبر د تائید وړ وګرځېدې.

میر اکبر خیبر له انشعاب څخه د مخنیوۍ لپاره خپل نظر د ببرک په عنوان د یوۀ لیک په ترڅ کې موږ ته وسپارۀ. ازهر دا لیک ببرک ته وسپارۀ. کله چې خیبر له پکتیا څخه راستون او د یونیفورم له قید څخه آزاد سو، بیا هم په هماغۀ بنسټ د ازهر لیدۀ کاتۀ به - کله له کارمل او کله به له له دواړو سره تر سره کېدل. له څه مودې وروسته د کارمل د وړاندیز پر بنسټ زه ئې ددغو غونډو په ګډونوالو کې شامل کړم. په دغو غونډو کې نۀ موږ د سازمان په هکله له هغوی څخه هدایت ترلاسه کاوۀ او نۀ هغوی – له عمومي سیاسي موضوعاتو پرته - د سازمان د تشکیلاتي یا عملي اجزاوو په هکله هدایت ورکاوۀ. موخه دا وه چې موږ د ګوند له سیاسي دریځ څخه بې خبره پاتې نۀ سو او له همدغۀ دریځ څخه په الهام سازماني پرېکړې وکړو. څه موده وروسته کله چې سیاسي اړتیاوې ډېرې سوې د اړیکو د آسانتیا لپاره  له خیبر یا ازهر سره چې د تدریساتو د مرستیال په توګه ئې خیبر ته لاسرسی درلود او یا د خپلوۍ د رابطې پر بنسټ له ما سره موږ له هغۀ سره بیړني تماسونه نیول. د داؤود خان د کودتا تر مهاله پورې دغۀ کار پرته له کوم شر او شور او سرخوږي دوام درلود.

وروسته د خلق او پرچم د مشرانو په منځ کې له پوځي ځواک څخه په ګټه اخیستنې د قدرت د نیولو نظر رامنځ ته سو چې د "مرام ډیموکراتیک" اوله " هرې وسیلې څخه په ګټه اخیستې" د نظر ترمنځ د بیلتون کرښه یا فاصل خط دی. په دغۀ مهال کې د خلق او پرچم د فرکسیونونو تر منځ د افسرانو د جلب و جذب په هکله یو ډول سفر بري او سیالي رامنځته سوې وه چې د وکیل د خاطراتو په کتاب کې په ناقص او تحریف سوې بڼې چاپ سوې ده. همدلته ول چې د میر اکبر خیبر نوم د پوځي سازمان د مسؤول په توګه د خلکو په ژبو کې ولوېد او په دې ډګر کې د مخفي کاري پر تګلارې او د چارو پر سَوکه توب باندې نیوکې پېل او هڅې وسوې چې له پوځي سازمان څخه د خیبر د اړیکو

د حذفولو لپاره کوښښونه چټک سي، ددغو هڅو تر شا د شوروي لوی لوی سیاستونه او نور پلانونه ان د خیبر د ترور تر کچې پورې پراته ول.

سیاسنګ: د «سازمان انقلابي اردو» برخلیک څه سو؟

زیارمل: د کارمل له دستور او پریکړې وروسته د «سازمان انقلابي اردو» اړیکه چې زما او د اظهر له لارې ټینګېدله لومړی نور احمد نور او بیا عبدالوکیل ته وسپارل سوه چې د پلازمینې د پوځیانو مسؤولیت هغهٔ ته او د ولایاتو مسؤولیت نور «احمد نور» ته ورکړل سو. له دغو دواړو سره د غونډو ماهیت وچ کلک وو چې د اوضاع له شننې او تحلیل پرته په څو پوښتنو او کلیشه يي ځوابونو او د حق العضویت په راټولولو رالنډېدهٔ. د دندو پر ماهیت خبرې اترې او ګوندي سیاست اصلاً نهٔ مطرح کېدهٔ. له وکیل سره خو خبره له بده پسې بدتره وه، ځکه هغهٔ غوښتل دوه نیمګړتیاوې یعنې د خپلو معلوماتو تشه او د خپل تحلیل د قدرت نیمګړتیا په بازاري خبرو اترو او مبتذلو کلان کاریو باندې ډکه کړي چې ان د یوهٔ دیکتات [1] په روحیې ئې چلند کاوهٔ چې دا کار د صمد ازهر د غبرګون او خوابدی لامل سو. له دې کار وروسته وکیل مجبور سو چې بخښنه وغواړي. له بل لوري د هغه وخت چاپېریال او فضا د ټولو سیاسي ملکي مشرانو او زموږ په ګډون د یو شمېر امنیتي پوځیانو پر ضد سوې وه.

په داسې یوهٔ حالت کې صمد زهر او ما پرېکړه وکړه چې ددغو موضوعاتو په هکله له میر اکبر سره خبرې وکړو. موږ د لیدنې کتنې غوښتنه په داسې یوهٔ وضعیت کې وکړه چې نوموړي موږ له درې کسیزو ناستو پاڅو څخه منع کړي وو ترڅو د کارمل او د هغهٔ د ګردچاپیرو کسانو لپاره د سؤتفاهم او پلمو جوړولو مسببات رامنځته نهٔ کړي. خیبر به په ټینګار توصیه کوله چې له کارمل او د هغهٔ له استازو – نور «احمد نور» او وکیل – سره له درناوي ډک چلند ولرو. کله چې موږ دا غوښتنه د خپل استدلال پر بنسټ له خیبر سره مطرح کړه نو هغهٔ وویل: دا کتنه باید له کابله دباندې د مخفي کارۍ د شرایطو په پام کې نیولو سره د پولیسي او د ګوندي ملګرو له تعقیب پرته تر سره سي چې د کوم سؤ تفاهم او تازه جنجال لامل نهٔ سي. ښه به دا وي چې تاسو جلال آباد ته ولاړ سئ، زه به هم ځان در ورسوم او هماغلته به خبرې وکړو.

غالباً د ۱۳۵۶ل کال د کب د میاشتې دوهمه نیمايي [۱۹۷۸ز کال مارچ] وو. د یوهٔ مشترک دوست د کور کونجۍ/ کیلۍ مو تر لاسه کړه او د خپل سفر په هکله مو میر اکبر ته خبر ورکړ. ما او ازهر په داسې حال کې له لیني بسونو څخه په ګټه اخیستنې د جلال آباد پر لور خپل سفر پیل کړ چې د تعقیب مؤظفینو لا خپل کار نهٔ وو پیل کړی

[1] -Dictate

او د ورځې پاتې برخه مو د ډوډۍ پر چمتو کولو او میر اکبر ته په سترګې په لار پاتې کېدلو تېره کړه.

د شپې تیارۀ وه چې خیبر په داسې حال کې راورسېد او له موږ سره یو ځای سو چې بالاپوښ او د «کاسکد خولۍ» [1] ئې پر سر وه او په سختۍ سره پېژندل کېدۀ. د خیبر په لاس کې یو بکس وو چې د خوب په جامو او د ږیرې د خریلو په وسایلو ډک وو.

د شپې د ډوډۍ له خوړلو وروسته، صمد ازهر ددغسې یوې لیدنې کتنې د اړتیا دلیل تشریح کړ. میر اکبر وویل: زه ستاسو ستونزه په بشپړ ډول سره درک کوم او کولای سم له ملګي ملګرو سره ستاسو د خبرو اترو د چاپېریال په هکله حدس ووهم. ما د کلونو په اوږدو کې لیدلي دي چې بالغ او مسؤول انسانان په رښتیا سره مسایل د دوستانه خبرو اترو له لارې حل او په هکله ئې پرېکړه کوي. ما تل تاسو ستایلي یاست. برخلاف، زموږ په منځ کې د تصنعي بحث چاپېریال معمولاً سطحي او له ترینګلتیا ډک وي. خیبر خپلو ویښتانو ته ګوته ونیوله او وئې ویل: زما د ویښتانو سپینوالی زما د عمر د ډېرېدلو له کبله نۀ دی بلکه د هغو ستونزو له کبله دی چې د ګوند او د سیاست په ډګر کې ئې لرو.

خیبر له مقدماتي خبرو وروسته موږ ته په خطاب کې وویل: هغه څه چې اوس له تاسو سره شریکوم د هېواد او ستاسو په سیاسي ژوند کې د یوۀ بشپړ نوي پړاو پېل ښیي: داسې ښکاري چې د داؤود د واکمنۍ او د قدرت د تعویض د مسئلې په هکله پرېکړه سوې ده. په دې شېبې کې ما او ازهر وپوښتل:دا پرېکړه چا کړې ده؟ خیبر د «شوروي مقاماتو» هغه مستعار نوم یاد کړ چې زموږ په منځ کې معمول وو او وئې ویل: «دا د میرزایانو وروستۍ پرېکړه ده» ازهر وپوښتل: نو پر ځای به ئې څوک وي؟ میراکبر په ځواب کې وویل: داسې فکر وکړئ چې دا کسان به ددوی خپل کسان وي لکه پیلوټ قادر یا ټانکیست سرور...

ددغو نومونو له اورېدلو وروسته مې وویل: استاده! دوی په خپله په خپلو منځو کې دومره اختلاف او سیالۍ لرۍ چې ان دوه تنه ئې هم نۀ سي کولای پر یو بل باندې اعتماد وکړي. په داسې شرایطو کې به دوی څنګه حد اقل ثبات رامنځته کړي. هغۀ وویل: ستونزه همدلته ده. له داؤود سره د کودتاچیانو پر اړیکو ټول خبر دي. زما تشویش دا دی چې ددوی د استقرار / ټینګولو لپاره به زموږ پر ګوند کوم حساب خلاص نۀ کړي. ازهر وپوښتل: زموږ ګوند په دې تازه وحدت سره چې لرۍ ئې لا تر اوسه نۀ ده بشپړه سوې څنګه وکولای سي ددغسې یوۀ مسؤولیت پېټی پر اوږو پورته کړي؟

[1] - Cascade hat

د میر اکبر ځواب له ویرې ډک وو: زه ډارېږم چې هغوی به خپل محاسبات زموږ د ګوند د داخلي وړتیاوو پر بنسټ کړي وي ځکه چې دا یو ډېره خوشبینانه سنجونه ده. هغه مهال به همدا موجوده ثبات هم ټینګ نهٔ سي. په همدې بنسټ هماغسې چې هنګري او چکوسلواکیا ته لاړل دلته به هم په خپله اړسي چې مداخله وکړي او داسې عواقب به رامنځته کړي چې د وړاند وینې وړ به نهٔ وي.

ازهر پوښتل: تاسو له کومو عواقبو څخه تشویش لرئ؟ خیبر وویل: تاسو د بریژنییف له آسیایي دوکتورینو څخه خبر لرئ چې بنسټ ئې په آسیایي چارو کې پر استقرار او نهٔ لاس وهنې ولاړ دی. کله چې په خپله شورویان ئې تر پښو لاندې کړي نو عواقب به ئې څه وي؟ کولای سئ تصور ئې وکړئ؟

زموږ تر منځ ددغسې پوښتنو- ځوابونو او توضحیاتو لړۍ په داسې حال کې روانه وه چې له یوې خوا روان وضعیت بېخبَندي/ «بن بست» ارزول کېده او له بلې خوا د پوځي ځواک په زور د واک د نیولو د دوام لېرلید خپله معنی ورکوله. ددې تر څنګ په ګوند کې دننه د داؤود په شان د منلو وړ یوې څېرې نهٔ شتوالی، چې ښایي د نوې کودتا په دفاع کې به واقع سي، د وروسته شرایطو لپاره د انګېرنې وړ نهٔ دی.

میر اکبر وړاندیز وکړ چې اوس به ښه دا وي چې بېدهٔ سو چې سبا د سهار په تیارهٔ کې پرته له دې چې د پولیسو پام راواوړي خپل کور ته ورسېږو. په پای کې ئې غالباً زموږ د اندېښنو او تشویش د لېرې کولو لپاره زیاته کړه: وضعیت به ښارو. هیله مند یم چې پایله ئې د افغانستان او د سیمې په ثباتۍ وانهٔ وړي.

کله چې ویښ سوو ومولیدل چې استاد تللی وو. له سباناري وروسته زه او ازهر کابل ته راغلو، ما او ازهر دواړو هم د سباناري پر مهال او هم د لارې په اوږدو کې پر هغو خبرو هېڅ تبصره او خبرې ونهٔ کړې چې له میر اکبر څخه مو اورېدلې وې. د هغهٔ په باب خو نهٔ پوهېږم خو زه په خپله په دې ګومان وم چې که هر څومره په دې اړه بحث وکړو هماغموره مو تشویش ډېریږي.

په وروستیو ورځو کې زما ډېر وخت کرايي کور ته زموږ کډه کېدلو ونیوهٔ، ما ځکه کډه وکړه چې په مکروریانو کې د پولیسو د تعقیباتو او استراق سمع مخه نهٔ نیول کېدله. په دې مودې کې تر هغو چې په کرايي کور کې د ترمیماتو چارې بشپړې کېدلې او خپل کور مې کرایه دار ته ورکاوهٔ مجبور سوم چې د خپل اروابناد ورور حیات الله په پېرزوینې د لومړیو مکروریانو له ۴۵ بلاک څخه ګټه واخلم چې څو بلاکه هاخوا ئې د خیبر آپارتمان وو.

یوه ورځ میر اکبر راته وویل: یو هندی فلم چې انقلابي تومنه لري راغلی دی. که وخت لرئ راځه چې ددغه فلم لیدلو ته لاړ سو. دا غالباً د هغې اونۍ د شنبې ورځ وه چې په

پنجشبه ئې خیبر ترور سو. ټکټونه مې واخېستل. ما چې سینما ته په خپل موټر کې د تللو تکل درلود ولیدل چې د فلم تر پېل کېدلو پورې ډېر وخت پاتې دی. موږ په موټر کې دننه خبرو ته دوام ورکړ.

د هماغې ورځې په سهار ئې خیبر د خپلې دوهمې لور برېښنا جانې د ستوني د درد د ناروغۍ لپاره د ډاکټر غیاث صافي په مرستې او مل تیا پل باغ عمومي کې واقع د علي آباد د روغتون روغتیایي کلینیک ته تللی وو او د هماغۀ کلینیک څنگ ته پیاده رو کې له نور محمد تره کي سره مخامخ سوی وو.

د میر اکبر د خبرو پربنسټ چې ما ته ئې وکړې: تره کي له روغبړ وروسته خیبر ته ویلي ول چې: موږ د وحدت د رامنځته کولو لپاره په یوۀ فورمول توافق کړی دی او د همدغۀ فورمول پر بنسټ به گوندي وحدت عملي کړو خو اوس گورو چې یو شمېر اغېزمنې او مستحقې څېرې له سیاسي بیرو څخه دباندې پاتې سوي دي. موږ پرېکړه کړې چې د دواړو ډلو تر منځ د توازن د نۀ خرابېدلو لپاره د خلقیانو له پلوه به حفیظ الله امین چې مستحق او اغېزمن ملگری دی او د پرچمیانو له پلوه به تاسو ته په سیاسي بیرو کې د غړیتوب ارتقا درکړو. له دې کبله اړتیا ده چې له نېږدې خبرې وکړو.

میر اکبر ورته وویل: هر وخت چې تاسو لازم بولئ تاسو ته به درسم. تره کي وویل: پرېږده چې زه «په خپله د هغوی په وسیلې» تاسو ته زموږ د لیدو کاتو وخت ووایم. ( میر اکبر دغه " په خپله د هغوی" – په پښتو کې "ددوی په واسطه" کلمات داسې وګڼل لکه چې تره کي د کارمل او د کارمل د پلویانو پر وړاندې زما پر دریځ پوه سوی دی او له دې بابته ئې د رضایت یو ډول احساس کاوۀ.)

ما «زیارمل» هم د تره کي خبره په نیک فال ونیوله. د هغۀ زیری مې په لومړي فرصت کې ازهر ته ورکړ او دې پایلې ته ورسېدو چې اوس به په سیاسي بیرو کې د خیبر موجودیت وکولی سي د هر ډول چالاکۍ، ټکر، اخلال او ستونزو رامنځته کولو مخه ونیسي.

د اونۍ په ترڅ کې کله چې خیبر مې یو ځل بیا ولید له بل انکشاف یعنی د تره کي له وړاندیز څخه ئې یادونه وکړه او وئې ویل: پرون بارق راغلی وو او د کارمل له لوري ئې یو پیام راوړی وو چې د تره کي په وسیلې د خلقیانو یوه لویه دسیسه جوړه سوې او غواړي تاسو ته سیاسي بیرو ته په راتگ سره ارتقا درکړي. خیبر پوښتلي ول چې یوازې ما؟ بارق په ځواب کې ویلي ول چې د خلقیانو له پلوه حفیظ الله امین ته ارتقا ورکوي. میر اکبر پوښتلي ول نو آیا په دې سره توازن نۀ خرابېږي؟ بارق په ځواب کې ویلي ول: نه. ظاهراً توازن او تناسب دواړه ساتل کېږي. میراکبر له بارق څخه پوښتلي ول: نو دا توطئه چېرې پټه ده چې کارمل ئې ویني او زه ئې نۀ وینم؟ ظاهراً بارق په ځواب کې

ویلي ول:زه هم له توطئې خبر نۀ یم. یوازې مې د ملګري کارمل پیام تاسو ته در ورساوۀ.

سیاسنګ: آیا (سازمان ِ انقلابي اردو) او «جبهۀ کمونیست های افغانستان» چې قادر وايي: « د هغې بنسټ ایښودونکی زه په خپله وم» دواړه یو دي؟

زیارمل: د قادر خان سازمان د وریځو او لوګیو هغه پرده ده چې شورویانو د خپلو جاسوسانو لپاره جوړه کړې وه. ما د خپلې سیاسي مبارزې د مودې په اوږدو کې ددغسې کسانو نوم بل چېرې نۀ وو اورېدلی یوازې مې له شورویانو سره د اړیکو په باب د هغوی نوم اورېدلی دی. هغه څه چې قادر د خپلو خاطراتو په کتاب کې یاد کړي دي سطحي او د خلقي مشرانو له تأیید پرته دي. له دستګیر پنجشیري پرته چې اطلاعات ئې په ډېریو مواردو کې له غرض ډک او په غرض ککړ دي هېڅوک د قادر خان له سازمان څخه یادونه نۀ کوي. ان هغه مهال چې قادر ددفاع وزیر وو هېڅ څوک ئې راپورته نۀ کړل چې ادعا وکړي چې دی دې ددۀ د مخفي مبارزې له همکارانو څخه وي.

## ۸. جنرال نبي عظیمي

سیاسنګ: آیا تاسو د افغانستان په وسله وال ځواک کې د مخفي سازمان غړي واست؟

جنرال عظیمي: که د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند له بنسټ ایښودلو مخکې "سازمان انقلابي اردو" یا " جبهۀ کمونیست های افغانستان" شتون درلود نو زما په شان ځوان افسران باید د هغۀ له خپل شتون څخه خبر سوي وای او زموږ د جلب او جذب لپاره به ئې همت کړی وو چې له حربي پوهنتون څخه نوي فارغ سوي وو. دغسې یوۀ سازمان هېڅکله شتون نۀ درلود. (د "چهلستون" پاڼه، ۲۰۱۳ز کال د نوامبر نولسمه)



## یا خیبر یا هېڅ
## د "غروب خورشید" له منځه ځينې غوره ټکي

له «نهضت آیندهٔ افغانستان» څخه ډېره مننه چې د استاد میر اکبر خیبر په هکله د یو څه لیکلو لپاره ئې لاره اواره کړه. دا لیکنه نهٔ کومه خالصاً مؤرخانه څېړنیزه لیکنه ده، نهٔ د پېښو د روایاتو "واقعه نگاری" کومه خالصه ذهني پالنه ده او نهٔ هم د ځان ستایونکو د زړهٔ د بړاس ایستنې کومه خاطره لیکنه ده بلکه په افغانستان کې د خلق د کېڼ ډیموکراتیک غورځنگ له پیل څخه بیا د هغهٔ د لوړوالي تر لومړي پړاو پورې د یوهٔ برخه لیک جوړونکي انسان د ژوندون او مبارزې او د هغهٔ د یاد په هکله یوه ساده او له ریا او اغراضو پاکه یادونه ده.

زه نېکمرغه یم چې له ما سره د استاد خیبر شخصي لیکونه سته چې ماته ئې لیکلي دي؛ ددغو لیکونو هره جمله او هره فقره د هغهٔ د شخصیت، تفکر، او انقلابي خصایلو او فضایلو یوه رڼه هینداره ده. «ددغو لیکونو د څو دانو» متن او فوتوکاپي د لومړي ځل لپاره د مؤثقو تأریخي لاسوندونو په توگه خپرېږي. (محمد حسن بارق شفیعي، جرمني، ۲۰۰۹ ز کال اپریل)

د سیاسي بیرو د غونډې له پای ته رسېدلو وروسته زه له دوه وو تنو ملگرو سره په ټکسي کې د لومړیو مکروریانو پر لور روان سوم. د عامې روغتیا د وزارت له څلور لارې تېر سوو او کله چې د مکروریانو د پلهٔ پر لور تېرېدلو ومې لیدل چې د سړک د ښي لاس په څنگ کې او د دولتي مطبعې دیوال ته جوخت یو جسد پر ځمکې باندې پروت وو.

وملې ویل: دا بدمرغه داؤود له خپلو ټولو لاپو - شاپو او « د امنیت ملي» په نامهٔ د منځتشې لویې ادارې په لرلو سره نهٔ سي کولای په هېواد کې د ترور او بې امنۍ مخه ان د خپلې پرتمینې مانۍ په څو ګامۍ کې ونیسي. یوهٔ ملګري وویل: دا نظام کهېدلی او زوړ ځېلی سوی دی او د نن ورځې د ادارې په درد نهٔ لګېږي. داسې ښکاري چې پرځېدل ئې نېږدې سوي دي.

تر هغو مې چې له دریور څخه غوښتل چې د جسد څنګ ته توقف وکړي، دریور په چټکۍ سره له هغهٔ ځایه تېر او د مکروریانو د پلهٔ منځ ته ورسېد. ښایي پخوانیو تجربو ورښوولې وه چې که کومه ترافیکي پېښه سوې وي چې دی په کې ناحقه تورن نهٔ سي او یا کوم بل سرخوږی ورته پیدا نهٔ سي.

په مجردې چې خپل کور ته ورسېدم زموږ د دروازې زنګ ووهل سو. ګورم چې ملګری انجنیر نصیر وو اوغږ ئې لړزانده وو. ورته مې وویل خیریت دی؟ نصیر وویل: د دولتي مطبعې د سړک پر غاړې په وینو لیت پیت یو جسد پروت دی. ددولتي مطبعې کارګران وایي چې: استاد خیبر دی.

سر مې ګنګس سو او په سترګو کې مې تیارهٔ خپره سوه. ومې ویل: هیله مند یم چې دا خبره رښتیا نهٔ وي. تاسو خپل کور ته لاړ سئ او آرام وکړئ زه به ددې موضوع په هکله پلټنه وکړم، تر هغهٔ وخته پورې چا ته څه مه وایاست. زه په بیړه د استاد د کور پر لور وخوځېدم. زوی ئې زما پر مخ دروازه پرانیستله. پوښتنه مې وکړه استاد چېرې دی؟ ویې ویل: له غوربندي اکا سره دباندې وتلی او لا تر اوسه نهٔ دی راغلی. ومې ویل: کله چې کورته راغی ورته ووایاست چې زه په خپل کور کې هغهٔ ته سترګې پر لار یم. ویې وویل: دلته زموږ د کالهٔ سالون ته دوه تنه راغلي دي او پوښتنې لري. ومې ویل: کومې پوښتنې؟ ویې ویل: زما د پلار په هکله پوښتنې کوي.

یو ناڅاپه آپارتمان ته وردننه سوم. ددغو دوه وو تنو له جامو، خبرو او قلم او کاغذ څخه ښکارېدل چې په امنیتي ادارو پورې اړوند کسان دي. په مجردې چې سترګې ئې پر ما ولګېدلې د درناوي په علامت ئې یو لنډ حرکت وکړ. یوهٔ یې پوښتنه وکړه: څنګه راغلاست؟ ومې ویل: دا پوښتنه زه باید له تاسو وکړم. زه بارق شفیعي یم. دا زما د ملګري، استاد او زما د رهبر کور دی. زه تل د هغهٔ زیارت او لیدنې ته راځم. په پام کې ول چې نن شپه زما کور ته راسي، تر اوسه نهٔ دی راغلی، زه دلته ددې لپاره راغلم چې ددهٔ د ځنډېدلو علت باندې پوه سم. خو تاسو؟ یوهٔ ئې وویل: یوه پېښه رامنځته سوې او باید د پېښې په علت پوه سو. زه پوه سوم چې د استاد د ژوند او ځان په حق کې کوم جنایت تر سره سوی دی. ومې ویل: زه ځم چې خپلې جامې بدلې کړم، بېرته راځم.

ډاکټر نجیب ته ورغلم او ورته مې وویل: د یوهٔ انقلابي او زړور سرتېري په توګه ټینګ سه. استاد ئې شهید کړی دی. ژر تر ژره ملګري تره کي او ملګري کارمل ته خبر ورکړه. زه هم درځم.

یو ځل بیا د استاد آپارتمان ته لاړم او بیا له هماغو دوه وو تنو مستنطینو سره مخامخ سوم. ومې ویل: " ستاسو کار پای ته ورسېد؟ لاړ سئ خپل بادار ته وواياست چې تاسو ډېر ستر جنایت تر سره کړی دی، دا وینه بېده نهٔ پاتې کېږي او له هر چا مخکې به ستاسو ګریوان ونیسي." ددغو دواړو له منځه یو ئې راته رانېږدې سو او ورو ئې وویل: " ملګری بارق! هیله کوم آرام اوسئ. موږ تحقیق کوو."

استاد خیبر د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند یو له بنسټ ایښودونکو او ددغهٔ ګوند د لومړنی هستې یعنی د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند د جوړېدلو د تدارک د کمیټې یو له سازمان ورکوونکو څخه وو چې په ۱۹۶۳ز کال کې د انقلابي عمل ډګر ته ننوت. خیبر وو چې د همداسې یوهٔ ګوند د جوړېدو اړتیا ئې مطرح کړله. د ګوند د سیاسي بیرو او د مرکزي کمیټې اکثر غړي اعتراف کوي چې ددهٔ شاګردان ول او د هغهٔ د لارې په پیروی ویاړي. ټولو د استاد په نوم ورته درناوی درلود.

دا ادعا چې ګڼې استاد خیبر د «متحدې جبهې» د جوړېدو او د داؤود د «ملي انقلاب/ ملي غورځنګ» له ګوند سره د همکاری پلوی او ان دا چې د پرچم د فرکسیون د انحلال پلوی وو، سمه نهٔ ده. شک نهٔ سته چې هغهٔ له داؤود سره د ملي متحدې جبهې جوړېدل نهٔ ردول خو نهٔ د پرچم د فرکسیون په وجود کې د ګوند د انحلال په قیمت؛ ځکه په دې صورت کې د جبهې یوه خوا له منځه تلله او جوړېدل ئې ناشوني کېدل. نهٔ سي کېدای چې د داؤود له ګوند سره همکاري او ورسره د متحدې جبهې جوړېدل یوازې د استاد خیبرله لېوالتیاوو څخه وي، د ملي انقلاب /ملي غورځنګ د ګوند له ظهور څخه مخکې په «مرام دیموکراتیک خلق» کې راغلي دي: د حکومت بنسټیزه ستنه باید له ملي متحدې جبهې څخه جوړه وي چې د ملي استقلال، په ټولنیز ژوند د دیموکراسي د تعمیم او د امپریالیستي ضد، فیئوډالي ضد دیموکراتیک غورځنګ د پیاوړتیا په لاره کې مبارزه کوي.

که د وحدت د کنفرانس په درشل کې د خیبر او کارمل تر منځ د صمیمت او متقابل اعتماد نشتوالی او د خیبر، امین او تره کي د نېږدې والي په هکله د کارمل تشویش نهٔ سو کولای له پامه وغورځوو، نو له دې حقیقت څخه هم سترګې نهٔ سو پټولی چې د خلق او د پرچم د بیا وحدت په درشل کې په دولت او د ملي انقلاب په ګوند کې د داؤود او د هغهٔ د مرتجع ډلې ټپلې تشویش او اندېښنه په هېڅ وجهې د کارمل او د کارمل د یارانو له تشویش څخه لږ نهٔ وه. دغې سره لوې/ تب لرزه نهٔ یوازې داؤود او د هغهٔ مرتجعه ټوله مجموعه له پښو غورځوله بلکه د پخوا په شان د تېرو حکومتونو

لپاره د «تاج لرونکې ډیموکراسۍ د تحول په درشل کې» د شاهانه دولت د ارکانو لپاره د شدیدې اندېښنې سرچینه هم وه.

کارمل له هماغهٔ پیل څخه د خلق او د پرچم تر منځ وحدت ته لېوالتیا نهٔ درلوده او هغه ئې د ځان لپاره د گوند د رهبرۍ د انحصار ضد گڼهٔ. له دې کبله د بیلتون په کلونو کې ئې د وحدت غوښتنې د شعارونو تر سیورې لاندې د خپل انشعاب له ساتلو پرته بل کار ونهٔ کړ. د «وحدت له کنفرانس» وروسته ئې هم د پرچم فرکسیون عملاً وساتهٔ او هم به د رهبرۍ او سازماني وحدت له خبرې څخه په شا کېدهٔ.

د وحدت د کنفرانس د لاسوند له لاسلیکولو څو ورځې وروسته کارمل د استاد خیبر او سلطان علي کشتمند په حضور کې وویل: ملگری بارق ! له دې وروسته به بیاهم موږ خپل سازمان یعنی پرچمیان له خپلو موجوده تشکیلاتو سره وساتو ځکه چې د خلقیانو پر وحدت باندې چندان اعتبار نهٔ سته. ما وویل: موږ داسې کار نهٔ کوو. په واحد گوند کې که هرڅا د وحدت د اصولو خلاف کار وکړ نو د گوند د تګلارې پر بنسټ به ورسره چلند وکړو. کارمل په داسې حال کې چې د خپل سگرټ ایرې ئې په قهر د میز پر سر ایروني / «خاکستر دانی» کې وټکولې وویل: تاسو په پاریس کې مبارزه کوئ. دا افغانستان دی. ما وویل: په ایډیولوژیکو، رهبري او سازماني ډگرونو کې د کارگر د پاړکې یا طبقې د نوي مخکښ گوند د وحدت عام اصول او ضوابط هر چېرې یو دي. کارمل له ځایه پورته سو او وئې ویل: ښه ده، وینو به. زه به د تره کي رهبري ومنم خو نهٔ تاسو! (څرگنده ده چې زموږ ژوندون د هغهٔ د ادعا خلاف، په اثبات ورساوهٔ.)

استاد خیبر ماته مخ راتاو کړ او وئې ویل: تاسو خلک له وحدت څخه بیروئ، څه لازم چې اوبهٔ مو لا لیدلې نهٔ وي تاسو کوښې ورته له پښو ایستلي دي؟

نور «احمد نور» چې له ما سره ئې یو ځای ژوند کاوهٔ، یوه ورځ ئې د وحدت د کنفرانس په درشل کې په داسې حال کې چې خبرې اترې لا رواني وې او د پرچم د ډلې استازیتوب ئې کاوهٔ وویل: زموږ شخړه په واحد گوند کې د سیاسي بیرو د ترکیب په هکله ده. د خلقیانو له پلوه د تره کي، زیري، شاه ولي، پنجشیري او کریم میثاق وړاندیز سوی دی چې په دې باب موږ د ویلو لپاره څه نهٔ لرو خو موږ چې د کارمل، خیبر، کشت مند، نور«احمد نور» او لایق وړاندیز کړی دی په دوی کې تره کي د ملگري خیبر له غړیتوب سره په شدت مخالفت کوي. اوس موږ مجبور یو چې د مرکزي کمیټې یو بل غړی وروپېژنو. آیا ملگري فکر کوي چې یوازې تاسو کولای سئ د ملگري خیبر ځای ډک کړئ ځکه د واحد گوند په سیاسي بیرو کې ستاسو پر غړیتوب څوک مخالفت نهٔ کوي. ما وویل: استاد خیبر تر موږ او تاسو ټولو ډېر مستحق دی. د گوند د وحت بنسټ / تهداب نه باید کوږ کښېښودل سي او د هرې غوښتنې پر وړاندې دې شا ته تگ وسي. هغهٔ وویل: بله چاره نهٔ لرو. باید وحدت رامنځته سي. ما وویل: ښایي

«دوستان» نهٔ غواړي. وئې ویل: «دوستان» د نورمحمد تره کي له ناپوهۍ او د ببرک کارمل له بې تقوايي څخه اندېښنه لري.

د هماغې ورځې په ماښام مې دا موضوع له خیبر سره د هغهٔ په کور کې مطرح کړه. وئې خندل او وئې ویل: کارمل گومان کوي چې دا چالونه ددهٔ په درد لگېږي. دا تره کي نهٔ دی چې ما نهٔ غواړي دا کارمل دی چې گوندي وحدت نهٔ غواړي او ما پلمه گرځوي. ما ورته ويلي دي چې له دغو لوبو څخه دې لاس واخلي. زه  هېڅکله د گوند په سیاسي بیرو کې د غړیتوب داوطلب نهٔ وم او نهٔ یم. زه د گوند د بیا ځلي وحدت غوښتونکی یم. تر دې به بله کومه ښه خبره وي چې که ستاسو په غړیتوب سره په سیاسي بیرو کې وحدت رامنځته کېږي؟ نو ژر تر ژره ئې ومنه. په دې توگه په یوهٔ مکیز سره دوه کارونه تر سره کېږي. هم تاسو ته ستاسو حق دررسېږي او هم به وحدت رامنځته سي. خو تاسو؟ وئې ویل: غم ئې مه کوه. موخه د گوند وحدت ده نهٔ دا چې په لوړ ځای کې کښېناستل دې وي. زه تل له تاسو سره، د افغانستان د خلق له واحد ډیموکراتیک گوند سره یم. پوه سوئ؟

د هماغې ورځې په سبا ئې کله چې کارمل ته ورغلم، راته ئې وویل: تره کي په سیاسي بیرو کې د میر اکبر آغا له غړیتوب سره مخالفت کوي. په هغهٔ پینځه کسیز (له قومي اړخه – ژ) ملي ترکیب کې چې زموږ له پلوه وړاندیز سوی دی، د خلقیانو له پلوه د وړاندیز سویو ملگرو په پرتلې پښتانهٔ ډېر او تاجیک لږ دي باید پر ځای ئې د یو تن تاجک وړاندیز وکړو. ملگري ددې کار لپاره، تاسو تر ټولو نورو مناسب او وړ سړی گڼي. ما وویل: زه تل په گوند کې یو سپاهي وم او د مقام او دریځ په فکر کې نهٔ یم خو په دې باب کې زه استاد خیبر تر ځانه مستحق  او وړ گڼم. وئې ویل: یا خیبر یا هېڅ؟ ومې ویل خیر دې وي. د گوند وحدت له هر شي او له موږ ټولو مهم دی او استاد هم پر همدغې لیکې ولاړ دی. وئې ویل: سمه ده، سمه ده. زه پوه سوم.

پرته له دې چې ان یوه کلمه زموږ تر منځ کښته پورته سي خپل آپارتمان ته راستون سوم. لږ وروسته د وحدت د کنفرانس سند د رهبرانو او گوندي کدرونو په ۹۰ تنو باندې په دوه وو، یا له درې تر پینځه کسیزو ډلو باندې چې د تره کي استوگنځي ته بلل کېدل، لاسلیک سو.

کارمل د خپل پلان پر بنسټ، د پرچمیانو د انشعاب د دورې تشکیلات ورو ورو له ځان سره وساتل او مخفي ئې کړل. کارمل په پل سرخ کې د خپل کار په پخواني مرکز کې خپل د رهبري او دریځ په لاټینگ ساتلو او د استاد خیبر پر ضد د ناسمو تورنو په لگولو چې استاد ددغسې دریځ سخت مخالف وو پیل وکړ.


کله چې سرور یورش، د ډاکټر نجیب او مجید سرېلند په حضور کې د کارمل له پلوه همکارۍ ته وبلل سو د گوند د مرکزي کنترول کمیسیون ته ئې اعتراض او شکایت وکړ.

کارمل د – مرکزي کنترول د نوبتي رئیس - دستیگر پنجشیري د پوښتنې په ځواب کې وویل: په دې وروستیو کې حفیظ الله امین له خیبر سره نېږدې سوي دي تر څو ما چې ستاسو تر څنګ د امین پر ضدا واقع یم – تضعیف کړي. خیبر له ما سره اختلاف لري او غواړي ما په دغو تورونو نوم بدی او ضعیف کړي او ورڅخه ګټه پورته کړي. ("نګاهې به تأریخ ح دخ ا" قدوس غوربندی، ۴۹ پاڼه)

کارمل نهٔ وايي چې کومه ګټه او کوم تور. آیا دا کارمل نهٔ وو چې د زرهاوو هېوادپالو او شریفو انسانانو په حضور کې ئې له خیبر سره د خدای په امانۍ پر مهال د خیبر په سرو وینو کې لیت پیت قبر پر سر وویل: «خیبر د افغانستان د زیارکښانو بچی، د افغانستان د خلق د کړاونو او مبارزې بچی وو. خیبر د هېواد د زیارکښو مخکښانو د خوځون د لارې، د افغانستان د خلق ډیموکراتیک او د ټولو هېوادپالو انقلابي ځواکونو د اتحاد یو سرښندویه فداکار مبارز او هېواد پاله انقلابي وو.»؟

آیا کارمل د ګوند د وحدت مخالف نهٔ وو؟ آیا انتقاد او په واحد ګوند کې د «دوه ګونې او موازي رهبری» پر ضد مبارزه چې «په یوهٔ هېواد کې په یوهٔ نوم او یوهٔ مرام دوه ګوندونه» ناسم ګڼل کېږي او له انشعاب پرته بل څه ورڅخه نهٔ جوړیږي نا سم تور دی؟

> د "غروب خورشید" له لیکنې سره د غفار عریف د غبرګون لیکنه ولولئ چې له بدنیتیو او دښمینو ډکه لیکنه ده. دا لیکنه کولی سئ د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند د پرچم د فرکسیون د پلویانو په سایتونو کې لکه اصالت، پندار، راه پرچم او په سپیده دم کې وګورئ





میر اکبر خیبر، غرزی لایق، جنرال حکیم سروري

# په وینو لیت پیت جسد: کاغذي کفن

غـرزی لایـق

د ۱۳۵۷ل کال د وري د میاشتې د ۲۷ نېټې د شپې له دولسو بجو لږ مخکې د کارتۀ پروان په دوهم سړک باندې زموږ د کور اوسپنینه دروازه په شدت وټکول سوه. زموږ د کور د کوټې دروازې ته تر ټولو نېږدې ترینه ځوک زه وم. د کړکۍ له پاسه مې وپوښتل: څوک ئې؟ یو غږ پورته سو: «پلار دې په کور کې سته؟» تر هغې شپې چې زه د خوب بستر ته تلم پلار مې کورته له دباندې لا نۀ وو راغلی. ما ورته وویل چې پلار مې لا تر اوسه نۀ دی راغلی. ناآشنا سړي ټینګار وکړ چې دروازه ورخلاصه کړم. خو ما پرله پسې د هغه خبره رد کوله او نۀ مې غوښتل په نیمايي شپې کې د ناآشنا سړي پر مخ د کور دروازه پرانیزم. نا آشنا سړي وویل: خیبر پېژنۍ؟ ومې ویل: هو. وئی ویل: ټپي سوی دی او موږ مجبور یو د هغۀ د یوازیني قریب دوست په توګه څو خبرې له تاسو سره شریکې کړو. لطفاً مۀ ډارېږه. زه د کورنیو چارو د وزارت کارمند یم. دروازه پرانیزه.

ددې خبرې په اورېدو سره مې هډونه په ښورېدو سول، روحیه مې له لاسه ورکړه او لار او لوری راڅخه ورک سول. د مور د خونې پر لور لاړم او هغه مې راویښه کړه. همدلته مې پام سو چې پلار مې هم له دباندې راغلی او وېدۀ سوی دی. په هغو شپو کې زما د پلار بې خوبي ددې لامل کېدله چې د خوب له تابلیتونو څخه کارواخلي خو مجبور سوم چې هغه هم له خوبه راپاڅوم. هغه څه مې چې د دروازې له شا د نا آشنا سړي له خولې اورېدلي ول ورته وویل. وئې ویل: لاړ سه دروازه خلاصه کړه او وګوره چې څه خبره ده.

په کالهٔ کې زما له حضور څخه تر هغو څه مه وایه چې معلومه سي څه خبره ده. په مجردې چې دروازه مې پرانیستله یوهٔ ناڅرګند لاس په بیړې دباندې کش کړم ؛ ومې لیدل چې د پولیسو په جامو کې یو شمېر کسان زموږ د انګړ دديوالونو تر سیوري لاندې په کمین کې ناست دي.

هغهٔ سړي چې زه ئې د خپل ځان په لور دباندې کش کړی وم هماغه سړی وو چې د دروازې له شا ئې راسره خبرې کولې. د هغهٔ په شاوخوا کې څو تنه نور افسران هم ولاړ ول. بیا ئې وپوښتل: پلار دې په رښتیا په کور کې نهٔ سته؟ ورته مې وویل: نه. دغهٔ سړي د خپل ځان او د «محل» د سرمامور او د «محل» د جنايي پولیس له راپېژندلو وروسته وویل: میر اکبر خیبر د دولتي مطبعې څنګ ته د ناپېژاندو کسانو له خوا وژل سوی او جسد ئې د پېښې په ځای کې پروت دی. پولیس پوه سول چې تاسو د هغهٔ خپلوان یاست. موږ غواړو چې تاسو له موږ سره لاړ سئ چې جسد وپېژنئ او له هغه وروسته جسد عدلي طب ته لېږدول کېږي.

ددې خبر په اورېدو پرېښانه او لالهانده سوم او ومې ویل: څو شیبې صبر وکړئ چې له خپلې مور سره مشوره وکړم. کور ته ننوتلم او اورېدلې خبرې مې په ژبغړاندې او نښتې ژبې پلار ته وکړې. پرېکړه مو وکړه چې د پلار پر ځای به زه له پولیسو سره لاړ سم او جسد وپېژنم. پلار مې مشکوک وو او دا اندېښنه ورسره وه چې په دې کې کومه دسیسه نهٔ وي، له دې کبله زه تګ ته چمتو سوم.

موټر د عامې روغتیا له څلور لارې څخه ددولتي مطبعې پر لور تاو سو. څو شیبې وروسته د موټر له منځه زما سترګې په جسد ولګېدلې چې تر څراغ لاندې پروت دی. یو شمېر کسان مې د جسد شاوخوا ولیدل. موټر لږ وړاندې لاړ او ما ته ئې وویل چې دباندې راووځم. رېږدېدم او نهٔ پوهېدم چې څه اورم او څه وایم. زه ئې جسد ته نېږدې بوتلم. وېښتان ئې داسې بنجړ او په خاورو ککړ سوي ول چې تهٔ به وایې همدا اوس ئې له ګور څخه را ایستلی دی. ښکارېدل چې پر زړهٔ، ځیګر، پښتورګو او....، د ګولیو له لګېدلو وروسته د سړک د غاړې د ویالې څنګ ته پر ځمکه لوېدلی وو. فولادي رنګه دریشي ئې په خاورو ککړه سوې وه او د وینو څاڅکې ورباندې له ورایه ښکارېدل. هغهٔ ئې د پېژندلو لپاره د سړک غاړې ته له ویالې څخه راپورته کړی وو. په پیاده رو کې ئې له مطبعې څخه د سپینو کاغذونو یو کواړی چمتو کړې وه چې جسد په کاغذونو کې تاو او عدلي طب ته ئې ولېږدوي.

په هغو دردناکو او لنډو شېبو کې زما د سترګو له مخې د خاطراتو یوه نړۍ یادونه تېر سول: خیبر او د کورنۍ له ماشومانو سره د هغهٔ خوندورې ټوکې ټکالې، خوږې خنداوې ئې، زما ناروغه او کونډه سوې عمه، زما د ملګرتوب د شیبو دوست او ملګری توریالی،

یتیمانې سوې پلوشه، بربښنا او بې پلاره سوی زیارمل، لنډه دا چې هغه څه مې په سترګو کې تېر سول چې د ژوندانهٔ په آرامو شیبو کې چاته په یاد نهٔ ورځي....

هماغهٔ سړي چې زه ئې له خپل کور څخه رااخیستی او تر دې ځای پورې راوستی وم راڅخه پوښتنه وکړه: ستاسو د کورنۍ بل څوک غواړي چې جسد وویني که نه؟ ورته مې وویل: نه، همدا ما چې ولید کافي ده. وئې ویل: آیا ته ډاډه ئې چې دی میر اکبر خیبر دی؟ ومې ویل: هو، دی په خپله دی. وئې ویل: آیا پرته له تاسو بل څوک لري؟ پر خپل ټټر باندې مې یو عجیب شانته درونډ فشار احساس کړ. نهٔ مې غوښتل چیغې ووهم، نهٔ مې غوښتل اوښکې توی کړم، نهٔ مې غوښتل بیچاره ښکاره سم، خو زما له لاس او اختیاره هرڅه وتلي ول؛ د ویر او اوښکو په لړ کې مې وویل: تاسو به سبا وګورئ چې خیبر پر موږ سریېره نور څوک هم په دې نړۍ کې لري که نه. نوموړي ته چې په دغو شېبو کې زما احساس په کار نهٔ وو وئې وپوښتل: آیا موږ کولای سو جسد عدلي طب ته ولېږدوو؟ ومې ویل: هو. وئې ویل: کورنۍ ته مو وواياست چې جسد سبا ته له عدلي طب څخه تر لاسه کړي.

د همدغو خبرو په پای ته رسېدلو سره ئې زه په چټکۍ خپل کور ته راوستلم. په مجردې چې کورته ننوتم ومې لیدل چې پلار مې د تګ لپاره چمتو دی. پوه سوم چې د ټیلیفون له لارې له دې پېښې خبر سوی وو او د خیبر د ترور د پېښې په اړوند د بحث لپاره باید د ارواښاد نور محمد تره کي کور ته خوځېدلی وای. پلار مې زما خبرو ته غوږ ونیوهٔ او له ما څخه ئې وغوښتل چې د تره کي تر کور پورې ورسره په ګډه لاړ سم. دباندې ووتلو او د ټکسي په وسیلې مو ځانونه د تره کي کورته ورسول.

د وري د میاشتې د شپې دوه بجې وې چې له پلار سره مې په ټکسي کې په کارتهٔ چهار کې د ارواښاد نورمحمد تره کي کور ته ورسېدو. څو اونۍ مخکې وروسته له دې چې د خلق او پرچم وحدت تر سره سوی وو یو ځل د همدې کور تر دوازې پورې یوازې راغلی وم او د شولو د پوستکو یوه ډکه کڅوړه مې چې د مېرمن تره کي د کومې ناروغۍ د درملنې لپاره برابره سوې وه دلته راوړې وه.

د دروازې له ټکولو او د څو شېبو له انتظار وروسته تره کي دروازه خلاصه کړه. موږ د کور انګړ ته ننوتلو او له روغبړ وروسته دننه کور ته وبلل سوو. هغوی دواړه مخکې او زه ورپسې وم، د پوړۍ په یوې یا دوه پټو له ختلو وروسته د کالهٔ تنګ او زهیروونکي دالان ته چې تت او خړ څراغ ورته په سختۍ سره روښنايي وربخښله ننوتلو. ورپسې د ناستې خونې یا سالون ته چې کم رونا څراغ او د سګرټو لوګي په کافي اندازې تیارهٔ کړی وو وبلل سوو.

تره کی په سګرټ څښلو روږدي نهٔ وو خو موږ ته څرګنده سوه چې ارواښاد ببرک کارمل له ټولو مخکې د تره کي کور ته رسېدلی دی. کارمل په داسې حال کې چې غوټۍ غوټۍ اوښکې ئې پر غمبورو بهېدلې، زما پلار ټینګ په غېږ کې ونیوهٔ؛ ددوی د خبرو له منځه

همدومره پوه سوم چې کارمل ورته وویل: «لایق جانه! په دهٔ پسې ستا وار دی.» که رښتیا وwایم تر نن پورې ددغسې یوهٔ شفر په پرانیستلو کې چې جوهر ئې دغې لنډې جملې جوړاوهٔ، نهٔ یم بریالی سو. زما پلار د فقید کارمل له خولې دغسې یوه خبره په یاد نهٔ لري.

په سالون کې یوازې کارمل او تره کي حضور درلود. پلار مې دوهم سړی وو چې دغهٔ کور ته راغی. له همداسې یوهٔ روغبړ وروسته کارمل په داسې حال کې چې رپېږدېدهٔ مخ تره کي ته واړاوهٔ او وئې ویل: موږ به بې ځوابه پاتې نهٔ سو. سخت غبرګون به ښکاره کړو. تره کي د کارمل د خبرو په تأیید وویل: نه! موږ به شاتګ ونهٔ کړو. کارمل چې پاربېدلی وو په قهرېدلي ډول ئې مخ تره کي ته کړ او په لوړ غږ ئې وویل:تهٔ خو اصلاً د شاتګ خبره مهٔ کوه...

د دروازې په خولهٔ کې له دغو ټولو لنډو خبرو او روغبړ وروسته، ارواښاد کارمل په داسې حال کې چې په موټي کې ئې پیسې وې ما ته مخ راواړاوهٔ او وئې ویل: کاکا ئې جار سي! دغه پیسې واخله او ماته سګرټ راوړه چې خپل وروستي سګرټونه ووهم. د بېرته راتګ په لاره کې اناهیتا هم له ځان سره راوله.

حیران سوم چې په دې نیمه شپه کې د رهبر فرمان څرنګه تر سره کړم. په دې نیمې شپې کې یوه پرانیستې هټۍ له کومه کړم؟ له کوم ځایه سګرټ راوړم؟ د کارتهٔ چهار او پل سرخ او سرای غزني له لارو او کوڅو سره هېڅ بلد نهٔ وم. دا لومړی ځل دی چې رهبر تر آزموینې لاندې نیولی وم. له کالهٔ دباندې راووتلم او په هماغه نیمه شپه کې مې شاو خوا ټولې کوڅې ولټولې، نهٔ مې هټۍ وموندله او نهٔ مې سګرټ. سړکونه دومره آرام او بې شر او شور ول چې د خیبر په وینو کې د لیت پیت جسد له کتلو وروسته زما په ځان کې ئې د وېرې او وحشت احساس راپاروهٔ. ډېر ژر پوه سوم چې له آزمېښت څخه ناکام ووتلم.

په نیمې شپې کې د هټۍ او د سګرټو له لټون څخه نور لاس په سر سوم او ځان مې ددوهم هدایت ترسره کولو لپاره چمتو کړ او نیغ په نیغه د ارواښاد کارمل کور ته لاړم چې د سراي غزني د لارې په اوږدو کې د ابن سینا د دارالمعلمینو د سړک په ګردي یا ګولايي کې واقع وو. دوازه مې وټکوله. د کارمل صاحب مېرمنې- محبوبه جانې- دروازه پرانیستله. پوه سوم چې په نیمه شپه کې د غیر معمول غونډې په هکله ترهورې ده او خوب ئې له سترګو الوتی دی. هغې له ما څخه یو شمېر پوښتنې وکړې. ما وویل چې زه خبر نهٔ یم او کارمل صاحب هدایت راکړی چې اناهیتا له ځان سره ورولم. محبوبې جانې په هماغو هیجاني شېبو کې وخندل او وئې ویل: زویه! د کارمل منظور د هغهٔ لور اناهیتا نهٔ ده بلکه منظور ئې ډاکټره اناهیتا ده چې په پل سرخ کې د ګوند په مرکز کې اوسېږي. ومې ویل: ترورې! کارمل صاحب وویل چې اناهیتا له ځان سره راوله، وئې نهٔ ویل چې ډاکټر صاحبه اناهیتا د ګوند له مرکز څخه راوله. ما فکر کاوهٔ منظور ئې خپله لور ده. موږ دواړو وخندل. په بیړه د پل سرخ پر لور وخوځېدم. د ګوند د مرکز دروازه راته ښاغلي ځلمي

جهش پرانیستله او له دې چې پوه سو چې د څه لپاره راغلی یم وئې ویل چې ډاکټر صاحبه اناهیتا څو شیبې مخکې له ډاکټر نجیب سره د تره کي کور ته لاړه. په دې توګه له سګرټ او اناهیتا پرته د تره کي کور ته راستون سوم.

سالون په رابلل سویو کسانو ډک سوی وو. زه پوه سوم چې شهید نجیب الله، نور احمد نور او کریم میثاق د افغانستان د خلق ډیموکراتیک واحد ګوند د مرکزي کمیټې د پاتې ۲۹ اکثریت د لاسرۍ وړ غړو راټولو ته مؤظف سوي ول چې د بیړنۍ غونډې لپاره سره راټول او د نازل سوی ناورین په هکله ارزونه او پرېکړه وکړي.

په همدې ګڼه ګونډه کې مې ځان ښاغلي کارمل ته ورساوۀ او د خپلې بې کارګۍ ګزارش مې ورکړ. زما پر سر ئې لاس تېر کړ او وئې ویل: سګرټ مې پیدا کړل او اناهیتا هم راورسېدله. تۀ د سګرټو په پیسو ځان ته یو ټکسي ونیسه او خپل کور ته لاړ سه. په دې شیبې کې تره کي مداخله وکړه او وئې ویل: دا هلک نۀ باید په دې نیمې شپې کې په یوازې سر کور ته ولیږو، پرېږده چې دوه درې ساعته همدلته اوسي کله چې روښنایي سي بیا دې لاړ سي. ما دغه شپه د تره کي د زوی بللي «پسر خوانده» حمید په کوټه کې تېره کړه او د چای د چمتو کولو کار مې د مېرمن تره کي له لاسه واخیست. د سهار تر شپږو بجو پورې مې د چای دار باشي په توګه د غونډې غړو ته چایونه دمول.

**د ۱۳۵۷ل کال د غوایي د میاشتې د پینځمې خاطره:** سهار مهال ۹ بجې مخکې له دې چې له کور څخه د پولي تخنیک پر لور وخوځېږم ومې لیدل چې مور مې په داسې حال کې د میوې او ترکاري او... کڅوړې په لاسونو کې لري له بازاره کورته را روانه وه؛ له دې داسې ښکارېدل چې نن زموږ په کور کې کومه مېلمستیا ده. ومې پوښتل: مېلمانۀ لرو؟وئې ویل: هو! بیا غونډه ده

هره غونډه چې زموږ په کور کې جوړېدله د کارونو درونند پیټی ئې زما د مور پر اوږو وو چې باید له سهاره تر ماښامه په یوازې سر کار وکړي او د عالي قدرو میلمنو د دسترخوان په جوړولو به بوخته وه.

پلار مې د سالون په خونې کې د خپل کار د میز تر شا ناست وو او په لیکلو بوخت وو. نېږدې ورغلم او ورته مې وویل: اوس خپلو لوستونو ته ځم او لږ وختي بېرته راځم چې د خیبر صاحب کور ته لاړ سم او د فاتحې او د جمعې د شپې په خیرات کې له کورنۍ سره ئې مرسته وکړم. وئې ویل: ښه ده. خو ماښام د سیاسي بیرو ملګري راځي چې د استاد خیبر د جنازې د ورځې لپاره د راټولو سویو موادو، کسټ، ویناوو او عکسونو او د هغوی د خپرولو په هکله پرېکړه وسي. ښه به دا وي چې تۀ په کور کې اوسې او خپلې مور ته به دې د مرستې لاس ورکړې.

دا لومړی ځل وو چې د خلق ډیموکراتیک واحد ګوند لس کسیزې سیاسي بیرو خپله غونډه د ۱۳۵۷ل کال د غوايي د میاشتې په پینځمې نېټې زموږ کور کې جوړوله. ارواښاد نورمحمد تره کی، ډاکټر شاه ولي، عبدالکریم میثاق او صالح محمد زیری د لومړي ځل لپاره زموږ کور ته راتلل. ارواښاد ببرک کارمل، نوراحمد نور، سلطان علي کشتمند، بارق شفیعي او دستګیر پنجشیری لا مخکې زموږ کور لیدلی وو. د ترور د ماجرا له ورځو او د استاد خیبر د دفن او د فاتحې له مراسمو وروسته د سیاسي بیرو غونډه جوړېدله او باید د دې مسئلې په اړوند ئې د ګوند دریځ روښانه کړی وای.

کله چې بېرته کورته راستون او د کور انګړ ته ننوتلم په سالون کې دننه د خبرو اترو، بحثونو او د شور ماشور غږونه په آسانۍ د اورېدو وړ ول. له څو شېبو دمې نیولو او د ډوډۍ له خوړلو وروسته د زړو مکروریانو پر لور د خپلې عمه – د شهید خیبر- کورته چې په ۳۵ بلاک کې واقع وو وخوځېدلم.

تر ډېر ناوخته پورې خلک د فاتحې لپاره راتلل. عجیبو کسانو سره به مخامخ کېدلم. وروستنی ئې ارواښاد عبدالقدوس غوربندی وو چې د بېرته ستنېدلو پر مهال مې په ډېر درناوي د مکروریانو د پلۀ ترڅنګ پورې بدرګه کړ. ماښام مهال – د شپږو بجو په شاوخوا کې – د خپل اکا ارواښاد بشیر لایق په ملتیا کارته پروان کې د خپل کور پر لور پلی وخوځېدلم. د ماښام اووۀ نیمې بجې وې چې کور ته ورسېدلو. د غونډې ګډون وال ټول تللي ول. په کور کې دننه یوازې د سګرټو د لوګي بوی دماغونه ځوروول. پلار مې حضور نۀ درلود او ښکاره خبره وه چې له مېلمنو سره یو ځای دباندې وتلی دی. موږ نوي د دسترخوان پر غاړه ناست وو چې د کور دروازه وټکول سوه، که ګورو چې چاقو ساز طاهر له خپل کوچني خو پړسیدلي بکس سره په عجیب او غریب حالت کې له پلخمري څخه راغلی دی. د ماښام ډوډۍ مو یو ځای وخوړله او هغه څه چې پېښ سوي ول ما ورته وویل. د پلار راتګ ته سترګه په لاره وو.

د شپې ۹ بجې وې چې د کالۀ اوسپنینه دروازه وټکول سوه. ما فکر وکړ چې پلار مې کورته راستون سوی دی. ما وځغستل او غږ مې وکړ چې څوک ئې؟ ځواب ئې راکړ زه یم، دروازه خلاصه کړه. د پلار غږ مې واورېد او دروازه مې په بیړه پرانیستله.  یوۀ نا آشنا لاس په ټول شدت سره دباندې پلو ته کش کړم. سترګې مې د وسلوالو کسانو په کتار ولګېدلې چې ځانونه ئې په چټکۍ سره زموږ د کور د دیوال خوا ته پټ کړل. زموږ د کور د دروازې مخامخ د بلې کوڅې تر څلور لارې پورې د غرۀ پر لور تر هغو چې سترګو کار کاوۀ عسکري موټر په نظر راغلل. ډېره موده وروسته زموږ د کوڅې هلکانو راته نقل کاوۀ چې د ژاندارم او پولیسو او د اردو د موټرانو د کتارونو اوږدوالی د کارتۀ پروان د دوهم سړک تر ژیو پورې رسېدۀ. دلته پوه سوم چې د پلار د غږ په پېژندلو کې راڅخه خطا او تېروتنه سوې وه او دروازه مې پردي سړي ته خلاصه کړې وه.

هغهٔ سړي چې زه ئې دباندې کش کړی وم هماغه سړی وو چې د استاد خیبر د شهادت په شپه یعنی نېږدې یوه اونۍ مخکې هم دلته راغلی وو او زموږ د کور دروازه ئې ټکولې او زه ئې دباندې غوښتی وم. له دغهٔ سړي سره ډېر وروسته کله چې اروابشاد محمد اسلم وطن جار د کورنیو چارو د وزارت پر څوکۍ ډډه لګولې وه مخامخ سوم چې د وطنجار د سرپاور په توګه ئې دنده درلوده. ډنګر سړی وو، لوړه ونه او شنې سترګې ئې درلودې. دا سړی مې دومره بد ایسیدهٔ چې ددهٔ نوم مې هېڅکله خپلې حافظې ته ونهٔ سپارهٔ.

دا سړی دا ځل له ډېرو نورو کسانو سره زما په پلار پسې راغلی وو. وئې پوښتل: پلار دې چېرې دی؟ ومې ویل: په کور کې نهٔ سته. وئې ویل: درواغ وایې. د هغهٔ ټینګار ډېر سو. وئې ویل: نو چې داسې ده مجبور یو چې د کور تلاشي مو پېل کړو. ومې ویل: د قانون پربنسټ د کور د پلټلو لپاره تاسو باید د څارنوال امر له ځان سره ولرئ. وئې ویل: په خپله څارنوال صاحب له خپل امر سره همدلته حضور لري.

د «حسن خان باز» په نوم یو سړی ئې راته معرفي کړ. د انګړ د دوازې پر سر مو یو څړ څراغ روښانه وو او د همدې څړ څراغ په تتې روښنایۍ کې څارنوال صاحب راته یو غوښن او هډور سړی ښکاره سو چې غټه ګکره او د منځنۍ لوړوالي ونه ئې درلوده. لاس ئې اوږد کړ او کور ته د ننوتلو اجازه ئې وغوښتله. ما ته کومه بله لاره نهٔ وه پاتې مګر دا چې کور ته د ننوتلو اجازه ورکړم. دوی راغلل او امنیتي ځواکونو په بیړه د انګړ څلور ګوټونه او شاوخواوی ئې له دننه محاصره کړل. ان زموږ د کور بام ته هم پولیس وختل.

د ښاغلي حسن باز ډلې د کور بیا لټول پېل کړل. له کړو وړو ئې ښکارېدل چې په کوم چا پسې ګرځي. کله چې ډاډه سول چې پلار مې په کور کې نهٔ سته، حسن خان د «آمر قسم چهار» په شفري نوم یو ځای ته زنګ وواههٔ او ګزارش ئې ورکړ چې د لایق په کور کې نهٔ لایق سته او نهٔ مو بل څوک وموندل. پوه سوم چې په دې اندازې شمېر د پولیسو دغسې چټکه چاپه نهٔ یوازې لایق بلکه موخه ئې د سیاسي بیرو د هغو ټولو غړو نیول ول چې نن زموږ په کور کې سره راټول سوي ول. پولیسو د غونډې د پېل او د پای په وخت کې تېروتنه کړې وه او یا دا چې د داؤود واکمنې تر دې شېبې پورې د ګوند د مشرانو په نیولو کې شک او دوه زړې توب درلود. خو یوه خبره روښانه وه چې داؤود خان او د همکارانو ډلې ئې برید پېل کړی وو.

د حسن باز له ټیلفوني ګزارش او په کور کې د ټاکل سوې موخې له نهٔ موندلو وروسته د کتابونو، او څېرل سویو کاغذي پاڼو پلټل پېل سول او د شپې تر نیمایيو پورې ئې دوام وکړ. د لاسوندونو ډېری برخه چې زموږ په کور کې ساتل کېدله مخکې له مخکې بل چېرې پټه سوې وه. د پلټلو په پای کې د حسن خان باز سترګې د طاهر جان کارګر په بکس وموښتې او پوښتنه ئې وکړه: دا پړسیدلی بکس د چا دی؟ راوړئ چې زه ئې په خپله وګورم. سودایي سوم، ځکه چې نوموړي تل له ځان سره وسله ګرځوله او بکس ئې داسې

بڼه درلودله چې ته به واېې په بکس کې بمبونه پټ ایښودل سوي دي. کله چې بکس ئې خلاص کړ د ورځنیو اړتیا- توکو تر څنګ د تشناب د کاغذ یو لوی رول ئې راوایست؛ د شپې په هماغه ناوخته کې ئې ټول په خندا کړل. طاهر جان راته توضیح کړل چې د کابل – پلخمري د لارې په اوږدو کې تل د تشناب ستونزه وي او په همدې کاغذ خپله اړتیا رفع کوي.

له پلټلو وروسته پولیس دباندې ووتل او ټول لاسوندونه، کتابونه او کاغذونه او د راډیو او ټیلیفون دستګاه ئې هم له ځان سره یوړه او د کور په ټولو غړو باندې ئې له کالۀ څخه دباندې وتلو باندې بندیز ولګاوۀ. لنډه دا چې له باندنی نړۍ سره زموږ اړیکه ئې پریک کړه. زموږ د کور مخته د دروازې څنګ ته دوه تنه مؤظف سول چې له دباندې څخه زموږ اړتیاوې برابرې کړي.

دغې وضعې د غواېي د اوومې د مازدیګر تر پینځو بجو پورې تر هغو دوام وکړ چې ګاونډیانو زموږ د کور مخې ته درول سویو دوه وو کسانو ته وویل چې په ښار کې دننه جګړه ده او له دې چې واکمني بدله سوې نور دې ددې کورنۍ د آزار او ځور سبب نۀ ګرځئ. طبعاً چې د سپکو او د درندو وسلو د ډزو غږونو او د الوتکو الوتل هم ددې سبب سول چې دا دوه تنه د مازدیګر له پینځو بجو وروسته زموږ له ځورولو څخه لاس واخلي او په خپله مخه لاړسي.

د غواېي د اوومې د سهار پر اتو بجو زما د پلار ځرک ولګېد؛ پلار مې د غواېي د میاشتې د پینځمې په هماغې شپې چې پولیس ورته زموږ د کور په شاوخوا کې سترګې پر لاره ول ځان په داوطلبانه ډول پولیسو ته تسلیم کړی وو. ډېر وروسته پوه سوم چې پولیسو ته زما د پلار او د ښاغلي بارق شفیعي تسلیمېدل د حکومتي خلکو د اغفال لپاره د سیاسي بیرو د مخفي سویو غړیو په توافق چې لا تر دې دمه نۀ ول نیول سوي تر سره سوي دي. په دې توګه د غواېي اله ګوله/ آشوب جوړونکی «انقلاب» چې مخالفینو ئې د کودتا په نوم یاد کړ بریالی سو.



Laeq – Photo credit: F. Gharzai family album

سلیمان لایق، میر اکبر خیبر، سلطانعلي کشت مند، اناهیتا راتب زاد،
ببرک کارمل، نوراحمد نور، بارق شفیعي، جیلاني باختري، محمود بریالی

## "ستا ملګري به ستا غچ واخلي"

جنرال عبدالغني صافي عمرزی

د ۱۳۵۷ د وري په میاشت کې خان عبدالغفار خان د وزیر اکبر خان په روغتون کې تر درملنې لاندې وو، خیبر د عبدالغفار خان له عیادت وروسته په لومړیو مکروریانو کې د خپل کور پر لور پلی روان وو. یو ناڅاپه - په دوهمو مکروریانو کې - د دولتي مطبعې په جاده کې د ناپېژاندو وسلوالو تر برید لاندې راغی او په ډزو وویشتل سو. قاتلینو د پېښې له سیمې تېښته کړې وه.

ګوند ددغهٔ قتل مسؤولیت د دولت په غاړه اچاوهٔ خو په یو شمېر کړیو کې دا ګنګوسې خپرې وې چې ګڼي دا قتل د حفیظ الله امین د ډلي له پلوه تر سره سوی دی؛ نورو کړیو به ویل چې دا قتل ببرک کارمل کړی دی؛ ځکه چې خیبر د پرچم د ډلي یو مهم او د اعتبار وړ غړی او د پوهې خاوند وو او د کارمل رقیب ګڼل کېدهٔ.

د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند ته د هغهٔ له مرګ څخه پرېمانه ګټه په نصیب سوه خو همدغهٔ ګوند د خپلې واکمنۍ پر مهال نهٔ یوازې دا چې ددغهٔ ترور د عاملینو د موندلو لپاره کوم ګام اوچت نهٔ کړ بلکه د تره کي، امین او کارمل د واکمنۍ پر مهال ان د خیبر د مرګ له کلیزې څخه هم چا یادونه ونهٔ کړه. د ګوند مشرانو چې د خیبر د جنازې په ورځ او خاورو ته د هغهٔ د سپارلو په مراسمو کې غروې اوښکې/ د تمساح اوښکې تویولې له حکومت څخه ئې د قاتلینو غوښتنه کوله خو کله چې خپل حکومت ئې جوړ کړ بیا ئې د خیبر نوم لا په خولې رانهٔ ووړ.

په لومړني پلان کې د جنازې د مراسمو په هکله دا ټکي په پام کې نیول سوي ول: له دې چي خیبر د کمونیست په نوم شهرت لري ښایي د پل خشتي د جومات ملا امام د اخوان المسلین یا د هماغهٔ وخت د حکومت د لاسوهني له کبله د جنازې د لمانځهٔ د اداء کولو لپاره حاضر نهٔ سي- نو له دې کبله مولوي احمد جان سمنګاني – چي د خیبر باجه او د لایق اوښی کېدهٔ - چمتو سو چي د لزوم په صورت کې به دغه چاره پر غاړه واخلي.

زه چي هغه مهال د کابل د امنیه قوماندانۍ افسر وم، د امنیه قوماندان میرګل له پلوه مؤظف سوم چي په ملکي جامو کې د جنازې او تدفین په مراسمو کې ګډون وکړم او ګزارش چمتو کړم. زه لاړم او ومې لیدل چي د پولیسو ګڼ شمېر افسران، لوړ پوړي ملکي مأمورین او د کابل پوهنتون استادان راغلي او په جنازې کې ئې ګډون کړی دی. ما فکر وکړ چي ښایي زما په شان دوی هم کومه دنده اخیستې وي یا د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند غړي دي او یا هم د خیبر شخصي دوستان دي چي د خیبر له کوره د هغهٔ تر ګوره راغلي دي.

جنازه خاورو ته وسپارل سوه. په زرهاوو تنو ګډونوالو ګډون کړی وو. د حکومت له پلوه هېڅ ډول خنډ رامنځته نهٔ سو؛ د پولیسو امنیتي ځواک نهٔ وو.

میټینګ د نور محمد تره کي په وینا پېل سو. نوموړي د ګوند پښتو متن ولوست. دري متن د ډاکټر شاه ولي ولوست. په اعلامیه کې راغلي ول چي استاد خیبر د ګوند یو برجسته غړی په رڼا ورځ په عامه جاده کې د څو تنو وسلوالو تروریستانو له پلوه چي په جیپ موټر کې سپارهٔ ول په شهادت ورسېد. دا پېښه یو سیاسي قتل دی او مسؤولیت ئې دولت ته ورګرځي. مجرمین باید ژر تر ژره ونیول سي او د قانون منګولو ته دې وسپارل سي.

ورپسې ببرک کارمل خپله سیاسي وینا واوروله. کارمل د خیبر قبر ته په لاس اشاره وکړه او وئې ویل: " ژر به ستا ملګري ستا غچ واخلي." ورپسې سلیمان لایق، دستګیر پنجشیري او بارق شفیعي خپلې مرثیې ولوستلې. د میټینګ انانسر کریم میثاق وو.

په دې غونډه کې حفیظ الله امین د رهبرۍ د غړو په منځ کې نهٔ بلکه د ګډونوالو په منځ کې د یوې وني څنګ ته لیدل کېدهٔ. فضل الربي پژواک، خلیل احمد ابوي او ګڼ شمېر نورو ملکي او پوځي لوړ پوړو مأمورینو په غونډه کې ګډون کړی وو. د غونډې په پای کې اعلان وسو چي فاتحه د دوه وو ورځو لپاره د شاه دو شمشیرې په جومات کې اخېستل کیږي.

د وظیفې په پای کې مې د مارش او میټینګ په هکله عادي او لنډ راپور د کابل امنیه قوماندانۍ ته وړاندې کړ او د هغو ټکیو له یادولو مې ډډه کړې وه چي حکومت د

افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند پر ضد لا نور وپاروي. ‹جریانات پشت ِ پردۀ دو دهۀ اخیر افغانستان/ د سبا خپرونه، پېښور، د ۱۹۹۵ز کال د نوامبر میاشت.›



Photo credit: Night Letters, C.Sands & F.Qazizai, London, 2019 – p. 512

د میر اکبر خیبر د کور مخې ته: لومړی مکروریان ۳۵ بلاک - کابل/ ۱۹۷۸ز کال د اپریل نولسمه

‹د کرکې د ښیښې شاته منځنۍ مېرمن: د خیبر ماندینه د خویندو او خپلوانو په منځ کې›

## میر اکبر خیبر زموږ مجاهدو ورونو وواژۀ

## وحید مـژده

په ۱۹۸۰ز کال کې ګلب الدین حکمتیار تهران ته یو سفر درلود. هغه مهال په ایران کې د "حزب اسلامي افغانستان" نشراتي ارګان "راۀ حق" لیکلی ول: " خیبر د خلق د جناح په لاس وژل سوی دی." حکمتیار په یو شمېر خبرو کې چې ما هم هلته حضور درلود وویل: دا خبره سمه نۀ ده. خیبر زموږ د مجاهدو ورونو له پلوه په قتل رسېدلی دی.

کله چې پاکستان ته لاړم په پېښور کې مې یو څوک وموند چې قضیه کې ښکېل وو او د حزب اسلامي د اطلاعاتي دستګاه یو له مسؤولینو څخه وو. هغۀ وویل: زه هم د هغې ډلې غړی وم چې د حکمتیار له پلوه ئې د خلق د ډیموکراتیک ګوند د رهبرانو د وژلو دستور درلود. د عبدالصمد «کوچک» او ډاکټر لطیف په نومونو دوه کم عمره ځوانان هغه کسان ول چې دا نقشه باید ددوی په لاسونو پلې سوی وای. دواړو ئې د وسلې د کارولو روزنه لیدلې وه. د حکمتیار له پلوه ددغۀ دستور دلیل دا وو چې د انجنیر حبیب الرحمن له اعدام وروسته د «اسلامي نهضت» ورونه په پوځ کې بې ارتباطه سوي ول. مسلمانو افسرانو عقیده درلوده چې که کمونیستان کودتا وکړي نو د هغوی د بریا مخه به

ځوک ونۀ نیسي ځکه چې حساس نظامي پوستونه د هغوی په لاسونو کې ول. یوازینۍ لاره دا وه چې د خلق د ګوند مشران ووژل سي ترڅو لږ تر لږه کودتا شا ته ولوېږي. موږ د وخت په دې تنګسې کې بله چاره نۀ درلوده. کمونیستانو د داؤود د پرځولو پرېکړه کړې وه.

لطیف او صمد دواړه به د کابل د مکروریانو دهغې ودانۍ مخې ته کښېناستل چې ببرک کارمل په کې ژوند کاوۀ. دواړو به په لاسونو کې کتابونه نیول چې وښیي ګنې دغه ځای ئې د درس د لوستلو لپاره غوره کړی دی. دوی به ماسپښین مهال په بایسکل هلته لاړل او ماښام به له دې ځایه بېرته ستانۀ سول.

د ۱۹۷۷ز کال د آګست د میاشتې یوه ورځ چې لمر نوی کښېناستلی وو له هغۀ آپارتمان څخه چې کارمل په کښې مېشت وو یوه ښځه او یو سړی راووتل او له دې سیمې ووتل. دغه سړی کټ مټ کارمل ته ورته وو. صمد او لطیف ډاډه سول چې ټاکل سوی وخت رارسېدلی دی یعنی کارمل مېلمستیا ته لاړ او ژر به بېرته راسي. د شپې مهال وو چې دا ښځه او سړی بېرته راغلل؛ د ودانۍ دالان ته د ننوتلو پر مهال سړی د شا له خوا تر ډزو لاندې ونیول سو. لطیف وروسته ویلي ول چې دا سړی په هماغه لومړۍ ګولۍ پر ځمکه پرېوت خو ما څو ځلې نور ورباندې ډزې وکړې، ما لیدل چې د دالان پر فرش سویو ډبرو باندې ګولۍ لګېدلې او د اور بڅرکي ئې پورته کېدل. ما ګومان کاوۀ چې زما ګولۍ په هدف نۀ لګېږي خو په حقیقت کې دا ګولۍ لومړۍ ددغۀ سړي په ځان موښتلې او له بدن څخه په وتلو پر فرش سویو ډبرو لګېدلې.

دغه دوه تنه پرته له دې چې له کومې ستونزې سره مخامخ سي له دې ځایه د بایسکل په وسیلې ووتل. په سبا شپه ئې څرګنده سوه چې مقتول د آریانا پیلوټ انعام الحق ګران وو. له دې چې په هغو ورځو کې د آریانا پیلوټانو اعتصاب کړی وو، دا قضیه په اعتصاب پورې وتړل سوه؛ خو له دې چې ښايي د هغوی اصلي هدف ببرک وو نو ببرک له دې پېښې وروسته مخفي سو. لطیف او صمد هم د څو میاشتو لپاره مخفي سول.

په همدې مودې کې یو بل سیاسي ترور هم تر سره سو: د پلان وزیر علي احمد خرم د مرجان په لاس ووژل سو او اسلامي ډلې تورنې وبلل سوې. عجیبه ئې لا دا وه چې هېڅ اسلامي ډلې د خرم د قتل مسؤولیت پر غاړه وانخیست.

د ۱۹۷۸ز کال د مارچ په میاشت کې صمد او لطیف یو ځل بیا د کابل په مکروریانو کې راڅرګند سول. دا ځل ددوی هدف خیبر وو. هغوی د عادت له مخې د شپې له پلوه په هدف باندې برید کاوۀ. دا فرصت د ۱۹۷۸ز د اپریل د میاشتې په یوې ورځې د لمر له کښېناستلو وروسته برابر سو. خیبر د دولتي مطبعې څنګ ته تر ډزو لاندې راغی او له پښو وغورځول سو. لطیف او صمد یو ځل بیا د بایسکل په وسیلې وتښتېدل.

ځینو شهادت ورکړ چې د ډزو له اورېدلو وروسته ئې یو جیپ موټر لیدلی چې په چټکۍ سره له دې ځایه لېرې سو. سره له دې چې دا یو تصادف وو خو د قتل لړۍ پېچلې کوي. د خلق ډیموکراتیک گوند، د داؤود حکومت په دې قتل کې مقصر گڼي. د خیبر د جنازې مراسم په دولتي ضد لاریونونو واوښتل. داؤود د خلق او د پرچم د مشرانو د نیولو کېدلو امر ورکړ. کودتا پیل او بریالۍ سوه.

ډاکټر لطیف له کمونیستي کودتا وروسته د کابل له پوهنتون څخه ونیول سو او د نورو زرهاوو زندانیانو په شان په ۱۹۷۸ز کال کې په داسې حال کې په شهادت ورسېد چې استخباراتو نوموړی د خیبر د قاتل په توگه نۀ وو پېژندلی. صمد «کوچک» هم په وسلوال جهاد کې گډون وکړ او په پای کې په غزني کې هغه مهال چې غوښتل ئې د خلقي ملیشیاوو د کلا د دیوال له لارې یو بمب په خلقي ملیشیاوو وغورځوي کار ئې د خیبر د وژل کېدلو په شان معکوسه نتیجه ورکړه. هماغسې چې د خیبر په وژل کېدلو سره کودتا تعویق نۀ سوه بلکه لا چټکه سوه، په دې پېښې کې هم بمب وروسته له دې چې ددیوال په پورتنۍ برخې وموښلي بېرته په صمد راولوېد او وچاودېد. (۲۰۰۷ز کال د مې ۲۵ نېټه)

---

د خیبر د کورنۍ د غړو او د عدلي طب د راپور پر بنسټ د وحید مژده د لیکنې برعکس خیبر په ۷ یا ۸ گولیو وژل سوی وو. د مطبعې یو کارگر د خیبر کورنۍ ته ویلي دي چې: "په جیپ موټر کې سپرو وسلوالو کسانو څو ځلې په خیبر صاحب باندې ډزې وکړې او له سیمې وتښتېدل."

## میر اکبر خیبر او د حکمتیار حزب اسلامي

محمود: افغانستان ته د کمونیستي رژیم د راتگ په هکله مو څه فکر کاوۀ؟

گلب الدین حکمتیار: که داؤود اشتباه نۀ وای کړې، کمونیستانو ته گرانه وه چې واکمني په لاس کې واخلي. په هغه وخت کې موږ په اردو کې ډېر پیاوړي او منظم وو. کمونیستان په دې فکر کې ول: ښه به دا وي چې اسلامي غورځنگ او د داؤود حکومت دواړه په وسلواله نښته کې له یو بل سره لاس او گریوان سي او موږ به له فرصت څخه په گټه اخیستنې دواړه وټکوو او قدرت به په لاس کې واخلو.

حفیظ الله امین په یوې رسالې کې لیکلي ول: «موږ سترگې پر لار وو چې گڼې اسلامي غورځنگ به ئې د داؤود پر ضد راپیل کړي»، تر څو دوی تلویحاً له دې فرصت څخه گټه پورته کړي؛ خو زموږ افرادو د اکبر خیبر په نوم یو لوی متفکر کمونیست ترور کړ. د هغۀ د جنازې په ورځ زموږ د یوې ډلې غړو چې په ښار کې ئې فعالیت درلود هوډ درلود چې دغۀ لاریون کې چاودنه وکړي. په خواشینۍ چې د کابل د ښاري فعالیتونو مسؤول

ورته اجازه ورنهٔ کړه او دا ډېره لویه تېروتنه وه. تر هغو چې کمونیستانو د داؤود پر ضد شعارونه راپورته کول، اختلافات رامنځته سوي ول.

داؤود کمونیسټ مشران ونیول. یو شمېر لاسوندونه ئې هم ترلاسه کړل چې د عسکري کودتا پلان ئې درلود. کابل راډیو د شپې له پلوه اعلان وکړ چې ددوی افراد ونیول سول او لاسوندونه هم تر لاسه سوي دي او د نورو افرادو په هکله هم اقدامات تر سره کېږي.

په کمونیستانو پورې اړوند عسکري صاحب منصبان له دې اعلان څخه وډار سول او لاره او ګودر ورڅخه ورک سول. روسانو د افغانستان په وسلوال ځواک کې د روسي سلاکارانو له لارې پرېکړه وکړه چې کودتا پیل سي. د پوځي مستشارانو په ګډون عسکري صاحب منصبانو او ان یو شمېر روسي پیلوټانو چې له تاشکند څخه ئې الوتنه کړې وه د کودتا په عملیاتو کې ونډه واخیسته او د کابل شاوخوا عسکري قطعات ئې بمبارد کړل. یو شمېر ټانکونه هم راووتل. کودتا تر سره سوه او پر وړاندې ئې لنډمهالی مقاومت هم وسو. هغو کسانو چې زموږ له پلوه په اردو کې تنظیم سوي ول ګومان کاوهٔ چې ښایي دا اقدام د مسلمانانو له خوا تر سره سوی وي. هغوی په مجهول حالت کې راګیر ول: نهٔ ئې سوای کولی تأیید ئې کړي او نهٔ ئې سوای کولای پر وړاندې ئې مخالفت وکړي. کمونیستانو له فرصت څخه په ګټه اخیستنې کودتا وکړه او قدرت ئې په لاس کې واخیست. داؤود راوپرځول سو.

محمود: تره کي راغی، هغه ئې له منځه یووړ. امین راغی، ببرک راغی. علت څهٔ وو.

حکمتیار: په هغهٔ وخت کې موږ منظم وو او روزل سوي کسان مو درلودل. په وسلوال ځواک کې زموږ کار هم له هیله مندیو ډک وو. د غوایي د میاشتې په اتمې نېټې مو وسلوال مقاومت په لوی مقیاس پیل کړ. زموږ د عملیاتو لمنه پراخه سوه. د اتلسو میاتو په لړ کې د وسلوال ځواک ډېری برخه له مجاهدینو سره یو ځای سوه. د هغو صاحب منصبانو شتون، چې موږ پخوا تنظیم کړي ول، سره له دې د رژیم په نسکورولو ونهٔ توانېدل، د غورځنګ په ګټې په سترو کارونو د ترسره کولو لامل سول. د اتلسو میاشتو په لړ کې ټول وسلوال ځواک تقریباً له منځه لاړ. ټول له مجاهدینو سره یو ځای سول. ټولې ولسوالۍ او علاقه داری آزادې سوې.

د همدغو ماتې خوړلو په لړ کې، د کمونیستانو په ډلې کې – د خلق او پرچم تر منځ – اختلاف رامنځته سو. ببرک او نجیب او... د سفیرانو په توګه له هېواده دباندې ولېږل سول. وروسته د امین او تره کي ترمنځ نفاق ولوېد. روسانو غوښتل امین له منځه یوسي او د اختلاف د لېرې کولو لپاره د تره کي او ببرک تر منځ ائتلاف رامنځته کړي. دوی ګومان کاوهٔ چې امین د اختلاف بنسټیز علت دی. پرېکړه په مسکو کې وسوه. د تره کي د سفر یوهٔ ملګري امین ته خبر ورکړ:«ګڼې په مسکو کې پرېکړه سوې چې تا له منځه یوسي.» په دې توګه د خلق په باند کې شدید اختلافات رامنځته سول. رژیم داسې حالت ته رسېدلی وو

چې نن یا سبا ئې سقوط کاوهٔ. په نظام کې هېڅ شی نهٔ ول پاتې. روسانو احساس کړه چې رژیم نور د پایښت وړ نهٔ دی او که مداخله ونهٔ کړي او خپل ځواکونه راونهٔ لیږي، «اسلامي – ژ» غورځنګ بریالی کېږي. له دې کبله «روسان- ژ» مجبور سول چې خپل ځواکونه افغانستان ته واستوي.

(«د افغانستان د حزب اسلامي له امیر، حکمتیار سره د ترکي ژورنالیست محمود، د مصاحبې رساله» خپرندوی: د حزب اسلامي افغانستان د فرهنګي ارشاد د ریاست د نشراتو آمریت، د «شفق» د مجلې د ادارې په اهتمام: تېراژ: لس زره، د خپرېدلو نېټه: د ۱۳۶۶ل کال د کب میاشت: د ۱۹۸۸ز کال د فبرورۍ میاشت.)[1]



**«خدایه ! خدایه !**

**ما په دنیا او آخرت کې بې پته نهٔ کړې»**

[1]- ددغې رسالې د چاپ نېټه یعنی د ۱۳۶۶ل کال د کب میاشت د باور وړ نهٔ ده. که له محمود نومي سره د حکمتیار ناسته د ۱۹۸۸ز کال په پیل او یا ان د ۱۹۸۷ز په دوهمه نیمايي کې سوي وي، باید د نجیب الله له مشرتابهٔ څخه ئې هم یادونه کړې وای. ژورنالیست له دې پوښتنې: «تره کي راغی هغه ئې له منځه یوور، امین راغی، ببرک راغی. علت څه وو؟» ولې د نجیب له ولسمشرۍ څخه یادونه نهٔ کوي.

د همدې رسالې د پوښ پر مخ لیکل سوي دي: «ښاغلی محمود ترکي ژورنالیست» خو همدا «ژورنالیست» په ۷۶ پوښتنې کې خپل هویت داسې څرګندوي: «د یوهٔ پاکستاني په توګه غواړم پوه سم چې د افغانستان له آزادۍ وروسته د افغانستان او پاکستان تر منځ اړیکې به څرنګه وي؟ د پښتونستان مسئله به په څه ډول سي؟ څکه چې انګلیسانو دا قضیه زموږ او تاسو تر منځ خلق کړې ده؟

د حکمتیار یوهٔ پلوي فدا محمد فایض سیاسنګ ته وویل: د همدې رسالې د چاپ په سبا ورځ ئې عبدالرحیم خنجر، فضل مولا لټون او زه – د حزب اسلامي د ارشاد او فرهنګ مسؤولین – د رسالي پر پوښ باندې د ښاغلي محمود د نوم تر څنګ د «ترکي» د نوم د نهٔ په پام کې نیولو او په متن کې دننه د «یوهٔ پاکستاني په توګه» د سهوي عبارت د نهٔ سانسور کولو په تور توبیخ او د «شفق» په جریده کې له کار کولو څخه وشړل سوو. دغه رساله د پېښور له اکثریتو کتاب پلورنځیو څخه راټول او اور ورته واچول سو. خو حزب اسلامي په دې بریالی نهٔ سو چې د همدې رسالي هغو نسخو ته لاسرسی ومومي چې خلکو او غیر حکومتي سازمانونو پلورې وې. (پېښور، پاکستان، ۱۹۹۹ز کال سپتمبر)

هغه مهال چې عبدالکریم میثاق د افغانستان د خلق ډیموکراتیک گوند په بنسټ ایښودونکې / مؤسسه کنگره کې گډون وکړ، ۳۳ کلن وو. ددهٔ د زامنو په وینا، نوموړی په هماغه غونډه کې «د مرکزي کمیټې د علی البدل غړي په توگه وټاکل سو او د مداومو او نهٔ ستړي کېدونکو مبارزاتو په لړ کې د سیاسي بیرو تر غړیتوب ورسېد؛ د غوایي د انقلاب له بریالیتوب وروسته ئې د افغانستان د ډیموکراتیک جمهوریت د مالیې د وزیر په توگه دنده تر سره کړه. (خاطره ها:گپ های از گذشته: سرگزشت سیاسي عبدالکریم میثاق./ ۲۰۲۲. ۲۵ پاڼه)

میثاق د زندان او کورناستۍ د یوې دورې له تېرولو وروسته په ۱۹۸۹ز کال کې د کابل ښاروال سو، په ۱۹۹۰ز کال کې اروپا ته لاړ او د ژوند تر پایه هلته پای سو. نوموړی چې د ۱۹۵۰ز لسیزې له لومړنیو کیڼ اړخو څخه دی وایي: ډیموکراتیک گوند دا خبره نهٔ پېژوله چې موخه ئې د یوې سوسیالیستي ټولنې جوړول دي. ("افغانستان در قرن بیستم" ۱۳۱ پاڼه؛ مجموعهٔ برنامه های BBC، ظاهر طنین،۲۰۰۵ ز)

"خاطره ها/ گپ های از گزشته" د میثاق دوه ویشتم اثر دی چې داسې پېل کېږي:

«لویه خدایه! ستا له دربار او له عظمته ډک حضور څخه هېڅ شی پټ نهٔ دي. ددغهٔ عاجز او گناه کار بنده له حال او احول څخه په بشپړ ډول خبر لرې او په یقین سره پوهېږې چې زه هېڅ وخت او په هر حالت کې بې خدایه نهٔ وم. هو! له ما څخه خطاگانې او گناه گانې سوې دي خو ستا بخښنې او مهربانۍ مې تل غوښتي او په تواضع سره ستا له حضور څخه د عفو غوښتونکی سوی یم او بخښنه مې غوښتې ده.

لویه خدایه! یقین لرم چې ستا له حضور څخه دا خبره پټه نهٔ ده چې خپل هېواد او خپلې پرگنې راباندې د زړهٔ له تله گرانې دي او له هر ممکنه فرصت څخه چې راته برابر سوی دی ما ورته صادقانه خدمت نهٔ دی سپمولی او وبه ئې نهٔ سپموم. کوم کړاونه، دردونه، سپکې سپورې، تورونه نهٔ ول چې ما د خپل ولس او هېواد لپاره ونهٔ زغمل.

په هر حالت کې چې اوسم نهٔ سم کولای خپل هېواد او ولس هېر کړم، خو زما په گران هېواد کې باندنې ښکېلاک او کورنې استبداد داسې وضعیت رامنځته او هېواد مې د اور په لمبو او سرو وینو کې دومره ډوب کړ چې د هر وجدان لرونکې او د عاطفې خاوند انسان ته د عملي خدمت کولو لارې تړوله له منځه تللې دي. په همداسې یوهٔ وضعیت کې که څوک له هر لوري یو دریځ ونیسي نو د ولس د قاتلانو په کتار کې به ودرېږي. ومې نهٔ سوای کولای دغه ناورین ځپلی او غمجن وضعیت نور وزغمم. له هر شي تېر سوم او هڅه مې وکړه ددومره ستړې نړۍ په یوهٔ گوټ کې یو ځای ومومم او وکولی سم خپل د سترگو لیدلی حال، اوربدل سوې خبرې او خپلې تبصرې ولیکم. د ناروغۍ په حالت کې یم او په داسې حال کې د خوب لپاره یوهٔ آرام ځای، کافي خوراک، مناسبو

جامو، د لیکلو وسایلو او روحي آرامۍ ته اړتیا لرم دا کار مې په دې هیلې پېل کړ چې هېواد او هېواد والو ته مې یو خدمت تر سره کړی وي.

لویه خدایه! ما ته په دې کار کې توفیق او توان راکړه چې امانت لرونکی او دقیق اوسم. په لیکنو کې مې حب او بغض دخیل نهٔ سي او حافظه مې په دې ډول راسره مرسته وکړي چې د سترګو لیدلي حالونه او هغهٔ څه مې چې اورېدلي په حقیقي ډول د کاغذ پر مخ راوړم او خپلې تبصرې مې د خپل فکر او شننې پر بنسټ ولیکم.

لویه خدایه! ما ته ژر تر ژره روغتیا او په کار کې توان عنایت کړه. لویه خدایه! ما، زما کورنۍ او زما د اعتماد وړ دوستان په دنیا او آخرت کې بې پته، بې عزته او لالهاند نهٔ کړې. آمین. قضاوت په لوستونکي اړه لري. (عبدالکریم میثاق، لندن، د ۱۹۹۰ز کال د نوامبر ۳۰)

پوښتنه: د ۱۹۶۵ – ۱۹۹۰ز کال تر منځ د ۲۵ کلونو په لړ کې کله چې د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند یو له بنسټ ایښودونکو څخه –میثاق- د «مورني ګوند» "مشرانو او د ګوند لار رویانو" ته له خپل ایډیالوژیک اعتقاد څخه یادونه کوله او ویل ئې: موږ کوښښ او هڅه کوو چې د ملګرو تر منځ هر ډول بې اعتمادي له منځه لاړه سي، د ګوند ټول غړي باید د ګوند سازماني اصولو او د ګوند ایډیالوژیکو اصولو ته مطیع اوسي او د ملګرو په هکله د قضاوت معیار دې نهٔ دا چې د شخصي ذهنیت پر بنسټ بلکه له اصولو سره سم چلند وي. موږ ډېره هیله درلوده چې زموږ ګوند دې د یوې نجیبې او تربیت لرونکې کورنۍ په شان وي او د کورنۍ ټول غړي دې د ګوند د تګلارې ګردچاپیره په صادقانه ډول راټول سوي وي.» (۱۵۹ پاڼه) آیا د میثاق موخه د هغهٔ له پټ اسلامي ایمان څخه وه یا څرګنده سوسیالیستي ایډیالوژي؟

د «خاطره ها/ ګپ های از ګزشته» په کتاب کې به وګورو چې میثاق د همدغو لالهاندیو په ترڅ کې د خیبر په ګډون، د ګوند د ډېریو مشرانو د ژوند او مرګ په بل ډول شرحه کوي. څو بېلګې ئې دلته را اخلو:

۱. [۱۹۶۴ز کال د جنورۍ د میاشتې لومړۍ]: د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند په کنګره کې بل ټکی چې یاد سو د میراکبرخیبر موضوع وه. په دې هکله وویل سول چې: خیبر له موږ سره دی، خو له دې چې نوموړی د پولیسو صاحب منصب دی، وئې نهٔ سوای کولی په کنګره کې ګډون وکړي.» [۳۹ پاڼه]

۲. [۱۹۶۷ مارچ]: د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند په دوه وو سازمانونو منشعب سو چې په عین نوم او د ګوند د سازماني او ایدیالوژیکو پر بنسټ ئې فعالیت کاوهٔ، د تره کي جناح خپل د رهبرۍ په ترکیب کې چې د انشعاب له کبله دیخوا راغلی ول لاس ونهٔ واههٔ، خو د کارمل جناح اناهیتا راتب زاد او میر اکبر خیبر د خپلې رهبرۍ په

ترکیب کې شامل کړل. تره کي ویل چې خیبر او اناهیتا اصلاً د گوند غړي نهٔ ول او مورږ ئې اصلاً د رهبرۍ د غړو په توگه نهٔ پېژنو. کارمل ټینگار کاوهٔ چې هغوی زمورږ د رهبرۍ د هیأت غړي دي.» (۷۳ پاڼه)

۳. خلقیانو «[له انشعاب وروسته] د پرچمیانو درې بنسټیز غړي – ببرک کارمل، میر اکبر خیبر او اناهیتا راتب زاد- د مشرتابهٔ خو پرېږده چې ان د گوند د غړو په توگه نهٔ منل او استدلال ئې کاوهٔ له دې چې کارمل د مرکزي کمېټې له غړیتوب څخه استعفا ورکړې ده نو له دې کبله د مرکزي کمېټې غړی نهٔ دی او خیبر او اناهیتا خو اصلاً د گوند غړي نهٔ دي.» (۸۰ پاڼه)

سیاسنگ: که د گوند په بنسټ ایښودونکې / مؤسسه کنگره کې د مرکزي کمېټې د ۷ اصلي او ۴ علی البدل غړو په منځ کې د خیبر د عدم حضور توجیه یاده سوې وي نو له هاغې غونډې درې کاله وروسته د افغانستان د خلق ډیموکراتیک گوند د انشعاب پر مهال څنگه تره کي وکولای سول ووايي: "خیبر اصلاً د گوند غړی نهٔ وو"؟ یوازې دوه غوراوي کېدای سي سم وي: یا دا چې رهبر په لوی لاس او په څرگنده درواغ وايي او یا دا چې راوي په نقل قول کې صادق نهٔ دی.

د افغانستان د خلق ډیموکراتیک گوند د هر بل لیکوال په پرتلې میثاق له میر اکبر خیبر سره د ببرک کارمل او نور احمد نور جړې راسپړلي دي او هر ځل ئې په لاندې ډول تر پوښتنې لاندې نیولي دي:

• «ما[میثاق] څو ځله له خیبر، نور [احمد نور] او غوربندي سره د خلق او د پرچم د دواړو جناح گانو د وحدت په هکله خبرې کړې دي. یو دوه ځله مې له کارمل سره هم خبرې وکړې. څرگنده سوه چې کارمل له وحدت سره د زړهٔ له تله لېوالتیا نهٔ لري. کارمل هڅه کوله چې تره کي په یو ډول نهٔ په یو ډول تخریب کړي او خلقیان ځانته جذب کړي. تره کی هم کله چې له لایق یا خیبر یا نورو پرچمیانو سره مخامخ کېدهٔ هڅه ئې کوله چې هغوی د کارمل له څنگ څخه بیل او ځان ته ئې جذب کړي. د کارمل او تره کي نیتونه د خلق او د پرچم د وحدت رامنځته کېدل نهٔ ول، هر یوهٔ هڅه کوله بله خوا له ځان سره یو ځای کړي. هېڅ څوک له خپلې لومړۍ طرحې څخه نهٔ په شا کېدهٔ او دې ته حاضر نهٔ وو چې د وحدت په پار دې له ځانه نرمښت څرگند کړي.» (۸۱ پاڼه)

• «د تشکیلاتو کمیسیون زما او د صالح محمد زیري د طرحې پر بنسټ موافقه وکړه چې د هغو سیاسي ډلو د وحدت په هکله سیاسي بیرو ته یو وړاندیز وړاندې کړي چې زمورږ د گوند په سازماني او ایډیالوژیکو اصولو اعتقاد ولري. سیاسي بیرو د تشکیلاتو کمیسیون ته اجازه ورکړه چې په دې هکله دې کار وکړي. ما او زیري له "گروه کار"،

"جمعیت زحمت کشان" او د "طاهر بدخشي" له ډلې سره اړیکه ونیوله او د وحدت په هکله مو خبرې اترې پیل کړې.

موږ ژمنه کړې وه چې د ملي ډیموکراتیکو ځواکونو د وحدت لپاره هڅه کوو او د هر خنډ پر ضد به نهٔ ستړي کېدونکي مبارزه کوو. د همدې روحیې پر بنسټ مو خپل کار پر مخ بیوهٔ او د سیاسي بیرو د اکثریت له پلوه تأییدکېدلو. موږ کوښښ کاوهٔ چې په ګوندي اصولو ولاړ اوسو نهٔ دا چې په کوم شخص او یا جناح او فرکسیون پورې اړه ولرو او د ګوند هر منفرد غړی په همدې موضوع پوه کړو. خو کله نا کله نور «احمد نور» په ماهرانه ډول هڅه کوله چې موږ د کارمل خواته راوکاږي او د هغهٔ شخصیت موږ ته برجسته کړي او د اصولو پر ځای موږ پر هغهٔ باندې معتقد وګرځوي. د «نور خسر» بارق شفیعي په دغسې موضوعاتو کې له نور «احمد نور» سره نهٔ وو.

په نور «احمد نور» کې تل د خیبر په هکله اندیښنه او تشویش لیدل کېدهٔ. هېڅکله ئې د خیبر په هکله په څرګنده څه نهٔ ویل، خو په یو ډول نهٔ یو ډول ئې غوښتل زما پام خیبر ته واړوي. یعنې موږ ئې پوهولو چې هوښیار اوسئ چې خیبر کوم غیر اصولي دریځ ونهٔ نیسي. نور «احمد نور» به کله ناکله له خیبر سره لیدل او په خپلو ګزارشونو کې به ئې ښودل چې له خیبر سره د هغهٔ لیدهٔ کاتهٔ ددې لپاره دي چې پوه سي خیبر له وحدت وروسته څه ډول روحیه لري، آیا له دې چې سیاسي بیرو ته نهٔ دی راغلی کوم نامطلوبه احساس ورته نهٔ دی پیدا سوی.» (۱۴۲ – ۱۴۳ پاڼې)

- «یوه بله پوښتنه رامنځته سوه: کارمل ولې دومره کسان چې یو شمېر ئې د مرکزي کمیټې غړي ول ځانته رابللي دي، حال دا چې د ګوندي دندو له اړخه هغوی هېڅ په کارمل پورې اړه نهٔ لري. له بل لوري، ولې دوی ټول پخواني پرچمي ملګري ول؟ کارمل په دې هکله ویلي ول: ما هغوی نهٔ دي راټول کړي. هر یو ئې جلا جلا زما لیدلو راغلی دی او ما د وحدت په هکله ورسره خبرې کړې دي.

هلته حاضرو کسانو د کنترول د کمیسیون پوښتنو ته یو شمېر خبرې کړې وې چې یو شمېر خبرې ئې د کارمل د خبرو تأیید وو. کمیسیون دا ځل کارمل ته د «اخطار» سزا واوروله تر څو په راتلونکې کې له دا ډول فرکسیون بازیو او غیر اصولي خبرو څخه په کلکه ډډه وکړي چې وحدت ته تاوان رسوي. دې موضوع د کارمل اعتبار ته تاوان ورساوهٔ او دی ئې د مرکزي کمیټې او د ګوند د غړو په منځ کې کم وزنه کړ؛ خو نور «احمد نور» دا خبره د خیبر توطئه ګڼله. نوموړي قدوس غوربندی او سرور یورش د خیبر په ډلې کې شمېرل.

د کارمل په ډلې کې دغه کسان ول: نور «احمد نور»، سلطان علي کشتمند، اناهیتا راتب زاد، محمود بریالی او عبدالوکیل. کارمل په دې بریالی سوی وو چې د نور«احمد نور» په مرستې بارق شفیعی او ډاکټر نجیب د ځان په لور راوکاږي. دا ډله ډېره فعاله، دقیقه او

سیاست بازه ډله وه. تل ئې د سیاسي دفتر، مرکزي کمیټې، د فعالو کدرونو او تقریباً د ګوند ټولو مخورو خبرو، حرکاتو او ارتباطاتو او ډېرو جزئیې شیانو ته پاملرنه کوله.حال دا چې د رهبري او صفوفو نور غړي داسې نهٔ ول.» (۱۵۶ پاڼه)

● «نور احمد نور داسې کړهٔ وړهٔ کول لکه چې دنده ئې اخیستې وي چې خیبر تل تعقیب کړي، د هغه کور ته به ورغی او غوښتل ئې خیبر راضي وساتي. بیا به ئې له خیبر سره د خپلو لیدو کاتو په هکله موږ ته وویل او داسې به ئې ښودله چې تل خیبر تر څار او پام لاندې وساتو او کړهٔ وړهٔ او حرکات ئې بابیزه ونهٔ ګڼو. حال دا چې موږ غوښتل د مرکزي کمیټې او ګوند له ټولو غړو سره اصولي چلند ولرو، تر هغو چې هغوی د پرچمیانو په مشرتابهٔ یا رهبرۍ کې ول موږ د هغوی له خپل منځي قصو څخه په تفصیل خبر نهٔ وو، خو اوس ښکاري چې د کارمل ډله له خیبر څخه یو ډول ویره او تشویش لري.» (۱۵۸ پاڼه)

● «د خیبر او کارمل اړیکې ښې نهٔ وې. هغه مهال چې د خلق او پرچم وحدت رامنځته سوی وو، د خیبر له خولې د کارمل او د هغهٔ د ډلې په هکله داسې څه نهٔ ویل کېدل چې غیر اصولي وي، خو د کارمل ډلې له خیبر څخه یو ډول تشویش درلود او له دې چې موږ له نور «احمد نور» سره ډېره همکاري درلودله نو ددغو تشویشونو زونګې به مو په یو ډول د هغهٔ له خولې څخه اورېدلې.» (۱۵۸ پاڼه)

● «وړاندیز سوی وو چې د ګوند د کلیزې لمانځنه دې په سیاسي دفتر کې د عمومي منشي له پلوه ونیول سي. ډاکټر شاه ولي او نور «احمد نور» دې ولاړ سي او د سیاسي بیرو راپور دې د شرعي او وکیل په کورونو کې د مرکزي کمیټې غړو ته ولولي او بېرته دې راستانهٔ سي. (د شاه ولي کور په خیر خانې کې او د نور «احمد نور» کور په مکروریانو کې وو.) نور وویل: د وکیل په کور کې د مرکزي کمیټې د نورو غړو په منځ کې د مرکزي کمیټې دوه تنه غړي د پام وړ ول. امین او خیبر. هغوی به په معنی دارو او صمیمانه کاتو یو بل ته کتل.» (۱۵۸ پاڼه)

● عبدالوکیل هم په خپل وار، مالي او تشکیلاتي کمیسیون ته د هماغې غونډې راپور چې ددهٔ په کور کې جوړ سوې وو په تفصیل او جزئیاتو ورکړ. البته وکیل مکلفیت نهٔ درلود موږ ته راپور راکړي خو نور «احمد نور» نوموړی له ځان سره راوړی وو او هیله ئې درلوده چې خبرې ئې واورو. وکیل قصه وکړه چې دې غونډې کې یاسین بنیادي، قیوم نورزي، سرور یورش، حفیظ الله امین، میر اکبر خیبر او... څه وویل، چا، و چا ته څرنګه په څه ډول کتل، شعارونه څه ډول ورکول کېدل، څه حرکات تر سره کېدل او نورې خبرې چې موږ ورته لېوالتیا نهٔ درلودله. موږ ته د تعجب وړ خبره وه چې ولی نور «احمد نور» او وکیل د ملګرو په شخصي مسایلو کې دومره لېوالتیا لري. د بېلګې په توګه، وکیل وویل: خیبر له امین څخه د زرغون په هکله وپوښتل. امین وویل: زرغون

زموږ د خلقیانو غړی نهٔ وو. بنیادي وویل: نوموړی په دې وروستیو وختونو کې د آزمایښتي دورې په تېرولو پسې د ګوند غړی سوی دی؛ د تشکیلاتو ملګري په دې خبره پوهېږي. امین، خیبر ته په معنی دارو کاتو وکتل او وئې ویل: څه وکړو؟ زور دی، پرته له هغې زرغون د خیانت له کبله له ګوند څخه شړل سوی وو.

نور «احمد نور» ځانګړې لېوالتیا لرله چې زه او صالح زیری دغه خبرې واورو او د امین او د خیبر د نېږدې کېدلو خطر حس کړو.» (۱۵۹ پاڼه)

● «کله به چې کارمل له ما سره په جلا توګه لیدل، د هغهٔ د خبرو تومنه همدا یو خبره وه؛ یوازې الفاظ به ئې لږ و ډېر رنګین ول: نوموړي له ګوند څخه د امین د بیلتون په هکله تشویش درلود او هڅه ئې کوله ما پوه کړي چې په ګوند کې د امین شتون د هغهٔ له بیلتون څخه ګټور دي. کارمل له یوهٔ شي څخه ډېره اندېښنه درلوده: د امین او خیبر نېږدې کېدل. یوه ورځ ئې راته وویل: « امین او خیبر دواړو د پښتنو ځوانانو په منځ کې ډېر نفوذ کړی دی؛ په اردو او پولیسو کې پښتانهٔ په ځانګړې توګه ډېر او د پام وړ دي نو ځکه دوی دواړو هم په اردو او هم پولیسو کې ډېر نفوذ موندلی دی؛ له بل لوري دوی دواړه په دې ناراضي دي چې ولې سیاسي دفتر ته نهٔ دي راغلي. دا خطر سته چې دوی دواړه له یو بل سره نېږدې سي. له دې کبله ده چې ډېر باید هوښیا واوسو. دوی دواړه باید په ګوند کې وساتل سي او په دې هیله ئې کړو چې که نن وي یا سبا وي سیاسي دفتر ته راتلونکي دي او امتیاز به واخلي. له ګوند څخه د هغوی ایستل هېڅ ګټه نهٔ لري. دوی باید په ګوند کې دننه وساتل سي، هغوی باید د ګوند تر څار او مراقبت لاندې راسي او له هوښیارۍ ډک چلند ورسره وسي. اصولي ملګري له داسې موضوعاتو سره باید سیاسي چلند وکړي.» کارمل چوپ سو او سترګې ئې زما په سترګو کې نښې کړې. داسې راته ښکارېدل چې زما په څېره کې کوم شی لولي. بیا په خبرو راغی: هیله مند یم زموږ د نن خبرې درسره محفوظې وي او له بل چا سره ئې شریکې نهٔ کړئ او که وئې وایې نو خپل اعتماد به له لاسه ورکړئ ؛ هغه مهال زه مجبورېږم چې منکر سم.» دا ئې وویل او شونډې ئې په خندا وغوړېدې او خپل لاس ئې د خدای په امانۍ لپاره را اوږد کړ.» (۱۵۳ پاڼه)

سیاسنګ: سره له دې چې د «خاطره ها» په کتاب کې د خیبر او امین د اړیکو خبره، د ذبیح الله زیارمل له یادداشتونو – د سرور یورش له لیک څخه را اخېستل سوې (۲۰۰۱ز کال د فبرورۍ شپږمه، نیویورک) خو د وکیل، جلالر او ډاکټر شریف خبرې له یو بل سره همغږه نهٔ دي، ددغه یادداشت سپړنه دلته څېړل غواړي:

ببرک کارمل له لومړیو پوهېدهٔ چې میثاق د پرچم فرکسیون ته کومه لېوالتیا نهٔ لري، نو ولې دې ورته یو مهم راز وواېي او په پای کې دې ورته وواېي:« له چا سره ئې شریکې نهٔ کړې، او که ودې ویل.... مجبورېږم چې منکر سم»؟ که نقل قول سم وي، آیا د پرچم

د جناح مشر د خپلو دغو اله ګوله پاروونکو خبرو په ویلو سره غوښتل د ګوند د رهبرۍ په سطحې، د هزاره او پښتنو تر منځ چاوده رامنځته کړي چې میثاق له امین او تره کي څخه پربکون وکړي او د کارمل او کشتمند تر څنګ دې ودرېږي؟ که نقل قول سم نهٔ وي نو آیا د خپل سیاسي سیال پر تندي ددغسې تورنو لګول د میثاق شخصیت ته له اسلامي «او مارکسیستي» اړخه تاوان نهٔ رسوي؟ په دواړو حالاتو کې د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند د بنسټ ایښودونکو تر منځ بد ګومانۍ - د اعتماد د بحران د ژوروالي څرګندویه ده. هغه جوړښت او بنسټ چې مشران ئې په کې پر یو بل اعتماد ونهٔ لري څنګه کولای سي دا هیله ولري چې ولسونه او پرګنې به وربانديې ډاډ وکړي؟

لیکوال د خپل کتاب له سره تر پایه د خیبر د وژل کېدو د څرنګوالي په هکله څه نهٔ دي ویلي. آیا موږ به رښتیا په دې خبرې باور وکړو چې تره کي، امین او کارمل ته تر ټولو نېږدې ګوندي مقام د خیبر قاتل نهٔ پېژني؟

لاندنۍ داستان د خیبر له وژل کېدلو وروسته کوچني جزئیات دي – چې د ګوند مشران، د خیبر له وژل کېدلو او خاورو ته د خپل " برجسته" ملګري له سپارلو بلافاصله وروسته څرنګه خاندي او له یو بل سره ټوکې کوي مګر د قتل د غوټې سر چا ته په لاس نهٔ ورکوي:

«نیمه شپه وه چې د کور د دروازې زنګ وغړول سو. دغهٔ غږ د شپې په دې ناوخته کې راته اندېښنه پیدا کړه. زما اندېښنه په دې سبب وه چې د داؤود له رژیم سره زموږ د ګوند وضع ښه نهٔ وه. موږ هره شېبه خطر ته سترګه پر لار وو. غږ مې وکړ چې: څوک ئې؟ وئې ویل: خپل. غږ راته آشنا ښکارېدهٔ خو پوه نهٔ سوم چې څوک دی. بیا مې وویل: نوم دې وواېه. وئې ویل: نجیب. دروازه مې پرانیستله. د دوازې پر سر د زیړ بخونه څړ څراغ تر تتې رڼا لاندې د ډاکټر نجیب څېره راته غمځپلې ښکاره سوه. ومې پوښتل: خیر دی؟ وئې ویل: تره کي صاحب تاسو غوښتي یاست. وارخطا سوم او په تشویشناکه لحن مې وپوښتل: څه خبره ده؟ نجیب وویل: خیبر صاحب ترور سوی دی.

شپه خپل پای ته نېږدې سوې وه. د ګوند د مرکزي کمیټې غړي د تره کي په کور کې سره راټول سوي ول. چاپېریال راته درونډ ښکارېدهٔ. د هرچا له مخ څخه ناورین وَرېدهٔ. بارق شفیعي، شرعي جوزجاني، قدوس غوربندي ژړاوې پېل کړې. موږ بحثونه وکړل او پرېکړه مو وکړه چې د ګوند غړي او د ګوند پلویان دې د عدلي طب ودانۍ ته نېږدې چې د خیبر جنازه په کې وه، د کابل پوهنتون انګړ ته راسي. جنازه دې په سرهٔ ټوکر کې وپېچل سي او ګل پوښه دې سي. ملګري دې جنازه راپورته او هغه دې د مکروریانو د ۳۵ بلاک تر پینځم آپارتمان پورې چې د خیبر کور وو ولېږدوي. د جنازې ګډونوال دې په چوپه خولهٔ پرته له دې چې غږ پورته او یا شعارونه ورکړي د جنازې ملتیا وکړي.

جنازې دې د پریوللو او تکفین لپاره د یوې شپې لپاره چې کورنۍ ئې ورسره خدای په امانې وکړي په کورنۍ کې پاتې سي او سبا ته دې خاورو ته وسپارل سي. د تدفین د مراسمو لپاره د تشکیلاتو کمیسیون (میثاق، نور، زیری او بارق) مؤظف سول.

کله چې د پلینوم غونډه پای ته ورسېدله، د سباوون رونا خپره وه. موږ (د تدفین د مراسمو کمیسیون) د تره کي له کوره ووتلو او د بارق د کور پر لور چې په مکروریانو کې د خیبر د کور د بلاک مخې ته وو ولاړو چې کارونه سمبال کړو. د «توره باز خان» [1] له څلور لارې مو د غاټولو یو شمېر ګلان وپېرودل او هغهٔ ځای ته راغلو چې خیبر په کې شهید سوی وو. د خیبر توی سوي وینو کرېږ سرک تک سور رنګین کړی وو. د وینو په لیدلو سره مو احساسات راوپارېدل او په سترګو کې مو اوښکې راتاو سوې. هماغلته مو ګلان فرش کړل او د درناوي په پار چوپ ودرېدلو. ورپسې له دې ځایه وخوځېدلو او موټر کې سپارهٔ سوو. د موټر په منځ کې د نور احمد نور د زړهٔ غوټه وچاودېدله او په لوړ غږ ئې ژړاوې پېل کړې. هغهٔ د خپلو ژړاو په ترڅ کې وویل: موږ یو عمر له یو بل سر یو ځای مبارزه کړې وه. مرګ ئې موږ ته ډېر درد ناک دی.

د بارق شفیعي کور ته چې د خیبر کور ته مخامخ د لومړیو مکروریانو په ۲۸ بلاک کې دی ورسېدلو. د کابل ښار لپاره د ګوند د مرکزي کمیټې مسؤولان (شرعي او نجیب) مو راوغوښتل. دواړو ته مو دنده وسپارله چې د ګوند ټول غړي، دوستان او پلویان دې خبر کړي چې په کابل پوهنتون کې د عدلي طب د ودانۍ څنګ ته راټول سي، د خیبر تابوت دې په سرهٔ ټوکر کې وپوښي او ګل پوښ دې کړي، له هغهٔ وروسته دې موږ خبر کړي چې درسو او تابوت په خپلو اوږو راپورته او په مکروریانو کې د هغهٔ کورته راوړو. پلان مو سمبال کړ چې د سهار په لسو بجو به تابوت راپورته کړو.

د سهار ۹ بجې لا نهٔ وې سوې چې خبر راورسېد چې پولیسو تابوت له عدلي طب څخه راپورته او د هغهٔ د کور مخې ته ئې ایښی دی. دې وضعیت د ګوند غړي او پلویان ډېر په قهر او احساساتي کړل. هغوی غوښتل د کابل پوهنتون په انګړ کې د داؤود د حکومت پر ضد یو میټینګ جوړ، لاریون په لاره واچوي او په واټونو او سړکونو کې د داؤود د رژیم پر ضد شعارونه ورکړي او دا کړنه په سختو ټکیو وغندي خو موږ له دې کار څخه منع کړل او دستور مې ورکړل چې په انفرادي ډول دې د خیبر د کور مخ ته سره راټول سي.

تابوت مو کور ته یووړ. د خیبر مېرمنې او بچیانو سختې ژړاوې پېل کړې. د ګوند غړي او پلویان او دوستان راغلل او د خیبر د کور مخې ته په پارک کې راټول سول. د تره کي په

[1]- توره باز خان: ډېري پخواني میرزایان توره باز یعنی شمشیر زن په طره باز خان یا تور اباز خان لیکي حال دا چې سمه بڼه ئې توره باز ده. - ژ

ګډون د مرکزي کمیټې غړي هم راغلل. تابوت مو د مړي د پریوللو ځای ته یووړ. کله چې د جسد پریولل پای ته ورسېدل، بیا مو تابوت په اوږو پورته کړ. د تابوت شا ته د مرکزي کمیټې غړي او ګڼ شمېر ګډون وال را روان ول. دا یوه سیاسي ننداره وه. ماسپښین مهال وو چې تابوت مو د خیبر کور ته ورساوهٔ. د جنازې ګډونوالو ته مو اعلان وکړ چې جنازه سبا دولس بجې له دې ځایه پورته کېږي او د پل خشتي په جومات کې د جنازې د لمانځهٔ له اداء کولو وروسته د شهدای صالحین په سیمې کې خاورو ته سپارل کېږي. د ګوند غړي او علاقمندان کولای سي د سهار له اتو بجو د غرمې تر دولسو بجو پورې د خدای په امانۍ مراسم تر سره کړي. په دې پسې د تدفین د مراسمو کمیسیون غونډه وکړه. د سبا لپاره پلان مو سمبال کړ. پرېکړه مو وکړه چې تره کي، کارمل او بارق دې یو یو شعر ولولي او میثاق دې د قبر پر سر ددغهٔ پلان اعلان او سمبالول تر سره کړي. ویناوال ملګري دې مخکې له مخکې خپلې ویناوې ولیکي او د سیاسي دفتر له تصویب څخه دې تېرې سي. د کابل ښار ګوندي کمیټې ته دنده وسپارل سوه چې هره ناحیه دې په ځانګړې ډول سمبال او هم دې د ځوانانو سازمان او د ښځو سازمان جلاجلا سمبال سي. هر ملګری دې د سرو ګلونو یوه څانګه له ځان سره ولري. هره ګوندي ناحیه دې یو په بل پسې په منظم ډول د شهید خیبر د تابوت له مخې تېره سي او د وروستۍ خدای په امانۍ په توګه دې خپل درناوی وړاندې کړي.

د اپریل د میاشتې د نولسمې د سهار په اتو بجو مو تابوت د خیبر له کوره راوایست او د بلاک مخې ته تر یوې لوېې درول سوې کېږدۍ لاندې کښېښود. تابوت په سرو ټوکرانو او د قران کریم په آیاتو پسولل سویو ټوکرانو پوښل سوی وو. په تابوت کې د جسد سر پر یوهٔ سرهٔ بالښت باندې قبلې ته مخامخ کښېښودل سو. د ګوند غړي، د ښځو او ځوانانو د سازمونونو غړي، دوستان او علاقمندان په منظمو کتارونو کې د تابوت له مخې تېرېدل او د درناوي لپاره ئې د سرو غاټولو څانګې د خیبر پښو ته اېښودلې. ښځو اکثریتو ئې تورې جامې اغوستې او تور پوړني په سر کړي ول. ځوانانو او د ګوند فعالو کدرونو اکثریتو ئې پر خپلو مټو باندې سرې پټې / فیتې تړلې وې. د درناوي او د خدای په امانۍ وروستیو مراسمو د دولسو بجو تر شاو خوا پورې دوام وکړ.

دولسو بجو ته څو دقیقې پاتې وې چې د خیبر د کور د دالان د پوړیو یا د زینو مخکې برنډې ته وختلم، سرور منګل هم را سره وو. هغهٔ دنده درلوده چې تل دې یو ګرځند لوډسپیکر له ځان سره ولري او د اړتیا پر مهال دې زما خولې ته نېږدې ونیسي چې خبرې وکړم. ما له هماغهٔ لوړ ځای څخه د ګوند غړو او د جنازې ګډونوالو ته په خطاب کې په دې هکله چې د مرکزي کمیټې یو برجسته غړی د افغانستان د خلکو د نېکمرغۍ لپاره د مبارزې په لاره کې د فتنه ګرو ارتجاعي او امپریالیستي ځواکونو له پلوه شهید سوی دومره احساساتي خبرې وکړې چې ټول ئې په ژړا کړل. له هر لوري د ژاړو

په ځانګړې توګه د مېرمنو د ژړاوو غږونه راپورته سول. دستور مې ورکړ چې د خیبر د عکسونو د لېږدولو لپاره مؤظف کسان دې په لومړي کتار کې، ورپسې دې شعار لېږدونکي په دوهم کتار کې، بیا دې د تدفین د مراسمو کمیسیون او بیا دې د جنازې موټر وخوځېږي، د موټر شاو خوا دې د ښځو سازمان، ورپسې دې د مرکزي کمیټې غړي، ورپسې دې د کابل ښار د ګوندي کمیټې غړي، بیا دې د ګوندي ناحیو غړي په ترتیب او ورپسې دې دوستان او نور ګډونوال وخوځېږي او د ځوانانو د سازمان غړي دې د انضباط په ډول د ګډونوالو د کتارونو په شاو خوا کې د نظم او امنیت مسؤول وي.

تابوت مو په موټر کې کښېښود. د جنازې د موټر مخکيني سیټ کې باید د ګوند د مرکزي کمیټې عمومي منشي تره کي ناست وای، خو کارمل ئې هم څنګ ته کښېناست. دا خبره ددې لامل سوه چې مرکزي کمیټه او د ګوند غړي په خپلو منځو کې د چوپې خولې اعتراض وکړي او غوږ په غوږ ئې یو بل ته ورسوي. دوی مدعي ول چې ګوند باید یو عمومي منشي ولري او د ګوند مشري یوازې یو تن تمثیلوي. دوه ګوني مشرتوب د ګوند د وحدت په ګټه نهٔ دی. د جنازې د موټر مخکيني سیټ کې باید یوازې د ګوند د مرکزي کمیټې عمومي منشي ناست وای او د مرکزي کمیټې پاتې غړي باید پلې خوځېدلي وای. پوښتنې راپورته سوې چې ولې کارمل د تره کي تر څنګ کښېناست.

دا امین وو چې دغسې کوچنیو خبرو ته ئې پام کېدهٔ او د نورو پام به ئې ورته را اړاوهٔ. ملګرو ته مو دا پوهاوی ورکړ چې اوس ددغو خبرو وخت نهٔ دی. د جنازې موټر وخوځېد. د ګډونوالو نظم هماغسې چې ویلي مو ول جوړ سو. د تدفین د مراسمو کمیسیون یو خدمتي فولکس واګون موټر درلود چې مایکروفونونه او لوډ سپیکرونه په کې ول. هرکله چې اړتیا پېښېدله سرور منګل به لوډسپیکر راواخیست او زه به د موټر د دروازې په «پایه دان» کې ودرېدم او خبرې به مې کولې. فولکس واګون د میرزا علم حمیدي وو چې هماغه ورځ ئې په خپله چلاوهٔ. په عین حال کې ما یو شمېر کسان مؤظف کړي ول چې عکسونه واخلي او هم یو شمېر کسان مؤظف ول چې ویناوې، شعر ویل او شعارونه او د جنازې د لېږد ټول جریان ثبت کړي.

د جنازې د لېږدولو پرمهال د ګډونوالو په کتارونو کې په زرهاوو تنه روان ول. کله چې د خیبر د شهادت ځای ته ورسېدلو ما هلته یوه لنډه وینا وکړه. د ارتجاع او امپریالیزم ضد شعارونه پورته سول. یو ځل بیا په لاره وخوځېدلو. کله چې د امریکا د سفارت مخې ته ورسېدلو دلته مو دمه وکړ. چاپیریال د امپریالیزم ضد شعارونو ډک کړ. دلته زموږ پام سو چې ناپېژندل سوي کسان فلم اخلي او عکسونه اخلي. د هغوی مخه مو ونیوله. ویل کېدل چې د داؤود د رژیم د " ملي مصؤونیت" د مخفي پولیسو د اداري کسان دی.

د امریکا د سفارت او ارګ مخې ته سړک څخه تېر سوو او د پښتونستان د څلور لارې او د نادر پښتون د جادې له لارې د پل خشتي جومات ته ورسېدلو. هره شېبه د جنازې د ګډونوالو شمېر ډېرېدهٔ. د پل خشتي په جومات کې د جنازې د لمانځه له اداء کېدلو وروسته د میوند د جادې له لارې مو د شهدای صالحین پر لور خوځون پېل کړ.

کله چې جسد خاورو ته وسپارل سو او په زرهاوو ګډونوال راټول سول، د ویناوو د پېل وخت مې اعلان کړ. په پېل کې تره کي خپله وینا په پښتو واوروله. دا لومړی ځل وو چې تره کي په داسې یوهٔ میټینګ کې خبرې کولې. لوډسپیکرانو یو ناڅاپه کوم نقص پیدا کړ او د وینا یوه برخه مختله سوه. څو موده وروسته امین مدعي سو چې لوډسپیکرونه قصداً خراب کړل سول چې د تره کي وینا اخلال سي، خو له دې چې د لوډسپیکرونو مسؤول – امین ته نېږدې سړی - انجنیر ظریف وو نو ځکه ئې ددې موضوع په هکله ډېر تبلیغ ونهٔ کړ.

ورپسې کارمل خپله وینا په دري ژبې واوروله. د کارمل د وینا تومنه تقریباً د تره کي د خبرو تومنه وه. پنجشیري، لایق او بارق هم خپل شعرونه ولوستل. ما هم په پای کې غوښتل وینا وکړم او د مراسمو پای اعلان کړم خو کارمل راته وویل: «یوازې د مراسمو پای اعلان او د وینا له ورکولو څخه صرف نظر وکړه.» د مراسمو پای مې اعلان کړ او ومې ویل چې فاتحه سبا ته د شاه دوشمشیرې په جومات کې اخېستل کېږي.

د هماغې ورځې په سبا ئې په زرهاوو کسانو په فاتحې کې ګډون وکړ. د پښتنو نامتو مشر خان عبدالغفار خان له جلال آباده راغی او د فاتحې تر پای پورې کښېناست. یوازېنی نفر چې ځان ئې خیبر، لایق او د ګوند مشرتابهٔ ته نېږدې ګاڼهٔ نهٔ جنازې ته راغی او نهٔ فاتحې ته، د پښتو نامتو شاعر اجمل خټک وو چې د دیورند د تش په نامهٔ کرښې بله غاړه کې د پښتنو د آزادۍ لپاره یو له مدعیانو څخه وو.

جنازې او فاتحې ته د هغهٔ نهٔ راتګ زموږ د ګوند مشرتابهٔ په ځانګړې توګه لایق او نجیب ډېر خوابدي کړل. لایق په خپل کور کې د اجمل خټک یو انځور درلود چې لایق ته ئې د یادګار په توګه ډالۍ کړې وو. لایق هماغه انځور تر پښو لاندې کړ او لېرې ئې غوزار کړ.

د خیبر ترور د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند ته دا لاره پرانیستله چې له پینځه کلن سکوت وروسته یو ځل بیا یوه پیاوړې سیاسي ننداره څرګنده او د افغانستان د سیاست په ډګر کې د یوهٔ د پام وړ ګوند په توګه راڅرګند او ځان په عامه اذهانو کې وساتي او د خلکو پام ځانته راواړوي.

د گوند مرکز ته رسېدلو خبرونو څرگندول چې محمد داؤود په ځانگړې توگه د حکومت ښي لاسی اړخ د افغانستان د خلق ډیموکراتیک گوند له دغو سیاسي نندارو ځخه ډېر قهرېدلی وو. د گوند مشرتابهٔ خپلو غړو ته دستور ورکړ: له دې چې زموږ ملگری د ارتجاعي او امپریالیستي ځواکونو په لاس په ظالمانه او بې رحمانه ډول شهید سوی دی، موږ د افغاني دودونو او اسلامي اصولو له مخې جنازه وکړه او فاتحه مو واخېستله. حکومت نهٔ باید د جنازې د تشییع او فاتحې مخه ونیسي.

د داؤود رژیم د خپل دولتي گوند «د ملي انقلاب د گوند» د غړو او د خپلې استخباراتي ادارې له لارې دا تبلیغات په لارې واچول چې د تره کي او د هغهٔ د ډلې دا کړهٔ وړهٔ د اساسي قانون او د نورو قوانینو د احکامو خلاف دي او باید د قانون پر بنسټ سزا وویني. اداراتو، تعلیمي مؤسساتو او فابریکو ته درستور ورکړل سوی وو چې د هغو کسانو د نومونو لیست دې جوړ کړي چې د جنازې د تشییع په مراسمو کې ئې گډون کړی وو. دا موضوع ئې په وسله وال ځواک او نور پوځي مؤسساتو کې ډېره ټینگه نیولې وه.

د گوند مرکز ته رسېدلو اطلاعاتو دا ټکی په اثبات رساوهٔ چې د داؤود رژیم غواړي د خیبر د جنازې تشییع او فاتحه پلمه جوړه کړي او د افغانستان د خلق ډیموکراتیک گوند او علاقمندانو ته ئې درنده ضربه ورکړي. د گوند سیاسي دفتر د وسلوال ځواک د ټولو څانگو په گډون نورو ټولو سازمانونو ته دستور ورکړی وو چې د مخفي مبارزې او پټ پټاني اصول دې په جدي توگه مراعات کړي او د داؤود د استخباراتي ادارې او مخفي پولیسو منگولو ته دې ونهٔ لوېږي.

«د نړۍ د کارگرانو د پیوستون جشن» د مې د میاشتې لومړۍ رانېږدې کېدله. زموږ د گوند سیاسي دفتر دا ضرورت احساساوهٔ چې هم دې د وضعې د ارزونې او هم دې د مې د میاشتې د لومړۍ په هکله د پرېکړې په باب غونډه وکړي. دا غونډه باید داسې ځای کې جوړه سي چې د داؤود د رژیم له نظره یوه طبیعي خبره وي او پارونکې نهٔ وي. له دې کبله په کارتهٔ پروان کې د لایق کور غوره سو. استدلال کېدهٔ: له دې چې خیبر د لایق د خور مېړهٔ وو نو موږ هم د همدردۍ او د هغهٔ د ملگرو د تسلیت لپاره د لایق کور ته ورځو. ددې لپاره چې دا تگ خپله طبیعي بڼه غوره کړي نو د سیاسي بیرو ټول غړي په ډله ییزه توگه په کارتهٔ پروان کې د لایق کور ته ورغلل.

د اپریل د میاشتې د ۲۵ نېټې ماسپښین مهال وو. د اوضاع له ارزونې وروسته پرېکړه وسوه چې د داؤود د رژیم پر ضد دې هېڅ ډول پارونکی سیاسي عمل تر سره نهٔ سي؛ گوند دې هر چېرې چوپ وي چې د داؤود رژیم د خیبر د سیاسي نندارو مسئله هضم کړي او له قهره کښېني. د مې د لومړۍ ورځې جشن دې په گوندي تبارز ونهٔ لمانځل سي. پرېړدۀ چې خپله کارگران په فابریکو کې له گوندي تبارز پرته ددې ورځې یادونه ولمانځي.

ماښام مهال د سیاسي دفتر غونډه پای ته ورسېده. د سیاسي دفتر غړي د لایق له کوره راووتل او د خپلو کورونو پر لور وخوځېدل، خو موږ (میثاق، نور، لایق او بارق) مؤظفه وو چې د خیبر د جنازې د تشییع په مراسمو کې ټولې ویناوې، شعرونه او شعارونه په کسټیونو کې تنظیم کړو چې وروسته ئې په ټول هېواد کې د ګوندي سازمانونو لاس ته او هم له هېواده دباندې افغان محصلینو، دوستانو او علاقمندانو ته ولېږو.

موږ څلور واړه له کارتهٔ پروان څخه د بشیر رویګر د کور پر لور چې په کلوله پشته کې وو وخوځېدلو. فیتې، راډیو کسیټ او نور لوازم هلته ول. تیارهٔ ماښام مو کار پېل کړ. تر ټولو لومړی سریزې یا مقدمې ته اړتیا وه چې باید زما په غږ ثبت سوې وای. فیتې مو ترتیب او تنظیمولې او د لایق تر شعر پورې ورسېدلو. د شعر یوه یا دوې مصرعې سمې نهٔ وې ثبت سوې. لایق وغوښتل چې شعر دې لاښهٔ او سم ثبت سي. له دې چې د شعر ویلو چاپیریال بدل سوی وو نو کله چې شعر ئې وایهٔ او راډیو کست ثبتاوهٔ ښکارېدهٔ چې غږ د قبر پر سر نهٔ دی. لایق کوښښ کاوهٔ چې خپل غږ زیل او بم کړي کله به ئې کمپله پر ځان واچوله چې غږ ئې سم ثبت سي. د لایق دې ډول کارونو موږ خندولو او ډېرې ټوکې مو ورسره کولې. په ځانګړې توګه بارق شفیعي ډېر ځوراوهٔ.

د شپې لس بجې وې چې نور «احمد نور» وویل: زه د کورنیو چارو د وزارت له یوهٔ صاحب منصب سره چې د ملګرو له ډلې څخه دی په مکروریانو کې د لیدلو وعده لرم. هغه موږ ته د دستګاه له منځه راپور راوړي.»

هغه ولاړ او موږ خپلو کارونو ته دوام ورکړ. یو ساعت وروسته نور «احمد نور» بېرته راغی. ډېر وارخطا وو. غوربندی هم ورسره وو. وئې ویل: «زموږ د کور ګرد چاپیره پولیس راتاو ول. هر لور ته د پولیسو موټران ولاړ ول. هر څوک چې زموږ کور ته نیږدې کېدهٔ هغهٔ ئې نیوهٔ. تیارهٔ وه او له همدې تیارې څخه په ګټه اخیستنې مې دا صحنه په سترګو ولیدله او بیا د ټکسي په وسیلې بېرته راستون سوم چې تاسو ته راسم خو ځای مې غلط کړ. د غوربندي کور ته لاړم او له هغهٔ مې مرسته وغوښتله چې ما دلته راورسوي. ملګرو اوس څه وکړو؟ ژر تر ژره پرېکړه وکړئ.»

موږ هم هک پک پاتې وو. ما چوپتیا ماته کړه او لایق ته مې په ټوکو وویل: « شعر دې وایه چې ثبت ئې کړو.» لایق وویل: «داسې ښکاري لکه چې د داؤود خان ضربات پېل سول.» بیا ئې ما ته د ټوکو په لحن زیاته کړه: « بچو! ځان دې ښهٔ غوږ که. سردار داؤود خان پر هزاره ګانو باندې ځانګړې شفقت لري.!» بیا چوپتیا خپره سوه. چاپیریال له ویرو او اندېښنو ډک وو. نور «احمد نور» چې له سترګو او مخ څخه ئې ویره او تشویش په څرګنده ښکارېدهٔ داسې ئې راته کتل چې څه وکړو. د هغهٔ د کاتو په ځواب کې مې وویل: «اوس موږ دوه وو شیانو ته اړتیا لرو: خوندي ځای او کافي معلومات.»

ټول دې پاېلې ته ورسېدو چې ځو او مخفي کېږو. او سبا له غرمې مخکې په وقفو وقفو د ملګري حبیب الله په کور کې له یو بل سره اړیکې سمبالوو.

ساعت د نیمې شپې یوه بجه وه چې د بشیر رویګر له کور څخه ووتلو. زه د علي احمد کور ته راغلم. شپه مې تر سهاره هلته تېره کړه. اوږده او له اندېښنو ډکه شپه وه. دریشي مې په ځان کې وه؛ په اوږدې څوکۍ پرېوتلم او یوه کمپله مې په ځان راکش کړه. خوب مې له سترګو تښتېدلی وو. (د اپریل ۲۶) د سهار لس بجې وې چې د دروازې زنګ ووهل سو. د عارف خرمګس ورور وو. له هغهٔ سره یو ځای د علي احمد له کور څخه ووتلم. د بلاک په شاتیني ګوټ کې یو موټر ولاړ وو. کله چې موټر ته وختلو، ومې لیدل چې یو بل څوک هم وو. هغه مې نهٔ پېژاندهٔ. وروسته پوه سوم چې [سید جان لالا] له ځاځیو څخه دی.

د قلعهٔ فتح الله پر لور لاړو. هلته د حبیب الله کارګر په نوم یو چا موږ ته ښهٔ راغلاست وویل. دواړه دننه یوې سراچې ته ننوتلو. هلته لایق، غوربندی، نور «احمد نور» او بارق هم ول. یو څه ټوکې ټکالې مو وکړې او کښېناستلو. هره دقیقه مو خندل او په لوړ غږ مو خبرې کولې، لایق ویل چې: ورو ورو خبرې کوئ چې غږ مو دباندې ځي.

له همدغهٔ ځایه مو له ګوند سره اړیکه ټینګه کړه. زموږ د اړیکو وسیله په لومړیو کې حبیب الله کارګر وو. ورپسې سرور منګل او داؤود رزم یار موږ له دباندې اوضاع څخه خبرولو. د همدوی له لارې مو خبر تر لاسه کړ چې تره کي، کارمل، پنجشیری، شاه ولي او د مرکزي کمیټې یوه شمېر غړي او کدرونه زنداني سوي دي. د محمد اسماعیل دانش او عبدالقدوس غوربندي له کورونو پرته نور د مرکزي کمیټې د ټولو غړو کورونه تلاشي سوي او د پولیسو تر څار لاندې دي. صالح زیری په خپل کور کې تر څار لاندې دی. محمود سوما او منصور هاشمي د محمد اکبر صهبا د خور په کور کې وو چې د دارالامان باغِ رئیس ته نېږدې واقع دی او سلطان علي کشتمند او ډاکټر نجیب په کوټه سنګي کې د یوهٔ ملګري په کور کې مخفي دي.

د داؤود رزم یار او سرور منګل له لارې مو ګوندي سازمونو ته دستور ورکړ چې د ګوند غړي دې ځانونه مخفي کړي. دغو دوه وو ملګرو ته مو وویل چې زموږ د مخفي کېدلو ځای دې نورو ملګرو ته نهٔ وايي او یوازې همدا دوه ملګري دې له موږ سره په اړیکه کې وي.

د اپریل د ۲۶ ماښام د محمد داؤود حکومت اعلان وکړ چې د ګوند د رهبرۍ یو شمېر غړي نیول سوي او یو شمېر ئې تښتېدلي او پټ سوي دي. د حکومت د اعلامېې له خپرېدلو وروسته زموږ تر منځ خبرې اترې پیل سوې چې د خپل برخلیک په هکله پرېکړه وکړو. بارق شفیعي وویل: موږ باید د قانون درناوی وکړو او ځانونه تسلیم کړو او واویو چې د حکومت له اعلامېې وروسته موږ ته وضع روښانه سوه او موږ خپل

ځانونه قانون ته د درناوي په پار تسلیم کړل. ما او نور «احمد نور» استدلال کاوه چې د داؤود رژیم همدغه قانون پر موږ نهٔ پلی کوي او هر څه ئې چې زړهٔ وغواړي هماغسې کوي. په دې توګه د داؤود چلند د هغهٔ د حکومت په پالیسۍ کې بدلون څرګنداوهٔ. په پای کې دې پایلې ته ورسېدو چې هر ملګری دې د خپل دریځ په هکله په خپله تصمیم ونیسي. بارق، لایق او غوربندي تصمیم ونیوهٔ چې تسلیم سي.

په سبا ئې د اپریل د میاشتې په ۲۷ نېټې وختي له خوبه پاڅېدو. موږ ټول اندېښمن او ترهوري وو. لایق، بارق او غوربندي وویل: موږ ته اجازه راکړئ چې خپلو کورونو ته لاړ سو. له دې چې زموږ کورونه د پولیسو تر څار لاندې دي، څرګنده ده چې موږ نیسي. هغوی له ما او نور «احمد نور» څخه وپوښتل: تاسو چېرې ځئ؟ ومووېل: تر اوسه لا روښانه نهٔ ده. که روښانه هم وي تاسو ته نهٔ وایو، ځکه دا ویره سته چې د پولیسو تر شکنجې لاندې زموږ پټن ځای ورته افشاء کړئ.

هغوی ولاړل. لایق او بارق ونیول سول؛ له دې چې د غوربندي کور تر نظارت لاندې وو ونهٔ نیول سو. ما او نور «احمد نور» تصمیم ونیوهٔ چې خپل پټن ځای بدل کړو. دا خبره مو د رزم یار مخې ته کښېښوده؛ تصمیم مو ونیوهٔ چې په ششدرک کې د هغهٔ کور ته ولاړ سو.

په دغې مودې کې چې موږ د حبیب الله کارګر په کور کې مخفي وو، رزم یار د نور «احمد نور» د دستور پر بنسټ د جیلاني باختري له لارې له شورویانو سره اړیکه ټینګه کړې وه. داسې ښکارېدل چې له شورویانو سره د پرچمیانو همیشنی رابط جیلاني باختري وو. باختري ظاهراً د پرچم غړی نهٔ وو خو له کارمل سره د خپلوۍ د قرابت پر بنسټ د پرچم په ډلې کې د ګوند د ډېرو د اعتماد وړ مخفي غړو په ډله کې شمېرل کېدهٔ خو د شورویانو له پلوه ئې کوم مشخص دستور نهٔ راووړ. یوازې دومره ئې ویل چې شورویان ډېر اندېښمن/ مشوش دي، خپله اندېښنه څرګندوي اووايي چې ستاسو د ګوند ټول غړي باید مخفي سي.

موږ د کارتهٔ ولي ششدرک د کوڅو له لارې ځانونه د رزم یار کورته ورسول. هلته دې پایلې ته ورسېدو چې موږ باید له سلطان علي کشتمند او ډاکټر نجیب سره چې په کوټهٔ سنګي کې د یوهٔ ملګري په کور کې مخفي ول ووينو او له سلا مشورو وروسته به تصمیم ونیسو. رزم یار ته مې وویل هغوی دواړه هم دلته راوله.

د غوايي د میاشتې د اوومې د سهار نهه بجې هغوی راغلل. ټینګ روغبړ مو سره وکړ، لږ ټوکې ټکالې مو وکړې او بیا مو خبرې پیل کړې. د اطلاعاتو له تبادلې او د لایق او بارق د دریځ په هکله د معلوماتو له ورکولو وروسته مې وپوښتل: زموږ څلورو واړو په منځ کې څوک سته چې خپل ځان د داؤود رژیم ته تسلیم کړئ؟ موږ څلورو واړ جدي او پرېکنده تصمیم ونیوهٔ چې خپلې مخفي مبارزې ته به دوام ورکوو، نهٔ تسلیمېږو او

کوښښ کوو په مخفي شرایطو کې د گوند لاربښوونه وکړو. کشتمند وویل: ما ته اجازه راکړئ چې له هېواده دباندې لاړ سم. ومو پوښتل: څنگه؟ آیا کولای سئ پاسپورت چمتو او ویزه واخلئ؟ هغهٔ وویل: هو. زه په ځان کې دا امکان وینم. د کشتمند وړاندیز مو ومانهٔ او مووېل: ښه ده. ته له هېواده دباندې لاړ سه له ورونو گوندونو سره اړیکه ونیسه او د گوند مبارزه سمبال کړه. موږ درې تنه- میثاق، نجیب او نور «احمد نور» - په هېواد کې دننه یو او همدلته مخفي مبارزې ته دوام ورکوو.

په خبرو اترو کې ډوب وو چې یو ناڅاپه د توپ ویروونکي او وحشتناکه ډز هر شی ولړزول. د خبرو اترو لړۍ مو پریک سوه او زموږ ټولو پام دغهٔ ډز ته واوښت. په تعجب او تشویش مو یو بل ته وکتل. رزم یار ته مو دنده وسپارله چې ددې موضوع په هکله معلومات راټول کړي. رزم یار دباندې ووت ؛ څو دقیقې وروسته راغی او وئې ویل: ددفاع وزارت ته نېږدې یو ټانک راغلی دی او ددفاع د وزارت په ودانۍ ئې ډز کړی دی.

د ورځې د لسو یا یولسو بجو په شاو خوا کې له غرمې مخکې دغهٔ ډز زموږ اندېښنې او فکرونه ډېر کړي ول. رزم یار بیا ولاړ او بېرته راغی او وئې ویل: د شش درک «مأموریت سمت» ته د وسله وال ځواک صاحب منصبان او سرتېري راغلي او پولیسان بې وسلې کوي. ومې ویل: ټانکونه له کوم لوري راځي او کوم خوا ته ځي. رزم یار بام ته پورته سو او وئې ویل: د پلچرخي له خوا راځي او د راډیو پر لور روان دي.

د خوښیو په ولولو کې مې وویل: ملگرو! مبارک مو سه. دا زموږ ملگري دي. کشتمند پوښتنه وکړه: د کوم دلیل له مخې دا خبره کوئ؟ ومې ویل: ما ته معلومه ده چې موږ په څلورم او پینځلسم زغره وال ځواک کې ډېر نفوذ لرو او تقریباً ټول ټانکیستان زموږ د گوند غړي دي. له دې چې د نوموړي ځواک مقر په پلچرخي کې دی، نو اوس چې ټانکونه له هغهٔ لوري راځي، دا هرو مرو زموږ ملگري دي.

زموږ د مجلس په چاپېریال باندې ناباوري په الوتو وه. ددغې ناباورۍ بنسټ دا وو چې څنگه د گوند غړي د گوند د مشرتابهٔ له پرېکړې او تصمیم پرته دغسې یو گام اوچتوي. له بل لوري زموږ په فکرونو کې دا تشویش هم راگرځېدهٔ چې گڼې داسې نهٔ سي چې د داؤود رژیم دې زموږ د گوند د بشپړ او بیخچن ځپلو لپاره د یوې پلمې د ترلاسه کولو په پار دا توطئه زموږ د گوند په نوم په لاره اچولې وي.

زموږ د خبرو اترو په ترځ کې د توپکو او شوبلو لوړ غږونه له بیلابیلو لوریو څخه اورېدل کېدل. موږ د وېرې او هیلې په کڅ کې وو او اندېښنې مو له څېرو څخه په څرگنده ښکارېدلې. رزم یار څو دانې راډیو گانې راوړې. راډیو گانې مو روښانه کړې. کابل راډیو چوپ وه. په دغو راډیو گانو کې یوې راډیو د عسکري قطعاتو د مخابراتو یوه څپه ونیوله. د مخابرې د خبرو په ترځ کې یو تن بل یوهٔ ته وویل: «څلورم زغره وال ځواک د

راډیو کابل شاو خوا نیولې او موږ نېږدې کېدلو ته نهٔ پرېږدي.» له بل لوري په ځواب کې ورته وویل سول: «هر هغهٔ څه چې څلورم زغره وال ځواک وايي د هماغهٔ اطاعت وکړئ.» کله مې چې دا خبرې واورېدلې، له ځایه پورته سوم او د خوښۍ په ولولو کې مې وویل: " مبارک مو سه! دوی سل په سلو کې زموږ ملګري دي. په څلورم زغره وال ځواک کې زموږ د ګوند له ملګرو پرته بل څوک نهٔ سته.»

د ماښام اووهٔ بجې وې چې یو چا اعلان وکړ: د مستبد نادر د کورنۍ وروستنی سړی یعنی داؤود له منځه لاړ او سیاسي قدرت د انقلابي پوځی شورا واک ته لېږدېدلی دی. دا دی د انقلابي شورا د اعلامې متن محمد اسلم وطنجار په پښتو او د هوايي ځواک په استازیتوب عبدالقادر په دري ژبې لولي.

دا سړی حفیظ الله امین وو. موږ د هغهٔ غږ پېژاندهٔ. نور «احمد نور»، کشتمند او نجیب، قادر او وطنجار ونهٔ پېژندل خو ما هغوی و پېژندل، ځکه چې دواړه ئې د خلقیانو د پوځي سازمان له څانګې څخه ول او وطنجار یوه موده له ما سره کار کاوهٔ. د راډیو افغانستان له څپو څخه ددغهٔ خبر په اورېدلو سره زموږ پر چاپریال باندې د خوښۍ او خوشحالۍ څپې خپرې سوې. یو بل مو په غېږو کې ونیول، او مخونه مو مچ کړل او څوځو ځله مو مبارکۍ وویلې. ډاکټر نجیب زښت ډېر خوشحاله او احساساتي سوی وو. اوښکې ئې بهېدلې او له یوې مخې ئې داؤود ته ښکنځل کول. ویل ئې چې: ښهٔ سو چې داؤود د خپلو نامردیو او بې وفاییو سزا ولیدله او غچ ورڅخه واخېستل سو. له موږ سره ئې ډېره نامردي وکړه.

د همدې شپې په سبا ئې داؤود رزم یار راغی او وئې ویل: «تاسو ملګري ئې د راډیو ودانۍ ته غوښتي یاست.» موږ له کوره ووتلو. په سړک کې یو محاربوي ماشین په سترګو کېدهٔ. د محاربوي ماشین څنګ ته بارق شفیعي په غرور ولاړ وو. له موږ سره ئې روغبړ وکړ او مخونه مو ښکل کړل او په ډېر ویاړ او غرور ئې وویل: «ومو لیدل چې تاسو ته مو انقلاب وکړ؟» (له ۱۶۱ – ۱۷۵ پاڼو پورې)

عبدالکریم میثاق چې باید د خپلې ټینګې اسلامي عقیدې پر بنسټ د رحمن او رحیم خدای له دربار څخه د افغانستان د خلق پر ډیموکراتیک ګوند د «ترحم» غوښتونکی وو، لیکي:

«یوه موضوع باید دلته په بشپړ ډول څرګنده او روښانه کړم چې: شورویانو د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند د تأریخ په اوږدو کې د خلق او پرچم د وحدت له لومړۍ ورځې بیا د ډاکټر نجیب د حکومت تر وروستۍ ورځ پورې خپلو ناوړو او بې شرمو ډکو موخو ته د رسېدلو په لاره کې د افغانستان د خلق له ډیموکراتیک ګوند څخه د ابزارو په توګه ګټه واخیسته او د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند د دواړو

خلق او پرچم د جناح ګانو له باور، اعتقاد، صداقت او تل پاتې او همیشنۍ وفادارۍ څخه ئې ډېره ګټه پورته او هېڅ ډول رحم او ترحم ئې ورباندې ونهٔ کړ.» (۲۶۴ پاڼه)

«خاطره ها/ ګپ هایې از ګذشته» د خیبر د مرموز قتل په اړوند د څو نورو خنداوو او ټوکو په یادولو، د «غوایي د پرتمین، دوران جوړونکي او نهٔ په شاکېدونکي انقلاب»، له شوروي دا د «سولې او سوسیالیزم له ماتې نهٔ خوړونکي مورچل» څخه د څو ګیلو او خوابدیو په یادولو سره – پای مومي.

میثاق په ډېریو خبرو باندې پَردې غوړولې دي او ډېر ئې نهٔ دي لیکلي، خو ښايي شورویان په دې پوهېدل چې د همدغهٔ ګوند یو شمېر بنسټ ایښودونکې د کیڼ اړخ توب په تظاهر سره، په پټه د اسلام په دین عقیده لري او د سوسیالیستي ټولنې د جوړولو په لاره کې ان یو ګام هم نهٔ اوچتوي. له همدې کبله له دوی سره د چارچلند یوازینۍ لاره « د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند د دواړو خلق او پرچم د جناح ګانو له باور، اعتقاد، صداقت او تل پاتې او همیشنۍ وفادارۍ څخه » او د هغوی له مشرانو او لارروبانو څخه له رحم او ترحم پرته ابزاري ګټه اخیستنه ده تر څو نور ونهٔ سي کولای د هم سنګرو کعبه او کرملین وغولوي.

آیا دداسې یوهٔ ګوند ناکامي او بشپړ شنډېدل چې په همداسې یوهٔ ګډوډ تفکر ولاړ وي، د حیرانتیا او تعجب وړ نهٔ ده؟



Photo credit: F. Gharzai Laeq – family album

## "شوروي اتحاد، سیاسي بیرو ته د خیبر له راتګ سره موافق نهٔ وو"

از پادشاهی مطلقه تا سقوط جمهوري دموکراتیک افغانستان
عبدالوکیل

«کله ناکله د مرکزي کمیټې د نورو غړو په غیاب کې مهمې پرېکړې کېدلې، چې بیا به ئې د مرکزي کمیټې له نورو غړو سره شریکولې. په خواشینۍ چې د وحدت په لړۍ کې او له وحدت وروسته، د کارمل او د خیبر ترمنځ اوږدهٔ دوستانه مناسبات سوکه سوکه په دوه اړخیزو بې اعتمادیو واوښتل. علت ئې د واحد ګوند د سیاسي بیرو ترکیب وو، څکه د پرچم جناح په دې هکله له یوې جدي ستونزې سره مخامخ سوه. خیبر هم له معنوي اړخه او هم د ګوندي نفوذ له اړخه د پرچمیانو د کدرونو او صفوفو په منځ کې له کارمل وروسته عملاً دوهم مقام او اعتبار درلود خو له وحدت وروسته ئې د واحد ګوند لس کسیزې سیاسي بیرو او څلور کسیزې دارالانشاء ته – لاره ونهٔ موندله او یوازې د دېرش کسیزې مرکزي کمیټې د یوهٔ غړي په توګه پاتې سو. دغې موضوع له خیبر سره د کارمل پر اړیکو ژوره اغېزه وکړه.» (لومړی ټوک، ۲۴۸ او ۲۴۹ پاڼې)

«کارمل وویل: په داسې حال کې چې زه د سیاسي بیرو په پینځه کسیزې ډلې کې د خیبر او اناهیتا د ورګډولو پلوی وم، د تره کي د ټینګ درېځ له کبله مې ونهٔ سوای کولای سیاسي بیرو ته ددغو دوه وو تنو ورانديز وکړم. د هغوی پر ځای مجبور سوم چې لایق او بارق ور پېژنم.. /.../ **زما په ګومان، شوروي دوستان هم سیاسي بیرو ته د خیبر په راتګ موافق نهٔ ول** او مخکې له مخکې ئې ملګري تره کي ته مشوره ورکړې وه. له دې چې هغوی د وحدت له لړۍ څخه خبر ول، نو ما او تره کي باید په ځینو د اهمیت وړ مواردو کې د هغوی مشوره په پام کې نیولې وای. هماغسې چې د مخورو دولتي کسانو او د معتبرو کسانو ټول فعالیتونه او اړیکې د شورویانو له نظره پټ نهٔ ول په همدې توګه د دواړو جناح ګانو د ګوندي مشرانو فعالیتونه او اړیکې د شورویانو له نظره پټ نهٔ پاتې کېدل.» (۲۴۹ او ۲۵۰ پاڼې)

« د ۱۳۵۳ل کال د وږي د میاشتې په ۲۹ نېټې [د ۱۹۷۴ز کال د سپتمبر ۱۹] خیبر او بارق چې هغه مهال د کابل د ښار د ګوندي کمیټې مسؤول وو د غوربندي په کور کې د ښاري کمیټې له غړو سره وکتل. خیبر د مرکزي کمیټې پرېکړه او دستور هغوی ته واوراوهٔ: نوي اساسي قانون ته سترګه پر لاره یو او وبه ګورو چې په هغهٔ کې ګوندي سیستم په څه

ډول تنظیم کېږي. تر هغهٔ مهاله موږ د ګوندي سازمانونو ټولې غونډې تعلیق کوو. د محمد داؤود [خطاب به مردم] وینا یو تر ټولو ډېر جامع پروګرام دی او موږ ئې ملاتړ کوو. زموږ رهبري نهٔ سي کولای هېواد ته تر دې ښهٔ پروګرام وړاندې کړي. له دې کبله ګوندي فعالیتونه چې په اوسنۍ نیمه علني / نیمه مخفي بڼې دي متوقف او اړیکې دې د ځنځیر د کړیو په څېر او هم په انفرادي توګه دوام ومومي. له دې وروسته، په حوزو کې دې ګوندي غونډې نهٔ جوړېږي. د جمال عبدالناصر د واکمنۍ پر مهال د مصر کمونیست ګوند- ددې لپاره چې د ضربې د خوړلو مخه ئې نیولې وي – د مصر له متحده سوسیالیست ګوند سره ملګری سو او خپل فعالیت ئې پر مخ یووړ. بله تجربه، د اندونیزیا کمونیست ګوند دی چې وئې نهٔ سوای کولی خپل فعالیتونه ددغهٔ هېواد له مترقي او ډیموکرات ولسمشر سره له نېږدې کېدلو وروسته همغږي کړي. وروسته ولیدل سول چې د سوهارتو په مشرۍ د ښي اړخو د کودتا له کبله هم سوکارنو له منځه لاړ او هم د اندونیزیا کمونیست ګوند. له دې کبله موږ د همدغو تجربو په رڼا کې خپل وروستی تصمیم ونیوهٔ. که هاغه مهال د اندونیزیا کمونیست له خپلو عظمت غوښتنو څخه یو څه لږ را ټیټ سوی وای او خپلو مسؤولیتونو ته په پاملرنې سره ئې د سوکارنو له دولت سره په همکارۍ ګام اوچت کړی وای، دغسې یوه فاجعه نهٔ رامنځته کېدله او تر هڅ ماتوونکو ضرباتو لاندې نهٔ راتلل. د همدې کودتا له کبله، د ګوند په لسهاوو زره غړي ووژل سول او تشکیل ئې د ډېرو کلونو لپاره نور سر پورته نهٔ کړ.» (۱۶۹ او ۱۷۰ پاڼې)

« ښايي دا تصور په سختۍ د منلو وړ وي چې ګڼې دولت په ځانګړې توګه په خپله داؤود دې د خیبر د قتل د سازمان لارښوونه کړې وي او یا دا چې مخکې له مخکې دې خبر وي او تأیید کړی ئې وي، مګر دا چې د عبدالقدیر نورستاني او غلام حیدر رسولي په شان ځواکمن کسان دې له اصلي سازمان ورکوونکو یا له باندنیو استخباراتو سره په همغږۍ کې ددغه ترور تر شا وي.» (۲۴۷ پاڼه)

«طراحان پوهېدل چې د خیبر ترور کېدل د دولت پر وړاندې د ګوند د شدید غبرګون لامل ګرځي. هغوی په دې باور ول چې په دغهٔ پړاو کې د نوموړي قتل نهٔ یوازې د خلق او پرچم د دوه وو جناح ګانو د انشعاب او سازماني ګډوډۍ باعث نهٔ ګرځي بلکه د وحدت اوسنۍ لړۍ د ګوند توان لا ډېره او پیاوړې کوي.

که د ګوند د مشرتابهٔ د غړو ترکیب، ټولې پیچلتیاوې، حساسیتونه، سيالي، ډله ییز محاسبات او مخکیني جناحي خصومتونه په پام کې ونیول سي کولای سو ووایو: که تره کي ترور سوی وای نو د اکثریتو خلقیانو استنتاج به دا وو چې پرچمیانو له وحدت وروسته اوضاع کې د اوږد مهالي خصومت په ځانګړې توګه د کارمل او تره کي تر منځ د مخالفت له کبله دا ترور د مشرتابهٔ د ترلاسه کولو لپاره تر سره کړی دی. په بله وینا د تره کي د قتل نسبت ئې، پرچم او په خپله کارمل ته ورکاوهٔ. که کارمل ترور سوی وای

پرچمیانو ادعا کوله چې ګڼي خلقیانو د تره کي له پلوه نوموړی د خپلې لارې له سره لېرې کړ ترڅو خپلو راتلونکو موخو ته ورسېږي. لنډه دا چې په دواړو حالاتو کې د دواړو جناح ګانو تر منځ له دښمنۍ ډک تقابل شدت موند او یو ځل بیا د انشعاب لامل ګرځېدۀ.

راځئ داسې فرض وکړو چې د سیاسي بیرو یا د مرکزي کمیټې کوم غړی وژل سوی وای، نو د خیبر د وژل کېدلو په پرتلې به ئې نۀ په ګوند کې دننه او نۀ هم ټولنه کې کوم هر اړخیز اغېز کړی وای؛ ځکه بل څوک نۀ وو چې هغه دې په ګوند کې دننه او هم په ټولنه کې د خیبر په شان له پراخ اعتبار او شهرت څخه برخمن وي. ددغسې وژنې د طراحانو له نظره دداسي یوازیني شخصیت قتل، پرته له دې چې د ګوند وحدت ته تاوان ورسېږي او یا ګوندي اختلافاتو ته لمن ووهي، او کولای سي د ګوند ټول غړي سره راټول کړي، د خیبر قتل وو. خیبر په سمه او هدف منده توګه د قرباني په نقش کې غوره سو.

خیبر د ګوند له بنسټ ایښودلو مخکې زنداني سوی وو او د ګوند د غړو او روڼ اندو په منځ کې ئې پلویان درلودل. د انشعاب پر مهال، له تره کي او ملګرو سره ئې په فردي تقابل کې واقع نۀ سو او هغه مهال ئې د مرکزي کمیټې غړیتوب نۀ درلود. له دې کبله د خپل ځان پر وړاندې ئې د خلقیانو دښمنۍ ډېره لږه جلبوله. د دواړو جناح ګانو له وحدت وروسته هم، خیبر داسې دریځ نۀ درلود چې د تره کي او د پلویانو د تشویش لامل وګرځي. خیبر د پرچمیانو په منځ کې د خپلو ښو ځانګړتیاوو او د اوږدې مبارزې د سابقې له کبله له ځانګړي درناوي برخمن وو. د دواړو جناح ګانو له وحدت وروسته د پرچم په څانګه کې نظامي مسؤولیت د نور «احمد نور» او زما په مشرۍ وو او خیبر له دې دندې ګوښه سوی وو. له دې کبله د نوموړي ترور د نظامي سازمان د پاشل کېدلو لامل نۀ ګرځېدۀ.»
(۲۴۵ او ۲۴۷ پاڼې.)



Photo credit: F. Gharzai Laeq – family album

د "خیبر د قتل د طراحانو" د ځانګړتیاوو په اړوند د وکیل له لیکنې داسې برېښي چې هغوی – که هرڅوک ول، یا هرڅوک دي – د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند د برخلیک او د خلق او پرچم د جناح ګانو د وحدت په اړه له زړۀ سوي او مهربانۍ ډک فکر درلود! دغه طراحان باید د خیبر د کورنۍ د غړو، اشنایانو او یا مبارزو هم سنګرو ملګرو له پلوه رابرښد سي. د همداسې څېرو د نومونو ورک پاتې کېدل د تأریخ پر تندي باندې یو داغ پاتې کېږي.

## "د استاد میر اکبر خیبر د شهادت کلیزه "

فقیرمحمد ودان

هغه مهال چې شاه محمود د ډیموکراسۍ تمرین کاوۀ، «میر اکبر خیبر د "ندای خلق"، "وطن" او "انګار" جراید په مخفي ډول حربي پوهنتون ته وړل او د دغو جرایدو د افکارو د خپرولو تبلیغ به ئې کاوۀ. خیبر د حربي پوهنتون محصلان، له نظامي کړیو دباندې سیاسي جریاناتو څخه خبرول. د همدغو فعالیتونو پر بنسټ ول چې د فراغت په ورځ د مبارزې له دوه وو تنو نورو ملګرو عبدالله او محمدزي سره محبوس او د دهمزنګ زندان ته ولېږدول سو. د زنداني کېدلو په هماغو لومړیو ورځو کې ول چې د رژیم میرغضبانو ددۀ مور، مېرمنه او بچیان له منځه یوړل.» (عبدالقدوس غوربندي: "نګاهې به تأریخ حزب دیموکراتیک خلق افغانستان" ۹ پاڼه)

په ۱۳۳۶ ل (۱۹۵۷ز) کال کې استاد خیبر له زندانه خوشې سو او له هغۀ وروسته ئې د ځوانانو په منځ کې د سیاسي افکارو په خپرولو پېل وکړ چې په متشکله او منظمه مبارزه کې سره ګډون وکړي. غوربندي زیاتوي: " زما د مدرسې د دوران دوست، غلام مجدد سلیمان لایق، د هماغۀ کال په ژمي کې له پلخمري څخه کابل ته راغی چې د ادبیاتو په پوهنځي کې د انګلیسي مضمون د آزموینې لپاره چمتو والی ونیسي. لایق د پوهنتون د لیلې د بندوالي له کبله څو ورځې له لیکوال سره ژوند وکړ. زما په خونې کې د هغۀ شتون ددې لامل سو چې د ادبیاتو په پوهنځي کې نظامي محصل عبدالستار لوګری او د سلیمان لایق ټولګیوال له موږ سره تګ راتګ ولري. ستار وویل چې داسې یو څوک پېژني چې تازه له سیاسي زندانه خوشې سوی او ښۀ په انګلیسي ژبې خبرې کولای سي. که غواړئ په عین حال کې چې ستاسو په کوټې کې ژوند وکړي نو تاسو ته به انګلیسي هم در زده کړي. دا وړاندیز مو په لېوالتیا ومانۀ. له داسې یوۀ شخصیت سره لیدل زموږ یوه هیله وه. لومړی ځل وو چې ورسره مخامخ سوو، هغه په ساده وطني جامو کې وو. دغۀ آزاد سړي خپل نوم میر اکبر او تخلص ئې خیبر ووایۀ.

استاد انګلیسي درس پېل کړ او د تدریس په هماغو لومړیو ورځو کې ئې پر موږ ژور اغېزه پرېښوده. هغۀ د وخت په تېرېدلو او احتیاط خپل سیاسي او فلسفي نظریات

مطرح کول. نورو دوستانو او هم مورچله ملګرو – اکرم عثمان، عارف اکبري، بشیر رویګر، رحمت الله، موسی آتش، ذبیح الله او صدیق سیلاني – هم زموږ کړی ته لاره موندله. (غوربندي: ۸ او ۹ پاڼې)

په ۱۳۴۳ل [۱۹۶۴ز] کال کې د نوي اساسي قانون له انفاذ سره سم د یوې متشکلې مبارزې لپاره لاره پرانیستل سوه. خیبر او کارمل په ګډه په دې هکله فعاله ول. هغوی د هغهٔ سیاسي سازمان د ماهیت په هکله چې باید جوړ سوی وای، په لومړیو کې یو شان فکر کاوهٔ.

«کارمل او خیبر د کار په لومړیو کې د یوې متحدې جبهې یا مترقي ډیموکراتیک ګوند د جوړېدو لپاره چې پراخ بنسټه ټولنیزې ستنې او کیڼ لاس او پرمختګ غوښتنې ته [لېواله] منځني سیاسي دریځونه ولري، ستر سیاسي امکانات په لاس کې لرل. دغسې یوې طرحې کولای سول د پخوانیو مبارزینو د پاتې شونو، روڼ اندو او د هېواد د زیارګالو منځ ته لاره ومومي. په دې توګه ګڼ شمېر ځوانان کیڼ لاس ته له تللو او افراط ګرۍ څخه ژغورل کېدل. زه چې د سیاسي تفکر له اړخه له دواړو سره نېږدې وم، ددې شاهد وم چې هغوی له اوضاع څخه دقیقه ارزونه او خبرتیا درلودله، سیاسي ډیموکراسۍ، د قانون حکومت، پارلماني مبارزې او په یوې واحدې جبهې کې د ډیموکراتیکو او پرمختګ غوښتونکو ځواکونو راټولیدو ته چې د ټولنې له ټولو ټیټو او منځ مهالو پاړکو یا طبقاتو څخه جوړه وي مُعتـَقِد ول؛ خو له یوې خوا د یوهٔ مستقلانه تشکل لپاره د تکل/ ارادې او د روڼ اندو او د ټولنې د منځمهالو سیاسي اقشارو د افکارو د همغږۍ لپاره د کار نهٔ شتون چې د واحدې جبهې د جوېدلو پر لور لاړ سي او له بلې خوا د سیاسي سیالانو له لوري پر هغوی باندې له اشرافیت سره د تړاو د ناسمو تورونو له کبله هغوی ونهٔ سو کولای په یاد سوي تګلوري روان سي. دوی اړ سول چې د یوهٔ کیڼ لاسي ګوند د جوړېدلو شرایط ومني، نهٔ دا چې پراخ بنسټه ډیموکراتیک غورځنګ یا ګوند.» (سلطان علي کشمند: " یادداشت های سیاسي و رویداد های تأریخي" لومړی چاپ: ۲۰۰۲ز کال، لومړی ټوک، ۱۳۸ او ۱۳۹ پاڼې)

په پورتنیو مطروحه مسایلو کې دوه مسئلې د یادونې وړ دي: لومړی خبره دا ده چې هېڅکله پر خیبر باندې "په اشرافیت پورې د تړل توب" تور نهٔ وو لګول سوی او نهٔ سوای کېدلای چې دا تور وربا‌ندې ومنلي. دوهم " د روڼ اندو او د ټولنې د منځمهالو سیاسي اقشارو د افکارو د همغږي کولو لپاره چې په یوهٔ مستقلانه تشکل واوړي، تکل/ اراده، " موجوده وه. دغه تکل، هم د کنګرې د جوړېدو لپاره د کار په لړ کې او هم د ګوند له بنسټ ایښودلو وروسته په پرله پسې ډول سبوتاژ کېدهٔ او غورځنګ له «غیر مستقلانه تشکل» سره یو ځای د «کیڼ لاسۍ او افراطي ګرۍ» په لور بیول کېدهٔ. استاد خیبر تر پایه پورې ددغو دواړو انحرافاتو پر ضد په پرېکنده ډول مبارزه وکړه او قرباني

ئې ورکړه. له دې کبله د همداسې «تکل» د شته والي له کبله «کارمل او خیبر د گوند د بنسټ ایښودلو لپاره» د غورځنګ د پاتې شونو په ګډون چې د شورۍ په اووم دورې ئې شهرت درلود له نورو روڼ اندو سره یو ځای (کین لاس ته د "لېوالو" دریځونو په لړلو سره) خپلې هڅې ګډې کړلې او د کار د پیل بریا ئې تر لاسه کړله.

« د ملي - ډیموکراتیکو دودونو وارثانو او دوام ورکوونکو، مشروطه غوښتونکو، ویښ ځلمیانو، "ندای خلق" او " جمعیت وطن"»، په نوي اساسي قانون کې له خلاقو تصریح سویو ډیموکراټیکو ارزښتونو څخه په ګټه اخیستنې، د ۱۳۴۲ل کال د وږي د میاشتې په ۱۸ نېټې [ ۱۹۶۳ز د سپتمبر ۱۰]، د لومړي ځل لپاره د زیارګالو د ملي او ډیموکراتیکې مبارزې بیرغ د لومړۍ کنګرې "بنسټ ایښودونکې کنګرې" د تدارک د کمیټې په نوم راپورته کړی وو. د تدارک کمیټه د لومړي ځل لپاره په جمال مینه کې – د رضا مایل هروي – په کور کې جوړه سوې وه. هغه مهال دا ځای ببرک کارمل په کرایه نیولی وو. د تدارک د کمیټې په ترکیب کې د "جمعیت وطن" لارښود میر غلام محمد غبار، د ویښ ځلمیانو د مشرتابه برجسته غړي نور محمد تره کي، د ادبیاتو د پوهنځي استاد علي محمد زهما، د محصلینو د اتحادیې فعال ګډونوال ببرک کارمل، میر اکبر خیبر، محمد طاهر بدخشي او محمد صدیق روهي ګډون درلود. زهما د تدارک د کمیټې له اجازې وروسته له یوۀ فیلو شیپ څخه په ګټه اخیستنې اروپا ته لاړ، غبار له کارمل سره د نظر اختلاف پیدا کړ او د "جمعیت ډیموکراټیک خلق" د بنسټ ایښودلو له ګډون څخه په شا سو، صدیق روهي هم د بیروت له تحصیلي بورس څخه د ګټه اخیستنې په پار له سیاسي متشکلې مبارزې څخه لاس په سر سو.» (غلام دستګیر پنجشیری: "ظهور و زوال حزب دیموکراتیک خلق افغانستان " / ۱۹۹۹ز کال جنوري، لومړۍ برخه: ۱۴۸ – ۱۴۹ پاڼې)

«غبار د هېواد د روڼ اندو دندې د مشروطیت د غورځنګ د نۀ سرته رسېدلو دندو د تداوم پر بنسټ فورمول بندي کولې او ببرک دغه دندې په ملي او ډیموکراټیک انقلاب او په پای کې د علمي سوسیالیزم د ایډیالوژۍ پربنسټ د یوې سوسیالیستي ټولنې په جوړولو کې مطرح کولې. غبار، په یوې غونډې کې چې کارمل، خیبر او ما "لیکوال"، په کې ګډون درلود، وویل: کارمله ! ستا د ښو پل سور اور دی، هېڅکله نۀ غواړم ستا د ښو پر پل باندې پښه کښېږدم. غواړم په خپلو ګامونو لاړ سم. تاسو ته توصیه کوم چې دغۀ حقیقت ته پاملرنه وکړئ. هغه کتابونه چې د اروپا په پرمخ تللو شرایط کې لیکل کېږي، زموږ په وروسته پاتې قبیلوي ټولنې کې د تطبیق وړ نۀ دي. که څه هم خیبر مسایل د غبار په فکري کربښې کې مطرح کول، له دې چې نظامي جامې ئې په تن وې له فعال ګډون څخه لېرې ساتل کېدۀ. کارمل د ایډیالوژیکو بحثونو او خبرو اترو پر مهال خیبر ته مخامخ وویل: تاسو دواړه (غبار او خیبر) [میر غلام محمد غبار، میر اکبر خیبر] محافظه کار میران یاست.» (غوربندي:۱۱ او ۱۲ پاڼې)

سره له دې چې غبار ونۀ غوښتل او یا ئې ونۀ سوای کولای چې د سمبال سویو مبارزاتو د پیلولو په موخې کېنې لاس توب ته  د غورځنګ د تللو د ژرغونې لپاره " په خپلو ګامونو" پر مخ ولاړ سي خو که پورتني دریځونه له یوې خوا د یو شمېر بنسټیزو مسایلو په طرحې کې د خیبر او غبار همفکري څرګندوي له بل لوري ددوی فکري-سیاسي بنسټونو ته ئې بنه/ شکل ورکړ او څو موده وروسته د غورځنګ په پراخېدلو سره ئې د خیبر او د کارمل تر منځ د اختلافاتو بنسټیزې ستنې جوړې کړلې.

«د غبار له شاته کېدلو وروسته د تدارک د کمیټې څلورو تنو غړو - تره کی، کارمل، خیبر او بدخشي- د کابل د ناحیو له ګوندي حوزو سره  منظمې سازماني اړیکې ټینګې کړلې. سوکه سوکه د تدارک لارې چارې پیدا سوې، او د " جمعیت ډیموکراتیک خلق" لومړنۍ کنګره د ۱۳۴۳ل کال د مرغومي د میاشتې په یولسمې، (د ۱۹۶۵ز د جنورۍ په لومړۍ نېټې) د ماسپښین په دوه بجو د کابل په شیرشاه مینې/ څلورمې کارتې کې واقع د تره کي په کور کې پرانیستل سوه.» (پنجشیری: "ظهور و زوال حزب دیموکراتیک خلق افغانستان" لومړۍ برخه، ۱۵۱ پاڼه)

« خیبر چې د ګوند د بنسټ ایښودلو د کمیټې غړیتوب درلود او د سیاسي فهم، ایډیالوژیکې پوهې او د ټولنیز اعتبار له اړخه له هېڅ چا وروسته پاتې نۀ وو، په ټاکنو کې ئې ګډون ونۀ کړ او د ګوند د مؤسسې کنګرې غړی نۀ وو.» « صالح محمد زیری: " د نیمې پیړۍ خاطرې" لومړی چاپ  ۲۰۰۵ز کال، ۳۴۵ پاڼه/ ژباړه: فقیر محمد ودان»

استاد خیبر (هم په ۱۹۶۶ او هم په ۱۹۶۷ز کلونو کې) د واحد ګوند د مرکزي کمیټې د پراخېدلو پر مهال دا امکان تر لاسه نۀ کړ چې د ګوند د مرکزي کمیټې غړیتوب تر لاسه کړي. البته د ګوند له انشعاب او پوځي دندې څخه له استعفی وروسته، د پرچم د جناح د مرکزي کمیټې په غړیتوب کې ومنل سو. له هغۀ وروسته ئې په سیاسي مبارزاتو او د ګوند په تشکیلاتي کار کې په علني ډول ګډون کاوۀ او د ګوند په خپل منځي مباحثاتو کې ئې فعال ګډون درلود.

« د افغانستان د خلق ډیموکراټیک جریان د نشراتي ارګان- د "پرچم" د جریدې په نشراتي پالیسۍ کې – د کارمل او خیبر تر منځ اختلاف رامنځته سو. خیبر د ملي نشراتي خط د تعقیب پلوی وو او په یو اړخیزو قضاوتونو ولاړ د نړۍ والو مسایلو طرح ئې د ګوند شهرت او ملي برم ته مهلکه ضربه ګڼله. په ۱۹۶۸ز کال کې پر چکوسلواکیا باندې د شوروي د یرغل پر مهال، کله چې "پرچم" دغه یرغل په ډېرې بېړې د ژرغورونکې او انترناسیونالیستي دندې په توګه وستایۀ، زه ددغو کرښو لیکوال د لومړي ځل لپاره د خیبر او کارمل تر منځ د نزاع شاهد وم. خیبر د نور «احمد نور» او بریالي آپارتمان ته، چې د ګوند د مرکز په توګه ورڅخه کار اخېستل کېدۀ، په غضبناکې څېرې راغی، او د پرچم جریدۀ ئې په قهر د میز پر مخ وویشتله او کارمل ته ئې وویل: د "تحریر" کوم

"هیأت" پرېکړه وکړه چې له نورو ټولو خلکو مخکې دا ډول ستاینې راپورته او دداسې حرکت پر تندي باندې، چې پراخ نړۍ وال اړخ لري، انترناسیونالیستي مهر ولګوو؟ ددغهٔ مطلب په خپرولو سره زموږ ګوند په خپلې جرړې باندې تبر وهلی دی، او ګوند به ډېر دروند تاوان ورکړي او دا تاوان د ګوند ګوښوالي "تجرید" او د ملي ماهیت مغشوش کېدل دي. کارمل وویل: موږ له دغو پېښو څخه چې په ډېر ندرت پېښیږي باید د خپل ځان د تثبیت لپاره ګټه واخلو. دا خبره جدي مهٔ نیسئ، خبرې به وکړو. خیبر زیاته کړه: زموږ برخلیک په افغانستان کې تثبیت کیږي. د ملي دندو بریالي تر سره کول تر ټولو لومړیتوب لري. هغه ګوند چې ملي اعتبار ونهٔ لري نهٔ سي کولای ستر کارونه تر سره کړي." (غوربندي ۱۵ پاڼه)

"د پرچم د جناح د مشرتابهٔ په سطح کې په دې مسئلې باندې مناقشه راپورته سوې وه چې: د ملي روحیې او انترناسیونالیستي روحیې په انډول کې کومه یوه لومړیتوب لري. خیبر د ملي روحیې په روزنې او لوړېدنې ټینګار درلود او دا بېلګه به ئې وړاندې کوله چې: د ایران د "توده ګوند" او د هندوستان کمونیست ګوند د خپلو اقداماتو، خپرونو او د غړو او کدرونو د روزلو پرمهال د انترناسیونالیستي روحیې په غیر لازم تبارز سره د خلکو په منځ کې ګوښه/ تجرید سول او وئې نهٔ سوای کولی په پراخ ولسي ګوند بدل سي. پایله دا سوه چې نهٔ ئې په هېواد کې دننه کوم ټولنیز او نهٔ ئې په نړۍ وال ډګر کې کوم اعتبار تر لاسه کړ. کارمل په دې باور وو چې اوس د ملي ګوښتیوب پالنې "انزوا پسندي ملي" وخت نور تېر سوی او راتلونکی برخلیک د زبر ځواکونو په لاس کې دی. کارمل به ویل: موږ باید په سوسیالیستي لېوالتیا او ګوندي هویت کې له همدغهٔ لید سره موافق څرګند دریځ ولرو او کدرونه په همدغې روحیې ورزو. خیبر د ملي دندو پر تقدم د ټینګار کولو تر څنګ ویل: که ګوندي عنصر د ولس د اعتبار د تر لاسه کولو لپاره لازم اعتبار ونهٔ لري، په نړۍ وال ډګر کې هم کوم واک او صلاحیت نهٔ لري او یو بې مصرفه شی دی. ګوندي هویت باید زموږ له ملي هویت څخه وي. د ملي مرتبت نهٔ درلودل د ګوند لپاره فاجعه ده." (غوربندي: ۲۷ پاڼه)

د ۱۳۵۲ل د چنګاښ [۱۹۷۳ز جولای] له کودتا او د جمهوریت له اعلام وروسته، د افغانستان د خلق ډیموکراټیک ګوند دواړو جناح ګانو – البته پرچم تر نورو ډېر د مستۍ او ولولو په ښودلو سره – د جمهوریت له نظام او شخصاً له محمد داؤود څخه دفاع کوله. په دغسې یوهٔ چاپیریال کې د "خطاب به مردم ِ افغانستان" وینا چې محمد داؤود د جمهوري نظام د تګلارې / خط مشي په توګه واوروله، د پرچم د مشرتابهٔ له لورې چمتو سوه او طبعاً چې پرېکنده ملاتړ ئې ورڅخه کاوهٔ. دا حقیقت ددې څرګندوی دی چې د افغانستان د خلق ډیموکراټیک ګوند مشرتابهٔ او د جمهوري نظام مشرتابهٔ دواړو له یو بل سره- په ځانګړې توګه په خپله ولسمشر سره- اړیکه درلودله.

د افغانستان د خلق ډيموکراټيک گوند يو ډېر پخواني فعال اسماعيل محشور چې له محمد داؤود سره ئې اړيکه درلودله وايي: هغسې چې ما د محمد داؤود روحيه وليدله او څو ځله مې واورېدل هغهٔ چنداني لېوالتيا نهٔ درلودله چې له کارمل سره اړيکه ولري. فکر ئې کاوهٔ چې خيبر ملي سړی دی او د پښتونستان په هکله ډېره مطالعه لري. له دې چې داؤود خان له پښتونستان سره مينه درلودله نو خپلې اړيکې ئې د کارمل په پرتلې تر ډېره له خيبر سره تنظيمولې. که داؤود يو يا دوه ځله له کارمل سره تحميلاً ليدلې دي د داؤود خبره ورته دا وه چې تاسو کوښښ وکړئ چې د خپل گوند او د خپلې مبارزې سور رنگ يوهٔ معتدل رنگ ته بدل کړئ. ملت او ملت پالنه تر کمونيزم او انترناسيونالېزم ډېره لوړه ده. (ظاهر طنين: «افغانستان د قرن بيستم» مجموعهٔ برنامه های BBC، ۱۷۵ او ۱۷۶ پاڼې)

په گوند کې دننه د خيبر دريځونه او استنتاجات د کارمل له لېوالتياوو سره په تقابل کې واقع کېدل چې د محمد داؤود د تفکر له بنې سره نېږدې وو. همدا واحد فکري بنسټ او تومنه وه چې خيبر ئې د افغانستان د خلق ډيموکراتيک گوند د نورو مشرانو په پرتلې محمد داؤود ته نېږدې کاوهٔ. د خيبر ليد لوري، د کارمل له پلويانوسره د هغهٔ اختلاف لا ډېر کړل. د افغانستان د خلق له ډيموکراټيک گوند سره په ضديت کې د داؤود د لېوالتيا ژورېدل، چې د گوند د دواړو جناح گانو د مشرتابهٔ پارووںکي او دستوري چلندونه په کې بې اغېزې نهٔ ول، د داؤود په چارچلند، د ولسمشر د ويناوو په گډون، دولتي تبليغاتو کې راڅرگند سول، چې دې خبرې د گوند د لومړي لاس کدرونو په منځ کې، له رژيم سره ضديت لا پراخ کړ.

په دغسې يوهٔ وضعيت کې کارمل د داؤود له رژيم سره په ضديت کې د گوند د رسمي دريځ د تثبيت لپاره د ۱۳۵۳ل د مرغومې د مياشتې د پينځمې [۱۹۷۴ د دسمبر د مياشتې ۲۵] کنفرانس دعوت کړ او وئې ويل: رژيم – د « خطاب به مردم افغانستان» په وينا کې د تصريح سويو ټکيو په گډون- خپلې تگلارې باندې بيا کتنه کوي. د جمهوري مرکزي کميټه ئې چې مترقي استازو په کې اکثريت درلود په يوهٔ غير فعال ارگان تبديل کړ او په خپلو سياستونو کې ئې د ښي لاس تگلاره ونيوله. دغهٔ رژيم د خپل طبقاتي خصلت پر بنسټ و نهٔ سوای کولی د خلکو د گټو پر لور پر مخ لاړ سي او د ولسونو او پرگنو په منځ کې ځانته مرتبت او ملاتړ ومومي. اوس رژيم بيا هڅه کوي چې د ټولنې د مظلومو طبقاتو گټې له زبېښاک گرو طبقاتو سره د پخلاينې په نوم قرباني کړي.» (کشتمند: «يادداشت های سياسي و رويداد های تأريخي»، لومړی ټوک، دريمه برخه، څلور څېرکی، ۲۹۶ پاڼه.) په دغسې يوهٔ وضعيت کې د استاد خيبر طرحو ونهٔ سوای کولی د کنفرانس د اکثريتو گډونوالو ملاتړ تر لاسه کړي.

«کنفرانس یو لاسوند تصویب کړ چې پر بنسټ ئې گوند باید د رژیم له ملاتړ څخه لاس واخلي او د رژیم د سیاست پر وړاندې ټینگه انتقادي لاره ونیسي او د افغانستان د ولسونو او پرگنو د گټو ددفاع د لارې دریځ دې ټینگ کړي. د گوندي کنفرانس په لاسوند کې راغلي ول: "تر هغو چې ځمکوال/ فئیوډالي ټولنیز او اقتصادي مناسبات په رښتوني انقلابي لارې له منځه لاړ نهٔ سي، د ارتجاع د برید د پایلو خطرات به تل موجود وي.» (کشتمند: "یادداشت های سیاسي و رویداد های تأریخي" لومړی او دوهم ټوک، لومړی ټوک، ۲۶۹ پاڼه)

«خلیل الله زمر، د پرچم د جناح پېژندل سوې څېره او د گوند د مرکزي کمیټې غړی وایي: په دې کنفرانس کې د خیبر په مشرۍ د پرچم د جناح هغه لېوالتیا تر نیوکو لاندې ونیول سوه چې د داؤود د رژیم په تأیید او ملاتړ ئې باور درلود. په دې توگه، کنفرانس د پرچم په جناح کې دننه په دوه وو ډلو وویشل سو – یوه ډله د کارمل ډله او بله ئې د خیبر په مشرۍ ډله وه – او همدې خبرې د داؤود له رژیم سره د چلند پر څرنگوالي د پای ټکی کښېښود. په کنفرانس کې د رأیو په اکثریت دا خبره تصویب سوه چې د افغانستان د خلق ډیموکراټیک گوند باید په راتلونکي کې د داؤود د دولت بدیل اوسي. سره له دې چې د کنفرانس په لاسوند کې د "پرځېدلو" کلمه نهٔ ده راغلې خو د پرېکړه لیک له متن څخه په څرگنده ښکارېدل چې د داؤود خان رژیم باید وپرځول سي.» (طنین:" افغانستان در قرن بیستم،" ۲۰۲ او ۲۰۳ پاڼې)

«کارمل د افغانستان د وسلوال ځواک د منسوبینو په منځ کې د گوند "د پرچم د جناح" د سیاسي او سازماني کمیټې په مشرتابهٔ کې د استاد خیبر د کار تگلاره تر تنقید لاندې ونیوله او وئې ویل: په هغو پورته ځایونو کې (د دولت عالي مقاماتو کې) هغه حساسیت چې د خیبر په هکله شته نومړی شدیداً تر څار لاندې دی او د کړو وړو او نوښت کړې ئې ورځ تر بلې تنگه کېږي. کارمل د پوځیانو په منځ کې د نویو لارو چارو د موندلو د اړتیا د پلمې په ټینگار سره د پوځیانو په منځ کې د گوند د کمیټې د غړو په ترکیب او مشرتابهٔ کې د بدلون خبره راپورته کړه او ددې کار لپاره ئې نور «احمد نور» د کمیټې د مسؤول او یو شمېر نور مشهور، مظاهره چي، گوتلکي/ انگشت نما او ځانته نیږدې کدرونه ئې د نظامي کمیټې د غړو په ترکیب کې وگومارل.» (بارق شفیعي: "غروب خورشید" ۳۸ پاڼه)

زمر د ۲۰۰۵ز کال د اکتوبر د میاشتې په شپاړلسمې د یوې لیدنې په ترځ کې چې ما لیکوال «ودان» هم په کې گډون درلود وویل: له خیبر څخه و نور «احمد نور» ته د نظامي سازمان پر لېږد باندې د بحث پر مهال، خیبر د کارمل په گډون د هغهٔ وخت مشرتابهٔ ته په خطاب کې وویل: د پوځي سازمان په هکله بیړه د څه لپاره ده؟ داسې نهٔ سي چې تاسو دې د کوم نظامي اقدام لپاره تصمیم نیولی وي. په دې باید پوه سئ چې

زموږ ګوند، د کودتا ګوند نهٔ دی. لاړ سئ د ګوند تګلاره سمه ولولئ. موږ ټولنیز انقلابي ګوند یو، نهٔ د کودتا ګوند.»

«استاد خیبر به ویل چې زه له ببرک سره پر کومې شخصي مسئلې اختلاف نهٔ لرم. زموږ اختلافات سیاسي اړخ لري.» (غوربندي: ۵۴ پاڼه) او اختلافات ئې داسې بیانول: زموږ غورځنګ یو بنسټیز انحراف ګواښي؛ په دې هکله زموږ ګوند د نورو ګوندونو له ورته حالت څخه هېڅ پند او عبرت وانخیست چې یو په بل پسې ئې بې ځایه قرباني ورکړې او دې ته اړ سول چې یوازې د خپل کپسول په تنګسه کې خاپوړې وکړي. د ملي او عقیدتي ارزښتونو تر منځ حد له پامه وغورځول سو او دواړه د غورځنګ په تاوان له یو بل سر ګډېږي. ملي اعتبار چې د ګوند د سیاسي تبارز د ډګر بنسټیزه ستنه ده، د نمایشي تقلید قربانۍ سوی او تخریبېږي. له کارمل سره زما اختلاف په همدغهٔ ټکي کې دی. زه وایم زموږ د ګوند تکتیک او ستراتیژي دې زموږ د خپل هېواد د ملي او ټولنیزو غوښتنو د لومړیتوب پر بنسټ په پام کې ونیول سي خو برعکس کارمل ټینګار لري چې خپل ځان له شور او ولولو ډک انترناسیولیست، او ما ناسیونالیست معرفي کړي. کارمل دلته او هلته په بې شرمۍ راپور ورکوي او تبلیغات کوي.» (غوربندي: ۵۹ پاڼه) خیبر زیاته کړه: د سیاسي تکتیک او د کار د پر مخ بیولو د څرنګوالي په اړوند اختلافونو ته په کتنې، په ځانګړې توګه په پوځي ډګر کې، چې زما او د کارمل تر منځ راپورته سوي، کارمل غواړي ما په بشپړې انزوا کې راولي.» (غوربندي: ۳۶ او ۳۷ پاڼې)

«محمد داؤود لیبیا، کویټ، سعودي عربستان، مصر، یوګوسلاویا، پاکستان او هند ته په سفر کولو سره د نویو متحدینو او د نورو مرستو د سرچینو په لټه کې وو. د افغانستان د خلق ډیموکراټیک ګوند د سیاسي دفتر پخواني غړي فرید احمد مزدک وايي: د مسکو له نظره د داؤود هڅې د هغهٔ دودیز توازن د ماتولو هڅې وې چې په افغانستان کې د امریکا، لوېدیځې اروپا او شوروي اتحاد تر منځ د سیالیو له کبله په افغانستان کې رامنځته سوی وو. مسکو نهٔ غوښتل – د شورویانو په باور- دغه توازن مات سي. کله چې شورویانو د داؤود له اړخه د خطر احساس وکړ، له خپلو ټولو شته وو امکاناتو څخه په ګټه اخیستنې ددغې لېوالتیا مخه ئې ونیوله. د ۱۹۷۵ او ۱۹۷۶ز کلونو په لړ کې د محمد داؤود په اړوند هغه بدلونونه چې د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند په سیاست کې راځرګند سول، د هغو بدلونونو یوه هینداره وه چې د کرملین په سیاست کې د محمد داؤود پر وړاندې رامنځته سوي ول.» (طنین:"افغانستان در قرن بیستم" ۲۰۱ – ۲۰۲ پاڼې)

د محمد داؤود او بریژنیف تر منځ د اختلافاتو د شدت موندلو په لړ کې، د پرچم د جناح په مشرانو کې، استاد خیبر ټینګار درلود چې ددغو اختلافاتو په لړ کې دې د افغانستان د خلق ډیموکراټیک ګوند نهٔ باید د شوروي د ګټو د مقلد په توګه بلکه د

ملي ګټو پر بنسټ عمل وکړي او د داؤود د هېواد پالنې، ملي او پرمختګ غوښتونکې روحیې ته په کاتو دې کوښښ وکړي چې دغه مختصات پیاوړي کړي او هغه دې د " خطاب به مردم" په وینا کې په راغلو دریځونو کې د ملي ګټو پر بنسټ ولاړ سیاسي عمل ته وهڅوي.

په ملي ګټو باندې د استاد خیبر ټینګار او له محمد داؤود سره د هغهٔ فکري نېږدې والی ددې لامل سو چې د جمهوري نظام د منځته راتلو له هماغو لومړیو څخه د استاد خیبر په وسیلې د پرچم د جناح د نظامي سازمان د مشرتابهٔ د مسؤولیت تداوم تر پوښتنې لاندې راسي نو ځکه له دغهٔ مسؤولیت څخه د هغهٔ د لېرې کولو کوښښونه پېل سول. له همدې کبله، د پلمو لټولو لړۍ پېل سوې او د همدغو پلمو په پایله کې له خیبر څخه دغه مسؤولیت واخېستل سو او د لنډ مهال لپاره سلیمان لایق او په پای کې نور احمد نور ته ولېږدول سو.» (د کشتمند کتاب ۳۱۸ او ۳۱۹ پاڼې، د طنین کتاب ۲۰۵ پاڼه او د غوربندي کتاب ۵۵ پاڼه)

د سردار محمد داؤود د پرځولو لپاره د یوهٔ واحد ځواک د تدارک په موخې، د شوروي اتحاد د کمونیست ګوند تر فشار لاندې - د ګوند د دواړو جناح ګانو د وحدت له رامنځته کېدلو وروسته، استاد خیبر د خپلو دریځونو په پار د سیاسي بیرو او د ګوند د مرکزي کمیټې د انتصابي دارالانشاء د غړیتوب له ترلاسه کولو محروم وګرځول سو او د واحد ګوند مشرتابهٔ، استاد خیبر د تجرید په حالت کې وساتهٔ.

«خیبر یو مُصِر "پی ګیر" سړی او برجسته مبلغ وو. هغهٔ د خپل نفوذ او ښې سیاسي سابقې ترڅنګ نسبتاً ټینګ طبقاتي او ملي دریځ درلود. خیبر د خپل ژوندانهٔ په وروستیو ورځو کې د متحدې جبهې د جوړېدو او د "ملي انقلاب" له ګوند سره د همکاري پلوی او ان د پرچم د فرکسیون د انحلال پلوی وو. (پنجشیری:" ظهور و زوال حزب دیموکراتیک خلق افغانستان"، دوهمه برخه، ۵۸ او ۵۹ پاڼې)

« د بارق شفیعي او سلیمان لایق په خبره، په هماغو ورځو کې د نور "احمد نور" په وسیلې د کارمل ګواښجن پیام خیبر ته ابلاغ سوی وو چې له خپلې "انحلال پلوې" تګلارې څخه دې صرف نظر وکړي.» (پنجشیری: ۵۹ پاڼه) « استاد خیبر د غوربندي په حضور کې ویلي ول: ستاسو کارمل زه په مرګ ګواښلی یم. زما له پلوه ورته وواياست چې زه له مرګه نهٔ ډارېږم. ددې پر ځای چې کارمل په خپل ځان کې د یوهٔ زړهٔ سواندي مشر غوره فضایل وروزي، دې ته لېواله دی چې ځان د دریمې درجې د مافیا د بانډ د رئیس په نقش کې وآزمايي.» (غوربندي: ۵۴ پاڼه)

آیا کارمل کله هم وکولای سول هغه " پند او عبرت" زده کړي چې استاد خیبر ورڅخه یادونه کړې وه؟ د استاد له شهادته وروسته، له لوړو ژورو ډک ۱۷ کالو او د ژوندانهٔ پېچلو ازموینو ته اړتیا وه چې کارمل نن یا سبا، ژر یا وروسته، زموږ د هېواد د ولسونو

او پرګنو د بې شمېرو ځاني او مالي قربانیو او د هېواد  پالو روڼ اندو د یوۀ نسل د بربادۍ په قیمت، هغو پایلو ته ورسوي چې استاد خیبر کلونه وړاندې کارمل او د ګوند نورو مشرانو ته کولې.

د منځني ختیځ د چارو متخصص مصطفی دانش لیکي: «له کارمل سره زما لیدنه ۱۹۹۵ز کال ته ورګرځي. د حیرتانو په ښار کې د هغۀ لیدلو ته ورغلم. په افغانستان کې مجاهدینو حکومت کاوۀ او هېواد ئې په کنډوالو بدل کړی وو، هېواد د کړاونو په لمبو کې سوځېدۀ خو کارمل د خلکو هېر وو.» مصطفی دانش، کارمل «د کهېدلي/ زوړ ځپلي او داسې خوار او مغلوب سپین ږیري» په توګه یادوي چې «هر څه ئې له لاسه ورکړي او په دې لېرې پراتۀ ښار کې په خوارۍ او سپکاوۍ ژوند کوي.» دانش وایي: « شوروي اتحاد تر هغو چې کولای ئې سول له کارمله ګټه واخیسته او ښۀ ئې وزبیښۀ، خو نن چې پر ځمکې پرځېدلی او مطرود پروت دی ان هغۀ ته د ویزې له ورکولو څخه ډډه کوي.»

دانش زیاتوي: «له سیاسي نظره، کارمل نور ژوندی نۀ وو او نۀ ئې کومه سیاسي ونډه او اهمیت درلود. د خدای په امانۍ پر مهال ئې په سترګو او دردناک لحن د خپل ژوندانۀ له یوازیني حاصل څخه په دغو ټکیو یادونه وکړه: له ژوندانۀ څخه مې تر ټولو لوی درس چې واخیست دا وو چې هېڅ هېواد نۀ سي کولی په بهرني ځواک باندې په ډډه لګولو، آزادي، استقلال او پرمختګ ته لاسرسی ومومي. د ولس ارادې ته باید درناوی وکړو او د هېواد له استقلال څخه دفاع وکړو. هر ملت باید په خپلو پښو ودرېږي. آیا دا درس داسې یو چا ته کومه ګټه رسولی سي چې له سیاسي ډګر څخه رټل سوی او پر خپل تندي باندې ئې د «خاین او مزدور» مهر خوړلی او اوس د مرګ په درشل کې دی؟

(د ۲۰۰۶ز کال د اپریل دریمه: «خاطراتی از آخرین دېدار با ببرک کارمل» BBC «نګاه ژرف» د سیاست ځانګړې پاڼه- «ربع قرن پس از اشغال افغانستان»)

(۲۰۱۹/۰۴/۱۳)

## ملګری خیبر چا وواژه؟

## یاسین بیـدار

افغانانو او باندنیانو د هېواد د تېرو دریو لسیزو د کړکیچ په هکله په سلهاوو کتابونه او مقالې لیکلې دي. د «وطن د ګوند» له مشرانو څخه کشتمند، دستګیر پنجشیري، نبي عظیمي، قدوس غوربندي او نورو په خپلو آثارو کې د ګوند په تیارو ګوټونو باندې رڼا اچولې ده. په ټولو لیکنو کې د میر اکبر خیبر ترور ته نغوته سوې خو له غوربندي پرته، اکثریتو لیکوالانو د استاد خیبر ترور، د حفیظ الله امین او د هغهٔ د اړوندو کسانو کار ګڼلی دی.

د ښاغلي ودان اتیا په سلو کې لیکنې د «نګاهي به تأریخ حزب دیموکراتیک افغانستان» د غوربندي د اثر د یو شمېر برخو تکرار او بیا لیکنه ده. د هغهٔ په لیکنه کې د نورو پایلنیویو یا د سترګو لیدلو حالونو ته هېڅ نغوته نهٔ ده سوې او له هېڅ چار سره مرکه نهٔ ده سوې. تهٔ به وایې چې په خپله ئې هېڅ نهٔ لیدلي او نهٔ اورېدلي دي نو له دې کبله په لیکنو کې د هغهٔ حضور په کې نهٔ حس کېږي.

د خیبر له ترور وروسته د ګوند د ډېریو غړو تر منځ دوه ټکي مطرح ول: لومړی – د خیبر له ترور کېدلو مخکې غوربندي ماښام مهال خیبر له کوره دباندې باسي او له ګرځېدو راګرځېدو وروسته ئې د قتل په ځای کې خوشي کوي. دوهم – غوربندي چې د پرچمیانو له برخې څخه د مرکزي کمیټي ارشد غړی او ددې ګوند یو ویناوال وو، د غوایي له اوومې وروسته له امین سره یو ځای سو او د خپل کتاب تر لیکلو پورې چې د مړینې له مودې څخه ئې ډېر واټن نهٔ درلود، امین ته وفادار پاتې سو.

غوربندي په خپل کتاب کې کوښښ کړی چې همدغو دوه وو ټکیو ته شرحه ورکړي. کولای سو د لیکوال رواني وضع د هغهٔ د لیکنې په ترڅ کې درک کړو. دغهٔ سپین ږیري

سړي چې - ددهٔ په وینا - کلونه ئې په زندان کې د اعدام په محکومیت کې تېر کړي، د خپلې سیاسي سابقې په لړلو او ځانګړې هڅې او مبارزې – بیا هم ددهٔ په ټکیو – د افغانستان د پرمختګ لپاره –بالاخره په داسې یوهٔ رژیم پورې منسوب سو چې د بشر د حقونو په نقض کولو او ددې هېواد د څه دباندې شلو زرو بهترینو بچیانو په قتل تورن رژیم وو. اوس غوربندي باید دغهٔ تور ته هم ځواب ویلی وای چې ولی دی په خپله د توطئې په پېل کې ښکېل وو. له دې اسیَته «سبب» د یوهٔ ټپي پړانګ په توګه چې په یوهٔ تنګ ګوټ کې راګیر سوی وي، غوښتي ئې دي په خپلو منګولو او غاښونو انتقادات دفع کړي. په دې لړ کې سره له دې چې د لومړۍ کنګرې د تدویر په هماغو لومړیو کې ئې ارواښاد ببرک کارمل په دې تړاو تر برید لاندې ونیو خو د سلطان علي کشتمند، نور احمد نور او نورو څو تنو له سپکولو څخه ئې هم دریغ ونهٔ کړ. غوربندي داسې خبرې کړې دي چې په ډېریو حالاتو کې نهٔ ویل ئې تر ویلو ښهٔ دي. غوربندي په خپلو قضاوتونو کې د عامیانه او غیر سیاسي استدلال تل ته سقوط کړی دی، د بېلګې په توګه دی لیکي چې نجیب الله له لسو کالو وروسته روسان وپېژندل او له هغوی څخه ئې واټن ونیوهٔ. حال دا چې زه فکر کوم دا خبره برعکس ده. دا روسان ول چې ډاکټر نجیب ئې یوازې خوشې کړ.

په دې کې هېڅ شک نهٔ سته چې استاد خیبر یو ارزښتمند او درونډ غمی وو چې موږ ټولو له لاسه ورکړ خو د ګوند څه د باندې دوه زره تنه بهترین، لایق او وړ کدرونه د هغهٔ رژیم په وسیلې په ګولیو سوري سوري سول چې غوربندی ئې غړی وو. غوربندي ان دغې موضوع ته هم نغوته نهٔ ده کړې. د لومړۍ کنګرې له تدویر مخکې له مرحوم کارمل سره خپل اختلافات یادوي، خو دا نهٔ یادوي چې څه دباندې د لسو کالو لپاره د هغهٔ ګوند د مرکزي کمیټې غړیتوب ئې درلودلی دی چې کارمل ئې منشي وو. د غلام محمد غبار له قوله لیکي چې ګنې کارمل ته ئې په خطاب کې ویلي ول: " ستا د پښو د پل ځای سور اور دی. زه ستا د پښو د پل پر ځای پښه نهٔ ږدم" یعنی کارمل سخت دریځی او متعصب وو. دا چې غوربندي څه لیکلي دي هغه به دهٔ ته ورپرېږدو، د ودان پایلنیوی څه دی؟

د کشتمند په خاطراتو کې لولو چې د خلقیانو په وسیلې د وړاندیز سوې تګلارې / اساسنامې طرح غیر علني وه اولومړۍ مادې ئې داسې ویل: "د افغانستان د خلق ډیموکراټیک ګوند د سیاسي سازمان عالي بڼه او د افغانستان د ټولو کارګرانو او بزګرانو مخکښ ګوند دی. خپله ایډیالوژي ئې علمي مارکسیستي نړۍ لید ټاکلې ده." /.../ په تګلارې کې د غړیتوب د شرایطو په منځ کې یو شرط دا وو چې مارکسیستي – لیننیستي تیوري زده کړي او د کارګر د طبقې د دښمنانو پر وړاندې نهٔ پخلا کېدونکی وي. د ولسونو او پرګنو په منځ کې دې د علمي سوسیالیزم، هېواد پالنې او پرولتري ناسیونالیزم افکار تبلیغ کړي./..../ هماغسې چې وینو د تګلارې متن زښت ډېر رادیکال او کینې لاسی

سمبال سوی وو او د تومنې یا محتوی له اړخه د افغاني ټولنې د شرایطو او واقعیتونو څرګندوی نهٔ وو. همدې تګلارې د دوارو تر منځ د جوړجاړي وروستنۍ امکانات له منځه یوړل."

همدلته وینو چې د کارمل جناح په دې پار د خلقیانو له جناح څخه واټن ونیوهٔ چې خلقیان سخت دریځي او غیر واقع بین ول. دا خبره له دې خبرې سره بې ارتباطه نهٔ ده چې د ګوند د بنسټ ایښودلو له هماغه پیله تر نن پورې د خلقیانو جناح، پرچمیان " اشراف زادګان او آمارتوران" او ددوی په ژبه " پورته طبقه" یادوي.

لویې دوپرې په خپل نامتو کتاب " افغانستان" (لومړي چاپ/ ۱۹۷۲ز کال) کې د افغانستان د سیاسي ګوندونو په تصنیف کې د پرچم څانګه کیڼ لاسي منځلارې او "شعلهٔ جاوید" ئې "افراطي کیڼ لاسي" ښودلې ده. ګورو چې د غوربندي پورتنۍ خبرې د را وروستو پېښو د پرمختګ په پرتلې سمې او پر ځای نهٔ ښکاري. همدا شان د ملي او یا انټرنالیسونالیست ادعا چې د غوربندي په کتاب کې راغلې د ښاغلي ودان په لیکنې کې کټ مټ د کتاب له مخې کاپي سوې ده.

غوربندي له پېله تر پایه د لوستونکي په ذهن کې دا تیوري تزریق کوي چې ګنې استاد خیبر یو ملي شخصیت وو، داؤود خان هم د ملي تیورۍ پالونکی سړی وو او استاد په ځلونو ځلونو یاده کړې وه چې له ملي غورځنګ څخه باید د افغانستان د خلق ډیموکراتیک د انحلال تر کچې دفاع وسي. نوموړی په دې هکله، د استاد خیبر نقل قول کارمل او نورو ته په خطاب کې راوړي چې: "لاړ سئ د ګوند تګلاره ولولئ. زموږ ګوند د ټولنیز انقلاب ګوند دی، نهٔ د کودتا ګوند."؛ خو دی په خپله عملاً داسي چا سره لاس یو کوي چې داؤود خان ئې د هغهٔ د کورنۍ تر وروستي ماشوم پورې د چړو له تیغه تېر کړ.

د غواړي اوومه څه وه؟ کودتا یا انقلاب؟ که کودتا وه ولې غوربندي د استاد خیبر د ارادې برخلاف د زړهٔ له تله ئې ملاتړ وکړ؟ ولې د داؤود خان او د هغهٔ د کورنۍ له قاتل سره ئې لاس یو کړ؟ او که انقلاب وو نو ولې نور خلک ملامتوي؟

د غوربندي په کتاب کې دا تناقضات ډېر دي چې د لیکوال د مشکوک او دوه اړخیز شخصیت استازیتوب کوي. دا کتاب هم له سیاسي او هم له اخلاقي اړخه په هغه کچه کې نهٔ دی چې په داسي حساسي موضوع کې ورباندې یو اړخیزه ډډه ولګول سي ان استناد کول ورباندې خطر لري. په ډېریو هغو کتابونو کې چې د پرون ورځې مسؤولینو لیکلي دي په ټوله کې په هغو کې پر ځان د انتقاد برخه ډېره لږ لیدل کیږي. تقریباً ټول کوښښ کوي د ماتو او ورانیو د تقصیر دوړې د نورو په لمنو کې ولټوي. هغوی دا کار په ډېرې دیپلوماتیکې ژبې تر سره کړی دی خو غوربندي په خړو سترګو پر خپلو سیالانو برید کړی او لږ تر لږه یو ځل ئې خپل ګریوان ته سر نهٔ دی ټیټ کړی.

**د استاد خیبر وژل کېدل:** له یو شمېر کورنیو او نړۍ والو فعل او انفعالاتو وروسته داؤود هڅه وکړه چې له شوروي سره دودیزې اړیکې پرېک او د خلیج د شتمنو هېوادونو له لارې ځان له لوېدیځ سره وصل کړي. هماغسې چې د سید قاسم رشتیا له لاسوندونو په ځانګړې توګه د هغهٔ له سیاسي خاطراتو راڅرګندېږي، داؤود د مصر د ولسمشر جمال ناصر په شخصیت مین وو او د هغهٔ پر بل باندې ئې پل کښېښود. ناصر په ۱۹۵۸ز کال کې د مصر د یو شمېر کیڼ لاسو افسرانو په مرستې واکمنۍ ته ورسېد او لومړۍ تصفیه ئې له اخوان المسلمین سره د حساب تصفیه وه. کله چې د ناصر د حکومت ستنې ټینګې سوې، په یوهٔ برید ئې د مصر کمونیست ګوند تس نس کړ. داؤود تقریباً د همدې کړنلارې له مخې صحنې ته راغی؛ خو توپیر په دې کې وو چې د مصر برخلاف، په افغانستان کې حکومت ضعیف وو او د مانور توان ئې نهٔ درلود، له همدې کبله د دفاع پر ځای راوپرځېد.

کله چې د داؤود حکومت په خپلو دریځونو کې بدلون راووست، خلق او پرچم ئې سره متحد کړل. د همدغو پرمختګونو په اوج کې ول چې د پلان وزیر علي احمد خرم ووژل سو. د قاتل نوم مرجان وو او ویل کېدل چې د امین له نېږدو کسانو څخه وو. څو موده وروسته د آریانا د هوايي شرکت پیلوټ ګران ووژل سو. ویل کېدل چې ضارب نوموړی د شپې په تیارهٔ کې د کارمل پر ځای وژلی وو. د استاد د وژل کېدلو د خبر له خپرېدلو وروسته، د عارف عالمیار نوم د قاتل په توګه د ځینو خلکو په خولو کې کښته پورته کېدهٔ. هماغسې چې صدیق فرهنګ لیکي: د ۱۳۵۷ل کال د غوایي د میاشتې په اوومې د داؤود خان د کورنیو چارو وزیر عبدالقدیر نورستاني ټپي سو. نوموړي د روغتون له منځه ویل: « امین ته خبر ورکړئ چې زه ټپي سوی یم» د پاملرنې وړ ده: د کورنیو چارو وزیر ټپي کېږي، خو حفیظ الله امین ته خبر ورکوي، نهٔ محمد داؤود ته.

د غوایي د اوومې پاڅون ګوندي طرح نهٔ وه او د خلق او د پرچم د پوځي څانګو او مرکزیت تر منځ همغږي نهٔ وه. داسې ښکاري چې خلقیانو مخکې له مخکې د ګوند پوځي څانګې ته خبر ورکړی وو چې که د ګوند مشران ونیول سول نو تاسو پاڅون وکړئ.

امین چې له ګوند څخه د شړل کېدلو په حالت کې وو، د واکمنۍ په منځ کې دننه له ښې لاسو عناصرو سره په لاس یو کولو وغوښتل چې ګوند له دولت سره په نظامي تقابل کې مخامخ کړي. ددې کار لپاره باید یو ګام اوچت سوی وای چې دولت د ګوند مشران زنداني کړي وای. له همدې کبله یو په بل پسې وژنې په سمبال سوې توګه تر سره سوې چې ګوند وپارول سي او له ځانه غبرګون وښیي. امین پوهېدهٔ چې که د حاکم نظام لاس ماشې ته رسېدلی وای نو نن به خلکو د خلق ډیموکراتیک ګوند د مشرانو او د ګوند د فعالینو په قبرونو کې خپل تازه مړي خښول؛ خو دولت اصلاً ضعیف او سست سوی وو او وئې نهٔ سوای کولی له ځانه دفاع وکړي.

دا حکم کول چې ګڼي کارمل، استاد خیبر وژلی دی او یا د کارمل د پارونو له کبله وژل سوی دی، زما له نظره په بشپړ ډول غلط او کاملاً غیر منطقي او کاملاً منتفي دي.

## د میر اکبر خیبر سیاسي عقایدو ته یوه کتنه

سرور یورش

د ۱۳۴۳ل کال د وري په میاشت کې، د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند د بنسټ ایښودونکې کنګرې له جوړېدلو لږ وروسته مې د ګوند غړیتوب تر لاسه کړ. هغه مهال، د راتلونکو فعالیتونو لپاره د نویو راغلیو کدرونو د چمتوکولو لپاره د ګوند د فعالینو له منځه څو درې – څلور کسیزې ډلې جوړې سوې او میر اکبر خیبر ته دنده وسپارل سوه چې هغوی ته درس ورکړي. زه د همدغو ډلو په منځ کې په یوې ډلې کې وم. د کورس له بشپړولو وروسته کله نا کله د خیبر کور ته ورتلم او د هغهٔ له خبرو څخه مې ګټه اخیستله. وروسته پوه سوم چې خیبر د کابل د روڼ اندو کړیو په منځ کې ان د ګوند له جوړېدلو مخکې ایډیولوژیکي او فلسفي مسایل تدریسول او له همدې کبله ئې د استاد لقب ګټلی وو.

د «پرچم» د جریدې د خپرېدلو په دوران کې پښتو، دري او انګلیسي یا برعکس ته د یو شمېر لاسوندونو، پیامونو او د ګوندي مکاتباتو په ژباړه کې زه له استاد سره همکار وم. دغه کاري اړیکې وې چې زموږ تر منځ ئې متقابل عواطف او احساسات رامنځته کړي ول. له دې کبله، ما ورسره د هغهٔ د ویاړلي ژوند تر پایه پورې نېږدې اړیکې لرل، د استاد له شخصیت، پوهې او سیاسي نظریاتو سره آشنایي لرم او پوهېږم چې د افغانستان له جیو پولیټیک، قبیلوي جوړښت او اودنګ/ بافت، اسلامي عقایدو او ټولنیزوشرایطو څخه په بشپړ ډول خبر وو. سره له دې چې باندنیو هېوادونو ته ئې سفرونه نهٔ ول کړي خو په نړیٔ وال سیاست او په نړیٔ والو چارو کې ئې پراخ معلومات او پوهه درلوده او په څېړنیزو/ تحقیقاتي مطالعاتو کې ئې له انګلیسي ژبې څخه ډېره ګټه اخیستله.

له دې چې د استاد خیبر د شخصیت، ژوند او مبارزې ارزونه ډېر ستر کار دی دلته کوښښ کوم چې د استاد پر ځینو افکارو او سیاسي عقایدو رڼا واچوم.

● استاد خیبر د افغان – شوروي د دوستانه اړیکو پلوی وو خو په دې باور وو چې په دغو اړیکو کې باید توازن وجود ولري چې پر بنسټ ئې د دواړو هېوادونو ملي ګټو ته په مساوي ډول خدمت وکولی سي. د خلق او د پرچم د فرکسیونونو مشرانو په دې دلیل له استاد څخه ښهٔ نهٔ راتلل چې له یوې خوا استاد افراطي سوویتیست نهٔ وو او له بلې خوا په ډېر شدت د ملي ګټو او ملي ارزښتونو مدافع وو. له همدې کبله ول چې یو شمېر کسانو په هغهٔ د "تنګ نظرانه ناسیونالیزم" تور لګاوهٔ.

• استاد خیبر د مشرتابهٔ/ رهبرۍ ادعا نهٔ درلوده او ویل به ئې: د گوند تشکیلاتي اصول دا ایجابوي چې د گوند له ټاکل سوي عمومي منشي څخه ملاتړ وسي. یو شمېر کسانو هغه په ناسم ډول د خپلو مادام العمرو او انحصاري مقاماتو پروړاندې سیال/ رقیب گاڼهٔ. د گوند یو شمېر مشران او گوندي کدرونه په دې تورن ول چې گڼې د استاد پیروان دي. البته دغې پیروۍ یوازې د شخصي لېوالتیاوو اړخ درلود او په دې معنی نهٔ وو چې گڼې په یوهٔ واحد گوند کې دې کوم ځانگړی او مخفي فرکسیون وي.

• استاد خیبر د خلق او د پرچم د څانگو په مجدد وحدت کې چې د ۱۳۵۶ل کال د چنگاښ په میاشت کې تر سره سو بنسټیزه ونډه درلوده. د واحد گوند په سیاسي بیرو او مرکزي کمیټې کې د بیرو د ډېرو غړو په پرتله د هغه صلاحیت/ وړتیا څوڅو ځله لوړه وه خو په بېلابېلو پلمو به لېرې ساتل کېدهٔ، ځکه چې استاد له ځانه د مستقل او سالم زعامت وړتیا او صلاحیت څرگند کړی وو. په دواړو فرکسیونونو کې د فرکسیونونو مشرانو له یو شمېر نورو سره کوښښ کاوهٔ استاد څنډې/ حاشیې ته پرېږدي ترڅو له ډېر لږ اجرائیوي صلاحیت څخه برخمن وي.

• استاد خیبر په دې فکر وو چې گوند هغه مهال کولی سي خپله تأریخي دنده تر سره کړي چې په ولسي پرگنیز گوند بدل سي. هغه په دې باور وو چې دا یوه اوږد مهالیزه لړۍ ده او هغې ته درسېدلو لپاره باید له حوصلې سره یو ځای متداوم فعالیت تر سره سي. استاد توضیح کوله چې گوند په خپل لومړني اوسني پړاو کې منحصراً د ولسي غورځنگ د رهبرۍ مدعي دی، حال دا چې گوند باید لومړی د ولس مخکښ سي او وکولی سي ولس د خپلو طرحو او سیاستونو پر شپول راټول کړي. یوازې دغه مهال کولای سي چې د سیاسي قدرت په هکله فکر وکړو. زه شخصاً په خپله په څو مواردو کې ددې شاهد او ناظر وم چې په هغو کې به استاد له هغو کسانو سره شدیدې لفظي مشاجرې کولې چې له "وسله وال" پاڅون څخه به ئې خبرې کولې او دا د کودتا لپاره یوه بله اصطلاح وه.

• استاد خیبر داسې مهال ووژل سو چې د سړې جگړې د شدت، او په سیمې کې، په ځانگړې توگه افغانستان کې، د زبرځواکونو د مخامخ کېدلو د شونتیا له کبله د سیالیو د بټۍ اور په غړاندو سوی وو. ددې قتل د مجریانو هویت تر نن پورې د ابهام په پردې کې پټ دی، ځکه د گوند د هېڅ مشر له پلوه چې یو په بل پسې واک ته ورسېدل یو پلټنیز گام اوچت نهٔ سو. په افغانستان کې کورنیو او باندنیو کیڼ لاسو او ښي لاسونو ځواکونو هڅه وکړه چې د استاد د ترور له پېښې څخه گټه واخلي. ښي لاسو – عمدتاً د محمد داؤود د حکومت دننه عناصرو- د لوېدیځ او د سیمې د متحدینو په لمسون کوښښ وکړ چې له دې پېښې څخه د افغانستان د خلق ډیموکراتیک گوند د ځپلو لپاره گټه واخلي. د خیبر د قتل له پېښې څو ورځې وروسته د گوند د یو شمېر مشرانو

زنداني کول د همدې خبرې څرګندوی دی. او له دې سره تقریباً په هم- مهاله توګه د افغانستان د خلق په ډیموکراتیک ګوند پورې اړوندو ځانګړوعناصرو او کړیو احتمالاً د شوروي اتحاد د خاصو کړیو او محافلو/ ډلو په لمسون او د ملاتړ په استشارې د استاد له ترور او د ګوند د مشرانو له زنداني کېدلو څخه په ګټه اخیستنې په اردو کې د تش په نامهٔ "وسلوال پاڅون" د په لاره اچولو لپاره پلمه او انګیزه وموندله چې له ډېرې مودې مخکې ئې ورته چمتو والی درلود او مناسب فرصت ته سترګې په لاره ول او په همدې پلمې عملاً لاس په کار سول. په پای کې د داؤود حکومت راوپرځېد او هغه څه بریالیتوب ته ورسېد چې وروسته د "غوایي د انقلاب" نوم ورباندې کښېښودل سو.

له هغه وخت څخه دېرش کاله تېرېږي. هغه مهال د استاد خیبر د نظریاتو په اهمیت لږ کسان پوهېدل. د همدې مودې په تېرېدو سره چې په ترڅ کې ئې ولس په هېواد کې دننه د چارو د مسؤولینو د تېروتنو، ښوییدنو، انحرافاتو او ماجرغوښتنو او د باندنیو لاسوهنو او بریدونو خطرناکه عواقب احساس کړل، روښانه سوه چې د استاد دریځ سم او په حقه وو.

● استادخیبر د تدبیر خاوند وو او بې سیاله سیاسي بصیرت ئې درلود او هېڅ ډول تعصب ئې نهٔ درلود. د ګوند – د دواړو جناح ګانو- د صفوفو، کدرونو او اکثرو مشرانو په منځ کې ئې ځانګړی ګرانښت او منښت درلود. په افغانستان کې دننه او له کرښې بله غاړه کړیو، محافلو او ملي شخصیتونو خیبر د یوهٔ عالم او هېوادپال په نوم پېژندهٔ. په کابل کې د باندنیو هېوادونو په مېشتو دیپلوماتیکو ټولنو کې ئې د پام وړ وجاهت درلود.

د استاد له مړینې اتهٔ ویشت کاله تېرېږي. د هغهٔ د درووند یاد او خاطراتو په تازه کولو سره ما ته دوه ګونی احساس پیدا کېږي: له یوې خوا فکر کوم چې دا څومره لوی ناورین او د غم ځای دی ځکه استاد دداسې فجیع مرګ لیاقت نهٔ درلود؛ له بل لوري له ځان سره وایم چې خیبر یو نېکمرغه انسان وو ځکه هغه د حق او حقیقت د یوهٔ لار روي په توګه په درنښت ژوند وکړ او په پای کې د توطئې قرباني سو او سترګې ئې له نړۍ پټې کړې. (۲۰۰۶ ز کال د اپریل اولسمه)



Photo credit: F. Gharzai Laeq – family album



Photo credit: K. Amir – family album

**د میر اکبر خیبر او  سیدجان لالا په یاد**

## کبیـــر امیـر

د ماشومتوب وختونه مې په یاد دي چې د ژمي سړې میاشتې به مو په جلال آباد کې تېرولې. زه په داسې کور کې لوی سوی یم چې کور مو د خپل ټبر او خپلوانو په ګڼې ګوڼې ډک وو، که په کابل کې یوازې د اکا د زامنو او لورګانو، د ماما د زامنو او لورګانو، او د پرېمانه وریرونو، وربرو، خوریونو او خورځو له نعمت څخه برخمن وم، په جلال آباد کې هم د ژمني استراحت پر مهال یوازې نۀ پاتې کېدم او د لوبو ملګرې مې درلودل.

په جلال آباد او د کابل په سرای غزني کې یوۀ کور ته چې مو تل تګ راتګ کاوۀ زما د خپل اکا او یا زما د پلار د اکا د زامنو کور وو ځکه په دواړو کورونو کې زما په منګ زامن ول. زما د پلار د اکا په زامنو کې یوۀ ئې چې زما له پلار سره یو ځای لومړی له خپلو لېرې اونېږدې دوستانو سره د نادر شاه په رکاب کې کابل ته راغلی وو په مرادخانیو کې په دوه وو دولتي کورونو کې مېشت سوی وو چې د ارګ په دوه سوه مترۍ کې کې ئې موقعیت درلود ؛ دا کور د جنرال عمر ناصري له کورسره مښتی وو چې، په " سور جرنیل" مشهور وو. زما د پلار د اکا ددغۀ زوی نوم سید جان وو. هغه زما د اکا زوم او زما د ورور باجه هم وو.

زما په پلرني کلي کې دا دود دی کله چې د سړیو عمر له پینځوس کلونو پورته سي نو د که که «اکا»، له له «لالا» او مه مه «ماما» په لقب ئې یادوي او په دې توګه د هغوی درناوی ساتي. کله چې کېن او ښی لاس مې وپېژاند او سترګې مې خلاصې سوې ورسره آشنا سوی وم؛ ځکه هغۀ له خپلې کورنۍ سره یو ځای زما د اکا له لور سره زما په ګډ پلرني کور کې ژوند کاوۀ. هغه مو د سید جان له له په نوم یاداوۀ. کله نا کله به مو د ډېر درناوي په پار یوازې د «له له» په ویلو بسنه کوله.

سید جان لالا دنګه ونه درلودله، ډېري وختونه به ئې یوه نرۍ پګړۍ پر سره او د شمشاد د ښاخ په شان دنګ قامت به، استوار پر لاره روان وو. زما د پلار د اکا زامنو او وریرونو ئې په مرادخانیو د څو مودې له تېرولو او د کابل له شرایطو سره له بلد کېدلو وروسته هر یو ئې ځانته د کور موندلو په لټه کې سو. له همدې ډلې سید جان لالا زما د اکا له زامنو او د خپل اکا له زامنو سره سرای غزني ته کډه سو او نور سمنټ خانې ته لاړل.

سید جان لالا چې په ونه دنګ وو نو فطرتاً زموږ د کورنۍ په کړۍ کې تر نورو ټولو په فکر او عمل کې هم دنګ او لوړ وو. هماغه وو چې لومړی د میوند د جادې په وروستۍ برخې کې ئې د موټر د پرزو د پلورلو یوه هټۍ پرانیستله او نور دوستان ئې هم وهڅول د ځان بسیايینې لاره دې خپله کړي.

موړ له قومي اړخه ځاځي او د جان خان خیلو د څانګې له یوې څانګې شخه او اصلاً د ګل غونډۍ استوګن یو. دا ګل غونډۍ هم یو په زړهٔ پورې داستان لري. زموږ په دې سیمې کې یوه غونډۍ وه چې شا وخوا ئې اوبهٔ راټولیدلې او کله ناکله به خوسا سولې. د سیمې خلکو به دا غونډۍ د "ګنده غونډۍ" په نوم یادوله. کله چې دې سیمې ته شاه محمود خان راغی او وئې لیدل چې خلک داسې ښایسته غونډۍ چې ښایسته ګلان په کې شنهٔ کیږي د «ګنده غونډۍ» په نوم یادوي نو له خلکو غواړي چې دا غونډۍ دې نوره د «ګل غونډۍ» په نوم یاده کړي نهٔ «ګنده غونډۍ». له دې وروسته موږ هم د «ګنده والو» نوم چې لا تر اوسه ئې هم ځینې خلک یادوي، «غونډۍ والو» ته بدل کړ خو دا نوم لا تر اوسه ډېر نهٔ کارول کیږي.

د ژمي یوه ورځ وه او د تل په شان مو د ژمي د ساړهٔ موسم د تېرولو لپاره جلال آباد کې اړولي ول، په دې ورځ د سید جان لالا له زوی خیرمحمد سره په «ریګ شاه مردخان» کې ددوی په کور کې په لوبو بوخت وم چې د کالهٔ د دروازې په درشل کې مې سترګې په یوهٔ دراندهٔ سړي ولګېدلې چې ښکلې خرېې ښې اتو سوې خمتا جامې ئې په ځان کې وې او له کمیس او پرتوګ سره ئې همرنګه یو څادر درلود او څادر ئې په دې ډول اچولی وو چې له دواړو تخرګونو ئې تېر کړی او بیا ئې شا ته اچولی وو. د هغهٔ په لیدلو زه هم د اکا د زامنو په تقلید د درناوي په پار په پښو ودرېدم او لوبه مې پرېښودله. وروسته خیر محمد وویل: ودې نهٔ پېژندهٔ؟ ما وویل: له کومه ئې وپېژنم؟ ما خو دی تر اوسه نهٔ وو لیدلی. دهٔ وویل چې: دی، خیبر صاحب دی.»

کله چې ما سید جان له له ولید چې په څه ډول ئې خیبر ته ښهٔ راغلاست او هرکلی وویل، نو په زړهٔ کې مې راتېر سول چې هرومره کوم درونډ او د درناوي وړ سړی دی، ځکه لالا هر چا سره دومره مینه نهٔ کوله. کله چې مې ولیدل چې سید جان لالا ددهٔ او د څو تنو نورو درندو کسانو په مخ کې – له هغې ډلې څخه سلیمان لایق چې هغه مې هم د سید جان لالا په کور کې لیدلی وو- په کوم ډول خبرې کوي نو پوه سوم چې زموږ لالا هم تر نورو کم نهٔ دی.

هغه مهال سید جان چې مستقل کور او ژوند درلود نو د جادې په پای کې خپله د موټر د پرزو د پلورلو هټۍ ئې تر ډېره د سیاستوالو په مرکز بدله کړې وه نهٔ د موټر د پرزو د پلورلو هټۍ. هغهٔ د نسبتاً هوسا او بسیا ژوند د امکاناتو په لرلو سره دا توان درلود چې – که هره ورځ نهٔ وي- نو ډېرې ماسپښین مهالونه به د مخورو او پېژندل سویو کسانو کوربه وو او په دوی کې د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند سران هم راتلل.

وروسته له لالا سره د کورنیو اړیکو د برکت له کبله نهٔ یوازې له میر اکبر خیبر بلکه د ډیموکراتیک ګوند له اکثریتو مشرانو سره د مړیو د فاتحو او یا د اونۍ په پای کې په سرای غزني یا جلال آباد کې مخامخ سوی یم. ان زما مشر ورور هم چې مفلوج وو او ډېر ښهٔ

شاعر وو، د گوند د پلویانو کړۍ ته ئې لاره موندلې وه. هرڅومره چې زما عمر ډېرېدهٔ، هماغومره د میر اکبر خیبر متانت او نرمښت، په ځانګړې توگه د خبرو پر مهال هغه آرامي ئې چې درلوده، زه ئې ډېر ځانته کاږلم او ورته لېواله کېدلم.

سید جان لالا چې د «کوڅهٔ ما» په رمان کې د ډاکټر اکرعثمان په روایت خپله ښکلې څېره راښکاره کوله: "سیاسي عارف وو. په خپل لږ او لومړني سواد سره ئې د سیاست دډگر د ډېرو ماهرو لوبغاړو په پرتله حق له ناحقه او ښهٔ ئې له بده ډېر ښهٔ تشخیصول. د ځوانانو لپاره سرمشق وو. په عین سادگۍ کې به ئې لوی لوی کارونه کول او داسې خبرې به ئې کولې چې یو ډېر پوه عالم به ئې له ویلو عاجز وو."

نوی شپاړلس کلن سوی وم چې د دیموکراټیک گوند د پرچم څانگې ته جذب سوم. دغهٔ گوند ته زما د راښکون لامل له کور څخه دباندې د گوند د مشرانو ویناوې او په کور کې دننه د سید جان لالا خبرې وې. په اتم او نهم ټولگي کې وم چې لاریونونو کې مې گډون کاوهٔ او د ویناوالو په زړهٔ پورې خبرو ته به مې د زړهٔ له کومې غوږ نیوهٔ. د ویناوالو په منځ کې د ارواښاد نجیب غږ او د خبرو ډول مې ډېر خوښېدهٔ.

کلونه تېر سول او له ۱۳۵۳ل [۱۹۷۴ز] وروسته مې له گوند څخه ځان لېرې کړ او خپله اړیکه مې ورسره پرېک کړه. د ۱۳۵۷ل [۱۹۷۸ز] کال د پسرلي یوه ورځ وه چې زما مشر ورور انځورگر نعیم خان چې د دولت د رئیس محمد داؤود تمثالونه ئې معمولاً په لویو لویو اندازو انځورول ما ته او تر ما مشر ورور ته وویل چې ددغهٔ انځور په بشپړولو کې ورسره مرسته وکړو.

د انځورگرۍ دا پروژه د آریانا هوايي شرکت لپاره یوه تابلو وه. دا تابلو باید د څلورو په شپږو مترو په مقیاس د عامې روغتیا د وزارت د څلور لارې په سویلې ضلعې کې انځور سوې وای. زموږ کار پېل سو او تر نېږدې ماښام پورې ورباندې بوخت وو. یو په زړهٔ پورې شی مې چې هېڅکله نهٔ هېرېږي د دوه درې واره د میر اکبر خیبر له وقاره د ډکې څېرې لیدل ول چې د ښکلو منظمو ویښتانو په لرلو سره به د وزیر اکبر خان پر لور روان وو او یا به له وزیر اکبر خانه دیخوا را روان وو، د تللو په مهال به ئې لاسونه شا ته اچولي ول. زما بله نېکمرغي دا دوه چې زما له ورونو سره د پېژندگلوۍ په پار به ئې زموږ سلام له لېرې یا نېږدې څخه بې ځوابه نهٔ پرېښود.

پر یادې سوې تابلو باندې د کار د دوام په یوې بلې ورځې مو مطبعې ته نېږدې د هغهٔ د وژل کېدلو گنگوسې واورېدلې. کله چې ماښام مهال د کور پر لور خوځېدلو، ورور مې وویل راځئ وگورو چې هغهٔ ئې چېرته وژلی دی. موږ لاړو او د هغهٔ د وژل کېدلو ځای مو د موټر له کړکۍ څخه له لېرې ولید او په ویرجن حالت کور ته لاړو. په وروستي ځل مې چې لیدلی وو توربخونې فولادي رنگه جامې ئې پر تن وې.

وروسته له دې چې د افغانستان د خلق ډیموکراټیک گوند واک په لاس کې واخیست سید جان لالا یو له هغو کسانو څخه وو چې هېڅکله ئې خیبر له یاده نهٔ وو ایستلی او په خپلو خبرو کې په ئې په یوهٔ ډول نهٔ یو ډول یاداوهٔ. د دواړو یاد دې تلپاتې وې. (۲۰۲۲ / ۰۲ / ۰۴)

## څرنگه د مرگ له لومې ژوندی راووتم؟

څلمی رزمي (د راډیو – ټلویزیون او سینماتو گرافۍ د ادارې کارمند)

د محمد داؤود د جمهوریت د کلونو پر مهال د مخابراتو د وزارت د PTT (پوست، ټیلیفون، ټلیگراف) د ادارې کار کوونکی وم. د ۱۳۵۷ل کال د اوومې نېټې په ورځ مې سترگې یو ناڅاپه په حیرانتیا سره په شوبلو ولگېدلې چې د PTT  ادارې ته ئې نېږدې مورچل نیولی وو او نهٔ یوازې ارگ ئې تر اور لاندې ونیوهٔ بلکه د مخابراتو دستگاه ئې هم محاصره کړې وه. هېڅ څوک نهٔ پوهېدل چې څه خبره ده او کوم برخلیک به مو مخې ته پروت وي. کله چې د PTT د ادارې کار کوونکو اوضاع غیر عادي ولېدله غوښتل ئې له ادارې دباندې ووځي او خپلو کورنو ته لاړ سي، خو ولېدل سول چې د سیمې د «پولیسو مأموریت» له خپلو ټولو سرتېرو سره زموږ ادارې ته دننه ننوتی او له همدې ځایه ئې مورچل نیولی دی. سرتېرو د کودتاچیانو پر وړاندې وسله واله جگړه

کوله او هېڅ چا ته ئې اجازه نهٔ ورکوله چې ادارې ته دننه سي او ټیلفوني مخابره پرېک کړي.

د پولیسو مأمور، مور، د دستگاه کارمندانو ته، اخطار ورکړ چې هېڅ څوک نهٔ سي کولای دباندې ووځي او څوک دي له خپلو شعباتو څخه دباندې ونهٔ وځئ. له ساعتونو وېرې او وحشت وروسته مې د دفتر د کړکۍ د ښیښې له شا د پښتونستان څلور لارې ته وکتل او سترگې مې د خیبر پر رستوانت ولگېدلې. ومې لیدل چې څو تنه ملکي کسان د رستوارنت له منځه وسلوالو عمدتاً ټانکیستانو ته د څښاک اوبهٔ راوړي. د هغوی په منځ کې مې درې تنه و پېژندل: شکور شفیعي، اسد رهیاب او فرید سیاوش.

یوه خبره مې په ذهن کې را تاو سوه، له دې چې د دندې له ځایه مې هر چېرې ټیلیفون کولی سوای نو د خیبر رستورانت ته مې زنگ وواههٔ. له هغهٔ چا څخه چې ټیلیفون ئې پورته کړ هیله وکړه چې د رستوارنت د دروازې په خولهٔ کې د درېو تنو ولاړو ځوانانو په منځ کې دې د اسد په نوم ځوان ته ووایي او له ما سره دې یو ځل په بیړه خبرې وکړي. هغهٔ ومنله او په دې توگه مې وکولای سول خپلو ځینو پوښتنو ته ځوابونه ومومم.

اسد رهیاب هم زما په شان د افغانستان د خلق ډیموکراټیک گوند د پرچم د څانگې غړی وو. کله چې ماته ئې لنډ معلومات راکړل چې هغهٔ هم له دې موضوع څخه کومه مخکینۍ خبرتیا نهٔ درلوده او تصادفاً له هماغه ځایه تېرېدهٔ او کله چې پوه سو چې کودتاچیان د خلق په څانگې پورې اړه لري نو له هغوی سره ئې په داوطلبانه ډول همکارۍ ته ملا وتړله؛ هغهٔ ته مې وویل: تهٔ پوهېږې چې ستا مېرمن او زما مېرمن چې دواړه د همدغهٔ وزارت کارمندانې دي، دلته بندې پاتې دي آیا نهٔ سي کولای خپلو کورونو ته لاړې سي؟ لطفاً له هرې لارې چې شونې وي یو کار وکړه که زه او زما نور همکاران ونهٔ سو کولای خپلو کورونو ته لاړ سو، نو لږ تر لږه دې زموږ ښځینه همکارانې  په خوندي او سلامت ډول خپلو کورونو ته پرېښودل سي، ځکه همدا اوس د دروازې د خولې د پهره دارانو له پلوه موږ ته ویل سوي چې که هر څوک وغواړي له وزارت څخه دباندې ووځي، وژل کېږي.

وروسته خبر سوم چې رهیاب په بیړه تللی وو او د تورن دلاور پامیر په نوم یو چا څخه چې په همدې سیمې کې توظیف وو د مرستې غوښتنه کړې وه ترڅو زموږ د یو گڼ شمېر همکارانو لپاره د خوندي وتلو لاره برابره کړي او خپلو کورنو ته لاړ سي. په پای کې دلاور پامیر ټیلیفون پورته کړ او له ما څخه ئې پوښتنه وکړه: ایا کولای سئ د پولیسو مأمور تهووایاست چې له ما سره خبرې وکړي او له مقاومت څخه لاس پر سر سي؟ ما ورته وویل چې: موږ ئې یرغمل نیولي یو. که د دفتر له دروازې پښه دباندې کښېږدو ډزې کوي.

لنډه دا چې دوی د ماښام تر شپږو بجو پورې مقاومت وکړ او د شوبلې له یوۀ یا دوه وو دړزو وروسته پولیسان او مأمورین له دستګاه دباندې ووتل. په دې مهال ئې راځخه وغوښتل چې په مخابراتي چارو کې آشنا څو تنه کار آزمایلي او مسلکي کسان هغوی ته معرفي کړم او زه په خپله د شپې له پلوه همدلته پاتې سم. وروسته مې ګام پر ګام او پړاو په پړاو وموندل چې زموږ د سیمې قومانده د شیر جان مزدوریار په لاس کې ده او ترهغۀ پورته د څلورم زغره وال ځواک د رئیس ارکان - احتمالاً محمد رفیع- تر امر لاندې ده.

د غواېي د میاشتې د اتمې نېټې د سباوون څلور بجې وې چې د جمهوري ارګ سرتېري تسلیم سول. د جمهوریت رژیم راوپرځېد، نوې کابینه اعلان سوه او محمد اسلم وطنجار د مخابراتو نوی وزیر مقرر سو. نوموړی په عین وخت کې مرستیال صدراعظم هم وو. کله چې راغی او له کارمندانو سره معرفي سو وئې پوښتل چې ځلمی رزمي څوک دی؟ ځواب مې ورکړ چې زه یم. وئې ویل: ته به له ما سره د وزارت دفتر ته ځې. کله چې دفتر ته ئې ورسېدم، ومې لیدل چې د مخابراتو په وزارت کې زما کاري سابقه د هغۀ د میز پر مخ پرته ده او هغې ته ئې لاس ونیوۀ او وئې ویل: ملګرو د انقلاب په شپه ستاسو له همکارۍ څخه راته خبر راکړی دی. ددې ترڅنګ تاسو د ګوند غړی او ددې وزارت د اداري چارو پخوانی کارمند هم یاست او ټول کارمندان پېژنئ. زه یو عسکر یم او د مخابراتو له تخنیکي چارو لکه پوست، ټیلیفون، ټیلیګراف او نورو سره آشنايي نۀ لرم. سر له همدې شیبې زما د قلم مخصوص مدیر یاست او له ما سره په اداري، تحریري او دفتري چارو کې تر هغو مرسته او همکاري وکړه چې ملګري په مهمو مقامونو کې مقرر سي. ونیسه د خپل تقرر د وړاندیز لیک له لیکلو ئې پیل کړه. د لومړي ګام په توګه خاینینو ته ځواب ورکړه او ټولو ته زما له پلوه هدایت ورکړه چې نور دې کار ته نۀ راځي.

دا د محمد داؤود د رژیم له پرځېدلو وروسته په همدې وزارت کې زما د نوي کار پیل وو. څو ورځې وروسته کله چې د نویو تعییناتو او مقرریو موضوع راپورته سوه، د وزارت په لوړو او حساسو مقامونو کې زما او د یو شمېر نورو د تقرر د وړاندیز خبره د همدغو نواحیو د ګوندي مسؤول له پلوه په خپله وزیر ته وسپارل سوه؛ خو وزیر د تقرر منظوري وځنډوله او زه پاتې سوم او د قلم مخصوص مدیریت.

هغه مهال زما له نظره فرکسیوني مسایلو خپل اهمیت له لاسه ورکړی وو ځکه د خلق او د پرچم وحدت ته مې د «اوسپنین وحدت» په سترګه کتل او باور مې درلود چې د ګوند ټول غړي د ګوند آرمانونو، شعارونو او خپلو دریځونو ته د سرښندنې تر کچې ارزښت ورکوي او هېڅ څوک پر بل چا باندې امتیاز او تفوق نۀ لري.

تر هغۀ مهاله چې د پرچم مشران لا نۀ ول تبعید سوی خبر سوم چې حفیظ الله امین وطنجار ته ویلي ول: « پر پرچمیانو اعتماد مۀ کوه. که له هرې لارې ئې لاس ورسیږي

ستا په سترګو کې خاورې شیندي، خلقیان دې څنګ ته دروله او د وزارت د مرستیالی لپاره انجیر ظریف مقرر کړه چې د وزارت تعیینات د هغهٔ تر نظر لاندې وي." او همداسې هم وسول.

یوه ورځ د نړۍ والو وارداتو د شعبې مدیر زما د کار دفتر ته راغی او وئې ویل: د "پیکر خونین حضرت حسین" په نوم دوه زره ټوکه کتابونه له ایران څخه د یو چا په پته کابل ته رسېدلي دي. اوس له دې لوېي کڅوړې سره څه وکړو؟ له دې چې ما په دې برخې کې کار نهٔ وو کړی، دقیق او کافي معلومات مې نهٔ درلودل، نو پوښتنه مې وکړه چې: پخوا مو له داسې کتابونو سره څه کول؟ وئې ویل: له دې مخکې د مترقي ګوندونو نشرات، د اخوانیانو رسالات او له لوېدیځو هېوادونو او نورو څخه یو شمېر چاپي مواد مو د پخواني وزیر ملاحظې ته رسول، بیا به مو د وزیر د امر پر بنسټ دغسې آثار د هغوی د محتوی له مخې یا تحویل خانو کې قیدول او سانسورول یا به مو په بشپړ ډول ورته اور ورته کاوهٔ. ومې ویل: سمه ده. دا کتابونه وینم او په دې هکله پرېکړه کوو.

زما بله تر ټولو نېږدې سیاسي اړیکه "کلوپ بانک ـِ ملي" کې ګوندي دفتر وو. هلته ډاکټر نجیب او نجیم الدین کاویاني دنده درلوده او سالم فخري مې هلته لیدهٔ چې د اسنادو او د ګوندي تشکیلاتو په ټایپ کولو به بوخت وو. ما به معمولاً حساس مسایل لکه د یادو سویو کتابونو، او د مذهبي بنسټ پالو د نشراتو تر لاسه کول چې هره ورځ زموږ هېواد ته د سیلاب په شان رالېږل کېدل د ډاکټر نجیب په واک کې کښېښودل. هغهٔ هېڅکله شخصاً وزیر نهٔ خبراوهٔ او په خپل نوم به ئې لوړو مقاماتو ته ګزارش ورکاوهٔ.

یوه ورځ د وارداتو مدیر یوه لویه بسته – چې د یوهٔ سوداګر په عنوان له جرمني څخه د مخابراتو وزارت ته رسېدلې وه- ما ته راوړه او وئې ویل: دغه شخصي بسته چې د پاکټ شا ته ئې ددغهٔ سوداګر نوم ښکاري، ډېره مهمه ده خو د شخص نوم حقیقي نهٔ دی. په دې نوم اصلاً څوک شتون نهٔ لري. دا د پخواني رژیم د – مصؤونیت ملي – د استخباراتو د ادارې شفري نوم دی.

ډاکټر نجیب ته مې زنګ وواههٔ، هغه په خپل دفتر کې نهٔ وو. سرور منګل هغه وخت د ټولګټو «فواید عامې» د وزارت مرستیال وو، په حقیقت کې سرور منګل زه ګوند ته جذب کړی وم. نو له سرور منګل سره مې اړیکه ونیوله. ددا سې یوهٔ محرم پاکټ د تر لاسه کولو موضوع مې ورته یاده کړه او ومې پوښتل: څنګه وکړم؟ وئې ویل: ماته ئې راوړه. د ملګري منګل غوښتنه مې پر ځای کړه.

په سبا یا بل سبا ئې ملګري منګل راته وویل: یو ځل زما دفتر ته راسه. ولاړم او هغه مې ولید. وئې ویل: لوړ پوړو ملګرو له تا څخه ډېره خوښې څرګنده کړه. تا ستر او د ستاینې وړ کار تر سره کړی دی. که دا کڅوړه ستاسو د وزیر لاس ته لوېدلې وای، یقیناً چې له منځه وړل کېدله. زه اصلاً نهٔ پوهېدم چې ددې بستې په منځ کې څه دي، خو

وروسته یوه سوم چې ددې پاکټ محتوی د میر اکبر خیبر له ترور وروسته د مراسمو فلم وو چې د استخباراتو له پلوه اخېستل سوی وو او د چاپ او پروسس د پړاوونو لپاره چې په افغانستان کې ئې امکان نهٔ وو، مواد ئې آلمان ته لېږل سوي ول. د هغهٔ هېواد مسؤولینو فلم بشپړ کړی او د ډاگ له لارې ئې کابل ته په هماغې شفري پټې رالېږلی وو. په همدې مهالیز واټن کې د جمهوریت رژیم راوپرځېد. له دې چې د خیبر د ترور او د رژیم د پرځېدو تر منځ مهالیز واټن یوازې لس ورځې وو، ښایي د آلمان د ډاگ اداره یا له پېښو ناخبره وه او یا ئې نور نهٔ سوای کولی د رالېږل سوي پاکټ مخه ونیسي.

یوه بله ورځ وطنجار د چکوسلواکیا له سفیر سره لیدنه درلوده. عکاس او فلم اخیستونکی هم راغلی وو. د نړۍ والو ورادتو د څانگې مدیر راته راغی او وئې ویل: بیا هم د اخوانیانو نشرات راغلي دي. هغه ئې ما ته راکړل. اتفاقاً په هماغه ورځ انجیر ظریف چې زما د کار په دفتر کې ناست وو، ددغو موادو په لیدو ئې راڅخه پوښتنه وکړه: له دغو شیانو څخه نور هم لرئ؟ ومې ویل: هو. له دې چې تاسو او ملگری وزیر ډېر بوخت یاست ما گوند ته خبر ورکړی او هر ځل داسې شیان شخصاً ډاکټر نجیب ته سپارم.

رنگ ئې داسې تک سپین او تور واوښت ته به وایې لوگی ئې همدا اوس له مخه پورته کېږي. په مجردې چې د چکوسلواکیا له سفیر سره د وزیر لیدنه پای ته ورسېدله، انجنیر ظریف د وزیر دفتر ته ننوت او د موضوع راپور ئې وطنجار ته ورکړ.

وطنجار زه د خپل کار دفتر ته وغوښتم او په قهر او غضب ئې راته وویل: زموږ ملگري هره ورځ ترور کېږي او تاسو د اخوانیانو نشرات چې د بم په شان دي له موږ پټوئ؟ پر تا مې اعتماد وکړ، د قلم مخصوص مدیر مې مقرر کړې، خو تهٔ ما ته خیانت کوی؟ اسناد د پرچم غړو ته ورکوې نهٔ ماته. آیا دلته زه وزیر یم یا مُلیٰ او د تومانچې په گواښ ئې راته وویل: سره له همدې شبېې، د مقام په تنزیل سره د خپلې پخوانۍ شعبې کاتب ئې. ژر مې له مخې ورک سه. که نهٔ زه عسکر یم او ستا په هکله تصمیم په خپله نیسم.

په بله ورځ ئې انجنیر ظریف راته زنگ وواههٔ او وئې ویل: « له موږ سره ستا دنده نوره پای ته رسېدلې ده.» زه له اسد رهیاب سره یو ځای چې هغهٔ هم د غوایي د اومې له شپې را وروسته د مخابراتو دPTT په دستگاه کې کار کاوهٔ نیغ په نیغه د ډاکټر نجیب لیدلو ته ورغلم او خپل حالت مې ورته شرحه کړ. هغهٔ وویل: دا ستاسو قصور دی چې وزیر مو په جریان کې نهٔ دی ایښودلی.

نجیب له یو شمېر کلیشه یې او له طمطراقو ډکو خبرو وروسته په بې پروایۍ وویل: انقلاب دی. خلکو خپل ژوند په کې له لاسه ورکړ، تهٔ خو یو عادي او معمولي شکایت

لرې. اوس زما له لاسه هېڅ شی پوره نهٔ دي. که ګوند ژوندی وو، یوه ورځ به پوښتنه ګرویږنه وسي، که ګوند مړ سو، نو تهٔ هم مرې.

دا خبرې مې په نومېدی سرور منګل ته وکړې. هغهٔ وویل. فرق نهٔ کوي. یو څو ورځې صبر وکړه. د ټولګټو په وزارت کې به درته ستا له حالت سره مناسبه دنده پیدا کړم.

زموږ کور په شاه شهید کې وو، یو ورځ د شاه شهید پر لور روان وم، کورته چې ورسېدم وینم چې دوه تنه وسلوال له انجنیر ظریف او علي ګل پیوند او یو بل چا سره چې دوه نور موټران ورسره ول زموږ د کور د انګړو د دروازې مخې ته د ترصد په حال کې دي. په مجردې چې زه ئې ولیدلم وئې ویل: تاسو ملګري اسدالله سروري «اګسا» (د استخباراتو ریاست) ته غوښتي یاست. ما ګومان وکړ چې موضوع هماغه له جرمني څخه د رالېږل سوي فلم په تړاو ده او ما فلم ملګري منګل ته ورکړی وو، نهٔ وطنجار ته. اجازه مې وغوښته چې کور ته لاړ سم او خپل کور ته خبر ورکړم. په ډېرې سختۍ ئې راسره موافقه وکړه. خپلې مېرمنې ته مې وویل: یو څهٔ پیسې راکړه چې څو ورځې که ژوندی اوسم خرڅې ئې کړم. مور او پلار ته مې مهٔ وایه. زه فکر کوم چې زنداني کېږم.

حضوري چمن ته نېږدې رسېدلي وو چې انجنیر ظریف او علي ګل پیوند ته مې وویل: د ټولګټو وزیر ته یو ډېر مهم ګزارش لرم، اګسا ته له تللو مخکې باید دغه ګزارش ورته وسپارم او بیا به له تاسو سره هر چېرې چې غواړئ لاړ سم. په لومړیو کې ئې مخالفت وکړ. ورته مې وویل: له دې چې دا رسمي کار دی او که تاسو ما پرېنږدئ نو مسؤولیت ئې ستاسو پر غاړه دی، راسره ئې ومنله. دوی دواړه راسره د ټولګټو وزارت ته راغلل. کله چې هلته ورسېدم، او له دې چې زما د ژوند او برخلیک خبره وه، پرته له دې چې د سکرتر خبرو ته غوږ ونیسم، نیغ په نیغه د ملګري منګل په دفتر ننوتم. په مجردې چې منګل له اصل قضیې څخه خبر سو راته ئې وویل: څوک باید تا له مخامخ شعبې ونهٔ ویني، تا د وزیر د دفتر د شا له لارې څخه دباندې باسم. نیغ په نیغه په مکروریانو کې پلانکۍ پټې ته لاړ سه او زما تر راتګ پورې سترګه پر لار اوسه.

ملګري منګل په خپله انجنیر ظریف او علي ګل پیوند ته ویلي ول: د ټولګټو وزیر صاحب ملګری رزمي یوې بلې مهمې وظیفې ته توظیف کړی تاسو تشریف یوسئ. سبا ئې زه په خپله درولم او تاسو ته ئې درسپارم.

د همدې لاربښوونې پر بنسټ لاړم او په هماغهٔ آپارتمان کې مې دوې شپې سترګې په لارې تېرې کړې. کله چې ملګری منګل راغی، لومړی ئې د کورنیو چارو له وزیر نور احمد نورڅخه مرسته وغوښتله. هغهٔ ورته سپینه او ساده وویل: وبخښئ. نهٔ سم کولای کوم کار وکړم. بیا ئې د اطلاعاتو او کلتور له وزیر بارق شفیعي څخه مرسته وغوښته. هغهٔ هم خپله اوږه سپکه کړه. بالاخره د راډیو تلویزیون وزیر سلیمان لایق ته زنګ وواههٔ. هغهٔ وویل: راسئ. ورته ورغلو.

لایق دوه لیکونه په پښتو ولیکل او په لوړ غږ ئې ولوستل. لومړی لیک علي ګل پیوند او انجنیر ظریف ته څرګند اخطار وو چې په یوه برخه کې ئې راغلي ول: تاسو دوه تنه په دې حساسې او خطرناکې سیاسي موضوع کې د لاسوهنې حق نهٔ لرئ ځکه چې دا خبره ستاسو له صلاحیت او توان پورته ده. د موضوع د حساسیت له کبله دا موضوع یوازې په ملګري سروري پورې اړه نیسي. دوهم لیک د سروري په نوم وو. په لیک کې راغلي ول: ددې لپاره چې نوموړی فلم تلف نهٔ سي نو فلم د شوروي سفارت ته امانت سپارل سوی دی. اوس چې تاسو د هغهٔ فلم مطالبه کوئ نو ملګری رزمي هغه فلم د شوروي له سفارت څخه را اخیستی او موضوع ئې له ما سره په جریان کې ایښې ده. ما مشوره ورکړه چې فلم شخصاً یوازې تاسو ته، نهٔ بل چا ته وسپاري. د لا نور تفصیل لپاره مستقیماً له ما سره اړیکه ټینګه کړئ او د ملګري رزمي د ځور او اذیت باعث مهٔ ګرځئ.

د سلیمان لایق د هدایت پر بنسټ مې لومړنی لیک علي ګل پیوند ته چې د مخابراتو د ډاګ رئیس وو ورکړ او بل لیک مې له فلم سره یو ځای اسدالله سروري ته وسپارهٔ. داسې ښکارېده چې هغوی له یو بل سره ټیلفوني خبرې کړې او له وطنجار سره ئې هم خبرې کړې وې. له نېکه مرغه په پای کې د سلیمان لایق د وروستي منځګړیتوب پر بنسټ او د آصف دین د ټینګې دفاع پر برکت چې له ګواښونو ډکه وه، زما برخلیک بدل سو. په دې توګه د مرګ له لومې ژوندی راووتم او د سلیمان لایق د سپارښتنې پر بنسټ د زینب ننداري د مدیر په توګه مقرر سوم. له هغهٔ وروسته خبر سوم چې د خلق او د پرچم د څانګو د شدیدو اختلافاتو له کبله د پرچم د څانګې مشران تبعید او د سرور منګل او نجم الدین کاویاني په ګډون نور ګڼ شمېر زندانیان سول.

د تأریخ پاڼهٔ یو ځل بیا واوښتله. د مرغومې د شپږم له پړاو وروسته په افغان فلم کې د توريد او د سانسور د عمومي مدیر په توګه مقرر سوم. دا مهال بله سوژه رامنځته سوه: ولي لطیفي او ملګري یحیی یې غوښتل د میر اکبر خیبر د ژوند او مرګ په هکله یو فلم جوړ کړي. فکر کوم ددې فلم د جوړولو لومړنۍ مفکوره او طرحه د ولي لطیفي د ماما د زوی، حشمت کیهاني وه. کله چې د مرستې لپاره ماته راغلل، یو ځل بیا سلیمان لایق ته ورغلم او ورته مې وویل چې ښاغلي لطیفي او یحیی یې د خپل فلم د ترتیب او تنظیم لپاره د ارواښاد خیبر یو شمېر عکسونو ته اړتیا لري. لایق ژمنه وکړه چې عکسونه به راکړي.

په بله ورځ ئې خبر سوم چې لایق د خیبر د موضوع په هکله دداسې یوهٔ فلم د چمتو کولو لپاره اتیا قطعې عکسونه د جمیلې پلوشې ورور اشرف ګردیزي ته ورکړي ول. کله چې ګردیزي ته ورغلم، راته ئې وویل: عکسونه را سره سته خو د پیکي څښتن «کاکُلي» [موخه ئې ولي لطیفي وه چې لوړ ویښتان ئې درلودل] ته ئې نهٔ سپارم، له دې چې اوس

تهٔ راغلی ئې او ضمانت ئې کوئ نو تا ته ئې درسپارم. د عکسونو بشپړ البوم مې ورڅخه واخیست او لطیفي ته مې امانت وسپارهٔ. څو میاشتې تېرې سوې. یوه ورځ مې ورڅخه وپوښتل: د خیبر د فلم خبره چېرې ورسېده؟ کار ئې تر کوم ځای پر مخ تللی دی؟ په ځواب کې ئې راته وویل: رزمي صاحبه! ډېر مننذویم چې لایق صاحب پېرزوینه وکړه. تا هم خپله مهرباني وکړه، خو اوس له پورته ځایه دستور راغلی چې داسې یوهٔ کار ته د لاس اچولو اجازه نهٔ لرو. باید له دې سوژې تېر سو او چوپه خولهٔ ئې پرېږدو. سبا ته ټول امانتي عکسونه درته راوړم. (۲۰۲۲ / ۰۴ / ۱۷)

گومان نهٔ کیږي چې دا فلم دې یوازې د لاریون، او د خیبر د جنازې د لېږدولو او فاتحې فلم وي؛ ځکه په هغهٔ صورت کې د فلم پټولو کوم مفهوم نهٔ درلود. فلم اخېستل د امریکا د سفارت کار هم نهٔ دی، که نهٔ د Process لپاره امریکا ته لېږل کېدهٔ نهٔ جرمني ته. گنگوسې وایي: «دغهٔ ویډیویي فلم د خیبر د وژل کېدلو صحنه ښیي.» هغو دوه وو تنو چې دا فلم لیدلی دی - اسدالله سروري او سرور منگل – کولی سي په دې رڼا واچوي.

له یو کلنو هڅو او کوښښونو سره سره بیا هم اسدالله سروري مرکې ته حاضر نهٔ سو او د سرور منگل موندنه هم تر اوسه کوم ځای ته نهٔ ده رسېدلې. څرگنده ده چې ورته سترگه په لار یم. سیاسنگ

**میر اکبر خیبر**

**د افغانستان د خلکو د رنځونو او مبارزو زېږند**

## عبدالصمــد ازهـــر[1]

کله چې له خیبره غږېږو، مونږ د هغسې ستر انسان په هکله خبرې کوو کوم چې د لوړې پوهې، منطق، تدبیر، اخلاق او ټولنیز معاشرت سمبول و. میر اکبر خیبر چې له بې وزلې بزګرې کورنۍ نه سر راپورته کړی و، د ولسونو د ناپایه رنځونو او تاریخي مبارزو بچی و. ده د خپلې ټولنې، د هغې د قامي او قبیلوي جوړښت، د خلکو د باورونو، عنعنو، روایاتو، ټولنیزو او اقتصادی نابرابره اړیکو، سیاسي - مذهبي استبداد او نورو ناخوالو نه، نه یواځې پوره پېژندنه لرله بلکه پخپله د دې استبدادونو قرباني ګرځېدلی هم و.

خیبر په خپل کلک تکل سره تر پنځوکلونو زیات زندان په موده کې هومره مطالعه او زده کړه وکړه چې یواځې په ډېرو پرمختللو پوهنتونونو کې لاس ته راوړل کېدی شي. ده د پښتو، پارسي، انګریزي او اردو ژبو په ادبیاتو کې د استادۍ په کچه برلاسی درلود او د قرآن په مانا او تفسیر کې یې هم تر چا کمی نه و. له همدې نه په ګټې اخیستو او پراخو مطالعو سره، دی د نړۍ له علمي، سیاسي او اقتصادي وضعې، خوځښتونو او نړیوالو ټرندونو سره پوره آشنا و او د خپل هیواد ستراتژیک موقعیت ورته ښه ښکاره و.

دی چې په مترقي علمي پوهې مجهز او په کې استاذ و د همدې پوهې د انطباقي فکر پر بنسټ، په هیواد کې د یوه کېڼ اړخي ملي خوځښت او د یوه ملي مترقي دولت د منځ ته راتلو پلوی و. خیبر له قومي، ژبني او مذهبي تعصب نه مبرا و. دی لوړ انسان و او یواځې انسانیت ورته مطرح ول، ده ته د ځوریدلو او ځپل شویو خلکو ځای تر هر چا لوړ و.

خیبر د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي بدلونونو راوستو له پاره پر ټولنیز اوښتون یا انقلاب باور درلود نه د توطیې او کودتا له لارې د قدرت تر لاسه کول. د کودتا د لېونیو شوقیانو د غورځو پرځو د درولو په هڅه کې یې هغسې نه ستړې کېدونکې مبارزه وکړه چې ان په ګوند کې د ده د موقعیت د قرباني کېدو په بیه هم تمامه شوه. مګر دی چې د مقام غوښتونکی نه و، د ګوند او ټولنې د ځلانده راتلونکې په موخه په خپل اصولي دریځ ټینګ ودرېد. دی په نړیواله کچه د مترقي او عدالت غوښتونکو قوتونو، خوځښتونو او دولتونو تر منځ پر پیوستون او په دې برخه کې پر نړیوالې ملګرتیا باوري و نه په ړانده تبعیت، مریبتوب او د ملي ګټو په بیه. د استاد خیبر دریځ په دې هکله د فیدل کاسترو او جوزف تیتو سیاستونو سره اړخ لګاوه.

استاد خیبر مې هغه وخت وپېژاند چې له زندانه راخلاص شوی و. دی، محمدزی او عبدالله یو ځای بندیان شوي ول. عبدالله له پیله په خپله مخه ولاړ. محمدزی یو څه

---

[1] - د ژباړونکي یادونه: ښاغلي صمد ازهر خپله دا لیکنه په پښتو لیکلې ده او په اصل متن «پرونده ناپدید» کې پښتو چاپ سوې ده. له دې کبله ما ژباړونکي ددوی په لیکنه کې هېڅ دخل او تصرف نهٔ دی کړی.

وخت د هغه وخت له بدلون غوښتونکو سره و چې زما هم ورسره نیژدې یارانه وه. بیا یې دغه لار پرېښوده. له استاد خیبر سره د هغه وخت په روڼ اندو محفلونو او همدا رنګه ځانګړو لیدو کتو کې نه یواځې ملګرتیا، چې زیاته سیاسي زده کړه هم تر لاسه شوه.

کله چې په مصر کې له تحصیل نه بېرته راستون شوم، پولیسو اکادمۍ ته د استاد په توګه واستول شوم او د استاد خیبر په وړاندیز چې په دې اکاډمۍ کې د تدریساتو مدیر و، له نیکه مرغه د ده د مرستیالۍ په دنده وګمارل شوم .او له دې سره په رسمي وخت او همدا رنګه په فارغو وختونو کې زمونږ اړیکې دایمي شوې. د ګوند د بنسټ ایښودو په ځغاستو کې سره ملګري وو. ما د ده د ژوند تر پایه ترې ډېر څه زده کړي او ترې مننداوی یم.

زمونږ د نظامي پټ سازمان «د افغانستان د اردو انقلابي سازمان» د مشرتابه اړیکې مخامخ له دوو ملګرو ببرک کارمل او استاد میر اکبر خیبر سره وې، وروسته چې د ګوندي چارو تراکم او اولیتونه زیات شول، نو یواځې خیبر دغه اړیکې تامینولې او مونږ یې په خپلې پوهې او لارښوونې سرلوړي کولو.

استاد خیبر ته هغسې چې د ملت یووالی زیات ګران و، د ګوند یووالی هم ورته ډېر زیات ارزښت درلود او ګرد هاند یې همدې اصل ته اړولی و. د ګوند د لومړني بېلتون (انشعاب) په درشل کې، کله چې اوبه نیژدې له ورخه اوښتو خوا ته تللې، مونږ د دوو خواوو په منځ کې د ټاکنې په دوه لارې کې واقع شولو. خیبر په ګردیز کې په تبعید کې و. زه او ملګری ذبیح‌الله زیارمل په ګډه له ده سره د سلا مشورې په نیت ګردیز ته ولاړو. خیبر زمونږ د ګزارشونو په اوریدو ډېر خپه شو. خو وروسته یې د انشعاب د دوو پلوونو، سیاسي ټولنیز دریځونه او لیدلوري راوسپړل، پرتله یې کړل او دې پایلې ته ورسېد چې په همغو شرایطو کې د کارمل په خوا کې اصولیت پروت و .کله چې مې له ګردېز نه تر راستنېدو وروسته کارمل ته د خیبر د فیصلې په هکله خبر ورکړ، هغسې له خوښۍ وغورېد لکه ګرده نړۍ چې دې وربښلې وي. خیبر او کارمل چې د زندان ملګري هم ول، بیا تر پایه په یوه خوا کې پاته شول. مګر دغه یو ځای پاته کیدل او دغه یارانه د د ي خنډ نه ول چې د ده د نظر استقلال او نقادانه برخورد په مخ کې خنډ شي. ده به په ګوند کې پر هرې کږې خوځیدنې ګوته ایښوده او د بیا سمون پېټی یې په غاړه اخیست.

خیبر په ۱۳۵۶ کې د ګوند د دواړو سترو برخو (پرچم او خلق) د بیا یو کېدو په هلو ځلو کې ستره برخه درلوده او د دې عملیې د بریالي ترسره کېدو په موخې یې پر خپلو استحقاقي امتیازاتو پښه کېښوده. ده ته د ګوند یووالی او د وطن برخلیک ترهر څه لوړ ول.

خیبر زمونږ د نظامي سازمان د اصولي موضع په ملاتړ کې، د هغو بې‌باکو منډو او هلو ځلو په مخ کې په قوت ودرېد کوم چې د ګوند د دواړو فرکسیونونو تر منځ، د زور له لارې قدرت ترلاسه کولو له پاره، په نظامیانو کې د جلب او جذب په مسابقې اخته ول. د کمو کسانو په مرستې د داوود خان بریالی کودتا ډېرو ډلو ته کاذب شوقونه زېږولي ول. د کودتايي تمایلونو ضد دریځ غښ دلیلونه دا ول:

(۱) د نظامي زور له لارې قدرت تر لاسه کول د ګوند له سوچه اصولو سره، چې یواځې د ټولنیز خوځښت له لارې او د ولس په خوښه مجاز و، په ټکر کې و. (۲) دغه په نظامیانو کې نیژدې بربنډه فعالیت، په لوی لاس د ګوند پر ضد د داوود خان راپارول ول. (۳) ګوند لا په ټولنې کې رسوخ او ریښې نه درلودې. ډېر کلونه لا په کار ول څو دغه ګوند یو ستر ټولنیز ګوند شي. (۴) د قدرت تر لاسه کول آسانه خو ساتل یې ګران و.

له بده مرغه دغه ستر متفکر او لارښود، چې په خپلو کره لارښوونو سره یې ګوند له ډېرو کړلارو او ناخوالو ژغورلی او د ګوند د یووالي او دهغه د لوړ معنوي ځاي او حیثیت ټینګ مورچل او د ماجرا غوښتونکو پر ضد پیاوړی خنډ و، په پای کې د خپل همدې دریځ بیه پرې کړه او په یوې باندنۍ او کورنۍ ګډه توطیه کې په جفاکارانه او جنایت‌کارانه ګوزار کې د ۱۳۵۷ د وري په ۲۸ د ملي چاپخونې خوا ته پر عمومي سړک په شهادت ورسېد.

د ده شهادت هغه ستره پېښه وه چې زلزله یې د افغانستان تر پولو ډېر واټن لیرې ملکونه او ان امریکه هم ولړزوله، او لا تر اوسه چې ۴۳ کاله پرې تېرېږي، نه یواځې دا زلزله کراره نه ده چې لا نور ابعاد یې هم زېږولي دي.

د ده د ستر شخصیت عظمت ته درناوی یواځې د ده په یارانو او لارویانو پورې محدود نه دی، بلکه کور دننه د سیاسي مخالفانو په شمول، او کور د باندې په ګاونډ هیوادونو او پاتې نړۍ کې هم، د ده لویوالي او ستر مقام ته درناوی کېږي.

مونږ ولې خیبر نمانځو او ولې یې د شهادت یادونه کوو؟ داسې یادونې نه ښايي په زیارتونو باندې د جنډو په تړلو او د توغونو په جګولو ونمانځل شي او نه د جګړه مارو د وینو تویولو او تالان د یادګېرنې په شان.

د خیبر په څېر شخصیت ته زمونږ د ستاینلیکونو پر ځای به دا ښه وي چې ژوند او افکار یې د بیا ګتې اخیستنې په موخه وپلټو، وڅېړو او له افکارو، نظریاتو، خصایلو او په ژوند کې د ده له ستر زغم، هیله‌من لید- لوري، له ځان وتنې او انسان منبې نه زده کړه وکړو. د ده د ژوند د سترو ارمانونو د پوره کولوپه لارکې چې خپلې خاورې، خپلې ټولنې او ټول بشریت ته یې لرل، لستونې بډ وهو.

د خیبر لاربښود پَلوه او د ده ځلانده وطني، مترقي، انساني ژغورندویه لار دې تل روښانه پاتې وي! د خیبر اروا دې ښاده وي! خیبر ژوندی دی. خیبر نه مري. (16/04/2021)

## هلته مخالفت کوی او دلته...؟

ډاکتـر صالحمحمـد زیـری [1]

خیبر مې د ډاکتر عبدالاحمد له خولې پخوا لا پېژاند. دوی دواړه د لوګر اوسیدونکی وه او خیبر د عبدالاحمد د پلار اشنا و. عبدالاحمد راته ویلې وه چې خیبر یې د حربي پوهنځی څخه د فراغت په ورځ د سیاسی فعالیت له کبله نیولی او بندی کړی و. په دی وروستیو وختو کی له بنده خلاص شوی و. کله چې د بندیخانی نه راووتی نو میرمنه یې د حکومت د پلویانو له خوا له منځه وړل شوی وه. وروسته سلیمان لایق خپله خور ورکړی وه.

خیبر مې لمړی په لوګر کی ولیدی. زه د عبدالاحمد کور ته تللی وم او هلته دغه فرصت برابر شو چی له ده سره د یوی ولی پر غاړه ووینم. خبری پیل شوی. د میر اکبر خبرو پر ما زیات اغېزه کړې وه. ډېر ښه پښتو یې ویله او له هری خوا یې معلوماتونه ارائه کول. ما د خبرو په جریان کی ورته وویل: «ستا له لیدو ډېر خوښ شوم او ستا د لیدو هیله مې درلوده. ما ویل زه به بیخی ستا په خبرو نه پوهیږم، خو اوس ستا له خبرو زه ډېر خوښ شوم. ډېره استفاده مو در څخه وکړه». ده وخندل او راته ویویل: «ولی به مې په خبرو نه پوهیږی، زه خو څه د کارغانو په ژبه خبری نه کوم».

د شپې دری بجی به وی چې په خیرخانه کی مې د کور دروازه را وټکول شوه. ور ووتم نوراحمد نور ولاړ و، وویل کالی دی راواغونده [2] او راځه. ما پوښتنه ځنی وکړه چې خیریت خو دی؟ ده وویل خیبر ترور شوی دی، کیسه به پر لاری درته وکم. زه په تلوار اماده شوم، ده تکسی راوستی و او پر لاری یې کیسه راته وکړه. د نورمحمد تره کی کورته ورغلو، هلته د سیاسی بیرو ټول غړي او تر[3] هغوی سرېیره حفیظ الله امین او د مرکزی کمیټی یو شمېر نور غړيي هم راغلي یا وروسته راغلل.

غونډه پیل شوه. تر احساساتی خبرو وروسته، پرېکړه وشوه چی باید په خپل ټول وس عکس‌العمل وښیو، که نه یو یو مو بې‌نامه او بې‌نښانه وژنی. زما د مظاهری د برمه ډکی جنازی د کولو یا نه کولو په اړه د خلقی خوا کوم مخالفت نه دی په یاد. که مخالفت هم موجود و، نو د تره کی کور ته له نور (احمد نور – ژ) سره زما د ورتګ پخوا به شوی دی.

---

[1]- د ژباړونکي یادونه: ښاغلي صالح محمد زیري خپله دا لیکنه په پښتو لیکلې ده او په اصل متن «پرونده ناپدید» کې پښتو چاپ سوې ده. له دې کبله ما ژباړونکي ددوی په لیکنه کې هېڅ دخل او تصرف نهٔ دی کړی.

[2] - د ژباړونکي یادونه: راواغونده؟ دلته لیکوال صالح محمد زیري څخه «را» سمه نهٔ ده کارول سوې. ژباړونکی

[3] - د ژباړونکي یادونه: او تر هغوی سریېره؟ ښاغلي زیري دلته د «پر» پر ځای «تر» لیکلی دی. پر هغوی سربېره.

دغه احساس ځکه را پیدا شوی دی چی د مظاهری په پای کله چی د ښار خواته راتلو، نو ما او نور (احمد نور – ژ) ملګری تلاش کاوه چی ملګری ژر او بی کومی پیښی تیت شی. په دغه وخت کی می د حیدر مسعود څخه واوریده چی محمود بریالی ته وویل: "هلته مخالفت کوی، اوس چی مظاهره کامیابه شوه نو ټولو دمخه موندی وهی."
("د نیمی پیړی خاطرې"/ 2005)

## میر اکبر خیبر باید لـرې شـي

محمد اقبال وزیـري [1] (د وسله وال پوځ د سیاسي چارو عمومي رئیس)

«تره کي بیا د شوروي تر فشار لاندې د پرچم په شرایطو د ګوند یووالي ته غاړه کېښوده. د ګوند د یووالي وروسته ببرک خپل فرکسیون بیل ساتلو، تر څو د میر اکبر خیبر له خوا افشا شو. همدا رنګه خیبر، د کارمل له خوا د شوروي په دستور د محمدداوود ضد کودتا سره مخالفت وکړ چې پخپله د هغه قرباني شو.» (۱۴۵ مخ)

«وروسته له دې چې KGB کارمل ته دنده ورکړه، نوموړي د داوود د رژیم پر ضد د کودتا موضوع په یوه کوچنۍ کړۍ کي وړاندې کړه. په دغه کړۍ کي د کارمل برسیره، خیبر، نور، او لایق موجود وو. د کارمل د کودتا د طرحې څخه نور په کلکه ملاتړ کوي. خو خیبر د داوود پر ضد کودتا د افغانستان د ملي ګټو پر ضد عمل بولي او خپل مخالفت ورسره څرګندوي. نور خیبر تهدیدوي او ورته وایي چې د ده مخې ته هېڅوک نشي دربدی. خو لایق د نور په ځواب کي وایي چې دا سلیمانخیل به دې مخې ته ودریږي.» (۵۴ مخ)

«د خیبر د ترور په اړه، د هغه په ضد فعالیت پیل کیږي. لومړی د هغه څخه د پوځ مسئوولیت اخلي او هغه نور ته سپاري. بیا په ګوند کي د هغه د تجریدولو لپاره پراخې هڅې کیږي.

یوه ورځ کارمل غوربندي ته وایي: "ما کلونه کلونه میر اکبر خیبر د لاس په ورغوي کي ساتلی دی، نور بس دی. هغه مې څو ځلې، چې د لومړنۍ دورې د ملي‌ګرایي په ډنډ کي ډوب شوی دی، ژغورلای دی. خیبر ته وواياست چې تر اوسه پورې ماته ضرورت لري او نه برعکس." غوربندي شپه په کور کي تیروي او د سهار له خوا د خیبر د لیدو لپاره د هغه کور ته ورځي تر څو د کارمل د خبرو څخه یې خبر کړي. خو په دغه وخت کي نور هم د خیبر کور ته راځي او د خبرو په جریان کي خیبر نور ته وایي: "ستاسو کارمل ماته د مرګ ګواښ کړی دی. هغه ته زما له خوا وواياست چې زه د مرګ څخه نه بیریږم. هغه علاقه لري د مافیا د دریمې درجې باند د مشر په رول کي ځان وازموي."» (۵۵ مخ)

---

[1]- د ژباړونکي یادونه: ښاغلي اقبال وزیري خپله دا لیکنه په پښتو لیکلې ده او په اصل متن «پرونده ناپدید» کي پښتو چاپ سوې ده. له دې کبله ما ژباړونکي ددوی په لیکنه کي هېڅ دخل او تصرف نهٔ دی کړی.

«اندروپوف په کابل کې د وسله وال پاڅون په ضد روحيه نه درلوده، ځکه هغه پخوا خپل ایجنټ کارمل ته د داوود پر ضد د کودتا پلان ورکړی و چې د دغه پلان په وړاندې د خيبر دريدل د KGB له خوا د هغه په مرګ تمام شو. خو هغه د خلقيانو د وسله وال پاڅون باندې ډير خفه و چې د ده د پلان سره سم د ده ایجنټ واک ته ونه رسيد.».... (۹۴ او ۹۵ مخونه: "د ثور پاڅون، د KGB دسيسې او شوروي يرغل"، پيښور، ۲۰۰۷)

## زما ناورين ليک "وياړلی مرګ" نوميږي

دستګير پنجشيری

په ۱۹۹۷ز کال کې پيښور ته د اجباري کډوالۍ پر مهال مې د لومړي ځل لپاره د مير اکبر خيبر په هکله خپل خاطرات وليکل او مرګونی سکوت مې مات کړ، ځکه د نجيب الله او د هغهٔ د لاسپوڅو په ګډون د شهيد خيبر هيڅ يوهٔ دوست، د مبارزې د ډګر ملګرو، باوفا او بې وفا شاګردانو هيڅ يوهٔ په ډله ييزو رسنيو کې نهٔ يوازې ياد ئې نهٔ کړ بلکه د واکمنۍ پر مهال ئې د «امنيت دولت» د څانګو له لارې ئې ان ډېر لږ معلومات ګوند او خلکو ته ورنهٔ کړل.

په ۲۰۰۰ز کال کې قدوس غوربندي خپل ځانګري ليد لوري خپارهٔ کړل. وروسته سيد قاسم رشتيا، صديق فرهنګ، عطاء محمد شيرزي، نبي عظيمي، صباح الدين کشککي، غني صافي عمرزي، عبدالحميد مبارز او نورو غالباً خپل ذهني قضاتونه درلودل او تر ډېره ئې د خپلو شخصي او سياسي مخالفانو تېر په نښه نيولی وو.

رشتيا، په کابل کې مېشت د شوروي د سفارت کارکوونکی الکسندر اوبلوفAlexander Oblov، د استاد خيبر د قتل عامل معرفي کړ، جنرال عظيمي د امين پر نوم ګوته کښېښودله، يو شمېر نورو به کله غوربندي او کله نا کله به ئې عارف عالميار يا نجيب الله يا د قاتل په توګه په ګوته کاوهٔ يا ئې له قاتل سره هملاسی، غوربندي ددغهٔ ترور سازمان ورکوونکی ببرک کارمل په ګوته کړی دی او جنرال قادر د هوايي ځواکونو د استخباراتو د رئيس په نقل وويل: د داؤود د دفاع وزير حيدر رسولي د خيبر ترور د حکمتيار د ګوند د چريکانو له لارې طراحي او عملي کړی وو.

سياسي دفتر، تصادفاً د استاد خيبر د قتل په شپږو کې د تره کي په کور کې د مې د مياشتې د لومړۍ، د نړۍ د کارګرانو د جشن، په مناسبت خپله نوبتي غونډه جوړه کړې وه. د سياسي اوضاع د ارزونې او د نظراتو له تبادلې وروسته دغه تصاميم ونيول سول: پوځي رژيم په بشپړ ډول استبدادي او ملي ضد خصلت نيولي او د ايران، توركيې، پاکستان او د منځنۍ ختيځ د اماراتو تر سيوري لاندې ورځ تر بلې په خپلو پوليسي تعقيباتو سره د «خلق ډيموکراتيک بهير/ جريان» د مشرانو پر ضد ويره او اختناق ډېروي. د «خلق د ډيموکراتيک بهير» نېږدې سل تنه فعالان د هېواد په هر ګوټ کې نيول سوي دي او دا ليست هره ورځ مخ په ډېرېدو دی. بايد د مې د مياشتې په لومړۍ

ورځ له پينځو کالو وروسته دغه سیاسي سکوت په واټونو کې د کابل د ښار د کارګرانو له پلوه مات او د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند وحدت او قدرت دې په آرامه او سوله ناکه توګه راڅرګند کړي.

د تأریخ په هغهٔ پړاو کې د «خلق ډیموکراتیک بهیر» د سیاسي واک د نیولو په فکر کې نهٔ وو. البته څلور میاشتې مخکې – د «خلق ډیموکراټیکې ټولنې»/ "جمعیت ډیموکراټیګ خلق" د بنسټ ایښودنې د دولس کلنۍ د لمانځې پر مهال –د ملکې او پوځې سازمانونو مسؤولانو ته خبر ورکړل سوی وو چې د ګوند د زندانیانو د شمېر له ډېرېدلو څخه دې اندېښنه نهٔ کوي او نهٔ دې په قهر کېږي، ځکه چې زندان د ګوندي فعالانو د سیاسي روزنې ښوونځی دی. هغه مهال د متقابل اعتماد د نهٔ شتون له کبله د «خلق د ډیموکراتیک بهیر» د دواړو پوځي سازمانونو وحدت لا نهٔ وو رامنځته سوی، خو دواړو څانګو اړینه خبرتیا درلودله چې که د «خلق د ډیموکراتیک بهیر» په سیاسي دفتر او لوړ پوړو مشرانو باندې برید وسي نو د بلاتاخیرې مبارزې پر بنې دې بیا کتنه وسي. کولای سو ووایو چې د استاد خیبر د ژوند تر وروستۍ شېبې پورې د زور له لارې او د وسلوال ځواک د مداخلې په پر مټ د سیاسي واک د نیولو او تصرف په هکله هېڅ ډول تصمیم نهٔ وو نیول سوی او د لوېدیځ د پانګوالو د مزدورو ډنډورچیانو د لیکنو برخلاف هېڅ زبر ځواک د ګوند مشرانو ته د پاڅون فرمان نهٔ وو صادر کړی.

د شوروي اتحاد مشران، امریکا او نور لوېدیځ هېوادونه او د «خلق ډیموکراټیکې ټولنې»/ "جمعیت ډیموکراټیګ خلق" مشران ټول یو ځای ټول له یوهٔ تر سره سوي عمل سره مخامخ سول او ټول په تعجب لاړل. له دې کبله کله چې د کابل ولایت د امنیه قوماندانۍ د زندان له کوټو څخه د ګوند د مشرتابهٔ غړي خوشي او سیاسي او پوځي قرارګاه – راډیو افغانستان – ته ولېږدول سول دوه له یو بله بېل نظرونه رابرسېره سول: کارمل په دې نظر وو چې سیاسي مشرتابهٔ دې په پوځي پاڅون کې مستقیم ګډون او ونډه نهٔ اخلي. د مشرتابهٔ غړي دې په ششدرک / کارتهٔ ولي کې د ډاکټر کبیر رنجبر د پلار کور او یا د کمریو په کلي کې د عبدالوکیل په کلا کې پټ سي. تره کي مخالفت وکړ او وئې ویل: یا به ټول یو ځای بریالي کېږو او یا به یو ځای مرو. که داؤود او د کابینې وزیران ئې له مقاومته لاس واخلي، تر هغو چې قانوني محکمه کېږي په توقیف کې دې وساتل سي، پرته له هغې که دا هیتلر- مشریان د عدالت له منګلو خلاص سي، شک نهٔ سته چې خپل ځواکونه بیا راټولوي او د سیمې پر ارتجاع، د ایران په پادشاه او د پاکستان په پوځیانو باندې په ډېډې لګولو سره زموږ په نوي بنسټ ایښودل سوي دولت باندې به انقلابي ضد برید وکاندي.

ددغو دوه وو متضادو دریځونو د شننې پر بنسټ کولای سو ووایو چې د غوایي د اوومې پاڅون د کومې تنظیم سوې پوځي برنامې پر بنسټ نهٔ وو پېل سوی بلکه د امین او د

وسلوال ځواک د ګوندي ځانګې او د غړاندو لمبو په شان د ولس د بچیانو خښم او د یوهٔ سیاسي ګوند د ژغورونکي عادلانه مقاومت، نوښت وو.[1]

د داؤود په رژیم پورې اړوندو کسانو زموږ د هېواد د مسلمانو وګړو د دیني او فرهنګي دودونو برخلاف، د شهید خیبر د جنازې په تشییع کې د «ډیموکراټیک بهیر» پر مشرانو برید وکړ، دهغوی کورونه ئې محاصره او وپلټل، زموږ په لاسونو کې ئې ولچکونه واچول، زموږ د مشرانو د نیول کېدلو له سپکاوي ډک پیام ئې د راډیو له لارې اعلان او زموږ د مشرتابهٔ غړي ئې سرکوب کړل؛ خو د «خلق د ډیموکراټیک بهیر» د پوځي ځانګو له چټک او زړور غبرګون او لږ تر لږه د ګوند د شپاړلسو زرو غړو [2] او په ملي کچې د لسهاوو زرو د علاقمندانو له ملاتړ سره مخامخ سول.

د افغانستان د خلق پر «ډیموکراټیک بهیر» باندې د داؤود د پوځي دولت د برید له انګیزو څخه یوه ئې زما او د سلیمان لایق [3] له پلوه په پښتو او فارسي د ناورین لیکونو لوستنګ وو چې په انقلابي شور او زوږ د شهید استاد خیبر د قبر پر سریاندې ولوستل سوې. ددې ناورین لیک نوم " ویاړلی مرګَ" وو چې هغه مهال پرته له دې چې له سر او ځان څخه کومه ویره ولرم د شهید خیبر د ګور پر سریاندې مې په لوړ غږږ ولوست.

د غوایي د اوومې وسلوال پاڅون په رڼا ورځ په زورتیا پېل او پای ته ورسېد. د وسلوال ځواک بولندویانو، د معارف منسوبینو، سیمه ییزو مخورو، دیني عالمانو او د ولایتونو پوهانو د خپلو پیامونو په رالېږلو سره له دې پاڅون څخه ملاتړ وکړ. د هېواد په هېڅ ګوټ کې هېڅ ډول منفي غبرګون ونهٔ لیدل سو. د افغانستان په ګوټ ګوټ کې د معارف زده کوونکو او د پوهنتونونو محصلینو د غونډو په جوړولو، اتڼونو، د حماسي

---

[1]- په همدې کتاب کې یوه په زړه پورې خبره سوې چې میر اکبر خیبر ئې مخامخ دستګیرخان پنجشیري ته کوي او هغه دا چې سیاسي مبارزه په هسې اوتو بوتو او طمطراق نهٔ کېږي. په دغهٔ پاراګراف کې که لوستونکی په ځیر وګوري دستګیرخان دلته بیا په طمطراق راغلی دی او دوه متضادې خبرې کوي. یو دا چې وایي له کودتا وروسته ګوند له ترسره سوي عمل سره مخامخ سو او ګوند له کودتا خبر نهٔ وو خو د همدغهٔ پاراګراف په پای کې وایي: "... د یوهٔ سیاسي ګوند د ژغورونکي عادلانه مقاومت، نوښت وو" فاعتبرو یا اولی الابصار -ژ

[2]- له کودتا مخکې لاسوندونه هغه هم په خپله د خلق ډیموکراټیک ګوند لاسوندونه ښیي چې د خلق ډیموکراټیک ګوند د دواړو د پرچم او د خلق د ځانګو د ټولو پوځي او ملکي غړو شمېر څوارلس زرو تنو ته نهٔ رسېدهٔ. دلته دستګیرخان پنجشیری د تل په شان یو ځل بیا درواغ وایي. - ژ

[3] - دلته سیاسي آق سقال/ افسقال دستګیرخان پنجشیری یو ځل بیا په لاپو شاپو او طمطراق راغلی دی او ځان د پېښو په محراق او محور کې ویني چې ګڼې ددهٔ او د سلیمان لایق ویناوې وې چې د شهید سردار محمد داؤود خان رژیم اړ سو چې ددوی په ګوند باندې برید وکړ. دا ټولې د نارسیسیزم narcissism یا خود پرستۍ/ خود پسندۍ لومړنۍ نښې دي. - ژ

شعرونو په ویلو او د خوښیو په ښودلو سره د غوايي د اوومې له پاڅون څخه په شور او زوږ ملاتړ وکړ. [1]

د حفیظ الله امین د پوځي واکمنۍ پر مهال د قهرناکو او شدیدو تېروتنو سره سره بیا هم د غوايي د اوومې پاڅون، د څمکوالۍ ضد او د سلطنتي نظام ضد خپله تأریخي دنده په وړتیا او هوښیار انظباط سره پېل کړه خو د امین او د هغهٔ د پلویانو د لوړتیا غوښتنې په پایله کې ددې پر ځای چې د ټولنې له لاییک او سکیولارو مخالفانو سره ملي متحده جبهه جوړه کړي له هغوی سره ئې له تاوتریخوالي ډک چلند وکړ او څرګنده ده چې خپل طبیعي ستراتیژیک متحدین ئې له لاسه ورکړل.

ګوند له مخکینۍ چمتووالي پرته د داؤود پر ضد ډګر ته ننوت، له دې کبله د قدرت د نیولو او ویشلو پر سر د مبارزې په لړ کې د خلق او د پرچم د وحدت لړۍ لا نوره هم پخه سوه. د پرچم د سیاسي دفتر دوه تنو غړولایق او بارق، د مرکزي کمیټې غړې غوربندي او د خیبر نورو پوځي او ملکي شاګردانو د کارمل د ډلې پر ضد توند دریځ ونیوهٔ. په پای کې د کارمل د تګلارې پر وړاندې د اکرم عثمان، په ګډون د خیبر د پلویانو شک او تردید لا ډېر سو، تره کي ته د امین د غیر انساني فرمان پر بنسټ چنګیزې سزا ورکړل سوه د ټولنې په منځ کې تضادونو شدت وموند او له عمق څخه سطحې ته راووتل. د امین دولت هم د شوروي د لښکرو د تېري په پای کې نسکور سو او پایله ئې دا سوه چې افغانستان د نړۍ والو تضادونو په یوې غوټې، او د طالب – القاعدې او د نړۍ د نفت خوړونکو سلاطینو د مزدورو اقمارو د زور آزموینې او جګړې په ډګر بدل سي. (واشنګټن، ۲۰۱۰ز د مې د میاشتې شپاړسمه)

---

[1]- درواغ هم حد لري. دستګیر خان چې هم د خلق او هم د پرچم د آخور په بوسو ئې شخوند وهلی دی د لاپو شاپو او خیال په نړۍ کې زانګي او غواړي لمر په دوه وو ګوتو پټ کړي. د معارف زده کوونکي، د پوهنتون محصلین، د اداراتو کارکوونکي ټول په وچ زور را ایستل کېدل او که څوک نهٔ تلل ځای ئې زندان وو. - ژ



عبدالقدوس غوربندي، حکیم شرعي جوزجاني، داکتر شاه ولي، عبدالکریم میثاق

## ځانګړې مرکې

سیاسنګ: تاسو د «ظهور و زوال حزب دیموکراتیک خلق افغانستان» په کتاب کې داسې لیکلي دي:«د خلق د مخفي پوځي سازمانونو مسؤولیت د امین او شاه ولي او د پرچم د ځانګې د مخفي پوځي سازمانونو مسؤولیت د نور «احمد نور» او وکیل پر غاړه وو. د واحد ګوند د مشرتابهٔ په ټولو مقامونو کې د خلق او د پرچم پخوانیو فرکسیونونو په برابره توګه ونډه اخیستې وه. ددغو دوه وو فرکسیونونو غیر قابل پیش بیني وحدت، داؤود، کیڼ لاسي سازمانونه او د سیمې ارتجاعي محافل په قهر او هک پک کړل. البته امین او کارمل هم د داؤود په شان هر یوهٔ ئې په بېلابېلو درجاتو د دواړو جناح ګانو د وحدت په هکله تشویش او اندېښنه درلودله. هغوی د بد ګومانۍ او متقابل سؤ تفاهم په علت – په دې دلیل چې ګڼې افسران نهٔ سي کولای پر یو باندې اعتماد وکړي – دې ته حاضر نهٔ سول چې د ګوند پوځي سازمانونه سره متحد کړي.

دا چې امین له داؤود سره اړیکه درلوده که نه، زموږ په لاس کې کوم لاسوند نهٔ سته خو د جمهوریت د رژیم پر مهال امین د ګوند د پوځي افسرانو او د پوځي سازمانونو سمبالول او سازمانول په آزاد ډول پرته له دې چې د مبارزې موازین په پام کې ولري پر مخ وړل. حال دا چې د سیاسي بیرو نور غړي د کورنیو چارو د وزارت د جاسوسي شبکو او د پولیسو تر دایمي تعقیب لاندې ول. هرکله که له تره کي څخه له واکمنو کړیو سره د امین د پیوند په هکله پوښتل کېدل نو په لغازو به ئې ویل: موږ د کارګر د دوران

جوړونکې طبقې د ایډیولوژۍ د خپرولو لپاره ان د «پیام وجدان» له بې خاصیته جریدې څخه هم ګټه پورته کوو.

داؤود د افغانستان د خلق ډیموکراټیک ګوند له افسري او پوځي سازمانونو څخه خبر وو. داؤود د خلق د فرکسیون برجسته افسران پېژندل او د هر یوهٔ افسر د نوم تر څنګ ئې په سرهٔ رنګ د (۷) نښه ایښې وه. (ما د غوايي د اوومې د پاځون د لومړۍ اونۍ په پای کې د یوهٔ هیأت په مشرۍ د پوځي سازمانونو او د داؤود د ملي مصؤونیت د شبکو اسناد په خپله څېړلي ول.)

امین یو انارشیست، ماجرا غوښتونکی، ځانخوښی، څوکۍ پال، بې رحمه، پرېکنده/ قاطع، په کار ټینګ، زړور، په اداره کې د کفایت او وړتیا خاوند او د ریاضیاتو ښهٔ ښوونکی وو. غوښتل ئې د ګوند د مشرتابهٔ په دستګاه کې - هماغسې چې بارق شفیعي وايي – «بې سیاله او اتل» اوسي. په امین کې انحصار غوښتنه، ځان محوري، او د غوايي له پاځون مخکې او له هغهٔ وروسته خونړي قدرت ته د تمرکز لپاره د هغهٔ له لیونتوبه ډکه هڅه او لېوالتیا لیدل کېدله.

طاهر بدخشی، کریم زرغون، امان الله استوار، ظاهر افق او ابراهیم سامل ټول خلقي کدرونه ول او د امین پر وړاندې د ګوندي مبارزې په لړ کې، د غوايي د اوومې له پاځون مخکې په یو ډول نهٔ یو ډول دې ته اړ سول چې له ګوند څخه ووځي. له داکټر زرغون پرته نورو ټولو خپلو مبارزو ته په جلا جلا سازمونونو کې په بیلابیلو نومونو دوام ورکړ.

د امین یو خپل سرې حرکت د ۱۳۵۶ل د لړم په ۲۵ [۱۹۷۷ز د نوامبر په ۱۶] د داؤود د پلان د وزیر علي احمد خرم ترور کول ول. په کندز کې د کنترول د کمیسیون پلټنو څرګنده کړه چې دا نقشه د امین په لاس طراحي سوې وه.

زهٔ د ګوندي کنترول د کمیسیون مشر وم. د سیاسي بیرو د هیأت په ترکیب کې د ګوندي کنترول غړي سلیمان لایق، د کندز مسلکي مسؤول نظام الدین تهذیب او د کمیسیون نورو غړو ګډون درلود. پلټنو څلور ورځې دوام وکړ. د تهذیب په کور کې څه دباندې سلو تنو ګوندي کدرونو د هیأت پوښتنو ته ځوابونه وویل.

د څېړنو پایلو وښودله چې مرجان د خلق او پرچم له وحدت مخکې د امین له پلوه ګوندي کمیټې ته پېژندل سوی وو. د ارزونو پایلو وښودله چې امین د خپلې توطئې د پلي کولو لپاره د کندز له ګوندي غړو ان کدرونو څخه استفاده کړې او هغوی ئې استعمال کړي ول. هغهٔ غوښتل چې مرجان دې د پلان وزیر د ګواښلو په مرستې ارګ ته ننوځي او ځان دې مخامخ داؤود خان ته ورسوي او د داؤود خان پر ضد دې تروریستي برید تر سره کړي. او ورپسې دې پوځ په اضطراري تیارسې کې راوستل سي او د اردو د پاځون له لارې دې سیاسي واکمني ترلاسه کړي. د وسلوال پاځون په ضمن کې

دې مخالفان او رقیبان تس نس سي. (د گوندي کنټرول دوسیه او اسنادونه د گوند په مشرتابه باندې د داؤود د برید تر پېلېدلو پورې، د ۱۳۵۷ل کال د غوایي د میاشتې تر پینځمې نېټې پورې د لایق په کور کې خوندي ول. د لایق د شفاهي گزارش پر بنسټ، د داؤود خان له برید سره هم – مهال دا ټول اسنادونه محو سول.)

ددې توطئې له موندلو سره سم د گوندي کنټرول د کمیسیون په وړاندیز، ټولو گوندي سازمانونو ته «شفاهي اطلاعیه» خپره سوه چې د «خلق ډیموکراټیک بهیر» د خرم ترور غندي او دا کړنه د سوله ناکې مبارزې د اصولو ضد گڼي.

کله چې گوند دا توطئه د کنټرول د کمیسیون له لارې موندله، له مخفي نظامي سازمان څخه د امین د لېرې کولو او له مرکزي کمیټې څخه د هغهٔ د ایستلو مصوبه ولیکل سوه خو تره کي او کارمل د مصوبې د صدور ممانعت وکړ. تره کي په دې علت د امین شړل شا ته وغورځول چې د یوې میاشتې په ترڅ کې دې د اردو لوړپوړي افسران او د نظامي سازمان د مشرتابهٔ غړي د امین له نفوذ څخه و ایستل سي. دغه دلیل د سیاسي بیرو د اکثریتو غړو لپاره د قناعت وړ نهٔ وو.

د غوایي د پاڅون پېښو د لېږل سوي هیأت د نظریاتو حقانیت او نتایج په اثبات ورسول، ځکه د حکومت د جوړېدو په سبا ئې امین د خرم د ترور زندانیان ومنل په دې ډله کې د [وکیل محمد اعظم] شینواري په نوم آزادول او د نوي جوړ سوي دولت له مادي مرستو څخه د هغهٔ مستفیضول ول. مرجان خوشې نهٔ سو.»

پوښتنه: "پیام وجدان" څرنگه جریده وه؟

پنجشیری: سره له دې چې دا جریده د خلق او د پرچم له جرایدو سره تقریباً هم- مهاله خپرېدله، او د بڼې او تومنې له اړخه یوه سیاسي – ټولنیز خپرونه وه خو تر ډېر د "اعلاناتو د تختې" بڼې ته ورته وه. ددې جریدې د مسؤولو مدیرانو او د تحریر د هیأت د غړو نومونه راڅخه هېر سوي دي. ددې جریدې په هکله یوه ټوکه ډېره مشهوره وه چې ویل ئې: پیام وجدان شاعرانو او لیکوالانو ته حق الزحمه نهٔ ورکوي بلکه له هغوی څخه حق الزحمه اخلي چې اشعار او لیکنې ئې ورته خپرې کړي. کوم ځل، کوم چا په یوې مقالې کې د نور محمد تره کي کورنۍ ته- د پوچواو سپکو کلماتو په کارولو - ښکنځلې کړې وې خو وروسته همدغهٔ لیکوال او د پیام وجدان مسؤول مدیر بخښنه وغوښتله.

سیاسنگ: ولې مو ددواړو فرکسیونونو [خلق او پرچم] وحدت د "نهٔ وړاند وینې ور" بللی دی؟

پنجشیری: په حقیقت کې دا دوه "فرکسیونونه" نهٔ دي، دا دوه جلا گوندونه دي. له هماغو لومړیو څخه د خلق او د پرچم آسونه په یوهٔ آخور کې نهٔ څرېدل، نن هم نهٔ

څرېږي، سبا ته خو به هېڅکله ونهٔ څري، دوی به تر ابده همداسې وي. د غوايي د پاڅون له بريا څخه وروسته د شپږو مياشتو په لږه موده کې د اوضاع پرمختګ په خپله ثابته کړه چې زما طرحه سمه وه او په يوهٔ نوم د دوه وو "ګوندونو" غير منتظره وحدت، لنډ مهالی، فصلي، جبري او په اکراه وو. ان [د ۱۹۷۷ز کال د جولای د مياشتې] د وحدت کنفرانس له جوړېدلو وروسته په وسله وال ځواک کې د دواړو جناح ګانو مخفي سازمانونه له يو بل سره مدغم نهٔ سول. په همدې علت دوی په خپلو منځو کې سره يو نهٔ سول او د يو بل وينو ته تږي ول او له يو بل څخه ئې غچونه واخېستل.

سیاسنګ: يو شمېر څېړونکي، د افغانستان د خلق ډيموکراټيک ګوند د خلق او د پرچم پټ او خوارهٔ وارهٔ سازمانونه د GRU زېږنده بولي.

پنجشيری:دا فضولي خبرې هسې زموږ د عقيدتي دښمنانو چيغې او نارې سورې دي او د لومړي ځل لپاره د CIA د دوزخي سازمان له ستوني راووتلې. د ارتجاع اجيران او د امپرياليزم فرمان ته لاس په نامهٔ مزدوران دومره د منطقي تشې ژور تل ته لوېدلي دي چې ان د افغانستان د خلق ډيموکراټيک ګوند هم د KGB زېږنده بولي. ګوند او د هغهٔ پوځي سازمانونه د افغانستان د ټولنې د تأريخي، اقتصادي او ټولنيزو اړتياوو محصول دي او تفصيل ئې د «ظهور او زوال» په کتاب کې راغلی دی. د مزدورانو خبرې ما ته ارزښت نهٔ لري.

سیاسنګ: د هغو کسانو په منځ کې يو هم واسيلي ميتروخين Vasili Mitrokhin دی چې د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند او د اردو د انقلابي سازمان لپاره ئې د GRU او د KGB  د څانګو ونډه د "مور" په نقش کې راسپړلې ده. آيا تاسو هغه هم د ارتجاع او امپرياليزم د اجيرانو په ډله کې درشمارئ؟

پنجشيری: هغه څوک چې خپل هېواد، خپلې عقيدې او تشکيلاتي ژمنو ته وفادار پاتې نهٔ سي او د خپلې مفکورې د حقانيت د دفاع په لارې کې د ژوند تر وروستۍ سلګۍ پورې مقاومت ونهٔ کړي؛ د حقيرو مادي امتيازاتو د ترلاسه کولو لپاره په کذب او تزوير خپل ټول هست و بود د برتانيې د ښکيلاک په پښو کې وغورځوي او د خلق د صادقو بچيانو پر ضد دسيسې او توطئې جوړې کړې، داسې کسان د ارتجاع او امپرياليزم له استازو لا بد خلک دي. د امريکا متحدو ايالاتو د ميتروخين اپلاتو او شطحياتو ته ارزښت ورنهٔ کړ، ميتروخين خپلو خبرو ته داسې رنګونه او غوړ ورکړل چې د برتانيې د ښکيلاک د خولې له خوند سره سمون ومومي.  ميتروخين په لوېديځ کې د ملي خاين په توګه تثبيت سوی دی. هيله مند يم سؤ تفاهم ونهٔ سي. مهاجرت او سياسي پناه له «انقياد طلبې» او «تسليم پذيرئ» څخه توپير لري.

سیاسنګ: نومورې د KGB in Afghanistan په کتاب کې د خُرَم او د خيبر د وژل کېدلو يادونه نهٔ ده کړې.

پنجشیری: د هغهٔ ټول درواغونه نور پای ته رسېدلي ول او نهٔ پوهېدهٔ چې کوم بل نوی شی اختراع کړي.
سیاسنگ: خبره د خرم یاده سوه، کمیسیون د مرجان د کارنامې د څېړلو په خاطر ولی کندز غوره کړ؟
پنجشیری: مرجان د کندز د ولایت د علي آباد د ولسوالۍ په یوهٔ ښوونځي کې ښوونکی وو.
سیاسنگ: د «مرجان د سیاسي راز» له راڅرګندېدلو وروسته د گوند غړیتوب څه ډول وو؟
پنجشیری: د گوند مشرتابهٔ دستور ورکړ چې یوه اعلامیه دې خپره سي او په هغې کې دې ټینگار وسي چې مرجان یو اخواني دی نهٔ د افغانستان د خلق ډیموکراټیک گوند غړی.
سیاسنگ: آیا د مرجان په هکله هاغه اعلامیه ولیکل سوه او خپره سوه؟
پنجشیری:هو. موږ هماغه اعلامیه په لویه کچه خپره کړه.
سیاسنگ: آیا د خرم وژل کېدل د خیبر له ترورکېدلو سره کوم پیوَند لري؟

پنجشیری: سلیم عقل خو دا حکم کوي چې دواړو قاتلینو دې له یوې مرجعې څخه دستور اخیستی وي. امین د نظامي سازمان مسؤول او د خلق د څانگې د مشرتابهٔ غړی وو. امین تر خپل امر لاندې کسانو او د رابطو قدمو په مرستې کولای سول هر ډول قانون ماتوونکی عمل چې زړهٔ ئې وغواړي تر سره کړي. هغهٔ په خپلې خټې او تومنې یا ذات کې ځان غوښتنه او څوکۍ پالنه درلودله او د قدرت غصبول ئې د یوې شیبې لپاره له ذهن څخه نهٔ دباندې کېدل. ضمناً، امین ډارن نهٔ وو، امین د داؤود د لا لیونې کولو لپاره د خپلې غیر متعارفې زړورتیا پر مټ هر کار ان جنایت ته لاس اچاوهٔ. د خرم د ترور ناکامه قضیه او تر ټولو مهمه ددې ترور شاته د امین ناکامه توطئه د لومړنیو تخیلاتو برخلاف د طراح د زړهٔ د خوښې لوری ونهٔ نیوهٔ. د امین غیشی بې ځایه ولگېد او پایله ئې معکوسه وختله، خو، دغې افشاء سوې سناریو لیونی سردار لا وحشي، لا مستبد او غچ اخیستونکی کړ او په هره بیعه چې کېدل د افغانستان د خلق ډیموکراټیک د گوند نوم او نښهٔ ئې د هستۍ له ډگر څخه حذف کوله.

سیاسنگ: آیا د دې لړۍ د پښو پل د خیبر تر وژل کېدلو پورې رسېږي؟
پنجشیری: خیبر د خلق او د پرچم د اختلافاتو قرباني سو، له دې کبله ده چې ددغهٔ خونړي برخلیک گناه د امین او کارمل غاړو ته ورلوېږي. د واک د نیولو په لېونتوب کې چې د مخالفینو د بشپړو ځپلو او له منځه وړلو حس هم ور سره بدرگه وي، کارمل له امین څخه هېڅ کمی نهٔ لري. کارمل په ژوند کې کوم خطر ته لاس نهٔ اچاوهٔ خو په دې کې ئې خاص مهارت درلود چې خپل پلان په څه ډول د نورو په وسیلې پلی کړي او په پای کې د پلان بریالیتوب ددهٔ په نوم سجل سي او په باالعکس صورت کې دې، د ناکامۍ

له هر ډول تور څخه خلاص وي. کارمل په دې پوهېدۀ چې – که خلقي وو يا "پرچم دار" – هر يو له صفوفو نيولې تر مشرتابۀ پورې له امين څخه ډارېږي او ان د امين په غياب کې چا جرئت نۀ درلود چې منفي تبصره وربانديې وکړي. خو په خپله به ئې پر هر چا بانديې په خلاص لاس نيوکه کوله، په ځانګړې توګه د هغۀ يو شمېر شخصي خصايل ول چې د افغانستان د خلکو د دودونو او فرهنګ خلاف ول او زه نۀ غواړم په دې هکله کومه خبره وکړم. د خرم له وژل کېدلو سره بلافاصله يو ناڅاپه يو بل راز د پردې له شا راووت:" خيبر، تره کې ته لېوالتيا ښيي او تر څنګ ئې له ډاکټر حسن شرق او سردار داؤود سره هم اړيکي ټينګې کړي دي." په حقيقت کې د خطر زنګ له همدې ځايه وکړنګېد.

سياسنګ: دا لېوالتيا يوازې تره کي ته وه ؟ که تره کي او امين دواړو ته؟
پنجشيری: خيبر اصلاً حفيظ الله امين ته کوم اهميت نۀ ورکاوۀ.
سياسنګ: د محمد داؤود لور ته د خيبر د لېوالتيا ګنګوسې سمې وې؟
پنجشيری: په سياست کې د ګنګوسو د څپو اغېزې د هغوی د صحيح - والي يا غلط – والي په پرتلې ډېرې مهمې دي. دغسې ګنګوسې نۀ يوازې د کارمل په مزاج ښې ونۀ لګېدلې بلکه امين ته هم د زغم نۀ وې. دواړو د خيبر له کړو وړو، د هغو له سياسي عواقبو او د هغو له اوږد مهالو اضرارو څخه اندېښمن ول. په ځانګړې توګه چې دا مهال د امين زړۀ له تره کي څخه تازه خوړين سوی وو ځکه د "رهبر" له پخواني "حسن نيت" څخه نور ورته څه نۀ ول پاتې. کارمل په څرګنده او رڼو سترګه ليدل چې خيبر ئې له لاسه ځي.

سياسنګ: آيا خيبر د هغوی په سترګو کې ځانګړی ارزښت درلود؟

پنجشيری: زه نۀ پوهېږم چې د محمد ظاهر د سلطنت د وروستيو دوه وو کلونو په ترڅ کې د خيبر په افکارو کې څه بدلون راغی او ددې عامل څه وو چې د يوۀ ټولنيز خير غوښتونکي په توګه څرګند او خپل ټول فکر او خيال د غير انقلابي او د ملي پالو اصلاحاتو پر چورليځ راتاو کړي. خيبر په راتلونکو پينځو کلونو [۱۹۷۳ تر ۱۹۷۷ز پورې] کې عملاً د مبارزې له راديکاله شور او زوږ سره خدای په اماني کړې وه او غوښتل ئې کرار کرار د سيدجمال الدين او ګاندهي د شخصيتونو په ترکيب بانديې بدل سي. د همدې تدريجي ځان پردي والي «خود بيګانګی» او د ۱۹۷۷ز کال په وروستيو او د ۱۹۷۸ز په پېل کې - د سردار داؤود تر سيوري لاندې کښېنستل ول چې خيبر د امين او کارمل په انظارو کې د «انحلال طلب» په نوم بدل سوی وو. د همدغو ملاحظاتو له کبله ول چې کارمل د خيبر په نوم يوه ګواښجنه اخطاريه ولېږله چې له خپلې «انحلال طلبې» تګلارې څخه دې ډډه وکړي.

سياسنګ: آيا تاسو واياست چې خيبر د ګوند د "برخليک" لپاره "خطرناک" سوی وو؟

پنجشیری:دلته باید خطا وتنه ونهٔ سي. په خپله خیبر خطرناک نهٔ وو، برخلاف یو ډول معصومیت ئې هم درلود. د خیبر د کارونو د عواقبو خساره زمونږ د ګوند لپاره له خطره ډک او ان مهلک ګڼل کېدل. کاشکې یو عادي غړی وای او ویل به ئې چې د ګوند له غړیتوب څخه دې معاف سم او یا مې تکل کړی چې کوم بل سیاسي محفل ته لاړ سم. خیبر د پرچم د جناح په پوځي سازمان کې د مخفي ډلو د تشکیلاتي اسرارو او مستندو معلوماتو او د محرمیاتو د درانده پیټي په لرلو سره، د سردار داؤود د انس او مصاحبت تر څنګ ښايي تر یوې کچې دې ته هڅول سوي هم وي چې د ګوند یوه بدنه – طبعاً د پرچم فرکسیون – منحله کړي. که داسې سوي وای، نو طبیعي خبره ده چې د خلق جناح هم ژر یا لږ وروسته د پرچم د انحلال په اور کې سوځېدله. دا هم شوني ده چې ښايي خیبر په لوی لاس د خلق ډیموکراټیک ګوند د بربادۍ تکل نهٔ درلود خو د کرغېړنو ارګ مېشتو له پلوه ورڅخه سیاسي استفاده کېدله.

سیاسنګ: خیبر د افغانستان د خلق ډیموکراټیک ګوند ته په کومه سترګه کتل.

پنجشیری: سره له دې چې خیبر له مشرانو څخه خوابدی وو خو د خلق او پرچم پر وړاندې ئې له صبر څخه کاراخیست او په زړهٔ کې ئې د چا پر وړاندې کرکه او دښمني نهٔ درلودله. البته، نوموړي د ګوند د بل هر غړي په شان حق درلود چې خپله عقیده بدله کړي. ګوندي غړیتوب د ابد لپاره په یوهٔ تیارهٔ سوري کې د پاتې کېدلو په معنی نهٔ ده. که خیبر له خپلې تشکیلاتي ژمنې څخه لاس اخیستی وای او خپل ټول پاتې ژوند ئې د ملي انقلاب ګوند ته په وفادارۍ کې وقف کړی وای بیا ئې هم په خپل وجدان کې نهٔ سوای کولای د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند له ملاتړ څخه لاس واخلي او دا ئې نهٔ سوای کولای وزغمي چې انقلابیون دې د سرداري استبداد مرګوني او درانده ضربات وزغمي. که خیبر ژوندی پاتې سوی وای او د ملي انقلاب د ګوند کړکیچ او خیانتونه او د فاسدو سردارانو ولس غولوونکی سیاست ئې د نظام له دننه لیدلي وای، ډاډ لرم چې ببرته راتهٔ او ببرته د افغانستان د خلق له ډیموکراتیک ګوند سره یو ځای کېدهٔ. له همدې اسیَته دی چې خیبر مونږ ټولو ته د درناوۍ وړ دی. د خیبر فزیکي حذفېدل – که د هر چا په لاس سوي وي – یو نابخښونکی جنایت دی.

د خیبر مرګ، ګوند ته، د روڼ اندو ټولنې ته او د افغانستان خلکو ته لویه غمیزه وزیږوله؛ د هېواد چاپیریال ئې بدل کړ؛ ګوند ئې د رکود له حالته وایست او د سردارانو پر وړاندې ئې سره راټول او یو موټی کړ. د خلق او د پرچم د فرکسیونونو د څېڅپانده وحدت لړۍ ته ئې ان که لنډ مهالې هم وه د دولت پر ضد چټکتیا وربه برخه کړله. د خیبر ناځوان مردانه ترور د ټولنې پېچلې تضادونه له ژور څخه سطحې ته راپورته کړل او د افغانستان د خلق ډیموکراټیک ګوند په ګټه ئې حل کړل.

سیاسنګ: ویل کیږي چې خیبر د متحدې جبهې د جوړېدو او د ملي انقلاب له ګوند سره د همکارۍ غوښتونکی وو.

پنجشیری: انقلابیون د خپلو وینو تر وروستي څاڅکي پورې خپلې مبارزې ته دوام ورکوي، خو د متحدې جبهې له مرتجعینو سره جوړښت او سازښت نهٔ مومي. که د افغانستان خلق ډیموکراټیک ګوند د یوهٔ محکوم دریځ نیولی وای او د ملي انقلاب له واکمن ګوند سره ئې متحده جبهه جوړه کړې وای ګټه د چا وه؟ طبعاً لومړي پړاو کې د پرچم د جناح ادغام کېدل ول، دوهم پړاو انحلال او دریم پړاو سرکوب او وروستنی پړاو د مترقي تفکر او د مترقي تفکر د ټولو پلویانو بشپړه له منځه وړل او د هغوی د جرړو ایستل ول.

سیاسنګ: آیا خیبر غوښتل چې پرچم دې منحله سي؟

پنجشیری: له اصلي سناریو څخه لایق، بارق او نور «احمد نور» خبر لري دوی وایي چې خیبر همدا خبره غوښتله.

سیاسنګ: خیبر چا ته ویلي ول چې: پرچم منحله کوم یا غواړم چې منحله ئې کړم.
پنجشیری: خیبر کوم مجبوریت نهٔ درلود چې په برالا او علني توګه چا ته وواېي چې پرچم منحله کوم.
سیاسنګ: ستاسو په نظر، آیا هغهٔ د پرچم د جناح د انحلال فکر ئې په سر کې درلود؟
پنجشیری: د خیبر د اقداماتو تګ لوري دا خبره ښودله چې د پرچم د انحلال پلوی وو.
سیاسنګ: او په همدې تنازع کې یو ناڅاپه ووژل سو. ولې؟
پنجشیری: ځکه چې خیبر د ارتجاع او امپریالیزم د سترګو اغزی وو.

سیاسنګ: ستاسو د ځوابونو له تومنې ښکاري چې د « پرچم د سترګو اغزی» وو؟ آیا د هغهٔ پیام لنډیز چې تاسو په خپله وویل کارمل و خیبر ته استولی وو، په خپله خیبر ته د قتل ګواښ نهٔ دی؟

پنجشیری: وحید مژده یو تأریخي خدمت وکړ چې ددغهٔ پټ راز له مخې ئې پرده لېرې کړه. وحید مژده په خپلې سمې او صحیح شننې سره وښودل چې د حکمتیار د حزب اسلامي په وجود کې د ارتجاع، ښکیلاک او د امپریالیزم د تالي څټو او جواسیسو لاس یو کېدل د خیبر د ترور عامل وو. د خیبر د ترور د طراح او د قاتل پرموندنې باندې ډېر ټینګار چې زیاتو څېړنو او پلټنو ته اړتیا لري زما له نظره اضافي خبره او ناحقه د وخت تېرول دي. د خیبر انحلال غوښتونکي تګلاره او د ګواښ موضوع داسې شی نهٔ ده چې ګنې ما دې له خپلې ګیډې جوړه کړې وي، دا خبره د نورو لیکوالانو په کتابونو او مقالاتو کې ډېره راغلې ده.

سیاسنگ: تاسو د «ظهور و زوال حزب ډیموکراټیک خلق افغانستان» په ۶۰ او ۶۱ پاڼي کې لیکلي دي: « جنرال قادر ما ته د هوايي او هوايي مدافعې د ځواک د استخباراتو د رئیس ډگرمن قاسم پنجشیرې له خولې څخه په نقل قول وویل: د خیبر د ترور پلان ددفاع وزیر حیدر رسولي طرح او د ښي لاسو د یوهٔ سخت دریځي سازمان د تروریستانو په مرسته تر سره کړ. دا خبره د نورو خلکو د قیاس او گومان په پرتلې ډېره حقیقت ته نېږدې ښکاري، ځکه قاسم او رسولي دواړه د اسلامي تصوف د یوې او واحدې طریقې پیروان ول او د رسولي له زوم امین الله نجیب سره ئې نېږدې اړیکې درلودلې. د کورنیو چارو وزیر قدیر نورستاني او حیدر رسولي دواړه، له ډاکټر شرق سره د خیبر او  د لایق او احتمالاً له داؤود سره د تماسونو له لړۍ خبر ول. دغه دواړه وزیران د پرچم د فرکسیون له پوځي سازمانونو سره د خیبر له دایمي پیوند په ځانگړې توگه له فیض محمد سره د خیبر له پیوند او اخلاص څخه خبر ول. دوی په فرکسیون کې د خیبر له طرحې او احتمالاً ددغهٔ فرکسیون له انحلال څخه اندېښمن ول او ویرېدل. که د خیبر طرح بریالۍ سوې وای او د پرچم د فرکسیون یو شمېر ملکي او پوځي غړي د ملي انقلاب له گوند سره یو ځای سوي وای، نو نتیجتاً د سردار رسولي ونډه د ملي انقلاب د گوند په داخلي مبازاتو کې ضعیفه کېدله. سردار رسولي د خیبر په ترور سره دوه موخې درلودلې: لومړی د ملي انقلاب احتمالي سیال ئې له خپلې مخې لېرې کړ او دوهم د افغانستان د خلق ډیموکراټیک گوند د مشرانو ترور او وژل کېدلو او د سیاسي او سازماني گډوډۍ لپاره ئې لاره پرانیستله. خو تأریخ بل تگ لوری غوره کړ.»

پوښتنه: که خیبر د پرچم د جناح له پټ پوځي سازمان سره په گډه د ملي انقلاب له گوند سره یو ځای سوی وای او د هغهٔ گوند ځواک ئې لا ډېر کړای وای، آیا د محمد داؤود، ډاکټر حسن شرق، قدیر نورستاني، حیدر رسولي او.... د خوښۍ باعث نهٔ کېدهٔ؟ هغه مهال د جمهوري نظام مشرانو د خیبر وژلو ته څه اړتیا درلودله؟

پنجشیری: د جنرال قادر په روایت باندې استناد چې تر یوهٔ مهاله ما ته د منلو او تأیید وړ وو، اوس مؤجه نهٔ دی. هماغسې چې مخکې مې وویل – د طالبانو د دوران د باندنیو چارو د وزارت متخصص- وحید مژده سترگې رڼوونکې لیکنې د ملگري خیبر د ترور په هکله څو کلن قیاسونه او گومانونه ټول بې اعتباره کړل. کله چې د دواړو قتلونو د قاتلانو هویت څرگند سوی وي، د خیبر د وژل کېدلو په اړه هره بله محاسبه منتفي او د وخت بې ځایه تېرول دي. (۲۰۰۸/۰۸ / ۱۹ )

## لیکم ئې: ټول شیان په خپله لیکم

۲۰۰۸ز کال د اپریل ۳۰ نېټه
سیاسنګ: محمد داؤود او کورنۍ ئې د چا او یا د کومو کسانو په فرمان ووژل سول؟

سلیمان لایق: سردار داؤود د کوم چا د دستور او یا د کوم جمعي تصمیم پر بنسټ نهٔ دی وژل سوی. وګورئ ! لومړی کودتا وسوه، ورپسې ورته پیام ولېږل سو چې تسلیم سي، هغوی تسلیم نهٔ سول. پایله ئې هماغه ده چې ټول ورڅخه خبر دي: یعنې د څو تنو وژل کېدل.

سیاسنګ: تاسو وایاست چې داؤود او کورنۍ ئې د افغانستان د خلق ډیموکراټیک ګوند د جمعي فرمان پر بنسټ و نهٔ وژل سول.

لایق: لومړی باید ددغهٔ بحث اصول روښانه اوسي. کودتا د خلق ډیموکراټیک ګوند ونهٔ کړه. یو څو تنه ول چې کودتا ئې وکړه.

سیاسنګ: دغه «څو تنه» کوم کسان ول یا دي؟

لایق: یو شمېر قدرت ته تږي او څوکۍ پال کسان ول چې غوښتل ئې څوکۍ، ویسکي، موټر او لوړ ځای ته ورسېږي، دغو کسانو کودتا وکړه او د افغانستان د خلق ډیموکراټیک گوند ئې له یوۀ تر سره سوي عمل سره مخامخ کړ. د خلق او د پرچم جناح دواړه گاني مجبوره سوې چې د خپل ځان د ساتنې لپاره بریا ته رسېدلې کودتا ومني.

سیاسنگ: کولای سئ د کودتا د سازمان ورکوونکو نوم واخلئ؟

لایق: زه کوم ډارن سړی نۀ یم او نۀ د راتلونکي په هکله کومه اندېښنه لرم. زړور یم او سپینه خبرم کوم. حفیظ الله امین او نور محمد تره کی د کودتا اصلي سازمان ورکوونکي ول. موږ په زندان کې وو چې کودتا وسوه.

سیاسنگ: څنگه زنداني سوئ؟

لایق: کله چې د گوند د مشرانو د نیول کېدلو خبر د راډیو له لارې خپور سو له زندان څخه دباندې یو شمېر ملگري دې پایلې ته ورسېدل چې ښه به دا وي میثاق صاحب او لایق صاحب دې لاړ سي او ځانونه دولت ته تسلیم کړي. زه د ملگرو د غوښتنې پر بنسټ لاړم او ځان مې پولیسو ته وسپارۀ. زما په لاسونو کې ئې ولچکونه واچول او د زندان په یوې کوچنۍ کوټې کې ئې واچولم. یو افسر چې د وردکو وو راغی او راته ئې وویل: څه شی دې خوړلي دي چې هضمولی ئې نه شې؟ ورپسې له هر لوري د ډزو پرله پسې غږونه پورته سول. افسر دباندې ووت. څو شیبې وروسته زه هم له کوټې دباندې راووتم چې پوه سم څه خبره ده. د گوند یو تن غړی مې ولید. هغۀ راته وویل: څو شیبې صبر وکړه، چپه کوو ئې. هماغه وردک افسر یو ځل بیا راغی او په یوۀ غاب کې راته انگور راوړل. زما لاسونه ئې خلاص کړل. په دې توگه زه له زندانه خوشې سوم.

سیاسنگ: آزاد سوئ، راډیو افغانستان ته راغلئ او د دستگیر پنجشیري په وینا («ظهور و زوال حزب دیموکراتیک خلق افغانستان» ۹۶ پاڼه) تاسو تره کي ته د محمد داؤود په هکله وویل: « دا فرعون دې ووژل شي!» سمه ده؟

لایق: نه. سمه نۀ ده. دا خبره قطعاً زما نۀ ده. پر ما تور لگوي. ما داسې نۀ دي ویلي. اصلاً په خپله دا پېښه راته له کرکې ډکه پېښه وه.

سیاسنگ: کومه پېښه تاسو ته له کرکې ډکه وه: د داؤود وژل کېدل او یا د غوایي کودتا؟

لایق: کودتا- همدا پوځي پاڅون چې په گوند کې نۀ وو پوخ سوی – راته له کرکې ډک وو. ښایي په تأریخ کې داسې پاڅونونه ډېر سوي وي. دا چې آیا شوروي په کې لاس درلود یا نه، راته روښانه نۀ ده. خو تره کي او امین دواړه سل په سلو کې ورباندې پوهېدل.

سیاسنګ: که تاسو د تره کي یا امین پر ځای وئ، آیا د داؤود او د هغهٔ د کورنۍ د وژل کېدلو فرمان مو ورکاوهٔ؟

لایق: دا پوښتنه هېڅ بنسټ نهٔ لري. که زه د هغوی پر ځای وای، کودتا نهٔ رامنځته کېدله. په هېڅ اصل، بنسټ او معیار کې د کودتایي پاڅون د تره سره کېدلو تجویز نهٔ دی ورکړل سوی. کودتا د سیاسي ستونزو د حل لاره نهٔ وه، نهٔ ده او په راتلونکې کې به هم نهٔ وي. زه د کودتا مخالف وم. په ټوله کې د افغانستان د خلق ډیموکراټیک ګوند ټول واقف غړي د پوځي کودتا مخالف ول.

سیاسنګ: د خیبر د یوهٔ دوست او د کورنۍ د خپلوان په توګه چې تاسو د هغهٔ په ویر کې واست او دا مو ګڼله چې ګڼې د محمد داؤد جمهوریت د هغهٔ له مرګ سره تړاولري نو ښایي دا خبره مو کړې وي چې: «دا فرعون دې ووژل سي.»

لایق: ما له هماغه پېله له وژنو او وینو بهونو څخه کرکه درلودله. اوس ئې هم لرم. ان د سردار داؤود او د هغهٔ د کورنۍ له وژل کېدلو وروسته زه د اجسادو لیدلو ته ورنغلم. تل به ئې زما په هکله ویل چې دا سړی قاطع سړی نهٔ دی. تاسو په ټول افغانستان کې راته یو سړی پیدا کړئ چې ووایي د سلیمان لایق له لاسه متضرره سوی یم. له بلې خوا، سردار داؤود او د هغهٔ جمهوري دولت د میر اکبر خیبر په وژل کېدلو کې هېڅ لاس نهٔ درلود. خلک ولې دا هسې بې ګټې ببولالې جوړوي.

سیاسنګ: د خیبر قاتل څوک دی؟

لایق: دا خبره، پولیسي تحقیقات کېږي او زه ئې ځواب ورکول لازم نهٔ بولم. څو اونۍ مخکې یوې نړۍ والې راډیو هم همدا پوښتنه راڅخه کړې وه. د هغې راډیو پوښتونکې ته مې وویل چې اوس ئې د ځوابولو وخت نهٔ دی. اوس ډېر وختی ده.

سیاه سنګ: وحید مژده د « قتلي که کودتا در پی داشت» تر سرلیک لاندې یوه لیکنه لري او د حکمتیار له قوله لیکي: خیبر زموږ د خپلو مجاهدو ورونو په لاس وژل سوی دی.

لایق: دا ادعا هم له بنسټه سمه نهٔ ده. حزب اسلامي ددې لپاره چې د پاکستان د مقاماتو په سترګو کې Credit [اعتبار] تر لاسه کړي په دې خام او ډېر بې ګټې نیرنګ سره دداسې یوهٔ قتل مسؤولیت په غاړه اخلي چې هېڅکله ئې نهٔ دی تر سره کړی.

سیاسنګ: د افغانستان د خلق ډیموکراټیک ګوند یو شمېر لوړ پوړو دا ادعا منلې ده.

لایق: هو! منلې ئې ده، دوی ځکه دا ادعا منلې چې هغوی هم غواړي د خیبر د قتل د تور مُهر ژر تر ژره له خپل تندي څخه پاک کړي.

سیاسنګ: ستاسو له خبرو څخه داسې پوهېدای سو چې د خیبر قتل "په ګوند کې دننه تر سره سوی". آیا ښه نهٔ به وي چې له دې چې تاسو قاتل پېژنئ نو حقیقت د ولس تر غوږو‌نو ورسوئ؟

لایق: د افغانستان د خلق ډیموکراټیک ګوند کارنامې، په ځانګړې توګه د کودتا له بریالیتوب وروسته ډېرې ناغوره او ناوړه کارنامې دي. زموږ ولسونو او پرګنو تاوانونه ولیدل. خیبر زموږ خپلو ګوندیانو وژلی دی. دمهال ما نور ګوندي سیاست او متشکل سیاست پرې ایښی دی او ادبیاتو ته مې مخه کړې خو غواړم ټول هغه معلومات چې لرم ئې وئې لیکم. ولې نهٔ؟ په راتلونکي کې هر شی په یوهٔ کتاب کې راوړم. (د سباوون د ګولیو باران، د صبورالله سیاه سنګ لیکنه، پښتو ژباړه: رحمت آریا، دریمه برخه، د کابل ناټهـ سایټ، ۷۵ برخه، ۲۰۰۸ز کال د جون میاشت)

**خیبر، وزیر، وکیل او والي کېدلی سوای که...**

د ډاکټر ضمیر میهن پور او احمد شاه راستا مرکه

(د بهار ټلویزیون: د پندار او ګفتار پروګرام/ ۲۰۲۱ز کال د جون ۱۲)

**د ځوابونو لنډیز:**

له استاد میر اکبر خیبر سره زما پېژندګلوي له لومړۍ کنګرې څخه چې پایله ئې د افغانستان د خلق ډیموکراټیک ګوند په جوړېدو واوښتله، پېل کېږي. زه د حبیبې د لیسې د لسم ټولګي زده کوونکی وم. د لړم د میاشتې د دریمې له خونړیو پېښو وروسته کله چې ولسي جرګې ته د رأیو د ورکولو خبره مطرح سوه، له سیاسي مسایلو سره زما لېوالتیا ډېره سوه او په ناخبره توګه د هغو زده کوونکو او محصلینو کتار ته ننوتم چې لاریونونه ئې پېل کړي ول. لاریون وټکول سو او د «قوای ضربه» له پلوه د وهلو ټکولو په ترڅ کې لږ ټپي او د علي آباد په روغتون کې بستري سوم.

سره له دې چې ما د افغانستان د خلق ډیموکراټیک ګوند غړیتوب نهٔ درلود، د ګوند استازی روغتون ته راغی او د سیاسي مبارزې لپاره ئې په ګوندي تشکیلاتو کې د غړیتوب لپاره وبللم. وروسته د ارواښاد ببرک کارمل یو خپلوان فقیر محمد زما لیدو ته راغی او د استاد خیبر د همدردۍ او تسلیت مراتب ئې راته ورسول. ما د استاد له ویاړه ډکې ستاینې او اوصاف له نورو څخه اورېدلي ول. پوهېدم چې استاد ئې د هغهٔ د افکارو په تور پکتیا ته تبعید کړی وو.

وروسته کله چې د ننګرهار د طب د پوهنځي محصل سوم، سیاسي مطالعاتو ته مې مخه کړه. په دې لړ کې په ګوند کې یو بل انشعاب رامنځته سو. د ولایتي کمیټې د منشي سمیع یار په ګډون، محصلینو او نورو غړو بې پرې دریځ ونیوهٔ. دغهٔ انشعاب په ننګر

هار کې د پرچمیانو ملا ورماته کړله، ځکه د ټولټال ۴۶ تنو پرچمیانو له منځه یوازې لس یا پینځلس تنه ئې پاتې ول. په پای کې زه ئې هم کابل ته وغوښتلم.

په ۱۹۶۷ ز کال کې مې د مرکزي کمیټې د تشکیلاتو د کمیسیون پیام تر لاسه کړ. په پیام کې ئې ویلي ول چې استاد خیبر په خپل کور کې د «انقلاب په ستراتیژۍ او سیاست کې د تیوري او تکتیک» کورس تدریسوي، هغهٔ ته ورسه. له کابل څخه ټول ټال اووه یا اتهٔ تنه گوندي کدرونه ول او ما هم دې کورس کې گډون وکړ. هغه مهال فارسي او پښتو کتابونه نهٔ موندل کېدل او استاد له انگلیسي څخه ژباړل. استاد زه وروزلم او د ژوند تر پایه ئې تر څنگ او د هغهٔ ملاتړی وم.

د لومړي ځل لپاره مې چې دی ولید، د مُعـملی قدرت ئې راته د حیرانتیا وړ وو. خیبر د تقوی خاوند، صمیمي، لیکوال او کتاب لوستی وو. د پرچم هرې گڼې هرو مرو د هغهٔ یوه عمده مقاله درلودله. کارتهٔ پروان ته نېږدې ئې ژوند کاوهٔ. زموږ کور هم هلته وو. کله به چې له ننگرهار څخه کابل ته د رخصتۍ لپاره راغلم نو لیدلو ته به ئې ورغلم. نور مشران لکه ارواښاد کارمل، ارواښاد خیبر او ارواښاد لایق هم په کارتهٔ پروان کې د کپتان بابا د ورور کور ته راتلل.

استاد خیبر هر ژمی په ننگرهار کې د خپل دوست سید جان لالا کورته راتهٔ. لالا په خپله یو لوړ شخصیت وو او له نشنل عوامي پارټۍ او داؤود خان سره ئې پراخې اړیکې پاللې. له دې چې استاد د پښتنو او بلوڅو داعیې ته زښته ډېره لېوالتیا درلوده نو د خان عبدالغفار خان لیدلو ته به ئې تشریف راووړ. دوی دواړو یو بل سره له پخوا وختونو ښهٔ پېژندل. محمد داؤود به هم کله ناکله – له صدراعظمۍ وروسته - د بیکارۍ پر مهال – جلال آباد ته راغی.

په هغو کلونو کې ما د ننگرهار د ولایت د ولایتي کمیټې د مشرتابهٔ مسؤولیت پر غاړه درلود. له انشعاب وروسته، هرکله چې ډاکټر بصیر رنجبر او بارق شفیعي له کابله راغلل-نو د مسؤلینو په توگه به ئې – د ولایتي کمیټې غونډې جوړولې. که دوی نهٔ ول نو ما به د کمیټې د سرپرست په توگه کارونه پر مخ وړل. د استاد خیبر د ښهٔ راغلاست او هرکلي او بدرگې مسؤولیت هم زما پر غاړه وو. هر چېرې به چې استاد لاړ، زه به ورسره وم. ما به د خپل ورور په موټر کې او یا به د ډاکټر حسام الدین مل په موټر کې استاد هر چېرې چې غوښتل، رساوهٔ.

یوه ورځ داؤود خان او استاد خیبر د خان عبدالغفار خان کور ته راغلي ول. زه د څو دقیقو لپاره د هغوی په محضر کې کښېناستم او ژر بېرته جگ سوم، ځکه پوه سوم چې دلته زما ځای نهٔ سته. کله چې ما د تگ اجازه وغوښتله، استاد وویل: ملگری ضمیر! اوس ورځه خپل کارونه کوه. کله چې زموږ مجلس خلاص سو زه به سید جان لالا ته ووایم چې تا ته خبر درکړي. راسه او ما له ځان سره بوزه.

په هغو کلونو کې زه د اجرائیه هیأت او د مرکزي کمیټې غړی نهٔ وم او د ګوند د نورو ډېریو غړو په شان مې د ګوند له خپل منځي اختلافاتو څخه خبرتیا نهٔ درلودله. اوس د هغو اختلافاتو په هکله ډېر معلومات لرم او کولای سوم په دې هکله په صلابت خبرې وکړم. استاد خیبر د نظر خاوند یو شخصیت وو او د اجرائیه هیأت او مرکزي کمیټې دننه ئې په قطعي ډول له چا سره شخصي اختلاف نهٔ درلود. که یوازې تور لګوي او وایي چې ګنې له چا سره ئې له دښمنۍ ډکې شخصي اړیکې درلودلې نو دا نهٔ یوازې دروغ او تور دي بلکه ز موږ د پرون ورځې د ګوند لارې او دودونو ته خیانت دی.

قضیه داسې پېل سوه: پاکستان، ایران او سعودي عربستان ته د محمد داؤود د سفرونو په لړ کې، ددغو هېوادونو مشرانو پلان درلود چې له شوروي سره د محمد داؤود اړیکې ورانې کړي. دا د امریکا د سترې پروژې یوه برخه وه. داؤود د نبي عظیمي، خلیل او فیض محمد په شان پوځیانو په همکارۍ او ملاتړ چې په خپله داؤود شوروي اتحاد ته د تحصیل لپاره لېږلي ول، واکمني په لاس کې واخېستله. له همدې امله ول چې جیلاني باختري او درې څلور تنه نور پرچمي وزیران ئې په حکومت کې مقرر کړل. زه په خپله ددې شاهد یم چې محمد داؤود په جلال آباد کې له پاچا خان سره د لیدنې په ضمن کې له ببرک کارمل او استاد خیبر سره دوه درې ځله ولیدل.

داؤود هېواد ته له راستنېدلو وروسته په هرات کې د یوې غونډې په ترځ کې پر "وارداتي تیوري ګانو" باندې نیوکه وکړه او وئې ویل چې داسې نظریات د افغانستان د خلکو په درد نهٔ خوري. داؤود په حقیقت کې په خپلو دغو خبرو مسکو ته چلنج ورکړ. شورویانو داؤود ته بلنه ورکړه چې کرملین ته ورسي؛ د عبدالصمد غوث په کتاب «سقوط ِ افغانستان» کې ددې نامتو لیدنې لړۍ په تفصیل راغلې ده؛ د دې لیدنې په دوهمې ورځ د دواړو لوریو د غیر دیپلوماتیکو چلندونو پر بنسټ دا اړیکې شدیداً خړې پړې سوې.

لنډه دا چې داؤود، هم د نړۍ وال سیاست په ډګر کې او هم د افغانستان د خلق ډیموکراټیک ګوند په اړوند یو شمېر تېر وتنې له ځانه وښودلې. داؤود د څو تنو عالیرتبه افسرانو، علاقه دارانو او ولسوالانو په ګډون چې دهٔ په خپله مقرر کړي ول، ټول پرچمیان له کاره وشړل او په دې کار سره ئې غوښتل د شوروي اتحاد د مخالفینو په سترګو کې ځان ته اعتماد تر لاسه سي.

داؤود د اساسي قانون د تصویب پر مهال وویل: "اوس یوازې یو ګوند "ملي غورځنګ" وجود لري. نور ګوندونه او سازمانونه دې ځانونه منحل کړي."

له دې چې ما له خیبر سره اړیکي لرل، خبر سوم چې د محمد داؤود په خبرو باندې خیبر نهٔ دی وارخطا سوی، ځکه هغهٔ له داؤود سره نېږدې اړیکي لرل. داؤود ورته ویلي ول:

زه له افغاني ډیموکراسۍ څخه چې وکولی سي د افغانستان د خلکو له ملي ګټو سره سمون ولري مخ نهٔ اړوم، خو دا هم نهٔ غواړم چې د شوروي اتحاد په بند کې پاتې سم. غواړم د نورو هېوادونو پر مخ- نورې دروازې- هم پرانیزم، ځکه چې زه ورته د افغاني ټولنې د پرمختګ لپاره اړتیا لرم.

له بریژنیف سره له لیدوکاتو وروسته او ددې خبرې ویل چې: " زه د یوهٔ مستقل هېواد ولسمشر یم او نهٔ سم کولی ستاسو تر امر لاندې اوسم"، استاد خیبر پوه سو چې د روسانو له پلوه دیکته پېل سوې ده. د روسیې استخباراتو تصمیم نیولی وو چې داؤود له قدرت څخه لیرې کړي، ځکه روسان پوهېدل چې د داؤود سیاست، بدل سوی او د شوروي اتحاد سیمه ییزې ګټې له خطر سره مخامخ دي.

افغانستان ته د داؤود له راستنېدلو وروسته یو شمېر هدفمند قتلونه لکه د علي احمد خرم، کپیتان انعام الحق ګران وژنې او څو نورې پېښې په کابل کې ترسره سوې ترڅو د داؤود رژیم بې ثباته سي.

شوروي چې د افغانستان د خلق له ډیموکراټیک ګوند سره د شوروي د سفارت له لارې مستقیمې اړیکې درلودل لاس په کار سو یعنې د خپلو ځالګیو او د دایمې اړیکو پر بنسټ ئې له داؤود څخه خپله نارضایتي اعلان او تر څنګ ئې د رژیم د راپرځول پېل کړل.

وریسې خلق او پرچم - له شوروي لوري څخه د فرمان د تر لاسه کولو پر بنسټ- د یوې کوچنې اعلامیې په خپرولو – له لسو کالو وروسته وحدت وکړ. دا میکانیکي وحدت – یوازې په ملکي ډګر کې وو، د دواړو جناح ګانو په پوځي سازمانونو کې کوم وحدت رامنځته نهٔ سو- نو ځکه ئې هېڅ ډول عیني میکانیزم نهٔ درلود. خلق او پرچم ځکه له یوبل سره یو ځای سول چې شوروي اتحاد ورته دیکتې کړې ول.

استاد په دې پوهېدهٔ چې د داؤود د حکومت راپرځېدل بې موقع او د فاجعې پېل دی. هغهٔ به ویل: زموږ ګوند یو هر اړخیز ولسي ګوند نهٔ دی، موږ د واکمنۍ د نیولو او د خپل حاکمیت د رامنځته کېدلو لپاره چمتو والی نهٔ لرو، په دې سره موږ له فاجعې سره مخامخ کېږو. هغهٔ داؤود ته د یوهٔ غنمیت په سترګه کتل او په دې ئې باور درلود چې د هغهٔ په وجود او تشکیلاتي میکانیزم کې [د پرچم په انحلال سره] کولی سو د ټولنې د پرمختګ طبیعي بهیر، نهٔ د کودتا پر لور، بلکه د ملي ډیموکراټیک انقلاب پر لور او د ټولنیز انقلاب پر خوا بوزو.

د خلق او پرچم مشرانو ونهٔ سوای کولی د استاد خیبر وړاندیزونه وزغمي. له دې وروسته اختلافات په بشپړ ډول روښانه سول. ملګري کارمل او د اجرائیه هیأت اکثریتو غړو – د خلقیانو او پرچمیانو په ګډون – سره له دې چې خلقیانو په دغو خبرو

کې بر لاس نهٔ درلود – ګوند منحل نهٔ کړ، یوازې خپل تشکیلاتي سیستم ئې بدل کړ.
(په همدې حال او احول کې ول چې داؤود ته خبر ورسېد چې پرچمیانو خپل تشکیلات نهٔ دي منحل کړي.)

د خیبر قتل یوه تروریستي پېښه ده او په ستر استخباراتي کمپلکس Complex کې ځای لري. د هغهٔ د قتل په صحنې کې، یو جیپ موټر لیدل سوی چې درې تنو سړو پوځیانو وریاندې ډزې کړي دي. که د حکمتیار اسلامي حزب ددغهٔ جنایت مسؤولیت په غاړه اخلي ښایي باتې ووهي.

د استاد خیبر قتل د غوایي د کودتا انګیزه نهٔ ده او دا پېښه د هغهٔ له مرګ سره هېڅ اړیکه نهٔ لري. که ژوندی هم وای، د غوایي کودتا پېښېدله، ځکه د شوروي اتحاد لوري سل په سلو کې چمتو والی نیولی وو. په بلې وینا، شوروي له خپلو استخباراتي سازمانونو [KGB اوGRU ] سره لستوني بډ وهلي ول چې د داؤود رژیم راوپرځوي.

خیبر یو مطرح، ستر عالم، مستقل او برجسته شخصیت وو. د هغهٔ لیکنو او افکارو خپل اهمیت درلود. که خیبر ددغه نظریاتو خاوند نهٔ وای، د سیاسي بیرو او د مرکزي کمیټې د نورو غړو په شان چې وکیل، وزیر او والیان سول، خیبر هم ډېرو لوړو مقامونو ته رسېدهٔ.



## میر اکبر خیبر ته تر ټولو نېږدې او تر ټولو محرم څوک، زه وم

ما - ذبیح الله زیارمل - د ۱۳۲۰ل کال د لیندۍ د میاشتې په ۲۹ نېټې د کابل په زاړهٔ ښار کې سترګې نړۍ ته غړولې دي. کله چې ما خپل کیڼ او ښی لاس وپېژند، خپل ځان مې په ششدرک کې په خپل ډېر قدیمي کور کې وموند. تر ۱۳۵۰ل کال پورې په هماغهٔ کور کې پاتې سوم او بیا مې مکروریانو ته کډه وکړه. زما د پلار نوم غلام قادر مسکین دی. شعري قریحه ئې درلودله او په خپله ئې له کوم استاد پرته عربي هم زده کړې وه. هغه کتاب لوستونکی او په پارسي، پښتو او عربي کې د عالي سواد خاوند وو. د « دفتر طرق» له لارې ئې ددولت مأموریت پېل کړ او د امان الله خان د سلطنت پر مهال د شاهي دارالتحریر له جوړېدلو وروسته په رسمي دندې وګومارل سو. د استقلال د جګړې د کلنو اکثریت شاهي فرامین د هغهٔ په خط او کتابت دي. د سپه سالار شاه محمود خان د حکومت په وروستیو کلونو کې کورناستی یا متقاعد سو. د مور له خوا هم په یوې مذهبي کورنۍ پورې اړه لرم. د هغهٔ وخت لومړني دودیز درسونه لکه «پارهٔ عم»او «خلاصه کیداني» مې له خپل پلاره او قرآن، تفسیر، مُنیه، کنز، قدوري او مستخلص مې د سیمې له ملا امام څخه زده کړي دي.

د استقلال ښوونځی مې تر لسم ټولګي پورې ولوست او له ۱۳۳۸ل تر ۱۳۵۰ل کال پورې مې د قلعهٔ جنګي، قرغې، پکتیا او نهرین په ګارنیزیونونو کې خدمت کړی دی. په ۱۳۴۴کال کې مې حربي پوهنتون پای ته ورساوهٔ. ټولنیز مطالعات مې له اووم ټولګي وروسته د محمد علم ناخدا (وروسته: علم رشنو) په هڅونې پېل کړل. هغهٔ ما او څو تنو نورور ته مواد د مطالعې لپاره په امانت ورکول.

له اووم ټولګي وروسته په ژمي کې د ورځې په اوږدو کې او له ژمي وروسته یوازې ماسپښین مهال به مې د کابل د وړیو د اوبدلو (پشمینه بافي کابل)، د پوستکو او کولمو شرکت (شرکتِ پوست و روده) او مرکزي سیلو په فابریکو کې تر هغو کار کاوهٔ چې ورپسې ئې پوځي ښوونځي ته لاړم. د استقلال په ښوونځي کې مې هم د نېږدو ملګرو یوه کړۍ درلودله. دوی ټول یا د افغانستان د خلق له ډیموکراټیک ګوند او یا د «اردو انقلابي له سازمان» سره یو ځای سول.

د جمهوریت له کودتا وروسته د کورنیو چارو د وزیر فیض محمد د غوښتنې پر بنسټ مې د هغهٔ د تحریراتو د مدیریت دنده ومنله. نوموړی زما له پلوه د «اردو انقلابي سازمان» ته جذب سوی وو. کله چې فیض محمد کودتا ته وبلل سو له ما سره ئې سلا مشوره وکړه. ما نوموړی د ببرک کارمل او میر اکبر د ګډې پرېکړې پر بنسټ په کودتا کې له ګډون څخه منع کړ، سره له دې چې ما ته ئې ډاډ راکړی وو چې کودتا ته به ځي- خو بیا ئې هم په کودتا کې فعاله او بنسټیزه ونډه ولوبوله.

ما په دې مأموریت کې تقریباً یو کال کار وکړ. د ولسمشر له پلوه یو ناځاپي دستور راغی چې ما دې له هغۀ بَست څخه لېرې کړي. ولسمشر فیض محمد ته داسې ویلي ول: « ما ته راپورونه راځي چې اصلي وزیر ذبیح الله زیارمل دی او دا ستا د حیثیت لپاره ښه نۀ ده.»

د ۱۳۵۷ل کال د غوايي د میاشتې له پېښو وروسته د نور احمد نور له پلوه همکارۍ ته وبلل سوم. زما دندې تر هغو دوام وکړ چې نوموړی امریکا ته د سفیر په توګه لاړ. د لنډ مهال لپاره مې د کابل ښاروالۍ د لومړي مرستیال په توګه او د اطلاعاتو او کلتور د وزارت په اداري ریاست کې کار وکړ.

د ۱۳۵۷ل کال د لیندۍ په میاشت کې زندان ته ولوېدم. په عمومي عفوې کې لومړی د خلیل زمر په شان له خوشې کېدلو څخه مستثنی وګرځول سوم، خو وروسته خوشې سوم. تر هغۀ مهاله چې کارمل د واکمنۍ پر ګدۍ ناست وو هېڅ اداري زه ان د اجیر په توګه ونۀ منلم. له ناچارۍ مې د یوۀ ټکسي موټر په اخېستلو سره د کورنۍ مالي چارې پر مخ بیولې. له څو مودې وروسته لومړی مې د «بزګر» او بیا مې د « صلح و سوسیالیزم» په مجلې کې کار وموند. د اتلسم پولینوم په درشل کې د ډاکټر نجیب الله د هیله مندۍ پر بنسټ د اردو د سیاسي چارو په عمومي ریاست کې په کار وګومارل سوم.

سیاسنګ: له میر اکبر خیبر سره ستاسو آشنايي؟
زیارمل: په ۱۳۳۶ ل [۱۹۵۷ز] کال کې د لومړي ځل لپاره د علم ناخدا په کور کې د هغۀ له پلوه له ببرک جان سره آشنا سوم. درې یا څلور میاشتې وروسته د خپل ورور عنایت‌الله رشید په مرستې راته زمینه مساعده سوه چې له میر اکبر خیبر سره پېژندګلوي تر لاسه کړم.

کله چې خیبر له زاندانه آزاد او د ژاندارمه (وروسته د پولیسو اکاډیمی) د ښوونځي له لیلې څخه وروسته د ژاندارم د تکمیلیه کورس تابع سو، د کابل په منډوي کې ئې په یوۀ آپارتمان کې له صدیق سیلاني لوګري او محمدزي خان قلاتي سره ژوند کاوۀ.

زه له عنایت الله رشید سره چې د شرعیاتو په پوهنځي کې د سیلاني هم ټولګیوال او دوست وو د لومړي ځل لپاره د خیبر لیدلو ته ورغلم، هلته له یو بل سره آشنا سوو او له هر لور او ګودر مو له یو بل سره خبرې وکړې. په دغو ورځو کې خیبر د کرايي مستقل کور په لټون کې له کوره وتلی وو. هغۀ نوی د سلیمان لایق له خور سره وادۀ کړی وو او په دې هڅه کې وو چې خپله مېرمن له پلخمري څخه کابل ته راولي. دا باید د ۱۳۳۶ل کال [۱۹۵۷ز] د دوبي وروستۍ شپې ورځې وي.

د هماغې ورځې په سبا ئې بیا له خپل ورور سره لاړم. دا ځل مې خیبر په دوبنیو پوځي جامو کې ولید چې د آپارتمان له پوړیو راکوزېدۀ. په هماغو لومړیو کاتو سره زما په حافظې کې د لوړ شخصیت د خاوند په توګه ثبت سو. د زندان د ربړونو او د سختیو د

ګاللو نښې ئې له ورایه په مخ کې ښکارېدلې: ډنګر اندام او لوی سر ئې له خوارځواکې تنې سره تناسب نهٔ درلود.

رشید ور وپېژندلم. هغهٔ ددې په ترڅ کې چې د کرایي کور د نیولو وعده ئې درلوده وویل: یو ځای به لاړ سو او د لارې په اوږدو کې به خبرې وکړو. هغه راته ډېر صمیمي انسان ښکاره سو. زما په سترګو کې هېڅ داسې انتباه نهٔ راتله چې په هر څه پوه، له زندانه خلاص سوی یو سیاسي شخصیت دې وي.

هغهٔ زما د ټولګي او ښوونځي په هکله پوښتنې وکړې. هغه کلمات چې دهٔ اداء کول په هغو کې هېڅ کومه پېچلې او نامفهومه اصطلاح نهٔ وه. داسې راته ښکارېدل لکه چې له کلونو کلونو مخکې له یو بل سره پېژنو. د پل باغِ عمومي له منډوي څخه تر دِهٔ افغانانو پورې ئې مسلسلاً له ما څخه پوښتنې کولې او زما ځوابونو ته ئې غوږ نیوهٔ.

ما له خپل ورور حیات الله څخه اورېدلي ول چې میر اکبر «نابغه» دی. ددغو خبرو په ترڅ کې ما داسې څه ونهٔ لیدل چې ددغهٔ ساده او صمیمي شخصیت په وجود کې دې د هغهٔ د «نبوغ» څرګندویه وي.

زموږ آشنایي په دوستۍ واوښتله او د خپلوۍ د اړیکې په پار (زما ورور رشید او میر اکبر دواړه باجه ګان ول) زموږ کورنۍ تګ راتګ لا پیاوړی کېدهٔ. په بلې وینا زموږ دوستي له ۱۳۳۷ل را وروسته عملاً پېل او د هغهٔ د تراژیک ترور تر ورځې پورې ئې دوام وکړ؛ سره له دې چې ډېر سبوتاژونه «کارشکنۍ»، ګواښونه او تطمیع ګانې وسوې بیا هم زموږ دوستي هره ورځ ژوره کېدله، تر دې چې دغه اړیکه یوازې د هغهٔ له شهادت سره سمه پرېکړ سو.

سیاسنګ: ولې د خیبر تخلص ئې غوره کړی وو؟

زیارمل: د تخلص د غوره کولو په جزئیاتو ئې نهٔ پوهېږم او نهٔ ما ته داسې څه ول چې پوښتنه ئې وکړم. د تخلص غوره کول د ژورنالیستانو او سیاستوالو تر منځ یو دود وو او میر اکبر د خیبر تخلص غوره کړ. دغه غوراوی د «پرچم» د جریدې له لومړۍ خپرونې سره هممهاله وو چې په ترڅ کې ئې ببرک جان هم د لومړي ځل لپاره په همدې ګڼې کې د کارمل په نوم یاد سو. البته د هغهٔ اصلي نوم ببرک نهٔ وو، د هغهٔ اصلي نوم سلطان حسین وو. ما دا خبره د محمود بریالي له خولې اورېدلې ده چې وئې ویل: زما اصلي نوم هم سلطان محمود دی.

تاسو په ټولو لیکل سویو او د اورېدنګ وړ لاسوندونو کې او د خلق د جریدې په ګڼو کې، په ولسي جرګې کې د ببرک د وکالت په دورې کې، په ولسي جرګې کې د کابل وکیل، د ببرک له نوم سره مخامخ کېږئ. د پرچم په لومړۍ ګڼه کې د ببرک نوم، ببرک کارمل ته وواوښت.

سیاسنگ: خیبر په زندان کې
زیارمل: د ۱۳۳۷ل کال [۱۹۵۸ز] منی یا ددوبي وروستۍ ورځې وې. د جمعې ورځ وه چې خیبر او مېرمن ئې زموږ کور ته راغلل. پلار مې د جمعې د ورځې لمانځهٔ ته تللی وو. خیبر راته وویل: ښه به دا وي چې له کوره دباندې ووځو او وگرځو. په گرځېدو گرځېدو په مسلخ پورې اړوندو کرنیزو ځمکو څخه تېر سوو او د یکه توت د سړک په څنډه کې په یوهٔ ځای کې چې اوس د یوهٔ نري پلهٔ په وسیلې له مکرویانو سره نښتی دی د سیند پرغاړه کښېناستلو. هغهٔ راته وویل: هغه مهال چې د قوای مرکز په استخباراتو کې زنداني او تر تحقیق لاندې وم، محافظ به هر سهار موږ دلته د اوداسهٔ لپاره راوستلو.

د خیبر دې خبرې ماته دا پلمه په لاس راکړه چې زما په ذهن کې محفوظې پوښتنې ورڅخه وکړم: ولې زنداني سواست؟ په کومې نېټې، څومره موده تر تحقیق لاندې وئ؟ څه حکم صادر سو؟ په کوم محبس کې؟ او...

هغهٔ یو شمېر پوښتنو ته په پام ونهٔ کړ او څو نورو ته ئې په دې توگه لنډ ځواب راکړ: د حربي پوهنتون دریم کال وو، د بالاحصار په باغ کې د افسرۍ په جامو کې یوهٔ سیورې ته ناست وم. د «جمع سئ» طُرُم ووهل سو. د تجمع په میدان کې مو په چټکۍ صف جوړ کړ. زموږ د ټولي بولندوی سید عبدالغني نومېدهٔ. ټولگۍ مو بشپړ نهٔ وو چمتو. یو څوک په بیړه راغی، بولندوی ته ئې یو کاغذ په لاس کې ورکړ او یو څه ئې ورته په غوږ کې وویل. غني خان ټولگي ته مخ واړاوهٔ او وئې ویل: د څو تنو کسانو په شهادتنامو کې تېروتنه سوې ده. د هغو کسانو نومونه چې اخلم، له صف څخه دې ووځي او د غنډ بولندوی ته دې ورسي: میر اکبر، محمدزی او عبدالله جان.

په مجردې چې موږ وخوځېدو، سید عبدالغني قوماندہ راکړه: تیار سئ! شی گرځ! استقامت: د قوای مرکز قوماندانۍ! موزون قدم! مارش

عبدالله توقف وکړ او وئې ویل: هغوی معطل نهٔ سول. ما له لاسه ونیو او د خوځېدو په همدې حال کې مې ورته وویل: په شهادتنامو کې غلطي یوه پلمه وه. موږ ئې له ټولگي وایستلو ترڅو کوم غبرگون راونهٔ پارېږي. دا اصلي موضوع نهٔ ده.

کله چې د غنډ قوماندانۍ ته ورسېدم، د غنډ بولندوی ډگرمن رسول جان د خپل کار د میز له شا راووت او د دفتر په منځ کې ودرېد. یو کاغذ ئې په لاس کې وو. په لوړ غږ چې غږ ئې په سختۍ له ستوني راوت دوه درې ځلي "والا حضرت، والاحضرت" وویل او بیا ئې جمله داسې بشپړه کړه: "د والاحضرت په امر تاسو اوس همدلته اوسئ. تر ثاني امر پورې... "

ماښام مهال وو چې مونږ ئې د قوای مرکز قوماندانۍ ته راوستلو او د مرکزي قول اردو د استخباراتو په دفتر کې ئې له مونږ څخه پلټنې پېل کړې. د استخباراتو مدیر ډګروال ظریف خان (د فرید ظریف) پلار وو.

میر اکبر د خپل حبس موده راته څرګنده نهٔ کړه، خو د زندان په هکله ئې وویل: یوه شپه ئې مونږ په یوهٔ سرتړلي موټر کې پرته له دې چې مونږ ته څه ووایي کښېنولو او موټر وخوځېد. د لارې په اوږدو کې ډېرو فکرونو زما ذهن بوخت ساتلی وو. یو ناڅاپه مې یوه غیر عادي روښنايي احساس کړه. ګومان مې کاوهٔ چې د کابل سینما له مخې څخه تېرېږو. له څو دقیقو وروسته موټر په یوهٔ انګړ کې ودرېد. کله چې له موټر څخه راکوز سوو، د امنیې قوماندان، فرقه مشر آصف خان او دوه تنه نور افسران چې ګڼې مونږ ته سترګې پر لاره ول، زما مخې ته ودرېدل. آصف خان مخکې لاړ او وئې ویل: «په ما پسې راځئ...» زمونږ د لارې په اوږدو کې د اوبو یوه کوچنۍ ویالهٔ ښکاره سوه. ما ته ئې همدلته وویل: « اغا صاحب! تاسو مخکې سئ!» ما چې ځان له دسپلینه برخمن یو عسکر ګاڼهٔ ونهٔ غوښتل له یوهٔ فرقه مشر څخه وړاندې ګام واخلم، ومې ویل: «تاسو مخکې لاړ سئ.» هغهٔ وویل: « تاسو زمونږ سیاسي او درونډ زنداني یاست. مهرباني وکړئ تاسو مخ ته سئ.»

په دې پسې ئې مونږ «کوټه قلفۍ» ته بوتلو او هر یو ئې په یوې یوې منفردې کوټې کې واچولو. داسې ښکارېدل چې د زندان ساتونکي ته ئې له مونږ سره د چارچلند د څرنګوالي په هکله مخکې له مخکې اړینې لارښوونې او روزنې ورکړې وې، ځکه مونږ د آصف خان لوړ غږ واورېد چې وئې ویل: «د هغهٔ امر پر بنسټ مې تاسو ته درکړی دی، عمل وکړئ.» هغهٔ نهٔ یوازې زمونږ له راوستلو بلکه له مونږ سره د چلند په هکله له «والاحضرت» څخه دستور اخیستی وو.

دغه لیدنه ما ته له څو اړخونو له خاطراتو ډکه وه، ځکه زه وروسته پوه سوم چې هغهٔ د کورنۍ هېڅ غړي او نورو دوستانو ته په دومره تفصیل دا شرحه نهٔ وه ویلې. له بلې خوا، د هغهٔ د بیان لحن مې پر خپل ځان باندې د اعتماد د نښې په توګه احساس کړ. څرګنده ده چې ما په خپل ذهن کې ډېرې نورې پوښتنې هم درلودلې. غوښتل مې پوه سم چې آیا د تحقیق په لړ کې شکنجه سوی دی، په همدې توګه څو نورې پوښتنې هم وې خو د هغه ستر خصلت په پام کې نیولو سره چې د ژوند تر پایه ورسره پاتې سو، پوهېدم چې له خپل شخصي کړاو او عذاب څخه په هېڅ حالت کې په هېڅ عنوان خولهٔ په شکایت نهٔ خلاصوي.

سیاسنګ: خیبر په کومه ورځ او ولې زنداني سو؟ د آزادېدلو نېټه ئې راته څرګنده ده.
زیارمل: د میر اکبر د زنداني کېدلو نېټه د ۱۳۲۶ل کال [۱۹۷۴ز] د وږي د میاشتې لومړۍ نېټه ده. دا کومه تخمیني نېټه نهٔ بلکه دقیقه نېټه ده. د هغهٔ د خلاصېدلو

ورځ راته نهٔ ده څرګنده. دا چې تاسو ووېل چې تاسو ته څرګنده ده نو مهرباني وکړئ د سند او ثبوت په ښودلو ئې له ما سره شریکه کړئ.

سیاسنګ: تاسو ووېل چې ستاسو یو شمېر پوښتنې ئې له پامه غورځولې.
زیارمل: بې ځوابه پوښتنې په تعذیب او شکنجې پورې اړوندې پوښتنې وې. ښاغلی سیاسنګ! تاسو عالي جناب لیکلي دي چې له زندان څخه د میر اکبر د خلاصېد نېټه درته روښانه ده. زه له تاسو هغه نېټه غواړم چې زه یوازې په تقریب پوهېږم، مهرباني وکړئ نېټه راته راوښیي. خو داسې ښکاري چې تاسو هم دا غوښتنه له پامه غورځوئ؟

سیاسنګ: ډاکټر شرق (د همدغهٔ کتاب په ۲۰۶ پاڼې کې) د یوې مرکې په ترځ کې له زندان څخه د خیبر د خلاصېدلو نېټه د محمد داؤود د صدارت د دورې له پېل څخه شپږ میاشتې وروسته ښيي او وايي: «خیبر ټولټال څه دباندې شپږ کاله محبوس پاتې سو. دا چې شپږ کاله او څو میاشتې پاتې سو زما په یاد نهٔ ده.» په دې محاسبې سره، نوموړی د ۱۹۴۸ز کال په پای یا د ۱۹۴۹ز کال په پېل کې زنداني سوی وو.

زیارمل: د شرق دا خبره نهٔ سي کېدای چې دقیقه نېټه وي. میر اکبر د توقیف په زندان کې په خپله د «ملاقات» قصه ما ته کړې ده. ددې خبرې لړۍ اوږده ده او د میر اکبر په هغې پوښتنې پورې اړه لري چې له عبدالرحمن محمودي څخه ئې کړې ده او هغه هم بستر وو، دا پوښتنه کابل ته د بولګانین او خروشچف د سفر په هکله وه. هغه نېټه اوس زما په یاد نهٔ ده، خو بیاهم نهٔ سي کېدای چې د داؤود د صدارت له پېلېدلو شپږ میاشتې وروسته وي.

سیاسنګ: هغه څهٔ چې په دغهٔ کتاب کې راټولوم پوښتنو ته د ځواب موندلو لپاره مرکې دي. هر څوک د خپلو خبرو د سموالي او ناسموالي مسؤولیت په خپله لري.

زیارمل: تاسو د یوهٔ څارنوال یا پولیس په توګه نهٔ سئ کولای څوک تر «استنطاق» لاندې ونیسئ، خو دا ځواب هسې ببولالې او غیر دقیق دی. هر ګوره، زه د هغهٔ په خبرو باور نهٔ لرم، ځکه د بغداد تړون ته د پاکستان ننوتلو او د امریکایي وسلو لاس ته راوړلو په سیمې کې ځواک – انډول له منځه یووړ، او داؤود له لوېي جرګې او د وسلو د پېرودنګ د مجوز له ترلاسه کولو وروسته، شوروي مشرانو ته، چې اصلاً ئې هند او اندونیزیا ته د سفر پلان درلود، بلنه ورکړه چې مسکو ته د راستنېدلو په لاره کې دې له کابل څخه هم یوه رسمي لیدنه وکړي. دا نهٔ سي کېدای چې د هغهٔ د حکومت پېل وي.

د میر اکبر د اکا زوی، غلام حیدر د یوهٔ لیک په ترځ کې لیکلي چې هغه د ۱۳۳۴ل کال په مني کې له زندانه خلاص سو. سره له دې چې هغهٔ یوازې «مني» لیکلی او میاشت ئې نهٔ ده ویلې، خو د وړي د میاشتې له لومړۍ نېټې وروسته ئې شپږ کاله بشپړ کېږي. ښايي

دغه دقیقه نېټه وي، ځکه هغوی د خپل نیکهٔ د کالهٔ په یوهٔ انګړ کې ژوند کاوهٔ. خیبر ټولټال شپږ کاله او څو میاشتې په زندان کې پاتې سو.

سیاسنګ: تاسو وایاست: "خیبر ټولټال شپږ کاله او څو میاشتې په زندان کې وو" او ډاکټر شرق وایي: "خیبر ټولټال څه دباندې شپږکاله په زندان کې پاتې سوی وو. دا چې شپږ کاله او څو میاشتې وې په یاد مې نهٔ دي." د دغو دواړو جملو تر منځ توپیر څه دی؟ له بل لوري، د پرچم جریدې زندان ته د خیبر تلل ۱۳۲۹ل [۱۹۵۰ز] او خلاصېدل ئې ۱۳۳۴ ل [۱۹۵۵ز] لیکلي دي. د پرچم د [نولسمې ګڼې، ۱۳۴۸ل کال، د زمري شپږمه/ ۱۹۶۶ز د جولای ۲۸ نېټه]] متن د ډاکټر شرق له بیان سره چې د خیبر د ژوند پر مهال او ښایي په خپله د خیبر په مرستې لیکل سوی وو زښت ډېر نېږدې والی لري.

ددې تر څنګ، پر خیبر باندې درې تورونه ډېر اورېدل کېږي: [د ۱۹۵۰ز د مارچ په ۲۱ نېټې] د نو روز د پاځون په توطئې کې ګډون، له محمد علي جناح او نواب زاده لیاقت علي خان سره لیدنه، د صدر اعظم سردار شاه محمود د ترور طرحه. تاسو کوم تور ئې سم ګڼئ؟

زیارمل: یوه ورځ مې خیبر ته وویل: د " قلعهٔ جنګي" د اوومې فرقې د ۷۳ غنډ د دویم کنډک په قوماندانۍ کې د سردار ولي د "ضابطِ امر" په نوم مشهور، شاه محمود وردک د پاکستان له مشرانو سره ستاسو اړیکه یادوي. هغهٔ په خندا کې راته ځواب راکړ: هغهٔ ښایي دا ګنګوسه له نورو خلکو څخه اورېدلې وي. د قوای مرکز د استخباراتو په مدیریت کې د پلټنو پر مهال ئې د همدې موضوع په هکله راڅخه پوښتنې کولې.

په دې هکله ما د هغو افسرانو له خولو دا خبرې هم اورېدلې وې چې هماغه د نوروز د جشن په ورځ ئې د حربي پوهنتون له افسرانو سره یو ځای د علي آباد د غرهٔ په لمنه کې ګډون کړی وو او له نوروز یوه ورځ مخکې او د نو روز د ورځې پېښې ئې لیدلې وې او ټولو ته یو ناڅاپه امر سوی وو چې بېرته دې بالاحصار ته راستانهٔ سي. د پلټنو په ترڅ کې داسې کوم سند تر لاسه نهٔ سو چې د حربي پوهنتون کوم محصل دې په کې ګډون کړی وي. د همدې دلیل پر بنسټ ول چې له هغهٔ وروسته، میر اکبر، محمدزي خان او عبدالله جان ته فرصت ورکړل سو چې خپل د تحصیلاتو وروستی کال دې د شاهي اردو په ډېرې حساسې او مسلکي مؤسسې کې بشپړ کړي، په وروستیو ازموینو کې دې ګډون وکړي، شهادتنامې دې ورته ترتیب او د ارکان حرب د عمومي رئیس او دفاع وزیر دې لاسلیک کړي. دا له عقل او د هغې ورځې له استخباراتي پراتیک او د ۱۳۲۹ل کار د ورې په میاشت کې [۱۹۵۰ز د مارچ ۲۱] د خواجه نعیم او د هغهٔ د همکارانو پر وړاندې ددولت له شدید غبرګون سره همغږي نهٔ لري.

میر اکبر یوه ورځ راته داسې قصه وکړه: کله چې خواجه نعیم ئې د کابل ولایت توقیف ته راووړ، له دې چې د کوټه قلفي کوټې لږ وې نو نور کسان ئې د توقیف عمومې کوټو ته ولېږدول او ځای ئې خواجه نعیم او د هغهٔ یارانو ته تش کړ. هغهٔ زیاته کړه چې خواجه نعیم دې ته لېوال وو چې میر اکبر سره له نېږدې وگوري.

سیاسنگ: خیبر او نور محمد تره کی؟

زیارمل: د میر اکبر او د تره کي د اړیکو د ښهٔ پوهېدلو لپاره به ښه دا وي چې د سیاسي سازمان د جوړولو پلینیزو هڅو ته وروگرځو. د خیبر او ببرک له هڅو وروسته لومړۍ کمیټه جوړه سوه. د سیاست یو شمېر مخکښانو نهٔ سوای کولی په ببرک اعتماد وکړي ځکه چې پلار ئې جنرال وو او په خپله دهٔ هم له مقاماتو سره له نېږدې پالل. سره له دې چې ببرک څو کلونه زندان کې تېر کړي ول خو بیا هم ببرک ئې په دربار پورې تړلی یو عنصر گاڼهٔ.

له ببرک سره د میر اکبر خیبر موجودیت کولی سوای دغه لیدنې کتنې تر یوې کچې آسانه کړي ځکه چې زندان کې د خیبر اوږدې سابقې او د هغهٔ آرام او متواضع کرکتر تر ډېره پر مخاطبانو باندې مثبت اغېز پرېښود، ان پر غلام محمد غبار باندې چې ببرک د هغهٔ د «جمعیت وطن» غړی وو. غبار د «افغانستان در مسیر تأریخ» په کتاب کې په ښرگنده له ببرک څخه لېرې والی غواړي او هغه په دربار پورې د یوهٔ تړلي عنصر په توگه پېژني.

کله چې دغو هڅو او تگ او راتگونو ته د ډاکټر یوسف د حکومت د مهمو غړو او د حساسو مقاماتو پام واوښت، په ځانگړې توگه د هغهٔ کړۍ ته نېږدې کسانو لکه سید قاسم رشتیا، صدیق فرهنگ او یو شمېر نورو کسانو چې په پټه د پښتنو ضد او د نامحدودو گوندونو د جوړېدو د اجازې مخالف ول (هماغسې چې دې خبرې وروسته اساسي قانون ته هم لاره ومونده) ددغو هڅو تخریب ئې پیل کړ.

د یادونې وړ ده چې غبار د – کابل ولایت د ودانۍ په اوږدو کې – د پوهنې د وزارت د اوسنۍ ودانۍ شا ته- د خپلو هټیو د ملکیت په قضیې کې له کلونو را په دیخوا له حکومت سره لاس او گریوان وو. سره له دې چې حکومت له دغو هټیو څخه یا د کوم سند یا د کوم قرارداد پر بنسټ یا هم پرته له هغو د سیمه ییز ډاگ د دفتر په توگه کار اخیست خو غبار هر ځل حکومت ته غوښتن لیک ورکاوهٔ چې عادلانه کرایه دې ورته ورکړل سي. غالباً د افغانستان په حکومتونو کې د هغهٔ دود پر بنسټ چې له پخوا دود وو چا د سیاسي زنداني د مال د تملک حق ته اهمیت نهٔ ورکاوهٔ، له دې کبله د ډاکټر یوسف د حکومت تر وخته پورې دغه هټۍ پرته له دې چې کرایه ئې ورکړل سي او یا هم د ورځې له نرخ څخه وتلې د لږې کرایې په بدل کې د مخابراتو د وزارت په اختیار کې وې.

د ډاکټر یوسف د صدارت پر مهال، بیا هم غبار، چې د غیر شاهي کورنۍ د اداري چاپېریال ئې لیدلی وو حکومت ته مراجعه کړې وه. زه ګومان کوم چې دا د رشتیا کوم نوښت وو، ځکه رشتیا د موضوع له سوابقو څخه خبر وو.

ښايي په نویو جوړو سویو تشکیلاتو کې د سنګین وزنو سیاسي شخصیتونو د ګډون د مخنیوۍ په پار رشتیا له غبار سره د مادي ګټو پر بنسټ کومه معامله کړې وي او د یو ناڅاپي امتیازاتو په ورکولو ئې غباره څپڅپاند «متزلزل» کړي او غبار ته ئې پر هغهٔ پورې د راتاوو ځوانانو په افکارو کې ضربه ورکړې وي. له دې کبله د غبار غوښتنې ته ان د هغهٔ وخت د اداري اصولو برخلاف بې ساری سخاوت وښودل سو: د هټیو کرایه د ډاګ د جوړېدلو له وخته نیولې بیا تر هغو چې د حکومت په اختیار کې راغللې ټوله د ورځې په نرخ او یو ځل محاسبه او ورته ورکړل سوه. احتمالاً له غبار سره خبرې هم سوې دي او یا په لغازو او یا په سپینه ورته ددهٔ د سیاسي سرګرمیو په هکله اندېښنه ښودل سوې ده. ددې سخاوت تر څنګ په سیاسي کړیو کې د همداسې غټې شمېرې د تأدیې په اړوند له مبالغو ډک تبلیغات هم وسول. دغه ګام د افغانستان د خلق ډیموکراټیک ګوند د لومړۍ کنګرې د جوړېدلو له درشل سره هم مهاله اوچت سو.

په دې توګه د غبار صداقت د هغو ځوانو فعالانو تر شک لاندې راغی چې پر دهٔ راټول سوي ول او دا شک په چټکۍ سره ټیټو کړیو ته خپور سو. په پای کې غبار ته تګ راتګ او پوښتنې کول ورڅخه پېل سوې. (قدوس غوربندي او دستګیري پنجشیري په خپلو لیکنو کې دا قضیه تر یوې کچې ښودلې ده.) په پای کې غبار له کمیټې استعفی ورکړه او د پاتې سویو کسانو په منځ کې د نوي رهبر د موندلو لپاره هڅې پېل سوې.

د نورو احتمالي کاندیدانو په هکله خبر نهٔ یم، خو ما له خیبر څخه واورېدل چې دهٔ، ببرک قانع کړی وو چې په دغهٔ پړاو کې دې له داسې هڅو څخه لاس واخلي. د خیبر استدلال داسې وو: په وروسته پاتې هېواد کې چې د ولسي سیاست سابقه نهٔ لري او شاهي استبداد وربانديې واکمن دی، د کارونو په پېل کې ځان د سختې ازموینې مخې ته مهٔ اچوه. دی ځوان دی، او دا مشر توب باید د ولس د فرهنګ پر بنسټ یو «سپین ږیری» پر غاړه واخلي.

په دوی کې یوازې تره کي دغسې شرایطو ته برابر وو. ببرک چې پوه سو د میر اکبر له ملاتړه پرته بل چانس نهٔ لري، له کاندیداتورۍ ئې لاس واخیست او وروسته ئې د خیبر د غوښتنې پر بنسټ د تره کي د مشرتابهٔ په تثبیت کې فعالانه همکاري وکړه. په دې توګه تره کي د میر اکبر په کوښښ رهبرۍ ته ورسېد.

کله چې غبار استعفی ورکړه، مقاماتو د پوهاند علي محمد زهما لېږې کولو ته پاملرنه وکړه. مرموزو لاسونو هم زهما، د شاه لیدنې ته وروست او بیا ئې د لیډرشیپ Leadership په یوې بورسیې ډنمارک ته ولېږهٔ. دا کار د نومورې له یو شمېر طرحو

سره هممهاله وسو او  طرحې ئې د چین کمونیزم ته لېواله طرحې وانګېرل سوې. زهما دلته او هلته، مائویزم ته د ګروهېدلي «معتقد» په توګه یادېدۀ. لنډه دا چې هغه هم اورپا ته په تګ سره له دې لړۍ ووت.

د پاتې غړو په منځ کې د شاه ولي، صالح محمد زیري، اسماعیل دانش او عبدالمحمد درمانګر په څیر ځوان محصلین چې د غبار په شان سیاسي او یا د زهما په څېر علمي شهرت ئې نۀ درلود د مقاماتو له نظره د کنترول وړ ول. تره کی کوم مزاحم عنصر نۀ ګڼل کېدۀ، ځکه په امریکا کې له مطبوعاتي مرکې وروسته –کابل ته په راستنېدو سره . چا ورته سرخوږی جوړ نۀ کړ. یوازینۍ "سزا" چې تره کي ولیدله، له دولتي مأموریت څخه محرومیت وو او د «نور» د «دارالترجمې» په چوکاټ کې ئې د باندنیو شرکتونو له استازو او سفارتونو سره په بشپړې آزادۍ همکاري کوله او دولت ورته څه نۀ ویل؛ له دې کبله تره کی د خپلو دندو په لړ کې له هېڅ ډول محدودیت او ستونزو سره مخامخ نۀ سو. تر دې ځایه د میر اکبر او تره کي اړیکي ښۀ پر مخ تلل. وراڼي هغه مهال پېل سو کله چې د بنسټ ایښودونکي «مؤسسې کنګرې» له جوړېدلو وروسته د ګوندي عملي چارو په لړ کې ددۀ او د ببرک تر منځ سیالۍ ډېره سوه او په ډېر لنډ وخت کې ئې شدت وموند.

سیاسنګ: خیبر او د لړم د دریمې پېښه؟
زیارمل: د لړم د دریمې نېټې پېښې او د ځوانانو لاریونونو دربار د هیله مندیو له هغۀ خوبه راویښ کړ چې انګېرلي ئې ول د "ډیموکراسۍ" په راتګ، په نوي اساسي قانون او د حکومت او سلطنت په جلاتوب سره به ځوانان له شاه او شاهي نظام څخه ملاتړ وکړي، دا د دربار د وېرې لامل سو.

په دغۀ وخت کې چې موږ د حربي پوهنتون د دریم کال محصلین وو ددولت د وارخطایيۍ شاهدان وو. د حربي پوهنتون کمپ او د کـلنیو تطبیقاتو د اور د تمرین پروژه چې د هغه وخت مهمه نظامي پېښه وه قطع سوه او محصلین پرته له دې چې کومه توضیح ورته ورکړل سي له کیړدیو څخه واپستل سول او د پوهنتون ودانۍ ته ولېږدول سول، ان د حربي پوهنتون زغره واله مفرزه چې د تطبیقاتو د رهبرۍ لپاره د قطعاتو د قوماندانۍ لپاره توظیف سوې وه، د ښار پر لور وخوځول سوه.

د هغې ورځې په سبا ئې چې افسران له خپلو کورونو څخه پوهنتون ته راغلل، خبر سوو چې په ښار کې لاریونونه سوي او په لړ کې ئې وسلوالو ځواکونو ډزې کړې دي – طبعاً چې د انساني تلفاتو د شمېر په هکله مبالغات هم وسول. زموږ معلومات وروسته بشپړ سول چې د ستر درستیز او د دفاع او د کورنیو چارو د وزارتونو په مشرتابۀ کې د Panic حالت «وېره / وارخطایي - ژ» رامنځته سوې وه او پولیسو چې د همداسې پېښو پر وړاندې د چلند مسلکي تجربه نۀ درلوده ونۀ سو کولی کوم کار پر مخ یوسي. سردار ولي

چې د قوای مرکز رئیس ارکان وو په همدې وارخطاییې کې د اور امر ورکړی وو. دلته ول چې د شاهانه ډیموکراسۍ اصلي څېره رابربنډه سوه.

نظام د لارې چارې د موندلو په لټه کې سو چې ولې عمومي وضعیت له کنتروله وتلی دی. میر اکبر د "دښمن" په توګه تثبیت سو؛ حکومت او سلطنت په دې توافق وکړ چې پکتیا ته ئې تبعید کړي. میر اکبر ئې د «اشد محرم» یوهٔ سرتېري یا سربسته لیک په وسیلې چې باید شخصاً ئې په خپله د پکتیا والي ته سپارلی وای، تر سختو شرایطو لاندې ونیوهٔ، ان نهٔ ئې کابل ته د راتګ اجازه درلوده او نهٔ ئې په رسمي وظیفې پورې اړوند له غیر نظامیانو سره د آزادې اړیکي امکان درلود. میر اکبر په دومر بېړه وخوځېد چې ان د خوب جامې ئې وانخیستلې ځکه چې په ګردیز کې د هماغهٔ عاجل لیک سپارل او بېرته کابل ته راستنېدل د څو ساعتو کار وو. هلته څرګنده سوه چې مکتوب ئې د ژاندارم او پولیسو د قوماندانۍ د تفتیش له غړیتوب څخه د پکتیا د سرحدي پېژندوالۍ د امر په توګه صادر سوی وو.

تر شدید څار لاندې تنګو شرایطو او له کابل سره د میر اکبر د اړیکو قطع کېدلو دا خبره جوتوله چې د غبار او زهما په ګوښه کېدلو او بیا صدیق روهي ته په بیروت کې د امریکايي بورس په ورکړنګ، یو شمېر کسانو وکولی سول چې نهٔ یوازې کنګره جوړه کړي بلکه لاریونونه هم په لاره واچوي او د خپل ځواک ننداره هم خلکو ته وښيي.

البته، له دې پېښې مخکې د تره کي او کارمل تر منځ اړیکي مُتشنجې سوې وې چې په پایله ئې په ډله ییز تقابل واوښتلې. وضع دې حالت کې وه چې د تره کي د پلویانو او د کارمل د پلویانو ترمنځ صف بندي ګانې مشخصې سوې وې او یو شمېر ابتدايي تبلیغات، پوښتنې او تورونه لګول کېدل چې تره کي د CIA ایجنټ او کارمل درباري سړی او د شاه جاسوس دی.

تر دې ځایه د ګوند د ټوټه ټوټه کېدلو او کړکېچن کېدلو اصلي مانع میر اکبر وو. هغهٔ د مرکزي کمیټې له هرې غونډې مخکې په خپل کور کې هغه ملګري راټولول چې د کارمل تر کړۍ راتاو ول- د آجنډا په هکله به ئې د اصولي خبرو اترو حدود او ثغور و ټاکل او نهٔ ئې پرېښودل چې ګوند د سازماني اصولو له کړۍ دباندې ووځي. په همدې دلیل ده چې تره کي به ویل: "مور د مرکزي کمیټې دوه غونډې لرو، یوه ئې زما په کور کې او بله ئې د میر اکبر په کور کې. پرېکنده غونډه هماغه ده چې د میر اکبر په کور کې جوړېږي."

د لړم د دریمې د پېښې په اړوند د دوه ګوني مشرتابه نښې هم راڅرګندې سوې؛ دا پېښه کارمل د استبداد پر وړاندې د ځوانانو د بریا په نوم یاده کړه خو تره کي د یو شمېر مشکوکو عناصرو د په خپل سري خوځښت په توګه یاد کړ.

هر گوره، پکتیا ته د میر اکبر له تبعید وروسته، د گوند دننه حالت په چټکۍ سره د انشعاب پر لور وخوځېد. هغهٔ عملاً پر دغهٔ وضعیت باندې د اغېز پرېښودلو امکان نهٔ درلود. له نظام څخه د میر اکبر له استعفی او کابل ته په خپل سر راتگ وروسته گوند عملاً منشعب سوی وو.

میر اکبر د وزیر اکبر خان په روغتون کې د ستوني د تانسلونو د عملیات لپاره بستري سو او ددهٔ په وینا، د ببرک پلویان به هره ورځ او کله ناکله به په تکرار، لیدلو ته ئې راتلل او په دې سره ئې تره کي او پلویانو ته به ئې پیام لېږهٔ چې میر اکبر د انشعاب په جناح کې له دوی سره دی او صفوفو ته به ئې پیام استاوهٔ چې د میر اکبر اصلي ځای دلته دی. او د تره کي پروړاندې دې خپل دریغ اعلان کړي.

یوه د جمعې ورځ وه چې میر اکبر زموږ کور ته راغی، یو شمېر نور دوستان هم ول. موږ په خبرو اترو بوخت وو چې زموږ د کور دروازه وټکول سوه. دروازه مې خلاصه کړه، گورم چې عطا محمد شیرزی- مشهور په یاور صاحب- د سپه سالار د یاورانو له منځه یو یاور - راغلی دی. له سلام علیک وروسته ئې وپوښتل چې: میر اکبر دلته دی؟ زه ئې د پوښتنې لپاره «روغتون ته – ژ» ورغلی وم راته ئې وویل چې دلته دی. مثبت ځواب مې ورکړ. وئې ویل: هغهٔ ته ووایاست چې یو ځل دباندې راووځي. لاړم او میر اکبر ته مې دا خبره وکړه. میر اکبر ژر پورته سو، ولاړ او له شیرزي سره په خبرو بوخت سو. ما د هغوی خبرې وانهٔ ورېدلې خو په پای کې ئې راته وویل: مدیر صاحب او نورو دوستانو ته زما له پلوه خدای په اماني ووایاست. د یوهٔ عاجل کار لپاره باید له شیرزي صاحب سره لاړم سم. (زما پلار ئې د "مدیر صاحب" په نوم یاداوهٔ.)

بله اونۍ ئې لیدلو ته ورغلم، له هغهٔ څخه مې پوښتنه وکړه: هغه ورځ مو له شیرزي سره چېرې تشریف یووړ؟ وئې ویل: تره کي، شیرزی رالېږلی وو چې راته ووایي چې زه باید ورسره وگورم. کله چې د تره کي کورته ننوتلم، څرگنده وه چې ما ته سترگې پر لاره دی، له دې کبله ئې مخ عطا محمد خان ته کړ او وئې ویل: شیرزی صاحب! کور مو ودان! کولای سئ لاړ سئ. له شیرزي مې وپوښتل: کوم عاجل کار لرئ؟ وئې ویل: نه نن د جمعې ورځ ده. کوم خاص کار نهٔ لرم. کله چې ما د شیرزي ځواب واورېد او ومې لیدل چې د تره کي هم ورته پام دی، نو ومې ویل: زه وړاندیز کوم چې شیرزی صاحب زموږ دواړو دوست دی ښه به دا وي چې دی دې هم زموږ تر څنگ وي. تره کي مخالفت ونهٔ کړ. کښیناستو او خبرې مو وکړې.

لومړی مې سترگې د کوټې پر دیوال یوهٔ کاغذ باندې ولگېدلې چې څو قطعې عکسونه ئې وروباندې موښلي ول. له تره کي مې پوښتنه وکړه: دوی ستاسو د مرکزي کمیټې غړي دي؟ تره کي تأیید کړه. ما ورته وویل: ددوی اکثریت زه پېژنم خو یو لږ شمېر مخونه مې ونهٔ پېژندل. هغهٔ په خندا راته وویل: تاسو زه خوشې کړم، ماته همدا ملگري پاتې

سول. په خندا مې ورځخه پوښتنه وکړه: ما تاسو خوشې کړئ یا تهٔ وې چې مونږ دې خوشې کړو؟

له مقدمې وروسته، تره کي د دې لیدنې اصلي موضوع مطرح کړه. له تاسو هیله کوم چې له ما سره مرسته وکړئ چې اوسنی وضعیت پای ومومي او ملګري یو ځل بیا سره متحد سي. ما پوښتنه وکړه:تاسو خو متحد واست، سبب څه وو چې دا وضع رامنځته سوه؟ تره کي مستقیم ځواب ورنهٔ کړ، خو د خپلې اندېښنې په ښودلو سره ئې وویل: دا خبره به پرېږدو چې څنګه دغې وضعې ته راورسېدو، اوس زه په خپله په سخت وضعیت کې یم. د تره کي دقیق کلمات دا ول: " زه د سرېښو په ډنډ کې بند پاتې یم. راسره مرسته وکړئ چې له دې ډنډ څخه ووځم." ومې پوښتل چې: له دې ډنډ څخه د راوتلو لپاره، مقابل لوري ته ستا وړاندیز څه دی؟ په ځواب کې ئې راته وویل: ما ته یو ساده اکثریت راکړئ. د مرکزي کمیټې ټول کارونه تاسو ته پرېږدم. تاسو ئې په خپله مخته یوسئ. پوښتنه مې وکړه: اوس چې ستاسو تر منځ متقابل اعتماد له منځه تللی دی، تاسو کوم ضمانت راکولی سئ چې له دې اکثریت څخه دې یو ځل بیا د اقلیت پر وړاندې ناوړه ګټه وانخیستل سي؟ تره کي وویل: پر ما باور ولرئ.

ما ولید چې تره کی سره د حل داسې لاره نهٔ سته چې د ستونزې حل دې ورباندې وکړي. هغه یوازې غواړې د ملګرو په منځ کې زما له درېځ څخه ګټه واخلي او پرته له دې چې مقابل لور ته د منلو وړ کومه ژمنه وکړي غواړي ځان ته یو «اصولي» اکثریت جوړ کړي. نور پوه سوم چې تره کی له دې پورته کومه بله خبره د ویلو لپاره نهٔ لري نو زه هم چوپ پاتې سوم. تره کي زما د قانع کولو لپاره خپله وروستۍ خبره د کوټې چت ته د ګوتې په نیولو وکړه: ددغهٔ څراغ په شان به پرتاسو رڼایي خپروم او تاسو به زما تر رڼا لاندې د ګوند چارې پر مخ وړئ.

ددغو خبرو اترو د پای ته رسولو لپاره مې خپل لاس د علاء الدین سیمې یعنی د شوروي سفارت ته ونیو او پوښتنه مې وکړه: ستا دغه دوستان به له تاسو څخه د اوسنۍ وضعې په هکله خوابدي نهٔ سي؟ تره کي عجیب ځواب راکړ: د هغو په کونه مې داسې میوګې منډلي چې له ما ځان نهٔ سي خلاصولی. کله چې د تره کي له کوره راووتلم، په دې فکر کې سوم چې ښه سو چې یو شاهد زمونږ تر منځ وو، ځکه نهٔ زه او نهٔ تره کی دا مجال لرو چې هغه خبرې تبلیغ کړو چې زمونږ تر منځ وسوې.

د تره کي له کوره له وتلو وروسته شیرزي د لارې په اوږدو کې راته وویل: که ما د تره کي خبرې او وړاندیزونه په خپلو غوږونو نهٔ ول اورېدلي، نو ما به په سختۍ باور کړی وای چې تره کی تر دې حده نامعقول سړی دی.

له میر اکبر څخه مې پوښتنه وکړه: ستاسو په نظر د «سرېښو ډنډ» چېرې دی؟ مطمئناً د شوروي سفارت ښکاري. میر اکبر راته په ځواب کې وویل: سلیم عقل حکم کوي چې

پر کورني فکتور تمرکز وکړو. د میر اکبر له ځوابه زما اخیستنه او جاج دا وو چې پر تره کي باندې فشار باید د دولت د خاصو مقاماتو له پلوه وي.

ما هېڅکله د میر اکبر له خولې نهٔ دي اورېدلي چې تره کي دې د جاسوس، قبیله پال یا د سیاست په مبادیو کې دې د بې سواده په نوم یاد کړی وي. یوازې یو ځل مې د صمد ازهر په حضور کې د میر اکبر له خولې واورېدل چې وئې ویل: تره کي له مارکسیزم څخه یوازې دومره پوهېږي چې وواېي «ټیټه او پورته طبقه» ؛ او د اصولو د بدیهیأتو په مبانیو چې نور کسان هم ورباندې پوهېږي دی له نورو شیانو خبر نهٔ دی. البته چې ببرک او د هغهٔ د کړۍ شاو خوا ته نېږدې کسانو د تره کي پر ضد دغه تورونه ډېر یادول.

میر اکبر مهذبه ژبه درلودله، هغهٔ ان خپلو تر ټولو بدو دښمنانو ته هم ښکنځلې نهٔ کولې. که پر چا ئې نیوکه کوله نو مخامخ ئې په سپینه ورته ویل، له دې کبله تره کي سره له مخامخ خبرو پرته ئې هېڅکله د – ګوندي تشکیلاتو د بیا وحدت د رامنځته کولو – اصلي مفکوره له پامه نهٔ غورځوله. تره کي هم د وخت په تېرېدلو سره درک کړه چې میر اکبر له نورو څخه له هره اړخه توپیر لري.

کارمل د ګوند د بیا وحدت په درشل کې هڅه وکړه چې وحدت رد کړي، خو کله چې مجبور سو او د شورویانو له پلوه ورباندې فشار راغی بیا ئې بل تدبیر پر لاره واچاوهٔ: د خپلو موخو د تر سره کولو لپاره باید میر اکبر له ځان سره همغږی کړي: « وه وروره! فکر وکړه چې بیا تېروتنه ونهٔ کړو. له خلقیانو سره په وحدت کې څه شی نهٔ جوړېږي.» میر اکبر په ځواب کې ورته وویل: زموږ سیاسي او ګوندي ژوند په بیا وحدت کې پای نهٔ مومي، بلکه د ګوند د ټولو غړیو او د یوهٔ هېواد هیلې او د یوهٔ مخکښ ګوند هیلې ترسره کېږي. تهٔ ځوان ئې، کېدای سي تهٔ د احتیاطي رهبر په توګه وساتل سې. خو په دې لاره کې زه له تا سره نهٔ همغږی کېږم.

له دې نهیلۍ وروسته ببرک په دې فکر کې سو چې د راتلونکي متحد ګوند مشرتابهٔ د میر اکبر له شتون څخه پاک کړي، له دې کبله میر اکبر ئې د وحدت په مذاکراتو کې د پرچمیانو له هیأت څخه په بشپړ ډول ګوښه کړ. پلمه دا وه چې تره کی له میر اکبر سره خبرو ته چمتو نهٔ دی. د وخت له مکررو ضیاع کولو وروسته، تره کي، نور احمد نور ته چې په خبرو اترو کې د پرچمیانو د هیأت غړی وو، وویل: زه د «دوستانو» تر فشار لاندې یم، خو کارمل د لیدنو کتنو فواصل ډېروي او دې ته نهٔ دی چمتو چې کار ژر پای ته ورسوي. له دې چې دوستانو د مذاکراتو په محرمیت او چټکتیا ټینګار درلود، نو له دې کبله ئې له نور «احمد نور» څخه د مرستې غوښتنه وکړه.

نور «احمد نور»، کارمل وګواښهٔ، او ورته ئې وویل: که له تره کي سره له تعلل څخه کار واخلې، نو زه د نورو ملګرو په مشوره له تره کي سره مخامخ د وحدت خبرې اترې یوې پایلې ته رسوم. په دې وخت کې ول چې کارمل جدي ناستې پېل کړي خو په راتلونکي

مشرتابهٔ کې ئې خیبر ګوښې کړ. میر اکبر هغو کسانو ته چې دی ئې په راتلونکې مشرتابهٔ کې د غړیتوب مستحق ګاڼهٔ، ویل: زما موخه هېڅکله د کوم دولتي یا ګوندي مقام تر لاسه کول نهٔ وه او نهٔ ده. ما د وحدت د معطل کولو لپاره پلمه مهٔ ګرځوئ. زه د ګوند په ازمایښتي غړیتوب هم قانع کېږم، په دې شرط چې تاسو وحدت رامنځته کړئ.

خیبر په خپلې دې خبرې کې صادق وو، ځکه په دغو میاشتو کې ان د هغهٔ د ترور کېدلو تر وخته پورې ما د هغهٔ له خولې یو ځل کومه ګیله، شکایت یا نارضایتې نهٔ ده اورېدلې. او نهٔ مې د هغهٔ په څېرې او چارچلند کې داسې کوم شی احساس کړل. برعکس، د هغهٔ په وجود کې د راتلونکې لپاره شور او شوق او خوش بیني احساس کېدله.

تره کي د وخت په تېرېدلو سره د خیبر دا دریځ درک کړ او تر دې حده وړاندې لاړ چې تصمیم ئې ونیوهٔ د یوې طرحې په ترڅ کې ئې په سیاسي بیرو کې په دې توګه شامل کړي چې نهٔ خلقي او نهٔ پرچمي کوم اعتراض وکولی سي او په دې توګه مشرتابهٔ به لا نور کارنده او اغېزمن سي، خو وار له واره تېر وو، ډېره ناوخته سوې وه.

سیاسنګ: خیبر او امین؟

زیارمل: میر اکبر د امین په هکله مساعد نظر نهٔ درلود. هېڅکله ئې په امین اعتماد نهٔ کاوهٔ، ځکه چې امین ئې د یوهٔ سیاسي ماجرا پال په توګه ګاڼهٔ. ددې برخې د لا روښانولو لپاره ستاسو پاملرنه هغهٔ لیک ته را اړوم چې سرور یورش ما ته د ۲۰۰۱ز کال د فبرورۍ د میاشتې په شپږمې نېټې له نیویورک څخه رالېږلی دی.

د ۱۹۷۸ز کال د جنورۍ د میاشتې په لومړۍ نېټې د ګوند د بنسټ اېښودلو کلیزه په داسې حال کې جوړه سوه چې واحده مرکزي کمیټه په دوه وو برخو ویشل سوې وه. دوی په دوه وو بېلابېلو ځایونو کې غونډه جوړه کړه. یوه برخه ئې په مکروریانو کې د وکیل په کور کې راټوله سوه. په دې غونډې کې استاد خیبر، وکیل، امین، تهذیب او نورو ګډون کړی وو. له ډوډۍ او څښاک وروسته، سیاسي بحثونه پېل سول. جدي خبرې د استاد خیبر وې چې له څو دقیقو وروسته د خیبر او امین تر منځ په لفظي شخړو واوښتلې.

خیبر د ملي او نړۍ والې اوضاع له لنډې شننې وروسته، پر ګوندي وحدت ټینګار وکړ او له ټولو حاضرینو ئې وغوښتل چې په هره بیعه چې وي تشکیلاتي وحدت دې وساتي. خیبر پرته له دې چې د چا نوم واخلي زیاته کړه: په خواشینۍ چې د مرکزي کمیټې په سطحې کسان هم سته چې له وحدت سره مخالفت ښکاره کوي. په همدې دلیل ده چې لا تر اوسه په یو شمېر برخو کې تشکیلاتي وحدت نهٔ دی بشپړ سوی. (موخه ئې د ګوند نظامي برخه وه) دا خبره د امین په مزاج ښه ونهٔ لګېدله. امین د نورو خبرو په ترڅ کې وویل: ملګرو! دا چې دا وحدت مهم دی یا نهٔ دی، دا بېله خبره ده خو تاسو ته په

ډاډ وایم چې که د ګوند د وحدت  څرنګوالی یوې خوا ته کښېږدو، په نېږدې راتلونکې کې انقلاب له ما څخه وغواړئ. استاد خیبر په غضب او جدیت له امین څخه پوښتنه وکړه! ملګری امین! تاسو څوک یاست چې موږ دې انقلاب له تاسو وغواړو؟ بیا ئې د خپل مخکینې استدلال پر دوام وویل: موږ او تاسو په دې مُعتقد یو چې انقلاب ولسونه او پرګنې ترسره کوي. د یوهٔ مخکښ ګوند په توګه زموږ او ستاسو ونډه به دا وي چې د ولسي انقلاب رهبري وکړو او هغهٔ ته  تګ لوری ورکړو. د ملګري امین خبرې خطرناک بدعت دی او له دغو خبرو څخه د ماجرا غوښتنې بوی راپورته کېږي، ماجرا غوښتنه ډېر خطیر عواقب لري.

استاد خیبر د خپلو خبرو په پای کې امین یو ځل بیا تر شدیدو نیوکو لاندې ونیوهٔ. متقابلاً، امین د خیبر خبرې،  کتابي خبرې وبللې او وئې ویل: که د کتاب په هیلې کښېنو، نو انقلاب به هېڅکله په سترګو ونهٔ وینو. غونډه پای ته ورسېده او د ټولو د خولو خوند ئې بد کړ. تره کي او کارمل او د دواړو جناح ګانو مشرتابهٔ، د امین نظر ومانهٔ. په دې منځ کې میر اکبر یوازې یوه استثناء وه چې د ژوند تر پایه له توقع او ډار پرته د خپلې خبرې مدافع پاتې سو او په دې لاره کې ئې خپل سر له لاسه ورکړ.

که څه هم په خپله میر اکبر ماته دا قصه کړې وه خو ما د هماغې غونډې په هکله په سویس کې له وکیل څخه پوښتنه وکړه. وکیل هم ټولې خبرې یو په یو تأیید کړې او زیاته ئې کړه: غونډه زموږ په کور کې وه. زه د امین څنګ ته ناست وم اوپه پای کې ما په خپلو غوږونو واورېدل چې امین، خیبر ته وویل: " وئې وهم ستاسو په ګوند کې....! "

سیاسنګ: خیبر او د علي احمد خرم مرګ

زیارمل: کله چې پولیسو د قاتل نوم مرجان اعلان کړ، څرګنده سوه چې د ډیموکراټیک ګوند غړی دی او نوم ئې د ګوند د هغو غړو په لیست کې دی چې له وحدت وروسته د امین له لوري ګوند ته جذب سوی وو. د کندز د ولایتي کمیټې د منشي نظام الدین تهذیب له لوري په یوهٔ لیک کې چې له وحدت وروسته مرکز ته راورسېد په څرګنده لیکل سوي ول: یوه اونۍ کېږي چې «د ګوند غړي» ملګري مرجان کابل ته د تګ اجازه اخیستې خو تر اوسه نهٔ دی راغلی.

 میر اکبر راته وویل: امین ناپاکه لمن لري. ډارېږم چې ددغهٔ قتل تور زموږ په ګوند ونهٔ لګېږي. هغهٔ خپله دغه اندېښنه تره کي ته هم افاده کړې وه. تره کي په ځواب کې ورته ویلي ول: خطر اوس زموږ له سره تېر سوی دی او نهٔ سي کېدای چې له دې اړخه دې کوم ګواښ زموږ ګوند ته متوجه سي. ( مرجان پولیسو ته په لومړنیو تحقیقاتو کې ځان « د افغانستان د خلق ډیموکراټیک ګوند » معرفي کړی وو؛ خو د تره کي د خوش بینۍ او د هغهٔ د اطمینان سرچینه راته روښانه نهٔ ده. معلوماتي چینل شورویان ول.)

کله ناکله زما پام دې ټکي ته اوښت چې یو شمېر خلقیان لکه عبدالمحمد درمانګر، پوهاند محمود سوما او نیازمحمد مومند – هماغه چې وروسته ئې له شهنواز تڼي سره پاکستان ته تېښته وکړه – د میر اکبر لیدلو ته راتلل. یو شمېر به ئې په خپله میر اکبر راته ویل.

د خرم ترور یوه ناقصه طرحه سوې پروژه وه چې بالاخره د میر اکبر په ترور ئې رښتیایینه/ تحقق وموندله: زه فکر کوم چې لومړنۍ طرحه داسې وه: داؤود به د افغانستان د خلق ډیموکراټیک ګوند د خرم په ترورولو تورن کړي، او په دې سره به د ګوند د مشرانو او د ګوندي فعالینو د نیولو لړۍ پیل کړي. ګوند به د پلان د طراح یا د طراحانو د پلان پربنسټ غبرګون ښکاره کړي، خو داسې ونۀ سول. داؤود نۀ یوازې دا چې د خرم په جنازې کې ګډون وکړ بلکه ددې پېښې مسؤول ئې باندني ځواکونه او د افغانستان د پرمختګ دښمنان وبلل – نۀ د افغانستان ډیموکراټیک ګوند.

له ما سره بله نښه داده: کله چې د موټر په راډیو کې مې دا خبر واورېد، زما پام دې ټکي ته واوښت چې داؤود د فاتحې اعلان د ځان او د خپلې کورنۍ له پلوه کړی دی. میر اکبر ته ورغلم او دا ټکی مې ورته ووایۀ. هغۀ وپوښتل: مقصد دې څه شی دی؟ و مې ویل: زه وړاندیز کوم چې ګوند دې په دې فاتحې کې په پراخه کچې ګډون وکړي او غمشریکي دې وکړي. وئې پوښتل ولې؟ ما ورته وویل: څرنګه کولای سو دولت او د هېواد وګړو ته ثابته کړو چې دا ترور زموږ کار نۀ دی او د تروریزم په مسئله کې له دولت سره همغږي یو؟ جمله مې تر همدې ځایه رسولې وه چې میر اکبر وپوښتل: موټر دې در سره دی؟ ومې ویل: هو. همدا خبر مې د موټر په راډیو کې واورېد. هغۀ زما د وړاندیز تل درک کړ او تګ ته چمتو سو. وئې ویل: درځه چې ځو. کله چې موټر کې کښېناستو، ما ورځخه پوښتنه وکړه: چېرته ځو؟ هغۀ راته وویل: ګذرګاه ته د نور او بارق کور ته.

هلته له رسېدلو سره سم ئې له ما وغوښتل چې موټر کې پاتې سم. دی په خپله لاړ او د ځان له پلوه ئې نور «احمد نور» ته وړاندیز وړکړ چې په دې فاتحې کې باید ګډون وکړو. نور ژمنه وکړه چې دا خبره به کارمل او تره کي ته ورسوي. د شپې ناوخته وه چې د مرکزي کمیټې غړو ته دنده ورکړل سوه چې په ټاکل سویو پټو حاضر سي او وروسته به دستور ورکړل سي. د میر اکبر په خبره، په سبا ورځ ئې اعلان وسو چې له سلا مشورو وروسته پرېکړه وسوه چې یوازې دې کارمل او تره کي په دې فاتحې کې ګډون وکړي. زه وروسته خبر سوم چې نور خیبر ته ویلي ویل: شوروي دوستانو ورته دغه مشوره ورکړې وه.

د غوايي له پېښو وروسته کله چې د کورنیو چارو وزارت ته لاړم، د مراجعینو د عرایضو د ارزونې په ترڅ کې له یوې مېرمنې سره مخامخ سوم چې کوچنۍ ماشومان ورسره ول. هغې ځان را ته د مرجان د مېرمن په توګه معرفي کړ. ددې په لاس کې په لیکل سوې عریضې کې ددې د خاوند له پلوه داسې لیکل سوي ول: زه چې د افغانستان د خلق

ډیموکراټیک ګوند ویاړلی غړیتوب لرم، څنګه کولی سم ترور ته لاس واچوم؟ له دې کبله پر ما لګېدلی تور غلط دی. زه له زندانه د خلاصېدلو هیله لرم.

سیاسنګ: خیبر او د کودتا فکر
زیارمل: کوم هغه ناروا تورونه چې دلته او هلته پر خیبر لګول کېږي د وکیل هماغه تکراري خبرې دي چې د «از پادشاهي مطلقه...» په کتاب کې راغلي دي؛ لکه د خیبر له لورې کودتا ته د داؤود خان هڅول، چې بشپړ جعل او دروغ خبره ده. دوی څکه دغه تورونه په خیبر لګوي چې د کودتا – محورو- سیاستونو پر ضد د خیبر اصولي دریځ مغشوش ښکاره کړي.

هغه څه چې خیبر ما ته ویلي دي، ددغو خبرو ضد دي؛ ځکه هغهٔ داؤود خان له پوځي اقدام څخه لېرې ساتهٔ او علني سیاسي فعالیت ته ئې هڅاوهٔ. د وکیل په لیکنو کې دا خبره په تفصیل راغلې ده چې څرنګه خپل ځان ئې د داؤود د ساقط کولو نوښتګر معرفي کړی دی، که دې خبرې ته پام وکړو د هغهٔ دا خبره هم د خپلې کورنۍ په چوکاټ کې ده: د وکیل د مور د ترور «خاله» زوی، ګل آقا، د جان آقا په نوم بل څوک له کمریو، کارمل، جنرال محمد حسین او نور....

وکیل د خپلو ناکامو کوښښونو په ترځ کې وايي چې کارمل هڅه وکړه چې د کودتا له فکر څخه ئې منصرف کړي، حال دا چې د دوه په دوه وو خبرو په لړ کې ئې ماته په خپله ویلي چې د پرچم په فرکسیون کې دا زه وم چې کارمل مې دې ته هڅولې او قانع کړی چې د واک د نیولو لپاره دې له نظامیانو څخه کار واخلي.

سیاسنګ: خیبر او محمد داؤود
زیارمل: داؤود د خپلې کودتا د کلیزې پر مهال د دولت د برنامې په لیکلو کې له پرچمیانو څخه مرسته وغوښتله. زه په خپله شاهد یم چې دا برنامه خیبر ولیکله. یوه ورځ مې ورڅخه پوښتنه وکړه: آیا داؤود شخصاً له تاسو څخه وغوښتل چې ددولت برنامه ورته ولیکئ یا له ګوند څخه؟ وئې ویل: مراجعه کارمل ته سوې وه. کارمل له ما وغوښتل چې دغه برنامه ورته ولیکم.

کله چې د "خطاب به مردم" وینا خپره سوه، له خیبر څخه مې پوښتنه وکړه: آیا دا کټ مټ ستاسو لیکنه ده؟ په ځواب کې ئې راته وویل: داؤود په خپل سبک یو شمېر اصطلاحات لکه ان شاء الله، د خدای په توکل او نور ورباندې زیات کړي دي خو اصله برنامه هماغه ده چې ما لیکلې ده او ما دا برنامه کارمل ته وسپارله، کارمل هم زما په حضور کې دا برنامه هغهٔ چاته وسپارله چې دغه پیام ئې راوړی وو.

کله چې د پرچم په مرکزي کمیټې کې بحثونه کېدل چې زموږ ګوند باید د داؤود د دولت ځای ناستی سي، میر اکبر د مشرتابهٔ یوازینی غړی وو چې په اقلیت کې پاتې کېدهٔ. هغهٔ

په مخالفه رأیه ورکوله او دا ډول لېوالتیا ئې د واکمنۍ د نیولو لپاره د خرده بورژوازۍ «ښاري طبقې- ژ» مخکې له وخته لېوالتیا ګڼله. زما قضاوت دا دی چې داؤود په خپل دې ژست سره پرچمیانو ته یوه ظریفه افاده رسولې ده چې زه ستاسو ترتیب سوې برنامه پلې کوم، له دې کبله مزاحمت مهٔ کوئ، خو ګوند په خپلو تصامیمو کې لږه او محدوده آزادي درلودله او دا د شوروي اتحاد په سترو سیاستونو پورې ئې اړه درلوده.

سیاسنګ: آیا هماغومره چې خیبر، داؤود ته لېوالتیا او رغبت درلود، هغهٔ هم همدومره خیبر غوره ګاڼهٔ؟

زیارمل: ښه به دا وي چې دا پوښتنه داسې مطرح سي: هماغومره چې داؤود خیبر ته لېوالتیا درلوده، آیا خیبر هم ورته هومره لېوالتیا درلوده؟ که خیبر داؤو ته لېوالتیا درلوده نو باید کومه مادي یا معنوي انګیزه په منځ کې وای، حال دا چې د خیبر، محمد زي خان او عبدالله جان په هکله د داؤود یوازینۍ مثبت حرکت دا وو چې هغوی ئې له زندانه آزاد کړل او د کورنیو چارو د افسرانو په توګه ئې د ژاندارم او پولیسو په بَست کې وګومارل.

خیبر او حسن شرق دواړه نهٔ یوازې په حربي ښوونځي کې هم- ټولګي ول بلکه د یو بل تر څنګ هم کښېناستل. د خیبر په وینا، په لومړیو کې ئې له حسن شرق سره مرسته کوله چې د کامیابۍ نمرې ترلاسه کړي. کله چې داؤود صدراعظم سو، د هماغې ورځې په سبا ئې وښودله چې د صدراعظم د قلم مخصوص مدیر کېږي چې زموږ د نن ورځې د صدارت د رئیس دفتر په نوم یادېږي. میر اکبر په خپل ټول مسلکي سواد او علمي پوهې سره د قرارګاه د ټولي ضابط سو او له هغهٔ ځایه د پولیسو په اکاډیمۍ کې د خدمات داخله د مضمون او د انګلیسي د ژبې ښوونکی، بیا د تدریسانو د مدیریت مرستیال او د بیا د تدریساتو مدیر، د ژاندارم او پولیسو د ځواک د تفتیش غړی او په پای کې د پکتیا د سرحدي قوا د پېژند آمر کېږي. دا د خیبر ټول رسمي مأموریت دی.

په هغې برلاسۍ او تسلط چې خیبر په انګلیسي ژبې کې درلود کېدای سوای چې د عالي تحصیلاتو لپاره اکاډیمیو ته ولېږل سي خو داسې ونهٔ سول، کېدای سوای د باندنیو چارو په وزارت کې په کار وګومارل سي، خو خیبر ددغو امتیازاتو په هکله فکر هم نهٔ کاوهٔ. سمه خبره خو دا ده چې داؤود خان د یوهٔ متجرب ولسمشر په توګه د میر اکبر په وجود کې یو استثنایي شخصیت لیدلی وو. یوازې همدا خبره بس ده چې خیبر هېڅکله د حسن شرق له لارې له داؤود څخه کومه مطالبه نهٔ ده کړې او دا په خپله د خیبر درناوی لا ډېروي.

دا چې داؤود یوازې له زندان څخه ددوی د آزادېدلو پر مهال خپل حضور ته منلي او خبرې ئې ورسره کړي دي او میر اکبر د خپلو دوستانو په استازیتوب یو څو کلمې خبرې کړې دي – نور ئې له دې مخکې او له دې وروسته – هېڅکله له میر اکبر سره تر هغهٔ مهاله تماس نهٔ دی درلودلی چې له صدارت څخه ئې استفعی وکړه. داؤود د حسن شرق

له لارې، خیبر ته، د یوې جمعې په ورځې، د پغمان په باغ کې د غرمې د ډوډۍ بلنه ورکړې وه.

د داؤود د بیکارۍ پر مهال د داؤود تماسونه په خپله د داؤود په غوښتنې تر سره کېدل. د همدغو لیدنو کتنو په ترځ کې ول چې داؤود ورځ تر بلې د نورو سیاستوالو په پرتلې د خیبر د شخصیت ژوروالي، شنې او قضاوت ته معتقد سو او په غیاب کې به ئې د هغهٔ توصیف کاوهٔ.

ډاکټر رحیم شیرزي په کابل کې راته قصه وکړه چې داؤود خان ورته ویلي ول: " آغا صاحب له خپله وخته دوه پېړۍ مخکې زېږېدلی دی." ( داؤود خان، خیبر د آغا صاحب په نوم یاداوهٔ. ښایي په دې فکر چې "میر" د هغهٔ پر "سید والي" دلالت کاوهٔ، حال دا چې داسې نهٔ ول.) داؤود ډېریو نورو کسانو ته هم خپل د ستاینې وړ نظر ویلی وو او ان پښېماني ئې ښودلې وه چې ما ددغهٔ سړي په زنداني کولو سره د هغهٔ ژوند برباد کړ.

سیاسنگ: محمد داؤود د افغانستان د خلق ډیموکراټیک گوند ته په کومه سترگه کتل؟

زیارمل: ددې گوند په هکله داؤود خان ان د خپلې کورناستۍ پر مهال مثبت نظر درلود. هغه ئې کوله چې له ببلابېلو لارو لکه اکرم عثمان او عارف سروري، گوند په ځانگړې توگه د پرچم جریده له هغو خپرونو منع څخه کړې چې د ولس د دودونو او معتقداتو مخالف وي. هغهٔ یو ځل د پرچم د جناح مشرتابهٔ ته په نغوتې، اکرم عثمان او عارف سروري ته ویلي ول: نهٔ پوهېږم چې څرنگه دغو خلکو خپل " یو.... او بل..." د خپل اخبار پر مخ پریښودي او هرڅه ئې چې زړهٔ وغواړي لیکي ئې. (موخه دلته ببرک او اناهیتا وه). عارف د هماغې قصې دوام په دې ډول بشپړ کړ: ببرک او میر اکبر د نوي ښار په یوې کبابۍ کې موږ ته سترگې پر لاره ول. کله چې د سردار خبره مې ټکي په ټکي ورورسوله، د کباب سیخ د کارمل له لاسه ولوېد.

داؤود خان د رزاق ضایي له لارې چې وروستنی مأموریت ئې په چکوسلواکیا کې سفارت کبرا وو، اکرم اوعارف ته ډېرې مشورې ورکولې چې د خلکو دودونو ته درناوی ولرئ او د هغو رعایت وکړئ او په څرگنده ئې ورته ویل:تاسو د راتلونکي لپاره د خلکو هیلې یاستئ.

کارمل غوښتل ځان د شورویانو په سترگو کې د مسکو خط ته د یوهٔ وفاداره کمونیست په توگه څرگند کړي. کارمل به د گوند نشراتي هیأت ته د شورویانو له نامهٔ څخه غلطې لارښوونې ورکولې. په همدې دلیل ول چې له دې وروسته په گوند کې د کارمل خبرې په شک او تردید منل کېدلې.

سیاسنګ: خیبر د ۱۹۷۲ز کال د فبرورۍ یا مارچ په میاشت کې د پاکستان پېښور او سوات ته تللی وو.

زیارمل: پېښور ته د استاد سفر سوی دی او زه ددې سفر له پېله تر پایه په جریان کې یم، ځکه چې استاد زه د کارمل په موافقت خپل هم- سفر غوره کړی وم. ما ته ئې خبر راکړ چې تیاری ولرم او جامې او نورې تیارۍ برابرې کړم. په همدې ترڅ کې د ډاکټر نجیب د ورور مېرمن د کوم دلیل له مخې لومړی د اناهیتا راتب زاد او بیا د ببرک کارمل تر شک لاندې راغلې وه. هغې د غوړه مالۍ او د خپلې اړیکې د ترمیم لپاره اناهیتا، ورپسې دواړو او بیا خیبر ته، یو خیالي داستان جوړ کړ چې " زیارمل د اناهیتا ضد او د کارمل ضد" دی او د هغوی اذهان ئې زما په هکله په شدت مشکوک کړل.  په دې توګه پېښور ته زما د سفر په هکله د کارمل موافقه ماته سوه.

بلنه کارمل ته ورکړل سوې وه او که هغهٔ نهٔ سوای کولای نو د علی البدل په توګه غوره دا وه چې دا سفر دې خیبر تر سره کړي چې په دې سره څو مسئلې هم مهاله حل کېدلې. ببرک نهٔ سوای کولی چې په پښتو خبرې وکړي او په انګلیسي ئې چندان تسلط نهٔ درلود. د پاکستان د کمونیست ګوند مشر په انګلیسي خبرې نهٔ سوای کولی. نوموړي دیني تعلیمات درلودل او په همدې دلیل په مولانا مشهور وو. کېدای سوای اجمل یا بل چا د ژباړې چارې پرمخ بیولې وای خو د غلط پوهاوي خطر بیا هم پاتې کېدهٔ، ځکه له یوهٔ لوري د کارمل پښتو ویل محدود ول او له بل لوري د اجمل پاړسي ویل – سره له دې چې اجمل د پاړسي په ادبیاتو کې ماستري درلودله – خو په محاوره کې ضعیف وو. حال دا چې میر اکبر سربېره په پښتو د اردو او انګلیسي په ژبو کې ئې تسلط درلود او د دیورند د کرښې دېخوا او هاخوا د تګ راتګ پرمهال ئې د چا د پاملرنې خطر نهٔ رامنځته کاوهٔ.

خو د شهرت غوښتنې له هغهٔ هوس سره سره چې کارمل درلود، ولې دغه امتیاز ئې خیبر ته ورکړ؟ علت ئې دا وو چې کارمل پر ځان خطر نهٔ مانهٔ او له بل لوري له هوسا ژوند سره ئې عادت کړی وو. په مجردې چې صوفي بلنه راورسوله او له دفتر څخه ووت، کارمل د نهٔ تللو لپاره د پلمو په لټه کې سو، لومړی ئې وویل: لومړی باید له اجمل څخه پوښتنه وکړو چې آیا دا پیام په رښتیا د هغهٔ له پلوه د پاکستان د کمونیست ګوند په استازیتوب دی؟ آیا دغه جمعه خان صوفي په رښتیا سره ستاسو د اعتماد وړ سړی دی؟ او نور...

میر اکبر په خپل سیاسي ادراک سره دا سفر جدي وګاڼهٔ او د کارمل د له شکه ډکو پلټنو مانع سو. هغهٔ کارمل ته وویل: دا بلنه د مولانا یا د اجمل په نوښت نهٔ ده. باید شوروي او د نړۍ د غورځنګ ټوله تولګه ئې شا ته وي، ځکه چې پخوا هم دغسې تشبثات د هند او د عراق د کمونیستو ګوندونو له پلوه ترسره سوي دي.

میر اکبر فکر کاوهٔ چې دا بلنه باید د خلق او د پرچم د وحدت پر محوریت متمرکزه وي او د آزموینې په بڼه کې دې د پرچم کیڼ والی تثبیت او تصدیق کړي. د خلقیانو په هکله هم مخکې د افضل بنګښ له پلوه – مخکې له دې له چین سره یو ځای سره – دغه ډول اقدامات سوي ول. له دې کبله میر اکبر دغه بلنه جدي وګڼله او کارمل ته ئې ویلي ول: تهٔ بلل سوی ئې. د صوفي یا د اصل بلونکي په هکله د شک رامنځته کول موږ بې اعتباره کوي چې آیا موږ انقلابي یو که آماتور؟ له همدې کبله ده چې تاسو باید ددغسې خطر منلو ته غاړه کښېږدئ. که غاړه نهٔ ږدې نو زه داوطلب یم چې دغه خطر ومنم او خپل سیاسي سازمان ورونو ګوندونو ته ورپېژنم. کارمل د همداسې یوهٔ دریځ پر وړاندې بله چاره ونهٔ لیدله مګر دا چې د خیبر له سفر سره موافقه وکړي او له ډېرو پوښتنو ګروېږنو لاس پر سر سي.

په حقیقت کې خیبر د کارمل په موافقې د پرچمیانو په استازیتوب تللی وو، د ګوند مشرتابهٔ ورڅخه خبر وو، خو تر ټولو لومړی دا سفر باید د خپل مخفي ماهیت او د خطرناکو سیاسي عواقبو له کبله مخفي ساتل سوی وای. دوهم دا چې دا سفر کارمل نهٔ بلکه خیبر تر سره کړی او د خپل سیاسي او شخصي ژوند خطر ئې پر غاړه اخیستی وو او معنوي امتیاز باید دهٔ ته ورکړل سوی وای خو هغه له پامه وغورځېد او د سلطان علي کشتمند او نورو په لیکنو کې له قلمه ورغورځول سو.

سیاسنګ: خیبر چې د محمد داؤود د پښتونستان غوښتنې له آرمانونو سره نېږدې، یوه فکري جبهه درلودله ولې د « افغان ملت" له تشکیلاتو سره یو ځای نهٔ سو؟

زیارمل: «افغان ملت» او خیبر سره تعلق ورکول پوهلنډي / ساده لوحي او له بحث وتلې خبره ده. ولې داسې نهٔ ویل کېږي: له دې چې خیبر د قرآن حافظ وو او رسمي ښوونځي ته له تللو مخکې په مدرسو او جوماتونو کې ئې دیني تعلیمات درلودل نو ولې له اسلامي ګوندونو سره یو ځای نهٔ سو؟ خیبر د خپلو سیاسي مطالعاتو په لړلو سره د کابل د توقیف په عمومي زندان کې د هند له آزادي غوښتونکو سره چې لوړ تحصیلات ئې درلودل او ان یو شمېر ئې د آکسفورډ او د کمبریج په پوهنتونونو کې زده کړې کړې وې او له آمو څخه تر برتانوي هند پورې د تګ راتګ پر مهال نیول سوي ول او یا د برتانوي هند د جاسوسۍ د سازمانونو له پلوه افغانستان ته معرفي او زنداني سوي ول، محشور سوی وو. له دې چې دغو زندانیانو ته کتابونه رسېدل، بر سیره پر دې چې له هغوی سره ئې له مخامخ خبرو څخه ګټه اخیسته د هغوی له کتابونو څخه ئې هم ګټه پورته کوله. البته، له کوټه - قلفۍ څخه له خلاصون وروسته قرآن ئې هم حفظ کړی وو.

زه د ژوند په اوږدو کې دې ټکي ته متوجه سوی وم چې میر اکبر هېڅکله په پښتو یا پاړسي مطالعه نهٔ کوله. که مجلات ول که اخبار، که د مارکسیزم تیوریک یا تأریخي

کتابونه ول تل به ئې له انګلیسي سرچینو څخه ګټه اخېستله. خیبر یو سیاسي متفکر وو، له کارمله تر داؤود خان پورې د هغهٔ شننو، فکر او اندود ته درناوی درلود. یو ځل کارمل، د نظامي سازمان په مسئلې کې له خیبر سره د اختلافاتو په اوج کې - پر یوې مسئلې باندې د ډېرو سخیفو او پوچو تورونو په ترڅ کې – د صمد ازهر په شتون کې – اعتراف وکړ: هر هغه څوک که په افغانستان کې سیاست کوي له هرې پرېکړې مخکې دې یو ځل د میر اکبر تندي ته وګوري. که هغهٔ تأیید کړه نو په ډاډ سره دې خپله پرېکړه پلې کړې او که د میر اکبر په تندي کې ګونجې ولیدل سوې نو پوه سئ چې تصمیم سم تصمیم نهٔ دی.

سیاسنګ: د افغانستان د خلق په ډیموکراټیک ګوند پورې د اړوندو سایټونو په منځ کې په یوهٔ سایت کې داسې لولو: " خیبر ظاهراً لوګری ښکاري، خو اصالتاً پښتونستانی دی او نیکونو ته ئې د جعلي تذکرې پر بنسټ، افغان هویت ورکړل سوی وو."

زیارمل: خیبر ته د افغانستان له جغرافیې دباندې تعلق ورکول او دې خبرې ته شهرت ورکول د هغو کسانو کار دی چې له خپله ځانه دوه پښته پورته بل څوک نهٔ ویني؛ دا هغوی دي چې په دې هېواد کې ریښه نهٔ لري؛ لکه د کارمل کورنۍ چې کله ځان د پنجشیر بولي او کله هم پښتون ملاخیل. (ما په خپله د کارمل له خولې اورېدلي دي چې پښتون او ملا خیل دی.)

د خیبر په هکله په لوی لاس جوړ سوی مخدوش روایت د هغهٔ د مخالفینو منفي تکتیک دی او عمدتاً د کارمل په کورنۍ او کله نا کله د «کاراته بازانو په قول» په «تور کمربند والو» کارملیانو پورې محدودېږي. له تره کي او خلقیانو څخه د کارمل له انشعاب وروسته، کارمل یو شمېر پاتې غړي لومړی د میر اکبر له سیاسي حسن شهرت څخه په ګټه اخیستنې پر خپل ځان راټول وساتل. ورپسې ئې د پرچم په جناح کې یوازینی څوک چې خپل باالقوه سیال ګاڼه خیبر وو، له دې کبله ئې د خیبر د څېرې د مغشوشولو لپاره له هېڅ فرصت څخه سپما نهٔ کوله.

(د خیبر خور ییی) غلام حضرت د میر اکبر د اکا میر حیدر له خولې ویل چې ددوی د کورنۍ اسلاف د لوګر له موسهي څخه ول. د میر اصغر په نوم د خیبر نیکهٔ د لوګر د حصارک په مربوطاتو کې مېشت سو. هغهٔ د «جویک» په کلي کې چې د «غونډیو د کلي» په نوم هم شهرت لري یو ټوټه ځمکه وپېروډله او هماغلته ئې ځانته یوه سرپناه جوړه کړله.

د میر اکبر کورنۍ د غلجیو احمدزیو د حسین خیلو په څانګې پورې اړه لري. ما یو ځل د میر اکبر د نوم مخې ته د «میر» د کلمې په هکله پوښتنه وکړه. په ځواب کې ئې راته وویل چې: دا ردیف له پلار او نیکهٔ څخه مراعات کېدهٔ او زما نوم ئې چې لومړی زوی وم، زما

د یوۀ نیکۀ له نوم څخه په تفاول چې د انګلیسانو ضد یو جګړې کې شهید سوی وو، " میر اکبر" کښېښود او دا ددې نښه نۀ ده چې ګڼې موږ سادات یو.

سیاسنګ: د عبدالحق مجددي او فضل الله مجددي د کتاب «حقیقت التواریخ» په ۵۳۲ او ۵۳۳ پاڼو کې (میوند خپرندویه ټولنه، پېښور/ دریم چاپ، ۲۰۰۴) داسې راغلي دي: « د داؤود خان د صدارت د دوران په مهمو پېښو کې یوه ئې د حضرت صبغت الله مجددي مظاهره ده. د مظاهرې راپور د ضبط احوالاتو دفتر ته ورسېد او حضرت صاحب څه دباندې څلورنیم کاله په زندان کې تېر کړل. په ۱۳۳۸ل [۱۹۵۹ز] کې په پام کې ول چې خروشچیف افغانستان ته سفر وکړي. حکومت په امنیتي او تشریفاتي تدابیرو بوخت وو. پرچمي میر اکبر خیبر چې د داؤود د ضبط احوالاتو د ادارې غړیتوب ئې درلود، واکمنۍ ته خبر ورکړ چې صبغت الله مجددي تکل لري چې د میر بچه کوټ او قره باغ د سیمو تر منځ د خپلو مریدانو او پلویانو په وسیلې په خروشچیف برید وکړي او یا ئې ووژني او یا ئې د کاڼو او ډبرو تر باران لاندې ونیسي. له دې چې هغه وخت د کابل هوایي ډګر تر ترمیم لاندې وو، پرېکړه وسوه هغه الوتکه چې خروشچیف په کې راځي باید د بګرام په هوایي ډګر کې کښېني. ددې خبر په اورېدلو سره د داؤود خان حکومت صبغت الله مجددي زندان ته وغورځاوۀ او د دهمزنګ په محبس کې ئې کوټه قلفي کړ. خروشچیف له کابله روغ رمټ ووت خو حضرت مجددي د داؤود د صدارت تر پایه پورې په زندان کې پاتې سو.»

د همدې کتاب په ۵۸۴ پاڼه کې یو ځل بیا لیکل سوي دي: «وروسته له دې چې میر اکبر خیبر څو کاله په زندان کې تېر کړل، د عسکري له مسلک څخه طرد سو او د پولیسو په اکاډیمۍ کې د استاد په توګه مقرر سو. هغۀ د ښوونکي له سپېڅلي دندې څخه په ګټه اخیستنې یو شمېر زده کوونکي خپل همفکران وګرځول او همدارنګه د خپل مرام د پر مخ بیولو لپاره ئې د – داؤود خان د صدارت پرمهال- د ضبط احوالاتو غړیتوب هم تر لاسه کړ. خیبر د خپلې جاسوسۍ پر مهال وکولای سول حضرت صبغت الله مجددي په دې تورن کړي چې غوښتل ئې پر خروشچیف برید وکړي. د خیبر د راپور پر بنسټ ول چې حضرت صاحب تقریباً پینځۀ کاله په زندان کې تېر کړل. خیبر څو ځله هڅه وکړه چې د پولیسو له اکاډیمۍ څخه استعفی وکړي او وکولی سي په آزاده لاس خپل جلب و جذب ته دوام ورکړي؛ خو د کورنیو چارو وزیر سید عبدالله د هغۀ استعفی ونۀ منله. دې خبرې تر هغو دوام وکړ چې له نوي اساسي قانون څخه په ګټه اخیستنې ئې وکولی سول په ملي شورا «ولسي جرګې کې» د لوګر د ولایت د پلم علم له کړۍ څخه د کاندید کېدلو لپاره د پولیسو له اکاډیمۍ څخه استعفی وکړي. څرګنده ده چې په ټاکنو کې له بشپړې ناکامۍ سره مخامخ سو؛ ورپسې ئې د پرچم د جریدې د مسؤول په توګه خپرندویو فعالیتونو ته لاس واچاوۀ.»

زیارمل: صبغت الله مجددي دوه نور ورونه د عزت الله او رحمت الله په نومونو درلودل. عزت الله د سلیمان لایق باجه وو او په خپله صبغت الله د لایق د خور مېړهٔ «اوښی» وو. ددغو دواړو کورنیو تر منځ د مذهبي ارادت پر رشتې برسیره، د خپلوۍ رشته هم موجوده وه. صبغت الله مجددي په «جامعة الازهر مصر» کې او امریکا کې له زده کړو وروسته هېواد ته راستون سو او د حبیبې په لیسې کې ئې د دینیاتو او عقایدو د مضمون د ښوونکي په توګه کار پیل کړ. د « رشنو» په خبره ګڼې دې ته ژمن سوی وو چې د هېواد په معارف کې د « دهریت جرړه» وچه کړي، له دې کبله د پلازمېنې په ټولو لیسو لکه حبیبې، استقلال او نجات لیسو کې ئې د عقایدو د مضمون استادي پر غاړه واخېستله.

کابل ته د خروشچیف د دوهم سفر په درشل کې – د لومړي سفر په ترڅ کې د شوروي اتحاد د کمونیست ګوند د لومړي منشي په توګه له صدراعظم بولګانین سره راغلی وو – په کابل کې د صبغت الله مجددي د زنداني کېدلو ګنګوسې خپرې سوې خو د هغهٔ د نیول کېدلو خبر او د نیول کېدلو علت ئې رسماً اعلان نهٔ سو.

یوه ورځ د میر اکبر لیدلو ته ورغلم او په دې هکله مې ورڅخه پوښتنه وکړه. هغهٔ تأیید کړه چې مجددي زنداني سوی دی او ښايي حکومت مؤثق اسناد په لاس کې لرلي وي چې نوموړی د شوروي د عالیرتبه هیأت د سفر په هکله په کومې توطئې کې بوخت وو. هغهٔ زیاته کړه: د امریکا د سفارت یو کارمند د مجددي ملاقات ته راغلی وو چې دا خبره بیا هم تکرار سوه. دې خبرې د صبغت الله مجددي د ځوان ورور رحمت الله مجددي پاملرنه ځانته واړوله. رحمت الله هم دا قضیه اکرم عثمان ته یاده کړه.

له مصر څخه د صبغت الله د راستنېدلو په لومړیو کلونو کې، اکرم عثمان د صبغت الله مجذوب سوی وو. او ګڼې د همدې ګډ ارادت پر بنسټ له لایق سره یو ځای صبغت الله ته نېږدې سوی وو. لایق له هغهٔ سیاسي او عقیدتي اختلاف څخه په صرف نظر چې وروسته ئې له مجددي سره وموند، د صبغت الله په اخلاقي پاکۍ باور درلود او هغهٔ به دا خبره تل د کارمل له عاداتو سره د پرتلې پر مهال یادوله.

له خیبر سره د آشنایۍ په لومړیو کې چې عثمان او لایق د یوهٔ استثنايي شخص په توګه نوی موندلی وو دوی دواړه یوه ورځ د خیبر لیدلو ته ورغلي ول، هغوی خیبر ته ویلي ول چې: پلانکي سړي (خیبر د هغهٔ نوم ئې راته یاد نهٔ کړ) له اسلام څخه مخه اړولې ده او د مجددي صاحب پر ضد توطئه جوړوي او ورسره حسادت کوي. غواړو چې دغه سړی ووژنو.

میر اکبر راته وویل: یوه سوم چې دوی دواړه د صبغت الله تر اغېز لاندې راغلي دي او شوني ده چې دواړه به د اخلاصمندۍ پر بنسټ قتل وکړي. زه په دې خبرې د اسلام په دین باندې د دوی د ټینګې عقیدې له مخې پوه سوم؛ له همدې کبله ول چې ما له دوی سره خبرې وکړې. لومړی مې د قرآن هغه آیت ورته ولوست چې په حجة الوداع

کې نازول سوی وو او استدلال مې وکړ چې د اسلام دین نۀ د چا د پټکي په ول باندې ډېره لګوي او نۀ د اسلامي هېوادونو  د شاهانو په تاج او تخت باندې او نۀ پر مشایخو او ددین پر علماوو باندې. الله ج په خپله ژمنه کړې چې دا دین به په خپله ساتي. نو دوی دواړه له خپل قصد څخه منصرف سول. ﴿باور دا دی چې له همدغو خبرو وروسته عثمان او لایق دواړه د خیبر عقیدمندان سول او نۀ یوازې دا چې له صبغت الله څخه ئې ځان لېرې وساتۀ بلکه له هغۀ سره ئې دښمنۍ ته هم ملا وتړله.﴾

په دې توګه، اکرم عثمان د رحمت الله مجددي خاصه اطلاع ډېره مهمه ګڼي او دا خبره داؤود خان ته رسوي. داؤود خان هم دا قضیه جدي نیسي. له امریکایي مېلمه سره د مجددي د خبرو غړ- د رحمت الله په همکارۍ- ضبط کېږي او داؤود ته سپارل کېږي. په پای کې دولت مستنده اطلاع تر لاسه کوي چې د کوربه او د مېلمه تر منځ د محرم مجلس په لړ کې د خروشچیف د تروړولو نقشه کابل ته د هغۀ د راتګ په درشل کې طرح سوې ده.

صبغت الله خپل د خوب خوبي ته د امریکایي ډیپلومات د وړلو علت په دې توګه توجیه کوي: مېلمه غوښتل چې د اسلام په دین مشرف سي، له دې کبله دا خبره باید د نورو له شور ماشور پرته تر سره سي او موږ باید په خلوت کې اوسو چې هغۀ ته د اسلام ددین لارښوونه وکړم.

د صبغت الله مجددي پلار میاګل جان مجددي د خپل زوی د خلاصون لپاره له ناکامو کوښښونو وروسته له هېڅ اغېزمن مقام څخه داسې ځواب نۀ اوري چې ددۀ زړۀ دې ورباندې خوښ سي، بلکه خبرېږي چې دولت داسې اسناد په لاس کې لري چې انکار ورڅخه کېدای نۀ سي او که دا اسناد علني سي نو د مجددیانو د سپکاوي او شرم لامل به سي. په دې توګه، میاګل جان مجددي پوهېږي چې ستونزه ورته له کوره دننه جوړه سوې ده، ځکه چې د غوټې د سر د موندلو لپاره ټول دلایل د تور یا د اتهام په لا پیاوړي کولو اوړي. له دې کبله ده چې دوی رحمت الله مجددي له ډېرو وهلو او ټکولو وروسته له کوره دباندې باسي.

رحمت الله نۀ سوای کولی چې اکرم عثمان ته ورسي، ځکه لومړی دا چې دی په خپله د کورنۍ تر مادي ملاتړ لاندې وو او دوهم دا چې د خپلوۍ د دلیل په خاطر ئې هم نۀ سوای منلای؛ له دې کبله ده چې لایق ته پناه وړي. وروسته له هغې چې میر اکبر په سرای غزني کې له لایق او غوربندي سره په یوۀ ګډ کور کې ژوند کوي، دی تر خپل ملاتړ لاندې نیسي. په دې لړ کې میر اکبر خپل کشر ورور – بسم الله – له لوګر څخه کابل ته راغواړي. له دې چې رحمت الله له ډېرې مودې راهیسې له خیبر سره پاتې سوی وو، او له ما، زما له ورور ثناء الله، احمدشاه بهمنش ګردیزي، عارف سروري، حکیم سروري او واحد سروري سره ئې تګ راتګ درلود، په دې توګه رحمت الله

مجددي د ملګرتوب د یوۀ تود مرکز څښتن سو چې د کورنۍ ځای ئې ورته ډکاوۀ. رحمت الله به له خیبر سره په ګډ ژوند او له دوستانو سره د خیبر په مجلسونو او خبرو کې فعاله ونډه اخیستله ان دا چې د کورني دود پر بنسټ به ئې له ډوډۍ مخکې او له ډوډۍ وروسته د میلمنو د لاس پرېوللو لپاره د چلمچي او کوزې یا د لاس مینځلو د لوښو د راوړلو دنده دۀ پرغاړه اخیستله او له ملګرو سره به میلو ته هم روان وو. لنډه دا چې له نوي وضعیت سره ئې تطابق وموند او پر چل او دوکو ولاړو د مشایخو له تفکراتو او د مجددي له کورنۍ څخه ئې واټن ونیوۀ. په دې لړ کې د مجددي د کورنۍ پام دې ټکي ته واوښت چې یو ورور ئې بندي دی او بل ورور ئې په لوی لاس خپلو عشیروي دښمنانو ته "ډالۍ" ورکړی دی؛ نو ښایي له دې کار پښېمانه سوي وي او یا ښایي مور ئې د زوی د لېري والي تاب نور نۀ وي راوړی نو د کورنۍ پر نارینه وو فشار راوړی وو چې هغه "وبخښي" ترڅو بېرته کور ته راستون سي.

کله چې میر اکبر د پولیسو د اکاډیمۍ له لوري د نویو زده کوونکو د منلو لپاره د یوۀ هیأت په ترڅ کې د هېواد ولایاتو ته په سفر بوخت وو، رحمت الله بېرته خپل پلرني کور ته ستون سو. څو کاله وروسته د تحصیل لپاره شوروي اتحاد ته ولاړ. په ۱۳۴۴ل کال کې کابل ته د هغۀ د مرګ خبر راورسېد چې د ولګا په سیند کې د لامبو وهلو له کبله مړ سوی دی.

له مجددیانو څخه نۀ باید دا هیله ولرو چې حقایق دې خلکو ته ووایي. دوی ته تر ټولو آسانه لاره درواغ، جعل او تور لګول دي. سره له دې چې میر اکبر د صبغت الله مجددي باجه وو، خو دوی هېڅکله د ژوند په اوږدو کې له یو بل سره اړیکي نۀ لرل، صبغت الله لا په زندان کې وو چې مېرمن ئې – د لایق خور- وفات سوه. په همدې دلیل د لایق پلار له پلخمري څخه کابل ته راغی، خو د مجددي کورنۍ مخکې له دې چې د متوفا مېرمنې د پلار په توګه ورسره اړیکه ونیسي، د میاګل جان مجددي کورنۍ فوتي اعلان، د تدفین نېټه او د تفین ځای پرته له دې چې د متوفی مېرمنې د پلرنۍ کورنۍ نوم یاد کړي، خپروي. په دې توګه امکان لري چې لایق خپل پلار قانع کړی وي چې نور دې خپلې اړیکي له دې کورنۍ سره قطع کړي.

سیاسنګ: د خیبر د سرطان ناروغۍ تشخیص سوی وو. آیا دا تشخیص تېروتنه وه یا قصدي؟

زیارمل: کله چې د خیبر په ځان کې د سرطان د تشخیص مسئله مطرح سوه، ما وویل چې د بل هرګام له اوچتولو مخکې باید ددغۀ تشخیص ځرنګوالی د یوۀ ډاډمن متخصص له پلوه د تأیید وړ وګرځي. بیا مې خپل د ماما زوی، ډاکټر عبدالرحمن سلیم وښود چې هغه دې وګوري.

ډاکټر عبدالرحمن سلیم د خیبر له صدر څخه لازمې راډیوګرافۍ واخېستلې. کله چې د معایناتو د نتیجې د اخېستلو لپاره ورغلم وئې ویل چې په سږو کې ئې څو ټکي د اندېښنې وړ دي، خو ددې خبرې د روښانولو لپاره چې آیا دا سرطاني کتلې دي یا نه، یوې بلې عملیې ته اړتیا ده او دا باید په یوهٔ باندني هېواد کې تر سره سي ترڅو له بشپړ تشخیص څخه ډاډ تر لاسه سوی وي. ډاکټر عبدالرحمن د خیبر مالي حالت ته په کتلو سره د هندوستان وړاندیز وکړ.

هر ګوره، د سرطان شک رد نهٔ سو. خیبر وویل: ښايي د ډاکټرانو خبره صحیح او دقیقه وي، ځکه په زندان کې د غاښ له شدید درد سره مخامخ سوی وم او ددغهٔ درد د غلي کولو لپاره مجبور سوم چې چلم ووهم. بیا زما په تخرګ کې د مرغړیو «غدواتو» د التهاب د شدید درد له کبله د صدارت د توقیف د روغتون مسؤولینو وویل چې د ښار یوهٔ روغتون ته باید ولېږل سم. مقاماتو دغه موضوع ونهٔ منله. په زندان کې یو ملا وو چې د هندوستان له کومې مدرسې څخه فارغ سوی وو، ددهٔ په خپلې وینا چې د مدرسې په ښوونیز نصاب کې ئې د طبابت مضمون هم تدریس کېدهٔ، نو دهٔ کولی سوای چې په یوې ساده جراحۍ سره زما ستونزه په زندان کې حل کړي. ما هم ځکه موافقه وکړه چې نور مې د درد د زغملو زور نهٔ درلود. ملا د زندان محافظینو ته پیسې ورکړې چې له ښاره ضروري شیان ورته چمتو کړي. بیا ئې د کوټې په یوهٔ ګوټ کې اور بل کړ او یو تېرهٔ چاقو ئې تعقیم کړ او له بې هوښۍ پرته ئې جراحي وکړه.[1]

د پرچم د جناح غړی مهرچند ورما له یوهٔ هندي سوداګر سره شریک وو او د هند له سفارت سره ئې ښې اړیکې لرې، کله چې د خیبر د سرطان له تشخیص څخه خبر سو، دا موضوع ئې د هند له سفارت سره مطرح کړه او غالباً د ویزې د اخېستلو لپاره ئې د مرستې غوښتنه کړې وه.

هغه مهال خیبر ته د پرچم د جریدې د مسؤول مدیر په توګه بېلابېلو سفارتونو بلنه ورکوله. ددغو بلنو په لړ کې په یوې بلنې کې – په غالب ګومان چې د هند ملي یا د آزادۍ د جشن ورځ وه – د هندوستان سفیر خیبر سره د خبرو په ترڅ کې ویلي ول: تاسو ته ډاډ درکوم چې تاسو ته به د هندوستان ددولت د مېلمه په توګه ښهٔ راغلاست وویل سي او درملنه به مو تر سره سي.

خیبر د هند د سفارت مسئله د پرچم له مشرتابهٔ سره مطرح کړه چې د «اجازې په اخېستلو سره» به دا بلنه ومني او د صحي اسنادو پر بنسټ به د پاسپورت د اخېستلو لپاره مراجعه وکړي. کارمل ویلي ول: زه باید له شوروي ملګرو سره مشوره وکړم او د

[1]- ښايي په هغو کلونو کې په زندان کې د چاقو درلودل ممنوع نهٔ ول. سیاسنګ

هغوی نظر واخلم. وروسته ئې خیبر ته خبر ورکړ چې شوروي ملګرو له تاسو سره موافقه ونهٔ کړه.

په دې لړ کې کوم څوک چې ګڼې د باندنیو چارو د وزارت مأمور وو او د سفارتونو له پلوه مېلمستیاوو ته بلل کېدهٔ، د شوروي د سفارت له یوهٔ دیپلومات څخه پوښتنه کوي چې: تاسو ولې هند ته د خیبر له سفر سره چې د درملنې لپاره روان وو، موافقه ونهٔ کړه؟ دغهٔ سړي په ځواب کې اورېدلي چې کارمل موږ ته ونهٔ ویل چې هغه ناروغه دی، کارمل موږ ته وویل: « د هند استخباراتي سازمان، خیبر هند ته بللی دی.»

خیبر له کارمل څخه پوښتنه کوي: ولې دې شورویانو ته درواغ وویل چې ګڼې زه د استخباراتو سازمان بللی یم؟ کارمل د خیبر پښو ته لوېږي چې وئې بخښې، ځکه له ډېر حسادته ئې نهٔ غوښتل د سیمې دغسې مهم هېواد ته سفر وکړي او د یوهٔ سیاسي شخصیت په توګه ورته درونډ ښهٔ راغلاست وویل سي او درملنه ئې وسي. کارمل خیبر ته ډاډ ورکوي چې ددهٔ د درملنې په هکله به ګام اوچت کاندي.

له دې چې شورویانو د مېرمنو ټولنې روغتیایي کلنیک ته د X- Ray د یوې دستګاه مرسته کړې وه او د شوروي په سفارت پورې اړوند ډاکټر په اونۍ کې څو ورځې د راډیولوژۍ خدمات ترسره کول نو کارمل، خیبر ته ویلي ول: شوروي ملګرو ژمنه کړې چې زموږ متخصصین به تاسو په همدې مرکز کې په دقیق ډول معاینه کړي.

زه نهٔ پوهېږم چې خیبر دغه کلنیک ته د بیا معایناتو لپاره مراجعه وکړه که نه خو یوه ورځ ئې راته وویل چې: له درملنې څخه منصرف سوم. هر څه چې پېښېږي، پېښ دې سي! ژوند په دې نهٔ ارزي چې څوک دې خپل حیثیت وربانديې په خطر کې واچوي.

دا خبره چې ګڼې د شوروي ګوندي مقاماتو مسکو ته د خیبر له تګ سره موافقه نهٔ ده کړې صحیح نهٔ ده. اصله خبره دا ده چې د خیبر د ناروغۍ خبره شورویانو ته د کارمل له پلوه، په تحریف سوي ډول مطرح سوه او یوې منطقي پایلې ته ونهٔ رسېدله.

سیاسنګ: ډاکټر اکرم عثمان (د همدې کتاب په ۲۱۷ پاڼه کې) په یوې مرکې کې داسې یادونه کړې ده: « د جمهوریت د پړاو په اواسطو کې مې واورېدل چې په ۱۹۶۹ یا ۱۹۷۰ز کال کې د خیبر د سرطان د جعلي تشخیص اعلان ددغهٔ ویاړمن او آزاد انسان د روحیاتو د ناتوان کولو لپاره ول؛ ځکه چې په سرطان باندې اخته ناروغ نهٔ سي کولای اوهٔ یا اتهٔ کاله روغ رمټ ژوندی پاتې سي.»

زیارمل: زه هېڅ نېټه نهٔ تأییدوم او نهٔ ئې رد کوم. زما په یاد نهٔ دي چې د صلاحیت وړ کوم طبي مقام دې د سرطان په ناروغۍ د هغهٔ اخته کېدل رد کړي وي.

د اکرم عثمان د کډوالۍ د مهال د لیکنو په اړوند ما ډېر جدي ملاحظات درلودل او لرم ئې. دا خبره مې ورته په ځانګړو ځایونو کې یاده کړې او ورته مې لیکلي دي چې واقعیت

نهٔ لري. سره له دې چې اکرم عثمان په سماجت او ټینګار له داؤود څخه دفاع کوله، خو داؤود خان د اکرم عثمان له اصلي ماهیت څخه خبر وو نو له دې کبله ئې ورته اجازه ورنهٔ کړه چې د اطلاعاتو او کلتور د وزارت د نشراتو له ریاست پورته بل مقام ته ورسیږي. داؤود له اکرم عثمان څخه له پرچیمانو سره د رابط په توګه ګټه واخیستله خو داؤود ورته دومره مجال ورنهٔ کړ چې د لویې جرګې غړیتوب ته لاره ومومي.

د افغانستان د خلق ډیموکراټیک ګوند د بریا په لومړیو میاشتو کې چې د کورنیو چارو په وزارت کې له نور احمد نور سره همکار وم یوه ورځ مې د هغو کسیټونو په منځ کې چې د «استراق سمع» په ډول ثبت سوي ول، تصادفاً یو کسیټ چې د اناهیتا راتب زاد په آپارتمان کې ثبت سوی وو ددې او د کارمل تر منځ مې د ثبت سویو کسیټونو په منځ کې یو کسیټ خوښ کړ. په دې کسټ کې اکرم عثمان په داؤود ملنډې وهلې دي. له دې چې ټول کسیټونه د داؤود د کورنیو چارو د وزیر قدیر نورستاني په دفتر کې ول، نو ناشوني ښکاري چې دا کسیټونه دې د داؤود له نظره نهٔ وي تېر سوي.

د کډوالۍ پر مهال د اکرم عثمان ټوله هڅه په دې کې تېره سوې چې له لایق سره د ملګرتوب او د پرچم په جناح کې پر خپل غړیتوب باندې خاورې واچوي او ورک ئې کړي. هغه کسان چې ورباندې خبر دي، د اکرم عثمان پر خبرو هېڅ باور نهٔ لري. زما تبصره د هغهٔ د شخصیت د تخریب په معنی نهٔ ده دا یوازې د تأریخ د حق اداینه ده.

سیاسنګ: عبدالوکیل لیکلي دي چې: «کارمل تل خیبر د "ورور" په نوم یاداوهٔ او خیبر، اکثراً کارمل د "ببرک جان" په نوم یاداوهٔ. د دواړو تر منځ هېڅ ډول سیاسي او عقیدتي اختلاف نهٔ لیدل کېدهٔ. یوازې د جمهوریت د دوه وو کالو په لومړیو کې، خیبر د کارمل په پرتلې د داؤود کړنلارې ته له خوش بینانه منظر څخه کتل، خو کله چې د داؤود په سیاستونو کې بدلونونه راغلل، د خیبر دغه خوشبینۍ په نومېدۍ واوښتلې. خیبر د ګوندي ملګرو په یوې محدودې کړۍ کې چې شمېر ئې له پینځو تنو پورته نهٔ ډېرېدهٔ، کله نا کله به ئې د کارمل یو شمېر شخصي چارچلندونه د هغهٔ په غیاب کې تر ګوت نیوني لاندې ونیول او دغه خبره کله نا کله د کارمل د خپګان لامل کېدله، ان تر دې چې دا خبرې به په غیر سیاسي جدي خپګانونو واوښتلې. خو له دغو خبرو سره سره، کارمل او خیبر په ۱۹۷۷ز کال کې د افغانستان د خلق ډیموکراټیک ګوند د دواړو جناح ګانو د وحدت تر لړۍ پورې په خپلو منځو کې دوستانه، له صمیمت او سرښندنو ډکې ټینګې اړیکې، پر یو بل باندې د متقابل اعتماد په چوکاټ کې درلودلې. هغو په خپل ګوندي سیاسي ژوندانهٔ کې ټولې پرېکړې په ګډه نیولې.» (۲۴۸ او ۲۴۹ پاڼې."از پادشاهي مطلقه تا سقوط جمهوري دیموکراتیک افغانستان")

زیارمل: د وکیل لیکنه له دې زړهٔ شینوالي او عقدې څخه سرچینه اخلي چې ګڼي کارمل غوښتل وکیل ته ارتقاء ورکړي او مرکزي کمیټې ته ئې راولي خو خیبر ورسره موافقت نهٔ

کاوۀ. زه د هغو ادعاګانو په دقیق والي او سم والي خبر نۀ یم چې د ګوندي کدرونو په منځ کې مطرح کېدل خو وکیل ما ته په سویټزرلند کې شکایت وکړ چې مرکزي کمیټې ته زما په نۀ ارتقاء کې کارمل خپله رخه او کینه راڅرګنده کړه. وکیل دا خبرې ما ته په ژولې ژولې ژبې کولې او وئې ویل: زما په نظر په دې ډارېدۀ چې داسې نۀ سي چې سبا ورځ دې د کارمل پلویان تر هغې کچې خوابدی کړي چې د کډوالۍ ژوند به وربانديې تریخ کړي؛ خو په پای کې ئې یوه ورځ د ښکنځلو او سپکو سپورو په لړ کې وویل چې زما د نۀ ارتقاء د غوښتنې پروړاندې کارمل راته په سپینه او ډانګ پییلې ژبې وویل چې زه، اناهیتا، بریالی او ستا خور ثریا به دا تبصره وکړي چې ګڼې دا د "کمري والو ګوند " دی. هغۀ ته مې وویل: تا باید بریالی نۀ وای راوستی ځکه هغه مستحق نۀ وو.

دغه خبرې څرګندوي چې د کارمل په کورنۍ کې وکیل خپل ځان « د کمریو د خان» اصلي وارث ګاڼۀ، یعنې د خپل پلرني نیکۀ او د کارمل د مورني نیکۀ وارث ګاڼۀ او تل به ئې کارمل ته، د کارمل د زندان پرمهال د خپلې کورنۍ له احساناتو او نورو څخه یادونه کوله.

خیبر به د اشخاصو په قضاوت کې په ډېرې سختۍ خپل نظر ورکاوۀ، خو د وکیل په برخه کې ئې اصلاً مثبت نظر نۀ درلود او هغۀ ئې د وکیل د تصور برخلاف، یو عادي کدر ګاڼۀ. د داؤود د کودتا په لومړي کال، یوځل ددې شاهد وم چې خیبر، کارمل ته زموږ په کور کې بلنه ورکړه او تر سختې ترټنې او غندنې لاندې ئې ونیوۀ، ځکه چې کارمل د ګوند د پرېکړې پر وړاندې په علني مخالفت کې درېدلی وو او ان هغۀ ئې په دې تورن کړ چې ګوند ئې پر داؤود باندې پلورلی دی. دا قصه ډېره اوږده او له رسوايۍ ډکه ده.

وکیل رښتیا وايي چې "کارمل به خیبر د ورور په نوم یاداوۀ". کله چې خیبر له زندانه راخوشې سو، د «کارمل پلار» جنرال محمد حسین خان فکر کاوۀ چې ببرک او خیبر د داؤود تر پاملرنې لاندې دي او ښايي د حسن شرق په شان به ئې په حساسو مقاماتو کې وګوماري. له دې کبله میراکبر د کابلیانو په اصطلاح ببرک ئې په "وروروَلۍ/ برادر خواندګي" ومانۀ او هغۀ ته ئې د ورورۍ لاس ورکړ. دغه خبره به ئې په خپلو خبرو کې هم افاده کوله. نو ښايي له هماغه وخته راپه دېخوا کارمل دغه اصطلاح د خیبر په هکله کارولې او دوام ئې ورکړی وي. ان دا چې هغه په دې لټه کې وو چې د خیبر له کورنۍ سره خپلوي وکړي.

کارمل د انساني کرکتر په تقریباً ټولو اړخونو کې د خیبر پر وړاندې رخه او سخه «رشک» کوله. کارمل هم له اخلاقي او هم د شخصي کرکتر او د ټولنیز چارچلند له اړخه دومره ضعفونه درلودل چې که هر څومره کوښښ ئې کاوۀ چې له خیبر سره سیالي وکړي بیا ئې هم نۀ سوای کولی. کارمل ان د هغو ګوندي او غیر ګوندي کسانو پر وړاندې بربنډ او برالا غبرګون ښکاره کاوۀ چې خیبر ئې د "استاد" په نوم یاداوۀ.

ددوی دواړو تر منځ اختلافات هغه مهال د اهمیت وړ سول کله چې د ببرک او د اناهیتا تر منځ نامشروع اړیکې د ګوند د غړو ترمنځ او په ټولنه کې دننه تر بحث لاندې راغلې، په ځانګړې توګه هغه مهال چې کارمل، اناهیتا وهڅوله چې خپل میړۀ خوشې کړي. کله چې ښاري کدرونه، له کلیوالو ګوندي غړو څخه مخکې او ژر د قضیې په اصلیت خبر سول نو ددغو مسایلو په هکله ئې خپله نارضایتي وښودله، ما دا خبره په احتیاط سره له خیبر سره یاده کړه. هغه وویل: ما په ځلونو ببرک جان ته ویلي دي چې په یوۀ وروسته پاتې هېواد کې سیاست کول له ریاضت څخه کم نۀ دي. باید ټولنیز او اسلامي اخلاق رعایت سي او داسې کار ونۀ سي چې د خلکو په منځ کې د بې اعتبارۍ لامل وګرځي، دا خبره سیاستوالو ته حیاتي اهمیت لري.

هغه مهال هرولد مک میلن Harold Macmilan د انګلستان صدراعظم وو. د هغۀ ددفاع وزیر په مطبوعاتو کې ځکه افشاء سو چې معشوقې ئې د شوروي له نظامي اتشې سره د مینې او یارۍ تار غځولی وو. د همدې کار له کبله ټوله کابینه اړ سوه چې استعفی ورکړي. خیبر دغه مثالونه کارمل ته یاد کړي ول او ورته ئې ویلي ول: کله چې په اروپا کې په دې کچې رسوایي رامنځته کېږي، په داسې حالاتو کې به زموږ په دودیز او اسلامي هېواد کې د خلکو غبرګون په څه ډول وي؟ کارمل له همدې امله د نورو تر فشار لاندې وو خو تر پایه ئې ونۀ سوای کولی چې له نامشروعو روابطو څخه د زړۀ مزی وشکوي.

تاسو له دغو بېلګو څخه پوهېدای سئ چې ددغو دواړو کرکټرونو تر منځ څومره ژور توپیر موجود وو. کله چې کارمل له اخلاقي، د سیاسي پوهې او د فردي شخصیت له اړخه نۀ سوای کولی له خیبر سره سیالي وکړي نو د هغۀ په غیاب کې به ئې سپکې، سپورې او ښکنځلې پېل کړې. څرګنده ده چې دا خبرې به بېرته خیبر ته ورسېدلې او خیبر به خوابدی سو.

زه په ډاډ سره ویلی سم چې د اناهیتا راتب زاد په ګډون د مشرتابۀ ټولو غړو له کارمل سره له تاو تریخوالي ډک اړیکي لرل خو خیبر نۀ پرېښودل چې دا ډول مسایل دې د ګوند د پاشل کېدلو لامل سي. خیبر هڅه کوله چې د دا ډول چاودو او ستونزو مخه ډب کړي او ټول، سیاسي موخو او ولس سره کړیو ژمنو ته د رسېدو د لارې په دوام قانع کړي.

لومړی انشعاب د خیبر په غیاب کې رامنځته سو. په دوهم انشعاب کې خیبر د پېښې مقیاس حد اقل ته راټیټ کړ، ځکه چې د شورا د دورې له غورځنګ څخه ئې لوی درس استخراج کړی وو. هغۀ به ویل: «موږ نۀ باد د شورا ددوران د فعالینو او مشرانو په څېر عمل وکړو. زه په زندان کې ددې شاهد وم په مجردې چې پېښه ئې زندان ته راورسېدله، په منځو کې ئې تر ټولو بد تورونه او اختلافات رامنځته سول او کله چې له

زندانه دباندې ووتل، که پینځۀ تنه ول په پینځو لارو او که شپږ تنه ول په شپږو لارو لاړل. بیا ئې د ژوند تر پایه د یو بل د کور دروازه هم ونۀ ټکوله.

اوس د وکیل تورونو ته بېرته راگرځم چې گڼې میر اکبر داؤود ته خوشبین وو. یوه ورځ خیبر راته وویل: گوندي دفتر ته په ننوتلو سره گورم چې ببرک، کشت مند، بارق، نور احمد نور او نور کسان ناست او داؤود ته د سپکو سپورو د ویلو په حال کې ول، کله کله به ئې حسن شرق ته هم یوه سپکه ورغوځار کړه. ما دوی ته په خطاب کې وویل: که ستاسو ټولو په منځ کې یوازینی څوک چې باید له داؤود څخه د شکایت حق ولري، هغه زه یم. له حربي پوهنتون څخه ئې د فراغت په ورځ د داؤود په امر ونیولم او په منځتشو تورونو او له محکمې پرته ئې زندان کې وساتلم، کله چې له زندانه خلاص سوم زما په کورنۍ کې یوازې زما کشرى ورور پاتې وو، مور، پلار او مېرمن مې مړۀ سوي ول. بیا مې کارمل ته په خطاب کې وویل: تۀ د څۀ له مخې له داؤود څخه شکایت لرې؟ ستا پلار ئې له تقاعدۍ څخه راووست او بېرته ئې د برحاله ډگرجنرال په بست کې د قول اردو بولندوی وټاکۀ، ستا د ترور «خاله» زوی ئې وزیر مقرر کړ، ستا ورور ئې په تحصیلي بورس شوروي ته ولېږۀ او....

په حقیقت کې میر اکبر د داؤود د ملاتړ د طرحې نوښتگر وو او په سوسیالیستي غورځنگ کې ئې ورته تیوریکه توجیه هم درلودله، ځکه چې د خیبر د نظریې پر بنسټ کله چې جمال ناصر له لوېدیځ څخه پرېکون وکړ او له شوروي سره ئې اقتصادي اړیکي ټینگ کړل، د مصر عربي سوسیالیست او کمونیست گوند دواړو خپل انحلال اعلان کړ، د ناصر په گوند کې مدغم سول او د ورونړو گوندونو له پلوه هم د تأیید وړ وگرځېدل. خیبر د همداسې سابقې پر بنسټ، د داؤود وضع، او د داؤود پېژندل سوې برنامې د گوند له مواضعو سره نېږدې وگڼلې او وړاندیز ئې وکړ چې د داؤود د حساسې وضعې په پام کې نیولو سره چې اساسي قانون ئې معطل او د گوندونو ظاهري آزادي ئې پای ته رسولې ده، باید د پخوا په شان د گوندي غونډو له جوړولو څخه ډډه وسي او داسې نۀ سي چې سبا ورځ دې ښې لاسي گوندونه له دې وضعې څخه ناوړه گټه پورته کاندي.

دغه طرح د رائیو په اکثریت تصویب او د گوندغړو او کدرونو ته اعلان سوه. په دې موقع کې وکیل یوازینی گوندي کدر وو چې د دې طرحې پر وړاندې ودرېد او غبرگون ئې ښکاره کړ، وکیل، ډاکټر نجیب هم وپاراوۀ چې مخالفت وکړي.

میراکبر، وکیل خپل کور ته طلب کړ او خبرې ئې ورسره وکړې. کله چې وکیل لاړ، زما پام وو چې د میر اکبر پر شونډو له معنی ډکه یوه موسکا وغوړېدله. ما ورته وویل چې: خبرې مو خلاصې سوې؟ په ځواب کې ئې راته وویل: وکیل عجیبه خبره وکړه. وئې ویل چې زه د گوند له نوي سیاست سره هېڅ مخالفت نۀ لرم، خو ما له کارمله خپل

غچ واخیست او همدا زما لپاره مناسبه شېبه وه. ومې پوښتل: د څه شي غچ؟ وکیل وویل: کارمل زما په ناموس تېری کړی وو.

کله چې ما په سویټزرلنډ کې له وکیل څخه پوښتنه وکړه: تا خیبر ته ویلي ول چې «کارمل ستا په ناموس تېری کړی دی» ستا هدف څه وو؟ هغه وخت خو تهٔ مجرد وې. وکیل راته په ځواب کې وویل: زه او «نون. شین» د پوهنځي د دوران همټولګي وو او رسمي کوژدې ته نېږدې سوي وو. په دې خبرې باندې اناهیتا، کارمل او نور ملګري ښهٔ خبر ول. خو کارمل نوموړې ګوندي مرکز ته وغوښتله او تېری ئې ورباندې وکړ.

دا چې وکیل په خپل کتاب کې لیکي: « خیبر د ملګرو په محدودې کړۍ کې چې شمېر ئې له پینځو تنو څخه نهٔ دېربېدهٔ د کارمل په ځینو کړو وړو ئې نیوکه کوله» دا خبره د کارمل او د هغهٔ د پلویانو د لومړۍ کړۍ له هماغهٔ پلان څخه سرچینه اخلي چې ګڼي د ګوند ټول غړي له کارمل سره دي او خیبر تجرید سوی دی. که دا استدلال ومنو، نو د خیبر د ترور په پایله کې د ګوند د غړو غضب، قهر او همدردۍ به په څه معنی وي؟

سیاسنګ: لایق وایي چې: دا نور احمد نوردی چې خیبر ئې وژلی دی. سمه ده که نه؟
زیارمل: نور «احمد نور» دا ګواښ په رښتیا سره کړی وو خو اصلي ګواښ د کارمل له لوري وو او نور «احمد نور» یوازې د کارمل له لوري هڅه کوله خیبر د هاغه څهٔ منلو ته سوق کړي چې کارمل غوښتل. دا موضوع د خیبر په ترور پورې مستقیمه اړه نهٔ لري خو غیر مستقیمه اړه ورسره لري.

سیاسنګ: د ډاکټر عثمان په خبره، کله چې خیبر د ګوند د کنترول او څارنې په برخې کې کار کاوهٔ، پر وړاندې ئې د ګوند دننه توطئه جوړه سوه. خیبر د «محرمیاتو د ساتنې» په ډول د ګوند له افرادو او غړو څخه د هغوی انتقادات او نارضایتۍ راټولولې او د پرچم د جناح مشرانو ته به ئې رسولې. خو مشرانو به د ژمنې او د اصولو او د تشکیلاتي مراتبو د سلسلې برخلاف، د خلکو هماغه خصوصي او محرمې خبرې- په مرموز ډول او په لوی لاس – بېرته د غړو او افرادو غوږونو ته رسولې تر څو په دې ډول سره پر خیبر باندې اعتماد او اعتبار په صفر کې ضرب کړي.

زیارمل: هغهٔ عمومي اعتماد ته په کتنې چې پر خیبر باندې وو، له لومړي انشعاب وروسته د پرچم په فرکسیون کې د ګډون له پیله او له وسله وال ځواک څخه د هغهٔ د استعفی له منل کېدلو وروسته په همدې دندې وګومارل سو او د خلق او د پرچم تر منځ د وحدت تر رامنځته کېدلو پورې ئې یاده سوې ګوندي دنده په تدبیر، عدل او د واقعیت لیدنې پر بنسټ په بې ساري ډول تر سره کړه. خیبر نهٔ یوازې ګوندي مُفـَتـِش وو بلکه د تفتیش د کمیسیون مشر هم وو. که دا تبلیغ وسي چې د یو شمېر ګوندي غړو لپاره ئې «دوسیه» جوړوله او بیا ورڅخه ناوړه ګټه اخېستل کېدله، له واقعیت سره صدق نهٔ کوي. خیبر د ګوند قاضي یا څارنوال نهٔ وو، هغه د ګوندي تېروتنو،

غلطیو، سرغړونو او د کړنلارې د نقض او ددسیسو د څېړنو د کمیسیون مشر وو. دا هغه مهال شوني وه چې که مشرتابهٔ کوم څوک د کوم سازمان د شکایت پر بنسټ له څرګندو او بربنډو خطاګانو سره دغهٔ کمیسیون ته ورپېژندل؛ نهٔ دا چې میر اکبر دې پرېکړه وکړي او چا ته دې «دوسیه» جوړه کړي. دا هم ددوی هماغه د «دوسیه جوړولو» د ډنډورو د خپرولو او له سیاسي اړخه د چا د بدنامولو یا له لرې تر لرې د هغهٔ د مشکوک څرګندولو لپاره یو تکتیک وو ترڅو د کارمل پر سیاسي، سازماني تېروتنو او اخلاقي انحرافاتو باندې ئې پرده غوړولې وي.

سیاسنګ: چا نهٔ دي ویلي چې «خیبر د ګوند یو شمېر غړو ته دوسیې جوړولې.» زه هماغه پارګراف بېرته له سره لیکم: د ډاکټر اکرم عثمان په وینا، هغه مهال چې خیبر د ګوند د څار او کنترول په برخې کې کار کاوهٔ، پر ضد ئې د ګوند دننه توطئه جوړه سوه.....

زیارمل: ما د ژوند په اوږدو کې نهٔ دي اورېدلي چې چا دې داسې ادعا کړې وي. د وحدت له رامنځته کېدلو وروسته په ګوندې کړیو کې په دې هکله تبلیغاتو شدت وموند او د خیبر له شهادت وروسته د خیبر څېرې او خاطرې ته د تاوان رسولو په پار دغسې اخلاقي ضد وسایلو ته لاس واچول سو.

سیاسنګ: (سپین غر کمک) د خپلې فیسبوک Facebook پاڼې پر مخ لیکلي دي: « د شهید خیبر پر مزار باندې زما د پلار (محمد یعقوب کمک) اوښکې او د هغهٔ له غمه ډک جملات به هېڅکله له یاده ونهٔ باسم. هغهٔ به ویل چې استاد خیبر د افغانستان د خلق ډیموکراټیک ګوند د بنسټ ایښودلو له هماغه پېله د پرچم د جناح له یو شمېر کلیدي مشرانو سره په مخالفت کې وو او د شاه محمد دوست له لارې ئې هغوی ته څو رسمي او غیر رسمي اخطارونه ولېږل او ان یو تن ئې د هغهٔ د نهٔ بخښل کېدونکې تېروتنې په خاطر ډېر ټینګ پر مخ په څپېړه وهلی وو.» (۲۰۱۸/ ۰۴/ ۱۹)

زیارمل: په غالب ګومان سره چې دا مېلمستیا د ۱۳۵۶ (۱۹۷۸ز) په ژمي کې سوې وه.... هادي مکمل په دې اعتراض درلود چې ولې مو د تدفین د مراسمو په ترڅ کې د میر اکبر شخصیت، په ځانګړې توګه د سیاسي وینا د وړاندې کولو پر مهال – یوازې د « آزادۍ د شهید» په افادې سره رالنډ کړ؟ نور (احمد نور) په غضبناکې ژبې ځواب ورکړ: دا هم لږ ویاړ نهٔ دی.

د نور (احمد نور) له تګ څخه وروسته د سلام او مکمل تر منځ  د خیبر، کارمل او د تدفین د مراسمو په هکله خبرې کښته او پورته سوې. د تدفین په هماغه ورځ، سلام د کارمل په هکله یوه له معنی ډکه جمله په خولهٔ راوړه او وئې ویل: «حیف چې ډېر....... دی، خو نن ئې د استاد په هکله ښه بیانیه ورکړه.»

وروسته مکمل راته وویل: سلام غوښتل چې د ګوند رهبر ته خپلې مېرمنې ته د سوې بې حرمتۍ په هکله شکایت وکړي.

دې خبرې ته بېرته راګرځم چې د مېلمستیا موخه څه وه؟ د وحدت له توافق لیک وروسته چې د «ګوندي وحدت د پلینوم یا د کنفرانس د اسنادو» په نوم ئې یادول، میر اکبر د کارمل کور او په پل سرخ کې د ګوند نوي مرکز – د اناهیتا استوګنځي – ته تګ راتګ بس کړل او ددۀ په خپله وینا، چې یوازې یو ځل اناهیتا ته د مبارکۍ ویلو لپاره تللی وو. خیبر ته د کارمل او د هغۀ د اطرافیانو له ټینګار، ګواښ، هڅونو او شانتاژ سره سره یو ځواب ئې تکراراوۀ: له ګوندي وحدت وروسته که زه او ببرک جان د تره کي د کور ددروازې له مخې پرته بل هرچېرې ولیدل سو، تره کي حق لري چې پر ګوندي وحدت باندې زموږ د فادارۍ پر صداقت باندې شک وکړي.

کارمل او ورنېږدې اطرافیان ئې پوهېدل چې که میر اکبر خیبر ددوی له ټولي غایب اوسي پر دې ټکي باندې د ګوندي کدرونو راضي کول ناشوني دي چې د خلقیانو پر وړاندې متحد واوسو او خپل صفوف لا ټینګ کړو ترڅو خپل منځي وحدت رامنځه سي، د خیبر غایب پاتې کېدل بیلابیلې پوښتنې رامنځته کولې.

کارمل د پرچم د فرکسیون ساتلو ته حیاتي اړتیا درلوده نو له همدې امله ئې خپل څنګ ته د میر اکبر موجودیت غوښت. کارمل په دې لاره کې لومړی د پلرنیو «اصولي» نصایحو له لارې رامخ ته سو. د خیبر ځواب، زموږ د وزبیکو وروڼو په وینا یوق «نه» وو او پورتنۍ جمله به ئې تکراروله: باید تره کي او خلقیانو ته اعتماد ورکړو/ اعتماد ترلاسه کړو او د پخوا د ژوند د ناستو پاڅو پر لارو او ډولونو باندې له سره بنسټیزه کتنه وکړو.

دا چې ونۀ سوه، وروسې د ګواښلو پړاو راورسېد او د پرچمیانو تر منځ د «امنیت» په نوم د خیبر د «تجریدلو» موضوع مطرح سوه چې هغې هم کار ورنۀ کړ. د مېلمستیاوو په پلمو به سازماني غونډې جوړې سوې. ښایي له دې مخکې هم د خیبر د را کاږلو لپاره کوښښونه سوي وي خو د سلام د کور په مېلمستیا کې میر اکبر ته ویل سوي ول چې یوازې تاسو او مکمل مېلمانۀ یاست. (مکمل د مېلمستیا بلنه میر اکبر ته رسولې وه.) له هغۀ شناخت څخه چې میر اکبر له کارمل څخه درلود او د وحدت په ساتلو کې د احتیاط په پام کې لرلو ئې پوښتنه وکړه: پر موږ دوه وو تنو سرېبره بل څوک هم دغې مېلمستیا ته بلل سوي دي؟ مکمکل ډاډ ورکړی وو چې کوربه په ټیلیفون کې راته ویلي چې: یوازې تاسو او استاد زما مېلمانۀ یاست. په دې توګه دواړه مېلمانۀ له مکروریانو څخه په ګډه د کوربه کور ته لاړل. کله چې د کور سالون ته ننوتل وروسته د موضوع په اصلیت پوه سول. دا مهال مجبور سول چې سره کښېني.

د کشتمند، دوست، نور «احمد نور» او بارق حضور مې په خپله د خیبر له خولې واورېد. لایق په دې مېلمستیا کې نهٔ وو. خوړل او څښل دوام مومي او سلام د الکهولي څښاکو لپاره له کور څخه دباندې وځي. څو شېبې وروسته، د کوربه مېرمن د سالون د کړکۍ د ښیښې له شا تق تق کوي او وايي: استاد خیبر ته ووایاست چې یو ځل دلته راسي.

کله چې خیبر ځي او له دې مېرمنې سره مخامخ کېږي ګوري چې ټول ځان، لاس او پښې ئې رېږدي او وايي: استاده! لطفاً مرسته وکړئ. دغه سړی زموږ د خوب له خونې دباندې وباسئ." او زیاتوي: "کارمل خونې ته رادننه سو او کوښښ ئې وکړ چې ما په غېږ کې ونیسي او مچو مې کړي. ما مقاومت وکړ. زما په چیغو او غالمغال زما خور چې په پورتني پوړ کې ده خبره سوه او راغله. کارمل زه خوشې کړم او هغه ئې په غېږ کې ونیوله...."

کله چې خیبر ته هغه کوټه ورننوت کېږي نو په خښم او عصبانیت کارمل ته وايي: " چټک به له دې خونې دباندې وځې." کارمل د وضعې په وخامت پوهېږي او د خوب له خونې دباندې وځي. کله چې دوی دواړه بېرته سالون ته راځي د مجلس د ټولو ناستو کسانو پام د خیبر جدي او عصباني څېرې ته اوړي. ددې خبرې په پام کې نیولو سره چې د کوربه مېرمن، میراکبر ورغواړي نو ټول په مطلقې چوپتیا کې ډوبېږي. میر اکبر، نور احمد نور ته وايي: هلکه! دا بساط ټول کړه، چې رسوایي مو ترې زیاته نهٔ شي!"

هم هادي او هم میر اکبر کټ مټ دغه قصه راته وکړه او دواړو وویل: موږ تر مکروریانو پورې پلي راغلو چې د عصبانیت حالت مو آرام سي. دا وه له پېښې مخکې او له پېښې وروسته.

له دې پېښې وروسته، د کارمل، خیبر، نور «احمد نور»، جیلاني باختري او زما «زیارمل» د آپارتمانونو په ګډون له ګوندي مرکزونو او آپارتمانونو څخه د کسیټونو د مخفیانه ثبت لړۍ پیل سوه. ببرک په سرای غزني کې د خپل خسر کور ته کډه وکړه او په همدې دلیل ول چې اناهیتا ته ئې هم هماغلته شاو خوا کې یو کور په کرایه ونیوهٔ. دغه کور د تره کي له کوره وروسته عملاً په یوهٔ موازي ګوندي مرکز بدل سوی وو.

له هغې ګډوډې سوې مېلمستیا څو وخته وروسته، ببرک، سلام د یوهٔ ضروري کار په نوم د کار له دفتره ئې باندې باسي. ورپسې د هغهٔ په موټر کې سپرېږي او د خیبر رستوران ته ځي، هلته په پل چرخي کې جوړ دوه بوتله برندي راپېري او بېرته د کارمل کور ته راستنېږي. د شرابو له څښلو وروسته کارمل تومانچه راباسي او وايي: ستا د کور په مېلمستیا کې ملګرو ته کم راغلم. غواړم چې خپل ځان ووژنم. سلام ډارېږي او د کارمل لاس او پښو ته په لوېدلو سره عذر او زارۍ کوي او ورته وايي: دا کار مهٔ کوه. کارمل چې ګوري سلام ډار سوی دی، نو وايي: زه به خپل ځان ونهٔ وژنم خو په یوهٔ

شرط چې له ما سره لاړ سې او د هماغې مېلمستیا ټولو ګډونوالو ته یو په یو ورسې او د شهادت په ورکولو ووایې چې زه ستا د هیلې او غوښتنې پر بنسټ ستا د خوب کوټې ته تللی وم، ځکه چې تا او مېرمنې دې په خپلو منځو شخړه کړې وه او له ما څخه مو غوښتي ول چې ستاسو په منځ د پخلاینې خبرې وکړم.

سلام د پېښې له عواقبو څخه په ډارېدلو مجبورېږي چې ورسره وخوځېږي او له سرای غزني څخه ګذرګاه ته د نور «احمد نور» او بارق ګډ کورته ورځي. کارمل په موټر کې پاتې کېږي او سلام د نور «احمد نور» کور ته ورځي. سلام نور «احمد نور» ته توضیح ورکوي چې څرنګه کارمل ددهٔ د کار دفتر ته ورغی، دی ئې د خیبر رستوران ته بوت، بیا ئې ځان په خپل کور کې مست کړ او د خپل د ځان د وژنې ګواښ ئې وکړ. اوس راغلی یم چې د کارمل د غوښتنې پر بنسټ تاسو ته ووایم چې ما په خپله دی د خپلې مېرمنې خونې ته لېږلی وو.

نور «احمد نور» په عصبانیت وایي: دا بلا ژر تر ژره روغ رمټ کورته ورسوه او بېرته ډاډ راکړه. سلام وایي: له هغهٔ سره وسله ده او لا تر اوسه ټینګار لري چې زه باید د هغې ورځې د مېلمستیا د مېلمنو د هر یوهٔ کور ته یو په یولاړ سم او دا شهادت تکرار کړم. نور «احمد نور» له سلام سره په ګډه موټر ته ورځي، لومړی څو ټینګې خوندورې څپېړې د کارمل مخ ته ورکوي او بیا تومانچه ورڅخه اخلي او ورته وایي: ستا یوه رسوایي لا هېره سوې نهٔ ده اوس بله رسوایي راپورته کوې؟ ژر تر ژره به خپل کور ته ځې.

د هغې ورځې په سبا ئې نور «احمد نور» د خیبر لیدلو ته ورځي او ټوله ماجرا ورته له سره تر پایه اوروي او زیاتوي. " که تهٔ له دهٔ سره نېژدې نشې، ددغسې رسوایي ګانو مخه نهٔ شي نیول کېدای. دهٔ ته یوازې تهٔ قیزه اچولای شې که نهٔ تر دې غلیظې غلطۍ به ترې سر ووهي." خیبر وایي: زه خو د چا (لاله او دده) نهٔ یم چې ددومره لوړو مدعیاتو لرونکي کسان کنترول کړم. د ګوند له وحدت وروسته زه د کارمل او ستاسو پر وړاندې هېڅ ډول سیاسي ژمنه او اړیکه نوره نهٔ لرم؛ له دې پرته تاسو نهٔ سئ کولای دغه وحدت خپل انجام ته ورسوئ.

سیاسنګ: د خیبر له وژل کېدلو څرنګه خبر سوئ؟
زیارمل: یوه ورځ ماسپښین مهال وو چې شیرپور ته د کور د یو شمېر اسبابونو له وړلو وروسته، بېرته پلې / په پښو مکروریانو ته راستنېدم. د عامې روغتیا څلور لارې ته نېږدې د قلعهٔ جنګي د برج ترڅنګ مې میر اکبر ولید چې په چابکو ګامونو سره د وزیر اکبر خان پر لور روان وو. له سلام علیک ورسته ئې وویل: د شاه ولي په کور کې غونډه لرو (د ګوندي وحدت په شرایطو کې هغه د ډاکټر شاه ولي په مشرتابهٔ د مرکزي کمیټې د تبلیغ او ترویج د کمیسیون غړی وو.) ناوخته سوې او له ژمنې سره سم باید ځان په

ټاکلي وخت ورسوم. غوښتل ئې وخوځېږي لکه چې یو ناڅاپه ئې کوم شی په یاد راغلی وي راته وویل: په جلال آباد کې زموږ د خبرو په هکله اوس د هغوی له نویو پرمختګونو څخه خبر سوی یم. سبا راسه چې خبرې سره وکړو. په دې خبرو سره له یو بله بیل سوو. خیبر په چټکو ګامونو د شاه ولي د کور پر لور وخوځېد او زه د لومړیو مکروریانو پر لور ولاړم.

د هغې ورځې په سبا ئې څه پېښ سول؟ زه د خپلې خواښې د عیادت په نیامت د خپل ورور له کوره ووتلم او د هغې له لیدلو وروسته د خیبر کور ته د تللو تکل مې وکړ. یو ناڅاپه باران او شدیده ږلۍ پېل سوه. ما د آپارتمان په پوړیو کې توقف وکړ. کله چې د کور د د ورازې زنګ مې کښېکښود، د خیبر مېرمنې زما پر مخ دروازه خلاصه کړه او وئې ویل: " خیبر همدا اوس له غوربندي سره له کوره ووت."

زه بېرته د خپل ورور آپارتمان ته وخوځېدم. ما فکر کاوۀ چې د ماښام د ډوډۍ له خوړلو وروسته به بېرته راسم، راغلم او د خیبر د آپارتمان مخې ته مې پام واوښت چې څراغ مړ دی. ما فکر وکړ چې خیبر لا تر اوسه کور ته نۀ دی راغلی. نو پرته له دې چې زنګ ووهم، بېرته راغلم.

د خیبر د ترور کېدلو د ورځې په سبا ئې سهار مهال د خیبر زوی توریالی په داسې حال کې راپسې راغی چې زه لا وېدۀ وم او وئې ویل: زه خورکۍ رالیږلی یم. ( د خیبر بچیانو خپله مور د خورکۍ په نوم یادوله) زما په ذهن کې دا پوښتنه راغله چې ولې خورکۍ، ولې په خپله خیبر نۀ؟ خو د توریالي بلې جملې زما پوښتنه حل کړه: پلار مې له پرون شپې راهیسې کور ته نۀ دی راغلی. خورکۍ له تاسو غواړي چې یو ځل زموږ کور ته راسئ.

زه ولاړم او ومې لیدل چې د خیبر مېرمن په بشپړه توګه پر ځان مسلطه ده. کټ مټ د یوې مرغۍ په شان چې ځاله ئې له خطر سره مخامخ وي په منځ کې ناسته او بچیان ئې داسې ټینګ ترې راتاو دي لکه چې د خپلو بچیانو د لېرې کېدلو خطر ئې هم له ورایه په سترګو لیدۀ. وئې ویل: ذبیح وروره! خیبر پرون له غوربندي سره زموږ له کوره ووت او لا تر اوسه نۀ دی راغلی. زموږ په ګډ ژوند کې هېڅکله داسې نۀ ول پېښ سوي چې چېرته دې لاړ سي او ما ته دې ونۀ وایي. زه فکر کوم کومه پېښه وربانډې سوې ده او ما ته هېڅ څوک رښتیا خبره نۀ کوي. پرون شپه د څارنوال په نوم یو څوک راغلی وو او ګډوډې پوښتنې ئې راڅخه کولې. هغۀ پوښتنه کوله چې: آیا خیبر له چا سره کومه شخصي دښمني درلودله؟ آیا په دې وروستیو وختونو کې چا ګواښلی وو؟ په دۀ پسې د شپې ناوخته وه چې اناهیتا راغله. پوړنۍ ئې پر سر وو. کله چې ما د هغې پر سر د پوړنۍ او د شپې په دې ناوخته کې د هغې د راتګ په اړه پوښتنه وکړه ما ته ئې کوم واضح ځواب رانۀ کړ او وئې ویل: په همدې شاو خواوو کې د یوۀ دوست لیدلو ته راغلې وم، ومې غوښتل چې ستا خبر هم واخلم. حال دا چې اناهیتا هېڅکله د شپې ناوخته زموږ

کور ته نهٔ وه راغلې. ذبیح وروره! زه حس کوم چې کومه پېښه سوې ده خو څوک راته حقیقت نهٔ وايي. لایق راغلی وو. هغهٔ هم ونهٔ ویل چې خیبر ته څه ورپېښ سوي دي. له تا غواړم چې حقیقت راته معلوم کړې.

ما چې شوک خوړولی وو د مېرمن خیبر د پوښتنو لپاره د ځواب موندلو په تکل له آپارتمان څخه ووتلم او تر ټولو نېږدې پتې/ آدرس- د نور او بارق آپارتمان – ته ورغلم. مېرمن بارق زه له کړکۍ ولیدلم او مخکې له دې چې زنګ ووهم دروازه ئې راته خلاصه کړله. پوښتنه مې وکړه: څه خبره سوې ده؟ په رنځو ټکیو ئې راته وویل: ملګری خیبر پرون شپه ترور سوی دی. کله چې ما د بارق پوښتنه وکړه وئې ویل:بارق په کور کې نهٔ سته.

له هماغې شیبې وروسته زما په شخصي او سیاسي ژوندون کې تر ټولو ستر بدلون او اوښتون رامنځته سو چې له دې وروسته باید له خیبر پرته ژوند وکړم. په دې توګه، د وروستي ځل لپاره مې چې خیبر ولید او لنډې خبرې سره مو وکړې، یوه ورځ مخکې له هغهٔ ماښامه وروسته وه چې خیبر ترور سو او زه «د نویو پرمختګونو» له پوهېدلو څخه چې څه ول، محروم سوم.

نور مې جرئت ونهٔ کړ چې بېرته د خیبر آپارتمان لاړ سم او موضوع ورته ووایم چې مېرمن ئې په حدس او ګومان پوهېدله. له دې کبله د صمد ازهر د خبرولو لپاره لاړم. هغه هم د دروازې د زنګ په اورېدلو راوېښ سو او دا تریخ حقیقت ئې واورېد. د را ستنېدلو په لاره کې له هادي مکمل سره مخامخ سوم. هغه هم له دې موضوع خبر وو او له مخ او څېرې ئې ژور غم او خپګان داري وهلې.

کله چې د خیبر آپارتمان ته نېږدې سوم، د ساندو او ژړاوو غږونه – نهٔ د خیبر له مېرمنې – بلکه تر ډېره د خیبر د دوه لوڼو ساندې او ژاړوې تر غوږو کېدلې. کورته دننه ننوتلم او ومې لیدل چې لایق او غوربندي هم دلته دي. غوربندي د ژړا په اوښکو ډکو سترګو په سالون کې ناست وو او پښې ئې غځولې وې او دیوال ته ئې ډډه وهلې وه، او لایق د دلاسا په نیامت خپلې خور او خپلو خوریینو سره ناست وو. کله چې له ما خبر سو، په ژړاندو سترګو راغی او زه ئې په غېږ کې ټینګ ونیولم. په سختۍ ئې خبرې کولې.

غوربندي، توریالي ته هدایت ورکړ چې د خپل پلار ټول اسناد، لیکنې او کتابونه راټول کړه او په یوهٔ ځای کې ئې محفوظ وساتهٔ. زه هم له توریالي سره بالکن ته لاړم. د لیکلو د میز پر مخ د خیبر په لاس لیکل سوي څو پاڼې وې چې د مصر او سومالیې د اوضاع په هکله د یوې تبصرې یا تفسیر په شان لیکل سوې وې. له دې چې ټول غیر دولتي جراید له چاپ څخه منع سوي ول، له دې کبله نه باید کومه ورځپاڼه یا کومه مجله به وه. فکر کوم چې په هغو هېوادونو کې د منفي بدلونونو په هکله وه چې ګوندي سازمانونو ته ئې معلومات ورکول او خپل نظر ئې څرګنداوهٔ. د لیکنې وروستنی سطر داسې وو:

دا منفي بدلونونه په داسې حال کې رامنځته کېږي چې په دغو دوارو هېوادونو کې د نظامي اختناق شرایط واکمن دي او له دې وضعې څخه د ژغورنې لپاره نۀ سي کېدای چې د سادات او نمیري او...... په شان کسانو څخه کومه هیله ولرو.

دغه پاڼه مې د غوربندي مخې ته کښېښودله او ومې ویل: نور مې له بل چا څخه هیله نۀ کېږي چې داسې پرېکنده خبرې وکړي. غوربندي د ژړا په ترڅ کې وویل: خیبر په ډېر ښۀ او عالي ګوندي دریځ کې وو. ګوندیان له تره کي او کارمل څخه نهیلي سوي او د هیلو سترګې ئې خیبر ته نیولې وې. د افغانستان دښمنان تل په هوښیارۍ سره خپله نښه غوره کوي.

زمور خبرې په همدې ټکي پای ته ورسېدلې. له لایق څخه مې پوښتنه وکړه: خورکۍ راته وویل چې سهار وختي راغلي واست خو د خیبر له وژل کېدلو دې څه ونۀ ویل. ولې؟ وئې ویل: هرڅه مې کوښښ وکړ خو بیا مې هم ونۀ سوای کولی چې دغه بد خبر دوی ته ووایم. ومې پوښتل: اوس چا خبر ورکړ؟ وئې ویل: کله چې په دالان ننوتلم «دخیبر لور» پلوشې له ما څخه په ژړا ژړا پوښتنه وکړه: « ماما! ابا مې دې څه کړ؟ له هغې سره مې سخت او ډېر وژړل. دا شوم خبر مې دوی ته ورکړ.

په همدې اثنا کې یو څوک راغی او وېې ویل: ملګرو، تاسو «زیارمل» د بارق آپارتمان ته غوښتي یاست. کله چې هلته لاړم ګورم چې نور «احمد نور»، بارق او نورکسان ناست دي. زه کریم میثاق ته وروپېژندل سوم. هغۀ په خپل کمیس کې د پنځوس افغانیګیو نوټونو بنډلونه درلودل. یو یا دوه بنډله ئې راته راکړل او وئې ویل: کفن، تابوت او نور ملزومات ئې چمتو کړئ.

دباندې ووتلم او له ښاره مې نۀ یوازې کفن او تابوت، لس ټوکه قرآنونه، کافور او بوربو چمتو کړل بلکه کابل ښاروالۍ ته لاړم او د جنازې موټر مې هم ریزرف کړ. د ښاروالۍ مأمور چې زما نظر ته جهان دېده سړی راغی وئې پوښتل: د جنازې موټر هماغۀ سړي ته غواړئ چې پرون شپه شهید سو؟ ومې ویل: هو. وئې ویل: زه امریکایي فورډ Ford لرم، د والګا پر ځای به هاغه درکړم. د فورډ موټر ماشین ژر نۀ تودېږي.

کله چې میثاق ته مې راپور ورکړ، له بارق څخه ئې مننه وکړه او وئې ویل: ما ته مو عجیب کار آزمایلی ملګری را پېژندلی دی. ما د کفن او تابوت وویل خو دۀ ټول ضروري کارونه چې فکر ته مو نۀ راتلل تر سره کړل. کله چې پاتې پیسې مې بېرته میثاق ته وسپارلې لا ئې نور تعجب وکړ. هاغه ورځ مې بیا وخت ونۀ موند چې بېرته د خیبر آپارتمان ته ورسم.

سیاسنګ: د خیبر د مرګ په سبا ورځ ئې دوه تنه د هغهٔ آپارتمان ته ورغلل او هر څه ئې چې د کاغذ په نوم ولیدل له ځان سره ئې یوړل. ویل کېږي چې هغه اسناد چې په څو کارتنونو کې ځای پر ځای سوي ول، څه سول؟

زیارمل: ما تور جان ولید چې د خپل پلار کتابونه ئې ټولول. کوم شی نهٔ ووه. غالباً په یوهٔ اوسپنین بکس کې به ځای سوي وي. خیبر د آکسفورډ له انګلیسي په انګلیسي، انګلیسي په پاړسي قاموس، څو انګلیسي کتابونه او د ورځنۍ مطالعې لپاره یو شمېر انګلیسي او اردو ورځپاڼې او د خلق او پرچم د جرایدو له ټولګې / کلکسیون پرته کوم کتابتون نهٔ درلود. خیبر هېڅ ډول خاص سند له ځان سره نهٔ ساتهٔ ځکه چې که د پولیسو کومه چاپه ووهل سي نو کورنۍ ته ئې سرخوږی جوړولی سي. ددهٔ کتابتون یوازې ددهٔ د آپارتمان په بالکن کې د قفس په شان جوړه سوې الماری وه. هلته یو دانه معمولي میز له څوکۍ سره وو او د دیوال الماری ورباندې وه. زه له هغو کسانو څخه خبر نهٔ یم چې اسناد ئې له ځان سره وړي دي. خیبر د یوهٔ مبارز او سیاسي شخصیت په توګه – پرته له دې چې دا خبره وکړي – تقریباً تل د پولیسو پلمو جوړولو او د پولیسو له پلوه د نیول کېدلو له اړخه له هر لحاظه چمتو وو.

سیاسنګ: د خیبر لیکنې او ژباړې؟

زیارمل: د خیبر نهٔ کوم لیک او نهٔ ئې کومه لیکنه په لاس کې لرم. د کابل مجلې له کلکسیونونو څخه چې په کې د خیبر لیکنې او ژباړې خپرې سوې دي – تر هغهٔ ځایه چې راته شوني وه- فوتوکاپۍ اخیستې او هم مې د پرچم له کلکسیون څخه کاپۍ اخیستې دي. د خیبر هغه مشهور عکس چې په جنازې کې ئې هم ورڅخه کار واخېستل سو ما د هډې په فارم کې واخیست، زه خیبر، بارق او لائیق په ګډه هلته تللي وو. داعکس مې په داسې حالت کې اخیستی چې خبر نهٔ دی. زما ورور ثنأ الله سنا چې له سویس څخه کابل ته راغلی وو د همدغهٔ عکس یوه نسخه راته راوړه چې د خیبر په لاسلیک ښکلی سوی دی. دا عکس زما ورور راته راکړ. دغه لاسلیک سوی عکس راته ډېر ارزښت لري.

سره له دې چې خیبر پیسو ته اړتیا درلوده خو په ژباړو کې د کار طریقه ئې داسې نهٔ وه چې "هر څه ئې مخې ته راتلل هغه به ئې کول"، د هغهٔ پاملرنه د هېواد د ځوان نسل د معلوماتو د ډېرولو لپاره په ځانګړې توګه د مطبوعاتو پښتنو لوستونکو ته اوښتې وه، ځکه هغوی - د پاړسي ژبو برخلاف - د مطالعې لپاره سرچینې او مأخذ نهٔ درلودل.

د هغهٔ یوه ژباړه د لیډرشیپ Leadership له کتاب څخه د سیاسي او تشکیلاتي ځانګړتیاوو او ملزوماتو په هکله ده او یو شمېر برخې ئې د "کابل" په مجلې کې پښتو ته ژباړلې دي. د هغهٔ یو داستان هم د کابل په مجلې کې خپور سوی وو. له امریکايي توریستې مېرمنې سره د مناظرې قصه د پښتونستان د موضوع په هکله ده. د خیبر د

ژباړو د مضامینو تومنه ادبیات، علم، تأریخ، نړۍ وال جوړښتونه، فلسفه، علمي داستانونه Science Fictions او دې ورته نور دي.

سیاسنګ: د مجددي په هکله، له سلیمان لایق څخه د خیبر خپګان صحیح دی یا غلط؟

زیارمل: خیبر، له هغې ورځې وروسته کله چې د لایق له خور سره ئې وادهٔ وسو او د صبغت الله مجددي باجه سو، بیا ئې د ترور کېدلو تر ورځې پورې له مجددي سره مستقیمه اړیکه نهٔ درلوده. لایق هم تر کلونو کلونو پورې له صبغت الله سره اړیکې قطع کړې ول. پلرنۍ کورنۍ ئې یعنی د – میاګل جان مجددي کورنۍ – هغه مهال د اړیکو د انقطاع په دې کړۍ کې شامله سوه چې د مجددي مېرمنه «د لایق خور» وفات سوه. د مجددي کورنۍ په جلا فوتي اعلان کې ان د لایق د پلار نوم هم حذف کړ او بیا د لایق پلار او میر اکبر زما د پلار، اکاګانو او وروڼو په ګډون په ګډه د باغبان باشي په جومات کې جلا فاتحه واخېستله.

خیبر د لایق درناوی او حرمت لکه د یوهٔ ورور په شان کاوهٔ، خو له سیاسي اړخه ئې ورسره کومه استثنایي اړیکه نهٔ درلودله. البته دا ډول اړیکه د لایق له لارې له ګیلو او شکایتونو سره ملګرې وه. د لایق عمده ګیلې چې نهٔ ئې پټولې دا وې چې ما په سیاست کې د میر اکبر په شان تجربه نهٔ درلوده، ما په میر اکبر اعتماد وکړ خو میر اکبر موږ په تېرلو لاسونو او غاړو د کارمل لطف او کرم ته خوشې کړو.

د لایق اعتراض تل دا وو چې خیبر، کارمل پېژاندهٔ، خو د کارمل د شخصیت په اصلي درک او پوهېدنې کې ئې پر ما اعتماد ونهٔ کړ تر څو د کارمل پر وړاندې مې د آزادۍ احساس درلود او په هغهٔ څه مې عمل کړی وای چې لازم ول.

د لایق د شکایت د رفع کولو لپاره مې یو ځل دواړو ته په خپل کور کې بلنه ورکړه او د خیبر په حضور کې مې له لایق څخه وغوښتل چې خپل اعتراضات او شکایات مستقیماً په خپله استاد ته ووایي او له نورو سره مطرح کول دې بس کړي چې د تشویش او اندېښنې سبب ګرځي. د خبرو په ترڅ کې روښانه سوه چې لایق له دوستانه توقعاتو پرته بله کومه جدي خبره نهٔ درلودله. له هغهٔ وروسته، لایق تر ډېره پورې ما ته د خیبر په هکله کوم شکایت مطرح نهٔ کړ. البته لایق یوازېنی څوک وو چې د ګوند او د دوستانو په ټولو کړیو کې ئې له میر اکبر سره ټوکې ټکالې کولې. خیبر د لایق دا ټوکې جدي نهٔ نیولې، نهٔ خوابدی کېدهٔ او غبرګون ئې نهٔ ښودهٔ بلکه له لایق سره به ئې یو ځای خندل.

سیاسنګ: د محمد داؤود د ژوندون د وروستیو لسو ورځو په لړ کې، د خیبر د وژل کېدلو ګزارش د انیس او اصلاح د ورځپاڼو د خبرونو په سیاسي برخو یا په جنایي برخو کې رانغی. ولې؟

زیارمل: په رښتیا هم چې خپور نهٔ سو. د همدغو څو ورځو په اوږدو کې داؤود خان د عدلیې وزیر وفي الله سمیعي ته وظیفه سپارلې وه چې د خیبر پر قبر باندې د ورکړل سوېو بیانیو له منځه دې هغه موارد وپلټي او راټول کړي چې پر بنسټ ئې وکولای سي په قانوني ډول د هغوی د نیول کېدلو او محکمې جواز صادر کړي. سمیعي د جزا د قانون په ژباړلې او انفاذ کې چې د مصر د قضايي نظام له مخې کاپي سوی وو، ونډه درلوده.

زما په نظر داسې ښکارېده لکه چې داؤود مغشوش وو او له ځان سره ئې دا خبره سنجوله چې: میر اکبر چې نهٔ د خلق او نهٔ د پرچم رهبروو، ولې ووژل سو؟ احتمالاً هماغسې چې د خرم ترور ئې د توطئې په توګه تشخیص کړی وو دا پېښه ئې هم د هماغهٔ ځنځیر یوه کړۍ ګڼله. ما ته هادي مکمل او څو تنو نورو وویل: داؤود خان د کابینې په غونډې کې ویلي ول چې د هغوی په منځ کې ئې بهترین شخص غوره او له منځه یووړ. مکمل ان د فوتي اعلان خپرېدل او په خپله میر اکبر ته د هغهٔ د درناوي په پار، په داسې بې سارو مراسمو د هغهٔ د جنازې د لېږد اجازه د داؤود له امر څخه ګڼي.

سیاسنګ: د جمهوریت د رژیم د مخابراتو وزیر کریم عطايي د (۲۰۰۹/۰۵/۲۱) د یوهٔ بربېښنا لیک په ترځ کې لیکلي دي: " د میر اکبر خیبر فوتي اعلان ډېر لنډ وو او یوازې یو ځل د راډیو د څپو له لارې خپور سو. له دې چې د هغهٔ وخت د جمعي ارتباط په وسایلو کې فوتي اعلانات یوازې د متوفی د کورنۍ او د ډېرو نږدې خپلوانو د نوم په یادولو سره منظورېدل، نو ډاډ لرم چې په دې مکر او چل ول کې به په راډیو کې دننه د پرچمیانو مهارت په ځانګړې توګه د محمود حبیبي لاس شامل وو."

زیارمل: د عطايي خبرې صحیح نهٔ دي. ډاکټر حبیبي هغه وخت د کابل ولایت له مقامه مستعفی سوی او کورناستی سوی وو. (لومړی هاشم صافي ئې ځای ناستی سو خو د هغهٔ له تبدیلۍ وروسته د ولایت مستوفي، په کفالت سره دنده پرمخ بیوله) د راډیو د کارمند امین افغان پور په وینا،په دې هکله یوازینۍ مانع د سیمه ییزو او قومي تخلصونو ایستل ول، څکه چې د خیبر په فوتي اعلان کې د نور محمد تره کي د نوم یادولو ستونزه جوړوله. راډیو کې د همدې اصل په پوهېدلو سره د نور محمد تره کي نوم نورمحمد ترقي ته تعدیل سو. (په نړۍ والو مطبوعاتو کې تر ډېرو وختونو کې ئې تره کي د "ترقي" په نوم یاداوهٔ.) له بل لوري، د خیبر فوتي اعلان نهٔ یوازې یو ځل بلکه څو ځله مکرر خپور سو.

سیاسنګ: آیا هغه مهال له قدوس غوربندي څخه د خیبر د وژل کېدلو په هکله پوښتنه ګروېږنه وسوه؟

زیارمل: په دې هکله اړینه دا وه چې د تحقیق له اصولو سره سم – که په رښتیا له اصولو سره سوي وای – نو ټولو هغو کسانو څخه باید استنطاق سوی وای چې له

غوربندي سره په اړیکه کې ول. د خیبر د ترور په هکله له غوربندي څخه تحقیق په دې منتفي دی چې دولت د مرغومې د میاشتې د شپږمې له بدلون وروسته د خپل لومړني گام په ترڅ کې د اسدالله امین، انجنیر ظریف، عبدالله امین او څو تنو نورو تر څنگ، عارف عالمیار د خیبر د ترور په تور اعدام کړل. له غوربندي څخه تحقیق یوازې گنگوسه ده.

سیاسنگ: آیا خیبر تل له غوربندي سره قدم وهلو ته وت؟
زیارمل: غوربندی په ځلونو ځلونو خیبر ته راتۀ. علت ئې دا وو چې نوموړی د دستگیر پنجشیري تر ریاست لاندې د گوندي کنترول او تفتیش د کمیسیون غړی وو. هغۀ به له خیبر سره مشورې او پوښتنې به ئې کولې چې پر کارمل باندې د تحقیق لړۍ ته پر دوام او هغۀ ته د جزا پر ټاکلو باندې ټینگار وکړي که نه؟

خیبر په دې باور وو چې په هغۀ پړاو کې کارمل ته سزا ورکول له یوې خوا گوندي وحدت ته ضربه ورکوي او له بل لوري – که دا ډول سزا کوم عقوبت هم رامنځته نۀ کړي – بیا هم د سزا تعمیلول به ستونزې را منځته کړي، له دې کبله باید له تره کي سره دې مشوره وسي ترڅو د تره کي له لارې د کارمل تر غوږونو ورسول سي چې د هغۀ نامطلوبه کارونه د گوند د وحدت پر خلاف تشخیص سوي او د ټولو په تاوان دي. کارمل دې دا تصور نۀ کوي چې له گوندي اصولو پورته یو فعال مایشاء دی.

کمیسیون پرېکړه وکړه چې د رسمي وروستۍ پرېکړې له اصدار مخکې دې، پنجشیری همدا ملاحظات د کارمل تر غوږونو ورسوي تر څو نور دغسې ورته مواردو ته لاس وانۀ چوي، پرته له هغې به کمیسیون مجبور سي چې دا موضوع رسماً سیاسي بیرو ته وړاندې کړي.

کارمل د لگېدلو تورنو له منلو څخه خپله اوړه سپکه کړه او پنجشیري ته ئې وویل: " دا د تره کي او امین گډه دسیسه ده. هغوی پښتانۀ دي او غواړي تاجیکان او غیر پښتانۀ بدنامه او له غورځنگ څخه طرد کړي. په ما پسې ستا وار را رسیږي. که موږ ددوی ددې گام مخه ونۀ نیسو، ډېر ژر به ټول غیر پښتانۀ تصفیه سي. میر اکبر هم په همدې لاره کې سرور یورش استعمالوي. تاسو باید هغه ته ځکه سزا ورکړئ چې د گوند منشي او د سیاسي بیرو پر غړې (اناهیتا- ژ) باندې ئې تور تړلی دی او غوښتي ئې دي د یوۀ انقلابي شخصیت ته تاوان ورسوي."

د خیبر د ترور په ورځې یوه مهمه خبره چې غوربندي راته وکړه په همدې پس منظر کې ریښه لري: " په داسې حساس وخت کې چې گوند له تره کي او کارمل څخه مأیوسه سوی وو او د ټولو د هیلو سترگې د استاد خوا ته وې، هغه ئې له صحنې حذف کړ."

ددې تور تر شا چې ګڼې " خیبر د غوربندي او د یا د هغهٔ په همکارۍ ترور سو" یو شمېر رازونه پراتهٔ دي. نن سبا څوک دا ربړه او زیار پر غاړه نهٔ اخلي چې د هغهٔ مهال د پېښو تګ لوری ول په ول خلاص کړي او په ډېر ځیر ئې و اروزي او په دقت ئې محاسبه کړي.

سیاسنګ: تاسو د خیبر ډېر نېږدې دوست واست؛ د دومره نېږدي والي په لرلو او ددومره پېژندنې له مخې چې تاسو ئې ورځخه درلوده او لرئ ئې، نهٔ باید له نورو څخه ګیله وکړئ او ووایاست: " نن سبا څوک دا ربړه او زیار پر غاړه نهٔ اخلي چې د هغهٔ مهال د پېښو تګ لوری ول په ول خلاص کړي او په ډېر ځیر ئې و اروزي او په دقت ئې محاسبه کړي." تاسو په تېرو څلور څلویښت کلونو کې کولی سول په دې لارې کې پرېمانه پلټنیزې لاس ته راوړنې ولرئ. البته زه له تاسو څخه مننډوی یم چې له ما سره مرسته کوئ.

د پرچم د جناح یو شمېر مشران وایي چې: د ګوند د بریالیتوب په لومړیو ورځو کې، حفیظ الله امین، د عیسی نورزاد او رحیم په نومونو د خپلو دوه وو تنو یارانو په مرستې چې - د محمد داؤود د جمهوریت د استخباراتو د اداري کارمندان ول - یو شمېر اسنادو ته لاسرسی مومي او ځرګندوي چې بارق، غوربندي او لایق له "ملي مصؤونیت" سره پټې اړیکې لرل. حفیظ الله امین دا درې واړه ورغواړي او ورته وایي: " ددغو محرمو اسنادونو پر بنسټ تاسو د پخواني رژیم جاسوسان واست او د ډېرو بدو ګوندي «حزبي» سزاګانو لیاقت لرئ. زه کولای سم ستاسو پت / آبرو ببېرته راواخلم او رسوا مو نهٔ کړم خو په یوهٔ شرط: تر هغو چې ژوندي یاست زما د فرمان تابع اوسئ او ما ته کار وکړئ." سمه ده که نه؟

زیارمل: عیسی په "ملي مصؤونیت" کې دنده نهٔ درلوده. هغه د قدیر نورستاني خپلوان وو او د ترافیکو په ریاست کې د کار پر مهال ورسره د راز شریک او د هغې دورې د بډو/ رشوت په اخېستلو کې هملاسی وو. لومړی د کابل د پولیسو سرمأمور سو او په عین وخت کې ئې د دهمزنګ د محبس سرپرستي هم پر غاړه درلوده.

رحیم د کورنیو چارو د وزارت د استخباراتو په مدیریت کې چې " د ملي امنیت د عمومي مدیریت" په نوم یادېدهٔ، د نیولو/ ګرفتاریو په بهیر کې فعال وو. وروسته ئې د مسلکي پولیسو د مستنطق په توګه کار کاوهٔ او یوازې ئې د اضافي اخلاص په ښودلو سره غوښتل په نوي نظام کې خپل موقعیت تثبیت کړي.

اصله قصه ډېره اوږده جرړه لري. دا ماجرا – د خلقي او پرچمي په ګډون – د اشخاصو له کورونو څخه په ثبت سویو کسیټونو پورې اړه لري. د امین او کارمل تر منځ له تاوتریخوالي وروسته دغه صوتي اسناد د امین لاس ته ورغلل.

د قضیې بشپړه لړۍ –د کورنیو چارو د وزیر نور «احمد نور» د کار له "پسخانې" څخه د کسیټونو له ایستلو بیا د امین لاس ته تر لوېدلو پورې ماته معلومه ده. د کسیټونو وروستی برخلیک ډراماتیک دی، ځکه چې د همدغو اسنادونو د نتیجې په راڅرګندېدلو سره کارمل ومنله چې له خپلو نېږدې ملګرو سره به له هېواده په دې شرط دباندې وځي چې د کسیټونو محتوی افشاء نهٔ سي. د کورنیو چارو په وزارت کې د دغو کسټونو د ثبتولو داستان بیا د غوایي له پېښې تر راوروستو پورې ډېر اوږد دی. د پرچمیانو له منځه یوازې او یوازې کشتمند په خپل کتاب کې ورڅخه یادونه کړې ده خو په غرور سره وایي چې په هغو کسټونو کې کومه نوم بد کوونکې محتوی پرته نهٔ وه!

هغه مهال چې زه د اطلاعاتو او کلتور وزارت اداري رئیس وم، له سیاسي بیرو څخه د لایق او بارق د استعفی له اعلان وروسته مې یو شمېر کارونه د وزیر د لاسلیک د اخېستلو لپاره بارق ته وړل. یوه ورځ ئې پرته له دې چې ما ورڅخه پوښتنه کړې وې د خپلې استعفی موضوع راسره مطرح کړه او وئې ویل: موږ ته ئې د کارمل او د اناهیتا د غړونو کسیټونه را واورول چې په اورېدلو ئې د شرم خولې راباندې وبهېدلې، له دې کبله ځان اخلاقاً مکلف بولم چې استعفی ورکړم چې ولې مې د کارمل تر مشرتابهٔ لاندې کار کړی دی. (بارق د کسټونو د له شرمه ډک قبیح محتویات په ژبې راوړل، له دې چې زه "زیارمل" د هغو له لیکلو څخه د شرم احساس کوم نو غوره بولم چې له ویلو څخه ئې تېر سم.)

ما له لایق څخه دغه تفصیل نهٔ دی اورېدلی، په اګسا کې لایق ته د ناموسي ګواښ له ورکولو وروسته چې اتفاقاً زه هم هماغلته تر تحقیق لاندې وم، ومې لیدل چې دا خبرې راوړل سوې.

زما په نظر، لایق د غوربندي او بارق په شان، امین او تره کي ته، په ځانګړې توګه تره کي ته ژمنه نهٔ وه کړې، له دې کبله ونیول سو، زندان ته وغورځول سو او ګوند ته د علني خیانت په تور اخراج او د محکمې د پرېکړې پر بنسټ ئې د اعدام حکم صادر سوی وو. هغه د مرغومي له شپږمې وروسته په عمومي عفو کې له زندانه خوشې سو.

یوه شپه امین، د اسلم وطنجار له لارې چې نوی د کورنیو چارو د وزیر په توګه مقرر سوی وو، وغوښتلم او ددې منت او احسان د یادولو په لړ کې چې زه ئې د ښاروالۍ د لومړي مرستیال په توګه مقرر کړی وم ټینګار درلود چې ما پوه کړي چې زما د تقرر یوازینی عامل دی په خپله وو نهٔ بل څوک. له نورو خبرو ئې تېرېږم خو یوه مهمه خبره ئې راته وکړه: موږ دېته حاضر یو چې یوازې پر هغو پرچمیانو اعتماد وکړو چې د ملګري غوربندي او ملګري بارق شفیعي په شان په زړورتیا د کارمل تر رهبرۍ لاندې ډلې څخه ووځي او له څون او څار پرته د ملګري تره کي مشرتابهٔ ته غاړه کښېږدي. په دې ډله کې ئې لایق رانهٔ ووست.

هغه څه چې تاسو راوړي دي په ټیټې کچې کې ګنګوسې دي. ددغو دواړو کسانو د مأموریت له مخې پوه سئ: له دې چې هغوی ئې د ملي مصؤونیت غړي معرفي کړي دي، ټول داستان تقلبي دی. دا صحیح ده چې امین له قدیر او عیسی سره اړیکې جوړې کړې وې او د عیسی له حسن نیت څخه په ګټې اخیستنې ئې د امین یو تن اعتمادي د کورنیو چارو د وزارت په استخباراتو کې مقرر کړ. نوموړی یو ساتنمن وو چې وروسته د ژاندارم او پولیسو د قوماندانۍ په چوکاټ کې د پرچمي کدرونو د نیولو چارو ته وګومارل سو او په پای کې د تره کي له قتل وروسته د امین له لوري د کام په ریاست کې (چې پخوا د اګسا په نوم یادېده) مقرر سو. د نور احمد نور په دوران کې چې د لومړي ځل لپاره ئې خپله پښه د کورنیو چارو په وزارت کې کښېښودله، صمد ازهر نوموړی ساتنمن راته راوپېژنده، ځکه چې ازهر د هغهٔ په هکله د نوي دولت په رهبرۍ کې او د اعتماد تر دې کچې پورته راتللو باندې ئې اندېښنه درلوده.

سیاسنګ: ولې د خلق او د پرچم د دوه وو جناح ګانو مشرانو د خیبر د وژل کېدلو پلټنه ونهٔ کړه؟

زیارمل: تره کي او کارمل چې ونهٔ سوای کولی پلټنه وکړي، دلیل ئې روښانه دی: دوی پوهېدل چې دا قضیه د برېښنا/ برق لوڅ مزی دی او نه باید ورته لاس وروړل سي. دا خبره باید ډېره د پوښتنې وړ وي چې د شوروي په ټولو چاپي، تصویري او راډیویي ادبیاتو کې د خیبر څرک نهٔ سته. یوازې له نورو سرچینو څخه په حواله، تاسو له سره تر پایه داسې سند نهٔ سئ موندلی چې شوروي دولت دې په دې هکله د افغانستان د خلق له ډیموکراټیک ګوند سره ان تشه همدردي ښودلې وي او یا ئې د خیبر د بایو ګرافۍ د خپرېدلو په هکله کوم ګام اوچت کړی وي. حال دا چې د خیبر وروستنۍ دنده د پرچم د جریدې مدیریت وو او د مسکو په پلوي ئې خپروني کولې.

د شوروي اتحاد په مطبوعاتو کې د خیبر د ترور د خبر خپرېدل هغسې رنګ او خوند نهٔ درلود لکه چې باید سوي وای، بلکه د ورځپاڼو او غیرمهمونو ټلویزیونونو په خبرونو او د ورځپاڼو په فرعي ستونونو کې خپور سو. د هغهٔ معمول بر خلاف چې که مسکو پلوي کیڼ لاسي رهبران نیول کېدل، یا محاکمه کېدل او یا ترور کېدل نو داسې خبره به د شوروي د کمونیست ګوند او ددې ګوند د پیروو ګوندونو په اعلامیه کې راتلله، خو د میر اکبر په هکله داسې کار ونهٔ سو. د غوایي له اوومې او د تره کي د حکومت له په رسمیت پېژندلو وروسته هم، د خیبر د ترور په هکله د شوروي مطبوعات د پوښتنې وړ سکوت سره مخامخ دي او دا نهٔ سي کېدای عادي وضع وګڼل سي. ښایي د هغهٔ مهال ځوانانو لپاره چې په شوروي کې په تحصیل بوخت ول د مطبوعاتو دا ډول سکوت د پوښتنې او تعجب وړ وي.

د شوروي کمونیست گوند او د شوروي استخباراتي مقامات هغه مهال د میر اکبر له نوم څخه د ابزاري استفادې په فکر کې سول چې غوښتل ئې – په خلقي او پرچمي منشعب سوی گوند یو ځل بیا متحد – او په خپل لاسپوڅی حکومت کې ئې سره راټول کړي چې له امین ضد خلقیانو (سروري، وطنجار، گلاب زوي او نورو) او په افغانستان کې د کارمل په مشرۍ په اروپايي هېوادونو کې له مېشتو پرچمیانو څخه جوړ وو. ددې کار لپاره ئې د چهلستون په ماڼۍ کې په لومړۍ غونډه کې د خطابې د مېز تر شا د افغانستان د نقشې په دواړو خواوو کې د پوست کارت په اندازې کوچني عکسونه ئې د غونډې د تالار پر دیوال موښلي ول. دا لومړی ځل وو چې د میر اکبر عکس له سانسور څخه ووت خو بیا د گوند د واکمنۍ تر پایه پورې په بشپړ ډول تحریم سو ان تر هغۀ ځایه چې د گوند یو شمېر غړي په دې خاطر گوندي محاکمې ته راوستل سول چې د کار د خونو پر دیوال یا د کار د مېز پر سر ئې د خیبر عکس ایښودلی وو. له دې وروسته بیا تر پایه پورې هېڅ چا، نور محمد تره کی د کنگرې د منتخب رهبر او خیبر د گوند یو له بنسټ ایښودونکو او د یوۀ شهید رهبر په توگه یاد نۀ کړ.

هغه مهال د چهلستون ماڼۍ د مارشال سکالوف د بولنې او د څلویښتم لښکر د بولنې د مرکز په توگه وو. ان د کارمل پهره داران شوروي سرتېري ول ؛ هلته له الف تر یا پورې ټول تگ راتگونه، مراسم او غونډې د KGB د مأمورینو له پلوه سمبال او اداره کېدلې. هماغسې چې د داؤود د دولت د پرځولو او د غوايي د پاڅون په خاطر د انگیزې د رامنځته کولو لپاره د میر اکبر له ترور څخه استفاده وسوه په هماغۀ ډول، چې د انشعاب له لسو کالو وروسته د شوروي تر فشار لاندې د گوند دواړه جناح گاني، بشپړ سِري او محرم وحدت ته اړ ایستل سوې، د تره کي او خیبر له عکسونو څخه هم د نوي رژیم د غونډې په ډیکور کې، له اقتدار څخه د پرځول سویو خلقیانو او د شوروي د اردو په مټ او زور د راوستل سویو پرچمیانو د وحدت د سمبول په توگه استفاده سوه چې ورپسې د گوندي واکمنۍ تر پایه پورې ئې چا یادونه ونۀ کړه.

د شوروي اتحاد د هغۀ وخت په جمعي رسنیو کې د مطبوعاتو د غبرگون په هکله مې له وارث وزیري څخه چې هغه مهال ئې په شوروي کې د خپلې دکتورا د تېزیس په هکله څېړنې کولې، پوښتنه وکړه. هغۀ وویل: د خیبر د ترور له خبر پرته او هغه هم د نړۍ والو مطبوعاتو د گزارش له قوله، د یوۀ مسکو پلوي گوند د سیاسي شخصیت د ترور په اړه د همدردۍ د څرگندولو هېڅ څرک نۀ ښکارېدۀ. د شوروي اتحاد له پرځېدلو وروسته هم د مطبوعاتو او رسنیو په وضع کې کوم بدلون رانغی.

ان مستقلو ژورنالیستانو چې د باریس یلڅین Boris Yeltsin پرمهال ئې نسبتاً آزاد چاپېرل کې کاوۀ، د خیبر د ترور قضیه چې د شوروي اتحاد په ناتارگرو اقداماتو کې ئې جرړه درلوده ونۀ سپړله؛ ځکه نۀ یوازې دا چې د KGB د هماغۀ استخباراتي نفوذ

تداوم حاصل سو بلکه لا پیاوړی هم سو. دا دی اوس چې ولادیمیر پوتین Vladimir Putin د دولت مشري پر غاړه لري بیا هم د هغهٔ د شل کلنې واکمنۍ ناګارتیا او بې تفاوتي د همدې خبرې څرګندویه ده.

په هېواد کې دننه، د تره کي، امین، کارمل او د نجیب په حکومتونو کې هېڅ چا داسې ګام اوچت نهٔ کړ چې د میر اکبر خیبر د قتل د حقایقو ژور تل ته د رسېدلو لپاره د تحقیق یو هیأت وټاکي. ان د مرغومي له شپږمې وروسته چې شورویانو په ټول قوت، ځواک، او سیاسي، نظامي، عدلي او پولیسي امکاناتو سره په افغانستان کې حضور وموند چا د خرم د ترور د پېښې د څرک لګولو لپاره چې د شوروي اتحاد دوست او د پلان جوړونې په ډګر کې په شوروي کې یو روزل سوی متخصص وو، ګام اوچت نهٔ کړ.

د میر اکبر د کورنۍ پر وړاندې د ګوند د مشرانو – که خلقي وو که پرچمي – د واکمنۍ او له واکمنۍ وروسته نامهربانۍ څرګندوي چې دا ډول چلند تصادفي نهٔ دی. په دې هکله یوازینۍ استثناء د دستګیر پنجشیر اقدام دی؛ کله چې پنجشیری د ټولګټو/ فواید عامې د مقام وزیر وو، تره کي ته ئې په مکرویانو کې د خیبر د کورنۍ لپاره د یوې سرپناه وړاندیز د منظورۍ لپاره وړاندې کړ چې په پای کې ئې د پینځو خونو یو آپارتمان ورته ورکړل سو. نهٔ پوهېږم چې د خیبر ورثې ته د پینځو زرو افغانیو د مدد معاش ټاکل هم د پنجشیري وړاندیز وو یا د تره کي روا داري یا سخاوت؛ خو د کارمل د واکمنۍ پر مهال کله چې بسم الله خیبر د نورو عملي ستونزو او د مېرمن خیبر د درملو د مصارفو د زیاتېدلو له کبله د ګوند منشي نور احمد نور ته مراجعه وکړه او له هغهٔ څخه ئې د مدد معاش د ډېرېدو غوښتنه وکړه؛ نهٔ یوازې دا چې دا وړاندیز ئې رد سو بلکه مدد معاش هم ورباندې قطع سو او دا کورنۍ یوازې او یوازې د بسم الله خیبر د معاش په عاید متکي پاتې سوه.

له همدغهٔ آپارتمان پرته، د خیبر د ورثې په حق کې د ګوند او دولت له پلوه کومه بله پېرزوینه او عنایت نهٔ دی تر سره سوی. خو د مېرمن خیبر د لوړ همت پر مټ د خیبر بچیانو – دواړو هلکانو او نجونو- وکولای سول خپل لوړ تحصیلات سرته ورسوي او په خپلو پښو ودرېږي. په دې هکله له دوی سره کومه ځانګړې مرسته نه ده سوې او نهٔ کوم خاص امتیاز ورکړل سوی دی. هغوی د خپل لیاقت او کفایت پر مټ په کار ګومارل کېدل. یوازینۍ استثناء توریالی خیبر وو. هغه زما په منځګړتوب او د باندنیو چارو له وزیر عبدالوکیل سره له حضوري پېژندنې وروسته د خپلې تخصصي رشتې – نړۍ والو اړیکو – پر بنسټ د باندنیو چارو په وزارت کې مقرر سو چې یوازې یو باندنۍ مأموریت ئې د سفارت د سکرتر په توګه په هنګري کې تر سره کړ چې د واکمنۍ تر پرځېدنې پورې ئې دوام درلود او بیا ئې سویتزرلند ته پناه یوړه.

د ګوند د واکمنۍ پرمهال، په ټولو ګوندي سازمانونو، دولتي اداراتو او همدا شان د وسلوال ځواک په بېلابېلو پوځي قطعاتو کې د سیاسي تنویر خونې جوړې سوې او په هغو کې د تأریخي اتلانو تر څنګ، د ګوند او د وسلوال ځواک شهیدان معرفي سول. په هېڅ یوې خونې کې د خیبر عکس ونهٔ لیدل سو. د کارمل د مشرتابهٔ په دوران کې په شخصي اتاقونو او د کار د میزونو پر سر د خیبر د عکس ایښودل د سزا وړ "جرم" ګڼل کېدهٔ.

نور محمد عطا زي په شوروي اتحاد کې د لیلي په خپلې خونې کې ئې د خیبر یو عکس د خپل کار د میز پر سر ایښی وو، نوموړی په ګوندي محکمه کې په جزا محکوم سو. البته د همدغهٔ دولت او ګوند د واکمنۍ تر پایه پورې، خیبر ته د لېوالتیا او درناوي څرګندول ول چې د نور محمد عطازي پر برخلیک باندې ئې سیوری واچاوهٔ او دا یوازینۍ بېلګه نهٔ ده.

تاسو اوس هم کولای سئ د افغانستان د ډاګ د پُست د ټکټونو په ټولګې یا کلکسیون کې وګورئ چې د افغانستان د خلق ډیموکراټیک ګوند د واکمنۍ پر مهال د لړم د دریمې د پېښې په مناسبت، له لغمان څخه د عبدالرحمن او له هرات څخه د قادر په نومونو دوه وو تنو ځوانانو، چې د تورې ارتجاع له پلوه "لینچ" [د مرګ تر پولې شکنجه کېدل] سوی او وژل سوي ول، د ډاګ پُستي ټکټونه چاپ سول خو د خیبر په نوم، چې د هماغهٔ عبدالرحمن د مزار پر سر ئې وینا وړاندې کړې وه او د هغهٔ له غمځپلې کورنۍ سره ئې غمشریکي کړې وه، د قدر پېژندنې هېڅ کومه نښه نهٔ سته. ان د خیبر مقبره د هغهٔ د کورنۍ په شخصي مصرف جوړه او ترمیم سوې ده.

سیاسنګ: آیا شورویانو په دې هکله د هر ګام د اوچتولو مخه نیوله، ان د نجیب الله د واکمنۍ پر مهال؟

زیارمل: د نجیب الله د واکمنۍ پر مهال دا امکان عملاً له منځه لاړ لومړی د تېر سوي وخت د واټن له کبله او دوهم د شوروي قطعاتو د تشې یا انخلا د ډکولو لپاره چمتووالی او د مستقلانه دفاع د سمبالولو د چارو لپاره چمتو والی. که نجیب الله دغهٔ کار ته لاس اچولی وای، هغه توازن چې شورویانو د خلقیانو او پرچمیانو تر منځ رامنځته کړی وو له منځه وړل کېدهٔ او کارملیستان ئې راپارول. هغه مهال به هم دا پوښتنه راپورته سوې وای: آیا شورویان دې د هَول او ببرې سل کارونه پرېږدي او د خیبر د ترور د قضیې تحقیق ته دې وروګرځي او خپله لمنه په خپله په خپل سر راپورته کړي؟ زه دا خبره تأییدوم چې شورویانو په دې اړه د هر ډول ګام اوچتولو مخه نیوله.

سیاسنګ: د خیبر پر وړاندې د نجیب فکر؟

زیارمل: نجیب الله په کارتهٔ پروان کې د خپل پلار په کرایي کور کې کلونه کلونه ژوند کړی وو. ښایي نوموړی د حبیبې د لیسې په وروستیو ټولګیو یا د طب د پوهنځي په لومړي

کال کې وو چې د سلیمان لایق ګاونډی سو. تر دې ځایه پورې میر اکبر هم په بېلابېلو کراېي کورونو کې ژوند کاوۀ او ښاروالۍ ته ئې د سرپناه موندنې لپاره د کور جوړونې په پروژې کې د یوۀ کور ورانديز ليک وړاندې کړی وو البته د نورو ګډو دوستانو په منځ کې له حسن شرق نیولې تر لایق، یعقوب کمک، هادي مکمل او نورو..... پورې

له دې چې میر اکبر د ښاروالۍ د هغۀ وخت د وضع سویو شرایطو پر بنسټ د کور د جوړولو لپاره د پخو خښتو د کارولو او د عصري تشناب د جوړولو لپاره مالي توان نۀ درلود نو له دې کبله ئې ددې کور نیماېي د لایق په یوۀ آشنا یا خپلوان چې سوداګر وو و پلورۀ. خیبر، له لاس ته راغلو پیسو څخه د کور نقشه په داسې ډول ډیزاین کړه چې له دباندې د یوۀ یو ګړي یا واحد کور په شان ښکارېدۀ خو دوه دروازې ئې درلودلې. په دې توګه خیبر، لایق او ډاکټر نجیب په نېږدې واټن کې سره ژوند کاوۀ.

د اختر محمد خان په نوم د ډاکټر نجیب پلار چې د عمومي ترانسپورت یو مأمور وو، د داؤود خان د مصلحت پر بنسټ د ترانسپورت د ریاست د استازي په توګه په پېښور کې دنده تر سره کوله او په پېښور کې د داؤود یو له معتمدینو څخه وو. تر څنګ ئې له پښتنو سیاسي فعالانو سره ددوستۍ ښې اړیکې جوړې کړې وې، چې ښاېي د هغۀ د دندو یوه برخه به وه. نجیب چې په ژمنیو رخصتیو کې د خپل مور او پلار د لیدلو لپاره پېښور ته راتۀ، د پښتونستان په مسئله کې ئې له لایق سره په ګډه یو دریځ نیولی وو. لایق ددې سبب سو چې د نجیب او میر اکبر تر منځ آشناېي رامنځته سي. ما هغه په کارتۀ پروان کې د میر اکبر په کور کې د وزیر محمد ایوب خان له زوی، حکیم ایوبي سره چې د اکرم عثمان ټولګیوال وو په ځلونو لیدلی وو.

نجیب د ډیموکراټیک ګوند د غړیتوب له تر لاسه کولو وروسته په پوهنتون کې یو له مهمو کدرونو او د محصلینو په لاریونونو کې د ځوانو ویناوالو په منځ کې یو وینا وال سو. هغه چې هډوره او چاغه تنه درلودله، او د سیالو محصلینو په اخ و ډب کې عمدتاً د محصلو نجونو او د ګوند د غړو مدافع وو، د کارمل د پاملرنې وړ وګرځېد. له دې چې نجیب د لایق او د خیبر د معرفت پر بنسټ ګوند ته معرفي سوی وو، کارمل په دې لټه کې سو چې هغه ځانته جذب او نېږدې کړي.

نجیب له ټولو سره د حسنه اړیکو په ساتلو، خپل استقلالیت وساتۀ او د ضعیفو کسانو په شان په دې لټه کې نۀ سو چې پر بل چا باندې د ډډې لګولو په مرستې دې په ګوند کې پرمختګ وکړي.  هغه د خپل پلار په کور کې له پښتنو کدرونو او فعالینو سره د پېژندنې پر بنسټ، د هغو کسانو لپاره د سیاسي ادبي فعالینو د راټولیدلو په آدرس بدل سوی وو چې کابل ته د بېلا بېلو موخو لپاره راتلل، د پرچم د جناح له مشرانو سره د هغوی د کتنې لارې چارې د ډاکټر نجیب په مرستې او همکارۍ هوارېدلې.

میر اکبر راته د نجیب په کور کې له افضل بنګښ سره د کتنې په هکله ووېل: نجیب یوهٔ ګوندي ملګري ته ویلي ول: کله چې ملګري خیبر په خپل استدلال سره د نشنل عوامي پارټۍ او بهوټو تر منځ بنګښ په نوساني دریځونو قانع کړ، ما ته د ویاړ احساس را پیدا سو.

کله چې کارمل د "خیبر د فرکسیون" اصطلاح د خیبر د تضعیف په موخې جوړه کړله چې د یوهٔ احتمالي سیال په توګه ئې کولای سوای کارمل ته چلنج ورکړي، د نجیب نوم ئې هم د خپلو محرمانو په ترڅ کې یاداوهٔ او هدایت به ئې ورکاوهٔ چې نجیب باید د خیبر له څنګه لېرې سي.

د "خیبر فرکسیون" خبره به په بېلابېلو وختونو کې د ګوند بېلابېلو غړو ته تبلیغ کېدله. دلته موخه دا وه چې کدرونه د همدې نوم د برچسپ په ګواښلو د خیبر له څنګه لېرې کړي. البته کارمل دا کار مستقیماً نهٔ کاوهٔ، بلکه تر ډېره ئې د وکیل، امتیاز حسن او څو تنو نورو پوسیو "ابله ګانو" په وسیلې چې کارمل او د کارمل کورنۍ ته ئې له ړندې اخلاصمندۍ بل څه نهٔ درلودل تر سره کول.

په نجیب باندې بشپړ اعتماد تر هغو پورې تر لاسه نهٔ سو تر څو چې د " خیبر د فرکسیون" تور ورپورې نښتی وو. نجیب دومره ساده نهٔ وو چې ددهٔ او د هغهٔ د لاس آله وګرځي او په ړندو سترګو ئې پیروي وکړي. هغهٔ خپل سیاسي دریځ دومره ټینګ کړ او په ګوند کې ئې د پرمختګ لپاره داسې لاره پرانیستله چې د ګوندي غړو «پرچمیانو» په کنفرانس کې په طبیعي توګې سره د مرکزي کمیټې په غړیتوب ومنل سو.

البته محمود بریالي، ثریا پرلیکا، خلیل زمر، نظام الدین تهذیب، فدا محمد دهنشین او نورو، د نجیب او د یورش ارتقاء خیبر ته د یو ډول امتیاز د ورکړې په معنی تفسیروله.

نجیب د څرګندو ملاحظاتو په ساتلو سره د خیبر او کارمل تر منځ واټن د اندېښنې وړ ګڼهٔ، ځکه نجیب پوهېدهٔ چې د دوهم تر څنګ د لومړي له شتون پرته، د کارمل د ځان غوښتنې کنترولول شونې نهٔ ښکاري. د کارمل د دا ډول وحدت ماتوونکو خبرو پروړاندې د نجیب د دا ډول تفکر جرړې په یو ډول احتیاط کې پرتې دي چې - د اناهیتا په کور کې - د ګوند د درې تنو برجسته غړو په حضور کې - چې د دستګیر پنجشیري په مشرۍ د ګوندي کنترول او تفتیش د کمیټې مخې ته ئې د شهادت ورکولو پر مهال وکړې، د نجیب دغه ډول احتیاط منعکسوي.

د غوایي د اوومې د لومړیو میاشتو د پېښو په لړ کې، ډاکټر نجیب چې له خپل دریځ څخه په اصولي استفادې سره د کابل ښار د ګوندي منشي په توګه ټاکل سوی وو او دې ته په کتنې چې په غیر عادي توګه د ګوند غړیتوب ته راغلی وو، د کارملیستانو ددې شعار په پلمې چې " تره کي او امین، دولت غصب کړی او باید ګوند راخپل کړو" نجیب

د تره کي او امین تر شک لاندې راغی او د کارمل د کورني حریم (اناهیتا، نور، بریالي، وکیل او په خپله کارمل) له کړۍ دباندې د یوازېنۍ ګوندي کدر په توګه د سفارت په دندې ایران ته واستول سو.

زما مؤثقو معلوماتو ثابته کړه چې تره کي او امین، له پښتنو فعالینو سره د نجیب د پراخې پېژندنې او سوابقو پربنسټ، نجیب ئې لومړی په اسلام آباد کې وټاکۀ، خو له دې چې بریالي په ایران کې د سفارت دنده ونۀ منله هغۀ ئې اسلام اباد او نجیب ئې تهران ته ولېږۀ.

ډاکټر نجیب یوه ورځ راته د کورنیو چارو په وزارت کې وویل: له تره کي مې هیله وکړه چې سفارت ته زما له لېږلو څخه صرف نظر وکړي او همدلته دې په خپل دفتر کې راته کومه دنده راکړي چې ګوند او دولت ته خدمت وکړم.

د تهران په سفارت کې د نجیب د تقرر له قطعي کېدلو وروسته، نجیب راڅخه یوه غوښتنه وکړه چې د ایران د سفارت لپاره دې ورته یو د ډاډ وړ موټر وان وروپېژنم. ما یو موټروان ورته معرفي کړ چې د پنجشیر وو؛ دی د کورنیو چارو د وزیر موټر وان وو او د کورنیو چارو د وزیر فیض محمد خان له دوران څخه را په دېخوا مې پېژاندۀ. البته چې نوموړی د فیض محمد د وزارت له دوران مخکې هم د همدې وزارت موټر وان وو او هېڅ وزیر نۀ وو بدل کړی. ډاکټر نجیب ومنله او د خپل جمهوري ریاست تر وروستۍ ورځې پورې ئې له ځان سره وساتۀ.

له څو تنو مشترکو دوستانو پرته، ما او نجیب ډېر تګ راتګ او اړیکي نۀ لرل. نجیب مې په لومړیو کې د لایق په کور کې له میر اکبر او بیا مې په مکروریانو کې د ډاکټر فاروق د پلار په کور کې لیدلی وو.

په هغو شپو ورځو کې چې پرچمیان د تره کي او امین تر فشار لاندې راغلل، نجیب به له بریالي او وکیل سره یو ځای  د کورنیو چارو د وزیر نور «احمد نور» کوټې ته راتلل. بیا به مو یو بل سره یو ځای د غرمې ډوډۍ خوړله. هلته به نور «احمد نور» زما ځینو مشورو ته په ځیر غوږ نیوۀ او تأییدولې ئې. لنډه دا چې زموږ اړیکي د سلام علیک له حده پورته نۀ وې. کله چې نجیب د ګوند مشرتابۀ مقام ته ورسېد مخکې له دې چې له ما سره مشوره وکړي زه ئې د اردو د سیاسي چارو د عمومي ریاست د رئیس په توګه وټاکلم. کله چې د ګوند مشر سو، زه د نورو په شان، د هغۀ مبارکۍ ته ځکه ورنغلم چې د مقام د توقع معنی ورڅخه اخېستل کېدله.

زه ئې یوه ورځ ځانته وبللم او وئې ویل: غوښتل مې تاسو خپل د دفتر د رئیس په توګه مقرر کړم خو کارمل به خنډونه رامنځته کړل او تر پایه پورې ئې موافقه ونۀ کړه. اوس یو ضرورت رامنځته سوی دی او باید د اردو سیاسي ریاست ته لاړ سئ. موږ او تاسې

خو لا له پخوا په یوهٔ ځانګړي/خاص فرکسیون پورې تړون یو. ما په خپلو ځوابي خبرو کې د نجیب دا اشاره له پامه وغورځوله او تبصره مې ونهٔ کړه. زما موخه دا وه چې دا ډول فرکسیون د کارمل له ناروغه ذهن پرته اصلاً خارجي شتون نهٔ درلود. که ما هم له هماغه منظر څخه خبرې کړې وای نو د خیبر خاطرې ته خیانت انګیرل کېدهٔ. نجیب د شوروپانو د مشورې پر بنسټ د اردو په سیاسي ریاست کې داسې چا ته اړتیا درلودله چې کارملیستانو ته په لېوالتیا یا پلوي تړون نهٔ وي او هغهٔ دا خبره په ما کې لیدله.

د ډاکټر نجیب له دغې بلنې او ددغهٔ پُست له وړاندیز وړاندې، ما د «صلح او سوسیالیزم» د مجلې په دفتر کې کار کاوهٔ. په بل لور کې ډاکټر ظاهر علمي چې له خلقي ډاکټر شازار لېوال او پرچمي نیاز علي سره، چې د خوست د ولایتي کمیټې مرستیال وو او هلته د پرچمیانو پر ضد د خلقیانو له پلوه کوم حرکت رامنځته سوی وو، د کارمل تر غضب لاندې راغلل او په جزایي ډول له اداري او ګوندي دندو څخه شړل سوي ول. (شازار لېوال د پکتیا، پکتیکا او غزني د زون آمر وو او په هغهٔ وخت کې خوست د پکتیا یوه برخه شمېر کېدله.)

یوه ورځ ډاکټر علمي ته ټیلیفون راغی او ورڅخه وپوښتل سول: زیارمل پېژنې؟ په ځواک کې ئې وویل: پېژنم ئې. بیا پوښتنه وسوه: څنګه سړی دی؟ ځواب ئې ورکړ: بهترین انسان دی. کله چې ټیلیفوني خبرې خلاصې سوې راته ئې وویل: ستر درستیز شهنواز تنی وو او ستا په هکله ئې پوښتنې کولې او زیاته ئې کړه چې شوروي ملګرو له ما غوښتي چې د هغهٔ په هکله معلومات وکړم.

دوهم ځل: د میر اکبر د مېرمنې د فاتحې اخېستلو په ورځو کې د یوې پنجشبې په ورځ لایق د خیبر د کورنۍ له یو شمېر نورو دوستانو سره راغلی وو. کله چې لایق له مجلس څخه وت ټولو غوښتل چې تر دباندې پورې ئې بدرګه کړي. لایق وویل غواړم له زیارمل صاحب سره لږ خبرې وکړم. د آپارتمان په پوړیو کې ئې راته وویل: ملګرو ستا په هکله تصمیم نیولی دی چې یوه مهمه دنده درته در وسپاري. پر همدې موضوع بحث کوي. ما درته وویل چې پام کوه او لږ احتیاط کوه. دا خبرې زما په وړاندیز نهٔ کېږي. ددې خبرو په سر کې ډاکټر نجیب واقع دی.

ډاکټر نجیب له ما سره په خپلو هغو خبرو کې ټینګار درلود چې موږ د مستقلانه دفاع پر لور روان یو، له دې کبله عمده او اصلي پېټی د اردو د قطعاتو پر اوږو باندې اچول کېږي. د دوستو قطعاتو له ستنېدلو سره سم، له دې چې د اردو صفوف پر خپل مستقل جنګي توان ډېره ولګوي نو په دې لاره کې د اردو د ګوندي سازمانونو په منځ کې ګوندي وحدت مهم دی. د همدې مهم مأموریت لپاره مې تر تاسو پورته بل سابقه لرونکی او وړ شخص ونهٔ موند. نجیب ددې تر څنګ راڅخه وپوښتل: په روسي ژبه پوهېږې؟ وې ویل: نهٔ پوهېږم. وئې ویل: باید له هغوی سره ګډه ژبه پیدا کړې. ما

خپله ستونزه مطرحه کړه او ومې ویل: ډاکټر صاحب! موږ په نورو شرایطو له نظامیانو سره مخفیانه کار کړی دی چې باالکل بل ډول ایجابات ئې درلودل. اوس وینم داسې یو کاري سیستم رامنځته سوی چې زه ئې له الفبا څخه لا خبر هم نهٔ یم. تاسو څنګه له ما هیله لرئ چې د راتلونکو خطرناکو دندو په پام کې نیولو سره دغسې دنده په بریالیتوب سره تر سره کړم؟ ډاکټر نجیب د کلاسیکو انقلابیونو د کلماتو په تکرار سره " صادقانه اراده او د خدمت نیت" ئې لازمي شرایط وګنل او وئې ویل: تاسو دا دواړه لرئ، پاتې نور به شوروي دوستان هم مرسته وکړي. " نجیب دې خبرې ته هم ضمني اشاره وکړه چې هڅه وکړم ددفاع له وزیر، لوی درستیز او ددفاع د وزارت له مشرتابهٔ سره ګډه ژبه پیدا کړم.

کېدای سي ډاکټر نجیب ددغهٔ پُست د نهٔ منلو لپاره زما عذر د معمول تعارف په توګه ګڼلی وي. په پای کې مې ورته وویل: نهٔ غواړم په اوسنیو سختو شرایطو کې ستاسو اعتماد کم ارزښته وګڼم خو تاسو هم یوه ژمنه راسره وکړي که پوهٔ سوئ چې زه دغه کار نهٔ سم کولای، نو هاغه وخت به بیا زما عذر هم ومنئ. هغهٔ په پای کې راته وویل: هیله مند یم چې اصلاً دغسې یوه موقع پېښه نهٔ سي. د نجیب خبرې راته د فرکسیوني او شخصي سفارشاتو له چوکاټه لېرې او دباندې وبرېښېدلې. همدا خبره مې په نېک فال ونیوله او نور څه مې ونهٔ ویل.

ددې خبرې تفصیل مې ځکه ورکړ چې نجیب د ګوند د مشرتابهٔ په مقام کې د خپل رسالت سختۍ او خپل دریځ درک کاوهٔ لکه د ګوند دننه اختلافلات او مخې ته ئې نورې پرتې ستونزې. هغه تر ډېره ددغهٔ رسالت د بریالیتوب په فکر کې وو او هڅه ئې کوله چې د خپل ځان پر وړاندې ټول مخالف جبهات راخلاص نهٔ کړي بلکه پر ګډ رسالت باندې په ډېې لګولو سره نهٔ یوازې ګوند بلکه د ګوند طبیعي هم فکران د خپل څنګ ته ودروي؛ د شورویانو له ټینګار سره سره، نجیب، د کارمل برعکس، موجوده سازمانونه چې ځانونه ئې اصولي بلل لکه " سازمان انقلابي زحمت کشان افغانستان" (سازا) او "کارګران جوان افغانستان" (رکجا) او نور ئې ونهٔ منل.

د خیبر د مېرمنې د وفات پر مهال، نجیب وړاندیز وکړ چې په شهدای صالحین کې دې ښخه سي. وروسته د لایق لور – د توریالي خیبر مېرمن – هم هماغلته خاورو ته وسپارل سوه. په دې هکله که نجیب د لایق ملاحظه په پام کې لرله، خو په دې تصمیم کې ئې خیبر ته درناوی هم نغښتی وو.

سیاسنګ: نجیب دداسې ځانګړتیاوو په لرلو سره کولی سوای د خیبر د مرګ د پلټنې لړۍ راپیل کړي.

زیارمل: مهمه خبره دا ده چې نجیب نهٔ سوای کولی د خیبر د ترور د څرنګوالي د څېړنې امر ورکړي. دا کار ځکه په تره کې، خلقیانو او کارملیانو باندې یو ډول ملنډې

وهل انګېرل کېدۀ چې هغوی په دې لاره کې ان یو کوچنی ګام هم نۀ وو اوچت کړی. د دا ډول اقداماتو تر لاس لاندې نیول د نجیب پر وړاندې د څو نویو جبهو د پرانیستل کېدلو لامل کېدۀ او د – مستقلانه دفاع – اصلي کار شا ته غورځېدۀ؛ په دې معنی چې ګوندي او وسلوال ځواکونه په ډلو ویشل کېدل. یوه بله بېلګه: له زندانه د خلیل زمر خوشې کېدل نجیب ته څو کاله ونیول چې خوشې ئې کړي. ددې کار له لپاره هم اوږد مهالې چمتووالی نیول سوې وې لکه د هیأت ټاکل او نور. یا بله بېلګه: د مرغومې د شپېړمې د زندانیانو خوشې کول لکه: غوربندي، شاه ولي، خیال محمد کټوازي او.... له دې کبله نومورې د ګوند او دولت د مشرتابۀ په اوږدو کې په دې اړه کوم ګام اوچت نۀ کړ. ښايي نجیب په څرګنده پوهېدۀ چې که په دې هکله لومړنی ګام اوچت کړي نو د شورویانو له مخالفت سره مخامخ کېږي.

سیاسنګ: جنرال قادر د خپلو خاطراتو په کتاب کې شوروي ته د خیبر د سفر په هکله درې ځله یادونه کړې ده.

زیارمل: میر اکبر قطعاً شوروي ته نۀ دی تللی. د قادر خبره مستنده نۀ ده. شورویانو په خپله قادر د داؤود په کودتا کې داخل کړی وو. همدا شورویان ول چې قادر ئې خلقیانو ته وروپېژاندۀ او وروسته ئې د کارمل پر اوږو سپور کړ. په پای کې د دفاع په وزارت کې د هغۀ له ناکامیو وروسته، شورویانو د سفارت دندې ته ولېږۀ ان دا چې د سفارت د کار د مودې تمدید ئې پر ډاکټر نجیب باندې په وچ وزر ومنل.

سیاسنګ: آیا خیبر په ګوند کې دننه له رامنځته سویو اله ګولو وروسته نور نۀ وو نهیلی سوی؟ یا ئې غوښتل ستاسو، صمد ازهر، عارف خرمګس او... په مرستې خپل فرکسیون جوړ کړي؟

زیارمل: د عارف تخلص «سروري» وو. وروسته له دې چې د ګوند بنسټ کښېښودل سو هغۀ، اناهیتا او کارمل ته زما په هکله ویلي ول: « ملګری زیارمل د یوۀ ګوند په اندازې پر ما اغېز لري.» عارف د یوې ترافیکي پېښې له کبله معیوب او د نظامي افسرۍ له دندې څخه معاف سو. وروسته د حقوقو په پوهنځي کې شامل سو. ډېره ښه حافظه ئې درلودله او د خپل منګ د کسانو په منځ کې له برياليې، وکیل او د کارمل له نورو چوکره ګانو څخه دنګه غاړه وو. کارمل په دې پلمې د عارف تر پښو لاندې ځای ځکه تش کړ چې  په قوم محمدزی وو او بیا ئې د اکرم عثمان او احمد شاه ګردیزي په شان ګنې د ګوند مخفي ځانګې ته ولېږۀ چې یوازې یوه پلمه وه». (د احمد شاه خور، جمیله پلوشه تر پایه د کارمل او اناهیتا تر څنګ وه)

اکرم عثمان او عارف سروري ته دنده وسپارل سوه چې له داؤود خان سره د ګوند رابط اوسي. دغو دواړو خپله دنده په صادقانه ډول سره تر سره کړله. کله چې د پرچم د خېرونو او د کارمل او اناهیتا په هکله د داؤود نیوکې/ انتقادات ئې دوی ته ور ورسول،

کارمل ددوی د شخصیتونو تخریب ته ملا وتړله ان تر دې چې دوی دواړه ئې له ګوند څخه منفصل کړل. شک نهٔ سته چې اکرم او عارف دواړو خیبر ته اخلاص او ارادت درلود، خو کله چې له کارمل سره په مخالفت کې واقع سول، هیله ئې درلوده چې خیبر به ددوی خوا ونیسي. خیبر پوه سو چې ددغو اختلافاتو یوه برخه شخصي تومنه او ماهیت لري، نو له همدې کبله ول چې له دوی دواړو څخه ئې ځان لیرې وساتهٔ. عارف وروسته شراب څښلو ته پناه یوړله او له پخوانیو ملګرو څخه چې غوښتل ئې له دې وضعې څخه ئې وژغوري، ځان لیرې کړ.

اکرم خپل ژوند ادبیاتو او لوړو تحصیلاتو ته وقف کړ. هغه تر پایه له کارمل سره نهٔ پخلا کېدونکی پاتی سو او د خیبر پر وړاندې ئې خپل صادقانه ارادت او اخلاص وساتهٔ. عارف د داؤود د جمهوریت پر مهال له خپلو نویو دوستانو سره په یوې ټرافیکي پېښې کې شدیداً ټپي سو او په هندوستان کې د یوې بې نتیجې درملنې په ترڅ کې مړ سو. پلار ئې هند ته د درملنې لپاره بیولی وو؛ کله چې د خپل زوی جنازه ئې کابل ته راوړه د سهار د لمانځهٔ په ترڅ کې ئې نور خپل سر له سجدې پورته نهٔ کړ. دواړه زوی او پلار په یوې ورځ خاورو ته وسپارل سول. ما د داؤود له کودتا وروسته عارف او اکرم دواړه د خیبر په آپارتمان کې هم لیدلي ول.

خیبر د خپلې روح د ستروالي او آرمانونو پر بنسټ د هېڅ فرکسیون په چوکاټ کې نهٔ ځاییدهٔ. د خیبر د مخالفینو د مدعیاتو برخلاف چې د هغهٔ د ګوندي او سیاسي ملګرو د نهیلیو او زړهٔ سوړوالي په هکله ئې لیکلي دي، د ګوندي وحدت له رامنځته کېدلو وروسته داسې ښکارېدهٔ لکه چې نوی ځوان سوی وي، خوشحاله، له انرژۍ ډک، د سالمو افکارو لرونکی او د هېواد او ګوند راتلونکې ته خوشبین وو.

زه ورسره دومره نیږدې او محرم وم چې ان بل هېڅوک داسې نهٔ ول. ما هېڅکله ان د یوې زونګې او رموز په اندازې داسې شی نهٔ دي احساس کړي چې په هېواد، غورځنګ او سیاست کې ئې ذهن د شخصي مقاصدو لپاره متمرکز کړی وي. یو ځل د داؤود د واکمنۍ پر مهال چې د ګوند ګڼ شمېر کدرونه هم له کارمل او هم له تره کي څخه نهیلي سوي ول او له ځانه پرته د بل شي په اړه ئې فکر نهٔ کاوهٔ، ما دا مسئله په احتیاط له خیبر سره مطرح کړله چې پوه سم آیا په فعاله توګه کومه ونډه پر غاړه اخلي که نه او یا د رواني بېخبندۍ/ بن بست په اړو دوړ کې له کیڼ غورځنګ څخه دباندې وځي. خیبر راته وویل: پوهېږم چې د څه شي په هکله فکر کوئ. زه په دغو لوبو باور نهٔ لرم. رهبران د ګوند د غړو او ولس له پلوه د عمل په لړ کې پېژندل کېږي. په دې استبداد ځپلې او وروسته پاتې هېواد کې سیاسي سازمانونه خپلې مخې ته اوږده لاره لري چې د سیاست له لوړو ژورو او کړلېچونو سره آشنا سي. زموږ د ګوند له ژوند څخه تر اوسه پورې لا یوه لسیزه نهٔ ده تېره سوې.

ما په خپله د خیبر له خولې څخه د کوم جلا فرکسیون یا ګوند په هکله کومه خبره نهٔ ده اورېدلې او نهٔ مې د هغو نومونو په هکله کومه خبره اورېدلې چې تاسو په خپلې پوښتنې کې یاد کړې دي. ان په زونګې او رموز مې هم نهٔ دي اورېدلي چې ګڼې میر اکبر دې دغسې یو محدود فکر په خپل سر کې لرلی وي. د خیبر په هکله داسې ګنګوسې، آوازې، انګروزې او شایعات محتملاً د یو شمېر کسانو له بې تجربه ګۍ او ان حماقت څخه په ګټه اخیستنې د هغو کسانو له پلوه جعل او خپرې سوې وي چې د وطن - ګوند او د ولس پر ضد په یوې جاهلانه توطئې کې ښکېل ول.

کله چې د داؤود په شان متجرب او مغرور انسان وایي: « میر اکبر آغا له خپل وخته دوه پېړۍ مخکې زېږېدلی دی»، نو دا خبره باید جدي ونیسو. زه د صوفیانو په شان، د مرید په توګه له مراد څخه خبرې نهٔ کوم. زه د خپل ذهن په حضور کې د هغهٔ او د نورو د ژوند له تجربو څخه دغې پایلې ته رسېدلی یم.

سیاسنګ: د ګوندي دریځ د «تنزیل » پر وړاندې د خیبر غبرګون؟
زیارمل: اساساً خیبر د دریځ تنزیل نهٔ دی کړی. کارمل له تره کي سره په دې ډول توافق ته رسېدلی وو چې د وحدت په رهبرۍ کې دې هغه کسان چې په بنسټ ایښودونکي غونډې/ مؤسسه کنګرې کې د مرکزي کمیټې د غړو په توګه ټاکل سوي ول د سیاسي بیرو د غړو په توګه او هغوی چې له انشعاب وروسته له دواړو خواوو څخه د رهبرۍ مقام ته لوړ سوي ول، د واحد ګوند د مرکزي کمیټې د غړو په توګه ومنل سي. په دې پرېکړه کې میر اکبر، اناهیتا او امین راتلل چې له کنګرې او انشعاب وروسته د خلق او پرچم مرکزي کمیټو ته راغلي ول ؛ ددوی په شان ګڼ شمېر نور کسان د مرکزي کمیټې په غړیتوب ومنل سول. له دې کبله دا یوازې خیبر نهٔ وو. دوهم دا چې خیبر ان په هغهٔ وخت کې چې وویل سول تره کی، خیبر نهٔ مني، خیبر ځواب ورکړ چې وي دي، هر چېرته چې تره کی او کارمل توافق وکړي ما دې په هماغه ځای کې ومني. ان که د ګوند د آزمایشي غړي په توګه مې یاد هم کړي زه کوم مخالفت او ادعا نهٔ لرم خو په دې شرط چې د ګوند وحدت ته د رسېدلو پر اصل باندې موافقه وکړي او عملي ئې کړئ.

د خیبر په اند د انشعاب په شرایطو کې که ګوند په شورا کې د غړیتوب او په ټاکنو کې د خپلو ګڼ شمېر کدرونو د بریالي کولو لپاره په قانوني مبارزې کې ښکیل سوی وای نو متحد ګوند ته د جلب او جذب د پراخولو لپاره د اعظمي استفادې او هم ئې د سیاسي مانورونو او نورو، نورو لپاره فرصت له لاسه ورکاوهٔ.

سیاسنګ: څو نومونه او له خیبر سره د هغوی پیوند. له مصطفی افریدي څخه به ئې پیل کړو.

زیارمل: د مصطفی افریدي نوم د لومړي ځل لپاره له تاسو اورم.

سیاسنګ: حق نواز چې زوی ئې الله نواز نومېږي او د «بانډِ شاین» د موسیقۍ په ډله کې ئې له وحید قاسمي سره کار کاوۀ او په ۱۹۸۰ز کال کې د افغانستان د خلق ډیموکراټیک ګوند له پلوه اعدام سو.

زیارمل: زه د هغۀ (خیبر –ژ) ټول نږدې دوستان، شاوخوا دوستان ئې او ان د هغۀ د حجرې مراجعین پېژنم. ما نۀ په خپله د حق نواز نوم اورېدلی دی او نۀ مې د خیبر او نورو له خولې اورېدلی دی. دا لومړی ځل دی چې داسې یو نوم اورم.

سیاسنګ: حسن ضمیر صافی

زیارمل: له سیلاني مې اورېدلي دي چې د پوهنتون ګڼ شمېر محصلین دغۀ آپارتمان ته راتلل. محمدزي خان له حبیب الله تږي، هادي مکمِل، ضمیر صافي، حسن کاکړ، عتیق الله، رسول مارشال (د سیلاني همکار او د نجات د ښوونځي استاد) او... یادونه وکړه. د انسان د قطحی په هغو کلونو کې میر اکبر او ببرک د محصلو ځوانانو او د هغو کسانو د راښکون او جاذبې په مرکزونو بدل سوي ول چې د شورا د اوومې دورې د غورځنګ له انطفاء وروسته له رامنځته سوي بیخبندۍ/ بُن بسن څخه د راوتلو لپاره د اغېزمنو او معقولو لاروچارو د موندلو او یا د یوۀ شي د زده کولو په لټه کې ول. حسن صافی له خیبر سره آشنا سو. بیا د داؤود تر ولسمشرۍ پورې مې ډېر لږ په یاد راځي چې له خیبر سره دې تګ راتګ درلودلی وي. یوازې دومره پوهېږم کله چې له زندانه خلاص سو له خیبر سره ئې اړیکه ټینګه کړه خو نۀ سو کولای اړیکه ئې ډېرې څرګنده او همیشنۍ ونوموو.

سیاسنګ: سرور یورش

زیارمل: نوموړی د هوايي ملکي د ښوونځي له فارغانو څخه وو او د غوايي د پېښو په درشل کې ئې په کونړ کې په یوې باندنۍ مؤسسې کې رسمي دنده درلوده او د مشرقي د زون د ګوندي کمیټې منشي وو. د غوايي له اوومې وروسته د سوداګرۍ د وزارت مرستیال سو، وریسې زنداني سو او د تره کي د مداخلې له کبله (غالباً د غوربندي په غوښتنې) له زندانه خلاص سو. د ببرک او نجیب الله د حکومتونو پر مهال د کلتور د وزارت د نشراتو رئیس، د باختر آژانس رئیس، د مشرقي د زون آمر، د باندنیو چارو د وزارت مرستیال، د ولسمشرۍ د ریاست د مطبوعاتي څانګې رئیس او تر پایه په افغاني پلاوي کې د ژنوا د خبرو اترو فعال غړی وو. وروسته په ملګرو ملتونو کې د افغاني پلاوي مستشار سو. د دولت له پرځېدلو وروسته ئې د پناه اخېستلو غوښتنه وکړه خو د پناه اخیستونکي په توګه ونۀ منل سو. په نیویارک کې ئې ټکسي درلود، بیا ئې زما په مرستې په کالیفورنیا کې زما له دوست سره ټکسي چلاوۀ. په انګلیسي ډېر ښۀ پوهېدۀ. د وحدت په مسئلې کې د خیبر دریځ ته نږدې وو، له ببرک سره ئې لفظي ټکر وکړ چې

د کسر کړس ئې د ببرک د واکمنۍ پر مهال راپورته سو، دغه مهال یوازې له دۀ څخه د انگلیسي ژبې په برخې کې استفاده وسوه.

سیاسنگ: خلیل زمر

زیارمل: د خلیل زمر او له خیبر سره د هغۀ د اړیکو په هکله یوازې دومره ویلی سم چې هغه مې هېڅکله له خیبر سره یو ځای نۀ دی لیدلی. تر هغۀ مهاله چې له گوند څخه «وشړل» سو او یا ددۀ په وینا د نظري او عقیدتي دلایلو پر بنسټ ئې گوند ته شا کړه، ما ددۀ په هکله د خیبر له خولی یو ټکی هم نۀ وو اورېدلی. له گوند څخه د شړل کېدلو او یا له گوند څخه د هغۀ د واټن نیولو پر مهال، خیبر ووېل: دا د کارمل د ناسم کدري سیاسست پایله وه چې گوندي کدرونو ته په دې موخې نېږدې کېدۀ او هغوی ته ئې خپل حریم ته لاره ورکوله او کله ناکله دغسې پېښې رامنځته کېدلې. په گوند کې له هماغو لومړیو دغسې پېښې تکرارېدلې خو د زمر د استعفی پېښې د گوند او د هېواد په راوروستو پېښو کې خپل اهمیت درلود؛ له گڼ شمېر گوندي غړو سره، له ځوانو کدرونو نیولې تر غیر ځوانو پورې، د کارمل د کار دا ډول بڼې، ناوړه پایلې وزېږولې. تر ټولو مشهوره ئې اکرم عثمان دی چې بالاخره په "کوچۀ ما" واوښت.

هم کارمل، هم زمر، هم وکیل او نورو په دې هکله درواغ ویل. زمر لا تر اوسه د حقیقت له ویلو یا ډار لري او یا تردید. د ۱۳۵۸ل کال د مرغومې له شپږمې وروسته د څرخي پلۀ د زندان په وروستیو ورځو کې مې اتفاقاً څو ورځې په یوې کوټه قلفۍ کې ورسره تېرې کړلې. له دې نېټې وروسته نوموړی زندان کې پاتې سو او زه آزاد سوم. هغه چې CIA ته په جاسوسۍ تورن وو، د خدای په امانۍ پر مهال ئې زما په وړاندېز، زما د چای یو ترموز او قاشق او پنجه ځکه واخېستله چې ان د یوۀ ترموز د اخېستلو توان ئې نۀ درلود. تر هغۀ مهاله چې په افغانستان کې وو په ژوندانۀ کې ئې هېڅ کوم غیر عادي شی ونۀ لیدل سو. خو په گوند کې یو شمېر پېښې رامنځته سوې وې، د ببلگې په توگه، شورویانو کارمل ته ویلي ول "ستاسو له گوند څخه اطلاعات دباندې درز کوي". له پلټنو وروسته گڼې هغۀ سړی "مشخص" کېږي. شورویانو ظاهراً دغه اطلاعات په ایران کې له خپلو سرچینو څخه ترلاسه کړي ول. ظاهراً دا اطلاعات لومړی د ایران ساواک ته تلل او له هغۀ ځایه وروسته ئې CIA ته درز کاوۀ. د نامعلومو دلایلو پر بنسټ اصلی سړی محفوظ پاتې سو او خلیل زمر ئې قرباني سو. دا داستان ډېر اوږد دی. یوازې همدومره باید ووېل سي چې خلیل زمر کارمل ته د له حده وتلي قرابت قرباني سو. په گوند کې گنگوسه وه چې کارمل غوښتل زمر د خپل زوم په توگه ومني. لنډه دا چې د یوۀ خروار سرېښو په زور که هم وي، موږ د هغۀ او د خیبر ترمنځ کومه مشترکه وجهه نۀ سو موندلی.

سیاسنګ: د خیبر، جلالر او ډاکټر عثمان... د ورورۍ (برادر خواندګۍ) مثلث
زیارمل: له خیبر سره د دوه وو لسیزو اړیکو او آشنايۍ په اوږدو کې په ځانګړې توګه د هغهٔ د ژوند د وروستیو کلونو په لړ کې مې نهٔ جلالر د هغهٔ په کور کې لیدلی دی او نهٔ مې د خیبر له خولې اورېدلي دي چې له جلالر سره ئې د آشنايۍ، تګ راتګ او یا لیدلو یادونه کړې وي. زه نهٔ سم ویلی چې ګڼې هغوی له یو بل سره پېژندګلوي نهٔ درلوده. فکر نهٔ کوم چې دوی دواړو دې له یو بل سره د عادي سلام علیکۍ له چوکاټه پورته کومې ژورې اړیکې لرلې وې.

اکرم عثمان خپل ځان د خیبر شاګرد او پیرو ګاڼهٔ. د غوربندي په وینا، اکرم عثمان د خیبر له لومړنیو هم – اتاقیانو او دوستانو څخه وو چې خیبر ته ئې د استاد خطاب کاوهٔ. ما اکرم عثمان په ځلونو د خیبر په کور کې لیدلی دی. له ببرک سره د هغو له ستونزو هم خبر یم. هغه په دې حد کې نهٔ وو چې استاد ته د ورور «برادر خوانده» خطاب وکړي او یا د ارادتمند او شاګرد له سطحې پورته ئې توقعات څرګند کړي وي.

سیاسنګ: بشیر غازي علم؟
زیارمل: بشیر غازي علم د هغهٔ د ورونو په ځانګړې توګه ډاکټر ظاهر غازي علم له لارې پېژنم. ویل کېږي چې په حربي ښوونځي کې د اول نمره کېدلو له کبله تورکیې ته د بیطارۍ په رشته کې د تحصیل مستحق سوی وو. وروسته له دې چې په تورکیه کې ئې وترنري په بریالیتوب سرته ورسوله تر څنګ ئې په انقرې کې د حقوقو په پوهنځي کې خپل تحصیل ته دوام ورکړ او د حقوقو لیسانس ئې هم تر لاسه کړی وو. د هغهٔ په خپلې وینا، د تورکیې د کیڼ لاسو له لوري چې د وسلوال پاڅون پلویان ول او ددهٔ په خپلې ژبې د "چګوارا د لارې لیوال او پلویان ول" جذب سوی وو. ویل به ئې هغوی د کوماندویي زده کړو لپاره د فلسطین د پوځي روزنو مرکز ته معرفي کړی وو.

سیاسنګ: له هغهٔ سره ستاسو آشنايي؟
زیارمل: په مجردې چې غازي علم کابل ته راغی په اصطلاح "تر ځمکې لاندې / زیر زمیني" ژوند ئې غوره کړ. په لومړیو کې د میوند د جادې په آپارتمانونو کې د ډاکټر غازي علم په کتنځي کې پټ وو. وروسته همدغهٔ ورور ئې له ما وغوښتل چې تر یوې مودې پورې ئې مخفي وساتم. ما ورسره ومنله او هغه مې د خپل د یوهٔ شخصي دوست په یوهٔ تش آپارتمان کې مخفي کړ. زما پام ډېر ژر دې ټکي ته واوښت چې دی له تورکیې څخه نوی راغلی دی، ځکه نوموړي تورکي سګرت څکول او تورکي بوټان ئې په پښو ول. ما ورته یوه جوړه څپلۍ ورکړې او ورته مې وویل: د تورکیې اکثریت فارغان دغه ډول بوټان اغوندي. تهٔ چې نهٔ غواړې وپېژندل سې نو ښه به دا وي چې دغه څپلۍ په پښو کړې. هر ګوره، نوموړی د یوې مودې لپاره هلته پاتې سو. یوه ورځ ئې زما په نوم یو یادداشت پر ځای پرې ایښی وو او له آپارتمانه ووت.

سیاسنګ: هغهٔ د خپلو تفکراتو او نقشو په هکله څه ویل؟
زیارمل: په لومړیو کې ئې څه نهٔ ویل. وروسته کله چې زموږ تر منځ اعتماد رامنځته سو د خپلو نظریاتو په هکله ئې راسره بحث کاوهٔ او په هېواد کې دننه په کیڼ لاسو ځواکونو باندې ئې بې باوري څرګندوله. غوښتنه ئې دا وه چې ګوریلایي جګړې پېل کړي. یوه ورځ ئې د نظامي تعلیماتو له سختیو څخه راته یادونه وکړه او وئې ویل: د تورکیې هماغهٔ کیڼ لاسي سازمان ما ته دنده سپارلې وه چې یوه مسافر وړونکې الوتکه یرغمل ونیسم. په خپلې ګوډې ماتې پارسي ئې وویل: « به من وظیفه داده شده بود که طیاره را «ربود» کنم». وروسته ګڼې دا موضوع رسوا سوه او بشیر غازي علم افغانستان ته راستون سو. بیا مې د هغهٔ د ورور په هکله هم ورڅخه نوره پوښتنه ونهٔ کړه. ویرېدم چې کومه رسوايي راپورته نهٔ سي او پر ما تور ونهٔ لګول سي.

سیاسنګ: هغه څنګه له پټ ژوندون څخه د کورنیو چارو د وزارت د اداري ریاست د سوانحو مدیریت ته ورسېد؟

زیارمل: له سلطنت څخه جمهوریت ته د رژیم اوښتون د هغهٔ برخه لیک ته بدلون ورکړ، دا ځکه چې د داؤود له کودتا وروسته، ککره ئې د کورنیو چارو له وزارته راووتله. د هغهٔ د تقرر دلیل هم ډېر ساده وو. ډاکټر ظاهر – پوځي طبیب – په ګردیز کې له فیض محمد سره آشنا کېږي. هغه مهال فیض محمد د قول اردو د انظباط د ټولي بولندوی وو. په همدې وخت کې د داؤود کودتا بریالی کېږي. بشیر د داؤود په کودتا کې د خپلو باطني سیاسي علایقو پر بنسټ د داؤود په کودتا کې د هیلو یو څرک ویني او د همکارۍ په هماغه ټېټه کچه کې خدمت ته چمتو کېږي. دغه مهال ئې له ما سره دوستانه اړیکي لرل. یو ځل له ما سره پکتیا ته د یوهٔ پلاوي په ترکیب کې تللی وو. کله چې فیض محمد د کورنیو چارو له وزارت څخه لېرې سو، بشیر یا د نوي وزیر له پلوه تبدیل سو او یا ئې خپل په خپله دنده خوشې کړه.

سیاسنګ: بشیر غازي علم او منهاج الدین ګهیځ...
زیارمل: زما یوبل دوست ډاکټر عبدالرحمن نومیري (تخلص ئې زما له یاده وتلی دی. د قدیر د وزارت پر مهال د تخار والي وو)، هغه وايي چې بشیر ئې په تورکیه کې پېژاندهٔ، هغهٔ له یو شمېر ځوانانو سره یوه وسله واله ډله جوړه کړې وه چې یو شمېر قتلونه ئې کړي ول؛ په دغو قتلونو کې یو ئې د ګهیځ د جریدې مسؤول مدیر، منهاج الدین ګهیځ وو. البته د ګهیځ ورور سعدالدین شپون چې یو وخت ئې د امریکا په سفارت کې کار کاوهٔ او وروسته د «امریکا غږ» د راډیو کارکوونکی سو او په غالب ګومان چې له سلیمان لایق سره په پوهنځي هم همدوره وو ویل چې: «ګهیځ، خلقیانو او پرچمیانو وواژهٔ». عبدالرحمن وروسته افغان ملتی سو او مړ سو.

سیاسنگ: بشیر غازي علم او میر اکبر خیبر
زیارمل: ډېر معمولي؛ یو یا دوه ځله د خیبر لیدلو ته ورغلی وو او هیڅ ډول متداومه یا ددوستۍ کومه اړیکه ئې نهٔ درلودله. وروسته له دې چې په افغانستان کې د غیر عملي شرایطو له کبله د پارتیزاني جګړو د په لاره اچولو له طرحې څخه نهیلی سوی وو، زه مؤثقه اطلاع لرم چې یو یا دوه ځله خیبر ته ورغلی وو او له هغهٔ سره ئې د خلق او د پرچم د جناح ګانو تر منځ د وحدت د امکان په اړه خبرې کړې وې، البته ما د خیبر له خولې واورېدل چې نوموړی څو ځله په همدې موخې نور محمد تره کي ته هم ورغلی وو ؛ هغهٔ په پښتو ژبې لیکل سوي یوهٔ لیک کې خیبر ته له تره کي سره د خپلو کتنو د نتیجو ګزارش ورکړی وو او د تره کي له خبرو ډېر نهیلی سوی وو. هغهٔ په خپل لیک کې هغه د «تره کي اکا» په نوم یاد کړی وو. ضمناً پښتو لیک بڼه ئې ډېره ښایسته وه.

سیاسنګ: جمعه خان صوفي د «فریب ناتمام» په کتاب کې لیکلي دي: د غوایي د انقلاب په سبا ئې [۱۹۷۸/ د اپریل ۲۸] بشیر غازي زما لیدلو ته راغی.

زیارمل: هغهٔ لیکلي دي چې اصلاً د اجمل خټک لیدلو ته روان وو. په دې حالت کې طبیعي ده چې صوفي د شورویانو د لاس مرئ وه. په هماغه کال کې ئې ورته لېوالتیا موندلې وه، فکر نهٔ کوم چې د هغهٔ آشنا یا دوست دې وي.

سیاسنګ: بشیر غازي علم د «ډګروال جان» په مستعار نوم په افغانستان کې د لومړني تروتسکیست سازمان بنسټ ایښودونکی دی. په ترکیه کې د هغهٔ دوستان د Başir Can په نوم یاداوهٔ ښایي [John Can] ئې له هماغهٔ ځایه پور کړی وي.

زیارمل: زه د هغهٔ په مستعار نهٔ پوهېږم، خو د ډګروال ویلو ادعا ئې سمه نهٔ ده. بشیر غازي د جمهوري رژیم د کورنیو چارو په وزارت کې یوازې یو رسمي مأموریت تر سره کړی او بس. مشر ورو ئې باقي غازي علم نومېدهٔ او د توپچي افسر وو. زه هغه د اتمې فرقې له دوران را په دېخوا پېژنم. هغهٔ هم د وسلوال پاڅون خبرې کولې. د ډګروالۍ تر رتبې پورې ورسېد او د برهان الدین رباني د واکمنۍ پرمهال – غالباً د مولوي نبي د انقلاب اسلامي د تنظیم د سهمیې په شمېر – ګڼې د دفاع د وزارت پېژندوال وو. ټینګار کوم چې بشیر غازي علم تروتیسکیست نهٔ بلکه یوه افراطي چګواریست وو.

سیاسنګ: ستاسو او د بشیر غازي علم وروستۍ لیدنه
زیارمل: وروستی ځل مې چې بشیر ولید، د خیبر په فاتحې کې د شاه دوشمشیرې په جومات کې وو. زه په پوړیو کې پورته ختلم او دی د راکوزېدلو په حال کې وو. ما څو کاله وروسته ډاکټر ظاهر علم د امریکا په سندیګو کې ولید او د بشیر پوښتنه مې وکړه. وئې ویل: مړی او ژوندی ئې ورک دی، خو یوازې دومره پوهېږم چې د مولوي محمد نبي له حرکت انقلاب اسلامي سره یو ځای سوی دی.

سیاسنگ: جنرال آصف الم د «سیر زندگي در آیینهٔ تأریخ» د کتاب په ۱۰۱، ۱۰۲ او ۱۰۵ پاڼو کې (د کابل چاپ، ۲۰۱۶ز، دفتر خاطرات) کې لیکلي دي:

« [ترکیه / ۱۹۶۶]: په کرایي کور کې مې ژوند کاوهٔ، دریې تنه نورو افغان ځوانانو هم حضور درلود چې لوړې زده کړې ئې وې او د پوهي خاوندان شخصیتونه ول چې په فرهنګي ډګر کې د یو بل متمم ول. بشیر جان غازي علم هم یو له دغو څخه وو. لوړې زده کړې ئې د وترنرۍ په مسلک پای ته رسولي وې او ورسره جوخت ئې په انقره کې د حقوقو په پوهنځي کې خپلو زده کړو ته دوام ورکاوهٔ. کله چې ورسره یو ځای سوم هغه د پوهنځي په دریم کال کې وو. د خپل ژوند یوه شېبه ئې بې ځایه له لاسه نهٔ ورکوله. هغه د افغانستان د ټولنې پر زیارګالو او محرومو پاړکو یا طبقاتو باندې د منځنیو پېړیو له تپل سویو حالاتو څخه د وتلو د لارو چارو د موندلو لپاره هڅې کولې. زه په فرهنګي او حقوقي ډګر کې ددغهٔ ګران دوست له مرستو څخه د تل لپاره مننودی یم.»

«هرځومره مې چې توان درلود هغه مې په تورکي ژبې باندې ولګاوهٔ. بیا مې په ډېرې شدیدې تندې سره د حقوقو او سیاسي علومو د آثارو مطالعه پېل کړه. هماغسې چې مخکې وویل سول د واکمنو د موانعو د جوړولو له کبله ډېر وخت رانهٔ کړل سو او د لږې توښې / توشه په لرلو سره هېواد ته راستانهٔ سوو. په تورکیه کې له یو شمېر کینې لاسو سره لیدنې کتنې او له درې تنو همفکرو، هم- جهتو او هم طبعو افغانانو په ځانګړې توګه بشیر **جان** غازي علم سره په ګډ کور کې استوګنې ډېر متحسس ګرځولی وم.»

زیارمل: جنرال آصف الم چې د کارمل او ډاکټر نجیب د حکومتونو پر مهال د نظامي سترې محکمې مرستیال او د دفاع د وزارت د محاکماتو رئیس وو – د ډاکټر فتاح خسروي له قوله چې هغه هم هماغه وخت په تورکیه کې د طب په زده کړو بوخت وو، غازي علم ئې هر چا ته د schizophrenia په ناروغۍ اخته او د بې حدې بد ګومانۍ لرونکي په توګه معرفي کاوهٔ. هغه خپل ځانته د «تعظم» احساس درلود. فکر ئې کاوهٔ چې مهم او خطرناکه سړی دی او تل د جاسوسي سازمانونو تر تعقیب لاندې دی. د بشیر غازي علم د سیاسي هویت په هکله آصف الم له ما سره په یوې عقیدې دی چې هغه د چګوارا د نظریاتو او تګلارې پیرو وو. جنرال الم تأیید کړه چې د تخار پخوانی والی عبدالرحمن د بیطارۍ په رشته کې د بشیر هم دوره وو. هغه هم د عبدالرحمن له خولې اورېدلي ول چې بشیر له یو شمېر ماجرا پالو او سړي وژونکو کسانو سره یو ځای سوی دی. ویل ئې بشیر ورته اعتراف کړی وو چې د دغو ماجرا پالو کسانو له منځه ئې یو تن وژلی دی او زیاته کړې وه چې: "د هغهٔ توپک مې ورڅخه واخیست."

سیاسنګ: د ۱۳۵۷ل کال د چنګاښ یا د زمري په میاشتې کې د میر اکبر خیبر د قتل په اړوند یو فلم له جرمني څخه افغانستان ته رسېدلی وو. دغه فلم سلیمان لایق، سرور منګل او اسدالله سروري لیدلی دی.

زیارمل: ما په دې هکله د لایق له خولې څه نهٔ دي اورېدلي. خو د هغهٔ له خولې مې دا اورېدلي دي چې هغه او یو شمېر نور لکه– نور «احمد نور»، غوربندي او بارق - د بشیر رویګر په کور کې او هغه کسان راټول سوي ول چې د جنازې د تشییع په ورځ ئې له صحنې څخه عکاسي او فلم اخیستنه کړې وه، په دغو کسانو کې یو ئې یو خوستی وو چې د تره کي په حکومت کې د هوټلونو رئیس سو او د امین له نېږدې کسانو څخه وو او غالباً غازي علم نومېدهٔ؛ دوی راټول سوي ول چې له هماغو عکسونو څخه د یوهٔ مستند فلم او یا د یوهٔ البوم د جوړولو په هکله تصمیم ونیسي. د وسلوال پاڅون د خبر رسېدل، ددوی د تیت کېدلو لامل ګرځي.

د ۱۳۵۷ل کال په مني کې زه تر یوهٔ وخته پورې د اطلاعاتو او کلتور وزرات اداري رئیس وم. یوه ورځ بارق په خپل دفتر کې د خپلو کارونو له سرته رسولو وروسته راڅخه وغوښتل چې په ګډه سګرټ ووهو. غالباً غوښتل ئې د اوضاع په هکله پوښتنه وکړي، ځکه چې هغوی په خپلو اړیکو کې محدود سوي ول. د نورو خبرو تر څنګ ئې راته د هغو عکسونو او فلمونو د برخلیک په هکله داسې قصه وکړه:

ټول عکسونه او فلمونه مې په یوهٔ بکس کې واچول او تره کي ته ورغلم چې د خپرېدلو په اړه ورڅخه لارښوونه واخلم. موږ د خبرو په منځ کې وو چې کارمل اتاق ته رادننه سو، څو شېبې وروسته چې پوه سو خبره څه ده، له تره کي څخه ئې وغوښتل چې ورته اجازه ورکړي چې په دې هکله دا مواد کنترول کړي. تره کي وویل: دا یو مسلکي کار دی، ملګري بارق ته اجازه ورکړئ چې کار ته دوام ورکړي. خو کارمل تر هغې کچې پېنې ټینګې او ټینګار ئې وکړ چې تره کی په خندا سو اووئې ویل: "ببرک جان ته ئې وسپارئ، بیا به وګورو." څو ورځې وروسته کله چې د ببرک کارمل دفتر ته ورغلم چې د پایلې یا نتیجې پوښتنه ورځېنې وکړم، وئې ویل:" هغو ټولو عکسونو ته مې اور واچاوهٔ. زه اجازه نهٔ ورکوم چې خیبر دې په تأریخ کې داسې له برم څخه ډک مقام وګټي." په دې توګه، ټول هغه اسناد چې د ګوند او هېواد د تأریخ یوه برخه او د یوهٔ آزاد او پرتمین انسان انجام وو د مبارزې د ډګر د تر ټولو نېږدې ترینه یار د ړاندهٔ حسادت قرباني سول. کولای سو حدس ووهو چې هغهٔ ته د شوروي د سفارت له پلوه دغسې یوه دنده ورسپارل سوې وه.

سیاسنګ: اورېدلي مې دي چې د صنفي اتحادیو د مرکزي شوری رئیس – ستار پردلي – د اتحادیې له یو شمېر همکارانو، کارمندانو او تر لاس لاندې ګوندي ملګرو سره ئې د ۱۹۸۰ز کال د اپریل د میاشتې په اوولسمې نېټې له یوې ګېډۍ ګلانو سره د خیبر د قبر

ځنګ ته ورغلي ول. دا ګزارش د افغانستان د راډیو او ټلویزیون له لارې خپور سو. په سبا ئې ببرک کارمل او نجیب دواړو، ستار پردلي احضار کړ او په پټکو او عتاب ئې ورڅخه وپوښتل: تاسو د چا په دستور دا کار کړی دی؟ هغه چې د پرچم د مشرانو او د شوروي د سفارت تر منځ د محرمیاتو له نازکیو خبر نۀ وو په ځواب کې وویل: آیا خیبر د ګوند یو له مشرانو څخه نۀ وو؟ آیا موږ ټول هغۀ ته درناوی او ارادت نۀ لرو؟ او داسې نورې دفاعیې؟ خو د توقع برخلاف پردلي انتقاد او وترټل سو. ورپسې ئې ګوندي اپاراتو ته دستور صادر کړ چې نور هېڅوک نۀ سي کولای د خیبر د مرګ او ژوند په هکله په خپل سر اقدامات وکړي.

زیارمل: ما نۀ دي اورېدلي. له دې موضوع څخه هېڅ ډول اطلاع نۀ لرم.
سیاسنګ: د «غروب خورشید» رساله؟
زیارمل: بارق شفیعي، «غروب خورشید» زما د غوښتنې پر بنسټ ولیکل. له هغۀ څخه مې هیله وکړه چې که له استاد خیبر څخه خاطرات ولرئ، وئې لیکئ او ما ته ئې راولېږئ. هغۀ وویل: د استاد یوه لیکنه راسره ده چې زما بایوګرافي ئې په خپل قلم لیکلې ده او هم ئې له پکتیا څخه څو لیکونه رالېږلي دي. وروسته په دې کار کې ځنډ پېښ سو. بارق به هر ځل د خپلې کورودانې د ناروغې خبره وړاندې کوله او ویل به ئې: زما ډېر وخت په دې تېرېږي چې له مېرمنې سره مې مرسته  او رسېدنه وکړم. یوه ورځ ئې راڅخه پوښتنه وکړه: تاسو په دغو معلومات څه غواړئ؟ ما ورته وویل: غواړم یو څه ولیکم ترڅو د خیبر په هکله حقایق له یاده ونۀ ایستل سي. وئې ویل: زه په خپله غواړم دا د یوۀ کتاب په ډول خپور کړم. هغۀ سره زما مراجعه همدلته په تپه ودرېدله. بارق وروسته د یو شمېر معلوماتو د وصول یا تصدیق لپاره توریالي خیبر ته مراجعه کړې وه. توریالي ورته ویلي ول چې په دې هکله معلومات نۀ لري نو تاسو ذبیح کاکا ته مراجعه وکړئ خو بارق بیا مراجعه ونۀ کړه. په پای کې د «غروب خورشید» رساله ئې توریالي ته لېږل وه او ورڅخه ئې غوښتنه کړې وه چې هغه دې ذبیح الله زیارمل ته ورسوي.

سیاسنګ: آیا «غروب خورشید» له لایق سره ددوستۍ په پار او درناوي نۀ دی لیکل سوی؟
زیارمل: دا خبره  چې ګنې بارق دې دا کار د لایق د خوشحالولو لپاره کړی وي، منتفي ده، ځکه وروسته له دې چې بارق د عبدالله نایبي په ګوند کې او چا سره چې تخلص ئې تر دې مخکې پوپل وو، غړیتوب تر لاسه کړ او د نوي ګوند بنسټ ایښودونکی وو، له لایق سره ئې خړپړ روابط درلودل. لایق کوم ځل د بارق له ناروغۍ څخه خبر سوی وو او غوښتل ئې پوښتنې ته ئې ورسي، د استوګنې ښار ته ئې نېږدې رسېدلی وو، ددې لپاره چې ډاډ تر لاسه کړي چې بارق په کور کې دی که نه نو کور ته ئې زنګ وهلی وو او ورته ئې ویلي ول چې پوښتنې ته ئې ورځي. بارق په خښم او قهر ځواب ورکړی وو: « تۀ

په کوم جرئت زما کور ته راځې؟» په دې توګه د دولت له پرځېدلو وروسته دوی دواړو د یو بل د لیدلو امکان تر لاسه نهٔ کړ. باید ووایم چې د بارق اصلي نیت دا وو چې د خیبر په قلم لیکل سوې خپله بایو ګرافي خپره کړي خو د کتاب په پای کې هماغه څو لیکونه چې خپارهٔ سوي دي په تبعید کې د خیبر د روحیاتو د پېژندلو او د هغهٔ د لیکلو د بڼې د څرنګوالي لپاره مغتنم دي.

سیاسنګ:غرزي لایق د «نقلی از هزارویک پیشامد» د کتاب په ۲۱ پاڼې کې لیکلي دي: «د [۱۳۵۷ل کال د وري د میاشتې ۲۸ وه] ساعت ښايي د شپې یوه بجه به وه چې ښاري پولیسو د دولتي مطبعې ددیوال څنګ ته د میر اکبر خیبر د جسد له پېژندلو وروسته چې په سرو وینو لیت پیت وو، او د خیبر په اړه د څو متعارفو پوښتنو ګروېږنو، د هغهٔ د کورنۍ او اړیکو له پوښتلو وروسته د کارتهٔ پروان په دوهم سړک کې زموږ کورته راورسولم.» ولي پولیس د کارتهٔ پروان او مکروریانو تر منځ د څو کیلومترو مزل پر ځای –د خیبر کورته ورنغلل چې د پېښې د محل په څو متری کې واقع وو او د خیبر له مېرمنې، یا لونو یا زوی څخه ئې د هغهٔ د هویت د تثبیت لپاره مرسته ونهٔ غوښتله؟

زیارمل: غرزی رښتیا وايي. کله چې پولیس ددوی د کور د دروازې شا ته ورغلل هغهٔ ورته دروازه خلاصه کړې وه. پولیسو د خیبر د ترور او د هغهٔ د هویت د تشخیص لپاره له سلیمان لایق څخه غوښتنه کړې وه چې ورسي. د لایق مېرمن او غرزی دواړه د لایق د تللو مانع سول. ځکه دوی فکر کاوهٔ چې د خیبر موضوع دروغ او یا کومه پلمه ده او ښايي اصلي موخه ئې دا وي چې د لایق پښه کوم جنجال ته راوکاږي. غرزی داوطلب سوی وو چې دا کار تر سره کړي. وروسته له دې چې ورته څرګنده سوه چې خیبر په رښتیا ترور سوی او جسد ئې عدلي طب ته لېږدول سوی نو هلته تللی وو. هغهٔ په خپله راته قصه وکړه. د لایق مېرمن هم را ته وویل چې: ما ونهٔ غوښتل چې لایق له ځان سره بوځي، ځکه زما په نظر دا یوه دسیسه ښکارېدله. لایق هم دا خبره د خپلو ورځنیو خاطراتو په لړ کې درج کړې وه. د هغې شپې خاطرات غرزي لایق په جزئیاتو ثبت او خپارهٔ کړي دي. ددهٔ د خبرو په صحیح والي باندې هېڅ شک نهٔ لرم.

سیاسنګ: زما پوښتنه د غرزي لایق د خبرو د سموالي یا ناسموالي په هکله نهٔ ده، له همدې امله ده چې ما د هغهٔ یادداشت د «هزارو یک پیشامد» د کتاب له ۲۱ پاڼې چې د هغې شپې روایت دی ستاسو مخې ته کښېښود. اوس یو ځل بیا پوښتنه کوم چې ولي پولیسو د کارتهٔ پروان او مکروریانو تر منځ د څو کیلومترو مزل په وهلو سره –د خیبر کورته ورنغلل چې د پېښې د محل په څو متری کې واقع وو او د خیبر له مېرمنې، یا لونو یا زوی څخه ئې د هغهٔ د هویت د تثبیت لپاره مرسته ونهٔ غوښتله؟

زیارمل:....

سیاسنګ: د "خاطرات سیاسي محمد آصف الم" په ۲۵۲ پاڼې کې داسې راغلي دي: «له اتلسم پولینوم وروسته، د پرچمیانو درې جناح ګاڼې چې د کارملیستانو، نجیبیستانو او خیبریستانو رامنځته سوې.» لومړنۍ دوه خو ئې د منلو وړ دي، خیبریستان څوک ول ؟

زیارمل: که «د خیبر د تګلوري او د ډاکټر نجیب د دریځونو» په هکله ستاسو پوښتنې ته پاملرنه وسي نو له دوه وو متفاوتو حالاتو سره مخامخ کېږو. زما قضاوت او پایلنیوی دا دی: د ۱۳۵۷ل کال د غوایي له پېښو مخکې د «انقلاب او د ګوند له لوري د انقلاب د رهبرۍ» په هکله د خیبر دریځ د شوروي د پلان د پلي کولو لپاره د داؤود له پرځېدلو سره مخالفت وو، ځکه خیبر د شورویانو په اصلي هدف پوهېدۀ چې (له افغانستان سره د ګډ سرحد) د روسیې د سویلي سرحداتو له اړخه د اطمینان تر لاسه کول دي. شورویانو نۀ غوښتل چې د انورالسادات د کمپ دیوېډ Camp David د مشهورې پېښې او د شوروي له کربښې څخه د سومالیې د مشر د مخ اړولو په شان بل مخ اړونګ یو ځل بیا د محمد داؤود له پلوه تکرار نۀ سي. ددې خبرې ثبوت د خیبر او حفیظ الله امین تر منځ په لفظي ټکر کې پروت دی. ځکه چې امین د ګوند د ټولې رهبرۍ سمبول او استازی وو.

ان هغو کسانو چې خپله بې خبري ئې څرګندوله، پوره معلومات درلودل چې د داؤود په پرځولو کې د شورویانو موخه څه وه او همکاري ئې ورسره وکړه. دا چې ددۀ او د هغۀ شخصي او سلیقوي اختلافات ددې لامل سول چې هغه مستعجل دولت دې له پېښو سره مخامخ سي دا د ټولو هغو حکومتونو ځانګړتیا او خصلت دی چې د ولسي انقلابونو په پایله کې رهبرۍ ته نۀ دي رسېدلي بلکه د کودتا او کودتا ته ورته دسایسو په سبب د واک پر ګدۍ ئې ډډه لګولې وي. له همدې منظر څخه هم نجیب چې د خپلو اسلافو د تېروتنو د اصلاح او ترمیم په هیلې مسؤولیت منلی وو، نۀ ئې سوای کولی خپلې اړیکې له اصلي ملاتړي دولت سره ویجاړې کړي.

د ګوند او دولت د قاعدې د پراختیا په اړه د نجیب دریځونو او د ډېرو ولسي قدرتونو «سیمه ییزو ځواکونو – ژ» رامنځته کول او د "ملي پخلاینې" له سیاست سره د دولت د دودیزو او پخوانیو منل سویو جوړوښتونو بیا راژوندي کول، هر ډول ایډیولوژیک جزم یوې خوا ته پرېښود؛ په دې ډلې کې د وطن د ګوند له مرام څخه د "خلق د ډیموکراتیک مرام" ایستل چې د خلقي انقلابونو لپاره د انترناسیونال او د مسکو یوه نسخه وه او " د پانګوالۍ له لارې څخه اجتناب او د غیر پانګوالۍ د پرمختګ د لارې نیول" ئې هم یوې خوا ته پرېښودل. هغۀ نۀ یوازې د ګوند مرامي اصولو ته بدلون ورکړ او له ایډیولوژیک جوهر څخه ئې تش کړ بلکه د ګوند پر مؤتلفینو باندې په زړور اعتماد سره د کېڼ لاسو ځواکونو جبهه ئې جوړه کړله او پر هغوی ئې په جسارت سره د صدارت تر مرستیالۍ او د مهمو سکتوري وزارتونو تر سرحد پورې اعتماد وکړ.

د نړۍ والو بدلونونو او اوښتونونو په پایله کې شوروي لوري خپلې ټولې ژمنې هېرې کړلې او نهٔ یوازې نجیب ته ئې شا کړله بلکه پاکستان ته ئې د شرمناکې تېښتې لاره هم وربنده کړه. البته هغهٔ په مېړانې سره له دغې سپکې او له شرمه ډکې دروازې څخه د وتلو پر ځای د مرگ لاره غوره وبلله.

ډاکټر نجیب د خپلو شته وو امکاناتو په وسیلې هڅه کوله چې په بشپړو متفاوتو شرایطو کې د جگړې او کړکیچ له بیخبند/ بن بست څخه د وتلو مسئله د خیبر د اصولي لید لوري پر بنسټ "عملي" کړي. ښه به دا وي چې داسې ئې افاده کړو: نجیب د یوهٔ ځوان لاربښود په توگه د خیبر د ستر فکر جوهر، په افغاني ریتم او گامونو سره د ټولنې د تکامل پر لور او د بلوغ پړاو ته رسېدل او په کاملاً پېچلو شرایطو کې د یوهٔ سیاسي مخکښ تشکل چې سیاسي سکتور ئې د سرې جگړې په کړکیچ بدل کړی وو، په خوځښت راوست.

سیاسنگ: سره له چې ما د خپلې پوښتنې ځواب تر لاسه نهٔ کړ، اوس یوه بله پوښتنه لرم: د خیبر د وفات په څلوېښتمې ورځې د انیس د ورځپاڼې د ۱۳۵۷ل کال د غبرگولې د میاشتې په اتمې گڼې کې د "داؤود شاه پرویز" یو پښتو شعر خپور سو. دغهٔ شاعر په خپل ټول ژوند کې یو غزل ویلی دی او په رسنیو کې ئې د بل شعر څرک نهٔ سته. ویل کېدل چې اصلي نوم ئې «غلام شاه سرشارِ شمالي» دی، له لایق سره ئې دوستي وه او پښتو شعر ئې هم وایهٔ. د سر شارِ شمالي زوی ډاکټر اقبال روشني له پورتنۍ خبرې سره همغږی نهٔ دی. که د پرویز له شعر څخه تېر سو، آیا سر شارِ شمالي د خیبر پلوی وو؟

زیارمل: زه ددوی له دوستۍ څخه خبر نهٔ لرم او ما هېڅکله سرشار له میراکبر او لایق سره نهٔ دی لیدلی، خو نهٔ سم کولای د هغوی معمولي آشنایي رد کړم.

سیاسنگ: د خیبر په ستاینې کې دوهم شعر د انیس د ورځپاڼې د ۱۳۵۷ل کال د غبرگولې د میاشتې په څوارلسمې چاپ سوی وو. شاعر ئې د «ن. شوریده» په لنډ نوم وو اوغالباً نبي شوریده دی.

زیارمل: نبي شوریده د هرات له پخوانیو پرچمي کدرونو څخه دی چې یو وخت د پرچم د ولایتي کمېټې منشي وو. د غوایې او مرغومې د شپږمې له پېښو وروسته مې د لومړي ځل لپاره د "صلح او سوسیالیزم" د مجلې په دفتر کې د کار پر مهال ولید او ددوهم ځل لپاره مې کله چې د اردو د سیاسي چارو په ریاست کې وگومارل سوم ولید.

د داؤود پر مهال زنداني کېدل ئې د کارمل -کشتمند د اساسي قانون د وړاندیز سوي طرحې په هکله وو. ﴿دا ځکه د کارمل - کشتمند طرح بولم چې په خپله کشتمند په هماغه مهال او بیا ئې په خپلو خاطراتو کې خپل ځان د هغهٔ سند مؤلف معرفي کړی دی، خو

کارمل ما ته ویلي ول: دا طرح زما ده او دا مې د ټولو جمهوري نظامونو منجمله د فرانسي د پینځم جمهوریت د مطالعې پر بنسټ وړاندې کړې ده.) لنډه دا چې کله چې دا طرحه د ګوندي کدرونو له پلوه د شب نامې په ډول ویشل کېدله، ظاهراً دستور دا وو چې که د پولیسو له خوا څوک ونیول سول له خپل عمل څخه دې انکار نهٔ کوي او ودې وایي: زه د پرچم غړی یم او دا د هېواد د راتلونکي اساسي قانون په هکله زموږ د ګوند متقابله طرحه ده.

د شوریده زنداني کېدل، غالباً د ډاکټر خدای داد بشرمل د نیول کېدلو پر بنسټ سوي دي. هغهٔ هرات ته شب نامه وړې وه او د شوریده په شان ونیول سو او د غوایي تر پېښو پورې د همدغهٔ «جرم» په نوم د دهمزنګ په زندان کې پاتې سو. البته کله چې تره کي د زندانیانو عمومي بخښنه اعلان کړله دی هم د دهمزنګ له زندانه خوشې سو.

ددې خبرې یادول په زړهٔ پورې دي: کله چې هغه وخت پولیسو له بشرمل څخه پوښتنه وکړه: چا، تاسو ته دا پاڼې درکړې وې چې هرات ته ئې یوسې؟ بشرمل په سپینه او بربنډه توګه ځواب ورکړی وو: بارق شفیعي، مکروریان، ۲۸ بلاک. د پولیسو د هدایت او د تحقیق د اصولو پر بنسټ بارق باید جلب سوی وای، خو د هغهٔ د سیاسي هویت له کبله ئې ونهٔ غوښتل چې په خپل سر کوم اقدام وکړي.

قدیر نورستاني له ولسمشر څخه د هدایت غوښتنه وکړه. داؤود خان ورته وویل: «مسئله مهٔ پېچلې کوئ. د تحقیق موضوع تر همدې ځایه کافي وګڼئ او تحقیقاتو ته د بارق له جلبولو څخه ډډه وکړئ.» ما هماغه وخت په پولیسو کې د سازماني ملګرو له خولو دا خبره واورېدله چې: «داؤود د بارق شفیعي د نهٔ جلبولو امر صادر کړی دی.» دا موضوع په سیاسي کړیو کې د یو شمېر تبصرو لامل سوه. زما تفسیر داسې دی:داؤود خان فکر کاوهٔ ښایي دا هم یوه هڅه وي چې په کېڼ لاسو سیاسي مشرانو دې برید وسي. او ورپسې دې د دولت پر ضد یو شمېر تحرکات پر لاره وغورځول سي، کټ مټ هماغه استنتاج ئې چې د خرم له مړینې وروسته کړی وو.

سیاسنګ: ستاسو د تعبیر او شننې پر بنسټ، آیا د شوریده او بشرمل زنداني کېدل او قدیر نورستاني ته د داؤود په خاص امر د بارق نهٔ زنداني کېدل د –کلیدي عامل په توګه - هماغه پخوانۍ ګنګوسې نهٔ تازه کوي چې ویل ئې: بارق، غوربندي او لایق د جمهوریت د رژیم د «ملي مصؤونیت» همکاران ول او له همدې کبله محمد داؤود وویل: بارق مهٔ بندي کوئ؟

زیارمل: د بارق شفیعي  د عدم احضار په اړه د ولسمشر د هدایت په هکله هغو کسانو ته چې د پولیسو د سیستم له ادارې او له پولیسي تحقیقاتو سره آشنایي لري، روښانه ده چې که بارق احضار سوی وای، هغهٔ به هم د بشرمل او شوریده په شان حقیقت بیان کړی وای او یقیناً دا خبره ئې کوله چې د ګوند د مشرتابهٔ غړی یم او ما ته دا دنده

د مشرتابۀ له لارې راکړل سوې وه، نو ځکه مې سر ته ورسوله. ورپسې به پوښتل سوی وای چې لومړی د هغو کسانو نومونه ولیکئ چې ددغو اسنادو د خپرېدلو لپاره ئې دا دنده درسپارلې ده. دوهم دا چې تاسو ته چا دا دنده درکړې وه؟ او نور او نور. دولت مجبوراً هغوی ټول تر تحقیق لاندې نیولي وای او په دې توګه د پرچم مشرتابۀ او هغه مهم کدرونه چې دا پاڼې ئې خپرې کړې وې په زندان کې د مخکې نیول سویو کسانو تر څنګ غورځول کېدل. پایله دا کېدله چې داؤود هغه تحقیقات چې غوښتل ئې محدود پاتې سي او له تکرار څخه ئې مخنیوی وسي، د موجوده باالقوه ګوند پر وړاندې په یوې علني دوسيې بدلېدۀ چې نړۍ وال شهرت ئې درلود او ورباندې برید کېدۀ او دا خبرې په هغۀ وخت کې د داؤود په پروګرام کې نۀ وې.

له همدې کبله د پرچم ډلې دا پرېکړه کړې وه چې په دغۀ پړاو کې د ګوندي یا د سیاسي تشکیلاتو په توګه خپل موجودیت ثابت کړي چې استازی ئې د شورا په دوه وو دورو کې په ولسي جرګه کې له کابله وو او د تر ټولو مهم قانوني سند په هکله خپله متقابله طرحه وړاندې کړي. شاهي او جمهوري دواړو دولتونو دا موضوع (یعنې د ګوندونو د ممنوعیت په هکله تصمیم) د تطبیق وړ ګڼله (یعنې عملاً ئې پلي سوې ګڼله) خو قانوني اړخونه ئې په پام کې نۀ نیول. دغه دواړه حکومتونه د ګوندونو د قانون له توشیح سره د مخالفت له کولو سره سره دې پایلې ته رسېدلي ول چې د سیاسي تشکیلاتو د نوم په هکله دې د "ګوند" د نوم پر ځای باید د "جریان" په شان اصطلاحات وکارول سي؛ له دې کبله د پرچم د مشرتابۀ ډله ییزل نیول کېدل د داؤود حکومت ئې په یوۀ ناغوښتلي کړکېچ کې ډوب کاوۀ. عملي پایله دا کېدله چې له شوروي او د شوروي تر نفوذ لاندې هېوادونو سره اړیکي چې د حکومت اقتصادي پلانونه ئې تمویلول، که د کړکېچ خوا ته نۀ تللې خو هرو مرو سړېدلې. له دې اسیته/ سبب، داؤود خان د کورني او باندني لومړني مسؤول مقام په توګه دغسې یوې ستونزې ته چمتووالی نۀ درلود.

سیاسنګ: که د جمهوریت رژیم د افغانستان د خلق له ډیموکراټیک ګوند څخه په دومره لویوالي کومه ویره درلودله نو نبي شوریده ئې نه باید زندان ته اچولی وای، او که هغه ئې په ناپېژندلې توګه او په ناخبرۍ کې د زندانو د میلونو شاته کښېنولی وو باید ژر ئې خوشې کړی وای او بخښنه ئې هم ورڅخه غوښتې وای.

بله پوښتنه: ولې د خیبر دوه وو مینه والو – لایق او پنجشیري له هر رهبر او هر رژیم سره په هرې جناح کې ستونزې درلودلې؟

زیارمل: له سیاسي مشرانو څخه د پنجشیري او د لایق د نارضایتۍ مسئله که له یو بل سره تړلې یا مرتبطه وانګېرل سي سړی غلطې پایلنیوۍ ته رسوي. پنجشیري په لومړیو کې نۀ یوازې د پښتنو تظاهر نۀ کاوۀ بلکه خپل امتیاز ئې په دې کې ګاڼۀ چې ګڼې دی یوازینی تحصیلکرده تاجیک دی چې د پښتو ژبه ئې زده کړې ده. هغۀ د ګوند په

لومړي بېلتون یا انشعاب کې د کارمل خوا ونیوله او له تره کي څخه لېرې سو، خو له زنداني کېدلو وروسته د پنجشیر په ولسوالۍ کې د ولسي جرګې د د پارلسمې دورې لپاره د پرچمي کاندید لپاره د ټاکنو د کمپاین په پایله کې او په دې لړ کې د ګوند د پالیسۍ برخلاف د پادشاه پر ضد د هغهٔ لفظي بریدونه (په حقیقت کې د شاه د کور د مزدور مشهور په "رحیم غلام بچه" – چې د پنجشیر اوسېدونکی او هغه وخت د سیال کاندید تر شا ولاړ وو) ددې لامل سول چې لومړی د کاپیسا زندان ته ولوېږي او بیا د دهمزنګ زندان ته راولېږدول سو. په دهمزنګ کې د کابل له امنیه بولندوی حکیم کټوازي سره له څو لیدنو وروسته، خپل بېلتون یا انشعاب ئې په زندان کې دننه له پرچم څخه اعلان کړ. (دا خبره ما د خیبر په حضور کې د کارمل له خولې اورېدلې ده.)

له دې نېټې وروسته پنجشیري چې نهٔ ئې سوای کولی بېرته تره کي ته وروګرځي، هڅه ئې وکړه چې له "ګروه کار" سره یو ځای سي او مشرتوب ئې په لاس کې واخلي چې د "یوې سیاسي ډلې د مشرتابهٔ" د امتیاز په لرلو سره دې د "خلق" په ترکیب کې ومنل سي. البته چې همداسې هم وسول او له "ګروه کار" سره یو ځای د خلق یوه برخه وګرځېد. پنجشیری له هغه وروسته د شرعي جوزجاني او شهرالله شهپر په ګډون د شمال د ځوانو کېنې لاسو عمدتاً د وزبیک، تورکمن او تاجیک تحصلکرده ګانو تر دباو/فشار لاندې په خلق کې جذب سو. دوی ټولو پښتون ضد دریځ ونیوهٔ او په دې بشپړ تضاد کې ودرېدل چې د خلقي پښتون تره کي مشرتوب دې ومني، خو ددوی دا ځل شعار، له دربار سره د کارمل نبږدې والی او د ولسي جرګې په ټاکنو کې ور سره د مرستې نهٔ کول، په بل عبارت ددوی ګډ درد وو. دواړو دا تور لګاوهٔ چې ددوی د ناکامیو سرچینه په خپله کارمل دی. قصه ئې اوږده ده او په دې لنډ ځای کې نهٔ ځاییږي.

حال داچې لایق په خپلو ګلالیو شاعرانه احساساتو سره، سره له دې چې له تره کي سره ئې ډېر مشترکات درلودل تر پایه پورې د کارمل تر څنګ ودرېد. لایق هېڅکله ونهٔ غوښتل ګوند او سیاسي مبارزې ته شا کړي او نهٔ ئې هڅه وکړه چې له کوم بل ګوند یا فرکسیون سره یو ځای سي، حال دا چې پنجشیرې درې ځله خپل دریځ بدل کړ. دا وروسته څرګنده سوه چې شوروپانو پنجشیری د خلق په فرکسیون کې هم ور دننه کړی وو. زما په یاد دي چې پنجشیري به په تصادفي خبرو اترو کې دلته او هلته له تره کي او وروسته به ئې د انقلابي شورى له رئیس کارمل څخه شکایت پېل کړ؛ د انقلابي شورى په یوې غونډې کې چې موږ د بلل سوېو / مدعوینو په منځ کې ګډون درلود، پنجشیري د کنترول او د تفتیش د کمیسیون په نوم، (یا له غونډې مخکې او یا ددمې پر مهال) د غونډې د تالار یوهٔ ګوټ ته رانېږدې سو او له نجیب څخه ئې شکایتونه پېل کړل (هغه زما له مستقل دریځ او په رسمي رهبرانو پورې له عدم مربوطیت څخه ډاډه وو)، ما د زړهٔ سواندې له مخې ورته وویل: ملګری پنجشیری! په دې عمر کې تا ته ډېر وخت پاتې نهٔ دی چې د هر ګوندي مشر/رهبر په اپوزیسیون کې دریځ ونیسئ. په یاد

دې دي چې تېره ورځ په اتلسم پولینوم کې د خپل ځان په شان کسانو سره د ځوانو کدرونو په منځ کې دې د کارمل په خلع کې ځرګنده ونډه درلوده. اوس څه خبره ده چې له نجیب څخه شکایت لرئ؟ پنجشیري زما د خولې د چوپ کولو لپاره په دې چې نجیب چنداني ښهٔ مشر نهٔ دی، یوازې ئې وکولای سول یو مثال راکړي: " له نجیب څخه مې وغوښتل له دې چې ببرک کارمل د میدان وردکو د ولایت ځوان او نهٔ ستړي کېدونکی مبارز کدر شاه محمود حصین د فرکسیون بازیو په تور برطرف کړی دی لطفاً د هغهٔ دریځ بېرته احیاء کړئ. نجیب زما په وړاندیز باندې سترګې پټې کړې." ددې سپک او ځرګند مثال په اورېدلو مې له هغهٔ څخه وغوښتل چې نور دې له داسې کوچنیو خوابدیو څخه تېر سي او خپل پاتې ژوند دې نهٔ یوازې د ګوندي صفوفو په مستدام ټینګښت بلکه په ملي استحکام کې تېر کړي. له هماغې ورځې وروسته زموږ اړیکي په خپل پخواني خوند او تودوخې پاتې نهٔ سوې. پنجشیری ان تر هغهٔ ځایه وښویید او سقوط ئې وکړ چې احمد شاه مسعود ته ئې بیعت وکړ او ورور ئې د مسعود د دفتر رئیس سو او دی په خپله د احمدشاه مسعود له سرښندویو او ټینګو ستاینوالو څخه سو.

اوس بېرته سلیمان لایق ته راګرځو چې د «ستمیانو» په نوم مشهورې د یوې ډلې له لوري ئې سیاسي تخریب کېږي. زما موخه په ګوند کې دننه او له ګوند څخه دباندې ستمیان دي. سره له دې چې لایق د پاړسي بې سیاله شاعر دی په دې تورن کېږي چې ګنې له پاړسي ژبو او غیر پښتنو سره ضدیت لري، حال دا چې ددهٔ په اندازې هېڅ هم-عصره شاعر د پاړسي ادبیاتو ته خدمت نهٔ دی کړی. په بل لور کې مخالفین ئې داسې بېلګه نهٔ سي وړاندې کولی چې پښتو ژبې ته دې خدمت کړې وي. زه هم د لایق پر یو شمېر کارونو اعتراض لرم او ان دا چې دا اعتراضونه مې په لیکلي ډول وړباندې کړي دي خو دا اعتراضات د هېواد او د کینې غورځنګ په ګټه وو، نهٔ ددې لپاره چې لایق یا مخالفین ئې وړباندې خوښ یا خپه سي. له اخلاقي او د نفسي سلامتوالي له اړخه لایق له ټولو یوه درجه پورته وو. له یوازیني دولتي مشر سره ئې چې برالا مخالفت درلود، حفیظ الله امین وو. له کارمل څخه ئې زړهٔ خوړین وو چې وروسته په کرکې واوښت. البته له لایق سره خصومت او عداوت کې د کارملیستانو ونډه درنده وه، خو له ټولو قید و بندونو، لوړو ژورو سره سره بیا هم د ملا او مجاهد د نهٔ پخلاکېدونکې دښمنۍ په مورچل کې ټینګ ودرېد. حال دا چې پنجشیري د خپل ژوند په وروستیو کې په ځرګند ډول د نظار د شورا تر څنګ برالا او علني دریځ غوره کړ.

بارق ته د خیبر د لیکونو له مخې چې په «غروب خورشید» کې خپارهٔ سوي دي، د پنجشیري او هادي کریم په هکله، په ځانګړې توګه د پنجشیري په هکله د خیبر تذکرات ځرګندوي چې د ګوند د جوړولو په لومړنیو کارونو کې ان د ګوندي کړنلارې او مرام په تسوید کې ئې نېږدې همکاري درلودله.

د لومړني ببلتون یا انشعاب د سختیو پر مهال، دی د مرکزي کمیټې له لومړنیو غړو څخه وو او د عارف سروري په وسیلې چې یو شخصي موټر ئې درلود، پکتیا ته د خیبر د لیدلو لپاره یووړل سو. د خیبر د خبرو په پایله کې، پنجشیری له کارمل سره پاتې سو او له تره کي څخه ئې پرېکون وکړ. عارف زیاته کړه چې میر اکبر په خپل استدلال کې تر هغهٔ ځایه وړاندې لاړ چې مخ ئې پنجشیري ته واړاوهٔ او وئې ویل: یوازې په سیاسي باټو او طمطراق او انقلابي جملاتو سره نهٔ سو کولی د سیاست په ډګر کې ګام کښېږدو. باید هر ګام او تصمیم د ولس د ګټو پر بنسټ او د هغو اصولو په پاسللو او رعایت اوچت کړو چې ورباندې ګروهنه لرو. د عارف په خبره، د میر اکبر له خبرو وروسته په پنجشیري باندې ځمکه او آسمان دومره وترنګېدل چې ټولو ګومان وکړه اوس به ئې زړهٔ ودرېږي.

د پنجشیري په هکله د پورتنیو معلوماتو یادول او د کارمل تر څنګ د هغهٔ د دریځ یادول ضروري ول. لایق، د پنجشیري د ځوانۍ په پړاونو کې او په دولتي ادارو کې د عملي کار په پېل کې د عبدالروؤف بینوا په امر او رویدارۍ د مطبوعاتو د مستقل ریاست د کتابتون له مرستیالۍ څخه، د راډیو نشراتو ته تبدیل کړ. پنجشیری دومره لایق ته نېږدې وو چې لایق ورته «د پنجشیر عقاب» شعر د هغهٔ په ستایلو او توصیف کې ویلی وو. لایق دا خبره راته په خپله د نوموړي شعر له لوستولو وروسته وکړه.

سیاسنګ: د سلیمان لایق ادبي – هنري وړتیا او توان څرګند دی؛ خو افغانستان په پښتو او پاړسي دواړو ژبو کې څو زره شاعران لري. د زرهاوو شاعرانو په منځ کې د یوهٔ بل شاعر شتون یا نهٔ شتون – ان دا چې بې سیاله او بې ساری هم وي – د ادبیاتو توازن نهٔ سي کښته پورته کولی. آیا د ګوند او د واکمنۍ له پرځېدلو وروسته به دا ښه نهٔ وای چې لایق ددومره شعرونو د ټولګو د چاپ او د بودیجو د لګولو پر ځای او یا لږ تر لږه ددغو کارونو تر څنګ – په اروپا یا افغانستان کې – د اشرف غني پر مهال د علومو په اکاډیمۍ کې د کار پر مهال – د شوروي د کمونیست ګوند او د افغانستان د خلق ډیموکراټیک ګوند د ژوندیو یا مړهٔ سویو رهبرانو له ګواښ، وېرې او ډار پرته، د میر اکبر خیبر د ژوند او مرګ په اړوند یو لنډ یاد- لیک لیکلی وای؟

زیارمل: په همدې هکله چې ولې لایق د شعرونو د ویلو پر ځای چې ددهٔ اصلي هویت دی او په دې ډګر کې مهمو بریاوو ته رسېدلی وو، لکه په کور دننه د بېلابېلو جوایزو د ګټلو تر څنګ د آسیا او افریقا د شاعرانو او لیکوالانو د اتحادیې تر مهمې جایزې پورې، ئې د خیبر په هکله څه نهٔ دي لیکلي تاسو د انصاف اړخ له لاسه ورکړی دی. چا ته معلومه ده چې د ورځینو خاطراتو د زر هاوو پاڼو په منځ کې د میر اکبر خیبر د نظریاتو، طرحو او د هغهٔ د شخصیت په اړه مهم شیان نهٔ وي راغلي؟

سیاسنګ: د خیبر له وژل کېدلو څلورڅلویښت کاله تېرېږي خو قاتل ئې نۀ پېژندل کېږي، "د خیبر په هکله" د – سلیمان لایق په قلم لیکل سوی – هغه یادلیک د کومې ورځې لپاره ساتل سوی دی؟

زیارمل: زه نور دا ډول پوښتنو ته چې په تکرار سره د غوربندي، لایق او بارق په اړه مطرح او د هغوی د سیاسي دښمنانو او سیالانو له ګنګوسو څخه سرچینه اخلي ځواب نۀ ورکوم، ځکه دا کار تر ډېره ابرام او ټینګار ته پاتې کېږي او داسې پوښتنو ته ځواب ورکول د وخت د ضایع کېدلو سبب ګرځي. پر نور «احمد نور» باندې د خیبر د قتل تور، کومه نوې خبره نۀ ده. غوربندی،عالم یار ورونه او نور کسان هم د ګنګوسو او تاویلې ما ویلې په ډول د خیبر په قتل تورن دي. پنجشیری ئې د حزب اسلامي امیر ته منسوبوي او یو شمېر نور کسان ئې د داؤود په دولت کې په رسولي او قدیر پورې منسوبوي. زما په اند هماغسې چې هغوی خپل دلایل درلودل او وړاندې ئې کړل، لایق هم خپل دلایل وړاندې کړل. دا کوم بې سابقه بدعت او تور نۀ وو.

سیاسنګ: پوښتنې کوونکی په دې خبرې غلی/ چوپ کول چې «زه به ځواب ور نۀ کړم» د حل لاره نۀ ده.  البته کله ناکله له پوښتنې مخ تاوول او په پام کې نۀ نیول په خپله یو «ځواب» دی، ځکه د همداسې حالت په رڼا کې څوک پوهېږي چې په څه ډول د رازونو پر مخ پرده غوړول کېږي. ستاسو اوسنی غبرګون په څرګنده ښیي چې که زما (سیاسنګ) یو میاشتینی ټینګار نۀ وای، تر نن پورې ستاسو د راکړل سویو ځوابونو یوه اعشاریه هم لاس ته نۀ راتلل. له دې سره سره، تاسو سل په سلو کې حق لرئ چې هرې پوښتنې ته که مو غوښتي وي ځواب ورنۀ کړي، ځواب مۀ ورکوئ. زه په دواړو حالاتو کې له تاسو څخه مننډوی یم.

زیارمل: دا چې زما پام مو دې ته را اړولی دی چې د ځواب ورکول یا نۀ ورکول زما سل په سلو کې حق دی په دې باندې زه په بشپړ ډول پوهېږم. که ما له تاسو سره د همکارۍ موافقه کړې ده د مېرمن برېښنا خیبر د **ټینګار** له مخې وه ځکه هغه **هیله** لري له هغۀ چا سره همکاري وکړم چې غواړي د هغۀ د پلار د ترور د پېښې پر تیارو اړخونو باندې روښنايي واچوي. زه ددې کورنۍ د یوۀ نېږدې دوست په توګه بالاخره چمتو سوم چې دا کرښې تاسو ته ولیکم، حال دا چې نۀ تاسو ما پېژنئ او نۀ زه له تاسو عالي جناب سره پېژندګلوي لرم او موږ دواړه له یو بل سره ان ډېره کوچنۍ ګډه وجه هم نۀ لرو.

سیاسنګ: کاشکې له ما سره ستاسو د همکارۍ توافق د تأریخ اړتیا ته ددرنښت په پار وای، نۀ د برېښنا خیبر د ټینګار او هیلې له مخې. که تاسو له سلیمان لایق، بارق شفیعي، صمد ازهر او نورو خبره وو کسانو سره  په تېرو څلورو لسیزو کې چې له یو بل سره تر ټولو نېږدې ترینه ګډه وجه لرئ د خیبر یاد- لیک مو چمتو کړای وای نن ما ته

وار نهٔ را رسېد. موږ نهٔ باید میر اکبر خیبر د تأریخ له پراخې لمنې څخه لېرې کړو او په فشار او دباو ئې د شخصي او کورنیو تنګو پیوندونو په کړۍ کې ځای پر ځای کړو. هر ګوره! هیله مند یم چې له څو نورو ځوابونو څخه ډډه ونهٔ کړئ. د ۲۰۲۱ز کال د جون د میاشتې په دولسمې نېټې ډاکټر ضمیر میهن پور د بهار په ټلویزیون کې وویل:

لومړی: «خیبر ملي مسایل رامخ ته کول او غوښتل ئې چې ډیموکراټیک ګوند په ملي غورځنګ کې یا مدغم سي او یا منحل، خو کارمل او اکثریتو خلقیانو پرولتري انترناسیونالیزم رامخ ته کاوهٔ او نهٔ ئې غوښتل چې ګوند منحل سي.» دوهم:«خیبر به په ژمیو کې کله ناکله په ننګرهار کې د سید جان لالا په کور کې د پاچاخان لیدلو ته راغی، ځکه چې د پښتونستان داعیې ته ئې ډېره لېوالتیا درلوده. داؤود به هم په ژمي کې کله چې بیکار وو جلال آباد ته راتهٔ. کله نا کله به کارمل هم راغی. ما په خپله یو یا دوه ځله د سید جان لالا په کور کې، باچاخان، داؤود خان او خیبر لیدلي دي.»

پوښتنې: دغه لیدنې کتنې ولې په کابل کې نهٔ کېدلې؟ آیا د «پښتنو د داعیې» لرل او تر دې کچې ورته پاملرنه کول خیبر ته د مارکسیستي ایډیولوژۍ له اړخه صدمه نهٔ رسوي؟

زیارمل: داسې ښکاري چې تاسو یا زما ځوابونه دقیق نهٔ لولئ او یا دا چې د میهن پور په شان کسانو او د کارمل د کړۍ د نورو اطرافیانو د خبرو پر وړاندې ورته اهمیت نهٔ ورکوئ. دا خبره زه د لومړي ځل لپاره اورم چې میر اکبر او یا کارمل او ان داؤود دې د سیدجان لالا په کور کې له داؤود او باچاخان سره لیدلي وي. باچاخان په جلال آباد کې کوم کور نهٔ درلود. له هغهٔ مخکې ئې د قبائیلو د مدیریت په مېلمستون کې ژوند کاوهٔ او هماغلته ئې له خپلو مراجعینو سره لیدهٔ کاتهٔ کول. داؤود خان په جلال آباد کې کوم بڼ/ باغ نهٔ درلود. زه د لومړي ځل لپاره اورم چې داؤودخان، خیبر او باچاخان دې د سید جان لالا کور ته راغلي وي. سیدجان چې د غفارخان له اخلاص مندانو څخه وو، کېدای سي هغه ئې مېلمه کړی وي. دا کومه عجیبه پېښه نهٔ ده. باچا خان د خپلو دوستانو مېلمستیاوو ته ورتهٔ خو مخکې له مخکې به ئې دوه شرطونه کښېښودل: لومړی ډوډۍ باید ساده وي او دوهم باید کومه مفصله مېلمستیا نهٔ وي ترڅو د هغهٔ لپاره دې ګڼ شمېر نور کسان راوبللی سي.

له باچاخان سره د خیبر لیدهٔ کاتهٔ په دوه وو حالاتو کې کېدل: یا د هماغو ورځو د پېښو پر بنسټ خیبر اړین بلل چې ورسره خبرې وکړي او یا په خپله باچاخان ورڅخه غوښتل چې ورسره وګوري. خو په داسې لیدو کاتو کې هېڅ چا حضور نهٔ درلود. د خیبر د لیدو کاتو علت هم دا وو چې ولي خان خیبر ته هیله څرګنده کړې وه چې: «بابا یوازې مهٔ پرېږدئ. که تاسو له بابا سره ونهٔ ګورئ، افغان او قبائیلي ملکان ئې ذهن له درواغو خرابوي او دا موږ ته هم ستونزې رامنځته کوي.»

خیبر ته د پښتونستان مسئله د یوۀ پښتون له نظره مطرح نۀ وه. یو ځل خیبر د پښتونستان د لارې مبارزه ئې د سویز د کانال د ملي کولو له مسئلې سره پرتله کړه چې د دولت له نظره یوه جایزه او د ستایلو وړ مسئله وه چې تر همدغۀ عنوان لاندې ئې د ښکېلاکګرو هېوادونو او د بغداد او ورپسې د سنتو CENTO او سیتو SEATO د نظامي تړونونو سیاستونه مطرح او افشاء کړل، دا هغه کار وو چې په مصر کې د سویز د کانال د ملي کولو له دفاع څخه په ګټه اخېستلو تر سره کاوۀ.

په افغانستان کې چا د خیبر په اندازې مارکسیزم نۀ مطالعه کړی وو او نۀ ئې درک کړی وو. خیبر د نورو برخلاف، مارکسیزم د انګلیسي متنونو له مخې زده کړی وو، له دې کبله ده چې خیبر ته د یوۀ پښتانۀ ناسیونالیست تر کچې د تنزُّل ورکولو خبره د کارمل په ذهن کې زېږېدلې وه چې د ښوونځي د هلکانو په خبره، یو شمېر مارکسیستي متون ئې ضفت «ضبط» کړي ول او د ژوند تر پایه پورې ئې په ژورتیا پوه نۀ سو او د افغانستان په فیوډالي او قبائیلي شرایطو کې ئې په پلي کولو باندې اصلاً پوه نۀ سو.

دا چې باچاخان د خیبر په فاتحې کې د فاتحه دارانو په صف کې کښېناست، تصادفي خبره نۀ وه. هغۀ دا کار په لوی لاس وکړ. حال دا چې اجمل خټک نۀ په جنازې کې او نۀ په فاتحې کې ګډون وکړ؛ باچاخان یوازې د فاتحې لپاره ځان له جلال آباده کابل ته راورساوۀ او له فاتحې وروسته بېرته جلال آباد ته ستون سو.

سره له دې چې سید جان لالا له باچاخان او داؤود سره د خپلې هرې لیدنې قصې راته کولې خو ماته هېڅکله نۀ سیدجان لالا او نۀ هم خیبر دا خبره کړې چې ګڼې داؤود، میر اکبر او باچاخان دې مېلمانۀ کړي وي. دا د میهن پور په استخباراتي فکر کې زېږېدلی یو داستان دی. دغۀ ښاغلي نۀ داؤود پېژاندۀ، نۀ ئې باچان خان او نۀ ئې هم سید جان لالا. دا هغه کرغېړن او مبتذل تبلیغات دي چې اوس ئې په ساده ګۍ سره د خلکو غوږونو کې څڅوي ترڅو د ګوند د پاتې شونو په منځ کې زهر وشیندي او د «خالص انقلابي» او «ناسیونالیست» په ډلو ئې وویشي او دا کار سرۍ کانګو ته اړ باسي. هر ګوره! د ډاکټر ضمیر له خولې د خیبر معرفي کول زندان ته له غوږځولو او کوټه قلفۍ کې بند له ساتلو کم نۀ دي.

سیاسنګ: د بیان آزادي میهن پور ته هم حق ورکوي چې هر څه غواړي وئې وایي. که میهن پور دا خبره نۀ وه کړې ښایي بل چا به کړې وه چې: "خیبر ملي مسایل رامخ ته کول او غوښتل ئې چې ډیموکراټیک ګوند په ملي غورځنګ کې یا مدغم او یا منحل سي، خو کارمل او اکثریتو خلقیانو پرولتري انترناسیونالیزم رامخ ته کاوۀ او نۀ ئې غوښتل چې ګوند منحل سي." نو پرته له دې چې دداسې کلماتو ویوونکي ته سپکاوي وسي، ستاسو غبرګون به څه وي؟

زیارمل: د داؤود د ملي انقلاب په تشکیل کې د خیبر له لوري د ادغام له طرحې څخه خبر نهٔ یم او نهٔ هم د کارمل له مخالفت څخه خبر یم. دا جعلیات وروسته د خیبر د منزوي کولو لپاره په لاره واچول سول چې خیبر، د تره کي، کارمل، نور «احمد نور»، امین او نورو اړوندو کسانو له طرحې سره مخالفت وکړ چې ګوند دې ځان له نظامي زور څخه په ګټه اخیستنې قدرت ته ورسوي. د میر اکبر استدلال به تاسو د سرور یورش په لیک کې کتلی وي. میر اکبر دا خبرې د ګوند له وحدت وروسته د مرکزي کمیټې د یو شمېر غړو په منځ کې د کوم فیشن او یا یوازې د امین د سپکاوي او تعجیز لپاره نهٔ وې کړې. دا د خیبر اعتقاد وو.

اصلاً د ۱۳۵۲ل کال د چنګاښ د ۲۶ له کودتا وروسته، د (پرچم د جناح) د ګوند مشرتابهٔ، په خپلو منځو کې د سلا مشورې لپاره غونډه وکړه چې د رژیم د بدلون او د جمهوري دولت د اعلان پر وړاندې خپله کړنلاره اعلان کړي. په دغهٔ مهال کې خیبر خپل نظر د مصر د کمونیست ګوند د سابقې پر بنسټ بیان کړ یعنی دا چې ناصر په خپلې کړنلارې کې د دولتي سکتور د پیاوړتیا، د ارضي ریفورم، د نیل په سیند باندې د اسوان د لوی بند د جوړولو او له شوروي اتحاد سره د اقتصادي، پوځي او سیاسي اړیکو د پراختیا په ډګر کې د کمونیست ګوند د تګلارې یو شمېر اساسي ټکي کې اعلان کړل. د مصر کمونیست ګوند پر اوضاع باندې له غور او شننې وروسته پرېکړه وکړه چې ځان منحل کړي او د ناصر په ګوند کې ځکه شامل سي چې د هغهٔ ګوند د موخو یو شمېر برخې ئې په ځان کې رانغاړلې. د مصر د کمونیست ګوند دا پرېکړه د کمونیستي ګوندونو د مجموعې او د شوروي اتحاد د کمونیست ګوند له لوري تأیید سوه.

د ګوند د خلق په ډیموکراټیک مرام کې د اعلان سویو موخو تشابهٔ / ورته والي ته په کتنې، د عظمی د صدارت پر مهال د داؤود د مفکورو سوابقو ته په کتنې، د شوروي او افغانستان د حسنه اړیکو او په اقتصادي، پوځي، تخنیکي، تعلیمي او.... ډګرونو کې د هغهٔ هېواد ورځ تر بلې ډېرېدونکو مرستو ته په کتنې، او د جیلاني باختري په کور کې د حسن شرق او کارمل تر منځ کتنه چې د وکیل په کتاب کې ئې یادونه سوې او ان ادعا ئې کړې چې هلته ئې (البته نهٔ په مذاکراتو کې) حضور درلود، د نوي دولت عمومي اهداف ورته توضیح سول. ښايي یو شمېر نور پیامونه هم هغوی ته لېږدول سوي وي چې د شوروي ددریځ له ترلاسه کولو وروسته چې د کارمل له لوري تر سره کېدل، دا موضوع د ګوند په مشرتابهٔ کې مطرح او د مصر د کمونیست ګوند د دریځ د سابقې په استناد د داؤود له دولت څخه د میر اکبر وړاندیز فورمول بندي سو.

د ډاکټر اکرم عثمان د خبرو په استناد، هغه مهال د داؤود پیام هم دا وو چې اوس دې د یوهٔ سیاسي ګوند له تبارز او د علني ګوندي جلساتو له تدویر څخه ډډه وسي، پرته له هغې به د جمهوري دښمنان هم ځانته حق ورکړي چې همدا لاره غوره کړي او نوي

دولت ته به ستونزې راوکړي. ﴿پر دې موضوع باندې – ژ﴾ په رهبرۍ کې له توافق وروسته «دا خبره –ژ» له کدرونو سره شریکه سوه چې یو شمېر کدرونو د عبدالوکیل په ګډون تور ولګاؤ چې ګوند پر داؤود باندې پلورل سوی دی ﴿وکیل وو چې کارمل ئې د ګوند په پلورلو تورن کاوۀ.﴾ وروسته بیا ډاکټر نجیب هم – له یو لړ څه توپیر سره – وکیل ته ورته دریځ غوره کړی وو؛ زما په نظر غوربندي هم ورته نغوته کړې ده. هغه مهال په ګوندي تشکیلاتو کې د سازمانونو او مسؤولینو تر منځ اړیکي په نوي طرز او توګې سمبال سوې یعنی دا چې دساتیر تر ډېره په انفرادي ډول یو بل ته لېږدول کېدل تر څو د داؤود غوښتنې ته ئې ځواب ویلی وي.

زما ښۀ په یاد راځي کله چې د اناهیتا په کور کې د کوم دستور د اخېستلو او یا د ګزارش ورکولو لپاره د کارمل لیدلو ته ورتلم د سالون د میز پر مخ د شطرنج تخته او د قطعه بازي پَرې ئې اېښودلې وې. مسؤولنیو ته دستور ورکړل سوی وو چې ګوندي اسناد دې محفوظاً پټ کړي. هماغسې چې مخکې مې یادونه وکړه، کله چې خیبر، وکیل د همدې عمل په پار احضار کړ او د ګوند له پرېکړې سره د هغۀ د مخالفت دلایل ئې ورڅخه پوښتل، وکیل په ساده او رڼو ټکیو وویل: زه د ګوند د پرېکړې پر وړاندې کومه خبره نۀ لرم، ما یوازې په دې وسیلې له کارمله خپل شخصي غچ واخیست. هغۀ زما په ناموس تېری کړی دی. د همدې دلیل پر بنسټ خیبر ددې دوسیې له تعقیب څخه منصرف سو او کارمل ته ئې مشوره ورکړه چې لومړی دې له وکیل سره خپل شخصي مسایل فیصله کړي.

په هماغۀ فرصت کې نور د ګوند مرکز ته ځي او ګوري چې دروازه له دننه قفل ده. د ګوند مرکز څو کوټې/ کیلیانې درلودلې چې له اناهیتا، کارمل، خیبر او نور «احمد نور» سره وې. ﴿دغه وخت اناهیتا شوروي ته د درملنې لپاره تللې وه. د نور «احمد نور» په خبره خیبر معمولاً د ورځې له پلوه مرکز ته نۀ ورتۀ.﴾ هغۀ زیاته کړه: ما کیلي واچوله که ګورم چې د قفل قید وهل سوی دی. د دروازې له څو ځله ټکولو وروسته مې په لوړ غږ وویل: کارمله! دروازه خلاصه کړه، که نۀ د ګوانډي د بالکن له لارې درځم. کارمل مجبو سو چې دروازه خلاصه کړي. نور «احمد نور» چې شک درلود د...... خبره روانه ده، د کوټو «دوه کوټې او یو مطبخ» په پلټلو ئې پېل وکړ او...... وموندله! دا قصه ما ته په خپله نور «احمد نور» په تفصیل سره کړې ده. وروسته خبر سوم چې د ګوند ټولې رهبرۍ ته ئې هم دا خبره رسولې وه.

کارمل ددې لپاره چې وکیل دا خبره رسوایۍ ته راونۀ باسي نو هغه ئې په جلا توګه راضي کړ ﴿دا چې څنګه او په څه شي؟ نۀ پوهېږم﴾. په ضمن کې خپل ځانته د وفادارو کدرونو په منځ کې ئې ورو ورو دا تبلیغ پېل کړ چې د ګوند د ادغام طرح زما نۀ وه بلکه د میر اکبر خیبر وه. وروسته کله چې د داؤود د ملي انقلاب ګوند غړونه پورته سول،

سره له دې چې د هغهٔ د ژوند تر پایه، تشکیلات او رهبري ئې په سمه توګه بشپړ نهٔ سول، کارمل د خپلو محرمو کدرونو له لارې دا ګنګوسې خپرې کړې چې خیبر د ملي انقلاب په ګوند کې د پرچم د ادغام طرح وړاندې کړې ده. همدغه ګنګوسې ان د باندنیو لیکوالانو غوږونو ته هم ورسېدې.

د هغو سختو خبرو په لړ کې چې ما د صمد ازهر په حضور کې له کارمل سره درلودې په خپلو غوږونو ئې اورم چې کارمل یو شمېر ناروا تورونه، عمدتاً غیر اخلاقي تورونه په خیبر ولګول خو د خبرو په پای کې ئې ټول لګول سوي تورونه بېرته واخېستل. خو دا سیاسي تور ئې چې ګڼي خیبر غوښتل د ګوند پر سر له داؤود سره معامله وکړي په خولهٔ رانهٔ ووړ. ما د رهبرۍ له نورو غړو څخه داسې کومه خبره نهٔ ده اورېدلې.

له بارق او لایق څخه مې یوازینۍ خبره چې اورېدلې ده دا ده چې: د ګوند له وحدت مخکې کله چې د پرچم په رهبرۍ کې له قهریه څواک څخه په ګټه اخیستنې د داؤود د دولت د تعویض اصل مطرح سو خیبر له دې خبرې سره مخالفت کړی وو او ویلي ول: دا یوه خورده بورژوازي لېوالتیا ده چې د ولسي پاڅون لپاره د چمتووالي له شرایطو پرته، ګوند د نظامي - ګوندي ماجراپالنې له لارې سیاسي واک په لاس کې واخلي.

لایق وایي چې دا پرېکړه د میر اکبر په مخالفې رأیې سره تصویب سوې وه، له دې کبله د خیبر له پلوه د داؤود په ملي انقلاب کې د ګوند ادغامول کورټ/ محض کذب او هغه تور دی چې غالباً د مسکو لاس په کې ورګډ دی، ځکه چې د داؤود د دولت د پرځولو طرحه اساساً د مسکو له لوري په تره کي، کارمل او امین باندې منل سوې وه. په دې هکله هغه داستانونه چې وایي کارمل او تره کی خبر نهٔ ول او ګڼ شمېر روایات ئې ابداع کړي دي، رد / محض درواغ دي.

خیبر شخصاً په غونډو کې نهٔ، بلکه د ګوند له غړو او کدرونو سره د خبرو اترو پر مهال د ګوند لاس ته له مناسب وخت مخکې د سیاسي واکمنۍ پریوتل د افغانستان په تأریخ کې یوې سترې فاجعې سره تشبیه کول؛ هغهٔ شخصاً له ما سره په دې اړه مفصل استدلال کړی او ویلي ول: "زموږ ګوند ډېر کوچنی دی. دا هغسې ګوند نهٔ دی چې د پېښو له لوړو ژورو څخه ووځي او داسې مشر یا رهبر نهٔ لري چې په ځلونو ځلونو زندان ته تللی او محاکمه سوی وي، تر ځمکې لاندې پټ سوی وي او یو ځل بیا ئې سر راپورته کړی وي. دا داسې یو ګوند دی چې څو د ګوتو په شمار کارګران او بزګر او یا د دواړو پاړکو/ طبقو زامن په کې غړیتوب لري." خیبر دا ګوند د روڼ اندو ګوند ګاڼهٔ چې د روڼ اندو ټولې ناروغۍ او ستونزې په کې راټولې دي نو له دې کبله نهٔ سي کولی د جدي او شدیدو ټکانونو او د سترو پېښو پر وړاندې مقابله وکړي. که خیبر ترور سوی هم نهٔ وای، ښايي چاپېریال د پوځي عکس العمل لپاره د یوې بلې پېښې لپاره په بل ډول چمتو سوی وای. په دې لړ کې د خرم ترور لومړنی ګام وو.

خیبر د اصلي طراحانو له لوري (یقیناً په ګوند کې دننه له یو شمېر کسانو سره له مشورې وروسته)، ان د هغهٔ د ترور له طرحې پرته، ځکه د قرباني لپاره په نښه او غوره سو چې په ګوند کې دننه یوه ځلانده څېره وه او د هغهٔ په قتل سره هم خلقي او هم پرچمي او هم ګڼ شمېر سیاستوال او ان عادي پرګنې چې خیبر ئې د یوهٔ هېوال پال، متواضع او په عالي انساني خصایلو سمبال شخصیت په توګه پېژاندهٔ پارول کېدل او په جنازې پسې ئې تلل. اصلي طراحانو همدا خبره غوښتله چې هلته خپلې وینا‌ګانې واوروي، او سیاسي تجمع وانګېرل سي او دولت غبرګون وښيي ؛ دا کار کټ مټ او ګام پر ګام وسو. تر هغې نېټې پورې بله هېڅ جنازه په دومره دروندوالي او وقار نهٔ وه لیدل سوې. خو تر څنګ ئې باید  د یوهٔ سیاسي سازمان د غړو او ملاتړوالو راټولول او سمبالول هم ورباندې ورزیات کړو.

د یوهٔ قرباني په توګه د خیبر غوره کول د انګیزې د زېږولو لپاره وو. که د بېلګې په توګه تصادفاً خیبر د سرطان د ناروغۍ د تشخیص په دلیل له هېواده دباندې سفر کړی وای، په ډاډ سره ویلی سم چې د انګیزې د زېږولو لپاره یوه بله پېښه سمبال او سازمانېدله. ان له انګیزې پرته راساً هماغهٔ ځواک ته د وسلوال پاڅون دستور صادر کېدهٔ ترڅو عملاً د غوایي د اوومې پېښې په شان پېښه رامنځته کړي. د هغوی په منځ کې د خیبر کوم دوست او پلوی نهٔ وو. ان پرچم ئې په منځ کې نهٔ وو، زغره والو، هوایي ځواکونو او نورو چې د کودتا نوښت ئې په لاس کې واخیست عمدتاً خلقیان او یا د شوروي اطلاعاتي مقاماتو ته نږدې کسان ول. رفیع پرچمی وو او بولنه یا قوماندہ ئې هغه مهال په لاس کې واخېستله چې وطنجار ورته وویل: «مور ښار ته ددولت د پرځولو لپاره ځو. تهٔ څه کوې؟» رفیع همکاري غوره وبلله. یوازې دا ټکی د یادولو وړ دی چې شوروي مقامات– د خپلو جواسیسو له قوله – د وسلوال پاڅون په هکله د خیبر په دریځ ـ ښهٔ خبر ول ـ چې په سر کې ئې کارمل وو او د خپل مقام د چنلج کېدلو لپاره ئې د خطر احساس کاوهٔ او د ساتلو لپاره ئې دا ټولې سرښندنې کولې.

سیاسنګ: ډاکټر محمد اکبر یوسفي د «قتل میر اکبر خیبر و بحران افغانستان» تر سرلیک لاندې د یوهٔ یادداشت په ترڅ کې داسې لیکلي دي:«زه له ۷۳ کالو ډېر عمر لرم. د خیبر د پلویانو او مینه والو لپاره سیاسي او امنیتي چاپېریال دومره وژونکی او خطرناک وو چې د همدې مودې په اوږدو کې د هر ډول احتیاط په کارولو سره سره د آرام خوب لرل ورته ناشونی کار وو. ګڼ شمېر دوستان ئې ووژل سول او په مورچلونو کې ئې د دښمن لومې ته وغورځول. یوازې دا چې د خیبر یو زوی ئې د څو ورځو لپاره د باندنیو چارو په وزارت کې مقرر کړ او هغه به ئې په مکیز سره د خیبر د پلویانو په مخ راایستل. زما ښهٔ په یاد دي چې کله چې د خیبر یو زوی د تحصیلاتو له بشپړولو وروسته د باندنیو چارو په وزارت کې په کار وګومارل سو په څرګنده دا خبره درک کېدله چې د خیبر زوی ته دا «امتیازي» تقرر د هغهٔ د پلار د توی سوې وینې په پار نهٔ بلکه د هغې

خبرې د پوښښ لپاره یوه هڅه وه چې د ګوند د هغو ساده غړو پر وړاندې د دښمنۍ چاپېریال پرانیستی پاتې وساتي چې د خیبر نوم ئې د «استاد خیبر» په نوم یاداوۀ.»

زیارمل: ددغو ناشولتو او مزخرفو درواغو بنسټ چې ګڼې کومه معامله په منځ کې وه یا هغۀ ته ددغۀ مأموریت په ورکړه کې کوم حق السکوت او دیپلوماتیک امتیاز ورکړل سو په خپله توریالي، وکیل، جمعه خان صوفي او ما ته د لمر په شان روښانه دی.

ما په مسکو کې د لینن د اکاډیمۍ کورس لوست. جمعه خان صوفي راته خبر راکړ چې د ستالین د دورې د استخباراتو د رئیس Beria د ژوند په اړه یو ګورجي فلم چې د برژینیف پر مهال سانسور سوی وو، د شوروي کمونیست ګوند د مرکزي کمیټې د هوټل په سینما کې ننداریې ته وړاندې کېږي. کله چې سینما ته روان وم نو توریالي ته مې هم ددغۀ فلم د لیدلو لپاره بلنه ورکړه، دا وخت د توریالي د تحصیلاتو وروستی کال وو او کابل ته د بېرته ستنېدلو لپاره چمتو کېدۀ. موږ درېواړه له سینما دباندې دالان کې ولاړ وو چې د باندنیو چارو وزیر وکیل راغی. زه نۀ پوهېږم چې د ژنوا له خبرو اترو بېرته راستون سوی وو یا ژنوا ته روان وو. له سلام علیک وروسته مې توریالی ورته معرفي کړ او ورته مې وویل: « د استاد خیبر مشر زوی دی» هغۀ ئې ټینګ په غېږ کې ونیوۀ او ډېره خوښي ئې ښکاره کړه او د ډرامې په پېلولو سره ئې وویل: ډېر ویاړم چې یو بل سره آشنا سوو او همدغوخبرو ته ورته معمول تعارفات ئې وکړل.... ما مداخله وکړه او ومې ویل: وزیر صاحبه! له شفاهي قیل او قاله تېر سه. توریالي د نړۍ والو اړیکو په رشتې کې تحصیلات کړي دي. که کولی سئ د باندنیو چارو په وزارت کې ورته یوه آبرومنه دنده ورکړه. وکیل راځخه مننه وکړه، د تورجان مخ ئې ښکل کړ او ورته ئې وویل: هر کله چې کابل ته ورسېدلې هرو مرو زما دفتر ته راسه. څو میاشتې وروسته توریالی کابل ته ورسېد. وکیل د باندنیو چارو په وزارت کې ومانۀ او په خپل دفتر کې ئې ورته کار ورکړ. له څه مودې وروسته هنګري/ مجارستان ته د سفارت د کاتب په توګه ولېږل سو.

څو موده وروسته د توریالي خسر چې د مجید سربلند دوست وو هغه قانع کړ چې تورجان له ځان سره ملګرو ملتونو ته بوزي. نوموړی لومړی د ملګرو ملتونو سازمان ته پېژندل سوی وو خو وروسته ورته وویل سول چې د کیوبا د سفارت معاشات او امتیازات د ملګرو ملتونو په پرتلې ډېر او کار ئې هم په نست دی. له دې چې نوموړی خان مشربه سړی وو نو د هاوانا سفارت ته ئې غاړه کښېښوده.

هغه مهال تورجان په دې خاطر د نیویارک له مأموریت څخه بېرته پاتې سو چې مجرد وو. لومړنۍ مېرمن ئې وفات سوې وه او له دې چې کوچنۍ لورکۍ ئې درلودله نو د بل وادۀ لپاره ئې چمتو والی نۀ ښود. تور د خپل پلار ټول عالي صفات په ارث وړي دي، دروند، جدي او زیارګالی دی. ددې لپاره چې وکولی سي په افغانستان کې په یوۀ مناسب کار وګومارل سي، نو یوازې د خیبر په درناوي، کابل ته مې د خپل لومړي سفر په ترڅ

کې هڅه وکړه چې د کرزي د دوران د باندنيو چارو له وزير سپنتا رنګين دادفر څخه د ليدلو وخت وغواړم او دا موضوع ورسره مطرح کړم. هغۀ په خوښۍ ومنله او وئې پوښتل: غوښتن ليک ئې ليکلی دی؟ ما چې په ټينګار سره غوښتن ليک له توريالي څخه اخيستی وو، ډاکټر سپنتا ته وسپارۀ. هغه راته ټينګه وعده راکړه چې هغه به مقرروي. يوه اونۍ وروسته چې د هغۀ چا له لارې چې د ملاقات وخت ئې اخيستی وو يو انتقادي مضمون راوليږۀ او پيام ئې راکړ چې: "ظاهر طنين مې په ملګرو ملتونو کې مقرر کړ، دغه ډول تبليغات زما پر ضد په لاره اچول سوي دي. که زه د خيبر صاحب زوی مقرر کړم نو زما پر سر به څه ډول غوغا راپورته سي؟"

هرګوره! توريالی چې يو وړ، مېړنی او په پښتو، پاړسي، اردو، روسي، فرانسوی او احتمالاً انګليسي مسلط دی، لا تر اوسه ټکسي چلوي او اکثريت شپې د درملو د اکمال په مؤسسې کې له ډيپو څخه و درملتونونو ته د درملو په لېږدولو بوخت وي.

بايد ووېل سي چې وکيل بايد د توريالي د معرفۍ په منلو او چټکې ژمنې کې سياسي انګېزه لرلې وي، خو دا خبره چې ګڼې دا کار دې د خيبر د کورنۍ د چوپ کولو لپاره د يوې معاملې په نتيجې کې سوې وي يو سم پايلنيوی نۀ دی. لومړی دا چې د خيبر کورنۍ هېڅکله مادي امتياز نۀ دی غوښتی؛ هغه آپارتمان چې دولت دوی ته ورکړی دی، د دستګير پنجشيري په نوښت او د نورمحمد تره کي په امر سوی دی. د کارمل پرمهال چې صدراعظم او د انقلابي شورى مرستيال وو د خيبر کورنۍ هېڅ عايد نۀ درلود او د بسم الله خيبر د ملکيت په آپارتمان کې په مياشتني معاش ئې ګذاره کوله. د ګوند له بوديجې څخه د کفن او دفن او د وير د ورځو د خوراک له لګښتونو پرته زه له بل هېڅ ډول مادي مرستې څخه خبر نۀ لرم.

کله چې د مېرمن خيبر ناروغۍ شدت وموند، ډاکټرانو نظر ورکړ چې له هېواده دباندې دې د درملنې لپاره ولېږل سي. د خيبر بسم الله په وينا، هغۀ د کارمل پر مهال د ګوند منشي نور «احمد نور» ته مراجعه وکړه او ورڅخه ئې وغوښتل چې: آيا دا امکان سته چې همدغه د مياشتې پينځه زره افغانۍ لږ ډېرې کړۍ؟ نور «احمد نور» په عصبانيت ورته ځواب ورکړه: ګوند خو کومه خيريه مؤسسه نۀ ده. په هماغۀ مدد- معاش ګذاره وکړۍ.

سياسنګ: ډاکټر صادق فطرت وايي: يوه ورځ راته افغان پور ووېل: خيبر د سيګل او ناشناس له غږ سره ډېره علاقه درلوده.

زيارمل: په بالاحصار کې په حربي پوهنتون کې د تحصيل تر څنګ ئې له پخوانيو سندرو سره مينه درلوده. وروسته د زندان په کلونو او د کورنيو چارو په وزارت کې د کار په مودې کې او ان په کرايي کورونو کې ما نۀ دي ليدلي او نۀ مې دي اورېدلي چې موسيقۍ ته دې غوږ نيولی وي. راډيو ئې عمدتاً د خبرونو او په پاړسي، پښتو، اردو او انګليسي

ژبو د سیاسي پروګرامونو د اورېدلو لپاره کاروله. که په دې لړ کې کومه سندره خپرېدله ښايي غوږ به ئې ورته نیوۀ، خو دا د دۀ او د هغۀ غږ ته د لېوالتیا له کبله نۀ ول.

کلونه وروسته کله چې په کور کې او یا مې په موټر کې ټیپ ریکارډرونه د موسیقي د کسیټونو د اورېدلو لپاره درلودل، او له خیبر څخه مې پوښتل چې څه شي غواړئ واورئ، معمولاً به ئې پوښتل چې: له سیګل څخه څه شی لرئ؟ ما یوازې د خیبر لپاره د سیګل یو شمېر کسټونه او د هغوی کاپۍ لکه د ناشناس سندرې په کور او موټر کې ساتل. د سیګل یوازې هغه غزلونه ئې خوښېدل چې د میرزا غالب اردو اشعار ئې اجراء کول. په پښتو سندرغاړو کې ئې د سبزعلي خان او احمدخان له غږونو سره علاقه درلوده. ما همدغه دوه نومونه ورڅخه اورېدلي دي. یو دوه ځله ئې د مُني بیګم او د هغې غزلونه یاد کړل.

زه د خپلې شخصي تجربې پر بنسټ پوهېږم چې له پښتو سندرغاړو سره د خیبر د خاطر تعلق له کومه ځایه راغلی دی. ما د حربي پوهنتون دوهم کال په بالاحصار کې او دریم کال مې د پلچرخي په نوې ودانۍ کې تېر کړی دی. په بالاحصار کې د درسي ټولګیو کړکۍ مخ پر ښار په ځانګړې توګه د لاهورۍ د دروازې پر لور وې. د هغۀ ځای د سماوار چیانو مشتریان عمدتاً د لوګر – پکتیا (لویې پکتیا) پښتانۀ ول، له دې کبله هغوی به په خپلو ګرامافونونو کې یوازې پښتو سندرې او ندرتاً اردو خپرولې. له دغو سماوارونو څخه به مو تل د «ټیک دې درې ورې/ دا چارې د زرګر دینه» غږ تقریباً هره ورځ اورېد. په هغو کلونو کې د سبزعلي خان او احمدخان سندرې ډېرې اورېدل کېدلې، ښايي دا د خیبر په ذهن کې هغه مهال پاتې سوې وي چې د حربي پوهنتون محصل وو.

د اردو غزلونو په هکله: میر اکبر په هغو وختونو کې د حربي ښوونځي زده کوونکی او د حربي پوهنتون محصل وو (د مني له درې میاشتینو رخصتیو پرته) تقریباً ټول کال په کابل کې او په لیلیه کې اوسېدۀ. البته د رخصتیو په ورځو ئې اجازه درلوده چې ښار ته لاړ سي. په ښار کې له سینما او یا د چای یا شیرچای څښلو لپاره له کافي پرته د تفریح لپاره بل څه نۀ ول - سینما هم یوازې د کابل سینما وه. د هغه وخت فلمونه طبعاً د سیګل په هنري ننداري قدیمي فلمونه ول او علت کې د ځوانۍ د دورې نوستالوژي او د هغې دورې خاطرات..... وو

سیاسنګ: نور (احمد نور)، غوربندي، حکمت یار، قدیر، حیدر، امین، کارمل، تره کی، بشیر غازي علم، امتیاز حسن، ساواک ISI،CIA، KGB، GRU او نور تورن کسان به د یوې شیې لپاره یوې خواته پرېږدو، د خیبر د قتل تر شا د چا یا د کومو کسانو لاس ښکېل دی؟ تاسو پاملرنه وکړئ: ما نۀ دي ویلي او نۀ وایم چې تاسو د خیبر د قاتل او یا د قاتلینو نومونه پېژنئ او له ما ئې پټوئ. زه پوښتنه کوم: فرد، افراد او د خیبر د قتل د ښکې جرړه په کومې کړۍ، دستګاه او یا سیستم کې پرته ده؟

زیارمل: تاسو په بې حوصله ګۍ سره دا توقع لرئ چې تاسو ته دې څوک د کوم شخص یا اشخاصو یا د حرفه یي قاتلینو د کومې ډلې او یا د سیاسي تروریستانو نوم واخلي، خو تأریخي تجربه ښیيي چې دا ډول ترورونه تصادفي او د شخصي مخالفت، سیالۍ یا د ایډیالوژیکي اختلاف له مخې نهٔ واقع کېږي. د ترور عوامل بې شمېره دی.

سیاسنګ: سره له دې چې ستاسو د پټې خولې او له لاسته راوړنې تشې حوصله مندۍ څخه څلور څلویښت کلونه تېرېږي، تاسو زما د بې حوصله ګۍ په اړه کوم تشویش مهٔ کوئ. زه خپله پوښتنه یو ځل بیا وړاندې کوم: « ما نهٔ دي ویلي او نهٔ وایم چې تاسو د خیبر د قاتل او یا د قاتلینو نومونه پېژنئ او له ما ئې پټوئ. زه پوښتنه کوم: فرد، افراد او د خیبر د قتل د شبکې جوړه په کومې کړۍ، دستګاه او یا سیستم کې پرته ده؟»

زیارمل: موږ خبر لرو چې د نړۍ د ځواکمن هېواد ولسمشر په رڼا ورځ د زرهاوو خلکو په حضور کې چې ددهٔ د ښهٔ راغلاست لپاره په کتارونو کې ولاړ ول ترور سو او تر اوسه پورې ئې اصلي قاتل ملت او نړۍ ته نهٔ دی معرفي سوی. خو د جان کینیډي له قتل وروسته د امریکا په سیاست کې بدلونونه رامنځته سول او څرګنده وه چې تر هماغې شیبې پورې مقتول ولسمشر د هغو بدلونونو مخه نیوله. منظور مې د ویتنام له شرمه ډکې او خونړۍ جګړې پېلول دي. اوس ښایي د همدغهٔ ترور یو له عواقبو او پایلینو څخه وي.

سیاسنګ: امریکا به په خپل ځای پرېږدو، زه د خیبر وژل کېدل وایم.
زیارمل: د خیبر له ترور مخکې په افغانستان کې یو شمېر پېښې چې کولی سو دراماتیکې dramatic پېښې ئې وګڼو رامنځته سوې چې پایلې ئې د خیبر له ترور وروسته راڅرګندې سوې. زما منظور د ګوند ددوهم ځلي وحدت لاس ته راوړل دي چې دواړه ئې لکه په یوهٔ لیک کې د کوم ټکي او ویرګل له بدلولو پرته په یوهٔ او واحد سیاسي مرام ولاړ ول، دواړو له یوې عقیدتي سرچینې څخه الهام اخیست او د سړې جګړې د دوران د نړۍ والې دوه قطبي نړۍ په ټولګه کې هماغه واحد مفهوم سوی ملاتړ یعنې د شوروي اتحاد ملاتړ ئې له ځان سره درلود.

ددغهٔ ګوند د دواړو څانګو د بېلتون یا انشعاب د کلونو په لړ کې یو شمېر کورنیو شخصیتونو لکه عبدالرؤوف بېنوا، د هند، عراق، پاکستان او... کېن لاسو ګوندونو هڅه وکړه چې پر دغه اختلاف باندې د پای ټکی کښېږدي، خو کله چې د شوروي کمونیست ګوند او دولت د ولسمشر داؤود پر نیتونو بد ګومان سو- ځکه چې هغهٔ په اقتصادي او نړۍ وال سیاست کې کوم بنسټیز بدلون رامنځته نهٔ کړ- بلکه د رژیم له منځه او د ایران او یو شمېر عربي هېوادونو له لورې کوښښونه پیل سوي ول چې د افغانستان دولت ته د میلیارډ ډالري سخاوت د وړاندیز په ورکولو سره د افغانستان په عام سیاست کې یو محسوس بدلون رامنځته کړي ترڅو له شوروي اتحاد څخه د

لېږې کېدلو او پر شوري باندې له نظامي – اقتصادي ډېرې لګولو څخه د ځان لېرې ساتلو سیاست غوره کړی خو په عمل کې هېڅ ډول قرار داد، او یا د ځانګړې قرار داد کومه مسوده هم نهٔ ده په نښه سوې. په مهمه سطحه کې د خلق او د پرچم له مشرانو سره له جلا جلا لیدهٔ کاتهٔ وروسته په کابل کې د شوروي سفیر کبیر تره کي او ببرک کارمل ته بلنه ورکړه او له دوی څخه ئې وغوښتل چې په اختلافاتو باندې د پای ټکی کښېږدي او اخطار ئې ورکړ که داسې ونهٔ کړي نو دواړه به په جلا جلا توګه د داؤود د دولت له لوري ضربه وخوريږ تر ټولو مهمه لا دا چې د همدې هڅې د افشاء کېدلو او یا سبوتاژ کېدلو په پار دواړو ته په ټینګار سره سفارش ورکړل سو چې دا عملیه دې په چوپه خوله پرته دې چې د چا سونګ او غبر پورته سي پایلې ته ورسوي.

د شوري په سفارت کې د اکتوبر د انقلاب د جشن کلیزې په مېلمستیا کې چې د شوروي په جنتری کې تر ټولو مهمه پېښه ده ټول مېلمانهٔ د یوې پېښې شاهدان ول. تره کي او کارمل له نورو بلل سویو مېلمنو ناوخته اوږه په اوږه په داسې حال کې چې خولې ئې له خندا ډکې وې د مېلمنو تالار ته ننوتل؛ په مېلمنو کې مهم مېلمه یعنی د ولسمشر ورور نعیم خان د احتجاج په ډول له دې غونډې څخه وځي او ډېر منفي غبرګون راپاروي. ددغسې یوې ننداره په کتلو چې د منلو وړ نهٔ وه، ښې لاسو وزیرانو لکه قدیر نورستاني او وحید عبدالله یو بل ته مخونه واړول، متعجب سول چې دا څه ډول نوی پرمختګ رامنځته سوی دی چې دوی لا تر اوسه ورڅخه بې خبره دي.

له دې مېلمستیا وروسته د پرچم د مشرانو او کدرونو په شاوخواوو کې امنیتي تدابیرو او پولیسي تعقیباتو شدت وموند. د یادونې وړ ده چې د مکروریانونو له آپارتمانونو څخه، انګړ لرونکو کورونو ته د پرچم یو شمېر مشران لکه اناهیتا، نور «احمدنور»، بارق او.... کډه سول، ددوی له کډه کېدلو وروسته امنیتي تدابیر ونیول سول او دا کار د پولیسو د استراق سمع د مخ نیوی لپاره وسو او په دې سره دولتي مقامات، د وحدت د ترلاسه کولو له فعالیتونو څخه بې خبره پاتې سول.

د سیاسي ډلو له تحرکاتو څخه د مقاماتو د باخبرۍ تر ټولو مهمه وسیله د استراق سمع تر څنګه د ټیټ پوړو پولیسو په وسیلې تعقیبات، په بېلابېلا محلاتو کې د ګوند د مشرانو او ګوندي کدرونو له پلې تګ څخه عکس اخیستنه او ددې خبرې معلومول چې څوک د چا کور ته ځي او د ورځې په اوږدو کې د ګوند د مشرانو او ګوندي کدرونو عکاسي وه. (ما دغه عکسونه وروسته د قدیر په دفتر کې په خپلو سترګو ولیدل.)

پولیسو هڅه وکړه چې د اناهیتا، نور «احمد نور» او بارق په کور کې هم د استراق سمع وسیله نصب کړي چې د پولیسو د بې تجربګۍ ئې پاملرنه جلب او په پای کې کشف او خنثی سوه. د بېلګې په توګه: د اناهیتا د کور برېښنا ئې قطع کړه، د برېښنا له اړوند سټیشن څخه برقي راغی چې د «برېښنا د شارټي» ځای ومومي، د شارټي ځای ئې د

کارمل د میز له پاسه وموند چې دا ځای د کارمل د لیدنو کتنو ځای وو، همدلته ئې د برېښنا د مزیو د پرېکون او نښلونګ / تقاطع او اتصال په ځای کې یوه کوچنۍ آله چې غږ ئې د څو کیلومترې په واټن کې د غږ د آخذې آلې لېرداوۀ ځای پر ځای کړه، وروسته له دې چې همدغې هڅې ته ورته یوه بله هڅه په ګذرګاه کې د نور «احمد نور» او بارق په کور کې وسوه، چې د پیاوړې برېښنا په رالېږلو سره د برېښنا د میټر د سوځېدلو لامل سو، او وروسته برقي (پولیس) د هغوی د کور دروازې ته راغی. هغۀ وویل: " ستاسو برېښنا پرېک سوې ده او د شارټۍ علت باید وموندل سي." په دې شیې کې، د اناهیتا په کور کې ورته عملیې ته په کتنې، نور «احمد نور» او بارق مشکوک سول. هغوی برقي تر څار لاندې ونیوۀ. په پای کې څرګنده سوه چې دا په کور کې دننه د برېښنا د شارټۍ علت نۀ وو، له دې کبله پولیس ونۀ سوای کولی د څپو د لېږد په ظرفیت سمبال آله نصب کړی.

په دې پسې د اناهیتا کور، د نور «احمد نور» او د برېښنا په چارو کې د کوم بلد ګوندي کدر په وسیلې تر پلټنې لاندې ونېول سو؛ دوی یوه کوچنۍ آله وموندله او د شوروي سفارت ته ئې د تخنیکي خصوصیاتو د تشخصیولو لپاره وسپارله. داسې ښکاري چې د نور "دارالترجمه" چې وروسته د ډاکټر صالح محمد زیري کتنځی سوی وو او ښایي څو نورو ځایونو کې د خلقي مشرانو په منځ کې استراق سمع سوې وه. د تره کي کور کې دا کار ځکه شونی نۀ وو چې هغۀ په انګړ لرونکي کور کې ژوند کاوۀ. خو له دې سره سره، د عطاء محمد شیرزي په وینا دۀ د تره کي او کارمل لپاره د خپل خسر په کور کې په سرای غزني کې یوه جلا کوټه د سیاسي لیدنو کتنو لپاره جوړه کړې وه. (کارمل ما ته هم توصیه وکړه چې په شیرپورې کې په کرایي کور کې په هغې کوټې کې له ملګرو سره خبرې وکړم چې دیوالونه ئې له کور دباندې سره تماس ونۀ لري.) همدا شان یو شمېر نور دساتیر هم صادر سوي ول لکه له ملګرو سره د خبرو پر مهال دې د استراق سمع د اخلال لپاره موسیقي خپره سي او یا که په کوم کور کې ټیلیفون وي نو ټیلیفون دې له کوټې دباندې وایستل سي او یا دې د ټیلفیون مزی وایستل سي او داسې نور.

په عین وخت کې د تره کي او کارمل لیدۀ کاتۀ او وروسته د دواړو لوریو د هیأتونو لیدۀ کاتۀ هم په بشپړې اختفا کې د شدیدو امنیتي تدابیرو په نیولو سره تر سره کېدل ترڅو پولیس ونۀ سي کولای کومه اطلاع ترلاسه کړي.

کله چې د وحدت موافقه وسوه کارمل ټینګار درلود چې د وحدت سند دې د پروتوکولونو په شان د دولتونو د غړو تر منځ د یوۀ ګډ میز پر مخ چې دوې څوکۍ ولري د دوستو خبریالانو په حضور کې لاسلیک سي، د کارمل دا ټینګار د شوروي د مقاماتو تر عتاب لاندې راغی. وویل سول چې دا کار دې له نیمایي شپې وروسته په داسې حال کې تر سره سي چې د شپې د پولیسو تعقیب قطع او د ورځې د پولیسو د تعیقب دنده لا

پېل سوی نهٔ وي (ددې خبرې یوه برخه د یورش په لیک کې راغلې ده). د مرکزي کمیټې غړي، دوه دوه او درې درې تنه غړي دې د تره کي کور ته لاړسي او د تره کي او د کارمل په حضور کې دې پرته له دې چې د میز پر مخ پروت سند ولولي لاسلیک کړي. ما اورېدلي دي چې یوازې صالح محمد زیري غوښتنه کړې وه چې دا سند دې یو ځل ولولي خو غوښتنه ئې رد سوې وه.

د شوروي د سفارت له لارې دداسې تدابیرو په نیولو سره چې یقیناً په نورو هېوادونو کې دداسې کارونو پرېمانه تجربه ئې درلودله، د ګوند وحدت لړۍ د پولیسو له انظارو او د شاو خوا کسانو له لټون او تجسس لېرې او پټه وساتل سوه او د پولیسود هر ډول سبوتاژ یا د متقابلو اقداماتو مخه ئې ونیوله.

د وحدت له تأمینېدلو وروسته په داسې حال کې چې د خلقي او پرچمي ګوندي سازمانونو د ادغام عملیه لا پای ته نهٔ وه رسېدلې چې مور د علي احمد خرم د ترور د پېښې شاهدان یو او هغه هم (د وسلوال پاڅون د فعال غړي او د شوروي سفارت ته له نېږدې ترینو کسانو) حفیظ الله امین ته د یوهٔ نېږدې عنصر (مرجان – ژ) له لوري تر سره سو چې یوازې د داؤود په واقع بینانه دریځ سره خنثی سو او وئې نهٔ سوای کولی د «پاڅون انګیزه» رامنځته کړي. دوهم دا چې سره له دې چې خُرم د کابینې یو له مهمو وزیرانو څخه وو خو د کورنیو چارو د وزیر، د عدلیې او یا د دفاعې چارو د وزیرانو په شان له ولس سره په تماس کې کومه پېژندل سوې څېره نهٔ وه چې خلک دریځ نیولو ته اړ کړي یا ورته ټکان ورکړي.

اصلي توطئه ګرو داسې پلان درلود چې دولت ئې غبرګون ښودلو ته مجبور کاوهٔ ؛ دوی خپل پلان بدل کړ او دا ځل «قرباني» ئې د ګوند له صفوفو څخه تر پام لاندې ونیوهٔ او ددې «اصلي وسیلې» دلایل د داؤود د دولت تعویض کول ول. دلته ده چې داسې کسان د قربانۍ لپاره غوره سول چې په یوهٔ وخت کې ورڅخه څو موخې تر لاسه سي: باید داسې څوک وي چې په ترور سره ئې د قتل تور د نوې متحد سوې ډلې غاړې ته ونهٔ لوېږي؛ د بېلګې په توګه: که تره کي ترور سوی وای، طبیعي خبره ده چې کارمل پلوي پرچیمان ئې په قتل تورنېدل. که کارمل وژل سوی وای، خلقیان تر شک لاندې راتلل او د ټول ګوند او د ګوند د پلویانو د غبرګون ښودلو لامل نهٔ ګرځېد او دې کار د وحدت د هڅو د خنثی کولو په لور کې نتیجه ورکوله، له دې کبله میراکبر ځکه د اصلي پلان سازانو تر هدف لاندې راغی، چې هغهٔ د وحدت په دواړو لوریو کې ګرانښت او منښت درلود او د سیاسي او ولسي کړیو په منځ کې د بارز او دروند وزن سیاسي شخصیت په توګه پېژندل کېدهٔ او کولای ئې سول د اعتراضونو څپې په خوځښت راولي.

بله دا چې احتمالاً د خیبر په ترور سره د کیڼ لاس د سیاست او په کیڼ غورځنګ کې د ایران، پاکستان او مرتجعو عرب هېوادونو په شان د شوروي ضد ځواکونو د سیمه ییزې همکارۍ د مخنیوي لپاره د داؤود د دولت عاقلانه او د ژورلید سیاست له منځه ورل کېدهٔ او ان دا ګواښ چې یو شمېر پوځیان که د میر اکبر له متعدلو او معقولو نظریاتو څخه اغېزمن سوي ول هم عملاً مفلوج کېدهٔ. همدغسې یوې سابقې ته په کتنې سره ول چې د پاخون نوښت خلقي پوځیانو او امین ته وسپارل سو او وکیل چې د امین مرستیال او په مرکز کې د پوځي پرچمیانو مسؤول وو هم له صحنې لېرې سو (سره له دې چې د کشتمند په وینا، وکیل د غوايي د اوومې په وسلوال پاخون کې له دوی سره په شش درک کې وو - او د وکیل ورور، امین، چې د باندنیو چارو د وزارت مأمور او د اسناد د بکس د تحویلدار په توګه د ژنو په مذاکراتو کې د خبرو اتو د پلاوي په ترکیب کې وو – او وکیل هم په خپل کتاب کې تصدیق کړې ده - له ما سره د ټیلیفوني خبرو ترڅ کې تصدیق کړه چې د غوايي د اوومې په ورځ وکیل له دوی سره یو ځای مخفي وو؛ البته له نورو پرچمي مشرانو سره یو ځای چې زنداني سوي نهٔ ول.)

په دې توګه ئې عمده نظامي پرنسیب چې په وسلوالو حرکاتو کې " د قوماندې د وحدت" تأمین " د بریا ضامن دی" مراعات او په پام کې ونیوهٔ او وئې نهٔ غوښتل چې سیالي/رقابت د پاخون لیکو ته لار ومومي او د پاخون د ناکامي لامل وګرځي. په همدې علت ول چې نور «احمد نور» وروسته د امین له لوري په غافل کېدلو شرمېدلی او په دې ګیله مند وو چې ولې کارمل د مرکز مسؤولیت له دهٔ څخه واخیست او وکیل ته ئې وسپارهٔ.

که له دغو ټولو شواهدو سره سره، ستاسو په شان یو څوک له لایق، بارق، غوربندي او ما څخه وغواړي چې قاتلان درته په نښه او نوم ئې تاسو ته در وښییو، نو دا ناشونی کار دی. دا کوم فرد نهٔ دی چې څوک دې ادعا وکړي: ما مثلاً ایوان یا الکسي ولید چې په خیبر ئې د تومانچې ډزې وکړې." په تیارهٔ ماښام کې ان یو فرد هم په سمه توګه نهٔ دی توانېدلی چې یوه ډېره کوچنۍ اشاره وکړي چې د هغهٔ له مخې دې د کوم منفرد تروریست هویت تشخیص سي. دا د پوهلنډۍ/ ساده لوحۍ یوه توقع ده.


دا چې که دستګیر پنجشیری، اناهیتا او د کارمل پلویان یو شمېر کسان لکه عالمیار وروڼه، غوربندی، د حکمتیار حزب اسلامي یا قدیر او حیدر رسولي تورنوي په حقیقت کې موخه ئې دا ده چې د شوروي اتحاد د استخباراتي مقاماتو له تندي څخه تورونه لېرې کړي، ځکه دا د شوروي اتحاد استخباراتي مقامات ول چې دا ماجرا ئې له الف تر یا پورې پلان کړې وه خو وروسته په خپله د خپل غلط او د عاقبت نهٔ سنجول سوي سیاست د پلنډۍ/دلدل زار په ژور تل کې ډوب سول.

د میر اکبر وړاند وینه کله چې موږ ته ئې په جلال آباد کې وویل له تدبر ډکه وه: کوښښ به وسي چې زموږ ګوند دې د وسلوال پاڅون ملاتړ ته اړ ایستل سي چې دا کار د ګوند له توان څخه پورته دی او هغه مهال به په خپله (شورویان) ددوی عملي ملاتړ ته مجبور سي، دا خبره ویښته په ویښته/ ګام پر ګام ثابته سوه.

سیاسنګ: هغه مجهوله سرچینه - ستاسو په وینا: " د شوروي استخباراتي مقامات" - چې فرمان ئې ورکړ خیبر دې ووژل سي، نن کوم طلسم او هیبت لري؟ ولې له دغو ۴۴ کالو وروسته ورته لا تر اوسه له ډاره اشاره نهٔ کوي او نهٔ وايي چې کومو کسانو ته ئې دستور ورکړ چې خیبر ووژنئ؟

زیارمل: ما په دې لاره کې څوک نهٔ سي ډارولی، ځکه زه په داسې عمر کې یم چې ټول ژوند مې په خپلې سیاسي کورنۍ کې د بېلابېلو ناسمو تورنو تر سیوري لاندې تېر کړی دی او نهٔ مې په ژوند کې زیګ زاګ تللو ته کومه لېوالتیا لرلې او نهٔ مې د ورځې په نرخ ډوډۍ خوړلې ده. زه د میر اکبر خیبر د یوهٔ ډېر نېږدې ملګري په توګه د هغهٔ د بې ساري شخصیت په پار او د هغهٔ د هېواد پالنې د پیاوړي احساس، د هغهٔ د انسان پالنې، عالي انساني اخلاق، د ولسپالنې د عالي کلتور د لرنې، د هغهٔ د اخلاقي طهارت او پاکوالي په پار دا خبره د هغهٔ شأن ته سپکاوي او ورباندې برید ګڼم چې په دهٔ او هغهٔ باندې د ناروا او غلطو تورونو په لګولو سره، د منلو وړ سند له لرلو پرته، څوک ئې په قتل تورن کړم. په دې توګه زه فکر کوم چې د عالي جناب ټولو پوښتنو ته مې د هغهٔ څهٔ پر بنسټ چې زه ئې درک کوم، ځواب ورکړ. هیله مند چې د جناب عالي قناعت مې تر لاسه کړی وي.

سیاسنګ: ما نهٔ دي غوښتي او هېڅکله نهٔ غواړم " چې په دهٔ او هغهٔ باندې د ناروا او غلطو تورونو په لګولو سره، د منلو وړ سند له لرلو پرته، څوک د هغهٔ په قتل تورن" کړئ ځکه چې دا ډول کار له بنسټه سم نهٔ دی. زه تاسو څخه د شاو خوا ۹۰ پاڼو په لیکلو سره چې ۹۰ پوښتنو ته مو ځوابونه ورکړل منندوی یم او پر ما مو اعتماد وکړ. (۲۰۲۱ز کال/ د جون له ۲۴ / د جولای تر ۲۷ پورې)



**په لوبدیځ کې له شرق سره لیدنه**

سیاسنګ: ستاسو له کتاب «کرباس پوش های برهنه» څخه به ئې پېل کړو. هغه لومړنی سرې څوک وو چې تاسو ولید پښې ئې لوڅې او د کرباس جامې ئې په تن وې؟

ډاکټر شرق: د فراه د ولایت د انار دې په ولسوالۍ کې پینځه شپږ کلن محمد حسن. همدلته باید زیاته کړم چې زما د کتاب په محتوی کې د چاپ له څرنګوالي او په هغۀ کې له لاسوهنو څخه رضایت نۀ لرم. د کتاب په څو ځایونو کې تحریفونه سوي دي. ښه به دا وای چې ویلي مې وای د «کرباس پوش های برهنه پا» د کتاب په کمبوداتو کې له تخنیکي مسایلو سره زما نابلدۍ هم ونډه درلوده. بله نیمګړتیا چې هغه هم ما ته را اوړي، د ټایپ پر چارو او چاپ ته پر چمتو سوي متن باندې زما د دقیق نظارت او څار نشتوالی وو.

سیاسنګ: دا کتاب د ۱۹۹۰ ز لسیزې په اوږدو کې ۸ ځله په پېښور/ پاکستان کې چاپ سوی دی.

ډاکټر شرق: سرخوږی له نوي ډهلي څخه پېل سوی وو. دا له لیندۍ څخه د خوشي سوي غیشي په شان وو چې نور ئې مخه نۀ نیول کېده. دا چې څو ځله په پاکستان کې او په څه ډول چاپ سوی دی، زه پرې خبر نۀ یم.

سیاسنګ: تاسو څرنګه « شرق» سواست؟

ډاکټر شرق: ۱۹۵۰ ز کال وو. د آدم درمل او نېک محمد عزیزي په نومونو زما دوه تنه

دوستان زما کور ته راغلل. هغوی د علامه اقبال لاهوري د «پیام مشرق» کتاب ئې له ځان سره راوړی وو. د کتاب پوښ په وسط کې لږ څیرې سوی وو او د څیرې والي کرښه د مشرق د میم له توري څخه تېره سوې وه چې په دې ډول سره یوازې شرق لوستل کېدهٔ. عزیزي قلم راواخیست او د «پیام» پر کلمې ئې کرښه وکښله او پر ځای ئې «حسن» ولیکل. آدم درمل راته وویل: « حسن شرق! نوی تخلص دې مبارک سه!»

سیاسنګ: آیا په دې تخلص سره مو سیاسي غبرګونونه هم لیدلي دي؟

ډاکټر شرق: د نورو له پلوه د «شرق» په هکله سیاسي تعابیر خدای ته معلوم دي خو یوه خاطره مې په یاد ده. ۱۹۵۹ یا ۱۹۶۰ز کال وو او د کابل په کارتهٔ چهار کې مو ژوند کاوهٔ. زموږ د کور د انګړ مخامخ ته د محمد حسن په نوم یوهٔ دروند سړي ژوند کاوهٔ چې په تورکیه کې ئې تحصیلات کړي ول. یوه ورځ ماښام مهال وو چې د خپل کور لور ته راروان وم، ومې لیدل چې هلکانو په سکرو زموږ د کور پر دیوال باندې «حسن شرق» او د مقابل لور د کور پر دیوال باندې ئې «حسن غرب» لیکلي دي. زما په یاد نهٔ دي چې ما په خپله دا دواړه لیکنې پاکې کړې یا مې له نورو څخه وغوښتل چې له منځه ئې یوسي. د هماغې ورځې په سبا ئې د کار لور ته روان وم او ګورم چې په سکرو دواړه لیکل سوي لیکنې بیا تازه سوي دي. زموږ د ګلی/ کوڅې د هلکانو دا ټوکې هر روز د حسن شرق او حسن غرب په لیکلو سره تکرارېدلې او پاکولو ئې کومه ګټه نهٔ کوله. زموږ ګاونډي چې ددې قضیې په پار خوابدی سوی وو تر ټولو آسانه او یوازېنۍ چاره وسنجوله، چې له هغه ځایه ئې کډه وکړي او خپل کور ئې په پلورلو کې واچاوهٔ.

سیاسنګ: خلک وایي چې ستاسو نیکونه یهودان ول.

ډاکټر شرق: آیا دا بده خبره ده چې څوک دې یهود وي؟ که کوم څوک له اسرائیلو، یا فیلیپین یا بلژیک څخه راسي او بیا خپل اولادونه افغانستان ته د خدمت لپاره وقف کړي، ددې کار په هکله به څه ډول قضاوت وکړو؟ ستاسو د پوښتنې په ځواب کې باید ووایم چې زما نیکونه نیکونه هم د فراه له انار درې څخه ول. د هر فرد د خولې پټول کومه ساده خبره نهٔ ده، او که ساده هم وي زه ددې کار جوګه نهٔ یم.

سیاسنګ:خبره پر تورونو راغله، که ناکله ویل کېږي چې تاسو د kGB د ادارې غړیتوب درلود.

ډاکټر شرق: که څوک دا خبره په مستنده توګه کوي نو انکار کول ورڅخه نهٔ یوازې ګټه نهٔ کوي بلکه بې ګټې هم دي. که یوازې هوایي خبرې وي نو پرېږده چې زړهٔ ئې په همداسې خبرو خوښ وي. ما ته کومه ګټه او تاوان نهٔ لري.

سیاسنګ: له محمد داؤود سره لومړنۍ لیدنه

ډاکټر شرق: په ۱۹۴۹ز کال کې د طب له پوهنځي څخه اخراج او په حقیقت کې له علمي چاپېریال څخه وشړل سوم. محمد داؤود چې له ما څخه ئې کوم شناخت نهٔ درلود، ولیکل: داسې یو څوک چې د اردو له نعل بندي ښوونځي څخه د خپلو هڅو او کوښښ له کبله د طب تر پوهنځي ورسېږي، دا به عادلانه نهٔ وي چې د څو احساساتي او تأثرناکو جملو په پار دې له تحصیله بې برخې او له پوهنځي دې وشړل سي. د دفاع وزارت د نوموړي له اخراج سره موافق نهٔ دی. یو ځل بیا دې اجازه ورکړل سي چې خپلو درسونو ته دوام ورکړي.

زموږ لومړني لېدهٔ کاتهٔ د ۱۹۵۱ز کال د اکتوبر په میاشت کې ول. هغهٔ د دفاع او د کورنیو چارو له وزارتونو څخه نوې استعفی کړې وه. وئې ویل: ستاسو سوانح ئې راته ویلې وه. تاسو سره له لیدلو او د نظریاتو له اورېدلو مخکې مې باور نهٔ کاوهٔ چې د نامساعدې ټولنیزې وضعې لرونکی یو زده کوونکی دې په دې بریالی سوی وي چې خپلې زده کړې د اردو له نعل بندي ښوونځي څخه د طب تر پوهنځي پورې په بې ساري ډول پای ته ورسوي.
سیاسنگ: د جمهوریت په پینځم کال کې ستاسو دواړو تر منځ یوه خوابدي رامنځته سوه، سمه ده؟

ډاکټر شرق: زموږ اړیکې د پخوا په شان نهٔ ول. ما یو شمېر ټکې درلودل چې له هغهٔ سره مې شریکول خو نور ورته د پاملرنې وړ نهٔ ول. خوښېدل ئې چې راسره ونهٔ گوري.

سیاسنگ: وروستنی یادگار؟

ډاکټر شرق: وروستنی یادگار ئې ما ته په جاپان کې د هغهٔ مکتوب دی. د مکتوب په پورتنې برخې کې نېټه د ۱۳۵۷ل کال د غوایي د میاشتې لومړۍ– د هغهٔ له وژل کېدلو ۷ ورځې مخکې – ښيي. د مکتوب په دوهمه کرښه کې، له دودیزو یا متداولو تعارفاتو وروسته، داسې راغلي دي: اوس ئې وخت راغلی دی چې افغانستان ته راستون سئ.

سیاسنگ: آیا د هغهٔ لیکونه له ځان سره لرئ؟

ډاکتر شرق: په هغو شپور ورځو کې چې په هند کې وم د هغهٔ څو قلمي لیکونه مې ضیاء مجید ته په امانت پرېښودل. ورته مې وویل: له دې چې افغانستان ته ستنېږم، که دا لیکونه له ما سره وي په قوي احتمال سره به له هغهٔ ځایه لېرې او ورک سي. ضیاء مجید وایي چې هماغه لیکونه ددهٔ له کورنۍ سره سته.

سیاسنگ: د افغانستان د خلق ډیموکراټیک گوند له مشرانو سره څنگه آشنا سواست؟

شرق: لومړی مې نور محمد تره کي وپېژاندهٔ. ښايي هغه مهال به دېرش کلن وو او د مجید زابلي د مالي چارو مدیر وو. زه شل کلن وم. ددې لیدنې کتنې نېټه ۱۹۴۵ز کال

دی. له دې نېټې پېنځۀ یا شپږ کاله وروسته له ببرک کارمل سره د محصلینو په اتحادیې کې آشنا سوم. ببرک هغه وخت کمونیستي افکار او تخلص نۀ درلود. د عبدالرحمن محمود او د هغۀ د سلطنتي ضد دریځ پلوی وو. زه او حفیظ الله امین په ۱۹۵۵ یا ۱۹۵۶ز کال کې له یوبل سره د صدارت د عمومي اداري مدیر تاج محمد وردک له لارې آشنا سوو. امین د کابل د خوشحال خان د لیسې ښوونکی وو.

سیاسنګ: تصادفاً ستاسو د میز پر مخ د یوې پاڼې له مخې چې زما په سترګو لګېږي، ستاسو د زوکړې نېټه ۱۹۲۵ز کال/ ۰۷/ ۱۹ لیکل سوې ده. آیا د ۱۹۲۵ز کال د جولای د میاشتې ۱۷ نۀ ده؟

باید د جولای اولسمه وي. هغه وخت چې له نورو اسنادونو سره یو ځای زما پاسپورت لوېدیځ لور ته زما د سفر په هکله چمتو کېدۀ، زما زوی میرویس ۱۷ شمېره په دې ډول لیکلې وه چې د ۱۹ شمېرې ته ورته وه. کله چې اسناد مې ترلاسه کړل زما پام دې ټایپي تېروتنې ته واوښت، خو ناوخته سوې وه. له دې چې دومره ډېر توپیر په کې نۀ وو ما د هغې د تصحیح لپاره کوم اقدام ونۀ کړ.

سیاسنګ: په غالب ګومان سره چې خیبر هم، چې ستاسو دوست او له تاسو سره هم عمره وو، باید په ۱۹۲۵ز کال کې زیږېدلی وي.

ډاکټر شرق: دواړه همټولګیواله او همسن توب مو صحیح دي. موږ دواړو د عسکري لیسې په عین ټولګي کې درس لوستی دی. هغه مهال، د زوکړې نېټې ته چنداني پاملرنه نۀ کېدله. چارواکو هغه مهال د رسمیاتو د مسایلو لپاره د اړتیا په صورت کې، د سن تعیین د اټکل او تخمین له مخې کاوۀ. که موږ هم عمره نۀ وو، نو زموږ د زوکړې د کلونو د فرضي اټکل له مخې، ښایي زه له مرحوم خیبر څخه به یو کال کشر اوسم یا به یو کال مشر. یاد دې په خیر وي.

سیاسنګ: خیبر په کوم کال کې زنداني سو؟

ډاکټر شرق: حساب به ئې د خوشې کېدلو له نېټې لږ آسانه سي. خیبر د محمد داؤود د صدارت د دورې له پیل کېدلو شپږ میاشتې وروسته یعنې په ۱۹۵۵ز کال کې له حبس څخه خوشې سو. نوموړی ټول ټال څه دباندې شپږ کاله محبوس پاتې سوی وو، غالباً د ۱۹۴۸ز کال په وروستیو کې به زنداني سوی وي، ځکه چې موږ دواړه په ۱۹۴۶ز کال کې یو ځای له عسکري لیسې څخه فارغ سو.

سیاسنګ: آیا خیبر او دوه تنه نور دوستان ئې د سیاسي فعالیتونو په تور زنداني سوي ول؟

ډاکټر شرق: خیبر او زما په ګډون زموږ اکثریت همدوره دوستان په داسې تنکي عمر کې –تر پېنځۀ ویشت کلنۍ پورې – په سیاست کې ښکېل نۀ وو، سیاسي فعالیتونه لا پر

خپل ځای پرېږدئ او هغه هم تر دې کچې چې برخلیک ئې تر سیاسي زندان پورې ورسوي.

سیاسنگ:ویل کېږي چې خیبر  د «انگار» په شان سیاسي جراید د نظامیانو په منځ کې په پټه خپرول او له محمد علي جناح او نواب زاده لیاقت علي خان سره ئې یو شمېر تماسونه درلودل.

ډاکټر شرق: زموږ په هېواد کې د مذمومو عاداتو په منځ کې یو ئې د افسانو د جوړولو شوق دی. په هغو کلونو کې ما او خیبر تر ټولو ښهٔ مواد چې لوستل، د شعر او داستان په هکله له ادبي مقالاتو او د کومې مجلې او ورځپاڼي له فرهنگي مسایلو پورته بل شی نهٔ ول. «انگار» نهٔ یوازې دا چې کومه مخفي نشریه نهٔ وه بلکه د میوند په جادې کې ئې دفتر او رسمي حق الاشتراک درلود. هره گڼه ئې پینځوس پوله پلورل کېدله.  نو خیبر دې ولې علني جراید گېډۍ گېډۍ له قرطاسیه پلورنځیو څخه له ځان سره راوړي او په پټه او مخفي توگه دې د نظامیانو په منځ کې وویشي؟ تر ټولو مهمه خبره دا ده کله چې خیبر او دوستان ئې زنداني سول، د «انگار» جریده لا جوړه سوې نهٔ وه. له محمد علي جناح او نواب زاده لیاقت علي خان سره د تماس خبره د همداسې کسانو د شطحیاتو یوه خبره ده. خدای خبر چې خیبر او ما به په هغهٔ عمر کې د دغو دوه وو تنو نومونه اورېدلي ول یا نهٔ ول. تأریخي پېښو ته دا ډول جعلي ښاخونه او جرړه ورکول د افرادو سیاسي ژوند ته گټه نهٔ کوي.

سیاسنگ: ولې زنداني سوي ول؟

ډاکټر شرق: تر هغهٔ ځایه چې ما اورېدلي دي، میر اکبر له معمول سره سم د ژمنیو رخصتیو لپاره په لوگر کې خپل کور ته تللی وو. د خپلوانو په منځ کې ئې کوم چا یوه قدیمي شخصي تومانچه درلوده. دی چې پوهېدهٔ خیبر په کابل کې په نظامي شق کې تحصیل کوي او سرو او کار به ئې په راتلونکي کې له وسلو سره وي، نو خپله تومانچه ئې راوړه او ورته ئې وویل چې دغه وسله کومه عارضه لري. په لوگر کې ئې د جوړېدلو امکانات نهٔ سته، هر کله چې کابل ته تللئ نو دا تومانچه له ځان سره یوسه، نواقص ئې لېرې کړه او په راتلونکو رخصتیو کې ئې بېرته راته راوړه. لنډه دا چې خیبر دا تومانچه د لیلیې خونې ته راوړه چې کوم مسلکي شخص ته ئې وښیي او د امکان په صورت کې ئې ورته ترمیم کړي. د لیلیې په چاپېریال کې د هم – اتاقیانو له ډلې څخه کوم چا تصادفاً دا تومانچه لیدلې وه یا له کومې بلې لارې خبر سوی وو او راپور ئې ورکړی وو چې خیبر وسله لري. د نادر شاه د قتل له دوران څخه را په دېخوا او له عمومي دروازې څخه د وسلې د راوړلو خونړیو سوابقو ته په کتني، ترهغو چې خیبر خپله اصلي قصه ووایي او خپله بې گناهي ثابته کړي د حبس څو کلونه ئې تېر کړل. بس همدومره.

سیاسنگ: آیا دا خبره سمه ده چې د شاه ایجنټانو د خیبر کورنۍ تس نس او له منځه یوړه؟

ډاکټر شرق: دا هم د خلکو له خپلو ګېډو جوړې کړې خبرې دي. که په خیبر باندې د ممنوعه پاڼو د ویشلو، د شاه محمود خان د قتل د پلان د طرحې د جوړلو، د نو روز په پاڅون کې د ونډې اخېستلو او د پاکستان له مشرتابهٔ سره د تماس لرلو لګول سوي تورونه ثابت سوي وای صاف او ساده ئې اعداماوهٔ. د سلطنت لپاره د یوهٔ څو ویشت کلن ځوان اعدامول کوم سخت کار وو؟ کله چې یو تورن د حبس له څو کالو تېرولو وروسته آزادېږي او بېرته په رسمي دندو منل کېږي، باید پوه سو چې په لوګر کې د هغهٔ د بې ګناه کورنۍ د تس نس کولو تور بې بنسټه دی.

سیاسنګ: خیبر څنګه آزاد سو؟

ډاکټر شرق: په ۱۹۴۹ز کال کې د صدراعظم په توګه د محمد داؤود له تقرر وروسته ما د میر اکبر د خلاصون وړاندیز د هغهٔ استحضار ته ورساوهٔ او ومې ویل چې هغه د یوهٔ سؤ تفاهم له مخې محبوس سوی دی. څو موده وروسته، محمد داؤود د کورنیو چارو وزارت مرستیال عبدالوهاب ته امر وکړ چې میر اکبر او څو تنه نور زندانیان ورته ورولي. د کابل والي سید عبدالله، خیبر او یو یا دوه تنه نور په داسې حال کې د صدراعظم دفتر ته راوستل چې لاسونه ئې ولچک ول. په هماغه ورځ ئې د خلاصون امر صادر سو.

سیاسنګ: آیا د محمد داؤود په امر د خیبر خوشې کېدل، کېدای سي د هغوی د نېږدې والي انګېزه وي؟

ډاکټر شرق: د محمد داؤود دریغ ته په درنښت، هغهٔ په میر اکبر باندې کومه ځانګړې پېرزوینه او خاص لطف ونهٔ کړ. تورن د یوې بې کاره تومانچې د لېږد په تور زنداني سوی وو چې باید له لومړنیو تحقیقاتو او د بې ګناهۍ له اثبات وروسته آزاد سوی وای، خو په خواشینۍ چې تر ډېرې مودې پورې محبوس پاتې سو. د عسکري د قوانینو د لایحې پر بنسټ په نظامي شق کې ئې بیا منل کېدل ناشوني ول خو بیا هم د کورنیو چارو په وزارت کې ومنل سو. له زندان څخه د خوشې کېدلو خبرې محمد داؤود ته د خیبر په نېږدې کېدلو باندې کومه اغېزه نهٔ درلوده. فکر کوم چې خیبر د زندان له خوشې کېدلو وروسته تر لسو کلونو پورې د محمد داؤود لیدلو ته نهٔ وو ورغلی.

سیاسنګ: څرنګه او په کوم کال کې ئې ورسره ولیدل؟

ډاکټر شرق: د هغوی لومړنۍ رسمي لیدنه زما د غوښتنې پر بنسټ په ۱۹۶۵ز کال کې وه. د خبرو په پای کې داؤود وویل: خلک حق لري چې په هرې عقیدې، په هرې لارې او هر مسلک چې زړهٔ ئې غوښتي وي لاړ دې سي. البته په دې شرط چې تل دې د خپل هېواد د علیا ګټو په فکر کې وي او له هر ډول نورو ګټو او امتیازاتو څخه ئې لوړ

وګڼي. خیبر د هغهٔ د خبرو په تأیید سره زیاته کړه: سره له دې چې د افغانستان د خلق ډیموکراټیک ګوند غړی یم، ملي روحیه لرم. هره هغه مفکوره چې د هېواد ګټې په کې نغښتې نهٔ وي، ما ته هېڅ اهمیت او ارزښت نهٔ لري.

سیاسنګ: په ۱۹۶۵ز کال کې هم تاسو د محمد داؤود او تره کي تر منځ لیدنې ته لاره هواره کړې وه.

ډاکټر شرق: هغه لیدنه د خیبر په غوښتنې وسوه. هغهٔ راته وویل چې د دغو دوه وو تنو د لیدنې امکان ورته برابر کړم. تره کي نوی د افغانستان د خلق ډیموکراټیک ګوند د مشر په توګه غوره سوی وو او له دې نېټې یوه یا دوه میاشتې وروسته محمد داؤود موږ دواړو ته په خپل کور کې بلنه راکړه. له تعارفاتو او پوښتنو ګروېږنو وروسته تره کي پوښتنه کړه: د خدای او د اسلام ددین په هکله څه نظر لرئ؟ هغهٔ ځواب ورکړ: په خدای تعالی ایمان لرم او د اسلام د مقدس دین پیرو یم. تره کي وپوښتل: د هغو کسانو په هکله څه نظر لرئ چې په خدای ایمان ونهٔ لري؟ هغهٔ ورته په ځواب کې وویل: په خدای باندې ایمان لرل او یا نهٔ لرل د افرادو د پوهې او استدراک پر بنسټ له یو بله توپیر کوي. مؤمن او کافر اوسېدل شخصي موضوع ده او نهٔ باید د شخړې موجب اوسي. تره کي وویل: زموږ ګوند له تاسو ځکه منندوی دی چې له شوروي سره مو د نېکو او دوستانه اړیکو بنسټ کښېښود. محمد داؤود وویل: "د افغانستان د خلکو د هوساینې او ښېرازۍ لپاره چمتو یم چې د نړۍ هر ګوټ ته مراجعه وکړم. هر هغه هېواد چې صادقانه او له غرض پرته وغواړي زموږ له هېواد سره مرسته وکړي زموږ دروازې ئې پرمخ پرانیستې دي او فکر کوم ستاسو خبرې هم باید همدلته پای ته رسېدلې وي." دا لیدنه په سړې فضا کې پای ته ورسېده.

د هماغې ورځې په سبا ئې خیبر راته وویل: غواړم د پرون ورځې د لیدنې په هکله دقیق معلومات ولرم. آیا کولی سم ستاسو کور ته درسم چې له نېږدې خبرې وکړ؟ ورته مې وویل: د پوښتلو کومه اړتیا نهٔ سته. تل او هرکله دې چې غوښتې وي کولی سئ راسئ. کله چې راغی ما ټوله ماوقع ورته وویله او ومې ویل: تره کي له خدای په امانۍ وروسته – د محمد داؤود له کوره دباندې راته وویل: فکر نهٔ کوم چې له سردار داؤود سره دې زموږ د ګوند د اړیکو رامنځته کول اړین وي، ځکه چې هېڅ ګټه نهٔ لري. موږ له هغو اشخاصو سره علاقه نیسو چې له موږ سره ئې موخه یوه او ګډه عقیده ولري. خیبر ددغو خبرو په اورېدلو غمجن سو، خو کومه ځانګړې مثبته یا منفي تبصره ئې ونهٔ کړه.

څو ورځې وروسته د داؤود لیدلو ته ورغلم، هغهٔ له تره کي سره لیدنې ته په نغوتې وویل: دغه ډول کسان د افغانستان د خلکو په درد نهٔ لګیږي. دوی نهٔ په خدای عقیده لري او نهٔ د اسلام په دین او نهٔ په خلکو. ورته مې وویل: وبخښئ. په دغو

حساسو شرایطو کې موږ ډېرو همکارانو او ملاتړو ته اړتیا لرو او عین وخت کې یو شمېر کسان غواړي تاسو ووینې، له بده مرغه کله ناکله دغسې حالات رامنځته کېږي او ستاسو وخت په بې ګټې توګې ضایع کوي. په رښتیا سره چې ما نهٔ باید ستاسو لیدلو ته تره کی راوستی وای. راته ئې وویل: فرق نهٔ کوي. خو بیا هم باید له بېلابېلو کسانو سره وګورو. پرېږده هغوی چې ما نهٔ پېژني، ومې دې پېژني چې څه ډول فکر کوم او څه غواړم. تأسف دلته دی چې سلطنتي نظام ولې د ډیموکراسۍ په نوم داسې کسانو ته د آزاد فعالیت حق ورکړی چې له ملي ګټو سره بې علاقې او د افغانستان د خلکو په مقدساتو بې باوره دي.

سیاسنګ: آیا بل ځل ئې کومه ناسته درلوده؟

ډاکټر شرق: په ۱۹۷۰ز کال کې تره کي بیا هم غوښتنه وکړه چې له محمد داؤود سره وګورئ. دا لیدنه ما تنظیم کړه او یقین لرم چې ډېره لنډ او د خبرو تومنه او محتوی ئې تقریباً د هماغې لومړۍ لیدنې د مضمون تکرار وو. د دواړو په ذهنیت کې د هېڅ ډول بدلون نښې نهٔ لیدل کېدلې. د لیدنې د پای او د خدای په امانۍ ډول ئې تېرې تجربې ته بشپړ ورته والی درلود.

سیاسنګ: آیا کله هم محمد داؤود غوښتي دي چې د ګوند له مشرانو سره لیدنه ولري؟

ډاکټر شرق: په ۱۹۷۱ز کال کې د محمد داؤود په دستور اړینه وبلل سوه چې له میر اکبر خیبر، ببرک کارمل، نور محمد تره کي او سلیمان لایق سره اړیکه له سره نوې کړو.

سیاسنګ: آیا هغوی ته مو وویل چې تاسو څه غواړئ؟

ډاکټر شرق: نهٔ مو ول ویلي، خو غوښتل مو ورته ووایو چې څه غواړو. د ۱۹۷۱ز کال د دوبي یوه ورځ وه چې ما ئې هېڅ د اورېدلو توقع نهٔ درلوده، سلیمان لایق په ډېر ټیټ غږ راته وویل: «ډاکټر جانه! دا خبره دې زموږ په منځ کې وي. اورېدلي مې دي چې کودتا کوئ؟» زه د خبرې بیخ ته ورسېدم او راته ثابته سوه چې خبر له کوم سوري وتلی او دهٔ ته وررسېدلی دی.

سیاسنګ: د خیبر او کارمل نېږدې والی او لیرې والی؟

ډاکټر شرق: ددوی د مناسباتو د نهٔ حسنه توب په هکله هماغومره چې نور پوهېږي زه هم پوهېږم. زما په مخکې او زما په حضور کې ما ددوی له خولو څخه کومه ناوړه تبصره یا د متقابل تخریب خبره نهٔ ده اورېدلې. یو شمېر نیوکې او د یو بل پر ضد د تورونو د لګولو خبرې ئې راته کولې – ددغسې خبرو یادول دلته – مخصوصاً چې اوس ژوندي نهٔ دي او زموږ په منځ کې نهٔ سته – مناسب نهٔ وینم.

سیاسنگ: د خیبر مخالفین پر هغهٔ باندې له " ملي مصؤونیت" سره د همکارۍ تور لګوي.

ډاکټر شرق: دا بې انصافي او د خیبر له روح سره جفا ده. د خیبر آزاده روح د استخباراتي تشکیلاتو د غړیتوب لپاره نهٔ وه جوړه سوې. یو شمېر څرګند کسان دي چې د همداسې دندو لپاره ئې مهارت درلود او لري ئې. د بېلګې په توګه: قادر او وطن جار هېڅکله د ملي مصؤونیت رسمي کارمندان نهٔ ول خو مستقیماً د ولسمشرۍ ارګ ته به راتلل او اکثراً مؤثق راپورونه به ئې راوړل. وطن جار به ویل او په رښتیا هم په سمه به ئې ویل چې: د توطئې په کشفولو کې خاص استعداد لرم. شیرجان مزدوریار د ملي مصؤونیت د دستګاه رسمي مأمور وو او نهٔ ئې سوای کولی مستقیماً راپور راوړي. دغه څو نومونه مې د بېلګې په توګه یاد کړل. خیبر آزاد او پرهیزګار وو.

سیاسنګ: د افغانستان د خلق ډیموکراټیک ګوند په هکله ئې څه ویل؟

ډاکټر شرق: په خیبر باندې خپل ګوند د زړهٔ له تله ګران وو خو کله ناکله به ئې د خپلو همفکرانو په اړه په زړهٔ پورې ټوکې کولې. یوه ورځ ئې وویل: زموږ ګوند بد ګوند نهٔ دی خو پورتنیو پوړونو ته ئې څو تنو عجیبو او غریبو خلکو لاره موندلې ده. له دغو عجایبو او غرایبو څخه یو ئې زما خپلوان سلیمان لایق دی. په سیاست کې په دوه طبقه کسانو باندې اعتماد نهٔ سي کېدای: لومړی ملا او دوهم شاعر. لایق هم ملا دی او هم شاعر! (البته چې خیبر دا خبره د ظرافت له مخې کوله او جدي نهٔ وو.)

سیاسنګ: ستاسو او د خیبر وروستۍ لیدنه؟

ډاکټر شرق: - د ۱۹۷۷ز کال د جون په میاشت کې – په جاپان کې د سفیر په توګه زما له تقرر دوه اونۍ مخکې، خیبر له سید جان لالا سره زما دفتر ته راغلی. د نورو خبرو په ترڅ کې ئې وویل: د ګوند داخلي وضعیت ډېر نامطلوبه لوری نیولی دی. تکل لرم چې د ګوند د ماجرا پالنې مخه ونیسم. زه به خپل کوښښ وکړم خو په دې نهٔ پوهېږم چې بریالی به سم که نه. ما ورته وویل: لاړ سه همدا خبرې رهبر [محمد داؤود] ته ووایه. وئې ویل: راتلونکې میاشت ئې لیدلو ته راځم. دا چې ددوی لیدنه وسوه که نه، زه معلومات نهٔ لرم.

سیاسنګ: خیبر څه ځانګړتیاوې درلودې؟


ډاکټر شرق: پاک، صادق، مهربان، شخصي او کورنیو اخلاقي فضایلو ته ژمن او د خلکو د دودونو او عنعناتو په اهمیت باندې معتقد وو. ډېر لوړ آفاقي معلومات ئې درلودل. آرام او متعدل وو او په دا ډول ئې خبرې کولې چې د خبرو کولو بنې ئې د هر اورېدونکي پام ځانته اړاوهٔ. له دې خبرې څخه زښت ډېر کرېدهٔ چې د افغانستان د خلق ډیموکراټیک ګوند په شوروي اتحاد پورې ژور تړلی دی.

سیاسنګ: ستاسو له نظره، خیبر څه شی باید درلودای چې نهٔ ئې درلودل؟
ډاکټر شرق: ښايي تاسو زما په ځواب وخاندئ. خیبر فرکسیون باز نهٔ وو، خو کاشکې وای. که هغهٔ غوښتي وای کولی ئې سوای چې د ګوند ستره بدنه تر خپل سیوري لاندې راولي او د رامنځته سویو سیاسي کړکېچونو اندازه راټیټه کړي. شرافت چې قاعدتاً باید د هر سالم انسان د پیاوړتیا ستر ټکی وي، د خیبر د ضعف په ستر ټکي بدل سوی وو. سیالانو ئې د هغهٔ له شرافت او نرموالي څخه ناوړه ګټه پورته کوله. خیبر د خپل نجابت قرباني سو.

سیاسنګ: آیا د ملي انقلاب/ ملي غورځنګ د ګوند غړیتوب ئې درلود؟
ډاکټر شرق: قطعاً ئې غړیتوب نهٔ درلود. مخالفینو ئې دا تور وربانديې لګولی دی.
سیاسنګ: ولې ووژل سو؟
ډاکټر شرق: د خلق او پرچم – د دواړو جناح ګانو د مشرتابهٔ په کچه په ګوند کې دننه د پېچلو ستونزو تګلوری د خیبر په ګټه نهٔ وو. ددغو خبرو د جزئیاتو راسپړل زما له واکه دباندې خبره ده. خیبر د ډیموکراټیک ګوند د نظامي تشکیلاتو د ودې او پراختیا د عواقبو او په وسلوال ځواک کې دننه د هغوی له پیاوړي کېدلو څخه اندېښنه درلوده. خیبر د اردو د صاحب منصبانو د جلب او جذب له هغې تګلارې سره مخالف وو چې ګوند ته د ماجراجویانه استخدام په ډول جلبېدل. د جمهوري رژیم پر وړاندې ئې وسلوال پاڅون زښت ډېر خطرناک کار ګاڼهٔ. فکر کوم که موږ د نورو دلایلو تر څنګ یوازې همدغهٔ یوهٔ دلیل ته پاملرنه وکړو نو ددې خبرې د پوهېدنې لپاره کفایت کوي چې ولې ووژل سو.

سیاسنګ: د قتل د عاملینو هویت؟

ډاکټر شرق: د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند د څلورو مشرانو وېره او ډار چې د خپلې واکمنۍ او قدرت پر مهال ئې ددغسې یوهٔ مرموز قتل د پلټنې په برخه کې کوم ګام اوچت نهٔ کړ په خپله دا څرګندوي چې د پردې شا ته د خیبر د ترور عاملین ناپېژندل سوي کسان نهٔ دي. که د ګوند مشرانو کله نا کله دلته او هلته په حاشیوي ډول د خیبر نوم یاد کړی یا ئې یو بل د خیبر په ترور کې په لاس لرلو تورن کړی، ان هغه هم د مسکو له اجازې پرته نهٔ ول.



**خیبر د افغانستان د خلق ډیموکراتیک گوند شپږمه گوته وه**

سیاسنگ: ستاسو سیاسي لید لوری؟
ډاکټر اکرم عثمان: په ژوندانهٔ کې مې زښتې ډېرې لوړې ژورې ازمویلي دي خو په پای کې پوه سوم چې د سیاست له گوډي/ توبرې څخه داسې شی د چا لاس ته نهٔ ورځي چې ورباندې ویاړ وکړي. ما د خپل د ژوند ډېره برخه د ځاني – ملامتیا په برزخ کې تېره کړې ده. تل مې له دواړو لوریو څخه گوزارونه خوړلي دي. سردارخیلانو به وهلم او ویل به ئې چې کیڼ لاسی ئې، کیڼ لاسو به وهلم اوویل به ئې چې سردارخیلی ئې. د روزگار د ژرندې د دوه وو تیږو په منځ کې اوړهٔ اوړهٔ سوم او ومې نهٔ سوای کولی خپل واقعي هویت وپېژنم. زه یو مستقل سړی یم او د ژوند په هر مهالیز پړاو کې مې په هغو ټاکلو افکارو باندې زړه تړلی دی چې ما ته ئې معقولیت درلود. هېڅکله مې نهٔ دي غوښتي چې ددې او یا د هغې ایډیالوژۍ په قفس کې زنداني اوسم. له همدې اسیّته / سبب دی چې د منصب له اړخه کوم ځای ته نهٔ یم رسېدلی، خو ډېر ستر ویاړ راپه برخه سوی دی او هغه دا چې د افغانستان د پرگنو ملاتړ را سره دی. له خپله ځانه پوښتم: آیا د خدایتعالی په اووهٔ واړو اقلیمونو کې به د ولسي ملاتړ له مقامه پورته بل مقام هم وي؟ ما له خپلو هېوادوالو دومره پېرزوینه لیدلې چې فکر نهٔ کوم زما په ځان کې دې نور د خپل هویت او دریځ د پېژندلو لپاره کومه تنده/ عطش پاتې وي.

سیاسنګ: ستاسو د تفکر لنډیز؟
ډاکټر عثمان: تېر وختونه تېر سول. نن زه نهٔ کيڼ لاسی یم او نهٔ ښي لاسی. په الله باندې خلل نهٔ منونکی ایمان لرم، ملي ګټې تر هر ډول نورو ګټو ډېرې لوړې ګڼم، په فردي آزادۍ، د انساني حقوقو په برابرۍ، قومي او ټبرین تعادل، په ټولنیز توازن او رښتوني ډیموکراسي ګروهن/معتقد یم. که له دغو خبرو خپل وروستنی غورچاڼ ووایم نو خپل ځان په ملي ګټو ولاړ کيڼ لاسی بولم چې جهان – وطني علایق او سلایق ورسره بدرګه دي او د کيڼ او د ښي لاس د هر ډول بنسټپالنې منتقد یم.

سیاسنګ: آیا د افغانستان د خلق ډیموکراټیک ګوند یا د نوي دیموکراټیک جریان غړی واست؟

ډاکټر عثمان: هېڅکله مې کوم ګوندي یا سازماني تعلق نهٔ دی درلودلی. البته د ځوانۍ په وخت کې د هېواد د ټولنیزې ښېرازۍ په هیله مې په څو ټاکلو مواردو کې د خلق او د پرچم له مشرانو سره د سلا مشورې تر کچې راکړه ورکړه درلودلې ده. حقیقت دا دی چې د خلق ډیموکراټیک ګوند په نوم کوم ګوند عملاً شتون نهٔ دی درلودلی او نهٔ هم کوم واحد ګوند وو. موږ اکثراً د نور محمد تره کي ګوند، د حفیظ الله امین ګوند، د ببرک کارمل ګوند او د ډاکټر نجیب الله ګوند درلودلی دی. ددغو څلورو واوړ ډلو ظالمانه کړهٔ وړهٔ ددوی د واکمنۍ پر مهال دومره څرګند او بربنډ دي چې تشریح ته اړتیا نهٔ لري. د شوروي د کمونیست ګوند د ببړۍ له ډوبېدو سره سم د ډیموکراټیک ګوند جلا جلا ټاپوګان یو په بل پسې تر اوبو لاندې سول. په دوی کې د هغهٔ چا چې لامبو زده وه، ځان ئې وژغورهٔ او د لوېدیځې نړۍ د امن ساحل ورسېد. څو موده وروسته ددوی یو شمیر بیا د «شیرینو» د زړهٔ د ښکار کولو په پلمې د مؤمن خان کوچنۍ چاړهٔ تر ملا وتړله او یو شمېر نورو ئې چې د پانګوالۍ راښکون او پرتم ولید نو شخصي ژوند ته ئې مخه کړه. یوازې د وراشې/ بحث د آسانۍ لپاره کولی سو د افغانستان د خلق ډیموکراټیک ګوند اصطلاح د ټولو فرکسیونونو لپاره وکاروو.

شعلهٔ جاوید، د خلق له ګوند څخه لا بد تره، له هماغه پېله یو اړخیز بنسټپالی کيڼ لاسی جریان وو. په چین، هندوستان، نیپال، کمبودیا، ایران او څو نورو هېوادونو کې د مائویزم د ناکامۍ کړکېچ د همدې مدعا اثبات دی.

د وروستیو تېرو څلوېښت – پینځوس کالو تجربه په ډاګه کوي چې د هېواد د راتلونکي سیاست په سناریو کې، ښایي جهادي او طالبي تنظیمونه او ان د ډیموکراټیک ګوند پاتې شوني د خپل بخت د آزمایلو لپاره چانس ولري، خو مائو ییزم ئې په هېڅ رنګ او عنوان نهٔ لري. شعلهٔ جاوید او پاشل سویو اقمارو ئې تل قهرجن مزاج درلودلی دی. دوی ځمکې او آسمان، انس او جنس، دیو او ښاپېرۍ، او «مافي السماوات و الارض» ته ښکنځل کوي او د دواړو عالو مړی او ژوندی په دې جرم فوراً د اعدام وړ بولي چې له

دوی سره همغږي نۀ لري. که په دې خبرې ستاسو باور نۀ راځي فی المثل، تاسو د شعلۀ جاوید یوۀ کوچني غړي ته ووایاست چې ستا د سترګو له پاسه بانۀ سته.

زما موخه د مسکو او د پیکنیګ د کیڼ لاسو د فکري تومنې بې ګټې توب دی نۀ دا چې د هغوی په جوړښت کې د ښکیلو کسانو فردي فضایل او علمي وجاهت تر پوښتنې لاندې راولم ځکه کیڼ غورځنګ ټولنې ته بهترین پوهان، هنرمندان، لیکوالان، شاعران، ژباړونکي او څېړونکي ډالۍ کړي دي. دا باید ووایم چې خلق، پرچم او شعلۀ جاوید پاک ترینه کسان هم لري.

سیاسنګ: که له څلورو یادو سویو مشرانو څخه تېر سو چې تاسو ئې نومونه پورته واخېستل آیا میر اکبر خیبر کومه ډله یا سازمان درلود؟

ډاکټر عثمان: استاد خیبر خپله کومه ډله یا سازمان نۀ درلود، خو د خپل د سر د ویښتانو د شمېر په اندازې ئې مینه وال او دوستان درلودل. سره له دې چې لومړنی ښوونکی وو، تدریس ئې وکړ، تفکر ئې راوړ او مشرانو ته ئې سیاسي تګلوری وروښود؛ خو هغۀ ته ئې هېڅ وخت نۀ ورکاوۀ.

سیاسنګ: آیا د همدې علت له مخې دوی ونۀ غوښتل چې خیبر د سیاسي بیرو غړی سي؟

ډاکټر عثمان: لوړ دریځ ته د پورته نۀ تللو لپاره به زر دلایل شتون ولري. خو یو زر او یوم ئې چې ددۀ د وژل کېدو لامل سو، د ملي انقلاب په ګوند کې د ډیموکراټیک ګوند د عدم انحلال په اړوند د کارمل د تصمیم پر وړاندې د خیبر مخالف دریځ نیول وو.

سیاسنګ: د خیبر او کارمل اختلاف د خلق او د پرچم له انشعاب سره سم پېل سوی وو؟

ډاکټر عثمان: ددغو دواړو اختلاف د ډیموکراټیک ګوند د بنسټ ایښودلو له تأریخ څخه لا اوږد تأریخ لري. لومړني کس چې ددوی د پخلاینې لپاره اقدام وکړ، سلیمان لایق وو. هغۀ راته وویل: وروسته له چې دې خیبر او کارمل د لنډ مهال لپاره تفاهم ته ورسېدل، د ګوند د بنسټ ایښودلو د کنګرې د دایرېدلو لپاره د تدارک د کمیټې مقدمات پېل سول. د ګوند له بنسټ ایښودلو وروسته د دواړو تر منځ اختلافات یو ځل بیا کرکیچن سول او راپورته سول.

سیاسنګ: د ډیموکراتیک ګوند د انحلال تفکر، د خیبر زېږنده وه؟

ډاکټر عثمان: دا د ارواښاد داؤود مفکوره وه. له دې چې زه د ګوند او د داؤود تر منځ رسمي رابط وم ما په خپله د هغۀ پیام د کارمل په حضور کې خیبر ته ورساوۀ او ومې ویل:رهبر وایي پردي مۀ پرېږدئ چې ستاسو له وجود او استعداد څخه کار واخلي. تاسو چې د سازمان ورکولو پوهه او مهارت لرئ، راځئ تاسو زموږ ګوند هم د ناسیونالیزم په

داسې نظرېږې جوړ کړئ چې تر نورو ټولو ګټو د ولس ګټې په کې لوړې ګڼل سوې وي د يوه واحد تشکيل تر چت لاندې راټول سئ او د پرديو په دستور د ګوند بازيو او ډلو ټپلو تغر ټول کړئ.

سياسنګ: د هغوی غبرګون څرنګه وو؟

ډاکټر عثمان: خيبر چوپ او غلی پاتې سو، خو که د خبرو کولو لپاره ئې کوم شي درلودل وئې نه ويل. کارمل تک سور واوښت او په قهرېدلې ژبې ئې وويل: دا خو امکان نه لري. يو عمر د خواريو او سختيو په ګاللو سره طبقاتي مبارزه وکړو، د زړه وينې وخورو، ولسونه سمبال او راټول کړو او په پای کې لاړ سو د فاسدو سردارانو پر دسترخوان کښېنو؟ موږ په دې لارې کې خپل سر ايښی دی. که مو سبا وژني، نن دې راسي او موږ دې ووژني، که مو په ځنډ کې وژني، ژر مو دې ووژني. انقلابيونو ته د هېواد په لاره کې له شرف او وياړه ډک مرګ له ذلت او سپکاوي ډک ژوند څخه په ځلونو ځلونو ښه دی. ما ته د شرم ځای دی چې سردار داؤود دې زما پر اوږه لاس کښېږدي او ودې وايي: آفرين! ښه سوه چې ما ته دې پناه راوړه. (دا کټ مټ هماغه کلمات نه دي خو نقل په مضمون دي) البته د کارمل ددغو ترخو او تروو کنايو ډېری برخه خيبر ته متوجه وه.

سياسنګ: دغه غبرګونونه مو محمد داؤود ته ورسول؟

ډاکټر عثمان: د راتلونکې ليدنې کتنې وخت څلور اونۍ وروسته ټاکل سوی وو. په همدې مودې کې ما بايد د دوهم ځل لپاره او د لازم ګڼلو له مخې بايد د دريم ځل لپاره د خلق او د پرچم له مشرانو سره ليدلي وای او خبرې مې بايد ورسره کړې وای. ما پټيلې وه چې دغه غبرګونونه په تعديل او ملايمت محمد داؤود ته ورسوم. خو د ټاکل سوې اونۍ له رسېدو ډېر مخکې د ضياء مجيد له لوري راته احوال راغی چې ځان بايد ژر تر ژره د رهبر حضور ته ورسوم. کله چې لاړم پوه سوم چې اوضاع عادي نه ده. راته ئې وويل: په هغهٔ مورد کې چې ما تاسو ته هدايت درکړی وو، نور ځان ته زحمت مهٔ ورکوئ. د کورنيو چارو له وزارت څخه ددوی د غړونو څو دانې کسټونه ئې راته راوړل. ډېرې سپکې سپورې په کې ويل سوي دي. له دوی سره نور تماس نيولو ته اړتيا نهٔ سته. مريیان نهٔ سي کولی د بادار ګوند وزغمي. په ظاهر کې د سوسياليزم، پرمختګ او ښېرازۍ دعواګانې لري خو په رګونو کې ئې د سلطنت وينه بهېږي. دغه «مترقيان» لا تر اوسه هم فکر کوي چې شاهي نظام تر جمهوري نظام ښهٔ دی!

سياسنګ: ددغې ناستې نېټه مو پا ياد ده؟

ډاکټر عثمان: زما حافظه بې وفا ده. په خواشینۍ چې د شاید او باید په ځیر والي مې هم په یاد نهٔ ده. زما د یادداشتونو ډېرۍ برخه په کابل کې تلف سوه. کېدای سي د ۱۹۷۴ یا ۱۹۷۵ د مني فصل به وو. نهٔ پوهېږم.

سیاسنګ: د خیبر او د محمد داؤود د پېژندګلوۍ پېل؟
ډاکټر عثمان: داکټر حسن شرق، محمد داؤود ته ورپېژندلی وو.
سیاسنګ: ولې ډاکټر شرق د رابط په توګه نهٔ وو ټاکل سوی؟

ډاکټر عثمان: لومړی دا چې ډاکټر شرق د هېواد د دوهم فرد په توګه دراندهٔ دولتي مسؤولیتونه درلودل. دوهم دا چې د ډاکټر شرق د دوستۍ عقربه د پرچم د احبابو د ټولنې پر خوا روانه وه. د کارمل او خیبر تر ټولو ګران دوست او عزیز وو او د خلق له جناح سره ئې سازښت نهٔ درلود. که د توازن په هکلهٔ ئې کوښښ هم کاوه، د کارمل او خیبر سرسپارلو مخالفینو، په ځانګړې توګې تره کي او امین هغه د اعتماد وړ نهٔ ګڼهٔ او د خلکو په خبره « اغیارو ته ئې د زړهٔ راز نهٔ وایهٔ».

سیاسنګ: د «کوچهٔ ما» په رمان کې تاسو خیبر هم یاد کړی دی. آیا دغه یادونې هنري دي؟

ډاکټر عثمان: «کوچهٔ ما» یو مستند تأریخي روایت دی. په هغو مواردو کې چې په متن کې دننه حقیقي اشخاص څېرل کېږي تخیلي، عاطفي او هنري اړخونه نهٔ لري.

سیاسنګ: په هغهٔ رمان کې د خیبر د جنازې په مراسمو کې د ګډونوالو شمېر مو له «دېرش تر څلویښت زرو تنو» پورې لیکلی دی. پارسي او انګیسي ګزارشونه دغه شمېر تر دولسو زرو ښیي.

ډاکټر عثمان: زه مو په شک کې واچولم. زه باید قلمي متن وګورم چې آیا په رښتیا مې هلته دېرش او څلویښت زره لیکلي دي. زما په نظر د دولسو زرو شمېر واقعیت ته نېږدی ښکاري.

سیاسنګ: تاسو لیکلي: « کله چې خیبر ته د ګوند د کنترول او تفتیش د کمیسیون د څوکۍ وړاندیز وسو، وئې منله. د همدې دندې پر بنسټ ئې په ټولو ممکنه ذرایعو موافق او مخالف نظریات مشرانو ته او د نورو سرلارو/ سرکرده ګانو د کار کولو د بڼې ګزارش ئې دارالانشاء ته رساوهٔ. هغهٔ ښې او بدې تبصرې دواړه او ان د خپلو مریدانو شکایتونه پورته ځایونو ته رسول خو څو وخته وروسته به خبر سو چې سرلارو/ سرکرده ګانو کټ مټ هماغه مطالب د هماغو تبصرو اصلي ویونکو ته بېرته رسول او ددهٔ نېږدې ترینه باورمندان ئې ورباندې شکمن ګرځول.»

ډاکټر عثمان: د استاد له روح څخه د بخښنې استدعا لرم، خو په خپلې همدومره پوهې او کمال سره، په زړهٔ ساده او خوش باوره وو. پرتهٔ له دې چې پښو لاندې ایښودل

سوې لومې ته ئې فکر وي، سیاسي او سازماني ژمنو ته ئې پر عاطفي مسایلو لومړیتوب ورکاوهٔ. دا یو پلان سوی کار وو ترڅو پر دهٔ باندې د ګوند د غړو اعتماد په صفر کې ضرب کړي او د مضر او خطرناک عنصر په توګه ئې څرګند کړي.

یوه ورځ ئې راته قصه وکړه چې د پرچم د جناح د مشرتابهٔ له لوري د ګوند د تفتیش او کنترول په کمیسیون کې توظیف سوم چې د محرمیاتو په ساتلو سره څېړنې او پلټنې وکړم او- د ویونکو د نومونو له یادولو پرته – په ګوند کې دننه هر ډول نیوکې، وړاندیزونه او نیمګړتیاوې راټولې کړم چې د هغوی په ارزولو سره اړوندو مواردو ته رسېدګي وسي.

 د ګوند غړو پر ما اعتماد کاوهٔ او د هویت د محفوظ پاتې کېدلو په تضمین سره به ئې نېمګړتیاو او تېروتنو ته نغوته کوله او د خپلې نارضایتۍ مراتب به ئې راسره شریکول. د مشرتابهٔ هیأت ته د ګزارش ورکولو دوه لومړنۍ ناستې په بریالیتوب تېرې سوې. د وخت په تېرېدلو سره د ګوند غړو به را ته ډېر نور اسرار ویل. یوه ورځ کله چې ما مشرتابهٔ ته د یوې یا دوه وو ګوندي حوزو د مسؤولینو په هکله چې له خپل دریځ څخه ئې ناوړه ګټه اخیستې وه ګزارش ورکړ، رهبري د ګزارش د سرچینې غوښتنه راڅخه وکړه. دا کار د پروتوکول خلاف وو. هغوی پر ما باندې د هویت د محفوظ پاتې کېدلو په تضمین سره اعتماد کړی دی. مشرتابهٔ وویل: دا کومه عادي موضوع نهٔ ده، باید لا ژورې پلټنې وسي. ما وویل: له ژورو پلټنو سره مخالف نهٔ یم، مسلکي کسان دې توظیف سي او ټولې حوزې دې وپلټي. ښایي همداسې ناوړه ګټه اخیستنې نورو ځایونو کې هم سوې وي او یا کېږي او زموږ غوږونو ته نهٔ رارسېږي. کارمل وویل: سمه ده. زه اعتراض نهٔ لرم، خو نور ملګري څه وایي؟ آیا د ګوند د مشرتابهٔ هیأت د خپلو هغوغړو د پېژندلو حق نهٔ لري چې شکایت لري؟ د کارمل د پارونکې پوښتنې بڼه په دې معنی وه چې ګنې زه د ګوند مشر یم او جزئیاتو ته لېوالیتا نهٔ لرم خو نور دې د خپل صلاحیت حدود او ثغور وټاکي. له دې چې دا خبره ددوی په منځ کې مخکې له مخکې همغږې سوې وه ټولو وویل: که نیوکې یا انتقادات حقیقي وي نو ګوند حق لري چې شکایت کوونکي وپېژني. دا د هویت د محفوظولو له تضمین څخه سرغړونه نهٔ ده. زه د دوه وو لارو په سر کې ګیر راغلم: که د افرادو لیست ورنهٔ کړم، د نیوکو او نارضایتیو حقانیت تر پوښتنې لاندې راځي او که لیست ورکړم او نومونه په تېروتنې سره له کومه ځایه او سوري څخه دباندې لاره ومومي پر ما باند د ګوند د غړو اعتماد له منځه ځي. تن مې تقدیر ته وسپارهٔ او ومې ویل: راتلونکې ناستې ته به اسناد راوړم. وئې ویل: د نن ورځې ناسته د تصمیم نیولو ناسته ده، همدا نن دې چمتو سي. کارمل تر سترګو لاندې کتل او داسې ئې ښودل چې ګنې " بیخې بې پرې او بې غرضه دی، خو د نورو ځواب ورکړه." چمتو سوې دوسیه مې د میز پر مخ کښېښودله او ومې ویل تر یوهٔ بل ساعت پورې څور نورې پاتې پاڼې هم راوړم. په دې توګه ما د ګوند د مشرتابهٔ مخې ته د خپلې

آبرو د ساتنې برسیره د پروتوکول خلاف عمل وکړ او د نومونو اصلي لیست مې ورکړ. ما بې خبره تر همدې شیبې پورې دا عقیده درلوده چې ګوند زما عزت او حیثیت خپل عزت او حیثیت ګڼي او د مخفي کارۍ رعایت کوي. دا لا پرېږده چې له یوې اونۍ څخه په لږې مودې کې ئې محرمې خبرې ټکي په ټکي د بیلابیلو تحریفاتو او تعدیلاتو په زیاتولو سره اصلي ویونکو ته ورسولې او ان په لغازو ئې هغوی ته وویل: په ښهٔ سړي مو اعتماد کړی وو!

سیاسنګ: تاسو لیکلي دي چې: « د خیبر قبر ئې د هغهٔ له وژل کېدلو مخکې لا کیندلی وو. ددې لپاره چې نور سر پورته نهٔ کړي او تل له خپل او پردي سره په سؤظن کې راګیر وي دا خبره ئې خپره کړې وه چې هغه په ګوند کې ددولت مخفي او نفوذي مأمور دی. باید تر دایمي څار لاندې اوسي. هغهٔ په څلورو سترګو څارل کېدهٔ او د پښو پـل ئې تعقیب کېدهٔ. روسانو هم د هغهٔ په حق کې له دغسې تبصرو څخه ډډه نهٔ کوله.» څنګه؟

ډاکټر عثمان: له روسانو سره د خیبر آشنایي او اختلاف چې افغانستان ته د نظامي مشاورینو په نوم راغلي ول د خلق ډیموکراټیک ګوند د جوړېدلو مخکې دوران ته ورګرځي. شوروېانو هغه وخت خیبر ته ځانګړې دندې ورسپارلې چې له څون او څار پرته ئې مطیعانه تر سره کړي؛ خو وئې لیدل چې نهٔ سي کولی د خپلواکۍ روح څښتن داسې سړی تطمیع کړي؛ دوی خپل غوراوي او انتخاب ته شرمېدلي ول. خیبر د اطاعت او بعیت سړی نهٔ وو، استدلال به ئې کاوهٔ او د اړتیا په صورت کې به ئې خپل مخالفت ځرګنداوهٔ. مشاروین پوه سول چې د پېښې له رامنځته کېدلو مخکې دې باید د پېښې علاج وکړي. تر تعقیب لاندې ئې نیسي هر حرکت – ان ناروغي ئې – هغه ډول ورته تعبیروي چې د روسانو خپل زړهٔ غوښتل.

سیاسنګ: آیا د خیبر د ناروغۍ، سرطان نومول کومه دسیسه وه؟

ډاکټر عثمان: د جمهوریت د دوران په منځنیو کلونو کې مې یو شمېر انګازې واورېدلې چې د خیبر د سرطان د تشخیص جعلي اعلان دلالت پر توطئې کاوهٔ. دوی په حقیقت کې غوښتل ددغهٔ خپلواک او آزاد سړي روح بې سیکه او ضعیفه کړي. وروسته ثابته سوه چې هاغه تشخیص غلط وو، ځکه دا طبیعي خبره ده چې په سرطان اخته ناروغ [له ۱۹۷۰ تر ۱۹۷۸ز پورې] تر اتو کالو پورې یا تر هغې اوږدې مودې پورې په بشپړ عافیت سره روغ رمټ نهٔ پاتې کیږي. بله په زړهٔ پورې چلوټه / چال دا وه چې شوروېانو اجازه ورنهٔ کړه چې «مسکو» ته د درملنې لپاره لاړ سي. په دې هکله هم هغوی میدان وګاټهٔ. کرملین خلق او پرچم ته په زونګو او رموزونو وښودله چې خیبر د «واقعي ملګرو» او د همکارۍ د ملګرو له ډلې څخه نهٔ دی او موږ دلته د هغهٔ هویت ښهٔ پېژنو.

له بده مرغه د خیبر مقدرات هم په دې ډول ټاکل سوي ول چې باید د پرچم له جناح سره پاتې سوی وای؛ ان که له پرچم سره ئې اړیکه پرېک کړې هم وای هغهٔ ئې نهٔ پرېښود چې د آرام ژوند لاره ونیسي. زه نهٔ پوهېږم چې شورویانو ددهٔ په هکله څه محاسبات درلودل چې نهٔ اخراج کېدهٔ او نهٔ هم منل کېدهٔ؛ نهٔ پورته لوړ درېځ ته رسېدهٔ او نهٔ ئې کښته پرېښود. په سیاست کې برزخ تر ټولو بد ځای او درېځ دی. خیبر د گوند په سترگو کې " د لاس شپږمه گوته" وه.

سیاسنگ: ستاسو له خبرو داسې پوه سوم: شوروي نظامي مشاورینو – چې په غالب گومان سره د KGB یا GRU مأمورین ول، دا خبره خپره کړه چې خیبر افغانستان د خلق په ډیموکراټیک گوند کې د دولت نفر دی. آیا دا خبره مو د هغهٔ له خولې اورېدلې وه؟

ډاکټر عثمان: خیبر ډېرې خبرې نهٔ کولې، په ځانگړې توگه د خپل ژوند د لوړو ژورو په هکله ئې ډېر څه نهٔ ویل، خو دا خبره ئې نهٔ پټوله چې روسي مشاورینو ورڅخه د ملي مصالحو ضد توقعات لرل. زه د شوروي د استخباراتي شبکو په جوړښتونو نهٔ پوهېږم. خو ددې متل پر بنسټ چې "ړوند هم د اوگړې په تریوالي پوهېږي/ کور هم میداند که دلده شور است"، شوروي نظامي مشاورین افغانستان ته د قرآن مجید د تلاوت د زده کړې لپاره نهٔ ول راغلي.

سیاسنگ: آیا محمد داؤود ته د خیبر نېږدې کول هم د KGB یا GRU دسیسه وه؟

ډاکټر عثمان: سره له دې چې له دغو لنډغرو/ دم بُریده څخه شک هم نهٔ سته چې د هر مخفیانه گام تر شا دې سرېښ سوې وي بیا هم فکر کوم د محمد داؤود او د خیبر فکري گډوالي / اشتراک نور مهم عوامل درلودل. د دغو دواړو تر منځ له نېږدې والي څخه چې د ډاکټر شرق په منځگړیتوب رامنځته سوی وو، بیاهم شورویانو ډېره گټه تر لاسه کړله، ځکه شورویانو وکولی سول نوم ئې په مستند ډول ور بد کړي.

سیاسنگ: تاسو د محمد داؤود له خولې لیکلي دي: "خیبر د خپل گوند د ملگرو په لاس ووژل سو. هغوی ددغسې ښهٔ سړي د لیدلو زغم نهٔ درلود. باید نابود کړای ئې وای." آیا محمد داؤود همدا درې جملې تاسو ته ویلې وې؟

ډاکټر عثمان: ما په خپله د محمد داؤود له خولې دا خبرې نهٔ دي اورېدلي، ځکه د خیبر له وژل کېدلو وروسته مې هغه ونهٔ لید خو د هغهٔ له مصاحبانو څخه مې دا خبرې واورېدلي. ددغو خبرو د تومنې /محتوی په سم والي کې هېڅ شک نهٔ لرم.

سیاسنگ: له کومو کسانو مو اورېدلې دي؟
ډاکټر عثمان: په خواشینۍ چې نومونه ئې زما په یاد نهٔ دي.

سیاسنگ: «له خیبر څخه د محمد داؤود خوا بدي د ډیموکراټیک گوند په ادغام او انحلال کې د خیبر د ناتوانۍ په پار وه؟» آیا دا گنگوسې صحیح دي؟

ډاکټر عثمان: له خیبر څخه د محمد داؤود خوابدي یو جلا محبث دی. هماغسې چې مخکې مې وویل پر خیبر باندې د گوند د ادغام او انحلال دنده نهٔ وه تحمیل سوې. کله چې د ملي انقلاب د گوند تر واحد چت لاندې د افغانستان د ټولو سیاسي ځواکونو د راټولولیدلو طرح د رهبر له خوا مطرح کېږي، خیبر په دې اړوند د صادقانه همکارۍ ژمنه سپاري. سره له دې چې چارې له مراد سره سمې پر مخ نهٔ ځي خو هڅې ئې روانې دي. کله چې د پرچم مشرتابهٔ د شوروي سفارت ته راپور ورکوي چې که خیبر د ملي انقلاب د گوند د حریم پر لور یو گام نور وړاندې لاړ سي، نو په تش لاس نهٔ ورځي، بلکه د گوند د تر ټولو لوی مخفي سازمان تشکیلات ټول د غوړه مالۍ/ خوش خدمتۍ په پار افشاء کوي، په همدې سره د خیبر د اعدام حکم لاسلیک کېږي.

سیاسنگ: له خیبر څخه د داؤود خوابدي؟

ډاکټر عثمان: خدای تعالی دې زموږ ټولو گناهان وبخښي. ارواښاد داؤود خان د کورني او وظیفوي چاپیریال په اقتضاء د خلکو په منځ کې ژوند نهٔ وو کړی. داسې کسان ورسره محشور ول چې د مادون او تر لاس لاندې کسانو ونډه ئې درلوده نو باالضرور مخې ته ئې د "بلې صاحب" په ویلو سره لاس په سینه او سر په تعظیم درېدل. په ندرت سره به پېښ سول چې ارواښاد دې د چا استدلال ته غوږ ونیسي او که اړینه سي نو د ډېرو معلوماتو غوښتنه ترې وکړي. هغهٔ عادت درلود چې تل دې ورته اطاعت وسي.

خیبر د پښتونستان د موضوع په شان مسایلو کې، او له نړۍ او گاونډیانو سره د افغانستان د مناسباتو په موضوعاتو کې په صراحت سره خپل ځانگړي/ مختص نظریات بیانول او د تابع اکثریت برخلاف، ځینې وختونه به د مشرتابهٔ د نظریاتو په تقابل کې واقع کېدهٔ. معمولاً دغه حالت د دولت د رئیس لپاره ځورونکی وو خو له یوې خوا خیبر ورباندې په دې گران وو چې له هېواد سره ئې ناپایه مینه درلوده او له بلې خوا دی په خپله د مصلحت او مدارا نهٔ وو. القصه، یو ناځاپه به ئې اعلان کړل چې مجلس پای وموند او د څو شېبو لپاره خپه او اندېښمن پاتې کېدهٔ.

سیاسنگ: رسولي، نورستاني، امین، کارمل، امتیاز، نور «احمد نور»، عالمیار وروڼه، د حکمتیار د اسلامي حزب چریکان، د ساواک ایجنټان او د خیبر په وژلو کې د هغوی لاس لرل....؟

داکټرعثمان: نهٔ یوازې رسولي او نورستاني، بلکه د کورنیو چارو او د دفاعي چارو د دواړو وزارتونو لوړ پوړي چارواکي هم پوهېدل هم چې خیبر د داؤود دوست او پلوی دی له

دې کبله د هغهٔ د تروړولو لپاره ئې کوم دلیل نهٔ درلود. امین او عالمیار وروڼه پوهېدل چې خیبر د کارمل مخالف دی نو منطقاً ئې غوښتل: تر هغو چې کارمل ژوندی وي، خیبر دې هم د کارمل د ډډې د اغزي په توګه ژوندی وي. که د حزب اسلامي او د ساواک ایجنټانو د عمل کولو قدرت درلود نو لومړی به ئې تره کي، کارمل، امین، نجیب او مخصوصاً لایق او بارق د پېژندل سویو کمونیستانو په نوم ترور کړي وای. د یوې شیبې لپاره که ومنو چې د ترور پلان په همدې ټاکل سوې ورځې د حکمتیار د حزب د چریکانو له پلوه جوړ سوی وو نو تروریستانو به ئې لږ تر لږه پینځه دقیقې مخکې عمل کړی وای چې غوربندي او خیبر ئې دواړه یو ځای وژلي وای او د "دوه وو کافرانو" د قتل په بدل کې به ئې پرېمانه دنیوي مکافات او اخروي سعادت لاس ته راوړی وای.

سیاسنګ:سلطان علي کشتمند د «یادداشت های سیاسي و رویداد های تأریخي» په کتاب (انګلستان ۲۰۰۲ز) کې لیکلي دي: « د خیبر د شهادت په هکله بېلابېلال حدسیاست او انګېرنې رامنځته سوې. کارمل وویل چې په غالب ګومان سره چې دا توطئه دې د امین له پلوه تر سره سوې وي؛ ځکه هغهٔ له ډېر پخوا څخه له خیبر سر په توندۍ چلند کاوهٔ او هغه چې د استعداد خاوند وو، د ګوند د ډېرو غړو په زړونو کې ګران وو او د "ملیت" له اړخه پښتون او د "نظامیانو" په منځ کې له ښهٔ شهرت څخه برخمن وو، نو امین خپل سرسخت سیال ګاڼهٔ. وروسته روښانه سوه چې قدوس غوربندي له حفیظ الله امین سره د بندوبست څرګندې اړیکې لرلې دي.» (۳۲۵ او ۳۲۶ پاڼې)

ډاکټر عثمان: له دې چې کشتمند او د کړۍ ملګرو ئې څوځو ځله قدوس غوربندي د خیبر په قتل تورن کړی دی نو باید د غوربندي د روایت په نوم هم ونومول سي. د هغهٔ د کتاب عنوان دا دی: «نګاهې به تأریخي حزب دیموکراتیک خلق افغانستان/ حزب وطن» دا کتاب تقریباً لس کاله مخکې پښتو ته هم ژباړل سوی او پښتو او فارسي بڼه ئې په همزمان ډول په افغانستان او آلمان کې چاپ سوه. غوربندی په څرګنده، صادقانه او بشپړ ډول هم د خیبر سیالان او دښمنان او هم د هغهٔ د ترور طراحان معرفي کوي. تاسو له ۵۰ تر ۶۰ پاڼو پورې یو ځل وګورئ. نوره بله خبره نهٔ لرم. «د خیبر د قتل د پلټنې ۲۸۱ پاڼه»

سیاسنګ: تاسو د غوربندي روایت منئ؟

ډاکټر عثمان: ما ته عبدالقدوس غوربندی د افغانستان د سیاست په ډګر کې یو له ډېرو شریفو او نجیبو څېرو څخه دی. په ځانګړې توګه د شهید استاد خیبر د مظلومانه قتل په هکله د هغهٔ په قلم لیکل سوی روایت منم. زما خبره هم همدغه ده. (سویډن، ۲۰۱۰ز کال د اکتوبر ۱۳)





## "میر اکبر خیبر خالصو وربښمو ته پاتې کېدۀ"

سیاسنګ: ستاسو له ژوندلیک څخه به ئې پېل کړو چې Rumi Tomato/ "رومي بادنجان" نومېږي.

محمدخان جلالر: د "بادنجان رومي" کتاب زما شخصي خاطرات دي. که کله ناکله سیاسي رنګ او خوند اخلي په لوی لاس او قصدي نۀ دي. زه سیاسي سړی نۀ وم، نۀ یم او استعداد ئې هم نۀ لرم. پلار مې – د جامو او ساعتونو د پلورنځي څښتن - د منځنۍ کچې یا متوسط الحاله سوداګر وو، د پلار دریغ سبب سوی وو چې د خدای له لوی مخلوق سره اړیکه ولرم. وروسته له دې چې په درې یا څلورو حکومتونو کې د مالیې، پلان او سوداګرۍ د وزارتونو مقامونو ته ورسېدم له ولس سره زما ټولنیزو اړیکو پراختیا موندله. زما د دندو طبیعت راڅخه دا غوښتنه لرله چې له ډېرو کسانو سره اړیکه ولرم. زما په دې اړیکو کې هم ولسمشران راتلل او هم غیر مشهور کسان. البته لږ و ډېر شخصي دوستان هم لرم.

د خپلو مأموریتونو ترڅنګ چې زه په خپله د مقاماتو لیدلو ته ورتلم، یو څوک به د مارکیټ د پیر او پلور د ستونزو د حلولو لپاره زما لیدلو ته راغی، بل به که د سوداګرۍ د جواز او د پاسپورت د آسانتیا لپاره ئې کومه غوښتنه لرله نو لومړنۍ مرجع ئې زه وم، وروسته کله چې د هېواد اوضاع کړکېچنه سوه، هغو کورنیو به چې محبوس ئې

درلود نو د هیلو سترګې به ئې ماته نیولې وې. ما د خپل دفتر دروازه د هر چا پرمخ خلاصه پرې ایښې وه. که کوم خدمت مې له لاسه پوره وو، نو سپما مې نهٔ کوله.

سیاسنګ: سره له دې چې تاسو وایاست "سیاسي نهٔ یم" خو تاسو درې لسیزې د افغانستان د سیاست په ډګر کې کلیدي ځای درلود. ولې مو نهٔ دي غوښتي چې یادداشتونه مو تر ډېره سیاسي رنګ او خوند واخلي؟

جلالر: ما خپل خاطرات ولیکل ترڅو زما بچیان، دوستان او هېوادوال زما د ژوندون په یو شمېر ځانګړو اړخونو خبر وي. ما شپږ پینځوس کاله په افغانستان کې تېر کړي دي او له دغو شپږ پینځوس کالو څخه مې دېرش کاله په درېو رژیمونو کې د وزارتونو د رسمي مسؤول مقام په توګه دنده تر سره کړې ده. زما خاطرات ښايي وکولی سي په یوې ځانګړې زماني مقطع کې د افغانستان پر اقتصادي او سیاسي دریځ رڼا واچوي. په خواشینۍ چې زه د ورځنیو یادداشتونو دفترچه نهٔ لرم چې په هغې کې مې د کار په اړوند پېښې لیکلي وي. دا ټولې زه له خپل ذهني یاددښت څخه لیکم.

سیاسنګ: ډاکټر صادق فطرت وايي: " زه او محمد خان په ښوونځي کې ټولګیوال وو. سره له دې چې پښتو زما مورنۍ ژبه ده خو د پښتو د مضمون په آزموینې کې به ما کله ۸ او کله ۹ اخیستې. تر هغهٔ ځایه چې زما په یاد ده جلالر په دې مضمون کې پوره ۱۰ نمرې له آفرین سره یو ځای اخیستې. البته د ریاضي په مضمون کې هېڅ چا د هغهٔ له وړتیا سره سیالي نهٔ سوای کولی." (ناشناس ناشناس نیست، ۱۲۴ پاڼه) د ۲۷۰ پاڼو کتاب لیکل او په نومونو او شمېرو کې د داسې جزئیاتو راوړل د حسد وړ حافظې څرګندویه ده.

جلالر: زما ماشومتوب په یوې بې سوادې کورنۍ کې تېر سوی دی. له هر چا سره مې چې سروکار درلودلی له قلم او کاغذ سره ناآشنا ول. په پولس کلنۍ کې مې د ژمي د رخصتیو په درېو میاشتو کې د خپل پلار د سګرټ پلورنځي ورځنی دخل او خرڅ په یوې کتابچې کې لیکلی وو. کله چې پلار مې د میرزا حکیم په نوم یوهٔ دوست سره د حساب شمېر کړی وو او د شپې چې کورته راغی راته ئې وویل: میرزا حکیم تعجب کاوهٔ چې څومره دې په ځیر او دقت شمار کړی وو، نهٔ فاضل او نهٔ باقي. یو پول هم نهٔ ډېر وو او نهٔ لږ.

د تنکۍ ځوانۍ پر مهال مې فکر کاوهٔ چې د ټولو خلکو ذهني ظرفیت لکه د هغوی د کتلو او اورېدلو د حس په شان له یو بل سره برابر دی. د ښوونځي په اتم کال کې پوه سوم چې زما ډېري ټولګیوال د هغو درسونو په بېرته یاد راوړلو کې ستونزه لري چې حافظې ته ئې سپاري په ځانګړې توګه د آزموینو په شپو ورځې کې. کله چې ما خپلو همزولو ته ویل چې هر څه چې اورم یا ئې لولم زما په ذهن کې کښېني او له یاده مې نهٔ وځي، باور ئې نهٔ کاوهٔ.

د اشخاصو نومونه، پتې/ آدرسونه، ژب ښویه، صرف او نحو، موزون اشعار، شمېرې لکه تأریخي نېټې/سنوات، د ټیلیفونونو شمېرې، د ریاضي اعمال، د الجبر، کیمیا، فزیک فورمولونه، هندسي قضایاوې، د قوانینو او مقرراتو مواد، قرار دادونه، د مطبوعاتو مضامین، د راډیو د اخبار ورځني راپورونه، له شخصي دوستانو سره د خبرو اترو جزئیات، د رسمي غونډو د مباحثاتو لړۍ مې تقریباً ټکي په ټکي په یاد پاتې کېدل. دا د خدایتعالی یوه ډالۍ وه نهٔ د تمرین او ممارست پیره/ ثمره. له اویاکلنۍ وروسته او د روغتیایي ستونزو له پیلېدلو وروسته زما قریبې حافظې د نویو معلوماتو په ساتنې کې کسر راووړ خو له بعیدې حافظې څخه مې راضي یم. د ښوونځي د لومړۍ، منځنې دورې او د سوداګرۍ د لیسې د اکثریتو ټولګیوالو او د ډېریو همکاران نومونه او د هغوی د پلرونو نومونه مې په یاد دي. د شکر ځای دی چې د ژوند په وروستي پړاو کې د زړښت په دې موسم کې یم او طبعاً کله ناکله یادفراموشي راباندې راسي. دا هم یو عذاب دی چې په خپل ذهن کې ناکاره خاطرات ولرئ او ونهٔ سئ کولای لېرې ئې وغورځوئ.

سیاسنګ: څرنګه جلالر سواست؟

جلالر: د ۱۹۱۷ز کال له انقلاب وروسته بلشویکانو زما د پلار شتمني ضبط کړه. د نوي نظام یو له دساتیرو څخه اتباعو ته د هویت د کارت ورکول ول. هرچا باید تخلص درلود. پلار مې صوفي جان چې د میر جلال زوی وو، د هویت په نوي کارت کې ئې نوم صوفي جان میرجلالوف سو. زما د تخلص جرړه هم له همدې ځایه راځي. په ۱۹۶۱ز کال کې مې د میرجلالوف د نوم په پېل کې "میر" لېرې کړ، د جلال نوم مې له میرپرته د وزبیک په صبغې "جلالر" جوړ کړ. دا کلمه ما په خپله جوړه کړې ده او کومه تأریخي مخینه نهٔ لري. زما د تخلص غوره کول یوه بله فقره هم لري. کله چې جلالر سوم، لومړني شخص ته مې چې خبر ورکړ ببرک کارمل وو. هغهٔ په ټوکو راته وویل: څو تنه ډېر نېږدې دوستان لرم خو هېڅکله مې زړهٔ نهٔ غواړي هغوی په خپلو اصلي نومونو یاد کړم. پوښتنه مې وکړه څنګه؟ وئې ویل: د مذهبي نومونو او فیئوډالي القابو پروړاندې لکه محمد، علي، حسین، سلطان، شاه، میر، امیر، خان او..... لږ حساس یم. باید پر ځان فشار راوړم چې د ملګري کشتمند پر ځای ووایم ملګری سلطان علي او یا ملګری شاه محمد. ښهٔ سو تا زما کار آسانه کړ. اوس به ان تا ته ښاغلی جلالر وایم.

سیاسنګ: آیا د سیاسي آشنایانو په منځ کې چا غوښتي چې تاسو ځان پلو ته راوکاږي؟

جلالر: هغوی پوهېدل چې زه د سیاست اهل نهٔ یم. دغهٔ مسلک ته مې نهٔ لېوالتیا لرله او نهٔ ئې لرم. فکر کوم چې ۱۹۶۰ز کال به وو چې یوه ورځ کارمل راته وویل: ته بې ساری ذکاوت لرې. مترقي افکار هم لرې؟ راځه د افغانستان د خلق ډیموکراټیک ګوند غړی سه چې وکولای سئ د هېواد د محکومو کارګرانو او بزګرې پاړکې/ طبقې ته چوپړ وکړئ. ورته مې وویل: یوازې محکومې پاړکې ته؟ هغه کسان چې ستاسو د تشکیلاتو

غږي نهٔ دي کولی سي د ټولني ټولو پاړکو او اقشارو ته د چوپړ وړ وګرځي. وئې ویل: تاسو چې په دې ډول فکر کې یاست تر څو چې ژوندي یاست ریښتونی نر درڅخه نهٔ جوړیږي. ما همدلته حدس وواهه چې له "رښتوني نر/ مرد واقعي" څخه د نهٔ جوړېدلو مراد، د خلق ډیموکراټیک ګوند د غړیتوب نهٔ اخېستل دی. که نهٔ نو له سیاست سره د جنسیت څه کار دی؟ رښتوني نارینه او ښځینه کېدای سي غیر سیاسي وي.

سیاسنګ: له ببرک کارمل سره آشنایي؟

جلالر: نوم ئې ما په ۱۹۵۶ز کال کې اورېدلی وو. په ۱۹۵۹ز کال کې ورسره آشنا سوم. د پلان د وزارت ودانۍ د صدارت له څلور لارې څخه د پښتونستان څلور لارې ته راکډه سوې وه. هغه مهال محمد داؤود د پلان وزیر او په همزمانه توګه ددفاع وزیر او صدراعظم هم وو. وزارت په نوې ودانۍ کې د اداري تشکیلاتو له اړخه پراختیا موندلې وه او دوه نورې شعبې رامنځته سوې. د عبدالستار شالیزي تر ریاست لاندې پلان جوړونه او د عبدالله یفتلي تر ریاست لاندې د احصائیې ریاست. عمومي آمر، عبدالحی عزیز وو. کارمل په لومړیو کې مأمور وو او وروسته د جنسي محاسبې د شعبې مرستیال وټاکل سو. ما د مالیې او پلان جوړونې د دواړو ریاستونو چارې پر مخ بیولې خو همکارانو به زه د "مدیر صاحب" په نوم یادولم. هغه مهال مې تخلص نهٔ درلود.

زما د کار دفتر د مالي اداري په نوم او د جلسې د اتاق په نوم دوه کوټې درلودلې. د کارمل د کار میز ئې زما د دفتر یوهٔ ګوټ ته راووړ. زه ۲۳ کلن وم او کارمل تر ما پینځه شپږ کاله مشر ښکارېد. سره له دې چې معمولاً خوبښ او خولهٔ ئې له موسکا ډکه وه خو د زنداني کېدلو اغېزې ئې له ورایه پر مخ ښکارېدلې. نهٔ پوهېږم چې د کار حجم ئې ډېر وو او یا ئې له رسمي دندې سره مینه نهٔ درلوده. فکر او ذهن ئې په سیاسي مسایلو او طبقاتي مبارزې کې ډوب وو.

سیاسنګ: ډاکټر حسن شرق؟

جلالر: موږ له یو بله سره له ۱۹۵۸ز کال راپه دېخوا آشنا یو. عبدالحی عزیز یوه ورځ زه یوهٔ مېلمه ته چې په ونه دنګ او په تنه نری وو داسې معرفي کړم: "ډاکټر شرق او محمد خان". زموږ له دوستۍ څخه چې شپږ لسیزې تېرېږي زه ډېر لږ کسان پېژنم چې ددهٔ په اندازې دې درایت، پاکي او پوهه ولري. تر ما لس کاله مشر دی. دغه خبیر شخصیت ډېرښهٔ حضور د ذهن او فوق العاده حافظه لري.

سیاسنګ: میر اکبر خیبر؟

جلالر: په ۱۹۵۸ز کال کې مې د ډاکټر شرق له خولې د هغهٔ نوم او توصیف اورېدلی وو. په ۱۹۵۹ز کال کې خیبر او شاه محمد دوست زما د کار دفتر ته راغلل. کارمل له هغوی سره د روغبړ او پوښتنې ګرویږنې په ترځ کې زه هم هغوی ته معرفي کړم. د هغهٔ تصور پر بنسټ چې ما له خیبر څخه درلود، خیال مې کاوهٔ چې ټول به د هغهٔ په مخکې چوپ

پاتې سي. هغه زما نظر ته آرام او متواضع انسان ښکاره سو. خبرې ئې لږ کولې او تر ډېره به ئې نورو ته غوږ نیوهٔ. زما او د زما د پلار په هکله ئې معلومات درلودل. ښايي کارمل به ورته ویلي ول. زما په ژوند پورې اړوند څو عادي پوښتنې ئې راځخه وکړې. هر ځل به ئې چې غوښتل څه ووايي ویل به ئې: ستاسو په اجازې.

سیاسنګ: خیبر او شاه محمد دوست د کارمل لیدلو ته راغلي ول؟
جلالر. یوازې همدا دوه تنه به نهٔ ول. ګڼ شمېر مهم شخصیتونه هم د کارمل لیدلو ته راتلل. دې لړۍ څو کاله دوام وکړ. د فتح محمد په نوم یوهٔ سړي ډېر تګ راتګ کاوهٔ. هغه ئې د «فرقه مشر صاحب» په نوم یاداوهٔ. وروسته خبر سوم چې یو مهال بندي هم وو.

سیاسنګ: د پلان د وزارت مسؤولینو د مېلمنو د راتګ پر وړاندې اعتراض نهٔ کاوهٔ؟
جلالر: تګ راتګ هره اونۍ نهٔ وو. کله به په میاشت کې یو ځل یا دوه میاشتو کې یو ځل راتلل. له دې چې موږ بېلا بېل او ډول ډول مراجعین درلودل نو د پلان وزارت مستقیماً د داؤود خان تر نظارت لاندې وو، که هره ورځ هم راتلل د کوم چا له لوري ئې منفي غبرګون نهٔ لید.

سیاسنګ: آیا په هغو شپو ورځو کې د افغانستان د خلق ډیموکراټیک ګوند بنسټ نهٔ ول ایښودل سوی وو؟

جلالر: ګوند نهٔ وو خو د خیبر او د کارمل ګرد چاپیره ډېر کسان راټول سوي ول. د خبرو او وراشو تومنو ئې څرګندوله چې یو خوځښت پر لاره دی. یوهٔ په زړهٔ پورې ټکي چې زما پاملرنه ئې ځانته واړوله دا وو چې د کارمل مېلمانهٔ د هغهٔ د راتلونکي ځانجوړي/ خود جوشي اړخ غړي ول لکه دوست او کشتمند خو هغه کسان چې د خیبر لیدلو ته راتلل له هرې کټګورۍ څخه ول لکه امین نومیالی، برات علي تاج، عبدالله بختانی خدمتګار، شاه علي اکبر شهرستاني، بلبل شاه جلال، عبدالحکیم هلالي، ضمیر صاف ي او....

زه په ندرت د هغوی په غونډو کې کښېناستم او د خبرو اترو او وراشو له تومنو/ محتویاتو څخه ئې نهٔ خبرېدم. علاقه مې هم ورسره نهٔ درلودله. که دوی راته کومه بلنه راکوله نو ورتلم. یوه ورځ کارمل د کنفرانس د اتاق له منځه راته راناږې کړې او وئې ویل: راسه چې یوه نوې ټوکه درته لرم؛ بیا ئې په دوام وویل: د ښځو استازې خدایتعالی ته د هغې بې عدالتۍ پر وړاندې چې د نارینه وو په پرتلې ددوی په حق کې سوې شکایت وکړ او وئې ویل: موږ ۹ میاشتې د حمل ستونزې ګالو، د زېږون درد زغمو او ځینې وختونه د زېږون پر مهال خپل ځان له لاسه ورکوو. موږ له الهي دربار څخه د انصاف او عدالت غوښتنه کوو. خدایتعالی د هغوی عرض حال قبول کړ او وئې فرمایل: سر له همدغې شپې له تاسو څخه د زېږون درد اخلم او نارینه وو ته ئې ورکوم. د ښځو

استازې خوشحاله سوه او ټولو ښځو ته ئې خبر ورکړ او وئې ویل: سره له دې چې د خدای په قول کې هېڅ خلاف نۀ سته، راځئ چې د ګاونډي مېرمن چې حمل لري د ماشوم د زېږون تر ورځې پورې تر ځار لاندې ولرو. د نهو میاشتو په اوږدو کې ئې ولیدل چې دا ښځه نۀ یوازې د درد احساس نۀ کوي بلکه نوی زېږېدلی ماشوم ئې هم له درد پرته وزېږېد. یوې ښځې وویل: تر دې ځایه خو خبره سمه ده. بلې کوټې ته لاړ سو او وګورو چې د نوي زېږېدلي ماشوم پلار څومره درد لري. ښځې د سړي لیدلو ته ورغلې او وئې لیدل چې سړی آرام خپل سکرټ څښي، په لوی کوچ کې کرار ناست او پښې ئې خپلې مخې ته میز باندې اوږدې غځولي دي. ټولې ښځې ورته هک پک پاتې سوې چې سړی څنګه دومره آرام او بې خیاله ناست دی. په همدې شېبې کې سترګې ئې، د کوټې د کړکۍ له شا په بنوال باندې ولګېدلې او وئې لیدل چې خوراکی پرځمکه غونج پروت او د درد له لاسه ئې چیغې پورته ختلې دي!

لنډه دا چې ښځې پوه سوې چې وضعیت خراب دی، له دې کبله ئې له خپله استازې وغوښتله چې بېرته دې د خدایتعالی دربار ته ورسي او عرض دې وکړي چې قضیه دې بېرته خپل لومړني حالت ته راوګرځوي.

کارمل ته مې وویل: وګوره! ددې ټوکې تومنه یا محتوی ستا د ماتریالیستي عقیدې، د خدایتعالی د احکامو او عدالت اهمیت ښکاره کوي. کارمل لږ خوابدی سو او وئې ویل: د خلکو پر وړاندې زموږ اصلي مکلفیت د هغوی د شعور د کچې لوړول دي. ما ورته وویل: د اسلام له دین سره څه کوئ؟ وئې ویل: وروسته له دې چې خلک د معرفت څښتنان سول هغه مهال به وګورو چې له مذهبي مسایلو سره څه وکړو.

سیاسنګ: د نورو – د ببلګې په توګې خیبر – غبرګون څه وو؟
جلالر: ټولو وخندل خو له ما پرته بل چا تبصره ونۀ کړه. هغه ورځ زموږ په ډله کې خیبر نۀ وو. کارمل د ټوکو ټکالو سړی نۀ وو په ځانګړې توګې پر ښځو باندې د تبصرې په برخه کې ډېر محتاط وو. نۀ پوهېږم چې هغه ورځ ئې کومه خبره په ذهن کې وه چې داسې ټوکه ئې وکړه. یو یا دوه کاله ئې له وادۀ تېر سوي ول. کارمل کورنیو اړیکو ته ډېر اهمیت ورکاوۀ او په دې نظر وو چې د ښځې او نر تر منځ د وادۀ یو له بنسټیزو موخو څخه د سالم ماشوم زېږول دي. په زړۀ پورې دا ده چې یوه ورځ مې د هغۀ له خولې د همکارانو د یوۀ لوی ټولي په منځ کې واورېدل: جنسي مقاربت، انساني عمل نۀ دی.

سیاسنګ: خیبر ولې زنداني سوی وو؟
جلالر:ما په خپله د خیبر له خولې په دې اړه څه نۀ دي اورېدلي. نۀ ئې غوښتل په دې هکله خبرې وکړي. خو ما خبر درلود چې د غلام محمد غبار، عبدالرحمن محمودي، صدیق فرهنګ، عبدالحی عزیز، میر اکبر خیبر، ببرک کارمل په شان یو شمېر روڼ اندي په بېلابېلو وختونو کې په بېلابېلو تورونو سیاسي زندانیان ول.

سیاسنگ: ویل کېږي چې: خیبر په دې تور زنداني سوی وو چې د ۱۳۲۹ل کال [۲۱/۱۹۵۰/۰۳] د وري د لومړي په نوروزي پاڅون کې ئې ګډون کړی وو او په زندان کې ئې له خواجه نعیم زوري سره لیدنې کتنې درلودلې وې.

جلالر: د هغې پېژندنې له مخې چې زه ئې له خیبر څخه لرم دا ده چې خیبر په پاڅون او بلوا کې ګډون نۀ کاوۀ. هغه ددې کار اهل نۀ وو. که وو هم، نو د قوماندان زوري په شان به څوارلس یا پینځلس کاله بندي پاتې سوی وو. ددې تر څنګ، په یوې کوټې کې د دوه وو زندانیانو لیدۀ کاتۀ په دې معنی نۀ دي چې دواړه دې هم – فکره وي. خواجه زوري د ظاهرشاه او سرداؤود له مخالفینو څخه وو، حال دا چې خیبر د شاه مخالف او د داؤود موافق وو.

سیاسنګ: له همدې کبله ول چې د محمد داؤود کودتای ئې ومنله؟
جلالر: د جهموریت په ملاتړ کې یوازې خیبر نۀ وو. په لومړیو کې خلق او پرچم دواړو د جمهوریت راتګ ته په نېک فال کتل او ملاتړلي ئې تر څنګ ودرېدل، خو د شوروي په دستور او مرستې ئې لومړی د داؤود حاکمیت او وروسې ئې خپل حکومت راوپرځاوۀ. البته ما ته د چنګاښ د ۲۶ کودتا یوه تأریخي معمی ده. ان اورېدلي مې دي چې شاه په خپله په کې غیر مستقیم لاس درلود.

سیاسنګ: محمد ظاهر د جمهوریت د کودتا په بریالیتوب کې او شوروي اتحاد د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند د واکمنۍ په راپرځولو کې څه ونډه درلودله؟

جلالر: ستاسو د پوښتنې لومړۍ برخه مې په تفصیل سره په Rumi Tomato کې لیکلې ده. د پوښتنې د دوهمې برخې په هکله کولی سم ووایم چې د ډیموکراتیک ګوند مشرانو، د ګوند د بنسټ ایښودلو له نېټې بیا د ګوند د پرځېدلو تر نېټې پورې په کابل کې د شوروي د سفارت د مقاماتو له اجازې پرته ان د یوې مستقلانه جملې د ویلو صلاحیت نۀ درلود. که شوروي مشاورینو د غوایي له پېښې مخکې او له هغې وروسته د ګوند په کورنیو چارو کې مداخله نۀ وای کړې، نو د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند په شان بل هېڅ سیاسي تشکیل نۀ سوای کولی چې په افغانستان کې د هغوی په شان ښه مبارزه او ښه حکومتولي وکړي. د ډیموکراتیک ګوند په دواړو جناح ګانو کې پاک ترینه ملي، مترقي او په رښتوني توګه هېوادپال کسان راټول سوي ول. د شوروي کمونیست ګوند د پردې تر شا تولو فجایع کې له جهادي تنظیمونو سره د اړیکو له ټینګولو نیولې او د خپل لاسپوڅي حکومت پر ضد د هغوی تر تمویل پورې، په مشرتابۀ کې تر تغییر او تبدیل، په ګوند کې دننه تر کودتاګانو او قتلونو پورې ټولو کې ئې لاس درلود او د ګوند دواړه جناح ګانې ئې له فرکسیونونو سره یو ځای د لاس پاکولو د دستمال په توګه وکارول. که تاسو د ۱۳۵۷ل کال د غوایي له پېښې وروسته د ډیموکراتیک ګوند د مشرانو عکسونه وګورئ نو وینئ چې دوی د واکمنۍ د عیش او

تنعم د عسل په څو لومړیو میاشتو کې د قدرت په شرابو لومړنۍ نیشه کې ډوب دي خو که دا یوې خوا ته کښېږدو تاسو د غوایي د کودتا له لومړۍ کلیزې وروسته په ځانګړې توګه د ۱۳۵۸ل کال د مرغومي له شپږمې نېټې وروسته د مشرانو عکسونه وګورئ نو د هغوی په مخونو کې د ژور خپګان، وېر او ماتې نښې له ورایه وینئ.

سیاسنګ: د خیبر په وژلو کې هم؟
جلالر: دا په بشپړ ډول یوه متفاوته قضیه ده. د قتل مسؤولیت ئې د حکمتیار حزب اسلامي په غاړه اخیستی دی او دا موضوع په تأریخ کې ثبت سوې ده. کله چې یو څوک وايي: " پلانکی قتل ما کړی دی" زه د بې خبرۍ په دنیا کې د هغهٔ مدافع وکیل نهٔ سم کېدای چې ووایم: نه! هیله کوم! تاسو دا قتل نهٔ دی کړی.

سیاسنګ: آیا خیبر د شوروي د سفارت خوښېدهٔ؟
جلال: سیاست مخ او شا نهٔ لري. هر سفارت یوه بشپړه سیاسي فابریکه ده او خیبر یو مهم سیاسي شخصیت وو. که ئې کولی سوای چې کار ورڅخه واخلي نو تأیید کاوهٔ ئې، پرته له هغې ئې نهٔ تأیید کاوهٔ. البته له داؤود او د جمهوریت له رژیم سره د خیبر نېږدې والی موږ ته کومه پټه خبره نهٔ ده. خیبر د ډیموکراتیک ګوند په خامۍ او د قدرت د نیولو لپاره نهٔ چمتو والي باندې یو انتقادي لیدلوری درلود، په ماجرا پالنه کې ئې د ګوند مخه نیوله، له کودتایي پاڅون په ځانګړې توګه له مسلحانه بڼې سره ئې مخالفت کاوهٔ. طبیعي ده چې د شوروي د سفارت پر وړاندې ئې برالا او علني دښمني نهٔ سوای ښودله خو د سفارت مقاماتو هم د چا خبره خپله رېږه په ژرندې کې نهٔ وه سپینه کړې. د ګوند ټول مشران او لویان ئې د لاس د ورغوي د کرښو په شان ښهٔ پېژندل.

سیاسنګ: د خیبر او د کارمل ورته والی او ناورته والی؟
جلالر: که ستاسو موخه په تشکیلاتي مسایلو کې توافقات او اختلافات وي، په هغو ئې نهٔ پوهېږم ځکه زه د ګوند غړی نهٔ وم. کارمل د ټولنیز ظهور له اړخه، په ځانګړې توګه واک ته له رسېدلو مخکې، د کمونیزم یو څرګند ډانګ پیېلی استازی وو او دا خبره ئې هېڅکله نهٔ پټوله. ویل به ئې: زما عقیده د شرم وړ نهٔ ده. ولې د خپلې عقیدې په علني کېدلو باندې وشرمېږم. د پانګوال نظام یو بې ډاره منتقد وو خو له سلطنت په ځانګړې توګه له داؤود سره ئې احتیاط کاوهٔ. زما هېڅ په یاد نهٔ راځي چې د داؤود د تفکراتو په اړه دې کومه بده تبصره کړې وي. لږ تر لږه ماته ئې نهٔ دي ویلي. هماغومره چې کارمل د متحده ایالاتو له سیاست څخه په ټینګه کرکه درلوده په هماغه اندازه ئې د زړهٔ له تله په خپل روح او روان دواړو هم د شوروي د نظام او د تفکر یو سربښندویه پلوی وو او هم د شوروي په مکتب او تفکر باندې سر تر پایه سرسپارلی مین وو. کارمل نهٔ یوازې د هېواد پالنې بنسټ بلکه د انسانیت معیار هم شوروي اتحاد ته له قید او

شرط پرته وفادارۍ کې لیدهٔ او په دې لارې کې ئې هر ډول انعطاف ګناه انګیرله.  دغه بې انتها مینه یو اړخیزه وه، ځکه شورویانو قطعاً د کارمل پر وړاندې د ملګرتوب او صمیمیت کوم احساس نهٔ درلود.

خیبر متفاوت وو. خیبر انقلابي احساسات او شور او زوږ نهٔ درلود. تر هغو پورې سفارتونو – په ځانګړې توګه د شوروي سفارت ته  - نهٔ ورتهٔ چې بلنه ورته نهٔ وه ورکړل سوې. آرام، ژور او د زغم او پرهیز خاوند وو. ملي او وطني مفکوره ئې درلوده، د سیمې د سیاست او د نړۍ د اوضاع په اړه ئې مسایل د راډیو او جرایدو له لارې څارل. معلومات ئې په ځانګړې توګه د پښتونستان، پاکستان او هند په اړه ډېر ژور ول.

خیبر او کارمل یو بل ته حضوري او غیابي متقابل درناوی درلود. د نورو له خولو به مو کله ناکله یوه انګازه واورېدله چې په خپلو منځو کې په ګوند کې دننه له یو بل سره اختلافات لري، خو ما په خپله د کارمل له خولې د خیبر په تخریب کې یا د خیبر له خولې د کارمل په تخریب کې یوه کلمه خلاف نهٔ ده اورېدلې. دا هم شوني ده چې ښایي دوی به زما په هکله داسې فکر کړی وي چې: دا سړی د ګوند غړی نهٔ دی. نو ولې د خپلو داخلي رازونو دسترخوان ددهٔ مخې ته خپور کړو. سره له دې چې خیبر د عمر د ډېروالي له اړخه په کارمل مشر وو خو بیا ئې هم کارمل ته ډېر درناوی ښود ځکه چې نوموړي د ګوند د یوې جناح مشرتوب پر غاړه درلود.  د جمهوریت په لومړیو کې، نورمحمد تره کي، چې د کابل په کارتهٔ چهار کې زموږ ګاونډی وو، یوازې یو ځل راڅخه پوښتنه وکړه: د کورنیو چارو وزیر مو څنګه دهٔ؟ د پوښتنې په مفهوم ئې پوه نهٔ سوم خو ومې ویل: ښهٔ دی، مګر ولې له ما څخه دا پوښتنه کوئ؟ زه د کورنیو چارو له وزارت سره سر او کار نهٔ لرم. په خندا ئې وویل: قدیر نورستاني نهٔ ښییم. پولیس میر اکبر ښییم. ومې ویل: تره کي صاحب! تاسو ډېر دروند او د درناوي وړ شخصیت یاست. هیله کوم چې زما پښه د خپلو ټوکو ټکالو منځ ته مهٔ راکاږئ. دواړه چوپ پاتې سوو او د خبرو موضوع مو بدله کړله.

کارمل او تره کي د مدیریت، مشرتابهٔ او د سازمان ورکولو مهارتونه درلودل خو خیبر د یوهٔ رهبر او ولسي مصلح په توګه څرګندېدهٔ. زما په نظر ددوی تر منځ یوازینۍ ګډه وجه د پښتونستان داعیه او برخلیک وو. دوی په دې موضوع کې د سلطنت او جمهوریت له دواړو نظامونو سره کوم اختلاف نهٔ درلود. ښایي هغه ملي اصل چې خلک ئې یادوي، همدا وي.  له تره کي سره ډېر محشور نهٔ وم او د هغهٔ په هکله ډېر نهٔ پوهېږم. د اوضاع د شنني او تحلیل پر مهال له ورایه څرګندېدل چې د تره کي، کارمل او نورو په پرتلې د خیبر معلومات په ځلونو ځلونو ډېر دي.

کارمل د پښتونستان په هکله په انقلابي احساساتو خبرې کولې، خو کومه نوې خبره ئې نهٔ درلوده. هر هغه څه مې چې له هغهٔ څخه اورېدل د مکرراتو تکرار وو او هر هغه

څه ئې چې ویل تقریباً هر څوک په هغو خبرو پوهېدۀ، خو د پښتونستان د قضیې په هکله د خیبر شننې او توجیهات ان که زه ورسره موافق هم نۀ وم، بیا هم ما ته تازه ول. خیبر معمولاً هغو مواردو او ارتباطاتو ته نغوته کوله چې د عادي افرادو ذهن ته نۀ ورتلل. له دې چې د ښوونکي تجربه ئې درلودله، د خبرو کولو بڼې ئې خپل په خپله اورېدونکي ته راښکون درلود.

سیاسنګ: تاسو د Rumi Tomato په کتاب کې د پښتونستان په هکله د کارمل د پلار جنرال محمد حسین، د نجیب الله د پلار اختر محمد او د هغوی د زامنو په هکله په تفصیل لیکلي دي خو د خیبر په هکله مو لنډ لیکلي دي. آیا د محمد داؤود د پښتونستان غوښتنې سیاست خیبر هم ځان ته راکاږلی وو؟

جلالر: اختر محمد خان مې له ډېرو پخوا وختونو پېژاندۀ. د شاهي په پېر/ دوران کې ئې دوه یا درې معمولې دندې درلودلې، خو د جمهوریت په لومړیو ورځو کې، د وزیر په توګه زما له تقرر مخکې، نوموړی په پېښور کې د افغانستان د سوداګریزو چارو استازی ټاکل سوی وو او دوارو هېوادونو تر منځ ئې تګ راتګ درلود. هر کله به چې کابل ته راغی نو د پخوانۍ ملګرتیا ددرنښت په پار به زما دفتر ته هم راغی. نوموړی د پښتونستان د مسئلې یو سرښندویه پلوی وو. همدغه فکري بڼه وه چې دی ئې د داؤود د مخلصانو کړۍ ته وروړی وو. اختر محمد ئې د زښت ډېر اعتماد وړ سړی وو. ظاهر شاه ته ئې هم قرابت درلود.

جنرال حسین خان کټ مټ د اختر محمد خان په شان وو، داسې ول لکه چې یوه منه دوه نیمایي کړئ: د خوندورې وینا څښتن، صمیمي، صادق او پاک نفس، د پښتونستان پلوی؛ سلطنت او جمهوریت دوارو ته د زښت ډېر اعتماد نظامي سړی وو. دا یو تصادف وو چې جنرال حسین خان هم د اختر محمد خان په شان د غوایي له انقلاب وروسته متقاعد سو. زموږ آشنایي له ۱۹۵۰ز کال څخه راوروسته پېل سوه. د ۲۰۰۲ز کال په دوبي کې جنرال د (خپلې لور) ملالۍ د لیدلو لپاره امریکا ته راغلی وو. کله چې نیویورک ته راورسېد ملالۍ خپل پلار هغۀ ځای ته راووست چې زه په کې کار کوم "نګارستان هنري جلالر". له معمولي سلام او تعارفاتو وروسته مې د کارمل فاتحه، چې پینځۀ شپږ کاله مخکې مړ سوی وو، د قرآن د څو آیاتو په تلاوت سره ورکړه. په سبا شپې ئې ملالۍ مېلمه کړم. له مېلمستیا وروسته مې د خدای په امانۍ پر مهال وویل: سبا شپې ته د ډوډۍ لپاره زما کور ته تشریف راوړئ. راغلل او د شپې را سره پاتې سول. دغه زموږ وروستۍ لیدنه وه.

جنرال حسین خان به دومره په تمثیلي لحن قصه کوله چې ډوډۍ به سړه سوه یا به چای سوړ سو، د بېلګې په توګه که د ظاهر شاه او یا محمد داؤود کوم نقل قول ئې راووړ نو خپل غږ به ئې د هغوی په شان آمرانه جوړ کړ. موږ د ماښام له اوو بجو د

شپې تر دولسو بجو پورې کښېناستلو. حربي ښوونځي کې له شمولیت څخه ئې پېل کړه او له ظاهر شاه او داؤود خان سره تر هم صنفي توب او په دوی پسې له نورو راغلو رهبرانو څخه تر شکایت پورې. له کارمل څخه ئې ډېره یادونه ونهٔ کړه، ځکه چې زوی ئې وو، ښايي فکر ئې کاوهٔ چې د خپل زوی په هکله نور څه ووايي. د خبرو په لړ کې ئې د کارمل د نیول کېدلو او له محبس څخه د هغهٔ د بشپړې آزادۍ په نېټو کې تېروتنه وکړه خو ما ئې په خبرو کې مداخله ونهٔ کړه. هغهٔ وویل: په شاهي کورنۍ کې هېڅ چا د نادرخان په اندازې پوهه او درایت نهٔ درلود. ورونهٔ ئې د هغهٔ په پرتلې عادي کسان ول. که نهٔ وای وژل سوای او سلطنت ئې دوام کړی وای نو هېواد ئې د پرمختګ او ښېرازۍ پر لور خوځاوهٔ. ما مخکې هم په کابل کې د جنرال حسین خان له خولې د نادرشاه توصیفونه اورېدلي ول.

هماغه شپه ئې د «صافیانو له اله ګولې/ شورش صافي» څخه یادونه وکړه. ددې پېښې د نېټې د یادولو په اړه ئې تېروتنه وکړه. ما لازمه ونهٔ ګڼله چې د خپل ګران مېلمه تېروتنه تصحیح کړم خو کله چې د دوهم او دریم ځل لپاره ئې د «صافیانو اله ګوله» یاده کړه غوښتل مې ووایم: په ۱۹۴۵ز کال کې د حکومت او د صافي د قوم تر منځ د مشرقي په ولایت کې وسلواله نښته سوې وه. د هغهٔ مهال واکمنو په لوی لاس د صافیانو جګړه د جګړې یا د پاڅون په نوم نهٔ یاداوهٔ بلکه د صافیانو اړودوړ یا اله ګوله ئې یادوله او په دې سره ئې د حق پر وړاندې د پاڅون یا بغاوت باطله پنځون/ صبغه راپورته او په عامه اذهانو کې ئې تزریق کوله. د وینا دا ډول د برتانیې د ستروا کۍ له مطبوعاتو څخه په میراث پاتې وو. د برتانیې په مستعمراتو کې هر چېرې چې د آزادۍ غوښتنې پاڅون راپورته کېدهٔ، انګلیسانو د مقاومت د کلمې پر ځای لومړی د اړودوړ کلمه کاروله او بیا به ئې مخالفین قتل عام کړل ترڅو د اعتراض روحیه په نطفه کې شنډه سي. وروسته مې له ځان سره فکر وکړ چې ددې تبصرې په اورولو سره به ئې له روایت څخه د افکارو مزي پریک سي یا به مې په خپل کور کې کوم خپګان رامنځته سي. نو ځکه چوپ پاتې سوم.

سیاسنګ: هغه د محمد داؤود په رکاب کې د صافیانو د پاڅون د ځپلو لپاره تللی وو. جلالر: په هماغه شپه ئې په خپله قصه وکړه او ویل ئې چې ما د یوهٔ ځوان منصبدار په توګه په هغهٔ نظامي مأموریت کې فعاله ونډه درلوده. د مشرقي د ولایت د عسکري ځواکونو د اختیار ټولې واګې د داؤود په لاس کې وې. کله چې د صافي د قوم جنګیالي تس نس سول د «شکرانهٔ نصرت» په نوم اووهٔ ورځنی جشن جوړ سو. نظامي منسوبینو په کې ګډون وکړ. وروسته یوه بله مجلله رسمي مېلمستیا د ملکي افرادو لپاره جوړه او قومي مشران ورته راوبلل سول. د غرمې له ډوډۍ څو دقیقې مخکې داؤود خان راغلو مېلمنو ته په ویاړ او غرور وویل: مبارک! د «سرحد» هغهٔ خوا هم زموږ ده. باید تر اټک پورې پر مخ ولاړ سو او په لارې کې پرتې سیمې باید فتح کړو. حب الوطن د هر افغان

وجیبه ده. ملي خاین او متخلفین په نښه پېژندل کېږي. بیا ئې په لوړ غږ وویل: خلکو! ستاسو په منځ کې څومره کسان له ما سره موافق دي؟ حاضرینو په لوړ غږ وویل: موږ ټول ستاسو امر ته ملاتړلي خادمان یو. جنرال حسین، کټ مټ لکه چې خطابه ورکړي، له ځایه راپورته سو او وئې ویل: ښهٔ غوږ ونیسئ! زه په خپله ژوندی تأریخ یم. د پښتونستان قضیه له هماغې ورځې او له هماغهٔ ټکي پېل سوه.

سیاسنگ: تاسو د Rumi Tomato په کتاب کې د پښتونستان د قضیې جرړه په بل ډول لیکلې ده.

جلالر: پښتونستان د جنرال حسین خان او د ډیموکراتیک گوند د مشرانو د روایت په پرتلې پېچلې تأریخ لري. له سیاسي اړخه د پښتونستان د نظریې جرړه تر جرمني او له پوځي اړخه تر شوروي پورې ځغلي. که دا قصه دوام وموم ي نو له موږ څخه د بحث اصلي موضوع چې خیبر ده، پاتې کېږي.

سیاسنگ: آیا کولای سو ووایو چې سیاست په ټوله کې، په ځانگړې توگه د شوروي سیاست، خیبر په یوهٔ تنگ دریځ کې واقع کړ، په ځانگړې توگې کله چې هم خلقیان او هم پرچمیان ورڅخه خوابدي سوي وي؟

جلالر: د خیبر په هکله د ډیموکراټیک گوند د مشرانو ډله ییز سکوت ماته دا قضیه لاینحلوي. هغوی – په رسمي مطبوعاتو کې – د خپل ستر گوندي ملگري د قتل نسبت – لږ تر لږه په مصلحتي او نمایشي ډول – نهٔ په حزب اسلامي او نهٔ د داؤود په دستگاه پورې وتاړهٔ.

مخکې له دې چې گوند واک تر لاسه کړي، د شوروي د سفارت مقاماتو د گوند مشرانو ته ویلي ول چې د عمومي فضا د خړپړولو لپاره د [امریکا د متحده ایالاتو] په امپریالیزم باندې د مرگ شعار ډېر لوړ ورکړئ. د واک له نیولو وروسته ددوی پام سو چې ددې شعار ضرر د گټې په پرتلې څو څو ځله ډېر وو. ښایي همدا بهانه او پلمه [د خیبر په مرگ کې د امریکا تورنول] غلطه ثابته سوي وي چې په ټول گوند کې بل هېڅ چا ونهٔ سوای کولی د هغهٔ د ژوند او مرگ په اړه تبصره وکړي. تره کي او امین د واک له تر لاسه کولو وروسته دومره له یو بل سره لاس او گریوان سول چې ان د یوهٔ جعلي لاسوند د موندلو لپاره ئې کومه شېبه او فرصت ونهٔ موند چې د قتل تور د محمد داؤود رژیم، د پرچم جناح، اخوان المسلین او امپریالیزم ته منسوب کړي. کارمل هم کټ مټ همدا کار وکړ. امین ئې له لاسوند پرته د CIA جاسوس ونوماوهٔ، خو د خیبر په قتل ئې تورن نهٔ کړ.

سیاسنگ: ددوی د چوپتیا تر شا تاسو څه وینئ؟

جلالر: د بريا د شرابو په څښلو د عيش او مستۍ په خوند کې ډوبېدل. نوي واکمنۍ ته رسېدلي دومره په عشرت او تنعم کې ډوب سوي ول چې که د خیبر پر ځای د ګوند هر بل برجسته شخصیت وژل سوی وای، کټ مټ له همداسې برخلیک سره مخامخ کېدۀ او له یاده وت.



Photo credit: F. Gharzai Laeq

سیاسنګ: د "غوايي د انقلاب له نوي او بشپړوونکي پړاو/ مرحلۀ نوي و تکاملي انقلاب ثور" وروسته یوازی یو تن چې د خیبر د قتل یادونه وکړه، اناهیتا راتب زاد" وه چې د ۱۹۸۰ز کال د جنورۍ د میاشتې په لومړۍ د سۀ شنبې په ورځ ئې یادونه وکړه.

جلالر: زه په خپله ددې پېښې شاهد وم. لومړی ملي سرود وغږول سو چې په کې یوه تخنیکي تېروتنه رامنځته سوه. کله چې ملي سرود غلی سو، تالار هم په چوپتیا کې ډوب لاړ. د ګوند د غړو په ګډون څوک نۀ پوهېدل چې څه ډول غبرګون څرګند کړي او د تور په مظان کې راګیر نۀ سي. ودرېږي؟ کښېني؟ چکچکې وکړي یا هورا ووایي؟ له ټولو څخه لار او ګودر ورک وو. ښايي د تخنیکي چارو د مسؤول په نوښت ول – هر څوک چې وو – ملي سرود د دوهم ځل لپاره له سره وغږول سو.

ما فکر کاوۀ چې د راډیو ټلویزیون کوم نطاق به راسي او احتمالاً له کارمل څخه به وغواړي چې د غونډې د پرانیستلو لپاره د وینا د میز شا ته راسي، خو داسې ونۀ سول. لومړنی سړی چې له معرفي او مقدمې پرته خوښ او خوشحاله چې خولۀ ئې له خندا ډکه وه د وینا د میز شا ته په سوبمن انداز ودرېد او حاضرینو ته په معنی دارو کتلو سره موسکی سو، دا د انقلابي شورى لومړی مرستیال او د صدراعظم لومړی مرستیال،

اسدالله سروري وو. دهٔ په خپله د اجنډا صورت ولوست او ببرک کارمل ئې د انقلابي شورئ د رئيس او د افغانستان د خلق د ډيموکراټيک جمهوريت د صدراعظم په نوم ياد کړ. سروري د کارمل د تشکيلاتي القابو لومړۍ برخه يعنی د افغانستان د خلق ډيموکراټيک گوند د مرکزي کميټې د عمومي منشي لقب ياد نهٔ کړ چې په هماغهٔ پېل کې ئې د پرچميانو پر احساساتو مالگه وشيندله.

څو موده وروسته د گوند يو شمېر غړو راته وويل چې سروري د خپل ژوند په اوږدو کې د پرچم د جناح مشرتابهٔ او غړي د «ملگري» په نوم نهٔ دي ياد کړي، د بېلگې په توگه تل به ئې ويل: آغای کارمل، آغای کشتمند، آغای نور....

په هغو شپو ورځو کې کارمل، چې په غالب گومان سره د گوندي او دولتي مسايلو د تراکم په خاطر ستړی ستومانه او بې خوبه ښکارېدهٔ، د يوې لنډې وينا په ترڅ کې غونډه پرانيستله خو زما په باور کارمل په خپله غوره وبلله چې لومړی دې اناهيتا راتب زاد وينا کولو ته راوبولي. مېرمن راتب زاد راغله او د گوند د کليزې د تبصرې پر ځای ئې د امين په هکله يو متن ولوست او د يوې ضمني لنډې اشارې په ترڅ کې د خيبر له مرگه واوښتله.

له راتب زاد وروسته، کارمل د لاس د گوتې په ښودلو سره يوهٔ چا ته داسې اشاره وکړه چې گڼې هغهٔ ته ئې ويلي وي چې د وينا د ميز شا ته تاسو لومړی لاړ سئ. ټول هک پک پاتې سول چې دغه مجهول الهويه سړی څوک دی او د څه لپاره بلل سوی دی. دغهٔ سړي د قرآن مجيد د څو آيتونو په تلاوت سره عمومي چاپيريال يو څه نرم کړ. ځکه چې د هرات د کب د ۲۴ له پاڅون وروسته، هره رسمي غونډه د مطبوعاتو په حضور کې په بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ او اسلامي مناسکو پېل کېدله خو دا ځل يا هېره سوې وه او يا په همدې ډول سمبال سوې وه.

وروسته کارمل خبرې وکړې. لومړی ئې د کاغذ له مخې متن ولوست او په پای چې حضارو چکچکې کولې يو ناڅاپه ئې مخ پورته ونيوهٔ او وئې ويل  چې: د شوروي د دوست او ورور هېواد محدود قطعات ما په خپله د افغانستان د دفاع لپاره رابللي دي او که د ارتجاع او امپرياليزم لاسونه زموږ په هېواد کې له لاسوهنو څخه پرېک نهٔ سي نور ډېر قطعات به هم راوغواړم.

په هغې شپې کې د کارمل دغو خبرو کوم ځانگړی غبرگون را ونهٔ پاراوهٔ، خو وروسته ئې ورته لوی سرخوږی راوکټاوهٔ. نور نو پرچميانو د خلقيانو مخې ته نهٔ سوای کولی ووايي چې شوروي ځواکونه د تره کي او امين په بلنه افغانستان ته راغلي دي. که ئې خوله خلاصوله نو خلقيانو ورته ويل: آيا کارمل په برالا او روښانو ټکيو ونهٔ ويل چې شوروي ځواکونه ما راغوښتي او نور به هم راوغواړم؟ طبعاً چې حقيقت د دغو دواړو ادعاگانو

بر خلاف دی. شورویان په خپله راغلل او په خپله لاړل. د ډیموکراټیک گوند غوښتنو – که خلقي ول که پرچمي – مسکو ته دوه توته ارزښت نهٔ درلود.

سیاسنگ: آیا د هغې ورځې د پروگرام فلم اخیستل سوی دی؟ گزارش ئې چاپ سوی دی؟

جلالر: هم ئې فلم اخیستل سوی او هم په ورځپاڼو کې چاپ سو، خو په بشپړ ډول چاپ نهٔ سو. ددې پروگرام مهمې او حساسیت پارونکې برخې ئې سانسور کړې.

سیاسنگ: د خیبر له وژل کیدلو څنگه خبر سواست؟

جلالر: د ۱۹۷۸ز کال په مطبوعاتو کې د خیبر د مرگ انعکاس زما له نظره نهٔ دی تیر سوی. د هغهٔ د وژل کیدلو په سبا ئې د کار پر لور روان وم چې زما ډریور، رقیب، په پښتو راته وویل: «ښايي خبر سوي به یاست. پرون شپه خیبر صاحب ووژل سو.» د هماغې ورځې د سبا په ماښام ئې ما د راډیو له لارې د هغهٔ فوتي اعلان واوریډ.

سیاسنگ: رقیب له تاسو سره پښتو خبرې کولې؟

جلالر: رقیب د لغمان له ولایته وو. سره له دې چې ډېر ښهٔ په پاړسي پوهیدهٔ خو ما په خپله ورځخه غوښتي ول چې له ما سره دې په پښتو او زما د کورنۍ له غړو سره دې په پاړسي خبرې وکړي. له ۱۹۶۵ تر ۱۹۸۰ز کال پورې رقیب زما په ژوند کې د ډېر اعتماد څښتن وو.

سیاسنگ:په ۱۹۶۵ز کال کې ستاسو دریځ؟

جلالر: کله چې محمد هاشم میوندوال صدراعظم سو، د دوه وو اونیو په ترڅ کې ئې خپله کابینه اعلان کړه او د پلان وزارت ئې پوهاند عبدالحکیم ضیايي ته ورکړ. ضیايي په جاپان او فرانسې کې د تحصیلي سوابقو پر بنسټ د کابل پوهنتون د اقتصاد د پوهنځي رئیس او له هغهٔ مخکې زموږ د ټولنپېژندنې استاد وو. که څه هم دا خبره زما له خپل پلوه ده / حدیث نفس ده، هم میوندوال او هم ضیايي دواړو پر ما خاص شفقت درلود. هغوی د خپل مخکیني تفاهم پر بنسټ – د لومړني گام په توگه – د پلان د وزارت په چوکاټ کې د مالي آمریت په نوم یو نوی بَست رامنځته کړ او زه ئې د عمومي آمر په توگه اعلان کړم. باید زیاته کړم چې دوی نور مجرب او د لوړو تحصیلاتو خاوند کسان هم درلودل خو زه ئې غوره کړم. په هماغه ورځ د یوهٔ مکتوب په ترڅ کې ما ته ابلاغ سوه چې د یوهٔ عراده رسمي موټر او ډریور مستحق هم یم. دوه ورځې وروسته، رقیب د یوهٔ روسي مسکوویچ موټر په وسیلې کور او دندې ته زما د لیږد رالیږد دنده پیل کړه. مسکوویچ د رسمي کارونو د پر مخ وړولو لپاره وو، خو اجازه مې درلوده چې په کابل کې دننه ئې د یو شمېر شخصي کارونو لپاره وکاروم.

سیاسنگ: تاسو ته له میوندوال او خیبر سره هم مهاله نېږدې والی گران کار نهٔ وو؟
جلالر: له بېلابېلو خلکو سره د هر ډول اړیکې ټینگول د غیر سیاسي خلکو لپاره آسانه کار دی. کله چې تاسو په سیاست کې ښکېل یاست ستاسو د اړیکو گردچاپېره کرښه را ایستل کېږي. دوی دواړه پوهېدل چې زه بې پرې یم. نن چې پرون ته گورم، فکر کوم که میوندوال او خیبر له یو بل سره دوستان یا لږ تر لږه همکاران وای، افغانستان به ډېر ښهٔ برخلیک درلود.

سیاسنگ: عبدالکریم عطايي د « قیام و جمهوریت ۲۶ سرطان» په کتاب کې لیکلي دي: جلالر د پلان د وزیر له دفتر څخه د پښتونستان په میدان کې لاریون لیدلی وو. هغهٔ گڼ شمېر لاریونوال یاد کړل او دا کار ئې د اندیښنې وړ وبالهٔ.

ستاسو دفتر لومړی په دارالامان او بیا په کارتهٔ سهٔ کې وو. آیا تاسو د پښتونستان په څلور لارې کې د پلان وزارت ته د کوم رسمي کار لپاره تللي واست چې د خلکو لاریون مو لیدلی وو؟

جلالر: د خـُرَم له قتل وروسته د پلان نوی وزیر ونهٔ ټاکل سو. ولسمشر ما ته دنده وسپارله چې په اونۍ کې دوه ځله د پلان وزارت ته لاړ سم او کارونه له هماغه ځایه وڅارم. د ۱۹۷۸ز کال د اپریل د میاشتې په نولسمې نېټې زه د ارواښاد خـُرَم په دفتر کې وم. ما د میز له شا ولیدل چې د خیبر جنازه ئې وړله او په زرهاوو تنو – په ځانگړې توگه ځوانانو – په واټونو کې کتارونه جوړ کړي ول.

په سبا ئې د اپریل په شلمې نېټې د کابینې نوبتي ناسته/ جلسه وه. موږ په اجنډا کې د اړوندو مسایلو په هکله خبرې وکړې. د خیبر د وژل کېدلو خبره هم یاده سوه. وویل سول چې د خلق د گوند یو شمېر مشرانو حکومت ته اخطار ورکړ او حکومتي ضد وېناوې ئې وکړې. ما له خیبر سره د آشنايي په پار یوه کلمه هم ونهٔ ویله. همدا شان زما دریځ هم راڅخه نهٔ غوښتل چې څه ووایم. زما ټینگار ته اړتیا نهٔ وه. هر څوک پوهېدل چې د دولت پر ضد لاریون کې په هر هېواد کې چې وي، د ډېرو کسانو راټولېدل د غور او اندېښنې وړ دي.

سیاسنگ: آیا دا خبره سمه ده چې د ټولگټو چارو/ فواید عامې وزیر غوث الدین فایق، د کورنیو چارو له وزیر عبدالقدیر مخکې د خیبر د فاتحې د مراسمو د جریان په هکله د گزارش ورکول پیل کړل؟

جلالر: زه او فایق څنگ په څنگ ناست وو. فایق عادت درلود چې له ټولو مخکې د خبرو واگې په لاس کې واخلي ترڅو د ټولو پاملرنه ځانته راواړوي. وئې ویل: ما خپل څو تنه «زیر دستان» لاریون او فاتحې ته لېږلي ول چې اوضاع وڅاري او هر څه چې وینې او اوري ئې، ما ته دې راپور راوړي. وروسته ئې له خپله جیبه را ایستلې یوهٔ کاغذ ته په

اشارې سره وویل: دغه کاغذونه ګورئ؟ ما ته خصوصي رارسېدلي دي. فایق له څو ژورو ساه ایستلو او آه ویلو زیاته کړه: مشرانو ئې په خپلو خبرو کې حکومت ته اخطار ورکړ.

سیاسنګ: یو شمېر کسان د شوروي د سفارت د کارمند الکسندر اوبلوف Alexander Oblov نوم یادوي چې ګنې د خیبر د قتل په صحنې کې لیدل سوی وو.

جلالر: یادول مهم نهٔ دي. د امتیاز حسن او نور احمد نور نومونه هم یادوي او طبیعي خبره ده چې درواغ وایي. په دې ډېر ساده دلیل دوی درواغ وایي چې د تأریخ په اوږدو کې مهم قتلونه د سترو شخصیتونو په دستور تر سره کېږي، نهٔ د سترو شخصیتونو په وسیلې. راځئ داسې وانګېرو چې هماغه اوبلوف دې سم وي، آیا اوبلوف نهٔ سوای کولی مثلاً له بلغاریا څخه یو نوم ورکی ځوان راوغواړي او تومانچه ورته په لاس کې ورکړي او ورته ووایي: په پلانکي شخصي باندې په پیاده رو کې ډز وکړه. سبا تا بېرته بلغاریا ته لیږم. په همدې توګه له دنیا بې خبره هر څوک ئې احمد یا محمود کولای سول استخدام او ورته ووایي " پیسې درکوم پلانکی ووهه". لنډه دا چې ان هماغهٔ حکمتیار هم ونهٔ ویل چې ما وژلی دی، ویلي ئې دي چې: زما د ګوند کسانو خیبر وژلی دی.

سیاسنګ: د «تأریخ سیاسي افغانستان معاصر» د کتاب لیکول ابوذر پیرزاده لیکي:« ویل کېږي چې د حکمتیار اسلامي حزب، د غورځنګ د شهیدانو د وینو په غچ کې چې د خیبر په دستور او مشورت او د هغهٔ د مخلص شاګر د داؤود د کورنیو چارو د وزیر فیض محمد په وسیلې په وحشیانه ډول سره شکنجه او له منځه وړل سوي ول، خیبر هلاکت ته ورساوهٔ. حزب ِ اسلامي له داؤود سره د خیبر د طرحو، او د هغهٔ د وحدت پالو فعالیتونو او هڅو د شنډولو لپاره او د ډیموکراټیک ګوند او دولت تر منځ د لاس ګریوان کېدلو په موخه او تر ټولو مهمه د نوموړي ګوند د مشرانو د له منځه وړلو لپاره او د کمونیستانو د په پام کې نیول سوې کودتا د مخنیوی لپاره دا عمل تر سره کړ. ددغو کرښو لیکوال له برهان الدین رباني سره د مرکې په ترڅ کې ددې موضوع د صحت او سقم په اړه پوښتنه وکړه. هغهٔ د اسلامي غورځنګ د کسانو په لاس د خیبر وژل کېدل تأیید نهٔ کړل او د افغانستان د سیاسي مسایلو د نورو د نظر د خاوندانو په شان ئې دا کار د شوروي اتحاد د KGB او د دې دستګاه د افغان جاسوسانو کار قلمداد کړ.» (۴۰۱ پاڼه)

جلالر: دا کتاب مې لوستی دی. ددې کتاب تر ټولوستره نقیصه د افغانستان د خلق له ډیموکراټیک ګوند او شوروي اتحاد سره د ښاغلي ابوذر پیرزاده فطري دښمني ده. د همدې کتاب ان په یوه پاڼه کې ما د لیکوال بې پرې دریځ نهٔ دی لیدلی. د داسې یوهٔ لیکوال پر اثر باندې تبصره کول د وخت ضایع کول دي.

سیاسنګ: د عبدالحق مجددي او د فضل الله مجددي د کتاب «حقیقت التواریخ» په ۵۳۲ او ۵۳۳ پاڼو کې (پېښور ۲۰۰۴ز کال)، داسې راغلي دي: «د محمد داؤود د صدارت د دوران یوه له مهمو پېښو څخه د حضرت مجددي مظاهره ده. راپور ئې د ضبط احوالاتو دفتر ته ورسید او حضرت صاحب صبغت الله مجددي څه دباندې څلور نیم کاله په زندان کې تېر کړل. په ۱۳۳۸ [۱۹۵۹ز] کې په پام کې ول چې خروشچیف افغانستان ته سفر وکړي. حکومت د امنیتي او تشریفاتي تدابیرو په نیولو کې بوخت وو. پرچمي خیبر چې د داؤود خان د ضبط احوالات د دارې غړیتوب ئې درلود، واکمنۍ ته خبر ورکړ چې صبغت الله مجددي ددې تکل لري چې د خپلو مریدانو او پلویانو په وسیلې خروشچیف باندې برید وکړي او وئې وژني او یا ئې د کاڼو او تیږو تر باران لاندې ونیسي. ددې خبر په اورېدلو سره د داؤود خان حکومت صبغت الله مجددي زندان ته وغورځاوۀ او د دهمزنګ په محبس کې ئې کوټه قلفي کړ. خروشچیف له کابله روغ رمټ ووت خو حضرت مجددي د داؤود خان د صدارت د دوران تر پایه یعنی د ۱۳۴۱ [۱۹۶۲] تر پایه په زندان کې پاتې سو.

د همدې کتاب په ۵۸۴ پاڼه کې یو ځل بیا لیکل سوي دي: « وروسته له دې چې خیبر څو کاله په زندان کې تېر کړل، د عسکري له مسلک څخه طرد سو او د پولیسو په اکاډیمۍ کې د استاد په توګه مقرر سو. خیبر د ښوونکي له مقدسې دندې څخه په ګټه اخیستنې، زده کوونکي خپل هم – مفکوره وګرځول او د خپل مرام د پرمخ وړلو لپاره د – داؤود خان د صدارت د مهال – د ضبط احوالات غړیتوب ئې هم تر لاسه کړ. خیبر د خپلې جاسوسۍ په لړ کې وکولی سول حضرت صبغت الله مجددي په خروشچیف باندې په برید تورن کړي.»

جلالر: خروشچیف په ۱۹۵۹ز کال کې افغانستان ته راغلی وو؟ زما په حافظې کې دغسې یو شی نۀ سته. که د هغۀ د راتګ له نېټې څخه راتېر سو، د مجددي زنداني کېدل د خروشچیف له سفر سره هېڅ اړه نۀ لري. هغه «بزرګوار» د خاصې دولتي تحصیلي بورسيې په وسیلې مصر ته لېږل سوی وو. کله چې بېرته هېواد ته راستون سو، د ستالین له مړینې څو کاله تېرېدل او د شوروي سیاست د یو شمېر بدلونونو په درشل کې وو. مجددې له راستنېدلو وروسته د سلطنت په نظام کې د عدلیې له وزارته کوز په بل مقام نۀ قانع کېدۀ. حال دا چې د لزوم دید او ددولت د معیاراتو پر بنسټ نوموړی د وزارت د څوکۍ د نیولو لپاره اړوند او اړین شرایط نۀ درلودل؛ له دې کبله د معارف د وزارت په چوکاټ کې د حبیبې په لیسې کې د ښوونکي په توګه وټاکل سو. مجددي د حکومت دا ګام ځانته سپکاوی او کسر د شأن وګاڼۀ. یوه موده په داوطلبانه ډول په خپل کور کې کښېناست د پیرۍ او مریدۍ په لارو بوخت سو. په دې لړ کې ئې واکمنۍ ته یو شدید اللحنه اعتراضي لیک وسپارۀ او چارواکي ئې د اسلامې جَیدو علما پر وړاندې چې موخه ئې خپل ځان وو، د قدر او منزلت په نۀ پوهېدلو او له پامه

غورځولو تورن کړل. چا د مجددي لیک دومره جدي ونهٔ نیوهٔ. له یوې مودې چوپتیا وروسته د صدراعظم سردار داؤود په عنوان ئې یو بل لیک ولیکهٔ چې د اسلام ددین احکامو تطبیق ته ئې د دولتي مسؤولینو د پام را اړولو تر څنګ په ځانګړې توګه په رسمي اداراتو کې د ماسپښین د لمانځه لپاره د اودس او د لمانځهٔ د وخت ټاکل، دا هم موعظه کړي ول چې ګڼې افغانستان، کفر او کمونیزم ته د تقرب لپاره یوازې د غرمې د ډوډۍ لپاره وخت ټاکلی دی، نهٔ د عبادت لپاره. دا ځل هم چا غبرګون ښکاره نهٔ کړ. له یوهٔ یا دوه وو کلونو وروسته ئې یو بل لیک ولیکهٔ؛ په دې لیک کې ئې د شاهي اردو پوځي قطعاتو ته د وسلو په پېردونګ باندې نیوکه کړې وه او ویلي ول چې حکومت باید ژر تر ژره دا قرار داد راوګرځوي/ فسخ کړي. په عین زمان کې، د ۱۹۵۶ز کال په تأریخي لویې جرګې کې له شوروي اتحاد څخه د وسلو پېرودل ئې رابرسیره او د سردار داؤود کورنۍ او باندنۍ سیاست ئې تر ټینګو کوتکونو لاندې نیولی وو.

له دې چې د نړۍ د ټولو هېوادونو د قانون پر بنسټ په حربي چارو، اسرارو او نظامي قرار دادونو باندې هر ډول تبلیغ او تبصره هغه هم په ځانګړې توګه د ملکي کړیو له پلوه، جرم او د سزا وړ تعریف سوي دي، نو مجددي د یوهٔ مکتوب په وسیلې رسماً احضار او په دوه وو کالو حبس محکوم سو. لنډه دا چې نوموړی د نومیالیو روحانیونو د شفاعت او ضمانت له کبله له یوهٔ کاله لږه موده په زندان کې تېره کړه او یو بل کال ئې د شاه له پلوه وبخښل سو. هماغسې چې ما مخکې وویل مجددي اصلاً نهٔ وو نیول سوی بلکه د کورنیو چارو د وزارت په وسیلې د تحقیقاتو لپاره احضار سوی وو. د تحقیقاتو په پای کې له دې چې نور د انکار امکان ورته نهٔ وو پاتې، نوموړي ته ئې کور ته د تللو اجازه ورنهٔ کړه او مستقیماً د وزارت د تحقیق له ریاست څخه ئې محبس ته ولېږهٔ.

د څلورو کالو او شپږو میاشتو د زندان د مودې تېرول، د ښاغلي نصري حق شناس له ابداعاتو څخه دي. د مسئلې د اثبات لپاره تر ټولو ساده لاره د هماغو کلونو مطبوعاتو او د مجددي آثارو ته مراجعه ده. هلته ئې هم د توقیف کېدلو نېټه چاپ سوې او هم ئې د خوشي کېدلو نېټه. چېرته خروشچیف او چېرې مجددي؟ که له دې خبرې ئې را تېر سو، که د نورو هېوادونو هر مشر وغواړي افغانستان ته سفر وکړي او یو څوک وغواړي وربانډې برید وکړي نو ژر تر ژره ئې باید مخه ونیول سي. راځې همدا خروشچیف په پام کې ونیسو. په کابل کې د هغهٔ ټېې کېدلو او یا وژل کېدلو دواړو کولای سول د هېواد پر وګړو او د دواړو هېوادونو پر اړیکو ناوړه اغېزې وکړي. هر چا چې ددومره لوی خطر د وقایې په لارې کې موضوع د حکومت غوږ ته رسولې، جاسوسي نهٔ ده کړې بلکه قانوناً ئې خپله هېوادنۍ دنده تر سره کړې ده. تکراروم ئې چې د خروشچیف له سفر سره د مجددي د حبس تړل یو تأریخي جعل دی.

سیاسنګ: آیا خیبر د ضبط احوالاتو یا مصؤونیت ملي یا د KGB کارمند وو؟
جلالر: دغو ډول پوښتنو ته د هر ډول مثبت یا منفي ځواب ورکول د ستر مسؤولیت پورته کول او زما د صلاحیت له کړۍ پورته خبره ده. په دې هکله د اړوندو مراجعو مقامات او د استخباراتي شبکې له مسؤول پرته بل څوک نهٔ سي کولای د هغې اداري د مخفي غړو او مخفي همکارانو په اړه معلومات ولري. که هر څوک د استخباراتي شبکې له تشکیلاتو څخه اطلاع او خبر ولري نو نوم ئې استخبارات نهٔ سو یادولی. یوازې په دې خاطر چې خیبر د پولیسو د اکاډیمۍ استاد وو دا په دې معنی نهٔ ده چې حتماً دې خفیه پولیس او یا جاسوس هم وي. ما د خیبر آزاده او آزادي پاله روح پېژندله چې له مخبرۍ او جاسوسۍ سره هېڅ جوړ نهٔ راتهٔ. هغهٔ هېڅکله خپل شخصیت داسې کچې ته ټیټ نهٔ راووست. خیبر د خپل نجابت او شرافت له اړخه کټ مټ کله د خالصو وربېښمو په شان وو.

سیاسنګ: آیا کوم چا تاسو له دې خبر کړي یاست چې تاسو له «KGB سره د مخفي اړیکو» په لرلو تورن یاست؟

جلالر: زه لا تر اوسه له داسې یو چا سره نهٔ یم مخامخ سوی چې همت دې کړی وي او مستقیماً دې راغلی وي او مخامخ دې زما په حضور کې دغسې یوه خبره کړې وي. له بل لوري، سره له دې چې ځان په هېڅ ډول سره د هېواد د نومیالیو رجالو په کتار کې نهٔ شمېرم، خو تاسو د دوه وو تېرو پېړیو په ترڅ کې په تأریخي، سیاسي، ټولنیز، حقوقي، علمي، روحاني او فرهنګي ډګرونو کې یوازې د زر تنو پېژندل سویو شخصیتونو په منځ کې د دوه وو تنو "خوش نامو" شخصیتونو نومونه راته یاد یادکړئ چې له مکث کولو پرته ووایو چې خپل شا ته څه ډول تورونه نهٔ لري. زه ئې په رښتیا او درواغو کوم کار نهٔ لرم، غیر مستنده ادعا تش د هوا باد دی چې ځي او راځي.

سیاسنګ: د پورتنۍ نغوتې/ اشارې په اړوند حق شناس لیکي: « جلالر په ۱۹۵۸ز کال کې خپل تحصیلات د اقتصاد په رشته کې په پوهنځي کې پای ته ورسول او د صدارت د پلان په ریاست کې د غړي په توګه مقرر سو. په ۱۹۶۰ز کال کې کابل ته د روس د اقتصادي او پلان جوړونې یو پلاوی راغی، همدغهٔ پلاوي جلالر، داؤود ته د متخصص په توګه وروپېژاندهٔ. جلالر هغه مهال د پلان د وزارت د مالي مدیریت چارې پر غاړه درلودلې. د روسانو له معرفي کېدلو وروسته د جلالر کار رنګ ونیو او په چټکۍ د پرمختګ پوړیو ته لوړ سو. په ۱۹۶۶ز کال کې د میوندوال د صدارت پر مهال د پلان د وزارت د مالي رئیس په توګه او په ۱۹۷۱ز کال کې د مالیې د وزارت د مرستیال وزیر په توګه وټاکل سو. په ۱۹۷۲ز کال کې د مالیې د وزارت مقام ته ورسېد او په ۱۹۷۳ز کال کې د داؤود په کابینې کې د سوداګریزو چارو د وزات پر مقام نصب سو. دی لا ترې دمه په همدغهٔ مقام پاتې وو چې د داؤود پر ضد کودتا وسوه او تره کی واک ته ورسېد. په

لومړۍ اونۍ کې ټول وزیران او عالیرتبه مأمورین زندانیان سول. د هغوی یو شمېر تر کلونو کلونو پورې په زندان کې پاتې سول او یو شمېر ئې څو اونۍ وروسته له زندان څخه خوشې سول؛ خو جلالر یوازې د درېو ورځو لپاره له خپل کوره لېرې وو او هغه هم د امنیتي ملاحظاتو له وجهې. ددې لپاره چې د جلالر له مخې نقاب ونهٔ غورځي او د خلکو پام ورته یو ناڅاپه وانهٔ وړي، روسانو نوموړی تر یوې مودې پورې له رسمي کارونو څخه لېرې وساتهٔ. په ۱۹۷۹ز کال کې ئې نوموړی یو ځل بیا صحنې ته راوست او د حفیظ الله امین مشاور ئې مقرر کړ. په ۱۹۸۰ز کال کې د وارداتو او صادراتو عمومي رئیس سو او وروسته له دې چې کارمل واکمن سو نوموړي یو ځل بیا د سوداګریزو چارو د وزارت پر څوکۍ ډډه ولګوله.

د روسانو په وسیلې د جلالر د پرمخ تللو بهیر دومره د پام وړ او استثنایي وو چې په لستوني کې ئې د روسانو لاس له ورایه ښکارېدهٔ. جلالر په داسې شپو ورځو کې د ریاست او وزارت شاهد په غیږ کې واخیست چې ستر استعدادونه له بېکارۍ یا د مناسب کار له نهٔ موندلو څخه کړېدل، البته د یوهٔ وخت لپاره د هغهٔ کار په پټه او خفا کې تر سره کېدهٔ، خو په مجردې چې په افغانستان کې د روسانو د کار لومړي پړاو پای وموند او د داؤود خان کودتا په ثمر ورسېدله، نور ئې نقاب له مخه ولوېد او هر څوک له روسانو سره د هغهٔ له اړیکو څخه خبر سول.

جلالر به له داؤود سره په ډېریو سفرونو کې مل وو او د کوربه هېوادونو له مشرانو سره د خبرو اترو ټول جریانات به ئې روسانو ته ګزارش کول. د مصر، لیبیا او سعودي هېوادونو ته د داؤود په ورستي سفر کې جلالر هم مل وو او هره هغه مفاهمه چې داؤود د نوموړو هېوادونو مشرانو سره ولیدله او واورېدله ټول ئې مسکو ته راپور ورکړ. دغې خبرې روسانو اړ کړل چې د خپلو نقشو په پلي کولو کې بیړه وکړي او د داؤود په راپرځولو کې عجله وکړي.

جلالر ظاهراً ساده ښکاري خو یو له هغو مرموزو. جلالر یو له هغو خطرناکترینو کسانو څخه دی چې له KGB او GRU دواړو سره همکاري لري. جلالر به تل خپلو همکارانو ته ویل: « سړی باید هر لور ته اړیکې ولري» او دهٔ به په خپله دا کار عملي کاوهٔ. ان یوهٔ امریکایي متخصص ددهٔ د کار په دفتر کې ورته د انګلیس درس ښوونه کوله. د کودتا په لومړي کال ئې زوی امریکا ته لاړ او تر اوسه هلته ژوند کوي. مېرمن ئې هم هر کال امریکا ته ځي او په اونۍ کې څو ځله سیلاني توب /سیاحت کوي. دا کار یوازې په یو اړخیزو اړیکو شونی نهٔ دی. د آق مراد په شان پېژندل سویو سوداګرو له لارې به ئې کله ناکله په زرهٔ پورې تحایف او هدایا چمتو کول او پېژندل سویو کورنیو او اړوندو مقاماتو ته به ئې استول. د اغېزمو او ذینفوذو کسانو په محافلو کې به هم د مجلس نـُقـُل وو او په آرام او راحته به ئې خپل کارونه په ډاډ پر مخ بیول.» (دسایس و جنایات

روس در افغانستان – از امیر دوست محمد تا ببرک – دوهم چاپ، له ۵۳۸ تر ۵۳۹ پاڼو پورې، پاکستان/ ۱۹۸۹ز کال اپریل)

جلالر:که همدا خبرې د ښاغلي شیر احمد نصري د خوشحالۍ لامل ګرځي نو پرې به ئې بدم چې له خپلو نوښتونو/ اختراعاتو څخه خوند واخلي. زما د زوی او زما د مېرمنې په هکله د هغۀ د جزئیاتو ردول دلته ځکه نۀ راسپړم چې څو کاله کېږي چې دی او محترمه کورنۍ ئې په آسترالیا کې ژوند کوي او احتمالاً اوس به پوه سوی وي چې لومړی د باندنیو استادانو په محضر کې د یوې باندنۍ ژبې زده کول او دوهم دا چې امریکا یا د آسترالیا له یوۀ ګوټ څخه بل ګوټ سیاحت د مسافر پر یو اړخیزې یا دوه اړخیزې جاسوسۍ دلالت نۀ کوي. آیا دی په خپله د شاهي نظام د اطلاعاتو او کلتور وزارت له پلوه د دوه وو اوږدمهالو تحصیلي بورسونو په امتیاز د فارسي د ابیاتو د زده کولو لپاره ایران او د انګلیسي ژبې د زده کړو لپاره آسترالیا ته نۀ وو لېږل سوی؟ ددې ترڅنګ د یو چا د ټکولو لپاره په مطبوعاتو کې د هغۀ د کورنۍ د پېښې راکاږل د هغۀ د ذلیل توب او ناتوانۍ ښکارندویه ده. اتفاقاً د ښاغلي نصري د کورنۍ غړي پېژنم او په بشپړ یقین سره ویلی سم چې نجیب او پوه کسان دي.

هر ګوره، یو څوک چې د نړۍ په دوه وو سترو استخباراتي شکبو کې د استخدام کېدلو قابلیت، استعداد او مهارت ولري نو هرو مرو دومره هوښیار به اوسي چې خپلو همکارانو ته ونۀ وایي چې: «سړی باید دواړو خواوو ته اړیکه ولري.»

که پورتني تورونه سم وای، د جمهوریت له پرځېدلو ورسته د خلق او د پرچم د ناکامو مشرانو پر ځای باید زه د ګوند او دولت په مشرتابۀ کې راغلی وای او د ډیموکراټیک ګوند د مشرانو په ټولو غونډو کې باید حاضر وای! که له ټوکو تېر سو، د تأریخي وضاحت لپاره دلته څو ټکي یادوم:

لومړی: هغۀ چا چې زه سردار داؤود ته وروپېژندلم عبدالحی عزیز وو. هغۀ زه د داؤود خان دفتر ته له ځان سره بوتلم او دقیقاً ئې داسې وویل: « د سردار صاحب حضور ته! دا محمد خان دی، زموږ د وزارت په منسوبینو کې د هېواد یو له ټولو ښو استعدادونو څخه دی. بې اندازې عالي شخصیت، فعال کار کوونکی او فوق العاده شریف انسان دی.» داؤود خان له ځایه پورته سو او زه ئې په یوۀ لاس په غېږ کې ونیولم. ډېره مهرباني ئې وکړ او شفقت ئې راښکاره کړ او وئې ویل: «ډېر ښۀ. ډېر ښۀ. دا خبرې چې ستاسو په هکله وسوې زما د خوشحالۍ لامل سوې. ډېر زیار وباسه. ډېر کوښښ او ډېر هڅه کوه. دا هېواد فعالو او پوهو کسانو ته اړتیا لري. موږ ټول باید په جدیت کار وکړو. افغانستان زموږ هېواد دی. هېواد له خپلو ټولو بچیانو څخه هېلې او توقعات لري. هېواد موږ ته، زموږ صادقانه خدماتو او زموږ ژمنې ته اړتیا لري.» د یوې یا دوه وو

نورو دقیقو په لړ کې ما او عبدالحی عزیز چې د سردار داؤود د خبرو په تأیید، د هغهٔ وروستي جملات په خپلو ژبو تکرارول، هغهٔ خپل لاس زما له اوږو لیرې نهٔ کړ.

دوهم: هغه کسان چې د هېوادونو د مشرانو له سفرونو، لیدونو او جلساتو څخه معلومات ونهٔ لري، ښایي په همدې ډول له خپلې گېډې دا تخیل جوړونه وکړي چې دوه تنه ولسمشران په یوې کوچنۍ کوټې کې په مخفي توگه سره کښېني او د یو بل په غوږونو کې رازونه وايي تر څو دریم تن ئې وانهٔ وري؛ خو دا دریم تن په بریالیتوب سره استراق سمع کړې ده او محرمانه رازونه ئې له اسرارو ډکو ځایونه ته لیږدولي دي.

په ټولې نړۍ کې د نړۍ د هېوادونو د مشرانو د لیدنو لپاره یو شمېر مقررات او معیارات شتون لري. لږ تر لږه باید دوه تنه ژباړونکي وي چې د اړوندو هېوادونو په ژبو تسلط ولري او هر لفظ او عبارت ته ئې پام وي چې په منځ کې کوم سؤ تفاهم او یا سؤ تعبیر رامنځته نهٔ سي. – په حساسو موقعیتونو کې د کلامي شفافیت په خاطر – ژباړونکي د لفظي عباراتو د حضوري تصحیح لپاره متقابل حق او صلاحیت لري. لږ تر لږه د بېلابېلو ډگرونو درې تنه متخصصین او مسلکي استازې هم حضور لري چې د اړتیا پر مهال د څرگندو موضوعاتو په اړوند که ورڅخه غوښتنه وسي کولای سي ضمني ځوابونه ورکړي.

که د دوه وو هېوادونو مشران وغواړي یو بل ته باالخاصه اسرار او محرمیات ورسوي نو حضوري لیدنه نهٔ کوي، دا کار د ډاډمنو استازو د پټو اړیکو په وسیلې د ژورنالیست، عکاس، هرمند، توریست، تحصیلي بورسونو، دیپلوماتیکو مأموریتونو او فرهنگي پروگرامونو تر مخفیانه پوښښ لاندې او ان د کورنیو د وصلتونو له لارې تر سره کوي چې طبیعي څرگند سي.

دریم: دا زما له مخې د کوم ډول "نقاب لوبدل" ول چې د سلطنت او جمهوریت په نظامونو کې ټول له روسانو سره زما په اړیکو خبر ول خو محمد داؤود خبر نهٔ وو؟ سردار داؤود په کابینې کې په روس پورې د اړوندو ښکېلو عناصرو په تصفیې او اخراج کې زه نهٔ یوازې شامل ونهٔ گرځولم بلکه د خپل ژوندن په وروستۍ شپې ئې زه او وفي الله سمیعي په غېږ کې ونیولو او د خدای په امانۍ په رسم ئې په غمجنې ژبې وویل: لاړ سئ چې ژوندي پاتې سئ. لاړ سئ او خوشحاله اوسئ. خدای مو مل سه.

څلورم: دلته دوه بدیلونه مناظرې ته وړاندې کوم: لومړی دا چې کله چې داؤود عربي هېوادونو ته لاړ سي او د کیڼ لاسو عناصرو د لیرې کولو تر څنگ، په هرات کې خپلو زرگونو مخاطبینو ته ووایي: « نور په افغانستان کې وارداتي ایډیولوژیو ته ځای نهٔ سته» نور نو کوم اسرار پټ پاتې کېږي چې څوک دې روسانو ته ولېږدوي؟ د یوهٔ هېواد تر ټولو ستر رازونه د هغهٔ هېواد نظامي او د اقتصادي ظرفیتونو اسرار دي. شوروي او امریکا په دغو دواړو اسرارو تر مور لا ډېر خبر او پوه دي او ول ځکه هغوی افغانستان

تسلیح، تمویل او پیاوړی کاوۀ. تاسو څنګه کولای سئ هغه توپک او ټانکونه چې شورویانو د رسمي اسنادو په ترڅ کې تاسو ته درکړي دي له هغوی څخه پټ وساتئ؟ څنګه کولای سئ د ودانیزو/ عمراني پروژو مالي اسناد او د امدادي عایداتو تقویتي سرچینې د بېلګې په توګه د امریکا له لوري د هیرمند د وادی، د صادراتو او وارداتو د بازار، د معاشاتو، او د محاسبه سویو مالیاتو سنجش له واشنګټن څخه پټ وساتئ؟ که له دغو ټولو تېر سو، له داؤود څخه د شوروي واټن نیول چې اظهر من الشمس دي، آیا داسې څوک سته چې راته ثابته کړي چې داؤود هم په پای کې له شوروي څخه واټن ونیوۀ؟ محمد داؤود د خپل مرګ تر شېبې پورې د شوروي له سفارت سره اړیکې لرل.

سیاسنګ: ویل کېږي چې د غوایي د کودتا د ورځې په سبا ئې د جمهوریت د رژیم د کابینې یو شمېر غړي یا ووژل سول یا زنداني سول؛ الکسندر پوزانوف Alexander Puzanov، تاسو د کورنیو چارو د وزارت له زیرخانې څخه را وایستلئ او کورته ئې واستولئ او څو موده وروسته د حفیظ الله له لوري په کار وګومارل سوئ.

جلالر: زه پوهېږم چې دا تور د لومړي ځل لپار څنګه او چېرته تبلیغ سو. زما او د پوزانوف تر منځ مناسبات د ۱۹۷۲ز کال په پای کې زمور د لومړی لیدنې په ترڅ کې غیر دوستانه سول. څو کاله وروسته مو د استقلال د جشن په ورځ په کابل کې د صنعتي اموالو په یوۀ نندارتون کې له یو بل سره ولیدل. زمور دواړو خواوو چلند له یو بل سره سوړ وو. ما د خپل ټول ژوند په اوږدو کې د افغانستان د برخلیک لپاره د ټولو مضرو کسانو په منځ کې له پوزانوف Puzanov او ګوریلوف Gorelove پرته دومره ډېر مضر کسان نۀ دي لیدلي. دغو دواړو په انسانانو هېڅ رحم نۀ درلود. له کابل څخه به ئې د شوروي دولت او د ګوند مشرانو ته زښت ډېر قیمتي تحایف په دې پار واستول چې کوم بل هېواد ته تبدیل نۀ سي. که امین د خپل ټول ژوند په اوږدو کې یو شهکار کړی وي هغه له افغانستانه د پوزانوف شړل ول. پوزانوف ته کابل د جهان جنت وو. هغۀ نۀ سوای کولی په مسکو کې دغسې ژوند ولري.

تره کي، یا امین، کارمل یا نجیب یا بل هر رهبر چې د هغوی پر ځای سیاسي واکمني په لاس کې نیوله، نۀ یوازې دا چې له ما سره ئې کوم کار او غرض نۀ درلود بلکه کور ته ئې هم رسولم. له داؤود سره په ارګ کې زما اوسېدل اختیاري نۀ ول. بند پاتې سوی وم. زه یو غیر ګوندي سړی وم، د هر رژیم لپاره بې ضرره او بې خطره وم او یم.

زمور د کور ټیلیفون له اتو میاشتو قطع کېدلو وروسته د ۱۹۷۸ز کال د دسمبر په لومړیو کې فعال سو. زنګ راغی، ټیلیفون مې پورته کړ که ګورم چې استاد دوست محمد فاضل د صدارت د دفتر د اداري اصلاحاتو رئیس او د کابل په پوهنتون کې زمور د احصائیې استاد وو، وئې ویل: «موټر درلېږم، سبا زما دفتر ته راسئ.» ورغلم. وئې ویل:

«امین صاحب ما ته امر کړی دی چې تاسو ته ووایم چې نباید په کور کې کښېنئ. سر له سبا په کار پېل وکړئ، ستاسو دفتر هم تاسو ته چمتو کوو.» او زیاته ئې کړه: « ددې حکومت او ددې انقلاب یوازینی واقعي څواک، امین صاحب دی. نور – که کښته وي که پورته – له هغهٔ سره په پرتلې – په نست شمېرل کیږي.» د هماغې ورځې په سبا ئې ما خپله نوې دنده پېل کړه.

سیاسنګ: تاسو په Rumi Tomato کې له برژنیف سره د محمد داؤود د وروستي ټکر په اړوند په تفصیل خبرې کړې دي. هغهٔ څه چې تاسو لیکلي دي د عبدالصمد غوث، ډاکټر جمیلي او نورو له یادداشتونو سره زښت ډېر توپیر لري. که د هغو خبرو پَل او څرک دلته راوخلو د خیبر د سوژې سپړل یوهٔ ګوټ یا حاشیي ته کیږي. د خیبر د وژل کېدلو پر وړاندې د محمد داؤود غبرګون څنګه وو؟

جلالر: سره له دې چې ددې مرموز قتل تر شا د پرتې شبکې د پَل په موندلو کې هک پک او مبهوت پاتې وو خو په دې ئې سوء ظن درلود چې د قتل وروستنی مسؤول به د اخوان المسلیمن غورځنګ وي. له یوهٔ لوري شکاکیت او له بل لوري  د قضیې د تعقیب او عامل یا د عاملینو د پېژندنې لپاره د لازم وخت کمبود ددې سبب سو چې د ملي مصؤونیت د مسؤولینو د راپور نتیجې ته منتظر نهٔ سي نو له دې کبله ئې د خیبر د قتل پړه په "ارتجاعي څواکونو" پورې منسوبه کړه او د کومې مشخصې جناح نوم ئې یاد نهٔ کړ. داؤود د خُرم د وژل کېدلو له تجربې څخه زده کړې ول چې ددې یا د هغې ډلې تورنول د نورو خطرناکو غبرګونونو لامل ګرځي. ښایي داؤود په عین حیرت کې دا هم سنجولي ول چې د کېن او د ښي لاس د استازو تر منځ تاوېریخوالی او په دې ټکې باندې په کابل کې د شوروي او امریکا د سفارتونو د کارمندانو تر منځ لانجې – که په څرګنده ئې ووایم د KGB او CIA تر منځ لانجې – کېدای سي د ستر کړکیچ د رامنځته کېدلو سرچینه وګرځي.

سیاسنګ: په افغانستان کې د - KGB او CIA - دغه دوه نومونه څرنګه د خلکو خولو ته ولوېدل؟

جلالر: تر هغهٔ ځایه چې زه پوهېږم د سلطنت او د جمهوریت د دوران د کابینو غړو او یوازې علیا مقاماتو د KGB او CIA نومونه پېژندل، خو په مطبوعاتو کې د نومونو له یادولو څخه ئې ډډه کوله. موافقو او مخالفو سیاسي ګوندونو او سازمانونو هم په خپلو خپرونو کې همدا پالیسي پرمخ بیوله یعنې دغه نومونه ئې په برالا نهٔ لیکل خو په شفاهي توګه به ئې یادول. د غوایي د اووم‍ې له پاڅون وروسته د جمعي ارتباط په وسایلو کې نهٔ یوازې دغه نومونه بلکه د نړۍ د ټولو استخباراتي سازمانونو نومونه په ښاخیو بادېدل.

ما په خپله په ۱۹۶۹ز کال کې د CIA نوم د لومړي ځل لپاره د تره کي له خولې واورېد او د KGB نوم مې د لومړي ځل لپاره د ګهیځ په جریدې کې ولید. له منهاج الدین ګهیځ څخه یوه خاطره هم لرم. د ۱۹۶۹ز کال په پای کې ول چې پلار مې ددغې جریدې دفتر ته ولېږلم او وئې وویل: وګوره چې د هغو ساعتونو لپاره د «ساعت» د اعلان پیسې چې مور. ئې د پلور لپاره له جرمني څخه وارد کوو، په هره اونۍ کې د هرې شمېرې لپاره څومره کېږي. کله چې دفتر ته ورغلم تصادفاً ښاغلي ګهیځ راسره روغبړ وکړ. لومړی مې پلار او بیا مې ځان ورته معرفي کړ او ورته مې وویل چې ددې خبرې لپاره مې پلار رالېږلی یم. ګهیځ راته وویل: د ګهیځ د اعلاناتو پاڼه ستاسو د کورنۍ لپاره نهٔ ده. نهٔ ئې چاپ کوم. ومې پوښتل: پلار ته مې څه ووایم؟ وئې ویل: هغه څه دې چې زما له خولې واورېدل هغهٔ ورته ووایه. ومې ویل: ولې؟ وئې ویل: ورته ووایه چې ددې جریدې خدمات یوازې د اسلام په لاره کې دي. ومې ویل: مور. هم مسلمانان یو. وئې ویل: ډېر دلیل مهٔ وایه. که تهٔ دې پلار ته کټ مټ همداسې ووایې نو هغه په خپله پوهېږي. ډېرې خبرې مهٔ کوه. ځه ورځه.

سیاسنګ: هغه څنګه ووژل سو؟

جلالر: یو شمېر کسانو ویل چې د شعلهٔ جاوید غړو نوموړی  د سیدال سخندان د وژل کېدلو په غچ کې له منځه یووړ. یو شمېر نورو ویل: له دې چې د اخوان المسلمین له استازه سره په لانجه کې ښکېل سوی، ووژل سو. د خلق او د پرچم مشران هم د هغهٔ د قتل په پېښې کې تورن ول. زه ډېر نهٔ پوهېږم.

سیاسنګ: خبره له ګهیځ راغله، زه د لاندنۍ ژباړې په هکله ستاسو نظر غواړم:

KGB دسـتګاه آغشـته به خون: Contour – No. 17, Delhi/ India, February 1980

(څلورمه ګڼه: د «ندای آزادی» جریده: د سازمان آزادي بخش مردم افغانستان ساما نشراتي ارګان، ژباړه: پلاتین [سیاسنګ]/ مارچ 1980)

« د ۱۹۷۲ز کال د سپتمبر د اتمې ماښام: لمر کښېناست او د کابل د دنګو غرونو سیوری د کابل پر ښار وغوړېد. یو ساعت وروسته شپږ تنه په ونو دنګ سړي د تورتم له منځه راووتل او د منهاج الدین ګهیځ کورئې محاصره کړ. هغه د «ګهیځ» د جریدې ناشر او مسؤول مدیر وو. دغه خپرونه له ډېر وختونو راپه دېخوا د KGB د ورانکارو عملیاتو په لاره کې پرته وه.

ګهیځ ته څو ځله په دې مضمون، بې نومه ګواښجن لیکونه رسېدلي ول: «که له خپلو متداومو او شدید اللحنو روسي ضد خبرو څخه لاس وانخلې، وبه وژل سې.» غوښتل ئې له ګهیځ څخه ژمنه واخلي چې د روسي ضد سرمقالو له خپرولو څخه ډډه وکړي.

ګهيځ دغه وړانديز رد کړ. هغوی د وسلو په ډزو سره ګهيځ شديداً ټپي کړ. په دې اور کې ئې وراره ووژل سو او مېلمه ئې ټپي سو.

دغسې له تاوتريخوالي ډکو کارونو څخه موخه دا وه چې په پټو او مرموزو وژنو سره خپل دښمنان د خپلې لارې له سره لېرې کړي. له ترهګرو څخه پاتې سوې نښې د روسي اتومات توپکو ګولۍ، د جنايت کارانو روسي جيپ او.... د روسي لاسونو د ښکېلوالي ځرګندويه ول.

د ګهيځ له مړينې وروسته شوروي سفير سيرګي پيتروويچ کيکتيف Sergey Petrovich Kiktev له افغانستانه ووت. د پاريس ويکلي Paris Weekly په وينا د KGB دغهٔ کارمند د فارس د خليج او ولسي غورځنګونو په اړه معلومات ټولول. له دې پېښې وروسته، روسانو د کابل پر اوضاع باندې د څار او مراقبت خپله د جاسوسۍ دستګاه نوي ډهلي ته ولېږدوله.

په ۱۹۷۳ز کال کې د داؤود په رامنځته کېدلو سره د KGB مزي او تار ځغلونه بيا پيل سوه. کله چې محمد داؤود له حساسو مقامونو څخه په شوروي پورې د تړلو عناصر په شړلو پيل وکړ، روسانو نور محمد تره کي د واک پر ګدۍ کښېناوهٔ. د حفيظ الله امين حکومت چې د تره کي د څپڅپاندې واکمنۍ له پرځولو وروسته رامنځته سو داسې ئې ځرګندوله چې ګڼې د Shadow Cabinet له مرستې پرته کولی سي دولتي چارې پر مخ يوسي. په مسکو کې مرکزي کميټه له دغسې وضعيت څخه چې په چارو کې د KGB د تعلل او تقصير له کبله ول، ناراضي سوه او پرېکړه ئې وکړه چې ټولې چارې په لاس کې واخلي.

د ۱۹۷۹ز کال د دسمبر په نولسمې نېټې کابل ته د شوروي ځواکونو پرېکړه – د ناتو د متحدو هېوادونو له پرېکړې اووهٔ ورځې وروسته ونيول سوه چې په اروپا کې د توغنديو د ځای پرځای کولو لپاره ئې کړې وه. KGB او GRU په کابل، کندهار او هرات کې خپل دفترونه جوړ کړل او تر ټولو لومړی ئې د امين جاسوسي اداره (کارګري استخباراتي مؤسسه/ کام) لغوه کړه. روسانو د جاسوسي مأموريت چې له کرملين څخه څارل کېدهٔ تر لاس لاندې ونيوهٔ او په نورو اتهٔ ويشتو ولايتونو کې ئې هر اړخيز اقدامات پيل کړل.

د افغانستان په مسايلو پورې اړوند – د Department V-KGB (د مرګ ډله) له "موکريا ديپلا" (Wetwork/ وينې بهونې) سره سر او کار لري او سياسي قتلونو او سړي تښتونو ته لاس اچوي. تر ۱۹۶۹ز کال پورې دا برخه د Department 13 يا Line-F په نوم يادېدله.

د Department A-KGB (د خبر ټولولو دفتر) د پټو توطئو، د نورو هېوادونو د تصمیمونو د کشف، د نړۍ والو مسایلو پر وړاندې د ټولنو د روحیې د بدلولو لپاره د نقشو د جوړولو او د روس مخالف کسانو او ډلو افشاء کولو مسؤولیت په غاړه درلود.

جلالر: دغه مسخره او له سره تر پایه له درواغو ډکه لیکنه په ژباړلو نهٔ ارزېده. د ګهیځ د وژلو لپاره ضرور نهٔ ول چې شپږ تنه دې د هغهٔ کور محاصره کړي او بیا دې ووژني. دا کارونه معمولاً د دوه وو تنو مسلکي کسانو له پلوه تر سره کېږي. یو ئې امنیت نیسي او دوهم ئې دا کار ترسره کوي او د خلکو په ګڼه ګونې کې له سترګو پناه کېږي. په کیکتیف باندې تور تړل سم نهٔ دي. هغه ددې کار سړی نهٔ وو. د سفارت کارمندان دومره ستر خطر په غاړه نهٔ سي اخیستی چې خپلې دیپلوماتیکې دندې پرېږدي، لاړ سي سړی ووژني او بیا د خلکو په مخکې وتښتي او بېرته سفارت ته راستون سي. دا بې بنسټه افواهات د بازار موندنې لپاره دي. په کابل کې د شوروي سفارت دومره دښمنان درلودل چې د ګهیځ په پرتلې ورته په ځلونو ځلونو خطرناک ول. نو دوی باید هره ورځ ډله ډله خلک وژلای؟

سیاسنګ: یو شمېر کسان په همدې اړوند د "کرایي قاتل" په ونډه کې د بشیر غازي علم نوم یادوی.

جلالر:ما د خپل ژوند په اوږدو کې بل داسې مضر موجود نهٔ دی لیدلی چې تر بشیر غازي علم دې ډېر مضر وي. هغهٔ د رواني او عقلي سلامت د نهٔ لرلو تر څنګ یو باټو، درواغجن او پرغزناک/ قهرجن سړی وو. که په خپله خولهٔ ئې د ګهیځ په قتل اعتراف نهٔ وي کړی، زه له سند پرته نهٔ سم کولای د هغهٔ په هکله دا ادعا یا تأیید یا تردید کړم.

سیاسنګ: آیا د غازي علم او میر اکبر خیبر تر منځ له اړیکې مو څه اورېدلي دي؟

جلال: بشیر فوق العاده ماجرا پال وو. که له هم- ولایتي اړیکو پرته ئې نورې اړیکې لرلې وي زه خبر نهٔ لرم. یو ځل مې د تصادف له مخې د هغهٔ له خولې د خیبر نوم واورېد.

سیاسنګ: پر تاسو باندې د KGB تور یاد سو. په امریکا کې مو د CIA له یوهٔ کارمند سره لیدنه درلوده؟

جلالر: حقیقت لري. عُمَر راته وویل: پلاره! د مایک Mike په نوم یو سړی زموږ پلورنځي ته راځي. د افغانستان، د نومیالیو کسانو او په ځانګړې توګه د هغو کډوالو په اړه پوښتنې کوي چې په امریکا کې په کار او ټولنیزو فعالیتونو بوخت دي. یو ځل ئې ویلي ول که د « جلالر ګالري» د پلورنځي د اقتصادي مسایلو په هکله کومه اړتیا ولري، کولی سم مرسته وکړم.

سیاسنګ: څه ئې غوښتل؟

جلالر: هغهٔ څو ځله غوښتي ول راسره ووینې. کله چې نیویورک ته ورسېدم بیا ئې له

ما سره د لیدلو غوښتنه وکړه. ومې منله. هغه پته ئې چې راکړې وه د Sheraton Hotel ته لاړو. Mike راکوز سو او موږ ئې ځلورم پوړ ته بوتلو. یوې ښځې چې ښايي پینځوس کلنه وه، دروازه خلاصه کړه او له تعارفاتو وروسته ئې وویل: ګلوریا Gloria یم. کېدای سي یوازې له تاسو سره خبرې وکړم؟ عـُمَر ددې خبرې په اورېدلو سره دباندې ووت. ګلوریا د افغانستان د اقتصاد، له شوروي اتحاد سره زموږ د اړیکو، د نفت او ګازو د صادراتو او وارداتو، نساجي او د ځرمن د صنعت په هکله پوښتنې وکړې. عادي پوښتنو ساده ځوابونه درلودل. وروسته ئې وویل: د سلطنت او جمهوریت له وخته نیولې د ځلور کمونیستو مشرانو په کابینې کې د کابینې وزیر واست. د افغانستان په هکله د متحدو ایالاتو د سیاست په اړه څه نظر لرئ؟ ما ورته وویل: ستاسو هېواد د نړۍ والو لاسوندونو د څېړنې پینځه ستر کتابتونونه لري. د افغانستان ټولې چاپي خپرونې هلته ساتل کېږي. له ۱۹۵۸ – ۱۹۸۸ز کال پورې زما د دېرشو کالو د مأموریت په لړ کې که ما دلالتاً یا اشارتاً د امریکا پر ضد یوه کلمه ویلې یا لیکلې وي کولای سئ وئې مومئ. تاسو ډاډمن اوسئ چې داسې شی شتون نهٔ لري. زه تل بې پرې پاتې سوی او غیر سیاسي سړی یم.

سیاسنګ: Mike کومه پوښتنه وکړه؟

جلالر: هېڅ. یوازې دومره ئې وویل چې: د CIA له پلوه توظیف سوی یم چې له تاسو سره په یوهٔ خوندي ځای کې خبرې ولرو. سبا ته د نیویورک د دفتر له برخې څخه یو مأمور ستاسو لیدلو ته راځي. محرمیت دا ایجابوي چې دوهم تن – ان – ډاکټر حسن شرق- خبر نهٔ سي. زموږ وعده سبا په همدغهٔ ساعت او همدا هوټل دی. ستاسو له راتګ څخه مننه. د خدای په امان.

سیاسنګ: ومو منله؟

جلالر: ما چې لومړۍ لیدنه منلې وه نو له دوهمې لیدنې څخه مې نباید پښه سپکه کړې وای. ماښام مې د پېښې ټوله شرحه په جزئیاتو سره ډاکټر شرق ته وویله. ما دا کار د ملګرتوب، د ډیپلوماتیکو مقرراتو د رعایت او د رسمیاتو د سلسله مراتب پر بنسټ تر سره کړ؛ نهٔ دا چې زه له ډاره دا خبره ونهٔ کړم؛ ښايي Mike یا Gloria لا مخکې له مخکې دا خبره ډاکټر شرق ته کړې یا ئې وواېي.

دریم ایجنټ مې هم ولید. په ونه ټیټ او تریو مخی وو. چټکې چټکې خبرې ئې کولې. پوښتنې ئې هم جدي وې. د افغانستان د سیاسي مقاماتو په ځانګړې توګه د ډاکټر شرق د ذهنیت او د کاري سوابقو په هکله ئې پوښتنې وکړې. تر هغهٔ ځایه چې زما د صلاحیت په کړۍ کې ول، ځواب مې ورکړ. کله چې د ګوندي او دولتي ژورو مسایلو په هکله ئې پوښتنه وکړه ما ورته وویل: د لمر لپاره خولۍ پر سر کښېږدئ او د باران لپاره چترۍ پر سر ونیسئ. که ستاسو د شمېرو او ارقامو محاسبه په کار وي، مهرباني وکړئ.

که اطلاعات غواړئ نو د خلق او پرچم هغو کدرونو ته مراجعه وکړئ چې په امریکا کې ئې پناه اخیستې ده. زه د هېڅ گوند، سازمان او ایډیالوژیکې کړۍ غړی نهٔ وم او نهٔ یم.

هغهٔ زما ځواب نا اورېدلی و انگېرهٔ او پوښتنه ئې وکړه: برهان الدین رباني زموږ په همدغو شاو خواوو کې استوگن دی. هغه ملاقات ته چمتو دی آیا تاسو ئې لیدنې ته چمتو یاست چې لاړ سو؟ ومې ویل: باید له ډاکټر شرق څخه اجازه واخلم. زما دا خبره د هغهٔ په مزاج ښه ونهٔ لگېدله. ودرېد او وئې ویل: که داسې وي نو هېر په هېر، تېر په تېر. وخت پای ته ورسېد. باید لاړ سو.

سیاسنگ: وروستنۍ پوښتنه: له هغهٔ پېژاند/ شناخت څخه چې تاسو ئې د افغانستان د خلق ډیموکراټیک گوند له مشرانو څخه لرئ، د خیبر د ژوند او مرگ په هکله د کتاب د لیکلو لپاره له چا څخه مرسته وغواړم؟

جلالر: په افغانستان کې سیاسي چاپیریال او فضا په داسې یوهٔ حالت کې ده چې که له هر چا څخه د مرستې غوښتنه وکړئ نو لومړی ئې د خپل ځان له ستروالي او د خپل شخصیت له بې گناهۍ پیلوي او بیا د خپلو سیاسي سیالانو په محکومیت او ملامتۍ ورځي. په پای کې خیبر د تېرو څلویښتو کالو په شان یو ځل بیا په حاشیه کې پاتې کېږي.

ښایي دا خبره مې مخکې کړې وي خو بیا ئې هم وایم چې: د ډیموکراټیک گوند د واکمنۍ په پېل کې د گوندي مشرانو گډ عیش او نوش او بیا د گوند د واکمنۍ تر وروستۍ ورځې پورې د هغوی ډله ییز سکوت، د خیبر ددوستانو او دښمنانو پېژندل ډېر پېچلي کړې دي. هغوی چې تر پرون پورې ئې د خپل گوندي ملگري د ترور کېدلو مسؤولیت ان مصلحتاً د اسلامي گوندونو او یا د داؤود د دستگاه په غاړې پورې ونهٔ تاړهٔ، نن د غالبوزو په شان خپل نومونه د خیبر په شهرت پورې تړي او یو بل د هغهٔ په قتل تورنوي. له داسې یوې فضا څخه به څه شی تر لاسه سي؟ (۲۰۱۹ز کال، د آگست شلمه)



Photo credit: M.K. Jalallar – family album

## آیا خیبر شوروي ته تللی وو

(د جنرال قادر سیاسي خاطرات)

ډاکټر پرویز آرزو: تاسو ورو ورو شوروي ته د تګ لپاره چمتو کېدی.

جنرال قادر: (د ۱۹۵۰ لسیزې پای؟) یوه ورځ وویل سول چې د ترکیې ولسمشر جمال ګورسل راځي. (زما ټولګیوال) فضل احمد وویل: راځه چې لاړ سو! وګورو چې څرنګه سړی دی. ولاړو او د کابل هوټل مخامخ ودرېدو. عسکرو، د ښوونځیو زده کوونکو او عادي وګړو د پښتونستان د څلور لارې پر خوا د هوټل مخې ته کتارونه جوړ کړي ول. مور ته ډېره په زړهٔ پورې وه. د هغې ورځې په سبا ئې مور د شوروي پر لور الوتنه درلوده. ما وویل: فضل احمده ! سبا ته الوتنه لرو راځه! چې لاړ سو. بلا ورپسې هر څوک چې دی وي دې. معلومه نهٔ ده چې کله به راځي. مور په همدغو خبرو کې وو چې یو چا زما پر اوږې لاس کښېښود. «شـپو» خولۍ ئې پر سر وه او د بالاپوښ ګریوان ئې پورته وو. له مور څخه ئې وپوښتل چېرې ځئ؟ ورته مې وویل: شوروي ته د تحصیل لپاره. وئې ویل: هی هی هی! څومره نېکمرغه کسان یاست. ما زښته ډېره هیله درلوده

خو ونهٔ سول. ورځئ. په مخه مو ښه سه. ړاندهٔ ځئ خو ببرته په سترګو بینا راسئ. کاڼهٔ ځئ خو ببرته په غوږونو جوړ راسئ.

دی څوک وو؟ ظاهراً یو عادي سړی وو. فضل احمد راته وویل: څه چې ځو. خدای ښهٔ پوهېږي چې کوم جاسوس دی، هر څه چې ده وي دي. کالیو ته ئې ګوره! څه چې ځو.

څو کاله وروسته کله چې د دوهم ځل لپاره د پیلوټۍ په رشته کې د تحصیل د دوام لپاره شوروي ته روان وم هماغه سړی مې په الوتکه کې ولید. پیلوټ انعام الحق ګران وو. هغه مې پېژاندهٔ. څو ځله ئې مېلمه کړی وم، کور ته ئې ورغلی وم. کله چې د کابل له سره تېر سوو ګران د پیلوټ له کابین څخه راووت. غوښتل ئې د الوتکې د کنترول لپاره د الوتکې پای ته ورسي. کله چې د مسافرینو له منځه تېرېدهٔ سترګې ئې پر ما ولګېدلې. وئې ویل ! تهٔ هم په دې الوتکه کې ئې؟ زه خبر نهٔ وم. راځه چې د پیلوټ کابین ته لاړ سو. راځه زموږ خر له خپل آس سره مهٔ پرتله کوه! کابین ته لاړو. د ترانسپورتي الوتکې د هدایت په کابین کې دوه پیلوټان، یو کشاف او د الوت یو انجنیر کښېنې. ګران د الوت انجنیر ته وویل: تهٔ شا ته لاړ سه پرېږده چې دی کښېني چې وګورئ موږ له دهٔ څخه کوم شی کم لرو. تر څنګ ئې د الوتکې مېلمه پالې ته وویل چې: د مېلمه لپاره یو شی راوړه. هغه لاړه او خوراک څښاک ئې راوړ. ما ورته وویل: دلته ئې نهٔ خورم. غواړې د پیلوټۍ پرنسیپ تر پښو لاندې کړې؟ ګران وویل: نو څه کوې؟ ورته مې وویل د الوتکې په سالون کې خپل ملګري ته ورځم. له هغهٔ سره ئې یو ځای خورم. مېلمه پالې ته ئې وویل: هر چېرې چې غواړي هماغلته ئې مخې ته ورته کښېږده. له هغهٔ وروسته خپل ځای ته راغلم. یو چا له شا راناري کړې. «نوش ِ جانِ شما!» ورته مې وکتل. په ملکي جامو کې یو سړی وو. په چورت کې لاړم چې څوک دی. هغهٔ ته مې وویل تاسو هم اشتها لرئ؟ ځواب ئې راکړ: که راته برابره سي ولې نهٔ؟ کله چې زما سترګې ورباندې ولګېدلې، ګورم چې د سړي څېره راته آشنا ښکاري. ورته مې وویل: وبخښئ! فکر کوم تاسو مې کوم چېرته لیدلي یاست. خو نهٔ پوهېږم چېرته! وئې ویل: زه خیبر یم. میر اکبر خیبر. دا نوم ما اورېدلی وو. ورته مې وویل: زموږ سترګې دې روښانه وي. فکر کوم تاسو مې مخکې لیدلي یاست. په یاد مې راغلل. دی هماغه سړی وو چې د کابل د هوټل مخې ته ئې موږ ته وویل: «ړاندهٔ ځئ، بینا راسئ. کاڼهٔ ځئ، په غوږو روغ راسئ.» ما او خیبر تر تاشکند پورې له یو بل سره خبرې وکړې.

آرزو: د تورکیې ولسمشر جمال ګورسل کابل ته روان وو. خلک د هغهٔ د لیدلو لپاره د لارې په اوږدو کې ولاړ ول. تاسو او فضل احمد هم. هماغلته مو د لومړي ځل لپاره له خیبر سره ولیدل.

جنرال قادر: هو. د هماغې ورځې په سبا ئې موږ شپېته تنه شوروي ته روان وو، موږ په کتار کې ولاړ وو. د دفاع د وزارت پر لور پلي روان وو. د لارې په اوږدو کې یو شمېر محصلین وتښتېدل.

آرزو: کولای سو ووایو چې د غوایي د اوومې مقدمات د ۱۹۷۷ز کال وروستیو ته ورګرځي.

جنرال قادر: موږ ته ابلاغ سول چې که داؤود د ګوند پر مشرتابهٔ باندې فشار راوړي او یا ورته ضربه ورکړي نو هر ډول نظامي اقدام د سیاسي بیرو له پلوه د تأیید وړ دی. دا هغه وخت وو چې خیبر وژل سوی وو. د پنجشبې ورځ وه. هوایي ځواکونو ته ورغلی وم. د ماسپښین یوه یا دوې بجې وې، د هوایي ځواکونو د استخباراتو مدیر قاسم یو ناڅاپه زما دفتر ته راغی او وئې ویل: « زه له مکروریانو څخه دېخوا ته راروان وم. د مطبعې له مخې تېرېدم. د سړک پر غاړه ویالې ته نېږدې یو څوک په ګولۍ لګېدلی وو او پر ځمکه پروت وو.» زه کله نا کله شک کوم او فکر کوم چې رسولي په دې ترور کې ونډه درلوده او ښایي قاسم دا کار کړی وي. ځکه چې قاسم، رسولي او نجیب – د رسولي زوم ته – ډېر نېږدې سړي وو. پر هغهٔ باندې مې شک راغی. ډېر وارخطا وو. پینځلس یا شل دقیقې تېرې سوې. یو چا چې د هوایي مدافعې د قوماندانۍ په مخابرې کې کار کاوهٔ، د خیبر د ډلې سړی وو ما ته په وارخطایۍ راغی او وئې ویل: زما رهبر ئې وواژهٔ. ومې ویل: څوک ئې وواژهٔ؟ وئې ویل: خیبر ئې وواژهٔ.

آرزو: یو شمېر خلک د خلق جناح د خیبر په ترور کې تورنوي.
جنرال قادر: زه په واقعیت نهٔ پوهېږم. د رسولي او قاسم په هکله ما وویل چې شک لرم. له دې چې ما د قاسم وارخطایي ولیدله او له شلو دقیقو ورسته بل څوک راغی او د خیبر د قتل خبر ئې راووړ. دا سړی په ټولنه کې په کیڼ لاسي مشهور وو. پخوانی صاحب منصب وو. د هغې ورځې په سبا ئې چې ازموینه ئې ورکړې وه او باید دیپلوم ئې اخیستی وای، د کور خوا ته د تګ تکل کوي خو کور ته د تللو اجازه نهٔ ورکول کېږي. خیبر د اعتراض په ژبه حکومت په شاهي بې عدالتۍ او استبداد تورنوي. په پای کې خیبر د زندان تورو کوټو ته بیول کېږي. درې کاله بندي وو. له زندانه له خلاصون وروسته د پولیسو په اکاډیمۍ کې ئې درس ولوست او د هماغې اکاډیمۍ استاد سو. ورپسې د ډیموکراټیک ګوند موضوع رامنځته سوه. ویل کېدل چې خیبر د کیڼ لاسو د تاوتریخوالي مخالف وو. د هغهٔ او کارمل تر منځ هم په ګوند کې دننه سیالي او د نظر اختلاف شتون درلود. ما دا خبرې اورېدلې دي. زه په خپله نهٔ پوهېږم چې لیاقت ئې په کومه کچه وو. خیبر په دې باور وو: له دې چې د ګوند په کړنلاره کې د پارلماني ځواک د جوړېدلو موضوع یاده سوې ده، نو قدرت ته د رسېدلو لپاره باید د پارلماني مبارزې له لارې ټینګار وکړو.

هر گوره! خیبر ووژل سو. خاورو ته د خیبر د سپارلو په ورځ د گوند مشرتابهٔ ستر لاریون په لاره واچاوهٔ. گوند اعلان وکړ چې نوره د سیاست پرده څیرل سوې ده او داؤود خیبر وژلی دی. د گوند مشرتابهٔ زندان ته وغورځېد. له گوند سره زما ارتباطی راته راغی. امین چې د خلق او د پرچم (؟) عمومي نظامي مشرتابهٔ په لاس کې اخیستی وو، هدایت ورکړی وو چې هغهٔ پلان دې پلی سي چې د گوند له وحدت وروسته د اسدالله سروري په کور کې جوړ سوی وو. پرېکړه وسوه چې د داؤود ټغر دې نور ورټول سي. د گام اوچتولو لپاره په بیړه کولو کې زموږ یو دلیل دا وو چې اسلام پالو ډلو د داؤود د رژیم د پرځولو لپاره هم هڅې کولې. موږ مجبور وو د هغوی د اقدام د مخنیوي لپاره، مخکې له مخکې گام اوچت کړو او یو کار وکړو.

آرزو: تر هغهٔ ځایه چې ما لوستلي او اورېدلي دي، خیبر د گوند پر وحدت ټینگار کاوهٔ؛ خو ویل کېږي چې کارمل وحدت ته چنداني لېوالتیا نهٔ ښودله. ښايي په دې اړه دوه دلیلونه راوشمېرو. لومړی په متحد گوند کې د هغهٔ دریځ. د کارمل دریځ له تره کي وروسته په دوهمه درجه کې وو. دوهم: ښايي په دې خاطر هم وي: له دې چې د پرچم جناح د داؤود خان په دوران کې په نظام کې ښهٔ دریځ درلود او ان په کابینې کې ئې نفوذ درلود. ویل کېږي چې خیبر، کارمل گواښلی وو چې که د گوند په نهٔ وحدت نور ټینگار وکړي، نو دی به نور ورسره په گوند کې پاتې نهٔ سي. دغه فشارونه ددې لامل سول چې کارمل دې تره کي ته د نېږدې والي غاړه کښېږدي. د خیبر ترور د تأریخ یوه مبهمه پېښه ده. آیا له تره کي سره د اتحاد لپاره د کارمل د نالېوالتیا دلیل، د داؤود خان په نظام کې د پرچم د جناح دریځ وو؟

جنرال قادر: لومړی خبره دا ده چې د گوند په وحدت کې کوم عامل ونډه درلوده؟ شک نهٔ سته چې شورویان ول. شوروي نهٔ سوای کولی دا کار مستقمیماً تر سره کړي، بلکه د خپلو اقمارو له لارې – د هندوستان او عراق – د کمونیستو گوندونو له لارې ئې دا کار کاوهٔ. دغو دواړو گوندونو د ډیموکراټیک گوند په وحدت کې خپله اغېزمنه ونډه درلوده. دوهمه موضوع د کارمل او خیبر اړیکې دي. ویل کېدل چې خیبر د کارمل په پرتلې، په ټولو مسائلو کې پراخ نظر درلود. البته د خلق او د پرچم د دواړو جناح گانو د اتحاد په مسئلې کې او د خیبر پر ډېر ټینگار ډاډه نهٔ یم. خیبر له لایق او نجیب سره نېږدې اړیکې لرل. لایق او خیبر له یو بل سره خپلوي درلوده او نجیب د خیبر وفادار شاگرد وو. هغه اختلافات هم چې نجیب له کارمل سره پیدا کول، احتمالاً خیبر ته د نجیب د وفادارۍ له کبله ول. په گوند کې دننه د نجیب جناح، د خیبر جناح وه. د خیبر له مړینې وروسته، نجیب ډېره هڅه وکړه چې ژر تر ژره دې په هغهٔ ځای کې چې خیبر وژل سوی وو، یو یاد ځلی ودان کړي. خو کارمل به خنډونه رامنځته کول. زه به تاسو ته یوه خاطره ووایم: وروسته له دې چې له زندانه خلاص سوم، کارمل راڅخه وغوښتل چې هره ورځ سهاري ورته ورسم، د سهار چای ورسره یو ځای وڅښم او په

حرم سرای کې دننه سره یو ځای وګرځو. زه به هره ورځ ورتلم. یوه ورځ سهار کله چې ګلخانې ته نېږدې ورسېدم، ومې لیدل چې کارمل له یوهٔ اووهٔ لس- اتلس کلن ځوان هلک سره یو ځای ګرځي. زه چې نېږدې ورغلم، کارمل له هغهٔ هلک سره خدای په اماني وکړه. کارمل ته مې وویل: اوس دې نوی ملګری پیدا کړی دی له هغهٔ سره ګرځې؟ وئې ویل: نه! دا د خیبر زوی دی. ما فکر وکړ همدا چې دا هلک ئې حرم سرای ته دننه نهٔ غوښتی او په ګلخانه کې ئې ورسره لیدلي دي دا له هغهٔ سره د کارمل د سرېښت نښه ده. یعنی لا تر دې دمه ئې د خیبر غوټه/ عقده په زړهٔ کې پاتې وه.

آرزو: مګر خیبر تر وروستۍ سلګۍ پورې پرچمي پاتې سو.
جنرال قادر: زه نهٔ پوهېږم چې تر پایه پرچمی پاتې سو که نه، خو د پرچمي په نوم ووژل سو. معلومه نهٔ ده چې چا وواژهٔ. خو زما په باور، خیبر د یوې توطئې له کبله ووژل سو.

آرزو: خیبر د پرچم د جناح نظامي مسؤول او امین د خلق د جناح نظامي مسؤول وو. د هغهٔ نظري اختلاف له کبله چې خیبر له کارمل سره درلود، د خیبر ځای نور احمد نور ونیوهٔ.

جنرال قادر: هو. سمه ده. نور احمد نور او وکیل.

آرزو: ډېر ښهٔ. امین د نور «احمد نور» په پرتلې ډېر فعالیت درلود. آیا کېدای سي دا پایلنیوی وکړو: له دې چې امین د نور «احمد نور» په پرتلې، چې لومړی د خلق د جناح نظامي مسؤول او دوهم د پرچم د جناح نظامي مسؤول وو، ډېره وړتیا درلودله او دا ددې لامل سول چې خلقیان په وسله وال ځواک کې ډېر نفوذ تر لاسه کړي او د پرچم جناح حاشې ته ولاړه ؟

جنرال قادر: خیبر په خپل نوښت سره او یا د کارمل د غوښتنې پر بنسټ د پرچم له نظامي څانګې څخه لېرې سو. کارمل مجبور وو چې خپله نظامي څانګه یا په خپله او یا د خپل کوم ډاډمن سړي په وسیلې په لاس کې ولري. له همدې ځایه ول چې د پرچم نظامي جناح ضعیفه سوه. ځکه ګن شمېر هغو کسانو چې له خیبر سره اړیکه درلوده ونهٔ غوښتل له کارمل سره اوسي او د ګوند د وحدت پر مهال د شوروي په امر ئې ځانونه لېرې ونیول. دا چې شوروي په خیبر اعتماد درلود که نهٔ؟ په دې نهٔ پوهېږم.
آرزو: تاسو خو شوروي ته د سفر پر مهال خیبر یو ځل په الوتکې کې لیدلی وو. دا په دې معنی نهٔ ده چې خیبر شوروي ته تګ راتګ درلود؟
جنرال قادر: هو ما ولید. خو له خیبر سره د کارمل اړیکه او دا مسئله له سیاسي اړخه یوه معمی ده.
آرزو: ویل کېږي چې د ګوند په پورتنیو پوړیو کې، خیبر یوازینی تن وو چې د کودتا له لارې د رژیم له بدلون سره ئې لېوالتیا نهٔ درلوده.

جنرال قادر: ښايي همداسې وي.
آرزو: ما په څو ځايونو کې دا مطلب لوستی دی. ستاسو په خبرو کې هم راغلي دي.
جنرال قادر: زما باور هم همدا دی.
آرزو: خیبر د... له لارې آرامو بدلونونو ته...
جنرال قادر: پارلماني بدلونونو....

آرزو: پارلماني مبارزه او بدلون ته د ټولنې چمتو کول. فکر نهٔ کوئ یو له هغو دلایلو څخه چې خیبر د شوروي له پامه وغورځي تدریجي بدلونونو ته د خیبر باور وو او....

جنرال قادر: هو. دا چې د کارگر د طبقې په انقلاب ئې باور نهٔ درلود.

آرزو: نو په دې صورت کې ایا دا پایلنیوی نهٔ سو کولی چې شوروي د اکتوبر د انقلاب په شان انقلاب ته لېوالتیا درلوده او په پای کې خیبر د شوروي له پامه....

جنرال قادر: غورځېدلی وي.

آرزو: هو. په همدې دلیل دی چې خیبر دې د شوروي له پامه غورځېدلی وي؟ اوس نو که همدا فرضیې سمې وي، باید ومنو چې د غوايي د کودتا پلان دې د شورویانو له پلوه تأیید او د خیبر قتل دې هم په دې مسئلې کې بې ارتباطه نهٔ وي.

جنرال قادر: ان که امین په یوازې سر «د غوايي د کودتا – ژ» تصمیم هم نیولی وي، نهٔ سي کېدای چې شورویان دې ورڅخه بې خبره وي. سیاسي بیرو تصمیم ونیوهٔ چې که د گوند مشرتابهٔ ونیول سي نو نظامیان دې د عمل نوښت په لاس کې واخلي. ما امین ته وویل: ما ته سند راکړه. امین وویل: تهٔ له ما او له سیاسي بیرو څخه سند غواړې؟ دا په دې معنی وه چې کله چې سیاسي بیرو داسې تصمیم نیولی وي نو کوم سند ته اړتیا نهٔ سته. د شوروي سیستم، ډیموکراټیک سنټرالیزم وو. ډیموکراټیک گوند هم دغسې یو سیستم درلود. په ډیموکراتیک سنټرالیزم کې، د ډیموکراټیک کلمه یوازې یو سمبول دی. دا مرکز دی چې وروستنۍ پرېکړه کوي او هېڅ څوک د څون او څار حق په کې نهٔ لري. له ډیموکراټیک گوند سره د شوروي د نظام اغېز او اړیکې ته په کتنې، دا چورلټ ناشوني ده چې د گوند سیاسي بیرو دې کومه پرېکړه کړې وي او شوروي دې ورڅخه بې خبره وي. زه په دې نهٔ پوهېدم. زه په هاغهٔ وخت کې نوی د گوند غړی سوی وم او د گوند په څلورمې یا پینځمې پوړۍ کې وم. نهٔ د مرکزي کمیټې غړی وم او نهٔ د سیاسي بیرو غړی وم. که په شوروي کې هم د چا تر پام لاندې وم هغوی هم اصلي تصمیم نیوونکي نهٔ ول. دوی د کوزنیو پوړیو خلک ول.

آرزو: د میر خیبر په هکله له خبرو څخه دا جاج اخیستی سو چې احتمالاً نهٔ شتون ئې د گوند په تضعیف په ځانگړې توگه د پرچم د جناح په تضعیف واوښت.
جنرال قادر: زښت ډېر. نهٔ یوازې احتمال بلکه چورلټ سمه خبره ده.

آرزو: ویل کېږي چې د خیبر له ترور یوه شپه مخکې، خیبر له عبدالقدوس غوربندي سره وو.
جنرال قادر: زه خبر نهٔ لرم. دا چې خیبر له چا سره وو، اصلاً خبر نهٔ یم.
آرزو: هر گوره، د خیبر قتل ډېر مبهم پاتې سو. یو شمېر کسان امین تورنوي.
جنرال قادر: ډېر احتمال لري.
آرزو: یو شمېر رسولي؟
جنرال قادر: هو رسولي هم تورنوي.
آرزو: یو شمېر نور د شوروي د پښو پل په دې پېښې کېویني. تاسو کومه انگیرنه ډېره محتمله گڼئ؟

جنرال قادر: پر دغو څلورو- پینځو انگېرنو سربېره کېدای سي یو بل عامل هم وي. په سیاست کې د دوست او د دښمن بحث نهٔ سته. د سیاست بنسټ گټې دي. کله چې یو څوک یوهٔ سیستم ته ننوځي ان که حساس دریځ هم و لري، وتل ورڅخه کېدای سي له خطره ډک وي، ځکه کېدای سي مهم اسرار له ځان سره ولري. کله چې پرېکړه وسي چې دغه سړی نور د کار سړی نهٔ دی، یا زموږ په درد نهٔ لگېږي نو نهٔ سي کولی هغه همداسې تش ئې خوشي کړي او آزاده ئې پرېږدي. له دې چې اسرار ورسره دي نو باید له منځه یوړل سي.

ښایي خیبر په څو حساسو مراجعو کې حساس دریځ/ پُست درلودلی وي. شوروي، امریکا – چین په هغو کې کومه څرگنده ونډه نهٔ درلوده – انگلیس، پاکستان. دا ټول محتمل دي. احتمال ځي چې د خیبر دریځ/ پُست کوم مهم پُست وو.

آرزو: ستاسو موخه له فعال پُست څخه څه ده؟
جنرال قادر: زما موخه، د جاسوسۍ په سیستم کې حساس پُست ده. د جاسوسۍ په سیستم کې، که اوس هغه آزاد او په خپل سر پرېږدي.... مثلاً د پخواني شوروي له KGB څخه یو شمېر کسان وتښتېدل او امریکا ته لاړل. کتابونه ئې ولیکل او رسوایي گانې ئې رامنځته کړې. اسرار ئې افشاء کړل. هغه اسرار چې یوازې د لومړیو او دوهمو پوړیو کسان وربانديې خبر ول. اوس د داسې یو چا لپاره چې د افغانستان په شان یوې ټولنې لپاره غوره سوی وو، کوم کار ئې سر ته رسولی وو څنگه کېدای سوای چې هغه آزاد پرېږدي. باید له منځه ئې یوسي. که امریکا استخدام کړی وي، نو امریکا ئې باید له منځه یوسي. دې ته وایي استخدام. استخدام کېدای سي له دوه یا له دریو خواوو څخه وي. په کارمل یا تره کي باندې د شورویانو محاسبه په دې خاطر وه چې هغوی تر یوې کچې په مارکسیزم – لینینزم معتقد ول. کارمل په مارکسیزم – لینیزم باور درلود. هرکله چې هغه ته نوره اړتیا نهٔ وه هغه ئې ونهٔ واژهٔ خو له صحنې څخه ئې لیرې کړ.
(دغوره سویو پوښتنو غورچاڼ د خاطرات سیاسي د کتاب له ۴۹ تر ۲۱۵ پاڼو پورې)

**څو یادداشتونه** (سیاسنګ)

۱. د پورتني روایت پر بنسټ، هغه دوه پورتنۍ ځمکنۍ او هوایي لیدنې یو بل ته زښت ډېر او د پام وړ ورته والی لري. په دواړو کې خیبر د قادر شا ته ولاړ وو، دواړه ځله ئې په خپله غوښتي داسې سیاسي بحث وکړي چې پېژندګلوي ئې ورسر نهٔ درلوده او د خپل هویت دریځ تر پوښتنې لاندې راولي.

۲. "پنجشبې وه. زه هوایي ځواکونو ته ورغلی وم. د ماسپښین یوه یا دوې بجې وې. د هوايي ځواکونو د استخباراتو مدیر قاسم په وارخطایۍ زما دفتر ته راغی او وئې ویل: له مکروریانو را روان وم. د مطبعې له مخې تېرېدم. د سړک د غاړې ویالې ته نیږدې یو څوک پروت وو چې ګولۍ ورباندې لګېدلې وه." /.../ له شلو دقیقو وروسته یو بل څوک راغی او د خیبر د قتل خبر ئې راووړ."

آیا " د پنج شبنې د ماسپښین د یوې یا دوه وو بجو" برجسته کول د روایت د منل کېدلو لپاره راغلي دي؟ موږ به ومنو چې که مدیر قاسم ان د اپریل د اولسمې په بل سبا ئې قادر ته ګزارش ورکړی وي، بیا هم پنج شنبې نهٔ سې کېدای، ځکه چې خیبر د دوشنبې د ورځې په ماښام وژل سوی وو. آیا جنرال قادر له سې شنبې او چهارشنبې وروسته، او په کابل کې د جنازې او فاتحې په مراسمو سربېره له هغهٔ لس – دولس زره کسیز مارش څخه هم خبر نهٔ وو چې میر اکبر خیبر وژل سوی دی؟

۳.: جنرال قادر، د تورکیې ولسمشر د جمال ګورسل په نوم یادوي او کابل ته د راتګ نېټه ئې ۱۹۵۷ز کال ښیي. نهٔ یوازې په ۱۹۵۷ بلکه په ۱۹۵۸ او ۱۹۵۹ز کلونو کې د هغهٔ هېواد ولسمشر جلال الدین بایر وو. ګورسل په ۱۹۶۰ز کال کې ولسمشر سو. کابل ته ئې سفر له ۱۹۶۰ز کال مخکې د منلو وړ نهٔ دی.

## د دوه وو خبرو اترو لړۍ

(سلیمان لایق او نور احمد نور)

غرزی لایق: داستان یو ځل بیا ووایاست او د ۱۳۵۷ل کال د وري د میاشتې په ۲۳ یا ۲۴ چې سیاسي بیرو ته د حفیظ الله امین د ارتقاء موضوع په کې مطرح سوې وه، ووایاست.
سلیمان لایق: په دې ناستې کې د ملګري میر اکبر خیبر د قتل مسئله هم ارزول کېږي. د حقایقو یو اړخ همدلته پروت دی. کله چې د خلق او د پرچم د دوه وو جناح ګانو

وحدت رامنځته سو، د یوۀ سند پر بنسټ تره کي د دواړو جناح ګانو له لوري د بلامنازع رهبر په توګه ومنل سو او د افغانستان د خلق ډیموکراټیک ګوند رهبر سو. د کارمل او تره کي تر منځ مذاکرات سوي ول. موږ کارمل اړ ایست او ومو ویل چې موږ د وحدت موضوع د بیرو په کچې نۀ مطرح کوو. تاسو په خپله انشعاب کړی دی، لطفاً لاړ سئ وحدت وکړئ.

غرزی: دا چې وایاست د وحدت له تر لاسه کېدلو وروسته، کارمل دوهم منشي سو، سمه نۀ ده؟

لایق: قطعاً سمه نۀ ده. تره کي نۀ منله. شرط ئې ایښی وو چې دوهم رهبر باید نۀ وي؛ پرته له هغې زه وحدت نۀ کوم. موږ د افغانستان په کچې واحد ګوند وو. کارمل په خپل حق او پوزیشن Position [موقف] قناعت نۀ کاوۀ. له خپل حق څخه ئې پورته حق غوښت. د خواجه عبدالله انصار په وینا «عیب ما در آن است که از وقت پیش می خواهیم و از حق بیش // زموږ عیب په دې کې دی چې له وخته مخکې او ډېره ئې غواړو.» په کارمل تور ولګول سو چې که غواړئ بنسټیز وحدت رامنځته سي نو دوهم رهبر باید شتون ونۀ لري. له همدې کبله کارمل په سیاسي بیرو کې پاتې سو،ځکه موږ ئې تر همدې کچې زغملی سو. دا چې دوهم فرد دې سي، له وحدته وروسته موضوع ده. د وحدت په سند کې راغلي دي چې تره کي بلامنازع رهبر دی. موږ دا سند لاسلیک کړ او سوګند مو وخوړ چې په خپلې ژمنې وفاداره پاتې کېږو. دا چې خلک وایي دوهم سړی دی [کارمل – ژ] وو، دا د کارمل له ځانګړتیا وو څخه دی. کارمل خپلې ګټې د ګوند تر ګټو، د هېواد تر ګټو، او د افغانستان د ولسونو تر ډله ییزو ګټو غوره ګڼلې او خپل ځان ئې مطرح کاوۀ. له پاڅون وروسته یو له بدبختیو څخه دا وه چې کارمل غوښتل د موازي رهبر په توګه وپېژندل سي. داسې نۀ سوای کېدای.

غرزی: د استاد خیبر قضیه؟

لایق: د سیاسي بیرو وروستۍ غونډه د تره کي په کور کې وسوه. فکر کوم د ۱۳۵۷ل کال د وري د میاشتې ۲۳ یا ۲۴ نېټه وه او له معمول سره سم، نوبتي غونډه وه. موږ د مطروحه آجندا پر موضوعاتو بحث درلود. سهار مو پیل کړې وه او د ماسپښین دوه یا دونیمې بجې پای ته ورسېدله. په دالان/ دهلیز کې مو تګ ته چمتووالی نیوۀ او خپل بوټان مو اغوستل. تره کي له کوټې راووت او وئې ویل: غوښتل مې یوه بله موضوع په آجنډا کې شامله کړم خو زما له یاده وتلې وه. اوس مې په یاد راغله. مهمه ده، راځئ چې په دې هکله هم خبرې وکړو. موږ ټول بېرته لاړو او پر خپلو ځایونو کښېناستو.

د غونډې نصاب پوره وو. د واحد ګوند د سیاسي بیرو ټولو لس تنو غړو پینځو تنو: خلقیانو [تره کي، شاه ولي، زیری، میثاق او پنجشیری] او پینځو تنو پرچمیانو [کارمل، کشتمند، نور، بارق او لایق] د غونډې غړیتوب درلود.

تره کي وویل: حفیظ الله امین تل مراجعه کوي او وایي چې په سیاسي بیرو کې باید ومنل سي. د تره کي منطق دا وو چې امین ګوند ته ډېر خدمات کړي دي او اوس د ګوند

نظامي برخه – د خلق د جناح برخه – چې لا تر اوسه د پرچم له نظامي برخې سره نهٔ ده توحید سوې، هم د هغهٔ په واک کې ده. دغهٔ سازمان پخوا درې برخې درلودلې او هره برخه ئې د درې تنو – میثاق، زیري او امین – تر نظر لاندې وه. امین غوښتنه کړې چې ښايي پېښې رامنځته سي او د پېښې په ورځ د درېواړو برخو توحید ګران دی. (وئې نهٔ ویل د کودتا لپاره، خو اوس ئې بوی راځي، یعنی په نظر کې ئې وه.) نو وروسته موږ دغه برخې د امین تر نظر لاندې توحید کړلې. اوس د نظامیانو برخه د امین په لاس کې ده. که ئې غوښتنه ونهٔ منل سي او د سیاسي بیرو غړیتوب تر لاسه نهٔ کړي نو مأیوسه کېږي. امین یوه بله ځانګړتیا هم لري چې کولای سي په خپل سر تصمیم ونیسي. داسې نهٔ سي چې مأیوسه سي او د عُقدې له مخې کوم عمل ته لاس واچوي او موږ له تر سره سوي عمل سره مخامخ کړي. د تره کي د خبرو معنی دا وه چې ښايي کودتا وکړي او خپل ماهیت مطرح کړي او زیاته ئې کړه: امین بد سړی نهٔ دی، فعال دی. راځئ د ټولو احتمالاتو او امکاناتو په پام کې لرلو سره هغه د سیاسي بیرو په غړیتوب ومنو.

په دې پسې ئې یوه بله تبصره هم وکړه او وئې ویل: ښايي پرچمیانو ته چې ټول په واحد ګوند کې راټول سوي یو تشویش او اندېښنه پیدا سي چې ګڼي خلقیان یو ځل بیا غواړي خپل ځان اکثریت جوړ کړي او موږ تصفیه کړي. ددې لپاره چې دغه اندېښنه هم له منځه لاړه سي راځئ چې میر اکبر خیبر هم راولو. مهم، اغېزمن او پوه شخصیت دی. (د خیبر ستایل ئې ډېر وکړل). هغه به راولو چې د خلقي او پرچمي موازنه برابره سي. ښايي له هغهٔ څخه به وغواړم چې له امین سره نېږدې اړیکي ټینګې کړي. په ضمن کې ممکنه ده چې د امین یو شمېر "اضافه رَوي ګانې" هم د خیبر په وسیلې کنترول کړو.

لنډه دا چې د تره کي خبرې دا وې: له دېخوا امین راولو او له هغې خوا خیبر. د سیاسي بیرو د غړو شمېر دولس تنو ته رسوو. تره کي پوښتنه وکړه:ملګرو؟ ستاسو نظر څه دی؟ له تردید او تبصرې پرته د ټولو لاسونه د تأیید په معنی پورته سول. تره کي وویل: ښه سوه چې ستاسو تأیید مې تر لاسه کړ، خو فیصله به اوس نهٔ کوو. خیبر راغواړم، ځکه چې هغه ستر شخصیت دی او مخامخ خبرې به ورسره وکړم. وګورم چې سیاسي بیرو ته راتګ ګټور ګڼي او مني ئې که ئې نهٔ مني. ورپسې ئې کارمل ته وویل چې: خیبر ستاسو ملګری دی. هغهٔ ته خبر ورکړئ او ورته ووایاست چې په پلانکۍ ورځ راسه ( ساعت او تأریخ ئې هم یاد کړ خو زما په حافظې کې پاتې نهٔ ده) یعنی دا چې راتلونکې غونډې ته دې خیبر راسي، موږ هره اونۍ په منظم ډول دا غونډه درلودله. کارمل دا دنده په خوښۍ او ورین تندي ومنله.

تره کي په دې خبرې خبر نهٔ وو چې د خیبر او کارمل تر منځ اړیکي د پخوا په شان د ورورۍ او دوستۍ اړیکي نهٔ دي او ترمنځ ئې جدي تقابل موجود دی. البته، دا تقابل د

کارمل له لوري له دښمنۍ ډک وو خو د خیبر له لوري مخاصمانه نهٔ وو. کارمل نهٔ غوښتل وحدت رامنځته سي ځکه چې په ګوند کې دوهم تن نهٔ وو سوی. کارمل وحدت په خپل خیر نهٔ بلکه د خپلو شخصي ګټو مغایر ئې انګېرهٔ. کارمل دا خبره په خولهٔ نهٔ راوړله، خو داسې طرحې ئې ورکولې او د خپلو فرکسیونونو په کړیو کې به ئې مطرحه کولې چې دا ښهٔ کار نهٔ دی. کارمل فرکسیون باز وو. خیبر به لیدل، اورېدل به ئې او مخالفت به ئې کاوهٔ، ویل به ئې: د وحدت چانس باید اخلال نهٔ سي. ددوی دواړو تر منځ مناقشه ډېره جدي سوې وه ان تر دې کچې چې له یو بل سره ئې خبرې نهٔ کولې. خیبر د کارمل د لیدلو زغم نور نهٔ درلود.

غونډه پای ته ورسېده. زموږ اکثریت پخواني پرچمي ملګري د دهمزنګ له لوري خپلو کورونو ته تلل. خلقیان په بلې خوا لاړل. په دې حال کې کارمل نور طاقت رانهٔ وو او وئې ویل: ملګرو! تاسو دا خاین له خپلو خاینانه طرحو سره ولید؟ تره کی هره ورځ د توطئې په فکر کې دی. کارمل د تره کي له وړاندیز سره اختلاف نهٔ بلکه مخاصمت څرګند کړ. البته چې کارمل مبالغه وکړه. ما ولیدل چې لا تر اوسه د وحدت په سند کې زموږ د لاسلیکونو رنګ نهٔ دی وچ سوی نو ومې ویل: کارمل صاحبه! داسې خبرې دلته ولې اوس کوئ؟ ولې مو په غونډه کې تأیید کړه؟ هماغلته به دې مطرح کړې وه او استدلال به مو کړی وو. دا خبره وحشتناکه ده. موږ څوک یو؟ د وحدت مدافع خو تاسو واست. لنډه دا چې موږ دواړو ډېر پرخاش وکړ او هغه پخوانی د ملګرتوب مخه او رعایت هم له لاسه لاړ. له هغې وروسته، زه ورځخه جلا سوم او "د افغان ستر پلورنځي/فروشګاه بزرګ افغان" سیمې ته راورسېدم. له دې چې زموږ کور په کارتهٔ پروان کې وو، په ښاري بس کې کښېناسم. ستړی او ستومانه کور ته ورسېدم او د شپې تر نهو بجو پورې مې یو شمېر کارونه وکړل او لیکنو ته مې رسېدګي وکړه.

د ټیلیفون زنګ راغی. غوږی مې پورته کړه. د خیبر غږ وو. وئې ویل: یو ضروري کار دی. راځئ که درسم؟ له دې چې هغهٔ فاضل، عالم، ملایم او هېواد پال سړی وو او د عمر له اړخه تر ما مشر هم وو نو معمولاً به مې هغهٔ ته ډېر امتیاز ورکاوهٔ. خیبر زموږ په منځ کې په سیاست کې برکت او حیثیت وو. ورته مې وویل: دغه ده درځم. په ټکسي کې تر مکرورویانو پورې لاړم. له ستړي مهٔ سي وروسته مې ورته وویل: شپه ناوخته ده. زه مو څنګه وغوښتلم؟ کوم امر او فرمایش وي، راته وواياست. وئې ویل: بارق شفیعي راغلی وو او د کارمل له خولې ئې وویل: خیبر صاحبه! زه او تهٔ د پخوا وختونو وروڼه او یو تن او روح یو. له یو بل څخه مو لږ لږ ګیلې کړې دي، خو موږ دواړه یو تن او یو وجود یو. خبر اوسئ چې سیاسي بیرو ته ستاسو غوښتل کېدل یوه توطئه ده. له تاسو غواړم چې تره کي ته مناسب او پرېکنده منفي ځواب ورکړئ. تره کي ته وواياست چې نهٔ غواړئ سیاسي بیرو ته لاړ سئ. دا یوه توطئه ده.

غرزی: توطئه په دې خاطر چې امین سیاسي بیرو ته راروان وو؟

لایق: راز له کارمل سره وو. دا چې څه ئې غوښتل موږ نهٔ پوهېږو. هغه توطئه گر وو او دا هغه خبرې دي چې اورېدلي مو دي او پوهېږو چې تاریخ ته امانتي خبرې دي. دا چې د کارمل باطني قصد څه وو ددهٔ په باطني نړۍ پورې ئې اړه لرله. ما له خیبر څخه وپوښتل: بارق ته مو څه وویل؟ وئې ویل: لومړی خو مې هغهٔ ملامت کړ چې تر پرون پورې کارمل ستا رهبر وو او امرونه ئې تا منل. اوس هم تهٔ او هم هاغه دواړه د سیاسي بیرو غړي یاست نو ولې مو د بل چا پیام ما ته راووړ؟ له دې چې تره کي له هغهٔ څخه غوښتي دي چې پیام راته راوړي نو په خپله باید راغلی وای. تهٔ ولې د قاصد په شان د کارمل امرونه اجراء کوې؟ اوس ئې تر لاس لاندې نهٔ ئې، لاړ سه کارمل ته ووایه چې د گوند بولندوی او د سیاسي بیرو د صلاحیت څښتن تره کی دی نو له دې چې د هغهٔ له خوا بلل سوی یم، ورځم. دا نورې خبرې چې د گوندي تگلارې او د گوند د اصولو خلاف دي نهٔ منم او تره کي ته ئې وایم. تهٔ هم کارمل ته ووایه چې نور داسې هدایات صادر نهٔ کړي.

ومې پوښتل: استاده! آیا وډار سوئ؟ وئې ویل: دا د ډار خبره نهٔ ده، خو په وروسته پاتې هېوادونو کې د همداسې لوبو عواقب کېدای سي خطرناک اوسي. موضوع مهمه ده او ما مهمه وگڼله. ښه به دا وي چې یو شریف شاهد هم ولرو چې پوه سي څه پېښ سوي دي.

ما فکر وکړ چې استاد خیبر بې موجبه خبره لویوي خو ورپسې پېښو وښودله چې د هغهٔ لید لوری صحیح وو. سره له دې چې زه په خپله له کارمله گیله مند وم ما ډېره تبصره ونهٔ کړه او کور ته ستون سوم. مخکې مې له استاد سره بحث کړی وو، زه حیران وم چې له کارمل سره څه وکړو. تقوا نهٔ لري، درواغ وایي، دوکه باز او چال باز دی، معلوماتي ژورتیا نهٔ لري کټ مټ د یوهٔ Showman [د سټېج د مخې هنریال] په شان خواري کاږي (هڅې کوي) چې یو شمېر کسان تر خپل طلسم لاندې راولي. ما وویل: کوښښ به وکړو چې د هغهٔ پر ځای یو سالم رهبریت رامنځته کړو، خو خیبر د خپلو دلایلو پر بنسټ تر خپل حمایت لاندې نیوهٔ.

ما خیبر ته ځکه ډېر درناوی درلود چې د افغانستان په تأریخ کې یو بې تکراره شخصیت وو، خود گذري ئې درلوده، هېڅکله ئې د خپل ځان په اړه فکر نهٔ کاوهٔ او په بشپړ ډول د کارمل برعکس وو. کارمل پر ځان مین وو، خیبر په ولس او پرگنو مین وو، کارمل تورې او باټې ویشلې او خیبر ریالیست وو، انقلابي کلان کارۍ او انقلابي نمایي ئې نهٔ درلوده.

کور کې وم. شپه تېره سوه. سهار مهال د نهو بجو په شاو خوا کې یو ځل بیا زنگ راغی. په زړو مکرورریانو کې د بازارک آپارتمان له عمومي سکه انداز ټیلیفون څخه اړیکه ټینگه

سوې وه. خیبر وویل: موضوع پرمختګ کړی دی، راځه چې له نېږدې سره وګورو او مشوره وکړو. که درته سخته وي، زه په خپله درځم. ومې ویل: زه ځان تاسو ته در رسوم.

له سلام علیک وروسته ئې وویل: نن نور احمد نور راغلی وو. هماغه د بارق پیغام ئې تکرار کړ او زیاته ئې کړه چې کارمل صاحب جدي سپارښتنه کړې چې دغهٔ خاین تره کي، د قبیلې دغې منفي ښکارندې/ پدیدې ته منفي ځواب ورکړئ تر څو پوه سي چې تاسو دغه توطئه درک کړې ده. ما وپوښتل: کومه توطئه؟ تشریح ئې نهٔ کړه او وئې ویل: کله چې مور وایو دا توطئه ده، یعنې دا چې په رښتیا یوه توطئه ده. ما نور «احمد نور» ته خپله هماغه مخکینۍ خبره وویله چې که دا خبره نامعقوله وه نو ولې دې د سیاسي بیرو په هماغې غونډې کې مطرح نهٔ کړه؟ کارمل ددې صلاحیت نهٔ لري چې د ګوند د رهبر د تکل/ ارادې ضد اوسي. زه په خپله د خپل ځان په هکله تصمیم نیسم. تاسو ما ته هدایت مهٔ راکوئ. هیله کوم بېرته لاړ سئ. نور «احمد نور» جدي سو او وئې ویل: خیبر صاحبه! که داسې کار وکړئ، تاسو ته خطرناکه تمامېږي. پوښتنه مې وکړه: کوم خطر؟ ولې خطرناکه؟ وئې ویل: دا کومه ساده مسئله نهٔ ده. په دې لاره کي به خپل سر له لاسه ورکړې، یعنې وبه وژل سئ. ومې پوښتل: څوک به ما ووژني؟ نور «احمد نور» وویل: " دا زهٔ. دا زهٔ." خبرې مو پای ته ورسېدلې او ووت. قضیې تر دې ځایه پرمختګ کړی دی او په نامطلوبه لور روانه ده، بیا مې هم وغوښتل چې په منځ کي دې یو شریف شاهد وي. له دې چې نور «احمد نور» په سیاسي بیرو کې تر ټولو ځوان وو او د ځوانانو په شان به هسکه غاړه روان وو، نو له ځان سره مې وویل: هغهٔ یوه اضافي خبره کړې ده او نباید جدي وانګېرل سي.

زه کورته لاړم او فکر کوم دوه ورځې ورسته خیبر د مطبعې د دیوال شا ته ووژل سو. خیبر د عادت له مخې مازیګري د ګرځېدلو لپاره له کوره دباندې وت، کله به ان تر نوي ښار او باغ ِ بالا پورې روان وو او د عامې روغتیا له څلور لارې او د مکروریانو له پلهٔ څخه به تېر سو. هغه ورځ غوربندي هم ددهٔ لیدلو ته ورغلی وو. ښایي په هماغه ورځ خیبر د غوربندي تر کوره پورې تللی وي او هغه ئې تر کوره پورې رسولی وي او له بل لوري یوازې راغلی وو. دا چې ولې له کارمل څخه د غوربندي، او له غوربندي څخه د کارمل بد راتلل، دلیل ئې دا وو چې کارمل څو څو ځله دا خبره کړې وه چې: غوربندي خیبر خرڅ کړ اووئې واژهٔ. اوس په دې هکله د غوربندي په اړه ډېر تبصره نهٔ لرم. غوربندي د خیبر د مرید په شان وو. د مرګ تر شپې پورې د خیبر پر وړاندې د هغهٔ ارادت او اخلاص بدل نهٔ سو. ناممکنه ده چې غوربندي دې قاتل اوسې او یا دې قتل ته زمینه برابره کړې وي. ښایي په خپله کارمل صاحب غوښتل په یوهٔ غیشي دوه مرغۍ وولي.

د شپې مهال وو چې د ټیلیفون زنگ راغی. غوږۍ مې پورته کړه. وئې ویل: پولیس یم. خیبر وژل سوی دی. له دې چې تاسو د هغهٔ خپلوان یاست غواړم تاسو راسئ. زما مېرمنې وویل: که هغه ئې وژلی وي نو تا هم وژني. په دې پلمې تاسو هم غواړي چې ورسئ او ومو وژني. ما په ځواب کې وویل: لایق کور کې نهٔ سته. زوی ئې دلته دی. که غواړئ هغه به درولېږم. له هغهٔ وروسته تاسو [غرزی لایق] ولاړئ، هر څه دې له نیږدې په خپلو سترګو ولیدل او موږ ته دې خبر راکړ چې خیبر کاکا ئې د «مطبعې - ژ» جادې په غاړه کې وژلی دی. قتل د کارمل او نور «احمد نور» د صلاحیت په حدودو کې ترسره سوی او عملي سوی دی.

غرزی: تاسو وویل چې خیبر له تره کي سره د تصادف له مخې لیدلي ول. دا خبره سمه ده؟

لایق: سره له دې چې د سیاسي بیرو له غونډې وروسته خیبر له تره کي سره ونهٔ لیدل، خو قصه ئې وکړه چې څو ورځې مخکې ئې یو بل د منډوي مخې کې لیدلي ول. تره کي، خیبر ته ویلي ول چې غواړم تاسو او امین د سیاسي بیرو غړیتوب ته راپورته کړم.  د وحدت او هم د ګوند د راتلونکي لپاره سیاسي بیرو ته ځکه پراختیا ورکوو چې د ګوند د ملاتړ لپاره مهم کار دی. د خیبر او د تره کي د خبرو جزئیات او د تفصیل اجزا مې په یاد نهٔ دي.

غرزي: په ګوند کې دننه دا ویل کېږي او پوښتنه کوي چې هر هغهٔ څه چې ستاسو په ذهن کې ول او ورباندې پوهېدئ، ولې مو دباندې نهٔ دي را ایستلي؟ ولې؟ ګنې دا چې په موقع نهٔ دي مطرح سوي؟

لایق: د خلقیانو او پرچمیانو وحدت زښت ډېر مهم وو. د وحدت کال لا پوره سوی نهٔ وو چې دولت ئې اشغال کړ.  دغه کودتایي پاڅون، د ګوند پاڅون نهٔ وو. خلک په غلطه پوه سوي دي. پاڅون، د حفیظ الله امین پاڅون وو. په یوازې سر ئې تصمیم ونیوهٔ چې په خپلو وسلوالو ځواکونو باندې دولت راوپرځوي، دقیقاً هماغه خبره سوه چې تره کي ئې مخکې له مخکې اخطار ورکړی وو. دا چې ولې ګوند د کودتا تر شا ودرېد او د دولت بنسټ ئې کښېښود ځکه وو چې بل چانس ئې نهٔ درلود. داؤود خان د خپل رعب، سوابقو او په ټولنه کې د شخصیتي انعکاس له مخې له خپلې کودتا وروسته یو ضعیف دولت درلود کټ مټ لکه د شګو د دیوال په شان. څو تنه احساساتي ځوانان ئې پر ځان راټول کړل او د خپل دولت بنسټ ئې کښېښود. خپله کورنۍ ئې پر ضد وه. خلک دودیز او سلطنت پرسته ول، خلک  د چا په خبره " پادشاه، د خدای سیوری"، ورڅخه ناراضه ول. داؤود پیاوړی بنسټ نهٔ درلود، نو ځکه ئې ونهٔ سوای کولی تر ډېره پاتې سي. په یوهٔ فشار سره وځپل سو او پر ځمکه کښېناست. ګوند د امین د کودتا تر شا له درېدلو پرته  بل هېڅ چانس نهٔ درلود. مجبور وو یو شی جوړ

کړي. څه به ئې کړي ول؟ آیا موږ کولی سوای بل دریځ ونیسو چې ګوند مخکې له وخته Involve [دخیل] نۀ سي؟ ګوند د دولتي واکمنۍ لپاره په داسې حالت کې واقع وو چې په خپله ئې سیک او قوت نۀ درلود، ټوله ډډه او تکیه ځای ئې د افغانستان او د شوروي اتحاد په دوستۍ وو. شورویانو زموږ په یو شمېر رهبرانو - د کارمل په ګډون- هم اعتقاد نۀ درلود ځکه هغوی فکر کاوۀ چې دوی خورده بورژوا ګان دي او ځانونه ئې په انقلابي ګوند پورې نښلولي دي. په داسې کودتا کې چې پایله ئې د خلق د ډیموکراتیک ګوند په واکمنۍ واوښتله ښایي د خیبر د مرګ motif [ټکان] هم مرسته کړې وي. له قراینو داسې ښکاري چې حفیظ الله امین هم یوۀ motif ته اړتیا لرله چې پر بنسټ ئې وکولای سي پوځیانو ته وایي چې پورته سئ. تره کي ئې زنداني کړی وو. په هغۀ ډول چې د خیبر د جنازې لمانځنه وسوه، هلته تېروتنې هم په کې وسوې. د داؤود په حکومت کي دننه ښې لاسو داسې غوښتنه وکړه: " ژر ئې ونیسه، وهه ئې، بندي ئې کړه او وئې وژنه" په لومړیو کې زړۀ نا زړۀ وو خو کله چې خپله وروستۍ پرېکړه ئې وکړه او مشران ئې زنداني کړل نو پاڅون وسو.

ولې مې افشاء نۀ کړه؟ دا خبرې مې چې مخکې نۀ وې ویلي دلیل ئې دا وو چې ما دا خبره مصلحت ګڼله. که خبره افشاء سوې وای، خلقیانو او پرچمیانو د سترګو په رپ کې یو بل خوشې کول او په ګوند کې دننه اختلافات جدي کېدل. نوی پاڅون سوی وو، او له دې چې د پایښت لپاره ئې کومه guarantee [ضمانت] نۀ درلودله نو خبره ژر تر ژره شنډېدله، په پایله کې ټولنه د انارشیزم پر لور خوځېدله او هغه مهال بیا ټولول ئې ګرانېدل. دا چې سمه ده که نا سمه دا خبره ما مصلحت ګڼله.

په دې کې هېڅ شک نۀ لرم چې د خیبر قتل، د ګوند له منځه تر سره سوی دی. ما په خپلو سترګو نۀ دي لیدلي چې نور«احمد نور» یا کارمل یا کوم بل چا دې ورباندې ډزې کړې وي. خو پخواني سوابق مې چې پورته یاد کړل سړی تفکر ته مجبوره کوي. په دې معنی چې دوی په کې involve وو/ ښکېل وو. که ئې «لاس –ژ» نۀ درلود نو ولې ئې په عصبانیت او ټینګار خیبر ته ویلي وو: ستا دغه کارونه به ستا د قتل موجب او د مرګ سبب وګرځي؟

وروسته چې ما پلټنه وکړه، ومې موندل چې زموږ په ګوند کې دننه د ګوند له ارادې دباندې، په ټاکلي سویو افرادو او ټاکل سویو کړیو پورې اړوند نور کوچني ګوندونه او واړۀ واړۀ فرکسیونونه موجود وو. ان ما واورېدل چې زموږ په ګوند کې دننه او زموږ د تشکیلاتو په منځ کې، یو مخفي پینځۀ کسیز تروریستي سازمان هم وو چې یو شمېر رهبرانو د ټاکلو مسایلو د حل او فصل لپاره دغه سازمان جوړ کړی وو- تر څو – ددغۀ او هغۀ په وژلو سره – خپل پروګرامونه پرمخ یوسي. زه تر اوسه مشخصاً دې پایلې ته نۀ یم رسېدلی چې څوک دي. زه ددې کړۍ د موندلو په لټه کې یم. زه هیله مند یم چې

د ګوند غړي دا مسئله بوی/استشمام کړي او پلټنه وکړي ترڅو دا غوټه نوره خلاصه سي. ښايي موږ ان تر مشخصو قاتلينو پورې ورسېږو چې چا په خيبر باندې ډز وکړ. دغه پينځۀ تنه څوک ول؟ که پينځۀ تنه نۀ ول، شپږ تنه، دوه تنه، درې تنه ول، خو هېڅ شک نۀ لرم چې دا قتل د ګوند له منځه تر سره سوی دی. دا چې وروسته حزب اسلامي او جمعيت اسلامي د کوچنيو سيمه ييز شبنامو په خپرولو سره د خيبر د قتل مسؤوليت پر غاړه واخيست، بل دليل لري. هغوی نوي پاکستان ته کډوال سوي ول او له پاکستان سره ئې نوې سياسي معاشقه پيل کړې وه. نو له دې کبله ئې داسې وښودل چې ګڼې موږ وژلی دی او دا هم زموږ لاسته راوړنه. زما باور نۀ کېږي چې هغوی دې وژلی وي او يا ئې د [خيبر د قتل نقشې ته] لاسرسی لرلی وي.

## د نور احمد نور غبرګون

(۲۰۲۱ ز کال د اپريل ۲۶)

قدير فضلي: ګران ملګری نور احمد نور! زموږ د ګوند د سياسي بيرو د وروستۍ غونډې په هکله، چې د غوايي له انقلاب مخکې، د مير اکبر خيبر له شهادت مخکې جوړه سوې وه، سليمان لايق له خپل زوی سره د يوې مرکې په ترڅ کې داسې خبرې کړي چې له شک پرته د توضيح وړ دي. که تاسو په دې هکله کوم مطالب ولرئ نو د پېرزوينې له مخې ئې ووایاست.

نور احمد نور! ګران ملګری فضلي! ستاسو له راتګ څخه مننه کوم. ډېر خوښ يم هغه مطالب مو طرح کړل چې نغوته مو ورته وکړه. له دې چې د سياسي بيرو نوم او د سياسي بيرو غونډه ياده سوه مجبور يم د سياسي بيرو د غړو له منځه شاهد راوړم چې ووايم قضيه څنګه وه. په دې اړوند يو شمېر مطالب مې راټول کړل. موضوع ته له اشارې مخکې، يوازې يوه جمله لرم: د سليمان لايق مرکه مې واورېدله. په ريښتوني معنی fantasy [وهم] دی. هېڅ سړی باور نۀ سي کولی چې څنګه ئې دا وړتيا موندلې چې تر دې اندازې درواغ او جعل او ناسمې ادعاوې په دومره جرئت سره ووايي.

د افغانستان د خلق ډيموکراټيک ګوند د ګوندي چارو د پرمخ بيولو لپاره لازم ارګانونه جوړ کړل. د هغو اصل او بنسټ د وحدت په لاسوند کې ياد سوی دی. له هغې ډلې څخه، هغو ارګانونو چې د مرکزي کميټې د دارالانشاء تر مشرتابۀ لاندې کار کاوۀ لکه د ګوندي وحدت د توحيد او انسجام کميټه، د پوځي چارو کميټه، د مرکزي کميټې د تفتيش کميسيون، د ګوند مالي کميسيون، د تيورۍ او زده کړو کميسيون او...... دغه پينځه يا شپږ ارګانونه د سياسي بيرو او د مرکزي کميټې د غړو له ترکيب څخه جوړ او په خپلو دندو بوخت سول.

د وري په میاشت کې او له هغۀ مخکې، په خواشینۍ چې د محمد داؤود نسبتاً تحول پاله لېوالتیا هم ډېره بدله سوې وه. ښي لاس ته ئې لېوالتیا ډېره سوې وه. گوند په ستونزمن دریځ کې واقع سوی وو. په همدې اړوند، د تشکیلاتي اړتیا پر بنسټ زموږ غونډې موقوته غونډې وې، یعنی ویل به مو چې دا اونۍ د دارالانشاء غونډه ده، پلانکۍ ورځ د تدارک د کمیسیون غونډه یا د سیاسي بیرو غونډه ده. په دغو گواښونو، تعقیباتو او ان ځرگندو پارونو چې زه کولی سم بېلگه ئې د ملگري صالح محمد زیري په کتاب کې وښییم او دا هم ووایم چې په ډېرې بې شرمۍ تر سره سول، مجبور سوو چې موقوته غونډې په غیر موقوته غونډو بدلې کړو. یعنې موږ به له یو بل سره لیدل، ناستې به مو کولې او وخت به مو وټاکه چې زموږ بله غونډه دې په کومه ورځ او چېرته اوسي. کارونه په دې ډول پرمخ تلل.

موږ تجربه کړې ول، یعنې د بېلتون/ انشعاب په لسو کلونو کې مو زده کړي ول چې غونډې ځنگه پر مخ وړل کېږي، ځنگه جوړېږي، باید د کومو فاکټونو، ارقامو، احصائیو او اطلاعاتو پر بنسټ کولی سي آجنډا ولري. لومړی د مرکزي کمیټې دارالانشاء به خپل ارگانونه مؤظف کړل چې د بحث وړ مسایلو په هکله معلومات ورکړي، هغه و ارزوي، تحلیل ئې کړي او د هغو شیانو د حل لپاره گام اوچت کړي چې په دوی او دارالانشاء پورې ئې اړه لرله. هغه شیان چې دوی نۀ سوای کولی حل کړي هغه دې سیاسي بیرو ته یوسي. وروستنۍ غونډه – تاسو چې د سیاسي بیرو وروستنۍ غونډې ته اشاره وکړه، له هغې مخکې – د ملگري خیبر له شهادت مخکې د وري په میاشت کې جوړه سوه. د مرکزي کمیټې دارالانشاء ما او ملگري شاه ولي ته دنده وسپارله چې د وحدت د لړۍ او دا چې په ملکي ډگر کې د گوندي غړو سازماني وحدت کوم حالت ته رسېدلی دی وگورو. دوهمه مسئله ئې هم مطرح کړله چې وڅېړو د گوند په نظامي سازمان کې اړوند تشکیلاتي وحدت، ځرنگه پرمخ ځي او اوس ځرنگه دی. په مخکینې غونډې پورې د اړوندو اقلامو په منځ کې یو قلم ئې د مې د میاشتې د لومړۍ ورځې په مناسبت د مارش او د میټینگ لپاره چمتووالی وو.

ما او ملگري شاه ولي په غونډه کې گډون وکړ. له دې چې موږ د ملکي چارو د توحید او انسجام د کمیټې مسؤولیت پر غاړه درلود، نو لومړی ما گزارش ورکړ او ومې ویل: د ملکي ژوند په هکله د وحدت لړۍ په ټول هېواد کې د گوندي حوزو له ټیټو پوړیو ځخه د ولایتي کمیټو تر ټولو لوړو پوړیو پورې په ډېر عالي شکل سره د اعتماد د ټینگښت د لاسته راوړلو، او د ملگرتوب او د فکري یووالي د ټینگېدلو پر لور پر مخ ځي. دوهمه خبره: زه او ملگری شاه ولي په نظامي کمیټې کې په نظامي چارو بوخت وو. ملگري شاه ولي هم گزارش ورکړ. ما تأیید کړه چې په خواشینۍ سره په نظامي ډگر کې ستونزې لرو. په توحید پورې اړوندې چارې یا تشکیلاتي وحدت د امین له لوري د بېلابېلو پلمو او خنډونو په راوړلو سره له ستونزو سره مخامخ دي. ځو پاڼې وې چې یوه کاپي ئې له

ملگري شاه ولي سره وه او يوه کاپي ئې له ماسره دا مو دارالانشاء ته وړاندې کړې او هلته مو وويل چې دا په داسې رمز ليکل سوي دي چې د لوستلو وړ نۀ دي. هغه شمېرې چې د اردو په قطعاتو، واحدونو او جزوتامونو کې موجودې وې موږ وکولای سول تثبيت کړو چې په څرنگه دقيقاً واحدې سي. له دې کبله ددې موضوع په هکله له حفيظ الله امين سره په ستونزه کې يو.

د مې د مياشتې د لومړۍ ورځې په هکله کومه خبره نۀ وه، يوازې دومره خبره وه چې سياسي بيرو ته دې ولېږل سي او ارزونه دې وکړي. سياسي بيرو ته د يوۀ ښۀ زيري په توگه د ملکي سازمانونو د تشکيلاتي وحدت خبر ورکړل سو. ددريم ټکي په هکله  چې په نظامي چارو پورې اړه لري، د مرکزي کميټې دارالانشاء تصميم ونيو. وئې ويل: ددې مسئلې په هکله بايد له سياسي بيرو سره مشوره وکړو چې د حل لاره ورته ومومو.

د سياسي بيرو په غونډه کې همدا درې ټکي مطرح سول. لومړی د سياسي بيرو ټول ملگري چې لس تنه ول، ددې خبرې په هکله خوشحالي څرگنده کړه او وئې ويل: له نېکه مرغه په ملکي ډگر کې وحدت په ښۀ ډول پر مخ ځي. د مې د مياشتې موضوع ملگري تره کي ياده کړله: له دې چې د غواړي تر يولسمې وخت لرو نو هماغه وخت به ئې مطرح کړو او بله غونډه به ونيسو. څکه موږ بايد وگورو چې اطلاعات موږ ته څه وايي. آيا کولی سو، يا نۀ سو کولی، که ئې کولی سو بايد کومه بڼه ئې غوره کړو؟ اوس راځئ چې د نظامي وحدت خبره مطرح کړو.

کله چې غونډه جوړه سوه، لومړنۍ مسئله د نظاميانو د وحدت په هکله وه. په آجنډا کې لومړی ملگري پنجشيري وار ونيوۀ. هغه د امين او د پلان د وزير خُرَم د قتل په قضيې کې د امين د کړو  وړو په هکله گزارش ورکړ چې هغوی د يوې اونۍ لپاره کندز ته تللي ول. لايق د تفتيش د چارو د همکار په توگه، ملگری پنجشيری د تفتيش د چارو د رئيس په توگه او نظام الدين تهذيب چې د مرکزي کميټې غړی وو، په کندز پورې د اړوندو چارو مسؤوليت پر غاړه درلود. د يوې اونۍ په لړ کې ئې ډېر مواد راټول کړل. هغۀ قصه وکړه چې په دې قضيې کې د امين پښه ښکېل ده.  له همدې ځايه ئې خولۀ خلاصه کړه چې امين ماجرا پال دی، مخه ئې بايد ونيول سي، بايد مجازات سي او نور دې وربانديې اعتماد ونۀ سي. له پنجشيري وروسته نورو ملگرو وار ونيوۀ. د تره کي د رأيې په گډون د رأيو په اتفاق سره ئې تأييد سوه چې نظامي چارې دې له امين څخه واخېستل سي او له مرکزي کميټې دې وشړل سي ترڅو په نظامي چارو کې د ډېرو احتمالاتو په لرلو او په ځانگړې توگه په نظامي چارو کې د خنډونو په رامنځته کولو کې ئې لاس په بشپړ ډول پرېک سي. دا خبره ومنل سوه. ملگري پنجشيري وويل: ټول موافقت لري. ملگري کريم ميثاق کاغذ را وايست او پوښتنه ئې وکړه: د مصوبې مسوده چمتو کړم؟ ټولو وويل: مهرباني وکړئ. ميثاق وليکل او مصوبه چمتو سوه.

هغهٔ دا خبره مطرح کړه چې د همدغو انحرافاتو او څه او څه او څه چې د سیاسي بیرو په غونډه کې مطرح سول، د رأیو په اتفاق سره پرېکړه وسوه چې امین د مرکزي کمیټې له غړیتوب څخه اخراج او په نظامي چارو کې د دندو له پرمخ بیولو څخه دې گوښې سي. ټولو وویل: د همدې مصوبې په تأیید سره زموږ لاسونه پورته دي. ملگري تره کي – په همداسې یوې فضا کې چې ټولو تأیید کړه- په ډېر صمیمانه ډول او دعذر او غوښتنې په وړاندې کولو سره وویل: زه دا مصوبه منم خو ما ته وخت راکړئ. ځکه هغه نظامیان چې د نورو په لاس کې ول ما په خپله امین ته معرفي کړي دي؛ یو څه وخت ته اړتیا لرم ترڅو هغوی قانع کړم او پوه سي چې ما تصمیم نیولی دی. هماغسې چې ما امین ورته معرفي کړی وو، غواړم هغوی ته ووایم چې له دې وروسته امین ستاسو مسؤولیت پر غاړه نهٔ لري.

په دې توگه غونډه پای ته ورسېده او هغهٔ وخت وغوښت. ملگري کارمل په ډېر واقع بینانه ډول تأیید کړه او وئې ویل: ضرور ده چې دا خبره دې په مصلحت سره حل سي ترڅو د گوندي غړو ضایعات ونهٔ لرو. په هغهٔ ډول سره چې ملگري تره کي ویل او ټول ملگري ورسره متفق القوله دي، دا کار دې په همدې ډول سره تر سره سي. وبه منو چې دا ټکی به نهٔ اجرایي کوو. البته ټولو وویل چې تأیید سوې مصوبه صحیح ده.

په دغو کتابونو کې ما یو ځای لوستي دي: کله چې موږ له غونډو ووتلو، په ځانگړو او په پولیسي غړونو موتران بې موجبه دې خوا او هاخوا تېرېدل. ملگري زیري هم په خپل کتاب کې لیکلي دي. کله چې راټول سول، ټولو ته د اختناق، رسوایيې او گواښ یوه وضع وه. منظور مې دا دی چې هغه خبرې چې لایق کړي دي ټولې درواغ او fantasy دي. څنگه کولی سي داسې یو کار وکړي؟ په داسې یوهٔ گوند کې چې له بنسټ ایښودلو څخه ئې دیارلس کاله تېر سوي ول، آیا دا ممکنه ده چې عمومي منشي دې په داسې وخت کې چې په اصطلاح ټولو خپل د بوټانو بندونه تړل غړ وکړي او وایي: هلکانو! بېرته راسئ یوه خبره مې په یاد سوه؟ کومه خبره ئې له یاده وتلې وه؟ سیاسي بیرو ته د دوه وو تنو د غړیتوب خبره، عمومي منشي خو پوهېده تر څو ددې خبرې وړاندیز د دارالانشاء له لوري ونهٔ سي او سیاسي بیرو له مرکزي کمیټې سره یو ځای وربانډې تصمیم ونهٔ نیسي، نهٔ سي کولی چې پورته راسي. دا د تشکیلاتي چارو الفبا ده. په دې توگه د لایق ادعا چورلټ درواغ ده.

ملگری پنجشیری لیکي: کله چې – د خرم د وژل کېدلو – په هکله د حفیظ الله امین پارونکې توطئه د کنترول د کمیسیون له لوري کشف سوه، له ځنډ پرته، له مرکزي کمیټې او په لومړي سر کې د مخفي نظامي سازمان له مشرتابهٔ څخه د هغهٔ د شړل کېدلو موضوع تر بحث لاندې ونیول سوه. له مرکزي کمیټې څخه د حفیظ الله امین د شړل کېدو د مصوبې طرحه د سیاسي دفتر په یوې غونډې کې د کریم میثاق له پلوه

لیکل سوې ده. تره کی او کارمل د مصوبې د صدور مانع سول. تره کي د حفیظ الله امین د شړل کېدلو مصوبه په دې لیل شا ته وغورځوله چې د یوې میاشتې په ترڅ کې د امین تر واک لاندې د اردو لوړ پوړي افسران او د پوځي سازمانونو د مشرتابهٔ عناصر د هغهٔ له نفوذ څخه راوایستل سي. تر دې ځایه مو درې شاهدان دروښودل.

د سیاسي بیرو د غړي ملګري زیري د ۲۰۰۵ز کال لیکنه هم سته. هغه وایي: «مسئله په سیاسی بیرو کی مطرح شوه. یو شمېر ملګرو ته د تفتیش د کمیسیون لخوا د جزاو پیش نهاد شوئ و، په اکثریت او یا په اتفاق ومنلئ شو. له ګوند څخه د امین د ایستلو پر مسئله هم رای ګیری وشوه. د سیاسی بیرو د لسو غړو له جملی څخه شپږو غړو له ګوند څخه د امین د ایستلو په اړه رایه ورکړه». (په دې ډلې کې ملګري تره کي او ملګري کارمل رأیه ورکړه چې مصوبه صحیح ده، خو وروسته ئې عذر وغوښت چې مهٔ ئې پلې کوئ، هماغسې چې مخکې مې هم وویل.) په دغه وخت کی تره کي امین ته د جزا ورکولو په اړه مخالفت کول، خو د سیاسی بیرو پرچمی اړخ زیات اصرار کاوه او ویل یې که جزا ورکول کیږی نو باید استثنا وجود ونلری. تره کی نه قانع کېدئ او ویل یې چه دغه مهلت ورکړل سی». (یعنی مخالفت نهٔ لري خو مهلت دې ورکړل سي) «چه خپل مشکل حل کړي. تره کي تر دغې موضوع پوری هغه ټوکه وکړه چه سړئ...» (عذر غواړم چې پاتې ئې نهٔ سم ویلی ځکه په پښتو کې ډېر بد غبر لري او یو ډول مستهجنه معنی ورڅخه اخسیتل کیږي./ نوراحمد نـور)

د سیاسي بیرو په همدې غونډې کې د سیاسي بیرو غړی ملګری کشتمند هم حضور لري. هغه د خپل کتاب «یادداشت های سیاسي و رویداد های تأریخي» په ۳۲۱ پاڼې کې لیکي: امین په دارالانشاء کې د شاه ولي له لوري مطرح کړې وه چې که د ګوند مشرتابهٔ د دولتي ځواکونو تر برید لاندې راسي موږ باید اجازه ولرو چې همدا د نښو/ نشاني په توګه وګڼو او د خپل ځان د دفاع د حق امر او د نظامي ګام د پېلولو امر واخلو. دا مسئله د مرکزي کمیټې په دارالانشاء کې په پرېکنده ډول رد سوه او وویل سول: دا ناممکنه ده چې ګوند ئې ومني. سره له دې چې پرېکړه سوې وه، بیا هم امین سرغړونه وکړه او یوازې همدا وړاندیز ئې د یو اړخیز دستور په توګه په اردو کې خلقي پوځیانو ته اعلان کړ. په دې توګه، ګوند په یوهٔ تنګ ځای او د تر سره سوې قضیې په منځ کې راګیر سو. دغه کار په سیاسي بیرو کې تر انتقاد او اعتراض لاندې ونیول سو. د امین بې انظباطۍ او نورې لاس اچونې او سرغړونې ددې لامل سوې چې د مرکزي کمیټې د تفتیش د کمیسیون له لوري اخطاري جزا وویني. د جزا حکم د ګوند ټولو سازمانونو ته ولېږل سو او پرېکړه وسوه چې امین دې د ګوند د نظامي غړو په منځ کې د خلقیانو له برخې څخه وشړل سي.

د «چگونه ما به بیماري ویروس A مبتلا گردیدیم» د کتاب په ۱۵۰ پاڼې کې (لیکوالان: Vladimir Snegirev & Valery Samunian) کې راغلي دي: «دا چې اصلي اتل امین وو، هېڅ چا په کې نور شک نهٔ کاوهٔ. هغهٔ په داسې حال کې چې په ټول غرور او ویاړ سره به ئې دنګه غاړه نیولې وه وویل: ټول پوهېږي چې د غوایې اصلي اتل څوک دی. مګر کلونه مخکې، کله چې ملګري تره کي د ګوند مرکزي کمیټې ته زما د غړیتوب وړاندیز وکړ، څوک مخالف ول؟ کارمل! او ملګرو ئې هر ډول هڅې وکړې چې په ګوند کې زما د غړیتوب خنډ وګرځي. ان له انقلاب څخه یوه میاشت مخکې، دغو کسانو یو ځل بیا غوښتنه وکړه چې ما د مرکزي کمیټې له ترکیب څخه دباندې او د ګوند د نظامي سازمان له مشرتابهٔ څخه لېرې کړي. له دغو ټولو څخه څه پایلنیوی کولی سو؟ هغوی د انقلاب پر ضد، د ګوند پر ضد او د ډیموکراټیکو اصلاحاتو پر ضد ول. کارمل او پیروان ئې اوس چېرې دي؟ زه دلته ستاسو مخې ته ولاړ یم، په دولت کې دوهم شخص، د مرکزي کمیټې منشي، وزیر او د صدراعظم مرستیال یم. د شوروي د لومړي لاس مشران او د نړۍ والو کمونیستي غورځنګونو مشران له ماسره لیدهٔ کاتهٔ کوي، ټوله نړۍ ما پېژني.»

هیله مندم اوس خبره واضح سوې وي که زما خبره په ټوله کې د سیاسي بیرو د غونډې په هکله صحیح ده، د لایق خبرې چورلټ درواغ دي. خالص درواغ دي. کله ناکله سړی نهٔ پوهېږي چې ددې خبرې تر شا به څه پېښ سي، دا کار د جاسوسۍ، استخباراتي، نفاق اچوونکی کار دی او داسې یو کار دی چې باید او د یوې موخې په پار باید ترسره سوی وي. هیله مند یم چې درواغجن مخ توري سي. او همداسې به هم وسي.

فضلي: آیا ملګري کارمل په رښتیا غوښتل د ګوند په مجدد وحدت کې دوهم تن اوسي؟

نور: دغه شیان د ګوند د وحدت په سند کې په روښانه لیکل سوي دي،ټول جزئیات ئې د ملګري کشتمند کتاب کې راغلي دي چې مخکې مې یاد کړل. ما وویل چې د همدې دوران ګوندي وحدت هم چې د ۱۳۵۶ل کال د چنګاښ د میاشتې په دولسمې نېټې لاس ته راغی، اصلاً له ۱۳۵۴ل کال را په دېخوا راپېل سوی وو. پرچمیانو په خپلو ټولو هیله مندیو سره غوښتل چې وحدت تر لاسه سي. ملګری کارمل یو شرافتمند او اصول او پرنسیپونو ته معتقد سړی وو. وخت په خپله داسې راغی چې په یوې ځای پرځای ټینګې واکمنۍ کې یو ستر خوځون رامنځته سو چې د «انقلاب ملي/ ملي غورځنګ» په نوم د یوې نوې سیاسي ډلې په وجود کې چې یوازینی ګوند وو او یا ئې غوښتل چې یوازینی ئې جوړ کړي راټول سو. دوی دغه جوړښت قانوني کړ او وئې ویل چې د نورو

ګوندونو ټغر باید ټول سي. یا به همدا ګوند شتون ولري او له موږ سره راسئ او یا دا چې اصلاً تاسو باید او باید محو کړو. تقریباً همداسې یوځه ئې وویل.

ملګري کارمل د پراخ لید - لوري لرونکي انسان په توګه ددغو نښو وړاند وینه کوله. د ۱۳۵۴ل کال کنفرانس جوړ سو او خپل تحلیل ئې شرحه کړ چې موږ د ګوندي وحدت په اړه باید او باید خپلې هڅې ډېرې کړو. د هغهٔ د لارښوونې پر بنسټ د یوهٔ ډېر او لا ډېر مخکښ او ګران ملګري په توګه چې دهٔ په خپله لومړنی ګام اوچت کړی وو، له بېلا بېلو پلاویو سره خبرې اترې وسوې چې په کتابونو کې راغلې دي. د ارواښاد شاه محمد دوست په منځګړیتوب چې یو ډېر ښهٔ او درونند انسان وو، د هغوی په کور کې د ملګري کارمل او تره کي ترمنځ کتنه تر سره سوه او دې پایلې ته ورسېدل چې خبرې اترې باید لا نورې په جدي ډول سره تر سره سي چې وحدت لاس ته راسي. دغه ناستې د ۱۳۵۴ او ۱۳۵۵ل کلونو یعنې د ۱۳۵۵ل کال له منځنیو میاشتو را وروسته پیل سوې. له هغهٔ مخکې بېلابېلې ناستې سوې وې. بالآخره ملګري کارمل د پرچم د جناح سیاسي بیرو او د مشرتابهٔ مقاماتو ته او ملګري تره کي د خلق د جناح سیاسي بیرو او د مشرتابهٔ مقاماتو ته ګزارش ورکړ چې موږ پر دا ډول وحدت موافقت وکړ چې له تشکیلاتي اړخه یو عمومي منشي ولري او له هغهٔ وروسته دې منشیان شتون ولري. دا پرنسیپ ومنل سو چې د رهبرۍ د ټولو مقاماتو شمېر دې جفت وي. یوه څلور کسیزه دارالانشاء او لس کسیزه سیاسي بیرو جوړه سوه. مرکزي کمیټه، د مشترکې مرکزي کمیټې د لسو تنو په ګډون له ۳۰ تنو – ۲۸ اصلي او ۲ علی البدل غړو په لرلو سره جوړه سوه. د ۱۳۵۶ل کال له دولسمې تر ۱۳۵۷ل کال پورې په ټول هېواد کې په ګوندي کمیټو او اړوندو سازمانونو کې هغه څه پېښ سول چې مخکې مې یاد کړل. بشپړ وحدت تر لاسه سو.

فضلي: سلیمان لایق چې له خپل زوی سره مرکه کړې ویلي دي چې د ناستې له پای ته رسېدلو وروسته، د تره کي له کوره دباندې د ملګري کارمل او لایق تر منځ شخړه رامنځته سوه.

نور: دا هغه څه دي چې اوس مې واورېدل. ان رښتیا او په ډېر صمیمانه ډول ئې وایم چې دلته زما خبره د لایق د تخریب لپاره نهٔ ده، ځکه هغه په خپله یوه نړېدلې کنډواله ده. په خواشینۍ چې دغسې شیان له هغهٔ څخه جوړ سوي دي. دا اصلاً د بحث موضوع نهٔ وه. ګڼې کله چې خلقیان پلې پلې لاړل، دغه له هغهٔ ځایه پلی راځي او ځي. یو ناڅاپه د قاري امان نوابي له لوري راځي تر هغهٔ ځایه رارسېږي او له ملګري کارمل سره شخړه کوي او پوښتي: تاسو ولې وویل چې دا توطئه ده؟ اوس غواړم هر چا ته ووایم چې دا له یوې توطئې پرته بل څه نهٔ سي کېدای. که خبره په دې ډول وي، زه ئې شاهد نهٔ وم او هېڅ مې نهٔ دي اورېدلي. نهٔ ملګري کارمل چا ته ویلي، نهٔ پېښ

سوي دي او نهٔ ئې وجود لرلی دی. کله چې ناسته پای ته ورسېده، هر څوک په خپل کار پسې په خپله لار لاړل. زه هم په هماغه ورځ – کله چې ناسته پای ته ورسېده – په کارتهٔ چهار کې د خپل پلار کور ته چې ډېر نبږدې وو، لاړم. نور ملګري هم لاړل.

فضلي: آیا په رښتیا ملګري کارمل غوښتل چې سیاسي بیرو ته د امین په پورته راوړلو سره وحدت له منځه یوسي؟

نور: ملګری کارمل په حقیقت کې د وحدت د رامنځته کولو اتل وو. هغه داسې یو انسان وو چې هر ډول قرباني ته چمتو وو، نهٔ یوازې په دې موضوع کې، بلکه په ټول ژوند کې. هغه څه چې پرنسیپ وو هغه ته د ځان او سر په قیمت چمتو وو. ګوند جوړ سوی دی، ملګري کارمل د وحدت سند لاسلیک کړی دی، د ګوند د وحدت په سند کې د مرکزي کمیټې د دارالانشاء د غړي په توګه، په خپله ئې منلي ول چې په همدې دریځ کې کار کوم، نهٔ د بل چا او نهٔ هم د "ګوند- ژ" ددوهم تن په توګه. ټول راضي دي او د بحث لپاره بله هېڅ پوښتنه نهٔ سته. ولې دې داسې وسي چې دی دې داسې خبره وکړي؟ دا خبره له بیخ او جرړې درواغ ده. ان ما واورېدل چې ګڼې دا کار ئې په دې خاطر کاوهٔ چې وحدت له منځه لاړ سي او ملګری کارمل بېرته رهبر سي. تاسو په خپله فکر وکړئ، هلته وضع هاغسې ده، همدغهٔ ملګري کارمل د دولسو کلونو په لړ کې موږ د وحدت لپاره مؤظف کولو چې له دهٔ سره وګورئ، له هغهٔ سره وګورئ، له دهٔ سره خبرې وکړئ، له هغهٔ سره خبرې وکړئ. دا ټول کارونه د مسؤولیت د احساسولو له کبله ول.

فضلي: آیا تاسو د تره کي د پیام په خاطر، ارواښاد خیبر ته د بارق شفیعي له ورتګ څخه خبر یاست؟

نور: هېڅ خبر نهٔ لرم. د سیاسي بیرو غونډه جوړه سوه. ملګری بارق خپل کور ته راغی. ورغلم او ومې لیدل چې د بحث لپاره هېڅ خبره نهٔ وه. ما هره ورځ له ملګري خیبر سره لیدهٔ کاتهٔ درلودل، ملګري بارق هم ورسره لیدل. ښایي دېرش یا څلویښت متره له یو بل څخه لېرې وو. په هېڅ ډول دا خبره نهٔ وه. که بارق، ملګري خیبر ته ورغلی وي، اصلاً کومه موضوع ئې په منځ کې تر بحث لاندې نهٔ ده راغلې. د امین په هکله زما او د بارق تر منځ هېڅ ډول د نظر تفاوت شتون نهٔ درلود. موږ په یوهٔ کور کې اوسېدو او د امین په هکله، د سیاسي بیرو د غړو په شان په دغو خبرو پوهېدلو. وروسته له دې چې امین واک ته ورسېد، بارق څه وکړل، او ولې داسې وسول، دا هغه شیان دي چې زه وربانديې پوهېږم او هیله مند یم ژوند راسره یاري وکړي د مطالبو جزئیات به شرحه کړم چې ملګري بارق د امین په کور کې د ګوند د کلیزې د لمانځنې په ورځ امین ته څه وویل. اوس ئې دلته محفوظ پرېږدم تر څو هماغه راز له منځه لاړ نهٔ سي. زه به ئې په خپل وخت چې راورسېږي مطرح کړم، هغه هم د هغو کسانو په

شهادت چې ژوندي دي، له نېکه مرغه ملګری کشتمند ژوندی دی، په خواشینۍ چې ملګری زیری او ملګری پنجشیری دواړه ناروغه دي، ډېر ډېر بد ناروغه دي، کاشکې هغوی هم روغ رمټ وای. هغوی ته مو ویل چې آیا د ملګري بارق خبرې مو په یاد دي چې د دسترخوان پر سر چې هغهٔ ډوډۍ تیاره کړې وه، خو هغه به پرېږدم.....

فضلي: د ۱۳۵۷ل کار د وري د میاشتې له ناستې وروسته مو له خیبر سره لیدنه وسوه؟ هغسې چې په ویډیو کې ئې ادعا کېږي، آیا تاسو هغه ګواښلی دی؟

نور: دا نو داسې خبره ده چې ډېره بده ده او ما یو اندازه هیجاني کوي. خو کوښښ کوم چې له هیجاناتو دباندې راووځم. دغه ډول رزیلانه درواغ ما له ژور خپګان سره مخامخ کوي. ملګری خیبر ما ته یو ګران او شرافتمند انسان وو چې د هغهٔ مخې ته چا نهٔ سوای کولی د بې ادبۍ او بې حرمتۍ یو ټکی هم ووایي. لایق وایي چې ما [نور]، خیبر ګواښلی دی. خدای دې نهٔ کوي چې داسې یو شی دې ان د یوهٔ ځل لپاره زما په فکر کې راتېر سي، زه به خپل نسل نسل نفرین کړم، په ماپسې چې کوم نسل راځي نو زما نوم دې بیا یاد نهٔ کړي. زه دا رزیلانه ترین اقدام ګڼم. ویل ئې د تصور وړ نهٔ دي. ما نهٔ سوای کولی هغهٔ ته داسې یو څه ووایم. هغه ما ته د یوهٔ غرهٔ په شان انسان وو او داسې انسان وو چې ما ته ډېر عزیز وو. په دې خبرې ټول پوهېدل چې له ملګري کارمل وروسته ما چا ته ډېر درناوی درلود، دا ملګری خیبر وو. ددې سرچینه په ډېر شیانو کې نغښتې ده: د هغهٔ غمجن ژوند ژواک، له هغې ورځې چې خپله شهادتنامه ئې اخیستله او غوښتل ئې عسکري ته لاړ سي او صاحب منصب سي، زندان ته یوړل سو، څکه چې د محمودي او غبار خپرونو دا خپرول. په زندان کې له ببرک کارمل سره هم – اتاقي سو. له هغو خاطراتو وروسته چې ما د ملګري خیبر په آدرس د ملګري کارمل له خولې واورېدل او... پر ما باندې دا ډول رزیلانه تور ډېر ډېر، د تصور وړ نهٔ دی. زه دا خپل شرف ګڼم. که په ژوند کې څوک له ځمکې او آسمان څخه او ملک او فرشته هم راسي او وغواړي ووایي چې دا قضیه همداسې وه، زه وایم چې درواغ وایي.

فضلي: تاسو د یاد په خیري ملګري ببرک کامل له ډېرو نېږدو ملګرو او دوستانو څخه واست. مهرباني وکړئ د ملګري کارمل د شخصیت په هکله، د ملګرو، دوستانو، د ګوند د پلویانو او هملورو پر وړاندې د ملګري کارمل د "انعطافیت؟ - ژ" په هکله وواياست چې هغهٔ څه فکر درلود. آیا په رښتیا هغه ناوړه خبرې چې توقع ئې نهٔ کېدله، د یوهٔ ادیب، فرهنګي شخصیت، شاعر او هغه هم ملګري او په ګوندي او دولتي دستګاه کې د هغهٔ د همکار – د سلیمان لایق – له خولې د ملګري کارمل په آدرس راووځي چې په دې ویډیو کې راغلې دي.

نور: د هغو ببولالو په اړه چې لایق د ملګري کارمل په آدرس ویلي او سخیف کلمات ئې کارولي دي، کولی سم ووایم چې د کوڅو او بازارونو یو سړی د یوهٔ عزتمند او د حیثیت

خاوند سړي په هکله څه ووایي. د ملګري کارمل روح دې ښاده وي. د هغهٔ په سیاسي پوهې، له سیاست سره تعامل، سیاسي اقدام، پاکې، وفاداري او ژمنې په اړه ویلی سم چې هغه په افغانستان کې د شلمې پېړۍ انسان وو.

فضلي: ادعا کوي چې د سیاسي بیرو غړي په دالان کې د خپلو بوټانو د اغوستلو په حال کې ول او وتل. تره کي صاحب راغی او وئې ویل: هلکانو بېرته راسئ. ټول بېرته ورغلو او وئې ویل: یو نظر شتون لري چې امین او ملګری خیبر دې د سیاسي بیرو غړي سي. آیا شوني ده چې داسې یوه مهمه مسئله دې له آجندا وتلې وي او هېره سوې دې وي؟

نور: زه په همدې دلیل وایم چې درواغ دي. آجندا، یوازې ملګري تره کي نهٔ چمتو کوله، دا جمعي کار وو چې دارالانشاء څه غواړي، د سیاسي بیرو غړي له سیاسي بیرو څخه څه غواړي چې فی المجلس دې مطرح کړي چې د آجندا برخه وګرځي.

فضلي: د ملګري کارمل او ملګري خیبر تر منځ مناسبات څه ډول ول؟

نور: د هغوی مناسبات په هغې سیاسي وینا کې له ورایه ښکاري چې د قبر پر سر ئې ورکړه، چا کولی سوای دغسې ژمنې یادې کړي چې ملګری کارمل څوک وو؟ ان په هماغهٔ کسټ کې په یوهٔ ځای کې راغلي دي کله چې بارق، خیبر ته ورځي، خیبر ته وایي چې ما ته کارمل ویلي چې ته زما ورور ئې، تهٔ زما ملګری ئې، تهٔ زما دوست ئې. دا خبره رد کړه، دا یوه توطئه ده. زه وایم چې په همدې وخت کې هم ان مجبوره سوی چې همدا خبره ورته ووایي. که ملګری کارمل له ملګري خیبر سره په مخالفت کې وو او کوم تفاوت موجود وای او هغه د نظر تفاوت هم زه ستاسو په اجازې، نورو خبرو او مرکو ته پرېږدم، په دې خاطر ول چې په سیاسي نظریو کې یو شمېر تفاوتونه ول. کېدای سي د ګوند د غړو تر منځ نظري تفاوتونه، د ورونو تر منځ او په مورچل کې دننه د هم – مورچلو ملګرو تر منځ شتون ولري. لاکن دا چې هغه د داسې جنایت هیله مند وو چې ملګری خیبر دې ژوندی نهٔ اوسې، زه وایم هر څوک چې دغسې خبرې په خپل ذهن لا ګرځوي، جنایت کوي.

فضلي: سلیمان لایق له تره کي صاحب څخه په نقل قول وایي چې هغهٔ وړاندیز وکړ چې امین سیاسي بیرو ته راپورته کړي او د پرچمي ملګرو له پلوه باید ملګری خیبر سیاسي بیرو ته راپورته سي. څه فکر کوئ؟ آیا په رښتیا دا ډول پرتله کول – یو ډول پورته راوستل او له خیبر صاحب سره د امین برابرول – په خپله د ملګري خیبر شخصیت ته ستر سپکاوی نهٔ دی؟

نور: نهٔ یوازې سپکاوی دی بلکه تعجب کوم چې لایق دې دغسې ووایي. دا په خپله د لایق لپاره ستر حقارت دی چې د امین په شان یو جنایت کار سره دې د خیبر په شان انسان پرتله کړي. څنګه کولی سي دا ومني؟ وروره! زه امین راولم، صفتونه ئې کوم، بیا

خیبر هم راولم ترڅو دا خبره ونهٔ کړي چې موږ خلقیان اکثریت کېږو او بیا به تصفیه سي! دا د ډېر شرم خبرې دي. آفرین لایق ته چې داسې جرئت لري او هېڅ سر ټيټی نهٔ دی. لایق یو بې حیا انسان او له هر ډول انساني صفاتو لېرې انسان دی. درواغ وايي او ډېر پرېمانه ئې وايي.

**لومړنی غبرګون:**

**برېښنا خیبر**

خوشحاله یم چې ښاغلی نور مې له کلونو وروسته د خبرو په حال کې ولید. غوښتل مې دوی ته خپله هغه پوښتنه مطرح کړم چې دا دري څلوېښت کاله کېږي چې زما، او د کورنۍ د غړو او د استاد خیبر د دوستانو او خپلوانو په ذهن کې راګرځي. هیله منده یم، محترم ښاغلي فضلي چې دا مرکه چمتو کړې، وکولی سي ورڅخه ځواب تر لاسه او خپور ئې کړي.

زه هغهٔ ته د خپل پلار له خولې د «نور کاکا» خطاب کوم او هیله منده یم چې زما دا ګستاخي راوبخښي. د خپلې پوښتنې له مطرح کولو مخکې باید ولیکم چې د محترم سلیمان لایق مرکه او د هغهٔ خبرې هېڅ چا ته په دې خاطر نوې نهٔ وې چې مشر زوی ئې محترم غرزي لایق دغه خبرې مخکې په فیسبوک کې خپرې کړې وې. زما له تصور څخه به لېرې وي چې نور کاکا دې دا خبرې نهٔ وي اورېدلي او یا دې نهٔ وي لوستلي. ولې هماغه وخت د همداسې یوې مرکې لپاره چمتو نهٔ سواست ترڅو ژر تر ژره مو په دې هکله زموږ له اذهانو څخه بد او مشکوک ذهنیت پاک کړی وای؟

زما پوښتنه دا ده: نور جان کاکا! په یاد مو راځي، زما د پلار له شهادت څخه یوازې څو محدودې ورځې مخکې، چې تاسو هغه د استاد په نوم یاداوهٔ، ماښام مهال وو زموږ د کور په سالون کې، نهٔ پوهېږم چې څه مسئله وه، پلار مې د سپکو په ویلو او چیغو وهلو سره تاسو چوپ کړئ او له تاسو ئې وغوښتل چې له کوره دباندې ووځئ؟ تاسو چې په خپله د هغهٔ د شخصیت تعریف کړی او هغه مو د غرهٔ په شان ترسیم کړی او تاسو ورباندې ډېر ګران واست، څه شی باعث سول چې پلار مې داسې سپکه خبره په خولهٔ راوړي چې موږ د هغهٔ له خولې په ندرت اورېدلې وه؟ په یاد مو دي چې زه له کوره دباندې له خپلو همځولو نجونو سره ولاړه وم او په ناباورۍ ستاسو خوا ته درغلم؟ تاسو د تل په شان په خپلې ډېرې آرامې او له موسکا ډکې څېرې، زما له پلار

سره ستاسو له پرخاش پرته، زما پر سر لاس کښېښود او ومو ویل: " خدای په امان کور ته لاړه سه."

نور کاکا! زموږ او ستاسو کور ستاسو په خبره ۲۰ یا ۳۰ متره له یوبل څخه لېرې وو، له هغې پېښې وروسته تاسو زما د پلار د وژل کېدا تر ورځې پورې زموږ کور ته سر دننه نهٔ کړ. خبره مې په دې معنی نهٔ ده چې خدای مهٔ کړه تاسو او یا کوم بل پرچمي په هغې توطئې کې لاس درلود، پوښتنه دا ده:

هغه غر چې هېڅ چا او هېڅ شي نهٔ سوای کولی له بېئ راوباسي، په کوم کار یا کومې خبرې وچاودېد؟ هغه څه چې په هغې مرکې کې له تاسو ئې پوښتنه ونهٔ سوه، زه ئې پوښتم:تاسو د هغو اسنادو په هکله خبرې وکړې چې زموږ له کور څخه ووتل او تر نن پورې غلا سوي دي، خو کاکا جانه! د عدلي طب هغه سند چې تاسو ته لاس په لاس وسپارل سو او ستاسو په اختیار کې وو، ولې هېڅکله علني نهٔ سو؟ د خیبر له وژل کېدلو وروسته تاسو ولې په خپلو ژمنو ونهٔ درېدلئ؟ آیا حاضر یاست چې له ما (برېښنا خیبر) یا زما له ورور – توریالي خیبر - سره خبرې وکړئ؟ مطلق خصوصي؟ آیا په ټولې هغې مینې او درناوي چې تاسو له موږ او زما د مور له پلوه لیدلی وو، موږ دا حق نهٔ درلود چې په بدترینو شرایطو کې د خپل گوندي ملگري له مېرمن او بچیانو څخه ئې باخبر اوسئ؟ (۲۰۲۱ز کال، د مارچ ۲۷)

## دوهم غبرگون

عتیق عالم یار

د استاد خیبر ترور کېدل لا تر اوسه د شک او تردید په شپول کې واقع دي. هره جناح په خپل فکر، دا او هغه د قتل مسؤول ښیي خو هېڅ یوې خوا تر اوسه له بې بنسټه دلیلونو او فرضیو پرته کومه مستنده خبره نهٔ ده وړاندې کړې.

کله چې زه زنداني سوم، مستنطق زما د ورور عارف عالم یار او د خیبر د ترور په هکله پوښتنې وکړې. ما د ویلو لپاره څه نهٔ درلودل. په رښتیا هم په څه شي خبر نهٔ وم. په هغهٔ څه چې پوهېدلم د غوایي له انقلاب وروسته د کابل ښار په دوهمه ناحیه کې زما د ورور صدیق عالم یار تر مشرۍ لاندې د تجارت په لیسې کې د میټینګ داستان وو. هماغه مې ورته وویل او زیاته مې کړه چې د استاد خیبر له سیاسي او گوندي کړو وړو څخه په نېکۍ یادونه وسوه. ملگري غوربندي هم په هماغه محفل کې حضور درلود. هغهٔ د خپلې وینا په ترځ کې وویل: «کله چې د دوه وو جناح گانو وحدت رامنځته سو استاد خیبر په خوبنۍ سره داسې وویل: زموږ له اوږو څخه د تاریخي مسؤولیت ستر پېټی کوز سو.» له دې پوښتنې وروسته مستنطق له ما کومه بله پوښتنه نهٔ درلوده.

هر گوره، د سترو سیاسي موخو لپاره د مطرحو سیاسي شخصیتونو ترور نظر په داسې یوې اوضاع تر سره کېږي چې باید له پامه ونهٔ غورځول سي. د استاد خیبر ترور هم همداسې ده. د غواېي له انقلاب وروسته، د انقلابي دولت د کورنیو چارو وزیر شخصاً په خپله د استاد خیبر د ترور کېدلو دوسیه تر لاس لاندې ونیوله او عاملین ئې په نښه کړل. په دولتي رسنیو کې ئې اعلان کړل: « د گلب الدین حکمت یار د اسلامي حزب د کریم په مشرۍ یوې تروریستي ډلې استاد خیبر ترور کړی دی. د هغوی نسبتي دوسیه بشپړه او مجرمین اعدام سول.»

د استاد خیبر د ترور کېدلو د نسبت تړل د عالم یار په کورنۍ پورې یوازې د خلکو له عواطفو او اذهانو سره د لوبې او د اعدامونو لپاره د توجیه موندل ول بس. که زما د دوه وو ورونو اعدام کېدل د استاد خیبر او احمد ظاهر د ترور په جرم ول نو زما او زما د دوه وو نورو ورونو زنداني کېدل په کوم جرم ول؟

تر ټولو په زړهٔ پورې دا ده چې د خدای بخښلي کارمل د دوران په رسنیو کې ئې د ترور هغه لړۍ چې خپره کړه زموږ د کورنۍ د غړو د هغهٔ مهال له حقیقت او مشغولیت سره ئې هېڅ سمون نهٔ درلود: جرم په ټاکلي وخت او ټاکلي ځای کې د مجرم له لوري تر سره کېږي. ممکنه نهٔ ده چې مجرم دې په عین زمان کې، په بل مکان کې عمل تر سره کړي.

ددولت د خپارهٔ سوي سند پر بنسټ، د خیبر له ترور وروسته عارف عالم یار گڼې په کوماندويي عسکري جیپ کې بالاحصار ته – چې بل ورورئې هلته بولندوی وو – ځي. تاسو دې ټکي ته پام وکړئ. صادق عالم یار، د غواېي له انقلاب مخکې د جلال آباد د کوماندو په قطعې کې دنده تر سره کوله، نهٔ په بالاحصار کې. زما د ورور صادق عالم یار کاري اسناد د دفاع د وزارت په آرشیف کې موجود دي. همدا شان زما د ورور نظامي هم – مسلکان ژوندي دي او پوهېږي چې د استاد خیبر د ترور په ورځ صادق عالم یار په جلال آباد کې په دنده بوخت وو.

ددغو خبرو په ویلو سره اوس دا حق لرم وپوښتم چې: ولې د مرحوم کارمل حکومت، زما د ورور د تحقیق پاڼې خپرې نهٔ کړلې؟ ولې ئې د استاد خیبر کورنۍ او د هغهٔ ناروغې مېرمنې ته کوم خدمت ونهٔ کړ؟ آیا د استاد خیبر مېرمنې په یوې مرکې کې نهٔ ول ویلي: زما د خاوند د قتل عامل تور مار/ سیاه مار دی؟ آیا تاسو نهٔ پوهېږئ چې استاد خیبر به ځوک د «تور مار» په نوم یاداوهٔ؟ آیا د ملگري سلیمان لایق د لاس لیکنې چې زوی ئې ملگري غرزي د خیبر د ترور کېدلو په هکله خپرې کړې دي، د استاد خیبر د وژل کېدلو د غوټې سر چا ته په لاس نهٔ ورکوي؟

زموږ د ورونو او ملگرو اعدامېدل بل عامل لري. د څرخي پلهٔ د زندان د لومړي بلاک په کوټه قلفیو کې زه له خپل مشر ورور ارواښاد صدیق عالمیار، ملگري باقي او ملگري عبیدالله محک سره زنداني وم. هره چهارشنبې به مو پایواز درلود. له کور څخه راوړې

پاکې جامې به مو ترلاسه کولې او خپلې خیرنې جامې به مو بېرته د زندان مؤظف سرتېري ته سپارلې، او که کوم شي ته مو اړتیا لرله نو سرتېري ته به مو ویل چې کورنۍ ته مو ووايي چې بله چهارشنبې ئې موږ ته راوړي.

په لومړۍ پایوازۍ کې زما ورور، سرتېري ته وویل: زموږ پایواز ته وواياست چې راتلونکې اونۍ دې زما چپن او تودې جامې راته راوړي. ملګري محک وخندل او وئې ویل: استاده! زموږ زړۀ مۀ اچوه! سبا یا بل سبا خلاصېږو. تاسو لا تودې جامې غواړئ؟ صدیق عالمیار ملګري محک ته وکتل او وئې ویل: داسې ښکاري چې د شوروي له کمونیستانو څخه ستاسو شناخت لږ دی. ډېر ژره به یو شمېر اعدام او یو شمېر به تر کلونو کلونو پورې په زندان کې وساتي. ملګریه! ملا دې د څوڅو کلونو لپاره ښه کلکه وتړه!

زه د عالمیار د کورنۍ په استازیتوب په زغرده وایم: زما د ورونړو اعدامېدل د استاد خیبر او احمدظاهر له ترور کېدلو سره هېڅ ډول منطقي او سیاسي تړاو نۀ لري. دا دسیسه یوازې د هغو اعدامونو لپاره د یوې توجیه موندل دي چې زموږ په هېواد کې د بشري حقونو د نورمونو خلاف تر سره سوي دي.

تاسو د یوې شیبې لپاره فکر وکړئ: خلقي «مستبد او فاشیست» دولت، د قادر، کشتمند، رفیع او.... د کودتا دوسیه په شپږو میاشتو کې بشپړه او د تحقیق پاڼې ئې په رسنیو کې خپرې کړې او هر یو ئې په شپاړسو کلونو محکوم کړل؛ خو « د مرغومې د شپږمې له نوي پړاو» وروسته دولت، زما دوه ورونه له تحقیق پرته اعدام کړل او زه چې د ښوونځي زده کوونکی وم له شپږو کالو «بې سرنوشۍ» وروسته، لومړی ئې په اعدام محکوم کړم  او وروسته ئې په شپاړسو کالو حبس محکوم کړم. قضاوت تاسو ته پرېږدم!


حقیقت همدا دی: تأریخ سند غواړي. په تأریخ کې جعل کاري، له خجلت او شرم پرته بل هېڅ حاصل نۀ لري.

(هالند، ۲۰۲۱ز کال/ اپریل)

## علی احمد خُرم

## د میر اکبر خیبــر د مرگ فدايي؟

## د انیس ورځپاڼه



۱۲۳گڼه، ۱۳۵۶، د لیندۍ ۲۹/ ۱۹۷۷، د دسمبر ۲۰

«د علي احمد خرم قاتل په خپل جرم اعتراف وکړ»: د عدليې د وزارت يوې سرچينې د پلان د وزير مرحوم علي احمد خُرَم د اسفناکه قتل په اړه داسې وويل: تورن محمد مرجان د غلام سخي زوی د محمد شاه لمسی، د ننگرهار د شېوې د ولسوالۍ د شگې د کلي استوگن دی. نوموړی د ۱۳۵۶ د لړم د مياشتې په ۲۵ نېټې د قتل له تر سره کولو وروسته، سره له دې چې د بې ځایه هڅو په ترڅ کې ئې پر امنيتي مؤظفينو څو ډزې وکړې د پوليسو له لوري ونيول سو.

محمد مرجان، د مرحوم خُرَم د قبيح او شنيع جرم په ترسره کولو اعتراف کړی دی. سرچينې زياته کړه: د مرحوم خرم شهادت، د قاتل په گډون د يو شمېر هېواد پلورو جنايت کارانو او مجرمينو په وسيلې تر سره سوی – او پېښه د څارنوالۍ له لوري تر نورې څېړنې لاندې ده. تفصيلات به ئې په راتلونکي کې وړاندې سي.

[][]

**"مرجان نهٔ خلقي وو، نهٔ پرچمي"**

سیاسنګ: مرجان؟

جنرال خوشحال پیروز صافي: کله چې مرجان د پلان د وزیر د قتل په تور ونیول سو، زه د کورنیو چارو د وزارت د امنیت کارمند او د منتظره قطعې د کشف آمر وم. ټول ټال پینځلس شپې مې ورسره په یوې کوټې کې ځکه تېرې کړې چې د مرجان د ځاني امنیت برابرول هم زما مسؤولیت وو. توربخون، په ونه دنګ، ډنګر، نا آرامه سړی وو چې غټې غټې سترګې او ډکې وروځې ئې درلودې، د ننګرهار د ولایت د شګې په سیمې کې زیږېدلی وو او په قوم زاخیل وو. پلار ئې غلام سخي نومېدهٔ او ورور ئې ډاکټر محمد افضل په روسیې کې زده کړې کړې وې. مرجان له ښوونځي څخه په ښو نمرو او لوړې درجې فارغ سوی وو. درې مېرمنې ئې درلودلې، دوه مېرمنې ئې د شګې او یوه ئې د کندز وه.

سیاسنګ: څنګه ونیول سو؟

جنرال پیروز: مرجان، د ۱۳۵۶ل کال د لیندۍ د میاشتې په ۲۴ نېټې [۱۹۷۷/ د نوامبر په شپاړسمې]، د خُرم له وژلو وروسته وکولای سول د پېښې له سیمې وتښتي. وروسته روښانه سوه چې لومړی په ټکسي کې په سید نور محمد شاه مېنې کې د خپل ورور کور ته تللی وو او له هغهٔ ځایه ئې ځان "کوتل ـ یک لنګه" ته رسولی وو. غوښتل ئې ځان بګرامیو ته ورسوي. اتفاقاً د بګرامیو د نساجۍ د شرکت د رئیس موټر ئې مخې ته راځي. مرجان موټر ته توقف ورکوي او موټروان ته په ګواښلو وایي چې دی دې هم له ځان سره بوځي. تصادفاً په همدې ځای کې کوم سړی تېرېده چې دوه سپیان ئې درلودل او ګوري چې دغه مجهول الهویه سړی د شکمنو حرکاتو د تر سره کولو په حال کې دی. له دې امله دا سړی خپل دواړه سپیان ورخوشې کوي. مرجان چې بله چاره نهٔ درلوده، بېرته د خپل ورور کور ته راځي. د هماغې ورځې د ماسپښین څلور بجې وې چې د کارتهٔ نو د ۲۴ سړک د نانوایي د بسونو تمځای ته نېږدې د پولیسو د ځواکونو لاس ته ولوېد او سره له چې توپک او تومانچه ورسره وه ونیول سو.

سیاسنګ: له هماغې تومانچې سره چې خرم ئې وژلی وو؟

جنرال پیروز: د عدلي طب د خېړنو او تحقیقاتو پر بنسټ، د پلان د وزیر له جسد څخه د Walther د تومانچې ګولۍ تر لاسه سوې وه. روښانه نهٔ ده چې دغه والتر څرنګه ترې تم سوه. ښایي مرجان کوم نامعلوم ځای ته غورځولي وي او یا ئې په پټه چا ته ورکړې وي. نهٔ پوهېږم. خو هغه څهٔ چې ورڅخه تر لاسه سول یو میل چره یي ښکاري توپک او یو میل اسپانوۍ Llam تومانچه وه.

سیاسنګ : توپک څنګه ورته رسېدلی وو؟

جنرال پیروز: ډاکټر افضل د تحقیق پلاوي ته وویل: د خُرَم له وژل کېدلو یو یا دوې ورځې مخکې، ما مرجان ته نصیحت وکړ او ورته مې وویل چې تاخو تحصیلات کړي دي، باید ناسازه او ناښایسته افکار له ځانه لېرې کړې، خو دهٔ راسره لانجه وکړه. بالآخره خبر سوم چې داسې یو ستر جنایت ئې تر سره کړی دی. د قتل د پېښې له سیمې څخه له تېښتې وروسته، مرجان زموږ کور ته راغی او زما له مېرمنې څخه ئې وغوښتل چې تومانچه او ښکاري توپک ورکړي. زما مېرمن مقاومت وکړ او مخالفت ئې وښود. خو مرجان په دې بریالی سو چې دواړه وسلې واخلي او له کوره دباندې ووځي.

سیاسنگ: د مرجان د پردې شا ته، نقشه، سړی یا سړي؟

جنرال پیروز: مرجان چې هره شپه له ما سره د خپل شخصي او خصوصي ژوند قصې کولې، ددغو قصو تر څنگ ئې د خپل تحقیق د پوښتنو او ځوابونو لړۍ هم راته ویله. یوه شپه ئې راته وویل: دوه کاله مخکې [۱۹۷۵] کله چې کندز ته د ساینس د ښوونکي په توگه لاړم، د امام صاحب په سیمې کې له گلب الدین حکمت یار سره آشنا سوم. هغهٔ راته وویل: غریب سړی ئې، روزگار دې هم خرابه تېرېږي، زه کولی سم درسره مرسته وکړم چې خرابه ژوند دې سم سي. له ما سره اړیکه ولره. تا له ځان سره پاکستان ته بیایم او له څو مودې وروسته به بېرته هېواد ته راستانهٔ سو. له هغهٔ سره پاکستان ته لاړم او په پېښور کې مې د نظامي training [روزنې] یوه دوره زده کړه وکړه. د راستنېدلو پر مهال حکمیتار د شگې سیمې ته نېږدې یوهٔ ځای کې راته وویل: دلته د یو چا لیدلو ته ورځو. بیا ئې یو چا ته ور وپېژندلم او وئې ویل: "دی زما نوی دوست دی". له هغهٔ سړي سره له روغبړ او له غرهٔ او راغهٔ له لړ خبرو وروسته، یوهٔ سړي ته د لاس د گوتې په نیولو سره چې ظاهراً یو بزگر سړی وو، اشاره وکړه او وئې ویل: آیا کولی سې هاغه سړی چې ښکاري، په یوهٔ ډز سره له ژوندانهٔ نور خلاص کړې؟ حیران پاتې سوم او ما حکمتیار ته کتل. هغهٔ چوپ او بې تفاوته ولاړ وو. پوه سوم چې وضع خرابه ده. وروستۍ پرېکړه مې وکړه، نا پېژندلی بزگر مې په نښه کړ او په یوهٔ ډز مې مړ کړ. حکمت یار وویل: " آفرین. سم دم نښه ویشتونکی سوی ئې." بیا نو د کندز پر لور وخوځېدو.

سیاسنگ: د خُرَم په هکله ئې څه وویل؟

جنرال پیروز: د مرجان له خولې به قصه وکړم. یوه ورځ حکمتیار ماته دنده وسپارله او وئې ویل چې کابل ته لاړ سه او علي احمد خُرَم د کار له دفتره راوباسه او وئې وژنه. له هغهٔ سره یو ځای د وزیرانو په موټر کې پورته سه او ووایه چې ما ارگ ته داؤود خان ته بوزه. له دې چې د وزیرانو موټران د ارگ په دروازې کې نهٔ تلاشي کېږي، د خُرَم په مرستې کولی سې د داؤود خان د کار دفتر لاړ سې او هغه ووژنې. په دې لړ کې به درې تنه نور ستا امنیت ونیسي.

سیاسنگ: ولې خُرَم غوره سوی وو؟

جنرال پیروز: د مرجان په خبرې، چې خبره په شخص نۀ وه. هر وزیر چې لاس ته ورسي او وکولی سي له ځان سره ئې د وزیرانو په مخصوص موټر کې د سردار داؤود لیدلو ته بوزي، په درد لګېږي. موخه د ولسمشر وژل ول، نۀ دا چې وزیر ته ضربه ووهي. د مرجان د نقشې د پلې کولو لپاره، د پلان وزارت غوره او مناسب موقعیت درلود، ځکه د نورو وزارتونو برخلاف، د سړک پر غاړه واقع وو، احاطوي دیوالونه او پهره داران ئې نۀ درلودل. په سادګۍ سره ئې کولای سول ځان خپلې موخې ته ورسوي.

سیاسنګ: د خرَم د وژل کېدلو څرنګوالی؟

جنرال پیروز: مرجان وویل: زه ډاډه سوم چې «افغان لوی پلورنځي/ فروشګاه بزرګِ افغان» ته نېږدې زما امنیت نیول سوی دی او که کوم ورانی رامنځته سي نو امنیت نیوونکي کسان زما د ژغورلو لپاره چمتو دي. د پلان د وزارت له دروازې مستقیماً سکرتر ته ورغلم او ومې ویل: ښاغلي وزیر صاحب ته یو ډېر عاجل او مهم پیام لرم. هغۀ وویل: وزیر صاحب له باندنیو مېلمنو سره په غونډه کې دی. انتظار وباسئ چې خبرې ئې پای ته ورسېږي. ما ورته وویل: نۀ سم کولی انتظار وباسم. باید ورسره وګورم. سکرتر وویل: اجازه نۀ سته. هغه د جاپان د سوداګرۍ له استازو سره مهمه غونډه لري. ما ورته وویل: زما کار تر هغۀ ډېر مهم او ډېر ضرور دی، د سکرتر له خنډ او ممانعت سره سره د وزیر د کار دفتر ته ننوتلم او ورته مې وویل چې باید ما له ځان سره په عاجله توګه د ولسمشرۍ ارګ ته د داؤود خان لیدلو ته ورولې. مخکې له دې چې عکس العمل ښکاره کړي وړاندې سوم او د هغۀ د دفتر د ټیلفون مزی مې پرېک کړ. خُرَم پوه سو چې بله چاره نۀ لري، له ما سره له کوټې راووت او روان سو. وروسته مې ولیدل چې موټر ته د ختلو پر مهال مقاومت کوي. له دې چې له یوې خوا وخت تلف کېدۀ او له بلې خوا، ګورم چې خلک له څو تنو وسلوالو سره زما پر لور را روان دي، هغه مې مړ کړ او په ټکسي کې وتښتېدم.

سیاسنګ: له شکنجې پرته ئې اعتراف وکړ؟

جنرال پیروز: مرجان له شکنجې پرته اعتراف وکړ. له نیول کېدلو وروسته هغه د څو اونیو لپاره په ولچک او زولنو کې ساتل کېدۀ. مقامات په دې اندیښنې کې ول چې نۀ سي ځان وژنه وکړي یا کوم بل خطرناک کار ته لاس واچوي، ځکه ما ته ئې په خپله ویلي ول کاشکې یو اوسپنه چې تېره څوکه ولري زما لاس ته راسي او ځان له دې غملړلي ژوند څخه خلاص کړم.

مرجان مې د پینځلسو شپو ورځو لپاره په امن او ځار کې وساتۀ. له دغو پینځلسو شپو ورځو وروسته خپل کور ته لاړم. کله چې له کوره بېرته راغلم، ګورم چې د مرجان په مخ کې، په لاسونو او پښو کې ئې څو ځایونه تک شنۀ اوښتي دي او خپل سر ئې په دستمال تړلی دی. ماته وویل سول چې: د کابل د ولایت د قرارګاه بولندوی محمد

هاشم د مرجان کوټې ورغلی او څو پوښتنې ئې ورڅخه کړې وې. مرجان به یاسم یا ناسم ځواب ورکړی وي خو بولندی ئې قهرجن کړی وو. بولندوی هاشم د مرجان دوه وو مېرمنو ته په اشارې چې د کورنیو چارو وزارت ته راوړل سوې وې مرجان ته د ناموس شکنځلې کړې وې. مرجان هم د کوټې له ګوټ څخه کوچنی میز راپورته او د بولندوی په ککره ئې وواهۀ او پر ځمکه ئې پلن وغځاوۀ. په همدې حال کې ئې غوښتل چې تومانچه ئې هم واخلي. پهره داران په چټکۍ لاس په کار سول او پرېښودل چې تومانچه د مرجان لاس ته ورسي. یوۀ تن وسلوال د تومانچې میل د مرجان پر ککرې وواهۀ. ددې لپاره چې د تورن مرجان د ټپي کېدلو مسؤولت بېرته ددۀ پر غاړه واچوي وویل سول چې: وروسته له دې چې قوماندان ئې هاشم وواهۀ، مرجان د تشناب پر لور منډه کړه او هلته ئې خپل سر د تشاب د نل په شیردهن وواهۀ. هرګوره، د همداسې پېښو او نورو کارونو په پام کې نیولو سره چې په زندان کې له مرجان څخه ترسره کېدل کولی سو ووایو چې نوموړی په پرمخ تللي عصبي اختلال اخته سوی وو.

سیاسنګ: د مرجان سیاسي اړیکه؟

جنرال پیروز: د مرجان د قصو او اعترافاتو پر بنسټ د حکمتیار د اسلامي ګوند غړی وو. دا چې ویل کېږي چې مرجان د کیڼ لاس نظریات لرل، چورلټ غلط دي. په همغو پینځلس شپو کې چې زه له مرجان سره وم، مرجان راته وویل: نۀ پوهېږم، یا زه لیونی سوی یم یا د تحقیق کسان لیونیان دي. پوښتنه مې وکړه څنګه؟ وئې ویل: نن ئې راته ویل که ووایې چې د خلق د ګوند غړی ئې، موږ دې خوشې کوو.

سیاسنګ: ستاسو له خبرو داسې ښکاري چې په دې کار کې حفیظ الله امین لاس نۀ درلود؟

جنرال پیروز: امین دومره ساده سړی نۀ وو چې د سردار داؤود د وژلو لپاره کومه خامه نقشه جوړه کړي او هغۀ دې د وزیرانو په موټر کې له خُرَم سره یو ځای په پورته کېدلو سره ارګ ته ننوځي او پلان پلی کړي. البته امین داسې کارونه کړي دي چې د هغو په پرتلې د خُرَم د وژل کېدلو قضیه په هېڅ کې ده. خو کله چې حقیقت مطرح وي، باید یوازې او یوازې حقیقت وویل سي.

سیاسنګ: د مرجان د تحقیق هیأت؟

جنرال پیروز: صدیق واحدي وردک، میرګل او یو بل تن چې همدا اوس هرڅومره په ذهن مې فشار راوړم، نوم ئې زما په یاد نۀ راځي.

سیاسنګ: د " داؤود خان د KGB په لومو کې" کتاب کې د الف. هارون [محمد اسحق الکو] لیکنه، دغه کسان د تحقیق د هیأت په ډلې کې یاد سوي دي: "عبدالباقي، غلام نبي، غلام علي اتمر، فاروق یعقوبي، خیر محمد، همکار، قطره او نور پرچمیان..."

جنرال پیروز: دا صحیح خبره ده چې یاد سوي کسان د پرچم د جناح غړي ول خو راځۍ په هماغۀ کال کې چې د مرجان د نیول کېدلو او د تحقیق موضوع مطرح ده، ددغو کسان کاري دریځ ته یوه کتنه وکړو: د کابل له قلعۀ قاضي څخه – باقي – د کورنیو چارو د وزارت د پېژند مدیر د هغې ستونزې پر بنسټ چې د کورنیو چارو له وزیر سره ئې درلودله لومړی د هلمند د ولایت د امنیې قوماندان وټاکل سو او بیا کور ناستی سو. غلام علي اتمر – د کورنیو چارو د وزارت د استخباراتو د شعبې غړي – له مسلکي اړخه ئې نۀ سوای کولی د مرجان له تحقیق سره سرو کار ولري. نبي د ترافیکو د ریاست کارمند وو، قطره د قوای کار قوماندان، او خیر محمد د تعلیم او تربیې آمر. دغو کسانو د کومې مجرا له لارې کولی سوای د مرجان د تحقیق په لړۍ کې ونډه ولري؟ د الف. هارون مدعیات حقیقت نۀ لري. (۲۰۰۹/ ۰۲/ ۱۹)

## د مرجان تېرې کېدل

احسان عثمان

په هغۀ کال زه د تعقیب د آمریت غړی وم. په هغۀ ورځ چې خُرَم وژل کېدۀ، په خپل دفتر کې د جاپان له یوۀ پلاوي سره په خبرو اترو بوخت وو. سره له دې چې د ترافیک د پولیسو افسر غلام سخي چې د جاپاني پلاوي د Escort [بدرګې] مسؤولیت پر غاړه درلود هم د وزیر د سکرتریت په دفتر کې حاضر وو، یو ناپېژندل سوی سړی د وزیر دفتر ته ننوځي. څو شېبې وروسته ئې له ځان سره دباندې بیايي او وژني ئې.

مازدیګر مهال وو چې د مرجان په نوم یو څوک ئې د کابل د امنیې د قوماندانۍ انګړ ته راووست. د امنیې د قوماندانۍ جنایي آمر سمونوال جان محمد منګل زه احضار کړم او هدایت ئې راکړ چې د کورنیو چارو د وزارت د استخباراتو عمومي آمریت ته لاړ سم او له دوه وو تنو نورو افسرانو – خوشحال پیروز او خلیل الرحمن سره یو ځای، په قتل تورن مرجان، د ساتنې او محافظت مسؤولیت پر غاړه واخلم. ددې ترڅنګ د کابل امنیه قوماندان، ما او ببرک بابکر خیل ته دنده وسپارله چې مرجان د کورنیو چارو وزارت ته بوځو. د کورنیو چارو د وزارت په انګړ کې د کورنیو چارو وزیر، قدیر نورستاني، دفاع وزیر حیدر رسولي او په قوي احتمال سره د مالیې وزیر سید عبد الله هم حضور درلود. کله چې زموږ موټر ودرېدل او کوز سوو، قدیر نورستانی راوړاندې سو او له مرجان څخه ئې پوښتنه وکړه: تا وزیر صاحب وواژۀ؟ مخکې له دې چې مرجان کومه خبره وکړي، یو بل موټر راغی او د جاپاني پلاوي د Escort مسؤول – غلام سخي ئې راووست. د کورنیو چارو وزیر مرجان په خپل حال پرېښود او ډېرې توندې سپکې

سپورې ئې د ترافیک د پولیسو دغهٔ افسر ته وکړې. له ډېر سپکو سپورو وروسته ئې هدایت ورکړ چې غلام سخي دې حبس سي.

په هغه شپه چې د امنیې د قوماندانۍ د قرارګاه د ټولي قوماندان جګتورن تاج ګل اوریاخیل او د کابل د امنیې قوماندۍ تحصیلي آمر جګتورن ظاهر قندهاری په دندو بوخت ول، د توقیف د کوټې پر ساتونکو باندې خوب غلبه کوي. مرجان له همدغهٔ فرصت څخه په ګته اخیستنې یو پهره دار په څوکۍ ولي او څوکۍ ئې په ککره لګېږي او پهره دار ټینګه ضربه وېني او مرجان د تېښتې تکل کوي چې ناکامه سو.

د همدې پېښې په پای کې، خوشحال پیروز، خلیل الرحمن او زه د مرجان د ساتنې لپاره توظیف کېږو.

**مرجان ما ټپي کړی وو** (جنرال عبدالغني عمرزی)

مرجان د مرکزي جنایي ریاست د ودانۍ په دوهم پوړ کې د پولیسو او څارنوالۍ د مختلط کمیسیون له لوري تر تحقیق لاندې وو. هغهٔ اعتراف وکړ چې په یوهٔ بنسټ پاله اسلامي تنظیم پورې منسوب دی او د پلان د وزیر د ترور لپاره توظیف سوی وو. هغهٔ د تروریستي ډلې پلان هم افشاء کړ او خپل جرمي شریکان ئې پولیسو ته معرفي کړل.

د تحقیق د کمیسیون یوهٔ غړي صدیق واحدي وردک، له مرجان سره یو ځانګړی آشنا پولیسي چلند وکړ او هره شپه ئې ورته لږ چرس او یو قطی سګرت مقرر کړل. د هغهٔ د اعترافاتو ډېر کسټونه ثبت سول. تحقیقات پای ته ورسېدل. د شپې د دولسو بجو په شاو خوا کې مؤظف کمیسیون مرجان ته د پوښتنو دوه نورې پاڼې وسپارلې او ورته وویل سول هر هغهٔ څه ئې چې په شفاهي ډول ویلي وئې لیکي. د کمیسیون غړي لاړل او مرجان له خپل محافظ، جګتورن محمد ظاهر قندهاري سره په پینځلسمې کوټې کې پاتې سو. زه د څنګ په کوټې کې ناست وم ترڅو د مرجان وروستني لیکلي ځوابونه واخلم او په دوسیه کې ئې واچوم.

مرجان معمولاً د شپې له پلوه ډېر چای څښل. هغه شپه ئې هم ورته چای او چاکلیټ د کوچني میز پر سر ایښي ول. مرجان په لیکلو بوخت سو او محافظ په کوټه کې دننه قدم واهۀ. ددوی تر منځ چوپتیا کې مرجان یوه خاصه موقع مساعده ګڼي او د چای په هماغهٔ میز د ظاهر په ککرې یوه ټینګه ضربه ورکوي او پلن ئې پر ځمکه غځوي.


ددې پېښې په شورماشور کې زه راوپښ سوم او دالان ته راووتم، ګورم چې محافظ افسر په سرو وینو کې لیت پیت پرځمکه پروت دی او مرجان په کش اوګیر کې هڅه کوي د هغهٔ

وسله ورڅخه واخلي او وتښتي. خپله تومانچه مې په چټکۍ سره راوایستله او مرجان مې وګواښهٔ چې ځان تسلیم کړي. ورپسې مې د تومانچې څو میله ددهٔ پر مخ ورکړل او کاري ضربات ئې وخوړل او جګتورن مې له خطر څخه وژغورهٔ. د جناېي نوکریوال راغی، مرجان ته ئې ولچک واچول او انفرادي کوټې ته ئې بوت. ټپي افسر ئې روغتون ته ورساوهٔ او مرجان د محکمې له لوري په حبس دوام محکوم سو.

کله چې زه خپله د ۱۹۷۹ز کال د جنورۍ په میاشت کې د څرخي پلۀ زندان ته وغورځول سوم، مرجان په دوهم بلاک کې په چټکۍ زما خوا ته راغی او وئې ویل: «آخر له موږ سره یو ځای سوې». ما فکر وکړ چې له ما څخه به د غچ اخېستلو په موخې لاس او ګریوان سي، خو داسې ونهٔ سول. اعصاب ئې له لاسه ورکړي ول او لیونی سوی وو. کله به ئې خندل او کله به په ژړا سو. کله به چې په حال وو، د سالم او روغ رمټ انسان په شان به ئې خبرې کولې. یوه ورځ ئې د تحقیق د وروستۍ شپې یادونه وکړه چې محافظ ئې خنګه وواهۀ او د تېښتې تکل ئې درلود او څنګه زه په موقع ورسېدلی وم. زما د تومانچې د میل د ضرباتو له کبله ژور داغونه چې ددۀ پر دواړو غمبورو پاتې ول، راوئې ښودل او په کړس ئې وخندل او زما پر اوږه ئې لاس کښېښود. (شب های کابل، ۱۳۷۴ لړم، [نوامبر ۱۹۵۵]. ۹۳ او ۹۴ پاڼې)

## څو لیکونه

### (د میر اکبر خیبر په لاس لیکل سوي)








Photo credit: M.H. Bariq Shafiee – personal album

۱

زما ګران دوست او منلي ملګري بارق ته!

دا چې تاسو د «خلق» د جریدې د لومړني مسؤول مدیر په توګه ټاکل سوي یاست او تاسو ته ستر ویاړ په نصیب سوی دی، زما د خوښۍ لامل وګرځېد. ددغې سترې بریا مبارکي تاسو ته وایم. دا زما یوه هیله وه چې د «جمعیت جوانان ډیموکراټیک خلق» په منځ کې تاسو ته ستاسو له شأن سره مناسب دریځ درپه برخې سي. بشپړ ډاډ لرم چې د خلق جریده به خپله تأریخي دنده د افغانستان د اوسنیو خلکو او د راتلونکو نسلونو پر وړاندې په مېړانې او پوهې سره سر ته ورسوي. د خلق د جریدې خپرول یو بل بریالی ګام وو چې د افغانستان د خلق ډیموکراټیک غورځنګ اوچت کړ، خو مسؤولیت یوازې د جریدې په خپرولو پای ته نهٔ رسېږي. د جریدې دوام او د هغهٔ معیار ساتل چې په خپلې لومړنۍ ګڼې کې ئې ټینګ کړ، هم یو له مسؤولیته ډک کار دی چې باید په پام کې وساتل سي.

بارق زما ملګریه! دا طبیعي خبره ده چې د خلق د جریدې په خپرولو سره مبارزه لا شدت مومي او د بېلابېلو ګټو تر منځ کربښې لا روښانه کېږي. مبارزه ورځ تر بلې طبقاتې مبارزه سوې ده او له افغان ځوانانو څخه د ډېرې قربانۍ غوښتونکې ده. هیله ده چې زموږ فداکارو مبارزینو دغهٔ غږ ته مثبت ځواب ویلی وي، له دې پرته بله لاره هم نهٔ سته. د پکتیا په ولایت کې د خلکو د پوهې د کچې په تناسب د اخبار بریالیتوب ډېر ښهٔ

دی. د پکتیا ځوانان ئې په ډېره مینه لولي او پام ئې تر ډېره «جمعیت ډیموکراټیک خلق» ته را اوښتی دی، هیله مند یم چې دا وکولی سي د «جمعیت» د جذب قدرت لا ډېر کړي. په پای کې ستاسو روغتیا او بریا د افغانستان د ټولو محرومو پرګنو په ګټه غواړم.

په درناوي – میر اکبر خیبر

۲

زما درندو او ګرانو ملګرو[1]

له پېرزوینو او طمطراق ډک لیک چې د ملګري پنجشیري د لیکلو ځانګړتیا ده او ان ډېر ډارن انسان په شور او زوږ او ځوځښت راولي، راورسېد. هیله مند یم چې دواړه ملګري د روغتیا خاوندان وي.

ګرانو ملګرو! د هغو ورځو خواږهٔ خاطرات تل ما بوخت او خوشحاله ساتي چې له یو بل سره نېږدې وو او د مرام او مبارزې بنسټیزې کرښې مو طرح کولې. په جرئت سره وایم چې د هماغو ورځو یادونه دي چې نن ما ته د حیثیت او الهام سرچینه ده او د ژوندون په لوړو ژورو کې زما لارښود دي. د خلق د جریدې د خپرېدلو مبارکي وایم او د افغانستان د مبارز ولس او د ملګرو د لا بریا هیله کووم.

په درناوي – میر اکبر خیبر

۳

زما ډېر ګران ملګریه، ښاغلی بارق!

ستاسو د روغتیا او بریا غوښتونکی یم. په خواشینۍ سره مې د خلق د جریدې د خپرولو د منع کېدلو خواشینونکی خبر واورېد. د هغهٔ څه وړاند وینه مو چې کړې وه، هماغسې وسول. تر هغهٔ ځایه چې په دې ولایت کې زما مطالعې او کتنې ته راغلي دي، په هغې اندازې چې د خلق د جریدې خپرېدل د اذهانو د خوځون لامل سوی وو، په همدې اندازې ددې جریدې د خپرونو منع کېدل هم د اذهانو د پارېدنګ لامل سوی دی.

ګرانه بارق! د خلق د جریدې د شپږو ګڼو خپرېدل، د خلق ډیموکراټیک غورځنګ شپږ کاله لا نور مخې ته وخوځاوهٔ؛ دا لویه بریا ده ؛ په ډاډ ویلی سم چې د انقلابي جرایدو په تأریخ کې داسې بریالیتوب بلې هېڅ جریدې ته نهٔ په نصیب سوی. طبیعي ده چې ددغې بې سارې بریا په ترلاسه کولو کې ستاسو ونډه د نهٔ انکار او نهٔ هېرېدونکې ده. سره له دې چې د خلق د جریدې د خپرولو مخه ئې ونیوله، د خلق خاطره، ستا نوم به

---

[1]- د بارق شفیعي یادداشت: دا لیک د هادي کریم او دستګیر پنجشیري په نوم دی.

چې اوس د خلق برخه گرځېدلی دی، تل پاتې وي. هېڅ پیاوړی ځواک نهٔ سته چې د هغهٔ اغېزې د افغانستان د ولس له ذهن څخه پاکې کړي.

هغه څه چې زما ذهن اوس ډېر بوخت ساتي ستاسو کار او د ژوند ژواک وسیله ده. که د فرصت په مساعدت سره په دې هکله او د خلق د جریدې له منع کېدلو وروسته ستاسو مخې ته د رامنځته کیدونکو پېښو په هکله معلومات راکړئ زما فکر به وربانديې هوسا سي.

په پای کې، ستاسو ډېره بریا غواړم. ملگري پنجشیري او کریم او نورو ملگرو ته زما د زړهٔ له تله درناوي ورسوئ. د خلق د جریدې د بیا خپرېدلو په هیله ان که په بل نوم هم وي!

میر اکبر خیبر – ۱۳۴۵ل کال، د چنگاښ لسمه

۴

زما سرښندوی او ډېر مشفق ملگری او ورور، ښاغلی بارق!

ستاسو مفصل او جامع لیک چې له هرې کرښې څخه ئې د ورورگلوۍ لورېینه او پالنه څرگنده وه، راورسېد. ما دا لیک ځوځو ځله ولوست او په لوستنگ ئې د هغو دوه وو دسیسو له ټول تفصیل څخه خبر سوم چې په پارلمان کې د ارتجاع له پلوه د دوه ډلو ډېرو مبارزو او ایمان لرونکو ملگرو د له منځه وړلو لپاره طرح سوې وې. له دې چې ما له هرې خولې څخه د دواړو دسیسو په اړوند ډېرې خبرې اورېدلې وې، زما اعصاب ئې تر فوق العاده فشار لاندې راوړي ول. که ستاسو لیک نهٔ وای رارسېدلی، ښایي تر ډېره به زما خیالات د اندېښنو په تالاب کې ډوب وای. هر گوره، یوه بلا وه او په خیر تېره سوه. دښمن په خپلو دواړو خاینانه توطئو کې ناکام او لمن ئې پورته سوه، پېښه ئې تثبیت او اتل ئې مور ته راوپېژندهٔ. دا هغه بریا وه چې له دواړو احمقانه سازښتونو څخه تر لاسه سوه. دا ددې وړتیا لري چې یو بل ته مبارکۍ ووایو.

ډاډ لرم چې که ارتجاع له خپلې ناکامۍ څخه ډېره کړېږي او بیا هم همداسې عمل ته چې عاقبت به ئې نهٔ وي سنجولی، لاس واچوي. دا ځل به هم د ملگرو بیداري او خبرتیا د هغې پلانونه شنډ کړي او بیا به هم له رسوایي پرته بل څه په لاس ورنهٔ سي. د ملگرو غبرگون ښهٔ او په موقع وو. ستاسو د وینا ښهٔ والی هرچېرې د ستاینې وړ دی، ټول ئې په درنښت یادوي. د ځان له پلوه هم، تاسو ته مبارکي وایم.

له دغې بریا وروسته هغهٔ څه چې زما ذهن ئې بوخت ساتلی دی هغه بریا او ویاړ دی چې په مبارزې او سرښندوینې کې تاسو او نورو ملگرو ته وربه برخه سوی دی. دغه ټکي د هغو کسانو حسادت او ځانغوښتنې راپارولې دي چې په خپلو بسترونو او ځایونو کې اوږدهٔ غځېدلي دی او غواړي په همدې حالت کې مبارزه اداره کړي. دغه ډول عناصرو

ته خپل ځان او مقام ان تر غورځنګ او جمعیت ډېر ګران دی ؛ دوی تل غواړي د نورو له ویاړونو څخه د خپل ځان په ګټه، ناوړه ګټه پورته کړي. کله ناکله داسې هم پېښېږي چې ستاسو په وینا که ویاړونه نیغ په نیغه په دوی ونهٔ لګېږي، هڅه کوي د نورو د مبارزاتو او سرښندوینو په کم ارزښت ګڼلو سره بیا هم خپل حیثیت او دریځ وساتي او د پلانکي او پلانکۍ شمبرې په ابلاغیو سره د جمعیت اذهان خړ پړ کړي.

ددغهٔ انحراف د وخیمو عواقبو د مخ نیوۍ او شنډولو لپاره اړینه ده چې پر وړاندې ئې اصولي ګام اوچت سي. ددې انحراف پروړاندې اساسي چاره او اصولي چلند هماغه د اصولي جناح د اتحاد او یووالي ساتنه او په بل اړخ کې پر وړاندې ئې مبارزه ده. ستاسو او د نورو ملګرو پام دغهٔ ټکي ته ښهٔ اوښتی دی. د «دوهمې شمبرې ابلاغیې» متن ما ته هم راورسېد او هغه هرکلی چې وړتیا ئې درلوده ورته وسو، ټول ئې اغېزمن کړل او لازم پایلینوی ورڅخه تر لاسه سو.

ډېره لږ هیله سته چې زما استعفی به دوی ومني. که زما موخه او منظور تر لاسه نهٔ سي، هغه قانوني موده چې وروسته کولی سم په وظیفې پورې د اړوندې اصولنامې پر بنسټ استعفی وکړم، د سلواغې د میاشتې یوولسمه نېټه ده. د سلواغې د میاشتې په لسمې نېټې قانوني موده پای مومي او له هغې وروسته حق لرم چې دنده خوشې کړم. ددې لپاره چې چا ته کومه قانوني پلمه په لاس ورنهٔ سي غواړم د دندې د خوشې کولو خبر د یوهٔ غوښتن لیک له لارې رفیعه مقاماتو ته ورکړم. که له دې سره سره ئې ځواب رانغی او له چوپتیا کار واخلي، د اقلیمي شرایطو او نورو امکاناتو په پام کې لرلو سره به د کابل پر لور وخوځېږم. بیا ئې د هغوی زړه که هر څه وغواړي وکړي زه ئې باک نهٔ لرم. که نور خنډونه رامنځته نهٔ سي غواړم لږ تر لږه د ژمي دوه میاشتې په خوست کې تېرې کړم، ځکه چې د کابل وضع تاسو ته معلومه ده. ډېرې ستونزې زما مخ ته پرتې دي. که د ژمي دوه سړې میاشتې په خوست کې اوسم نو د یو شمېر ستونزو مخه وربانديې نیولی سم. د کب په میاشت کې به اتفاق او مصلحت ته راسم.

که ملګري لازمه بولي چې له دې سره سره بیا هم کابل ته درسم، ماته کوم خنډ نهٔ سته. لنډه دا چې د سلواغې په میاشت کې به کار خوشې کړم او کابل ته به د ستنېدلو لپاره چمتو اوسم. که کوم خنډ را ته راپېښ نهٔ سي د سلواغې د میاشتې په وروستۍ ورځ به په هر صورت درسم او تاسو به له دې موضوع څخه خبر کړم.

هیله مند یم له دوه وو نورو ملګرو سره د نقاهت دوره په خوښۍ تېره کړئ. له تاسو هیله مند یم چې د امکان په صورت کې ما له راتلونکو پرمختګونو څخه بې خبره پرېنږدئ.

بله هیله چې لرم دا ده چې په راتلونکو لیکونو کې ما ته یوازې د "ملګري" خطاب وکړئ، ځکه چې د صمیمت د څرګندولو لپاره د ملګري تر کلمې بله پورته کلمه نهٔ سته. القاب

او عناوین هغو کسانو ته پرېږدئ چې مستحق یا شایق ئې وي. ما ته تر دې بل لوړ ویاړ نهٔ سته چې ستاسو ملګرى اوسم، د ملګري په شان ستاسو تر څنګ ژوند وکړم او مړ سم. په پای کې زما او زما د مېرمنې بې پایه درناوى زموږ ګرانې خور د روح افزاح [1] جانې حضور ته ورسوئ.

د لیدو په هیله

ستاسو ملګرى: میر اکبر خیبر

۵

زما ورور او ګران ملګرى، بارق!

ستاسو د غورځېدلو پېښې او د غاړې د ګره وې/ طوقک له ماتېدلو خبر او ډېر خواشینى سوم. په داسې یوهٔ وخت کې ستاسو ارزښتمن شتون او روغتیا دواړه د بهیر/ جریان او له ډېر کړکیچن پړاو څخه د وتلو لپاره ډېر اړین دي، د همداسې ناوړو پېښو رامنځته کېدل په رښتیا چې د «جمعیت» او بهیر لپاره داسې یوه ضایعه ده چې زغمل ئې ګران دي. هیله مند یم چې بشپړه او چټکه روغتیا در په برخه سي.

زما ډېر ګران ملګریه! هغه اصولي او اغېزمنه ونډه چې  تاسو د ټولنې/ جمعیت د کړکیچ پر مهال لوبولې ده زما د تسل او د زړه د ډاډ لامل سو؛ ستاسو همدا اصولي او مېړنۍ ونډه ده چې زموږ ځوان بهیر ئې د ټولو منفي بهیرونو پر وړاندې او د دښمنانو او د دښمن د عمالو له خاینانه تخریباتو څخه ساتلى دى او په راتلونکې کې هم د بهیر د ټینګوالي او اتحاد لامل ګرځي. فئوډالي ارتجاع او د امپریالیزم له دښمنۍ ډک دسایس غوارې چې له خپلو ټولو وسایلو او ذرایعو څخه کار واخلي او د خلق په دیموکراتیک بهیر کې دننه له کورنیو ګډوډیو څخه په ګټه اخېستلو، ټولنه/ جمعیت له دننه وچوي/ منفجر کړي.

که خپله هوښیاري له لاسه ورکړو او د خپل موقعیت او مسلکي مسؤولیتونو په نهٔ درک کولو سره اِهمال وکړو، په اصطلاح سره د "حضور له حیا" څخه کار واخلو، او په داسې مواردو کې خپله اصولي او تعمیري ونډه هېره کړو، یقیناً چې له دښمن سره به مرسته وکړو. په همدې مورد کې ده چې باید  – ستاسو په شان – خپلې لنډ مهالې او فوري ګټې تر پښو لاندې کړو او د اصولیت د ساتنې او پلي کولو په لاره کې هېڅ ډول سرښندنه او قربانۍ ونهٔ سپموو.

ددې قربانۍ تر ټولو ښه بېلګه تاسو ټینګه کړې ده. یوه ورځ به راسي چې ستاسو دغه له پوهې ډک عمل درک سي او تاسو د ټولو اصولي ملګرو لپاره سرمشق ورګرځي. په

[1]- د بارق شفیعي یادداشت: روح افزا زما د مېرمنې نوم دى

پای کې د خپل خوارۀ ملګري روغتیا غواړم او ملګري کریم او نورو ملګرو ته خپل سلامونه وړاندې کوم.

په درناوي – میر اکبر خیبر

۱۳۴۵ل کال / د تلې د میاشتې ۲۱



زموږ ... هدف د ... بری دی

پرچم

ناشر اندیشه های دموکراتیک خلق افغانستان

چطور انقلابیگران «چپ»

به اپورتونیزم راست میگرایند!

ببرک کارمل

اتکاء به نیروی ملی عامل عمده

پیروزیست!

ښاغلی وزیر مالیه ضمن خطابه بودجوی

خود درولسی جرگه به حقایق تلخ اعتراف کرد

رفیق ارجمند ما میر اکبر خیبر

مدیر مسؤول جدید جریدهٔ پرچم

اقدام شجاعانه اندیرا گاندی

صدر اعظم هند

جنبش همبستگی بین المللی

باخلق قهرمان ویتنام

Photo credit: **www.esalat.org** - archive

("پرچم": شپاړسمه گڼه، دوهم کال، دوشنبه ۶ زمری ۱۳۴۸ / ۲۸ جولای ۱۹۶۶)

## زموږ ګران ملګری: میر اکبر خیبر
### د پرچم د جریدې مسؤول مدیر

زموږ دروند ملګري سلیمان لایق د "پرچم" د جریدې د مسؤولیت دوره له (جریان دیموکراتیک خلق افغانستان) (ج د خ ا) څخه په انقیاد او متابعت کې په پوهې او مېړانې تر سره کړه او اوس د پلخمري له ولسوالۍ څخه د (ج د خ ا) په استازیتوب د ولسي جرګې لپاره کاندید دی. له دې کبله د (ج د خ ا) صلاحیت لرونکي مقام، زموږ ګران ملګری میر اکبر خیبر د پرچم د جریدې – د جریان دیموکراتیک خلق افغانستان ناشر- د مسؤول په توګه وټاکهٔ او معرفي کړ. له دې چې د خلق دښمنان تل د ترقي غوښتونکو هېواد پالو شخصیتونو او د خلق د رښتنو بچیانو دښمنان دي، پربکړه وسوه چې (د لوستونکو – ژ) د معلوماتو لپاره زموږ د ګران ملګري د سوانحو یوه برخه دلته خپره کړو.

(د پرچم د رهبرۍ او تحریر هیأت)

خیبر په ۱۳۰۴هجري لمریز کال (۱۹۲۵ز ) کې په یوې پښتنې زیارګالې بزګرې کورنۍ کې سترګې په نړۍ غړولې دي. خیبر له ماشومتوبه د خوارۍ او سختۍ په لمن کې وروزل سو او له نېږدو، د خپلې کورنۍ په ګډون د زیارګالو بزګرانو د زبېښاک شاهد وو.

هغهٔ د احضارېې په نوم د حربي ښوونځي د لومړنۍ دورې له بشپړولو وروسته، د خپل استعداد پر مټ، په حربي لیسې کې د شمولیت حق تر لاسه کړ او په ۱۳۲۶ (۱۹۴۷ز) کې له حربي ښوونځي څخه فارغ او حربي پوهنځي کې شامل سو. خیبر د نظامي تعلیماتو د زدکړو تر څنګ، د خنډونو او ستونزو له شتون سره سره تل ټولنیز او سیاسي مطالعات کول. په حربي پوهنځي کې د تحصیل په دوران کې د هېواد پالو او آزادي غوښتونکو نظریاتو مخکښ وو او هم ئې د شورا د غورځنګ له اوومې دورې او د کابل پوهنتون د محصلینو له اتحادیې سره (۱۳۲۸ او ۱۳۲۹ ل"۱۹۳۹ او ۱۹۵۰ ز")، د خپل ځانګړي چاپیریال د وضعیت باوجود، له آزادۍ او ډیموکراسۍ څخه د دفاع او د هېواد د پرمختګ په لاره کې فعاله او سرښندویه ونډه اخېسته او د استبداد، ارتجاع او د ښکېلاک د نفوذ پر وړاندې ئې، فعالانه، په مېړانې او اتلولۍ مبارزه کوله.

د مبارزې دغه بې سارې بڼه په هغهٔ چاپیریال کې ددې لامل سوه چې له حربي پوهنځي څخه د دوهم بریدمن په رتبې د فراغت د شهادت نامو د ویش په ورځ په ۱۳۲۹ل (۱۹۵۰ز) کې له تحقیقاتو او محکمې پرته د څه دباندې شپږ کالو لپاره به حبس محکوم سي. د حبس د دورې په لړ کې د خیبر د کورنۍ اکثریت غړي په ډېرې ظالمانه او فجیعانه بڼې له منځه لاړل. خیبر پرته له دې چې له زندان څخه بهر کوچنې اړیکه

ولري، د زندان تورې او اوږدې شپې ورځې، چې له فشار، کوټه قلفۍ، فقر او ورسره جوخت له مادي او معنوي محرومیت سره بدرګه وې په بې ساري زغم، استقامت او زړورتیا تېرې کړلې. ددې سختې او دردناکې موضوع تر څنګ د خیبر د عمل او قضاوت معیار پرته له دې چې کومه کوچنۍ شخصي عقده ورسره ملګرې وې، تل د هېواد ګټې او مصالح وې او دي.

میر اکبر خیبر د حبس په درییم کال په زندان کې له ببرک کارمل سره آشنا سو او د دواړو تر منځ د مترقي، مسلکي او تأریخي ملګرتیا پیوند رامنځته سو. خیبر د طبقاتي مبارزې نوې بنه غوره کړه او لا تر اوسه په طبقاتي مبارزې کې د ببرک کارمل د څنګ نېږدې ملګری دی او وي به.

خیبر د شپږو کالو او څو میاشتو، له محکمې پرته، حبس له تېرولو وروسته په ۱۳۳۴ل (۱۹۵۵ز) کې له بند څخه خوشې سو؛ سره له دې چې آزاد کاروبار ته ئې لېوالتیا درلوده، بیائې هم وغوښتل چې د دفاع د وزارت له بَست څخه منفک او د نظامي افسرۍ د رتبې په ساتلو سره، د کورنیو چارو وزارت کې د ژاندارم او پولیسو د قوماندانۍ په چوکاټ کې ځای پر ځای سي. د کورنیو چارو په وزارت کې ئې تقریباً لس کاله د تدریسي کدر او د انګلیسي د ژبې د ښوونکي په توګه او احتیاط کې کار وکړ، سره له دې چې استعداد، تقوی، شرافت او د هېواد پالنې عالي اخلاق ئې درلودل بیا هم یوازې د تورن تر رتبې (په ملکي کې د اوومې رتبې معادل) پورې ورسېد. خیبر هېڅکله د حکومت په اداري دستګاه کې تر پام وړ مقام او دریځ پورې ونهٔ رسېد او تل تر تعقیب لاندې او په ګواښجن چاپیریال کې وو.

خیبر د حکومت په دستګاه کې له رسمي کار څخه د استعفی ورکولو لپاره څوځو ځله غوښتنې وکړې خو له دې چې مستبد حکومتي عناصر د خیبر په اغېزمن سیاسي او ټولنیز شخصیت خبر سوي ول، د بېلا بېلو پلمو په راوړلو سره به ئې د هغهٔ استعفی لیک ته د رد ځواب ورکاوهٔ. د همدې موضوع پر بنسټ ول چې د ۱۳۴۴ل کال (۱۹۶۵ز) د لړم د میاشتې د دریمې له پېښې وروسته په مرموز او ناخبره توګه له کابل څخه جلا، او پکتیا ته واستول سو. هلته په رسمي توګه تر څار لاندې ونیول سو او له کابل سره له تماس نیول څخه په جدي توګه منع سو.

د ۱۳۴۵ل کال د کب په میاشت (۱۹۶۶ فبروري) کې په مجردې چې د مکلفیت دوره ئې پای ته ورسېدله، خیبر خپل استعفی لیک اړوندو مقاماتو ته وسپارهٔ او له پکتیا څخه کابل ته راغی او په علني توګه ئې د «ج.د.خ.ا.» (جریان ډیموکراټیک خلق افغانستان – ژ) له "پرچم دارانو" سره اوږه په اوږه په سیاسي فعالیت او ایډیولوژیک سازمان ورکولو پیل وکړ.

له زندان څخه د خلاصېدلو په ټول دیارلس کلن ژوند کې خیبر د حساس دریځ په لرلو سره سره، د خپل وخت ډېرۍ برخه زموږ د عصر د پرمخ تللو افکارو په ترویج او تبلیغ،

علمي مطالعاتو، لیکوالۍ، د افغانستان د مترقي ځوانانو په تدریس کې تېره کړې او تل د خپل چاپیریال د ملګرو لپاره د اعتماد او اطمینان مشعل پاتې سوې دی.

خیبر د «ج.د.خ.ا.» ]جریان ډیموکراټیک خلق افغانستان – ژ[ په ودې او تکامل کې اغېزمنه او ارزښتمنه ونډه لوبولې ده. له همدې کبله له استعفی وروسته تر اوسه پورې د یوهٔ دروند وجاهت لرونکي، صدیق، متواضع، دانشمند او هېواپال په توګه د افغانستان له خلق سره، د «ج.د.خ.ا.» ]جریان ډیموکراټیک خلق افغانستان – ژ[ له مشرتابهٔ سره نېږدې، او د کارګر د پاړکي/ طبقې د ایډیولوژۍ د نړۍ لید له اصولو څخه ددفاع په مورچل کې پاتې سوې او ببرک کارمل ته د نېږدې هم – مورچله مبارز په توګه په زړورتیا مخ پر وړاندې روان دی.

میر اکبر خیبر څلورڅلوېښت کلن دی، متأهل دی او څلور بچیان لري. خیبر له یوې ساده او محقرې جونګړې پرته بل هېڅ ډول شخصي شتمني او ملکیت نهٔ لري. د هغهٔ او د کورنۍ د ژوند ژواک حداقل تأمین ئې د بهیر/ جریان پر غاړه دی.

[][]


شهید راه خلق میر اکبر
مسئول جریده پرچم

Photo credit: Night Letters, C.Sands & F.Qazizai, London, 2019 – p. 515

**ضمایم:**

زما ګران دوست او صاحب نظر ورور زیارمل صاحب دې روغ او رمې اوسي.

پرېمانه درودونه دې پرتاسو وي. هیله مند یم چې له کبراجانې او له خپلو بچیانو سره چې زما د سترګو تور دي په تن روغ او هوسا اوسئ او هېڅ ستونزه دې تاسو ونهٔ کړوي.

که زما له حاله خبرتیا غواړئ، د تل په شان له روزګار سره لاس او ګریوان یم. ورځنۍ بوختیا مې د «فردا» د مجلې او د سایت د کارونو سمبالول دي او کتلو او ناکتلو دوستانو ته لیکل دي چې دلته او هلته د رنګین لیکونو په خپرولو بوخت دي.

ستاسو له مینې ډک لیک مې تر لاسه کړ. زموږ د ستر استاد [میر اکبر خیبر] یادونه او خاطرې، د تل په شان زما د زړهٔ او د دماغ تسل او بامنه کوي او ماته د زړهٔ سیک او قوت راپه برخه کوي. حیف د هغهٔ ستر انسان چې په دې ناځوانه سفله پالې زمانې کې ئې په داسې ټولنې کې ژوندژواک وکړ چې خلک ئې په سترګو او زړونو ړاندهٔ ول. فکر کوم هغه مې د لومړي ځل لپاره له لایق سره یو ځای په منډوي کې په یوې کوچنۍ کوټې کې ولید. هغه ما ته د وقار او صلابت یو لوی غر ښکاره سو او کټ مټ هماغه اوصاف ئې درلودل چې ښاغلي لایق مخکې راته یو په یو شمېرلي ول. ورو ورو له یو بل سره صمیمي سوو. هغو کسانو چې ورسره ناسته او ولاړه درلودله هغوی ته ناشوني وه چې تر اغېز لاندې ئې رانهٔ سي. هغه مسایل چې دهٔ مطرح کول د هغو شپو ورځو لپاره زښت ډېر نوي ول خو ددهٔ د پراخ او نامنتها شخصیت اړخ ددهٔ د معلوماتو د پراخوالي د اړخ په پرتلې زښت ډېر لوی وو. زه لا تر اوسه نهٔ پوهېږم چې څنګه د لوګر په یوهٔ سرېټي او تړلي چاپېریال کې دې د هغهٔ د جامعیت او ستروالي په شان داسې ستر انسان روزل سوی وي. هغه یوه استثنا وو.

هغه جفاګانې چې روزګار ددهٔ په حق کې کړې وې ډېرې لرې ئې یادولې یا ان په اړه ئې هېڅ خبرې نهٔ کولې. په زندان کې د کوم ځانګړي سړي یادونه ئې نهٔ ده کړې چې پر دهٔ باندې ئې خپل اغېز شیندلی وي. ډېري وختونه به ئې د ارواښاد ډاکټر عبدالرحمن محمودي مېړانه او زړورتیا ستایله. په هغو وختونو کې حسن کاکړ، حبیب الله تږي او صدیق سیلاني ورسره راشه درشه درلوده.

ارواښاد داؤود خان ورته ځانګړې درناوی درلود او د «آغاصاحب» په نوم ئې یاداوهٔ. په خواشینۍ چې د خلق ډیموکراټیک ګوند یو شمېر «سرکرده ګانو» د داؤود خان له حسن نیت سره لوبې کولې او دی ددوی له ناځوانۍ څخه ښهٔ واقف وو. استاد به کله له داؤود خان څخه راضي او کله به هم ناراضي وو. زه لا تر اوسه سم نهٔ پوهېږم چې دقیقاً حق د چا پر خوا وو. خدایتعالی دې هم هغوی او هم موږ وبخښي.

په ټولې ښې او درندې مینې

اکرم عثمان

- لودویګ آدمک [1]: نامتو اروپایي افغانستان پېژندونکي لیکلي دي چې: «میر اکبر خیبر د بګرام له هوایي اډې څخه د لیدنې په سبا ووژل سو.» سره له دې چې په دغهٔ سطر کې یو ډېر مهم او ارزښتناک ټکی پروت دی خو د سموالي لپاره ئې سند او ثبوت په لاس کې نهٔ سته. [2]
- «سیاسي کړکیچ د میر اکبر خیبر په قتل منتهي سو. نوموړی د افغانستان د خلق ډیموکراټیک له مشرانو څخه وو چې د کارګرانو په منځ کې ئې پرېمانه محبوبیت درلود او د لومړني مالیاتي وجوهاتو تعاوني صندوق بنسټ ایښودونکی وو چې د کابل په صنعتي تصدیو کې د راتلونکو صنفي اتحادیو دونډو یوه بېلګه سوه.» [3]

- عبدالقدوس غوربندي په «نګاهی به تاریخ حزب دموکراتیک خلق افغانستان/ حزب وطن» (سبا خپرونه، پېښور، آګست ۲۰۰۰) کې لیکلي دي:

۱. « که له بې بنسټو او غرضناکو تورونو راتېر سو، که د حقیقت موندلو په لټه کې یو، که پښه مو د «یږ په لومه/ تلک خرس» کې بنده نهٔ وي، موږ پرېمانه دلایل په لاس کې لرو چې پر بنسټ ئې حکم وکړو چې خیبر – د ببرک کارمل د ورکړل سویو غلطو معلوماتو پر بنسټ چې ګڼې خیبر په انقلابي غورځنګ کې ونډه درلوده – د KBG په وسیلې ترور سوی دی. ځکه:

بارق شفیعي، لایق او زه شاهد یو چې کارمل- د نور احمد نور په وسیلې – خیبر ته ګواښجن پیغام استولی وو. زه د خیبر په کور کې وم چې مخامخ ئې نور «احمد نور» ته وویل چې ستاسو کارمل زه په مرګ ګواښلی یم، هغهٔ ته ووایاست چې زه له مرګه نهٔ ډارېږم او له رسمي غونډو پرته، نور له هغهٔ سره تر یوهٔ چت لاندې نهٔ کښېنم.

د خیبر د ترورکېدلو په شپې، کارمل، تره کي ته ویلي ول: هغه څوک چې double (دوه لوري) لوبه کوي همدا ئې سزا ده. د غوایي د پاڅون له بریا وروسته تره کي زه په ضمني ډول وپوهولم چې د خیبر ترور کېدل د کارمل په همکارۍ د KGB کار دی.

کارمل چې د خیبر د جنازې د تشییع په مراسمو کې په ریاکارۍ او مکارۍ خپل ستونی څیرې کاوهٔ او غوښتل ئې ان د زړور خیبر له جنازې څخه هم ناوړه ګټه پورته کړي، د خپل قدرت پر مهال ئې د ګوند ددغهٔ برجسته شخصیت او څرګند استاد نوم ان یو

---

1 - Ludwig W. Adamec

2 - First Supplement to the Who's Who in Afghanistan p. 10 Akademische Druck - und Verlagsanstalt, Graz, Austria – 1979

3 - A History of Afghnistan, Progress Publishers, Moscow – 1982/ p.307
Y. V. Gankovsky, A. R. Arunova, V. G Korgun, VN Masson, G.A. Muradov, G.A. Polyakov, VA Romodin (translated into English by Vitaly Baskakov)

ځل یاد نهٔ کړ، کلیزه ئې ورته ونهٔ نیوله، ددغهٔ ستر شهید جسد ئې د شهیدانو غونډۍ ته راونهٔ لېږداوهٔ، مقبره، یا د مزار محوطه ئې جوړه نهٔ کړه او له کار او هڅو ئې د بځرکي په اندازې لمانځنه ونهٔ کړه. د خیبر کورنۍ هم په دې ماجرا کې د کارمل او کارملیانو لاس په یوې بڼې ښکېل بولي.

د خیبر له ترور کېدلو څو شپې مخکې چې زه او خیبر دواړه د وزیر اکبر خان په سیمې کې گرځېدلو، هغهٔ د کارمل د سرزورۍ، د هغهٔ د اخطارونو او گواښونو په هکله وویل: نهٔ پوهېږم دا کارمل د کوم میخ په زور دومره الوزي چې په دومره کم پیدا او نامتعارف ډول شانتاژ کوي.(۵۴ او ۵۵ پاڼې)

**۲**. «د هغو کسانو په ډله کې چې له خیبر سره په زندان کې آشنا سوي ول، یو ئې ببرک کارمل او دوهم ئې یو څوک دی چې په اصل کې د دیورند د فرضي کرښې د بلې غاړې د قبائیلو له خلکو څخه دی. هغه څو موده د چین په جمهورۍ کې وو، کابل ته له راتگ وروسته، په شاهي دارالتحریر کې د ژباړونکي په توگه کار وکړ او یو ناڅاپه په ناځرگند تور، زندان ته ولوېد. کارمل او خیبر په زندان کې ددغهٔ سړي له افکارو سره آشنا سول او د علمي سوسیالیزم په اړه ئې یو شمېر خبرې زده کړې. له همدې کبله ول چې کارمل به تل ویل چې: ما او خیبر د یوهٔ استاد مخې ته زنگون وهلی دی.» (۹ او ۱۰ پاڼه)

● د "افغانستان د ډیموکراسي او جمهوریت په کلونو کې" د کتاب لیکوال عبدالغفار فراهی سیاسنگ ته د (۲۰۱۸ز کال/ ۱۲/۱۲) نېټې په یوې ټیلیفوني مرکې کې وویل: "ددغهٔ سړي نوم چې د غوربندي په کتاب کې راغلی دی سید **مصطفی افریدی** دی. هغه د کویټې/ چمن بلوچستان له لارې قندهار ته راغلی وو او یوه موده هماغلته اوسېدهٔ چې د جامو ځانگړې ډول ئې درلود، او د اوږدو ویښتانو په پرېښودو ئې یو مرموز ژوند درلود. وروسته کابل ته راغی او د کورنیو چارو او ددفاع د وزارتونو ژباړونکی/ ترجمان سو.

● واصف باختري د (۱۲/۱۲/۲۰۱۸) په نېټې د عبدالغفار فراهي د خبرو د یوې برخې په تأیید سره زیاته کړه: د لومړي ځل لپاره د "شعلهٔ جاوید" د جریدې د لومړۍ گڼې په سرمقالې کې [۱۳۴۷/ د وري ۱۴/ د ۱۹۶۸/ د اپریل/ ۳] د "یوهٔ رښتوني پشتونستاني مبارز" په توگه پرته له دې چې د نوم یادونه ئې وسي، یادونه سوې ده. وروسته د جاسوسۍ په تور ونیول سو او زندان ته وغورځېد. له آزاد کېدلو ئې هغه مهال خبر سوم چې امریکا ته رسېدلی وو. زه په مستنده توگه نهٔ پوهېږم، خو له امکانه لېرې نهٔ ښکاري چې که په زندان کې ئې له خیبر او کارمل سره لیدلي وي او د مارکسیسزم او لیننیزم له مباني یا اساساتو څخه ئې دا دواړه خبر کړي وي.

● کبیر امیر: «پشتونستان» په معیاري جغرافیې کې په رسمیت نهٔ دی پېژندل سوی. له دې کبله څوک د پښتونستاني په نوم یادول سم نهٔ ښکاري. کولای سو د « د پښتونخوا رښتني مبارز» یا د « خیبر پښتونخوا یو رښتني مبارز» په توګه ئې ولیکو.

● سیاسنګ: د شعلهٔ جاوید په جریدې کې د «هماغهٔ رښتوني پښتونستاني مبارز له خولې لولو: که له ما پوښتنه وسي چې د پښتونستان د مرییتوب بنسټیز علت په څه کې وینئ، نو زه به ئې په ځواب کې داسې ووایم: د افغانستان وروسته پاتې والی زموږ د مرییتوب بنسټیز ټکی دی. [لومړنۍ ۱۴ ګڼې: وری، ۱۳۴۷/ ۱۹۶۸/ د اپریل دریمه]

که دا نقل قول د امانت په ساتلو راوړل سوی وي، نو کولی سو په ټولن پېژندنې کې ددغهٔ سړي د پوهې د اندازې او له ټولنپېژندنې سره د هغهٔ د بلدوالي د سویې اټکل وکړو، مارکسیسزم – لینیزم لا پر ځای پرېږدئ.

● سیاسنګ: که د خیبر په قتل کې د ببرک کارمل د لاس د ښکېوالي خبره هغسې چې قدوس غوربندي ورته نغوته کړې سمه وي، نو دا پوښتنه مطرح کېږي چې: ولې حفیظ الله امین او نور محمد تره کي د خپلې واکمنۍ په اوج کې د خیبر د ترور کېدلو تور د پرچم د جناح د مشرانو په دوسیې باندې چې د ۱۹۷۸ز کال په سپتمبر کې د کودتا په تور ونیول سول په ځانګړې توګه د ببرک کارمل پر تندي و نهٔ لګاوهٔ.

کولی سو داسې پوښتنه هم وکړو: د پرچمي مشرانو یوه برخه چې بېلابېلو هېوادونو ته د «سفیر» په نوم ولېږل سوه، ولې د ۱۹۸۰ز کال د جنورۍ له میاشتې مخکې – له افغانستانه دباندې او د خلق واکمنې جناح د توري/ شمشیر له ویرې لېرې – ئې مثلاً شوروي اتحاد ته ونهٔ ویل چې: د امین رژیم په رسمیت مهٔ پېژنۍ ځکه چې نهٔ یوازې دا چې هغه د CIA جاسوس دی بلکه د میر اکبر خیبر قاتل هم دی؟

همدغه دوه ناپوښتل سوې هغو پراخو ګنګوسو ته بیخچنه سمنټي بنسټ ورکوي:«د هغهٔ جیب موټر په منځ کې چې په کابل کې د شوروي د سفارت له لوري د خیبر د ښکار کولو لپاره لېږل سوی وو د پرچم او د خلق د جناح ګانو دواړو استازو حضور درلود ترڅو هېڅکله ونهٔ سي کولی خپله خولهٔ خلاصه کړي او ووایي چې قاتل څوک دی.»

د خیبر د قتل د طراحانو او پلي کوونکو د څېرو پېژندنه چې په هښمه/وریځو کې پټې دي کېداسي د «میر اکبر خیبر د قتل د پلټنې/ پروندهٔ ناپدید» په ۷۷ او ۱۹۶ پاڼو کې د عبدالوکیل او ذبیح الله زیارمل په څو ورکړل سویوبنسټیزو نښو کې ډېره ګرانه نهٔ وي.

● د بلوڅستان د پوهنتون استاد ډاکټر فضل‌الرحیم مروت: «د لاریون له کولو او د میر اکبر خیبر د فاتحې له اخېستل کېدلو یوه شپه مخکې، محمد داؤود د کورنیو چارو د وزارت له لارې عبدالغفار خان او اجمل خټک ته پیام استولی وو چې د خیبر

د فاتحې په مراسمو کې ګډون ونهٔ کړي. دا خبره ما د ۱۹۸۲ز کال د ډسمبر په ۲۶ نېټې د باچاخان له خولې او د ۱۹۸۹ز کال د دسمبر په اووې نېټې د اجمل خټک له خولې د پېښور/ چارسدې په ولي باغ کې د یوې مرکې په لړ کې اورېدلې ده." [1]

• ډګر جنرال محمد حسین خان هاشمي (د ببرک کارمل پلار) په خپل کتاب " برګِ نامکشوف: تأریخ رزمي و سیاسي کشور" ۱۳۶۴ مرغومی، [۱۹۸۶ز جنوري] کې داسې لیکي:

«ببرک کارمل د سیاسي محبوس په توګه، پرته له دې چې برخلیک ئې ټاکل سوی وي، د ټولو نړۍ والو قوانینو د نورمونو او د بشري عواطفو برخلاف، د درې نیمو کلونو لپاره په زندان کې پاتې سوی وو؛ حال دا چې نور سیاسي زندانیان، له ټولو امتیازاتو لکه د اعاشې او اباتې او نورو د اړتیا وړ شیانو له لرلو څخه برخمن ول. په دې مودې کې هغهٔ ته د هېڅ امتیاز په ورکولو قایل نهٔ ول او ما په خپله د هغهٔ د اړتیاوو د پوره کولو لپاره، سره له دې چې له پریمانو اقتصادي ستونزو سره لاس او ګرېوان وم اقدام وکړ او د جامو، سګرېټو، خوراک توکو او نورو اړتیاوو د پوره کولو لپاره مې اقدام کاوهٔ.

د درې نیمو کلونو له تېرېدلو وروسته، دین محمد دلاور د کابل ولایت د امنیې د عمومي قوماندان په توګه توظیف سو. هغه چې زما له پخوانیو دوستانو څخه وو، ډېر ژر د ببرک کارمل احوال پوښتلو لپاره دننه زندان ته ورغی او د هغهٔ د ژوند کولو له وضعیت څخه ئې ارزونه وکړه. ورپسې د هغهٔ له ستونزو خبر سو او د همدغو موندنو پر بنسټ، چې د یوهٔ بل کال لپاره په زندان کې پاتې سو، نوموړي د سیاسي زندان د موجوده قوانینو او نورمونو له مخې – د ببرک کارمل د ټولو احتیاجاتو او مصارفو د پوره کولو لپاره – **پینځه سوه افغانۍ نغدې په میاشتنۍ** توګه – حواله کړلې چې هغه مهال ورته کافي پیسې ګڼل کېدلې.

ددې تر څنګ، دین محمد دلاور، د ببرک کارمل د څلورنیم کلن زندان تر پایه، له ببرک کارمل څخه پرله پسې خبر اخیست او داسې چلند ئې ورسره کاوهٔ لکه ورارهٔ ئې چې وي. له دې کبله زه او زما ټوله کورنۍ د هغهٔ له همکارۍ او نېکې عاطفې څخه د زړهٔ له کومې مننه کوو. البته د زندان  په څلورنیمو کلونو کې، ببرک کارمل د خپل سیاسي نبوغ او پوهې د پراختیا لپاره ډېره هڅه کوله او د خپلو فداکارو او سرښندویو ملګرو په وسیلې د وخت له ملي او نړۍ والو ارزښتناکو او متحولو خبرونو څخه خبریدهٔ چې د انقلابي تئورۍ او عمل له ډګر څخه د انقلابي تفکر مکتب ته د ګذار/ اوښتلو پړاو ګڼل کېدهٔ. البته دا ټوله ایمان داري، د کارګر د پاړکې/ طبقې او ټولو زیارګالو په عملي تفکراتو باندې ټینګ درېدل ورته د ازمایښت په زرکاڼي بدلیدل.

---

[1] - TAKATOO, Issue 11 Volume 6 January 9 – June 2014

په همدې دوره کې ول چې د قرآن کریم مطالعې او معنی، احادیث شریف او نورو دیني کتابونو زده کړو ته ئې د خپلو آفاقي معلوماتو د پراخولو لپاره ملا وتړله او تر څنګ ئې د انګلیسي ژبې زده کول - د لومړي ځل لپاره ددې ژبې له اساساتو او قواعدو څخه خبرېدل – په ښه توګه پیل کړل. له ببرک کارمل سره په دې هکله شهید میر اکبر خیبر هر اړخیزه مرسته کړې ده.

خیبر چې په بالاحصار کې د نظامي اکاډیمۍ محصل وو، له ببرک کارمل څخه مخکې ونیول سو او زنداني سو او په زندان کې ئې ورسره پېژندګلوي وسوه. هغوی په فلسفي علومو او انقلابي تئورۍ کې ګډ مطالعات درلودل. له همدې کبله ده چې د ببرک کارمل په وینا "د میر اکبر خیبر د استادۍ" یو دلیل د ژبې او فلسفې ګډ تدریس وو چې خیبر **ملګري کارمل** ته په زندان کې تدریس کړی وو.[1]

میر اکبر خیبر چې یو تیوریسن او د افغانستان د خلق ډیموکراټیک ګوند د مرکزي کمیټې تر ټولو مجرب کدر وو، په خواشینۍ چې د ارتجاع د تالي څټو او واکمنو کړیو لپه پلوه ترور سو چې د انقلابي افکارو له مخ په ودې پراختیا څخه ئې مخنیوی کړی وي. روح دې ښاده وي! د شهید خیبر مزار د غلام فاروق جان تلګرافي تر څنګ دی او مقبره ئې

[1] - د ژباړونکي یادونه: ما خو اوریدلي ول چې ډګرجنرال محمد حسین خان هاشمي د ببرک پلار یو غیر سیاسي سړی وو؛ په عوامو کې دا هم عام سوي ول چې حسین خان ان خپل زوی د کفري عقایدو له کبله عاق کړی وو. دا څنګه کېدای سي چې محمد حسین خان دې په خپل لاس لیکل سوي کتاب: " برګِ نامکشوف: تأریخ رزمي و سیاسي کشور" کې خپل زوی ته د "ملګري/ رفیق" خطاب وکړي. دا په دې معنی ده چې ګڼې جنرال محمد حسین خان هاشمي هم یو پرچمی وو او خپل زوی ئې ته د "رفیق کارمل" خطاب کړی دی. که لوستونکی ددې کتاب د لیکنیزې بڼې ادبیاتو ته پاملرنه وکړي یا په همدې متن کې راوړل سوي کلمات لکه "تیوري انقلابي"، " مرحلهٔ ګذار از ساحهٔ تئوری و عمل انقلابی به مکتب اندیشهٔ انقلابی"،" راسخ بودن به اندیشه‌های علمی طبقهٔ کارګر و همه زحمت کشان را برایش راسخ تر محک می‌زد. " « و توسط رفقای فداکار و ایثارګرش وقتاً فوقتاً آثار و اخبار ارزشمند، متحول و ارزندهٔ روز - ملی و بین‌المللی - در اختیارش قرار داده می‌شد و برایش مرحلهٔ ګذار از ساحهٔ تئوری و عمل انقلابی به مکتب اندیشهٔ انقلابی شمرده می شد» او نورو ته پاملرنه وکړو په څرګنده ښکاري چې دا کتاب هم د کوم کارملي له لوري د کارمل د پلار په نوم لیکل سوی دی. او لیکوال چې د چپي ادبیاتو تر اغېز لاندې وو په دې نهٔ توانېدلی چې له چپي ادبیاتو څخه د کارمل د پلار په پار ځان لېرې وساتي او دا کتاب د ببرک کارمل د پلار په نوم ولیکي. ددې ترڅنګ ویل سوي چې دین محمد دلاور ورته د میاشتې پینځه سوه افغانۍ نغدې د هغهٔ د اړتیاوو د پوره کولو لپاره هره میاشت وټاکلې ځکه د سیاسي زندانیانو لپاره دا یو نورم او قاعده وه. که دا نورم د سیاسي زنداني لپاره وو نو ولې میر اکبر خیبر ته ونهٔ ټاکل سوې؟ آیا میر اکبر خیبر سیاسي زنداني نهٔ وو؟ په دې خو ټول ډاډه یو چې دداسې امتیاز ورکول کومه آسانه خبره نه ده او هم په هغهٔ وخت کې د یوهٔ زنداني لپاره ډیرې پیسې وې. زما هېڅ باور نهٔ کېږي چې دومره پیسې دې ددولت له خوا ورته ورکړل سوې وې مګر دا چې په کابل کې د شوروي د سفارت له لوري په پټه د کارمل د ملګرو له لوري ورته رسول سوې وي او یا دا چې دا خبره ببرک ته د شخصیت ورکولو په نیامت یوه تشه مدعا ده او بس.

د کابل د مشهور بالاحصار په سویل کې د شهدای صالحین په پېل کې واقع ده.» (۱۵۳ پاڼه)

«کله چې اناهیتا کوچنۍ وه او ببرک کارمل ورڅخه په عمر لا کوچنی وو، دواړو به د درسونو او علمي مذاکراتو په زده کړو کې ونډه اخیستله. وروسته کله چې اناهیتا وادهٔ وکړ، له ببرک کارمل سره ئې د خپل مهربان ورور په شان د نوې پوهې په زده کړه کې ونډه اخیستله. له همدې کبله اناهیتا د ببرک کارمل په همکارۍ متحداً – **د دوه وو شرافت مندو خور او ورور په توگه** – د ژوندون شپې ورځې تېرې کړلې، د تحصیلاتو د بشپړولو تر څنگ ئې له نوې مترقي تیورۍ او علمي سوسیالیزم سره آشنایي وموندله او خپل بشپړ سیاسي پوخوالی ئې تر لاسه کړ. (۱۶۸ پاڼه)

«اناهیتا راتب زاد اصلاً د افغانستان د طرزي له شریفې او نومیالۍ کورنۍ څخه ده، پلار ئې احمد راتب د اماني دورې د مشروطه غورځنگ اتل وو چې د اماني دورې له نسکورېدلو وروسته د وخت د مرتجعو حکامو له پلوه ونیول سو او په شهادت ورسید. اناهیتا د پلار د مړینې پر مهال ماشومه وه او د خپلې سربښندوېي مور په همت او د خپل ځوانمرد ماما خلیفه محمد رسول – د هغهٔ وخت مشهور بوټ گنډونکي – په مېړانې، د کابل ولایت د شکر درې د ولسوالۍ د گلدرې په «دِه بالا» کلي کې د پرېمانه مادي او معنوي خوارۍ او کړاوونو په گاللو سره لویه سوه او کابل ته راغله.

هغه د وخت د دولت له څارنې لېرې تر دولسم ټولگي پورې په ډېر ځیر او ښه توگه وروزل سوه، ځکه چې د هغهٔ وخت دولت د طرزي له کورنۍ په ځانگړې توگه له احمد راتب سره دښمني درلودله نۀ ئې غوښتل چې هغوی دې له ټولنیزې ودې، مترقي افکارو او ښې پوهې څخه برخمنه سي.

وروسته له دې چې اناهیتا زما له دوست ډاکټر کرام الدین کاکړ سره وادهٔ وکړ،«ما ته ډاکټر کرام الدین خپل گڼلی ورور/ برادرخوانده وو»، له ببرک کارمل سره ئې د **مشرې خور** په توگه همکاري درلوده او د ژوندون ستونزې او اجبار ئې په گډه په خپلو کورنیو کې تېرولې. هغې د خپل تحصیلي مصروفیت په لړلو سره سره د یوې انقلابي زمرۍ په شان د نوې انقلابي تیورۍ په زده کړو کې فعاله ونډه درلودله.

د افغانستان د خلق ډیموکراتیک گوند د بنسټ له ایښودلو وروسته اناهیتا راتب زاد هم له ببرک کارمل سره فعاله ونډه درلودله، د افغانستان د ښځو د ډیموکراټیک سازمان بنسټ ئې کښېښود او د ټولنو په اقشارو کې ئې د عدالت غوښتنې او د ښځو د حقونو ددفاع د مبارزې لاره پرانیستله.

له هغې وروسته ببرک کارمل د ملي شورى د پارلمان په دیارلسمې دورې کې د وکیل او د خلکو د استازي په توگه وټاکل سو، اناهیتا دا مهال د کابل د طب پوهنځی پای ته

رسولي وو او په بل دور کې د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند د فرکسیون له لوري له ببرک کارمل سره یو ځای په ملي شورۍ کې په بریا وټاکل سوه او په عملي ډول سره د پرګنو د بېدارۍ د ډګر مبارزې ته ئې ودانګل. هغې په ملي شورۍ کې هم په ډېرې سرښندنې د کارمل ډېرې ستاینې او دفاع وکړه.

د ملي شورا په یوې غونډې کې د نورو استازو او وکیلانو د ویناګانو او ارزونې په لړ کې، ببرک کارمل هم په لوړ غږ د شاه د ادارې منحطه بڼه، ناسم اجرأات او ټولنیزه وضع تر شدیدې نیوکې لاندې ونیوله، او د همدغو حقایلو د ویلو له کبله، د شاه پلویانو او هېواد ته خایینو او مرتجعو کسانو د مولوي محمد نبي محمدي په ګډون له ۳۰ تر ۴۰ کسیزې غونډې کې چې ولس ضد او خایینه افکار ئې درلودل یو ناڅاپه او په خایینانه ډول پر ببرک کارمل برید وکړ، ډېر ئې ووهاوۀ او غوښتل ئې چې له منځه ئې یوسي. د همدغو وهلو ټکولو په لړ کې اناهتیا راتب زاد د یوې حماسه جوړوونکې زمرۍ په شان، کټ مټ د ژاندارک په شان، ځان د اوسپنین ډال په شان په ببرک کارمل باندې غوځار کړ چې وئې ژغوري. دا په خپله هم تر مرګونو ګوزارونو لاندې راغله خو کارمل ئې له حتمي مرګ څخه وژغورۀ.» (۱۶۷ پاڼه)

راټولوونکی: سید عبدالهادي مصدق غفوري

• سیاسنګ: په دوه وو ناکامو او بریالیو دسیسو کې د علي احمد خرم او د میر اکبر خیبر په قتلونو کې – د حفیظ الله امین پیوندول څو ناخلاصې سوې سخرۍ غوټې/ کور ګره لري: د خوشحال پیروز، احسان عثمان او عبدالغني عمرزي له یادداشتونو سره یو ځای د دستګیر پنجشیري لیکنې څرګندوي چې د خُرم وژل کېدل د مرجان " تصادفي نوښت/ ابتکار" وو نۀ دا چې د دستور ورکوونکی د مخکې له مخکې فرمان پر بنسټ دې تر سره سوی وي.

له بل لوري د جنرال پیروز، جنرال عمرزي او پنجشیري د خبرو تر منځ زښت ډېر ناسمون والی لیدل کېږي: که مرجان د حکمتیار د اسلامي حزب یوه مرۍ وه، د خلق ډیموکراټیک ګوند نه باید خپل د ګوندي کنترول کمیسیون، چې له پنجشیري، لایق او تهذیب څخه جوړ وو، دې ته نۀ اړ ایست چې په کندز کې د ګوند سل تنه کدرونه په بې ځایه توګه د پوښتنو ګروېږنو تر باران لاندې ونیسي. که مرجان د ډیموکراټیک ګوند د خلق د جناح غړی او د امین له لوري ګومارل سوی وو، څنګه په چرسو او تریاکو دغۀ روږدي / معتاد مجرم ټول رازونه یو په یو افشاء کړل خو یوازې او یوازې اصلي منبع ئې پټه وساتله؟ که د ډیموکراټیک ګوند یو سرسپارلی وو نو ولې د نور محمد تره کي او د حفیظ الله امین د شل میاشتنۍ واکمنۍ په لړ کې له زندانه خوشې نۀ سو؟


• که لاندنیو کتابونو ته مخه کړو او د خبرو سرچینو مرسته ورسره بدرګه وي بیا هم کولی سو د میر اکبر خیبر د ژوند او مرګ په اړه پلټنه وکړو. له همدې کبله ده چې د

اوسني کتاب په اړوند لیکلي غبرګونونه به د ۲۰۲۴ز کال د اپریل تر میاشتې پورې راټول کړم چې پر بنسټ ئې راتلونکې لاسته راوړنه په ښې بڼې وړاندې سي:

- The Wars of Afghanistan: Peter Tomsen
- Revolutionary Afghanistan: Baverley Male
- Night Letters: Chris Sands & Fazelminallah Qazizai
- Invisible History: Paul Fitzgerald & Elizabeth Gould
- Afghanistan and the Soviet Union: Henry Bradsher
- Afghanistan - Washington Secret War: Philip Bonosky
- Afghanistan's Two-Party Communism: Anthony Arnolds

خیبر د خپلو دوستانو په لاسونو ووژل سو. د قتل دوسیه ئې هم ورته تریۍ تم کړه، خو د ۱۹۷۸ز کال د اپریل د میاشتې په اولسمې د ګولیو هغه باران چې پېل سوی وو، لا تر اوسه وریږي او پرله پسې د انسانانو ژوند اخلي؛ ته به وایې چې هماغه جیپ موټر او په کې ناست سرکوزې شرمېدلې سپاره ئې - د انسانانو د ښکار لپاره - د افغانستان په ګوټ ګوټ کې ګلۍ په ګلۍ او واټ په واټ ګرځي راګرځي او د ګولیو په الفبا باندې د هر ټټر پر مخ لیکي: نور بیا.....

## میر اکبر خیبر: زما قاتل څوک دی؟




د لوستونکي ځواب:

Photo credit: Breshna Khaybar – family album